بسم الله الرحمن الرحیم

# د سرورِ کائنات ﷺ ژوند

تالیف

الحاج ملا عنایت الله علمي ابن مولانا محمد انور رحمه الله

المکتبة العطائیة
کاسي روډ کوټه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


حنفی شافعی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

کفایت دینی کتب خانہ

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند ، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551
+923247442395

مالکی حنبلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

لا إله إلا الله محمد رسول الله

# د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم ژوند

## لومړی ټوک

اصلاح سوې نسخه

تألیف:

الحاج ملا عنایت الله "عِلمي" ابن مولانا محمد انور رحمة الله علیه

المکتبة الغفاریة ارگ بازار کندهار افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقوق د ليکوال سره خوندي دي

**د کتاب پېژندنه:**

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د سرور کائنات صلى الله عليه وسلم ژوند |
| تألیف | :: | الحاج ملا عنايت الله "علمي" |
| | | ابن مولانا محمّد انور رحمة الله عليه |
| خپروونکی | :: | پخپله مؤلف. |
| کمپوزر | :: | پخپله مؤلف. |
| اتم چاپ | | ۱۳۹۵ |

دغه کتاب او د ليکونکي نور کتابونه په پاکستان کي په لاندي ځايو کي تر لاسه کېږي:

- مکتبۀ رشيديه: سرکي روډ کويټه.
- مکتبۀ محمّديه: شاپ نمبر ۱۴ گرو مندر بنوري ټاون کراچي.
- مکتبة القرآن والسّنة: محله جنگي پشاور.
-

المکتبةُ الغفّاريةُ ارګ بازار کندهار افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله أكبر

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د لومړي ټوک فهرست


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | په پښتو کي د (ي) تلفظ........ | ۱ |
| ۲ | د دوهمي طبعي یا دوهم چاپ مقدمه........ | ۳ |
| ۳ | د اولي طبعي یا اول چاپ مقدمه........ | ۱۱ |
| ۴ | د سرور کائنات ﷺ ژوند........ | ۱۵ |
| ۵ | یهودیت او نصرانیت جزیرة العرب ته څنګه داخل سوه... | ۳۱ |
| ٦ | د اول وار دپاره د کعبې شریفي پوښول........ | ۳۴ |
| ۷ | نصرانیت او د حبشي حکم څنګه ویمن ته داخل سوه؟....... | ۴۱ |
| ۸ | د فیل کال او د اصحاب الفیل قصه........ | ۵۰ |
| ۹ | یمن ته د فارس یا فارسیانو داخلېدل........ | ۵٦ |
| ۱۰ | اسلام ته د یمن د خلقو داخلېدل........ | ٦۱ |
| ۱۱ | د مکې مکرمې څخه د خزاعه ایستل او د قریشو تسلط..... | ٦۳ |
| ۱۲ | د عبدالمطلب په واسطه د زمزم د څا کندل........ | ٦۸ |
| ۱۳ | د عبدالله واده او د محمد ﷺ مبارک میلاد........ | ۷۷ |
| ۱۴ | د رسول الله ﷺ نسب او کورنی........ | ۸۱ |
| ۱۵ | د رسول الله ﷺ رضاعت او پرورښت........ | ۸۲ |
| ۱٦ | د رسول الله ﷺ د مور وفات........ | ۸۹ |
| ۱۷ | د رسول الله ﷺ اقتصادي حالت........ | ۹۱ |
| ۱۸ | د ابو طالب سره د رسول الله ﷺ تربیه........ | ۹۳ |
| ۱۹ | د رسول الله ﷺ واده یا زواج........ | ۱۰۹ |
| ۲۰ | د کعبې شریفي بیا جوړېدل........ | ۱۱۴ |
| ۲۱ | د کعبې شریفي په نوې بناء کي د حجر اسود ایښوول..... | ۱۱۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | د رسول الله ﷺ خلوت او تنهايي خوښېدل.......... | ۱۲۶ |
| ۲۳ | د وحيو نازلېدل.................................. | ۱۲۸ |
| ۲۴ | د رسول الله ﷺ رسالت او په دعوت مکلفېدل.......... | ۱۴۵ |
| ۲۵ | د مکي دورې اوله مرحله، يا د سري دعوت درې کلونه... | ۱۴۹ |
| ۲۶ | د مکي دورې دوهمه مرحله، يا په ښکاره سره دعوت...... | ۱۵۶ |
| ۲۷ | د دعوت د اورېدلو څخه د حاجيانو منعه کول.......... | ۱۶۲ |
| ۲۸ | د دعوت د چپولو دپاره د قريشو قسم قسم طريقې......... | ۱۶۳ |
| ۲۹ | د مشرکانو له طرفه د آزارو شروع کېدل.......... | ۱۶۶ |
| ۳۰ | د رسول الله ﷺ او اصحاب کرامو آزارول.............. | ۱۶۷ |
| ۳۱ | د ارقم بن ابي الأرقم کور............................ | ۱۹۳ |
| ۳۲ | حبشې ته د مسلمانانو اول هجرت................ | ۱۹۴ |
| ۳۳ | د حبشې مهاجرو مسلمانانو ته د قريشو چم او چېله......... | ۲۰۲ |
| ۳۴ | ابو طالب ته د قريشو دوهم وار ورتګ.................... | ۲۱۰ |
| ۳۵ | ابو طالب ته د قريشو درېيم وار ورتګ.................... | ۲۱۲ |
| ۳۶ | د رسول الله ﷺ د وژلو دپاره د ياغي قريشو مشوره........ | ۲۱۳ |
| ۳۷ | د حمزه بن عبد المطلب اسلام........................... | ۲۲۰ |
| ۳۸ | د عمر بن الخطاب اسلام............................. | ۲۲۲ |
| ۳۹ | رسول الله ﷺ ته د دعوت پرېښوولو وړانديزونه........ | ۲۳۶ |
| ۴۰ | دوهم وار بياد رسول الله ﷺ سره د قريشو خبري......... | ۲۴۵ |
| ۴۱ | ابو طالب د بني هاشم ټولنه جوړوي................ | ۲۵۲ |
| ۴۲ | د ظلم او عداوت عهد نامه ، مقاطعه او بنديز يا اقتصادي .. | ۲۵۴ |
| ۴۳ | درې کاله د ابو طالب په شعب کې...................... | ۲۵۵ |
| ۴۴ | د تعهد نامې يا مقاطعې ماتول........................ | ۲۵۸ |
| ۴۵ | ابو طالب ته د قريشو آخرنی ډله.......................... | ۲۶۳ |
| ۴۶ | عامُ الحُزن يا د غم کال............................ | ۲۶۵ |
| ۴۷ | خاصه خبرتيا. يا تنبيه.............................. | ۲۶۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۴۸ | د حضرت خدیجه رضي الله عنها وفات ........................ | ۲۶۹ |
| ۴۹ | د اصحاب کرامو د دونه صبر او ثبات سبب څه وو؟........ | ۲۷۲ |
| ۵۰ | د مکې مکرمې دریمه مرحله، یا تر مکې دباندې دعوت.. | ۲۸۳ |
| ۵۱ | وطائف ته سفر ........................ | ۲۸۴ |
| ۵۲ | پر قبائلو او افرادو د اسلام عرضول........................ | ۲۹۷ |
| ۵۳ | هغه قبائل چې اسلام پر عرض سوی دی........................ | ۲۹۸ |
| ۵۴ | هغه کسان چې اهل مکه نه وه او مسلمانان سوي دي..... | ۳۰۱ |
| ۵۵ | د شق القمر معجزه........................ | ۳۱۳ |
| ۵۶ | د اهلِ یثرِب څخه شپږ پاک روحه........................ | ۳۱۶ |
| ۵۷ | د إسراء او معراج قصه........................ | ۳۱۹ |
| ۵۸ | د عقبې سره اول بیعت........................ | ۳۴۳ |
| ۵۹ | په مدینه منوره کې د اسلام اول سفیر........................ | ۳۴۵ |
| ۶۰ | د عقبې سره د اهلِ یثرِب دوهم بیعت........................ | ۳۴۹ |
| ۶۱ | دوولس نفره نقیبان........................ | ۳۵۷ |
| ۶۲ | شیطان په دغه بیعت او معاهده خبرېږي........................ | ۳۵۸ |
| ۶۳ | د هجرت شروع........................ | ۳۶۲ |
| ۶۴ | په دار الندوه کې د قریشو پارلماني شوریٰ........................ | ۳۶۷ |
| ۶۵ | د رسول الله ﷺ هجرت........................ | ۳۷۱ |
| ۶۶ | د کور څخه تر غار ثور پورې........................ | ۳۷۷ |
| ۶۷ | د غار ثور واقعې........................ | ۳۷۸ |
| ۶۸ | د هجرت د لارې واقعات........................ | ۳۸۳ |
| ۶۹ | مدینې منورې ته د رسول الله ﷺ رسېدل........................ | ۳۹۶ |
| ۷۰ | د رسول الله ﷺ د هجرت مهمې او ښکاره نقطې........ | ۴۰۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۱ د مدینې منورې د ژوند اولۍ مرحله........ ۴۱۷
۷۲ د نوي ټولني جوړول........ ۴۳۰
۷۳ د مسلمانانو په مابین کې ورورګلوي........ ۴۳۳
۷۴ اولنئ اسلامي قانون........ ۴۳٦
۷۵ په ټولنه کې د اسلامي قانون اثر او تاثیر........ ۴۳۹
۷٦ د مدینې منورې د یهودو سره معاهده........ ۴۴۴
۷۷ تر هجرت وروسته د قریشو دسیسې........ ۴۴٦
۷۸ کافر قریش، مهاجر مسلمانان تهدیدوي........ ۴۴۷
۷۹ په جنګ او قتال سره الٰهي اجازه........ ۴۴۹
۸۰ هغه غزاوي او سریې چې تر بدر د مخه پیښي سوي دي... ۴۵۰


## د دوهم ټوک فهرست


۸۱ د بدر لویه او عظیمه غزاء........ ۴۷۰
۸۲ اسلامي لښکر د بدر پر طرف حرکت کوي........ ۴۷۴
۸۳ د مکې مکرمې مشرکان د جنګ دپاره تیاریږي........ ۴۷٦
۸۴ د رسول الله ﷺ مشورتي مجلس........ ۴۸۱
۸۵ د مبارزې شروع کېدل........ ۴۹٦
۸٦ ابلیس علیه لعنه د جنګ له میدانه وزي........ ۵۰۵
۸۷ د ابو جهل وژل کېدل........ ۵۰٦
۸۸ په بدر کې د صادقه ایمان څو نمونې........ ۵۱۲
۸۹ د جنګ بندیان........ ۲۲۵
۹۰ هغه څا ته د رسول الله ﷺ ورتګ چې د کفارو جسدونه... ۵۲٦
۹۱ پر ابولهب د جنګ د بایللو تاثیر........ ۵۲۹
۹۲ مدینې منورې ته د مسلمانانو د نصرت خبر رسېدل...... ۵۳۱
۹۳ نبوي لښکر مدینې منورې ته حرکت کوي........ ۵۳۳
۹۴ قرآن مجید د بدر د جنګ په باره کې بیان کوي........ ۵۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۹۵ | د بدر او اُحُد په منځ کې عسکري حرکتونه........ | ۵۴۵ |
| ۹۶ | په کُدر کې د بني سُلیم غزاء........ | ۵۴۷ |
| ۹۷ | د رسول الله ﷺ د وژلو دسیسه........ | ۵۴۷ |
| ۹۸ | د بني قَینُقاع غزاء او سبب........ | ۵۵۰ |
| ۹۹ | د السویق غزاء........ | ۵۵۹ |
| ۱۰۰ | د ذي اَمَر غزاء........ | ۵۶۰ |
| ۱۰۱ | د کعب بن الاشرف یهودي وژل........ | ۵۶۲ |
| ۱۰۲ | د فُرُع یا بحران غزاء........ | ۵۶۸ |
| ۱۰۳ | د زید بن حارثه ﷺ سریه یا ټولی........ | ۵۶۹ |
| ۱۰۴ | د اُحُد غزاء یا د یوه نیستي کوونکي جنګ دپاره........ | ۵۷۱ |
| ۱۰۵ | د مشرکانو د لښکر جوړېدل........ | ۵۷۴ |
| ۱۰۶ | د دفاع دپاره د مسلمانانو مشورتي غونډه........ | ۵۷۶ |
| ۱۰۷ | اسلامي لښکر جوړول او د جنګ میدان ته وتل........ | ۵۷۸ |
| ۱۰۸ | د جنګ او دفاع دپاره نقشه........ | ۵۸۶ |
| ۱۰۹ | د مشرکانو د لښکر تیاري........ | ۵۹۲ |
| ۱۱۰ | د قریشو له طرفه سیاسي هلي ځلي........ | ۵۹۲ |
| ۱۱۱ | د مشرکانو د لښکر د احساساتو د لوړولو دپاره........ | ۵۹۵ |
| ۱۱۲ | د جنګ اور بلېدل........ | ۵۹۶ |
| ۱۱۳ | د اسد الله حمزه بن عبد المطلب ﷺ شهادت........ | ۶۰۳ |
| ۱۱۴ | په جنګ کې د غشي ویشتونکو کامیابه برخه........ | ۶۰۵ |
| ۱۱۵ | د غشي ویشتونکو رسوا کوونکې غلطي........ | ۶۰۷ |
| ۱۱۶ | د رسول الله ﷺ پر شا وخوا شدید جنګ........ | ۶۱۴ |
| ۱۱۷ | پر رسول الله ﷺ د مشرکانو د فشار ډېرېدل........ | ۶۲۳ |
| ۱۱۸ | د اُحُد د ورځې عجیبه او نادره قهرماني........ | ۶۲۴ |
| ۱۱۹ | د رسول الله ﷺ د وژل کېدلو آوازه........ | ۶۲۶ |
| ۱۲۰ | د اُبی بن خلف کافر وژل کېدل........ | ۶۲۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۱ | د شهیدانو د پزو او غوږو پرېکول........ | ٦۳۲ |
| ۱۲۲ | تر جنګ وروسته د عمر فاروق ﷺ او ابو سفیان خبري...... | ٦۳۴ |
| ۱۲۳ | د شهیدانو را ټولول او ښخول........ | ٦۳۹ |
| ۱۲۴ | مدیني منورې ته رجوع، د حب او قرباني نادره حالات. | ٦۴۳ |
| ۱۲۵ | د اُحُد په جنګ کي د دواړو طرفو وژل سوي کسان........ | ٦۴۵ |
| ۱۲٦ | د حمراءُ الاسد غزاء........ | ٦۴٦ |
| ۱۲۷ | د اُحُد پر غزاء الٰهي تبصره........ | ٦۵۴ |
| ۱۲۸ | د ابو سلمه ﷺ سریه........ | ٦٦۵ |
| ۱۲۹ | د خالد بن سفیان د وژلو دپاره دَ عبد الله لېږل........ | ٦٦٦ |
| ۱۳۰ | د عمرو بن العاص اسلام........ | ٦٦۹ |
| ۱۳۱ | د رجیع د اوبو غمجنه واقعه........ | ٦۷۱ |
| ۱۳۲ | د بئر معونه فاجعه........ | ٦۷۷ |
| ۱۳۳ | د بني النضیر د یهودو سره غزاء........ | ٦۸۳ |
| ۱۳۴ | د ذاتُ الرِّقاع غزاء........ | ٦۹۱ |
| ۱۳۵ | د بدر دوهمه غزاء........ | ٦۹۵ |
| ۱۳٦ | د دومة الجندل غزاء........ | ٦۹۷ |
| ۱۳۷ | د خندق یا احزابو غزاء........ | ٦۹۹ |
| ۱۳۸ | د بني قُریظه د یهودو سره غزاء........ | ۷۴۴ |
| ۱۳۹ | د سلام بن ابي الحُقیق یهودي وژل........ | ۷٦۲ |
| ۱۴۰ | د محمد بن مسلمه ﷺ سریه یا تولی........ | ۷٦۵ |
| ۱۴۱ | د بنو لحیان غزاء........ | ۷٦۹ |
| ۱۴۲ | د عُکاشه ﷺ سریه........ | ۷۷۲ |
| ۱۴۳ | د محمد بن مسلمه ﷺ سریه........ | ۷۷۳ |
| ۱۴۴ | د ابو عبیده عامر بن الجراح ﷺ سریه........ | ۷۷۵ |
| ۱۴۵ | جموم ته د زید بن الحارثه ﷺ سریه........ | ۷۷۵ |
| ۱۴٦ | عیص ته د زید بن الحارثه ﷺ سریه........ | ۷۷٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۷ د بني مصطلق غزاء........ ۷۷۸
۱۴۸ د بني مصطلق تر غزاء د مخه او په غزاء کي منافقان........ ۷۸۲
۱۴۹ د إفک یا لویو درواغو حادثه........ ۷۹۴
۱۵۰ د عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه سریه........ ۸۱۰
۱۵۱ د علي بن ابي طالب رضی الله عنه سریه........ ۸۱۰
۱۵۲ د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه سریه........ ۸۱۱
۱۵۳ د کرز بن جابر الفهري رضی الله عنه سریه........ ۸۱۲
۱۵۴ د حدیبیې پېښه او صلحه........ ۸۱۳
۱۵۵ مکې مکرمې ته د عثمان بن عفان رضی الله عنه لېږل........ ۸۳۱
۱۵۶ د مسلمانو ښځو هجرت........ ۸۴۳
۱۵۷ د حدیبیې پر صلحه تبصره........ ۸۴۴
۱۵۸ د مدینې منورې د ژوند دوهمه مرحله او نوې دوره........ ۸٦۱
۱۵۹ د حدیبیې تر صلحي وروسته عسکري حرکتونه........ ۸٦۲
۱٦۰ د خیبر د غزاء سبب........ ۸٦۸
۱٦۱ خیبر ته وتل........ ۸٦۹
۱٦۲ د خیبر دلاري واقعات........ ۸۸۵
۱٦۳ د صعب بن معاذ د قلا محاصره او فتحه کېدل........ ۹۰٦
۱٦۴ د زبیر د قلا فتحه کېدل........ ۹۱۲
۱٦۵ د اُبی د قلا فتحه کېدل........ ۹۱۴
۱٦٦ د نزار د قلا فتحه کېدل........ ۹۱۵


## د درییم ټوک فهرست


۱٦۷ د خیبر د دوهمې حصې فتحه کېدل........ ۹۲۱
۱٦۸ د ابي الحُقیق یهودي د دوو زامنو وژل........ ۹۲۷
۱٦۹ په زهرو لړل سوی پُسه........ ۹۲۸
۱۷۰ د فدک د یهودو سره صلحه........ ۹۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۷۱ | د واديُ القرىٰ فتحه کېدل........ | ۹۳۲ |
| ۱۷۲ | د تيماء د يهودو سره پر جزيه صلحه........ | ۹۳۳ |
| ۱۷۳ | د جزيرةُ العرب څخه د يهودو ايستل........ | ۹۳۴ |
| ۱۷۴ | د هجرت په اووم کال کي د ځينو تو ليو لېږل........ | ۹۳۸ |
| ۱۷۵ | عمرة القضاء........ | ۹۴۸ |
| ۱۷۶ | پاچهانو او آمرانو ته د رسول الله ﷺ رسالې........ | ۹۵٦ |
| ۱۷۷ | د روم پاچا قيصر ته ليک........ | ۹۵۷ |
| ۱۷۸ | د دمشق آمر حارث بن ابي شمر ته ليک........ | ۹۷۲ |
| ۱۷۹ | د بُصرىٰ آمر ته ليک........ | ۹۷۳ |
| ۱۸۰ | د مصر پاچا مقوقس ته ليک........ | ۹۷۳ |
| ۱۸۱ | د حبشې پاچا نجاشي ته ليک........ | ۹۷٦ |
| ۱۸۲ | د فارس پاچا کسرىٰ ته ليک........ | ۹۸۰ |
| ۱۸۳ | د بحرين پاچا (منذر بن ساوي) ته ليک........ | ۹۸۳ |
| ۱۸۴ | د يمن پاچا حارث الحَميَري ته ليک........ | ۹۸۴ |
| ۱۸۵ | د يمامې رئيس هوذه بن علي ته ليک........ | ۹۸۵ |
| ۱۸٦ | د عُمان پاچا ته ليک........ | ۹۸٦ |
| ۱۸۷ | د ځينو سريو لېږل........ | ۹۹۱ |
| ۱۸۸ | د مؤته جنګ........ | ۹۹۳ |
| ۱۸۹ | د مؤته د جنګ انتهاء........ | ۱۰۰۸ |
| ۱۹۰ | د مؤته د جنګ اثر او نتيجه........ | ۱۰۱۴ |
| ۱۹۱ | د ذاتُ السلاسل سريه........ | ۱۰۱۷ |
| ۱۹۲ | د خبَط سريه........ | ۱۰۲۴ |
| ۱۹۳ | د مکې مکرمې د فتحې غزاء........ | ۱۰۲۷ |
| ۱۹۴ | اسلامي لښکر د مکې مکرمې پر طرف حرکت کوي........ | ۱۰۴۹ |
| ۱۹۵ | د ابو قحافه ﷺ مسلمانېدل........ | ۱۰٦٦ |
| ۱۹٦ | رسول الله ﷺ مسجد الحرام ته داخلېدل........ | ۱۰۷۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۹۷ | حضرت بلال ﷺ پر کعبه شریفه آذان کوي............ | ۱۰۷۶ |
| ۱۹۸ | د بتانو ماتول.................................. | ۱۰۷۷ |
| ۱۹۹ | د بیعت اخیستل.................................. | ۱۰۸۴ |
| ۲۰۰ | د عبد الله بن سعد بن ابي سرح اسلام............ | ۱۰۸۷ |
| ۲۰۱ | د عِکرمه بن ابي جهل اسلام...................... | ۱۰۸۹ |
| ۲۰۲ | د صفوان بن امیه اسلام.......................... | ۱۰۹۱ |
| ۲۰۳ | د مکې مکرمې څخه د سریو یا ټولیانو لېږل......... | ۱۰۹۳ |
| ۲۰۴ | د مدینې منورې د ژوند درېیمه مرحله.............. | ۱۱۰۶ |
| ۲۰۵ | د حُنین غزاء.................................... | ۱۱۰۷ |
| ۲۰۶ | دُرید بن الصُمّه................................ | ۱۱۰۹ |
| ۲۰۷ | د مکې مکرمې څخه د حُنین پر طرف حرکت........... | ۱۱۱۲ |
| ۲۰۸ | د حنین د غزاء غنیمتونه.......................... | ۱۱۲۸ |
| ۲۰۹ | د رسول اللهﷺ رضعي خور شیما بنت الحارث......... | ۱۱۲۹ |
| ۲۱۰ | سُراقه بن مالک.................................. | ۱۱۳۰ |
| ۲۱۱ | د طائف محاصره................................... | ۱۱۳۱ |
| ۲۱۲ | په جُعرانه کې د غنیمتو وېشل..................... | ۱۱۴۰ |
| ۲۱۳ | د انصارو په زړو کې نا اُمیدي.................... | ۱۱۴۴ |
| ۲۱۴ | د هوازن یوه ډله................................. | ۱۱۴۷ |
| ۲۱۵ | د مالک بن عوف اسلام............................ | ۱۱۵۱ |
| ۲۱۶ | د جُعرانې څخه عمره............................. | ۱۱۵۲ |
| ۲۱۷ | د عُروه بن مسعود الثقفي اسلام................... | ۱۱۵۹ |
| ۲۱۸ | اهلِ طائف و اسلام ته داخلېږي.................... | ۱۱۶۱ |
| ۲۱۹ | د هجرت نهم کال.................................. | ۱۱۶۵ |
| ۲۲۰ | د تبوک د غزاء سبب.............................. | ۱۱۶۹ |
| ۲۲۱ | ابو عامر الفاسق................................. | ۱۱۷۳ |
| ۲۲۲ | د مسجد ضِرار نزول............................... | ۱۱۷۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲۲۳ | مسلمانان د روم د غزاء دپاره ځانونه تیاروي.......... | ۱۱۸۰ |
| ۲۲۴ | په تبوک کې د اسلامي لښکر اړول.......... | ۱۲۰۱ |
| ۲۲۵ | د دومة الجندل فتحه کېدل.......... | ۱۲۰۳ |
| ۲۲۶ | د هرقل له طرفه قاصد.......... | ۱۲۰۶ |
| ۲۲۷ | د تبوک څخه مدینې منورې ته رجوع.......... | ۱۲۱۰ |
| ۲۲۸ | د تبوک د غزاء اثر او نتیجه.......... | ۱۲۲۹ |
| ۲۲۹ | د مدینې منورې د منافقانو سره ښکاره مقابله.......... | ۱۲۴۱ |
| ۲۳۰ | د رسول الله ﷺ د لور اُم کلثوم وفات.......... | ۱۲۴۷ |
| ۲۳۱ | د ابو بکر الصدیق رضی الله عنه حج.......... | ۱۲۴۸ |
| ۲۳۲ | خلق د الله جل جلاله دین ته په ډلو ډلو داخلیږي.......... | ۱۲۵۴ |
| ۲۳۳ | د بنو تمیم وفد یا ډله.......... | ۱۲۵۴ |
| ۲۳۴ | د بني عامر وفد یا ډله.......... | ۱۲۵۷ |
| ۲۳۵ | د بني عبد القیس وفد یا ډله.......... | ۱۲۶۳ |
| ۲۳۶ | د بنو حنیفه وفد یا ډله.......... | ۱۲۶۴ |
| ۲۳۷ | د طَی د قبیلې وفد یا ډله.......... | ۱۲۷۰ |
| ۲۳۸ | د بنو سعد بنو بکر وفد یا ډله.......... | ۱۲۷۷ |
| ۲۳۹ | د دوو کوځیو خاوند.......... | ۱۲۷۸ |
| ۲۴۰ | د نجران وفد یا ډله.......... | ۱۲۷۹ |
| ۲۴۱ | د فَروه بن عمرو الجُذامي قاصد.......... | ۱۲۸۴ |
| ۲۴۲ | د حَمیَر وفد یا ډله.......... | ۱۲۸۵ |
| ۲۴۳ | د بنو بُجیله وفد یا ډله.......... | ۱۲۸۵ |
| ۲۴۴ | د بنو حارث بن کعب وفد یا ډله.......... | ۱۲۸۷ |
| ۲۴۵ | هغه کسان چې د اسلام ښوولو دپاره لېږل سوي دي...... | ۱۲۹۰ |
| ۲۴۶ | تبصره او خلاصه.......... | ۱۲۹۳ |
| ۲۴۷ | د مسلمانانو د شمېر او عدد محاسبه.......... | ۱۲۹۵ |
| ۲۴۸ | حجة الوداع.......... | ۱۲۹۷ |

۲۴۹ د رسول الله ﷺ آخرنۍ سریه ........ ۱۳۲۲
۲۵۰ رفیق اعلیٰ ته رحلت ........ ۱۳۲۵
۲۵۱ د رسول الله ﷺ د ناروغۍ شروع ........ ۱۳۲۷
۲۵۲ د رسول الله ﷺ د ناروغۍ آخره هفته ........ ۱۳۳۰
۲۵۳ د چارشنبې ورځ تر رحلت پنځه ورځې د مخه ........ ۱۳۳۱
۲۵۴ تر رحلت څلور ورځې د مخه ........ ۱۳۳۶
۲۵۵ تر رحلت یوه یا دوې ورځې د مخه ........ ۱۳۴۱
۲۵۶ تر رحلت یوه ورځ د مخه ........ ۱۳۴۱
۲۵۷ د رسول الله ﷺ د ژوند آخرنۍ ورځ ........ ۱۳۴۲
۲۵۸ د احتضار یا زکندن وخت ........ ۱۳۴۹
۲۵۹ د رسول الله ﷺ د خلیفه د انتخابولو دپاره بحث ........ ۱۳۵۸
۲۶۰ د رسول الله ﷺ د مبارک جسد تجهیز ........ ۱۳۶۴
۲۶۱ د رسول الله ﷺ دپاره قبر کندل ........ ۱۳۶۵
۲۶۲ د سیرة النبي ﷺ خلاصه ........ ۱۳۷۳
۲۶۳ د کتاب آخرنۍ صفحه ........ ۱۳۸۶
۲۶۴ د کتاب مراجع او مأخذونه ........ ۱۳۸۷


پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


# په پښتو کي د (ي) ليکل او تلفظ

د دغه کتاب د صحي ويلو دپاره بايدّ د (ي) تلفظ د خپلي ليکني د حاله سره سم وسي هغه دا سي: په پښتو کي ( ي ) يا د ( ي ) تلفظ او آواز پر پنځه قسمه دی، نو لکه څرنګه چي (ي) په تلفظ او آواز کي فرق لري دغه رنګه په خپل شکل او ليکنه کي هم فرق لري، خو متأسفانه نن ورځ ډير ليکونکي په خپلو ليکونو کي د دغه فرق مراعت نه کوي، نو ځکه و لوستونکي ته په ويلو کي تکليف پېښيږي، تر څو چي يوه جمله دوه درې واره تکرار نه کړي تر هغو يې صحي نه سي ويلای، خو په دغه کتاب کي د (ي) د تلفظ يا آواز سره سم د (ي) د صحي شکل د ليکلو مراعت سوی دی، که د لوستونکو له طرفه د کتاب د لوستلو په وخت کي د (ی) د خپل ليکل سوي شکل او حاله سره سم د تلفظ مراعت وسي، لوستونکي ته د کتاب د ويلو په وخت کي هيڅ تکليف او مشکل نه پيښيږي او د هري جملې په مقصد ډير ژر پوهېدلای سي.

اوس به د (ی) پنځه اقسام په تفصيل سره در وښوول سي:

لکه څرنګه چي مخ کي وويل سوه: په پښتو کي (ی) پر پنځه قسمه ليکل کيږي او د هر قسم آواز له هغه بله قسمه څخه فرق لري، هغه داسي:

اول قسم (ي) دوه ټکي پر څنګ لري.

دوهم قسم (ې) دوه ټکي سر پر سر لري.

دريم قسم (ئ) ټکي نه لري خو همزه پر سر لري.

څلورم قسم (ۍ) نه ټکي لري نه همزه خو په آخر کي لکۍ لري.

پنځم قسم (ی) نه ټکي لري نه همزه لري او نه لکۍ لري.

او د دغو مختلفو (ي) ګانو مختلف او يو د بل څخه جلا آوازونه دي چي تفصيل يې په لاندي ډول سره دی.

اول: هغه ( ي ) چي دوه ټکي پر څنګ لري تلفظ يا آواز يې داسي دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړي، کالي، غوايي، سړي، کوچي، بنګړي،او داسي نور.

دوهم: هغه ( ې) چي دوه ټکي سر پر سر لري تلفظ يې داسي دی:

شيدې، مستې، پښې، خوږې، اوږدې، پايڅې، کُلمې او داسي نور.

دريم: هغه ( ئ ) چي ټکي نه لري خو پر سر همزه لري تلفظ يې داسي دی: سړئ، منګئ، لرګئ. سوټئ او داسي نور، دغه (ئ) د مذکر دپاره ده.

خلورم: هغه ( ۍ ) چي نه ټکي لري نه همزه خو په آخر کي لکۍ لري تلفظ يې داسي دی، هګۍ، هېلۍ، غالۍ، خولۍ، ښځۍ، لکۍ، نرۍ،او داسي نور، دغه (ۍ) د مؤنث دپاره ده.

پنځم: هغه (ی) چي نه ټکي لري، نه همزه لري، نه لکۍ لري تلفظ يې داسي دی: هغه سپین دی، دا ترموس دی، دا رنګ ژړ دی، سهار دی او داسي نور، دغه (ی) د حکم کولو يا امر کولو دپاره هم ده.

که تاسي د دغه کتاب په ويلو او لوستلو کي د (ی) د دغسي تلفظ مراعت وکړی نو د کتاب ويل او فهمول به ډير درته آسانه سي، ما خود کتاب په ليکلو کي ستاسي د آسانتيا دپاره د (ی) د صحي ليکلو ډير مراعت کړی دی چي البته دغه کار زما دپاره د ستړيا خخه خالي نه ؤ خو ستاسي دپاره هوسايي ده او زما مقصد هم ستاسي خوشالي او هوسايي ده. په درنښت.

*که څه هم د (ي) په ليکلو کي د پښتو د ليکوالانو او اديبانو اختلاف سته او ما ته را معلوم هم دی خو د (ي) په باره کي زما شخصي نظر دغه دی او خپلي ليکني تر دغه بيان سوي قانون لاندي ليکم.*

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

عنايت الله 'علمي'

(c) ketabton.com: The Digital Library


**سریزه**

أعوذ بالله من الشّيطٰن الرّجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

إنّ الحمدَ لله تعالى، نحمده و نستعينه و نستغفره و نستهديه، من يهده الله فلا مُضلَّ لَه، ومَن يُضلل فَلَن تَجِدَ له ولياً مرشِداً، و صلواةُ الله و سَلامُه على سـيّدِ المرسلين، رحمةً لّلعالمين، محمّدٍ و آله و أصحابه وأهلِ بيته أجمعين. أمّا بعدُ:

ورونو! موږ مسلمانان حضرت محمّد ﷺ ته سرور کائنات او سرور عالم وایو چي په ساده او ښکاره ژبه سره د دغه القابو مقصد او مطلب، مفهوم او معنٰی: د ټولي دنیا سردار دی، خو اصلاً د سرور کائنات او سرور عالم ترجمه د ټولي دنیا قائد، رهبر او لار ښوونکی ده چي په انګریزي کي (لیډر اف د ورلډ) ورته ویل کیږي، په ظاهره دا لوی لقب او لوی خطاب دی.

مګر کوم چا ته چي دغه لقب ورکول سوی دی د هغه کار نامې واقعاً هم داسي دي چي د هغه دپاره دغه لقب مبالغه نه بلکه عینِ حقیقت دی.

تاسي ښه متوجه سی: و یو چا ته د ټولي دنیا د قائد او رهبر د لقب ورکولو دپاره څلور شرطه په کار دي، که د دغو څلورو شرطو څخه یو شرط نه وي موجود نو هغه چا ته هیڅکله سرور کائنات یا سرور عالم نه سي ویل کېدلای.

تر ټولو اول او لومړئ شرط دا دی: چي هغه چا به د کوم خاص قوم، خاص نسل یا کومي خاصي طبقې د آرامۍ او سکون دپاره کار نه وي کړی، بلکه د تمامي دنیا د انسانانو د خوشبختۍ او آرامۍ دپاره به یې زحمت ایستلی وي.

هو! د یوه وطن پرسته یا قوم پرسته قائد او رهبر په دې سبب او حیثیت سره چي د خپل قوم یا خپل وطن دپاره یې ډیر لوی خدمتونه کړي دي څومره چي دي زړه غواړي قدر او عزت یې وکړه، مګر که ته د هغه د قوم یا د هغه د وطن څخه نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو هغه ستا دپاره په هیڅ حال کې قائد، لیډر، او رهبر نه سي کېدلای.

هر هغه څوک چې د هغه خدمت، محبت، خیر خواهي او کار نامې د چین دپاره وي، نو د یوه هندوستاني یا یوه مصري د هغه سره څه تعلق او رابطه سته؟ چې هغه دي د ځان قائد او رهنما وبولي، ځکه د ده دپاره یې هیڅ نه دي کړي.

بلکه که هغه قائد د خپل قوم د لوړ والي او ښه معیشت دپاره یو بل قوم خوار کړی او ذلیله کړی وي نو معلومه خبره ده چې دغه نور قومونه د هغه څخه نفرت هم کوي او په بده سترګه ورته ګوري، د ټولو قومو انسانان هغه وخت یو شخص د خپل قائد، رهبر او سردار په صفت سره مني چې د دغه شخص په نظر ټول قومونه او ملتونه، ټول انسانان او وطنونه یو ډول وي او دئ د ټولو دپاره یو قسم خیر غوښتونکی وي او په دغه خپله خیر خواهي او خدمت کې یوه ته تر بل هیڅ قسم ترجیح او فضیلت ور نه کړي.

د ټولي دنیا د سردار او رهنما کېدلو دپاره دوهم شرط دا دی: چې هغه لیډر داسي أصول او قوانین منځ ته را وړي چې د ټولي دنیا د انسانانو رهنمایي او رهبري کوي او په هغه کې به د انساني ژوند د ټولو مهمو مسئلو حل موجود وي، د قائد او لیډر معنٰی: رهنما او لار ښوونکی ده، و قائد او رهبر ته د دې دپاره ضرورت سته چې دئ و خلکو ته د کامیابۍ او بهترۍ لار ور وښیي، نو ځکه د ټولي دنیا قائد هغه څوک کېدلای سي: چې د ټولي دنیا و انسانانو ته داسي لاري چاري ور وښیي چې په هغه کې د ټولو انسانانو دپاره کامیابي او بهتري موجوده وي.

د ټولي دنیا د قائد او رهبر کېدلو دپاره درییم حتمي او لازمي شرط دا دی: چې د هغه لار ښووني به د یوه خاص وخت او خاصي زمانې دپاره نه وي بلکه په هر عصر او هره زمانه کې به یو قسم فایده مني او ګټوري وي او په هر وخت کې به صحي، د متابعت او پیروۍ وړ او لایقي وي.

که د کوم رهبر، قائد او لیډر لار ښووني په یوه وخت کې ګټوري وي خو په بل وخت او زمانه کې بېکاره او بې فایدې وي، بیا هم و هغه ته د دنیا قائد او رهبر نه سي ویل کېدلای، د دنیا قائد او رهبر هغه څوک کېدلای سي: تر کومه وخته چې دنیا قائمه او موجوده وي د هغه قائد او رهبر لار ښووني به فایده مني او ګټوري وي.

بیا هم د ټولي دنیا د رهبر او قائد کېدلو دپاره څلورم مهم شرط دا دی: چي دغه قائد به یوازي د اصولو او قوانینو پر وړاندي کولو اکتفاء نه وي کړې بلکه هغه وړاندي کړي قوانین به یې د خلکو په ژوند کي عملاً جاري کړي هم وي او د هغه خپلو قوانینو پر اساس به یې یوه ویښه او کامیابه جامعه او ټولنه په وجود را وړې وي.

هغه څوک چي یوازي اصول او قوانین وړاندي کوي او د عمل جامه نه په واغوندي هغه ته فقط یو مفکّر ویلای سو، هغه هیڅکله قائد او رهبر نه سي کېدلای.

د قائد او رهبر کېدلو دپاره دا حتمي او ضروري ده: چي هغه خپلو وړاندي کړو اصولو او قوانینو ته به عملي جامه ور اغوندي او دنیا ته به یې ښکاره کوي، یا په بل عبارت: خپل قوانین به د صحي نتیجې سره په عملي شکل ښکاره کوي.

اوس نو راسی چي موږ او تاسي وګورو چي دغه څلور شرطه په هغه ذات کي تر کومه حده موجود وه او موجود دي چي موږ و هغه ته سرور کائنات یا سرور عالم ﷺ وایو.

اول هغه اولنۍ شرط را واخله، تاسي د محمّد مصطفٰی ﷺ ژوند او سیرت مطالعه او تر نظر وباسي، په یوه نظر به دا درته معلومه سي چي د رسول الله ﷺ ژوند د یوه قوم پرست، یا محبِّ وطن ژوند نه دی، بلکه د یوه محبِّ انسانیت، د یوې جهاني نظریې او د یوه جهاني قانون اینبوونکي انسان ژوند دی.

د رسول الله ﷺ په نظر ټول انسانان یو قسم وه، د کوم خاندان، کومي طبقې، کوم قوم، کوم نسل یا د کوم خاص مَلک یا وطن سره د هغه ﷺ دلچسپي یا د زړه اړیکي نه وه موجود، امیر او غریب، لوړ او کښته، تور او سپین، عرب او عجم، شرقي او غربي، سامي او آرین، دغه ټولو ته یې په یوه داسي نظر او حیثیت سره کتل چي دغه ټول د انساني نسل افراد دي، د رسول الله ﷺ د ژبي څخه په ټول عمر یو داسي لفظ، یا یوه داسي جمله نه ده را وتلې او نه یې په ټول عمر داسي یو کار کړی دی چي د هغې وینا، یا د هغه کار څخه دي داسي یوه شُبهه پیدا سي چي ده ﷺ د یوې خاصي انساني طبقې د ګټي او مصلحت سره ډېره علاقه درلودل، نو په همدې سبب د رسول الله ﷺ په ژوند کي حبشۍ او اېرانۍ، رومي او مصري، حتّٰی یهودي او نصراني په داسي ډول د ده ﷺ د کار او دعوت ملګري سوه لکه عرب چي یې ملګري وه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د ده ﷺ تر رحلت وروسته د ځمکې په هر کونج کې د هر نسل او هر قوم انسانانو رسول الله ﷺ د خپلو ځانو دپاره پر هغه قسم قائد او رهبر وباله لکه د ده ﷺ قوم چې دئ خپل قائد او خپل لېډر باله، دا د هغه خالص انسانیت اثر او کرشمه ده چې نن ورځ د یوه هندوستاني یا افغاني څخه نه بلکه د هر قوم او هر ملت د اشخاصو څخه د هغه مبارک ذات تعریف او توصیف اورو چې په سلهاوو کلونه پخوا په یوه عربي ملک کې پیدا سوی ؤ.

اوس د قیادت او رهبرۍ د مهمو شرطو څخه دوهم او درېیم شرط یو ځای سره را واخله او د رسول الله ﷺ په ژوند کې وګوره، و به وینې چې رسول الله ﷺ د خاصو قومو او خاصو ملکو د وقتي او مقامي، د زمان او مکان، د مسائلو د حلولو پر بحث کولو خپل وخت نه دی ضائع کړی، بلکه خپل ټول قوت یې د انسانیت او بشریت د هغې لویې مسئلې د حلولو دپاره مصرف کړی دی چې د هغې مسئلې د حلولو په واسطه د ټولو انسانانو ټول کوچني کوچني مسائل په خپله حلیږي.

اوس به تاسې پوښتنه کوئ چې هغه لویه مسئله څه شي ده؟ چې رسول الله ﷺ د هغې د حلولو دپاره خپل ټول عمر او قوت مصرف کړی دی؟ او د هغې یوې مسئلې په حلولو سره د ژوندانه نور ټول مسائل حلیږي؟

ښه متوجه سه: هغه لویه او مهمه مسئله دا ده:

څرنګه چې د ټول کون او کائناتو نظام په حقیقت او واقعیت کې پر کومو اُصولو او قوانینو قائم دی، د بشریت او انسانانو نظام هم باید پر هغو اصولو موافق او برابر وي، ځکه چې انسان د دغه کائناتو څخه یو جزء دی او که د جزء حرکت د کُل د حرکت څخه مخالف وي دا د خرابۍ او بربادۍ سبب او موجب ګرځي، که تاسې په دغه خبره صحي پوهېدل غواړی؟ د هغه آسانه شکل او صورت دا دی:

یو څه کوښښ وکړه: خپل لیدل او کتل د زمان او مکان د قید څخه آزاد کړه او د ځمکې پر ټوله کوره داسې نظر واچوه چې د دنیا د شروع څخه تر نن ورځې پورې او د آینده تر غیر محدود وخته پورې ټول انسانان په یوه وخت کې ستا په حضور کې موجود او ولاړ دي، بیا نو وګوره چې د دغو ټولو انسانانو په ژوند کې د فساد او خرابیو

(c) ketabton.com: The Digital Library


څومره شکلونه او صورتونه پیدا دي، یا ممکن پیدا سي، د هغو ټولو خرابیو ریښه څه شي ده؟ یا څه شي یې ریښه کېدلای سي؟

پر دغه پوښتنه چي ته هرڅومره غور وکړې، هرڅومره پلټنه او تحقیق وکړې په نتیجه کي به دې جواب ته ورسېږې: چي (د الله جل جلاله څخه د انسان سرکښي او بغاوت د ټولو خرابیو ریښه او اساس دی) دا ولي؟ ځکه د الله جل جلاله څخه باغي او سرکښه انسان خامخا د دغو دوو حالتو څخه یو حال اختیاروي:

یا به هغه انسان خپل ځان خود مختاره او غیر مسئول بولي، هر څه چي یې زړه غواړي هغه به کوي، چي دغه کار د هغه انسان څخه ظالم او بې پروا انسان جوړوي.

یا به دغه سرکښه انسان بېله الله جل جلاله د بل چا و حکم ته سر کښته کوي او د بل چا تابع به وي، چي د دې شکله څخه هم په دنیا کي د فساد بېحسابه قسمونه او شکلونه پیدا کیږي.

اوس دا خبره د فکر وړ ده او دا پوښتنه پیدا کیږي: چي د الله جل جلاله څخه د بغاوت او سرکښی په نتیجه کي ولي دغه خرابی او بربادی په وجود راځي؟

د دې پوښتني صاف او روښانه جواب دا دی:

دغه سرکښي ځرنګه چي د کائناتو له حقیقته خلاف او مخالفه کار دی نو خامخا نتیجه یې هم بده او مخالفه را وزي، ښه متوجه سه:

په حقیقت کي دغه ټول کون او کائنات د الله عزوجل ملک او سلطنت دی، مځکه او آسمانونه، لمر او سپوږمی، هوا او اوبه، نور او روښنایي دغه ټول د الله جل جلاله ملک دي او انسان په دغه سلطنت کي د پیدایشي بنده یا خلق سوي مریي حیثیت لري، دغه ټول سلطنت چي پر کوم معین نظام چلیږي که انسان سره د دې چي د دغه کون او سلطنت یو جزء دی او بیا د دغه کون او سلطنت څخه مخالفه رویه او عمل اختیار کړي نو خامخا د انسان دغه مخالفه رویه بربادوونکي او خرابوونکي نتیجې په وجود را وړي.

د انسان دغه سوچ او فکر چي تر ما بل لوړ او مقتدر نسته چي د هغه په حضور کي دي زه د خپل عمل جواب و وایم، دا د حقیقت او واقعیته څخه مخالف کار دی، کوم وخت چي انسان خپل ځان خود مختاره او آزاد و بولي نو خود داسي کارونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي په هيڅ کار کي خپل ځان مسئوله نه بولي، نو بې مسئوليته ژوند او بې مسئوليته طريقه د ځان دپاره اختيار کړي او د خپل ژوند قانون په خپله جوړوي، نو خود بېله شکه او خامخا د دغي خود سرۍ نتيجه بده را وزي، ظلم او تجاوز، وژل او ترټل، د بل حق خوړل، دغه ټول کارونه بې مسئوليته انسان ته روا او جائز وي.

همدا رنګه که يو څوک بېله الله عزّوجلّ بل څوک د اقتدار او اختيار خاوند وبولي او د هغه څخه وبېرېږي او د هغه د باداری او اوامرو ته سر کښته کړي، دا هم د حقيقت څخه مخالف کار دی، ځکه په حقيقت کي په ټول کون او کائناتو کي بېله الله جلّ جلاله بل هيڅوک دغه حيثيت او مقام نه لري چي سر دي ور ته کښته سي، نو ځکه د دغه کار نتيجه هم بده را وزي.

د صحي نتيجې د را ايستلو او سالم ژوند کولو دپاره بېله دې څخه بل هيڅ شکل او صورت نسته چي په مځکه او آسمان کي چي کوم حقيقي او واقعي حکومت دی انسان بايد و هغه حکومت ته تسليم سي او د هغه حکومت و اوامرو ته سر کښته کړي، خپله آزادي او خود سري د هغه په حضور تسليم کړي، خپل اطاعت او بندګي د مځکي او آسمانو و سلطان ته خاص کړي او د خپل ژوند قانون د دې پر ځای چي په خپله يې جوړ کړي يا يې د بل چا څخه واخلي، د هغه الله جلّ جلاله څخه يې واخلي چي د کون او کائناتو سلطان دی، دا د هغه اساسي اصلاح لار ښوونه ده چي محمّد ﷺ د انساني ژوند دپاره وړاندي کړې ده، دغه اصلاح د شرق او غرب، د زمان او مکان له قيده آزاده ده، د مځکي پر مخ چي هر چيري انسانان موجود وي او موجود وه، د هغو ټولو د ژوند د اصلاح کولو او سمبالولو دپاره دغه يو اصلاحي پېشنهاد يا وړانديز کافي دی او د هغو ټولو ويران ژوند ور اصلاح کوي او دغه اصلاحي تجويز د ماضي او مستقبل له قيده هم آزاد دی، يو نيم زر کاله د مخه چي دغه قانون څومره صحي او مفيد ؤ نن هم په هغه اندازه سره صحي او ګټور دی، بلکه لس زره کاله وروسته به هم په هغه اندازه سره صحي او ګټور وي.

اوس هغه آخري يا څلورم شرط پاته سو چي هغه دا سي ؤ:

د ټولي نړۍ او دنيا قائد به يوازي د اُصولو او قوانينو پر جوړولو يا وړاندي کولو

(c) Kotabtoh.com: The Digital Library


اکتفاء نه وي کړې، بلکه خپلو وړاندي کړو اصولو او قوانينو ته به يې عملي جامه هم ور اغوستې وي، هغه خپل وړاندي کړي اُصول به يې د انسانانو په ژوند کي جاري کړي وي او د هغو اصولو پر بنياد او اساس به يې يوه ويښه او کاميابه، سالمه او خوشاله ټولنه هم په وجود را وړې وي.

او دا هم ټولو ته معلوم تاريخي حقيقت دی چي محمّد ﷺ يوازي فکري او خيالي اصول او قوانين نه دي وړاندي کړي، د هغه خپلو وړاندي کړو اُصولو او قوانينو مطابق يې يوه ژوندۍ او سالمه ټولنه هم تربيه کړې او په وجود را وړې ده.

رسول الله ﷺ د درويشت کلو په لنډه او کوتاه موده کي په لکو انسانان الٰهي حکومت ته په سر کښته کولو او اطاعت کولو تيار او آماده کړل، د هغو ځخه يې ځان پرستي او ځان ځاني ايسته کړل او بېله الله جل جلاله بل د هر شي له بندګيه يې خلاص کړل او بيا يې دغه په لکو انسانان سره يو ځای کړل، يوازي د الله جل جلاله په بندګي کي يې د هغو دپاره نوی اخلاقي نظام، د نوي تمدن نظام، د نوي معيشت نظام، د نوي حکومت نظام جوړ کړی او د ټولي دنيا په حضور کي يې د دغه خبري عملي اظهار وکړی، يا په بل عبارت: ټولي دنيا ته يې دا عملي ور ښکاره کړه: کوم اصول او قوانين چي ما راوړي دي پر هغو اصولو يا د هغو اصولو مطابق څنګه آرامه او هوسا، کاميابه او بختوره ټولنه جوړېږي او جوړېدلای سي او د نورو قوانينو د عملي کولو د ژوند په مقابل کي دغه زما د قانون سره مطابق ژوند څومره ښه، څومره هوسا او څومره صالح ژوند دی.

نو دا هغه کارنامې دي چي د هغو پر بناء د محمّد ﷺ ځخه د ټولي دنيا قائد او رهبر، زعيم او لېډر جوړوي او موږ و هغه ته بېله شکه سرور کائنات او سرور عالم وايو، د رسول الله ﷺ دغه کار د يوه خاص قوم دپاره نه ؤ بلکه د ټولو انسانانو دپاره ؤ، د ده ﷺ اصول او قوانين د انسانيت مشترک ميراث دی چي په هغه کي د يو چا حق د بل چا تر حق لږ يا زيات نه دی او هر څوک چي وغواړي د دغه ميراث ځخه کافي فايده اخيستلای سي، خو زه نه پوهېږم چي د دغو اصولو او قوانينو سره تعصب درلودل او د هغو ځخه د مخالفت کولو دپاره څه شي سبب کېدلای سي؟

او د دغه مخالفت دپاره څه دليل موجود دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ فرمايي: زما او ستاسي مثال داسي دی: لکه يوه سړي چي اور بل کړی وي، نو پتنګان او بورا ګاني و هغه اور ته ځانونه وراچوي او دغه سړئ يې د هغه اوره څخه را ګرځوي او دوی بيا هم ځانونه د ده څخه خطا کوي او اور ته ورلويږي، زه هم تاسي له اوره را ګرځوم او تاسي زما د لاسه څخه ځانونه خلاصوی يا ښويوی او اور ته لوېږی.

تاسي پوهېږی چي رسول الله ﷺ آسمان ته نه بلکه لوړ تر آسمانو وختی او تر سِدرةُ المُنتهٰی پوري ولاړی، و اُفُقِ أعلٰی ته وختی، په دغه سفر کي د کون تر انتهاء او آخر هم تېر سو، د قاب قوسين درجې ته ورسېدی او د خپل رب د ربوبيت او الوهيت لويي لويي علامې يې وليدلې، هلته يې د الله جل جلاله سره بېله واسطې خبري وکړې، هلته د الله جل جلاله له طرفه دا ور وښوول سوه چي يو انسان د لمانځه په واسطه د خپل رب او خالق سره صِله او ارتباط پيدا کولای سي او له هغه ځايه بيرته سراج منير، بشير او نذير، رؤف او رحيم، هادي او مهدي مځکي ته را کښته سو، چي دلته د خپل رب دين نشر کړي او د اسلام لاري ته خلک دعوت کړي.

يو د صالحينو څخه وايي: سرور کائنات رسول الله ﷺ آسمان ته وختی او بيرته مځکي ته راغلی، نو وايي: زه په الله سره قسم يادوم که زه آسمان ته و خېژول سم، بيا به هيڅ په دې فکر کي نه سم چي بيرته دي مځکي ته ولاړ سم.

مګر سرور کائنات رسول الله ﷺ بيرته مځکي ته زما او ستا د لار ښوونې دپاره راغلی چي ما او تا د دوږخ له اوره خلاص کړي، خو افسوس، زر افسوس چي ځيني بد بخته انسانان دغه حق لار ښوونې نه قبلوي، د شيطان متابعت د رسول الله ﷺ تر متابعت خوښوي او د دوږخ پر اور په روڼو سترګو ور ځغلي.

الٰهي! زما او د ټولو ويونکو او اورېدونکو ستا د مبارک رسول ﷺ محبت او متابعت په نصيب کړې، إلٰهي! توفيق را کړې چي ستا د دين د نشرولو او تبليغولو دپاره په ځان او مال سره کوښښ وکړو، آمين يا رب العالمين!

وصلّی الله تعالٰی علٰی خير خلقه محمّد وآله وأصحابه أجمعين.

**د اولي طبعي يا اول چاپ مقدمه:**

## أعوذ بالله من الشيطٰن الرّجيم

## بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمدَ لله، نحمدُهُ ونستعينُهُ ونستغفِرُهُ ونتوبُ اليه، ونعوذُ باللهِ من شرورِ أنفسِنا، ومن سيّئاتِ أعمالنا، مَن يهده اللهُ فلا مضلّ لهُ، ومن يُضلل فلا هاديَ لهُ، وأشهدُ أن لا إله إلاّ الله وحده لا شريكَ له، وأشهد أن محمّداً عبدُهُ ورسولُهُ، صلى الله عليه وآله واصحابه وسلّم تسليمًا كثيرًا. امّا بعد:

ځرنګه چې د رسول الله ﷺ مبارک سيرت د دنيا په هره ژبه سره موجود ؤ او موجود دی، هر عالِم د دغه مبارک تاريخ څخه ترخپله وسه يو څه ليکلي دي خو موږ پښتنو په پښتو ژبه سره داسي جامع کتاب نه درلودی چې په هغه کي دي د رسول الله ﷺ د ژوندحوادث او واقعات د تاريخ سره موافق او په پرله پسې ډول ليکل سوي وي، حال دا چې د رسول الله ﷺ پيژند ګلوي او د هغه ﷺ په ژوند خبرېدل زموږ ديني مسؤليت دی، ځکه که د رسول الله ﷺ په ژوند خبر نه سو متابعت يې څنګه وکړو؟ اوکه رسول الله ﷺ و نه پيژنو، ايمان څنګه پر راوړو؟

خو د نن څخه تقريبًا لس کاله د مخه ما د سيرت النبي ﷺ په نامه سره د ټيپ د فيتو په واسطه يو مضمون ثبت او نشرکړی، البته هغه وخت د ځوانۍ آخري وختونه وه آواز او د خبرو کولو توان او طاقت يوه اندازه د ځوانۍ پر قسم وه او اوس مي د دوهم وار دپاره د رسول الله ﷺ د ژوند حالات د سپين ږيرتيا او ضعف په حالت کي (*د سرور کائنات ﷺ ژوند*) په نامه سره وليکل چې هم مي د ټيپ په فيتو کي ثبت کړی او هم غواړم چې د کتاب په شکل سره يې و ګرانو وطنوالو ته تقديم کړم، خو دا وار نه هغه د ځوانۍ آواز سته او نه د خبرو کولو توان او قدرت، مګر د هغه آواز او طاقت په عوض اوبدل کي په دغه اوسني ليکل سوي مضمون کي معلومات زيات سوي او ډير سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اول وار ثبتولو کي ما د خپل ځان و ناقص استعداد ته کتل، نو دا مي نه په خيال او نه تصور کي را ګرځېدل چي دغه نشر سوې سلسله دي دومره جهاني شهرت پيدا کړي لکه پيدا چي يې کړه او د خلکو به په دغه اندازه سره خوښه سي، لکه خوښه چي يې سول.

خو په حقيقت کي زه نه پوهېدم چي دغه بيان زما د ناقص استعداد سره تعلق نه لري بلکه دغه بيان د يوه کامل انسان د ژوندانه بيان دی، دا د رسول الله ﷺ د ژوند بيان دی، ځرنګه چي رسول الله ﷺ و ټولو مسلمانانو ته محترم او مکرم، مرغوب او محبوب دی، نو خود د هغه محبوب ﷺ سيرة هم محبوب وګرځېدی او د مسلمان ورونو له طرفه يې تود هرکلی وسو، د اورېدونکو په زړو کي يې ځای ونيوی او بايد ويې نيسي ځکه الله جل جلاله خپل رسول ته ډېره عظيمه درجه او لوړ مقام ورکړي دي، د ده ﷺ محبت يې په الٰهي قدرت د مسلمانانو په زړو کي ښخ کړی دی.

او الله جل جلاله د رسول الله ﷺ متابعت د الله جل جلاله سره محبت بللی دی.

الله جل جلاله د سورت آل عمران په (۳۱) نمبرآيات کي فرمايي:

﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ ﴾. [آل عمران:۳۱]

يعني: اې محمّده! ﷺ دوی ته و وايه: که چيري تاسي د الله عزوجل سره محبت لری او محبت کوی نو زما متابعت وکړی چي الله جل جلاله به ستاسي سره محبت وکړي، تاسي به خوښ ولري او تاسي ته به ستاسي ګنهونه دروبخښي.

چي هم دغه الٰهي تنبيه او خبرتيا يو د هغو سببو څخه وګرځېدل چي مسلمانانو د رسول الله ﷺ و محبت ته په خپلو زړو کي په پوره شوق او ذوق سره ډېر پراخه ځای ورکړی دی او مسلمانان په داسي لارو چارو پسي ګرځي چي د دوی او د رسول الله ﷺ په منځ کي محبت زياتوي.

د اسلام د شروع څخه تر اوسه پوري علماء کرام د رسول الله ﷺ د سيرت او ښو خويو په بيانولو کي په مسابقه کي دي خو د هيڅ بشر په وسه نه ده پوره چي د هغه أکمل البشر، أعظم البشر، مکرم او مشرف ذات اخلاق او اوصاف لکه ځرنګه چي ښايي

هغسي بیان کړي، هغه ذات چي الله ﷻ د هغه په باره کي فرمایي:

﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴿٤﴾﴾. [القلم: ۴]

یعني: اې محمّده! ﷺ بېشکه چي ته پر ډېرو لویو او عظیمو خویو یې، ستا افعال او اقوال، ستا اخلاق او معاملې ټول عظیم او کریم دي.

د اُم المؤمنین حضرتِ عائشې ﷝ څخه پوښتنه وسوه: چي د رسول الله ﷺ اخلاق او عادات څنګه وه؟ دې ﷝ وویل: «کَانَ خُلُقُهُ القرآن»

یعني: د ده ﷺ خویونه او اخلاق ټول د قرآن سره موافق او مطابق وه.

سبحان الله! هر هغه څوک چي دغسي وي، هغه تر ټولو خلکو او مخلوقاتو افضل او اکمل دی او د دې حقداره دی چي ټول مخلوقات محبت ور سره ولري، مګر زه او زما ناقص علم، زما ناقص فهم، زما ناقصه ژبه د دې څخه ډېر عاجزه دي چي د سید الأولین و الآخرین ﷺ ژوند او اخلاق، افعال او اقوال دي داسي بیان کړي لکه څرنګه چي ښایي.

ندانم کدامین سخن گویمت — که والاتري زانکه من گویمت
ترا عز لولاک تمکین بس است — ثنای تو طٰه ویٰس بس است
چه وصفت کند سعدیِ ناتمام — علیک الصلوٰة ای نبی والسلام

خو فقط زه د ځان دپاره دا سعادت او کامیابي بولم چي د رسول الله ﷺ د مبارک نور څخه دومره روښنایي حاصله کړم چي خپل ژوند په روښانه کړم او د جهل په تاریکو کندو او شېلو کي هلاک نه سم.

غواړم چي په ژوند کي د رسول الله ﷺ د اُمت څخه یم او په داسي حال کي مړ سم چي بیا هم د ده ﷺ د اُمت څخه یم، او الله جل جلاله د ده ﷺ په شفاعت ګنهونه را معاف کړي او د ده ﷺ د مبارک لاس څخه د حوض کوثر اوبه وڅښم.

نو ځکه بیا مي د دوهم وار دپاره د سیرت النبی ﷺ په لیکلو شروع وکړه او په دې وار کي مي ځیني تبصرې او نور ګټور معلومات هم پر زیات کړل او هم مي د اولي لیکني ځیني روایتونه په قوي روایتو بدل کړه، په اول ځل لیکنه کي زما اعتماد فقط پر یوه منبع وُ، هو! د موضوع د صحت او موجودیت دپاره مې د سیرت او تفسیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مختلف کتابونه ورسره کتل خود موضوع پر جزئیاتو مي ډیر تاکید نه کاوه.

مګر څرنګه چي دا وار د ځینو مسلمان ورونو په خواهش او غوښتنه سره غواړم چي دغه بحث او مضمون و خپلو پښتو ژبو مسلمان ورونو ته د کتاب پر قسم هم تقدیم کړم، ځکه د ټیپ فیتې ډیر ژر استهلاکیږي، شکیږي او ورکیږي مګر کتاب! که څه هم ویل یا مطالعه کول یې د وخت د نیستي والي یا د نورو عذرو په سبب د فیتوتر اوریدلو سخت او مشکل دي خو د کتاب عمر زیات دی.

نو په دغه امید غواړم چي د دغه لیکني په سبب د دغه علمي خرمن د وړو تولووتکو څخه سم او دا هم د یادوني وړ ده چي د سیرت النبي ﷺ په دا ځل لیکنه کي مي تر هغه اول وار چي د فیتو په واسطه نشرسوی ؤ ډیر زیاتوب کړی دی، ځکه د مختلفو کتابو څخه مي ډیر مفید او ګټور مضامین را نقل کړي دي او په د مخني نشر سوي سیرت کي چي کوم مضامین په اختصار سره لیکل سوي وه، دا وار په صحي شکل او پوره تفصیل سره لیکل سوي دي او په کومو ځایو کي چي د تقدیم او تأخیر په لحاظ د جملو د ترکیب سهوه پیښه سوې وه هغه هم د بشري توان او قدرت پر اندازه اصلاح سوې ده.

څرنګه چي دا وار د دې بحث څخه د کتاب جوړولو إراده لرم نو مي ځان ډیر ستړی کړی د جملو ترکیب مي ترخپله وسه اصلاح کړی د واقعاتو تاریخ مي تر یوې اندازې روښانه کړی، ځیني هغه روایتونه چي د ضعیفه ګومان پر کېدی په قوي روایتو بدل کړل سوه، د مکرمو آیاتو ترجمې بیان سوې، هیله ده چي د ویونکو او اوریدونکو د فایدې او خوښۍ سبب وګرځي.

سُبۡحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَـٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَـٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾

وآخرُ دعوانا ان الحمد لله رب العالمین، وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمّد وآله واصحابه اجمعین.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د سرور كائنات ﷺ ژوند

الحمد لله موفّقِ المؤمنين، و ناصرِالموحّدين، و مرسِل خيرخلقه الى العالمين، اصطفاه من خَلقِه ورزَقَهُ خيرَ خِصال و أتم الصفات من الحكمةِ، و الشّجاعة، و المروئة، و جامع الصفات القيادة فى امورالدّين و الدّنيا، والصّلوة و السّلام على سيدنا محمّد بنِ عبدِالله خاتَمِ الأنبياءِ والمرسلين، و قائد الغُرِّالميامين، النبي الكريم، الهادي، الأمين، الصّادق، المربِّي، القائد، فافضل الصلوةِ و السّلامِ عليه، و على آله و اصحابه، و ازواجه، وذرّيّته، و مَن سار على نهجه الى يوم الدين. امّا بعد:

دغه کتاب چي (د سرورکائنات ﷺ ژوند) په نامه سره يادېږي د محمّد ﷺ د سيرت يعني: ژوند او اخلاقو، اقوالو او اعمالو په باره کي بيان کوي، دغه کتاب د سيّد البشر خاتَم الرُسل ﷺ د عظيم او مبارک ژوند تاريخ بيانوي، د دې بيان څخه يوازي دا نه دی مقصد چي مسلمانان د خپل پيغمبر محمّد مصطفىٰ ﷺ په مبارک حيات خبر سي بلکه په دې خبرتيا کي نوري ډېري مهمي فايدې هم سته چي په ښکاره سره چا ته نه معلومېږي.

د رسول الله ﷺ د سيرت د بيانولو او ليکلو، اورېدلو او زده کولو څخه دا غرض او مقصد نه دی چي د تېرتاريخ معلومات راته وسي يا دا چي عجيبي او غريبي قصې يا نادره معلومات بيان سي، نو ځکه موږ مسلمانانو ته دا نه ښايي چي د سيرت اورېدل او زده کول د تاريخ پر قسم واورو يا ځان په خبرکړو او سيرت ته هم په داسي سترګه وکتل سي لکه د يوه خليفه ژوند يا د يوه پاچا تاريخ يا د تيري سوي زمانې معلومات، بلکه د سيرت د بيانولو، ليکلو، اورېدلو او زده کولو څخه مقصد او غرض دا دی چي يو مسلمان د اسلام د حقيقت تصور وکړي، هغه اسلام چي د رسول الله ﷺ د ژوند څخه يې مبادي او احکام، قواعد او اساس را وتلي او استنباط سوي دي.

زه به دلته د رسول الله ﷺ د سيرت د پوهېدلو او زده کولو لږ څه فايدې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


اختصار سره درته بيان کړم.

**اول**: د رسول الله ﷺ نبوي شخصيت پېژندل، که څوک د رسول الله ﷺ د ژوند په هغو کيفيتو او حالاتو خبر سي چي پر رسول الله ﷺ تېر شوي دي نو پر هغه به دا يقين سي چي رسول الله ﷺ يوازي عبقري يا نابغه نه ؤ چي د ده ﷺ نبوغ، دئ ﷺ په خپل قوم کي لوړ او دغه مقام ته ورساوه، بلکه تر نبوغ او عبقريت د مخه د الله جل جلاله رسول دی چي الله عزوجل يې په وحيو سره تائيد او تاکيد کاوه او الٰهي توفيق ور سره ملګری ؤ، نو موږ محمّد ﷺ د رسولُ الله ﷺ په صفت سره پيژنو او ايمان پر لرو.

**دوهم**: د سيرة د پوهېدلو دوهمه فايده دا ده: چي انسان په خپل حضور کي د کامیابه ژوند د ټولو امورو دپاره، بلکه د شرافت د ژوند دپاره يو اعلٰی مثال و ويني، چي د هغه ﷺ ژوند د خپل ځان دپاره قانون او تګ لاره وګرځوي، په هغه پوري لاس ونيسي او په هغه پسي اقتداء وکړي، په دې کي هيڅ شک نسته که يو انسان هر څومره په يوه مَثَلِ أعلٰی پسي وګرځي، په يوه داسي رهنما او لار ښوونکي پسي وګرځي چي د ژوند په ټولو چارو کي دي کامل او مثلِ أعلٰی وي،

بېله شکه دغه پوره والی او کمال د رسول الله ﷺ په ژوند کي پيدا کولای سي، ځکه الله جل جلاله د ټولو هغو انسانانو دپاره چي د الله جل جلاله د رحمت او د آخرت د ورځي د کاميابۍ اميد لري قُدوه او لار ښوونکی بللی دی، الله عزوجل فرمايي:

﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾﴾ [الاحزاب/۲۱]

**دريم**: د رسول الله ﷺ د سيرت د خبرېدلو او زده کولو په واسطه انسان د کتاب الله په مفاهمو او مقاصدو پوهېدلای سي، ځکه د قرآن مجيد د ډېرو آياتو ترجمه په هغو واقعاتو او حوادثو سره معلومېږي کوم چي دغه آياتونه د هغو واقعو او حادثو په وخت او باره کي نازل سوي دي، نو ترڅو چي چا ته د هغو واقعاتو حالات نه وي معلوم د قرآن مجيد په معنٰی او مقصد هم نه سي پوهېدلای، ځکه د قرآن کريم ډېر آياتونه د يوې خاصي واقعې يا خاص بيان دپاره چي په هغه وخت پوري تعلق لري نازل سوي دي، نو ځکه ترجمه يې هم تر هغو نه سي معلومېدلای چي وخت د نزول

او سبب د نزول یې معلوم نه سي او د آیاتو د نزول سببونه تر هغو نه سي معلومېدلای تر څو چي د محمّد مصطفٰیﷺ ژوند او سیرت را معلوم نه سي.

**څلورم**: د سیرت په معلوماتو سره مسلمان د اسلامي صحي ثقافت او معرفت ډېره حصه یو ځای کولای سي، په دې کي هیڅ شک نسته چي د اسلام د مبادیو د پوهېدلو دپاره که دین دی که عقیده، که احکام دي که اخلاق د رسول اللهﷺ ژوند یو روښانه مجسد تصویر دی.

**پنځم**: د رسول اللهﷺ په سیرت پوهېدل د یوه اسلامي معلّم او واعظ دپاره د تعلیم او تربیې په باره کي یوه ژوندی نمونه او لارښوونه ده، ځکه رسول اللهﷺ یو فاضله معلّم، صادقه ناصح او مهربانه مرّبي ؤ، د دعوت په مختلفو مرحلو کي یې د تعلیم او تربیې وړ او مناسب طریقې استعمالولې.

پر دې ټولو سربېره د رسول اللهﷺ په ژوند کي د انسانیت ټول اړخونه که اجتماعي دي که فردي داخل او شامل دي، یو انسان په هر حالت کي که یو مستقل فرد وي یا د ټولني یوه فعاله عضوه وي د خپلي پوره کامیابۍ دپاره د رسول اللهﷺ و متابعت ته اړ او محتاجه دی، ځکه د رسول اللهﷺ ژوند موږ ته د یوه مستقیم یا پر لار برابر ځوان د سلوک او اخلاقو بېمثاله نمونې راښیي چي د خپل قوم او ملګرو سره ځومره امین او ځومره صادق ؤ.

د رسول اللهﷺ ژوند د یوه واعظ په صفت یوه بېمثاله نمونه دی چي خلک یې د الله جل جلاله لاري ته په حکمت او موعظهٔ حسنه سره ور بلل او خپل ټول طاقت یې د رسالت د رسولو په لار کي مصرفاوه.

د رسول اللهﷺ ژوند د یوه دولت د رئیس او حاکم دپاره ښه لارښوونکی دی چي په څومره هوښیاري او حکمت سره یې کارونه مخ ته بېول، د رسول اللهﷺ ژوند د یوه مثالي او حق پرسته مېړه دپاره لارښوونکی دی چي د خپلي ښځي سره باید څنګه ژوند او ګذاره وکړي، د رسول اللهﷺ ژوند د یوه پلار دپاره په عاطفه او مهرباني کي لارښوونکی دی، رسول اللهﷺ د زوجاتو او اولادو په حقوقو او واجباتو کي دقیق عدل کاوه د هر چا حق یې د هغه د حاله سره سم او پوره ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د رسول الله ﷺ ژوند د یوه حربي قومندان او صادقه آمر دپاره لار ښوونکی دی.

د رسول الله ﷺ ژوند د یوه جامع مسلمان دپاره هغه چي په خپل ژوند کي صحي تقسیم اوقات او په معاملو کي عدل ولري لار ښوونکی دی چي څومره د خپل رب عبادت وکړي او په عین وخت کي د خپلي کورنۍ او ملګرو سره لطیف او د ښه طبیعت خاوند هم وي.

داسي نور ډیر مثالونه سته، که غواړې چي بختور او کامیابه ژوند ولرې نو خامخا د رسول الله ﷺ په ژوند ځان خبر کړه او متابعت يې وکړه، ځکه د رسول الله ﷺ په ژوند خبرېدل بل څه نه دي بېله دغه انساني اخلاقو ښکاره کول، چي دغه ټول اخلاق په هغه بېمثله نمونه او کامل بشر کي سره یو ځای سوي وه او موږ يې خامخا و متابعت ته ضرورت لرو، که غواړې چي په دنیا او آخرت کي کامیابه او بختور ژوند ولرې د رسول الله ﷺ متابعت کوه.

اوس نو کېدلای سي چي دغه پاک تاریخ د محمّد مصطفیٰ ﷺ د پیدایښت څخه را شروع کړو مګر ما دا ښه و بلل چي تر دغه پاک میلاد له دمخه را شروع سي دپاره د دې چي دا را معلومه سي چي د دغه لار ښوونکي نور تر را تګ د مخه د عربو ژوند او تاریخ څنګه او څه ډول ؤ او بیا د وحیو په راتګ سره څنګه سو؟ هغه تغیر چي د رسول الله ﷺ د رسالت په واسطه یوازي په جزیرةُ العرب کي نه بلکه په ټول عالَم کي راغلی دی لوی او مهم تغیر دی، خو انسان ته دا فرق تر هغو نه سي معلومېدلای ترڅو د دغه پاک سیرت معلومات ورته و نه سي.

او شروع هم ډیره سخته ده نه پوهېږم چي د کوم ځای څخه يې را شروع کړم ځکه تر اسلام د مخه د عربو تاریخ ډیر اوږد او لوی تاریخ دی، خو ما دا ښه وبلل چي د هغه ځای څخه شروع وکړم کوم چي الله عزّوجلّ خپل معزز پیغمبر ابراهیم علیه السلام امر کړی چي خپله ښځه هاجر رضي الله عنها او د دې هغه کوچنۍ د تي رودلو زوی اسماعیل علیه السلام بوزه او په مکه مکرمه کي يې پرېږده چي هغه وخت دغه مکه بېله اوبو او بېله زراعته د تورو او لویو غرو په منځ کي یوه خالي ډبرینه شېله وه او هغه وخت کعبه شریفه هم نه وه جوړه سوې، ځکه کعبه شریفه بیا په وروسته کي ابراهیم علیه السلام او د ده زوی اسماعیل علیه السلام جوړه کړل.

نو دغه شېله چې نوم یې مکّه یا بَکّه دی یوه خالي شېله وه چې نه هلته انسانان وه او نه د انسانانو د ژوند کولو شرائط موجود وه، هلته نه اوبه وې نه زراعت. نه کلی ؤ نه کور فقط غرونه او ډبري دي، نو د الله جل جلاله په امر ابراهیم علیه السلام د خپلي ښځي او کوچني زوی سره د فلسطین څخه مکې مکرمې ته راغلی او هلته یې د بیتُ الله الحرام د مځکي سره خپله زوجه هاجَر او خپل کوچنئ زوی اسماعیل علیه السلام پر وچ دښت پرېښوول او دئ علیه السلام رهي سو، هاجر رضي الله عنها په تعجب کي سوه چې موږ څنګه دلته پرېږدي؟ دلته خو نه اوبه سته نه خورک، نه انسانان سته نه زراعت، نه کلی سته نه کور او زما سره دغه کوچنئ د تي هلک هم را سره دی، نو یې پسي ورږغ کړل: موږ څنګه دلته پرېږدې؟ ابراهیم علیه السلام هیڅ ږغ و نه کړی، دې بیا پوښتنه ځني وکړه او ده علیه السلام ږغ نه کاوه، خو په آخر کي دې پوښتنه ځني وکړه: آیا الله جل جلاله امر کړی یې چې موږ دلته پرېږده؟ ابراهیم علیه السلام و ویل: هو، دلته نو هاجر علیها السلام د هغه واقعي مسلماني پر قِسم چې اعتماد او توکل یې یوازي پر الله جل جلاله وي په پوره یقین سره و ویل: الله مو نه ضایع کوي، ځرنګه چې دا د الله جل جلاله امر دی او الله عزوجل پر خپلو بندګانو رؤف او رحیم دی نو بېله تشویشه او شکایته کښېنستل او ابراهیم علیه السلام رهي سو.

تاسي ته خو هغه مشهوره قصه در معلومه ده کله چې د هاجر علیها السلام سره هغه موجودي اوبه کومي چې ابراهیم علیه السلام ورپرې ایښي وې خلاصي سوې نو دا د اوبو د پیدا کولو دپاره ولاړه سوه چې یا به دلته اوبه پیدا کړم یا به یو څوک و وینم او خپل زوی یې د دغه اوسني زَمزَم د څاه د منطقې سره پرېښاوه چې البته هغه وخت نه څاه ؤ نه اوبه، خو دا د صفا غونډۍ ته وختل او بیا د مروا غونډۍ ته ولاړل، دغه د اوبو په طلب کي یې اووه واره د صفا او مروا په منځ کي تګ او را تګ وکړی.

دغه د دې تګ او را تګ زموږ په دین کي د حج کونکو او عمره کونکو دپاره دیني شعار وګرځېدی او دا د دغې مومني ښځي یاد دی، اسلام و مومني ښځي ته دغه اندازه شرف ورکړی دی چې د قیامت تر ورځي به نه هېرېږي، بي بي هاجر علیها السلام په دغه تګ او راتګ مشغوله وه چې هلته جبریل علیه السلام د اسماعیل علیه السلام د پښو سره د الله عزوجل په امر دغه مځکه چې اوس هلته د زَمزَم څاه دی په خپل وزرو وهل

(c) ketabton.com: The Digital Library


مځکه وچاودل او اوبه ځني را ووتې.

دا د زَمزَم د ښکاره کېدلو شروع او ابتداء ده او دلته په دغو غرو کي د اول وار دپاره اوبه پیداسوې، خو دغه واقعه هغه وخت پیښه سوه چي په دغه وخت کي هلته په یمن کي د اوبو یو ډېر لوی بند چي (سدِّ مآرب) ورته ویل کیده نړېدلی ؤ.

تاسي ته معلومه ده چي انسانان همیشه په هغو ځایو کي اوسېږي کوم چي هلته اوبه وي او دغه سدِ مآرب، یا د اوبو بند په یمن کي ډېر لوی او عظیم بند ؤ او د دغه بند پر شا و خوا ډېر انسانان اوسېدل چي دغه انسانان هم ټول عرب وه، ځکه د عربو اصلي وطن او ځای یوازي او یوازي یمن دی بیله هغه کوچي عربو څخه چي یوې او بلي خوا ته به تلل نور نو ټول عرب یوازي په یمن کي وه بل ځای نه اوسېدل، نو ځکه د اصلي عربو اصلي وطن یوازي یمن دی.

او بیا د هغه ځای څخه د دغه بند د نړېدلو په سبب چي اوبه ورکي او نېستي سوې عربو یوې او بلي خوا ته کوچ وکړی او سره وپاشل سوه.

کله چي (سدِّ مآرب) ونړېدی عرب د رزق د پیدا کولو دپاره یوه او بل طرف ته ولاړل او هري قبیلې د ځان د اوسېدلو دپاره یوه منطقه اختیار کړل، د مثال پر ډول د ثقیف قبیله طائف ته ولاړل او طائف یې د ځان وطن وګرځاوه، د غساسنه قبیله د شام و شا وخوا ته ولاړل او د مناذره قبیله د عراق شا وخوا ته ورسېدل، دغه رنګه ټول عرب د لوږي او د رزق د پیدا کولو په سبب د خپل اصلي وطن څخه چي یمن دی یوې او بلي خوا ته و وېشل سوه.

اوس چي جبریل علیه السلام مځکه په وزر و وهل او د زَمزَم اوبه پیدا سوې نو بي بي هاجَر علیها السلام دلته د دغو اوبو سره اوسېږي، عادت داسي دی چیري چي اوبه وي هلته مرغان هم د دغو اوبو په سبب پیدا کیږي او را ټولیږي، نو د زَمزَم د اوبو په سبب په دغه منطقه کي مرغان هم په هوا ګرځېدل.

په دغه وخت کي د عربو یوه قبیله چي د جُرهُم قبیله نومېدل د یمن څخه کوچ کړی دی او رهي دي چي چیري به اوبه پیدا کړي او هلته و اوسیږي، دغه قبیله نژدې و دغي شېلي ته چي مکه نومېده تېرېدل، وې لیدل چي په هوا مرغان ګرځي

(c) Ketabton.com: The Digital Library

ویل دا مرغان له کومه دلته راغلي دي؟ دلته خو هیڅ وخت اوبه نه وې، نو یې نفر ولیږل چې ولاړ سی شا وخوا وګوري ښایي دلته اوبه پیدا سوي وي، نفر چې ولاړل اوبه یې و لیدلې او د قبیلې مشرانو ته یې خبر را وړی چې هو دلته اوبه سته، د قبیلې مشران اوبو ته ورغله هلته د اوبو سره یې بي بي هاجَر او اسماعیل علیهما السلام ولیدل چې فقط یوه ښځه او یو کوچنۍ هلک دي او نور هیڅوک نسته، څرنګه چې دغه خلک د همت او مړاني خاوندان وه نو یې د زَمزَم اوبه د هغې څخه په زور قبضه نه کړې بلکه اجازه یې ځني وغوښتل چې موږ به دلته اوسیږو، اوبه خو ستا دي او موږ به ستا سره د دغو اوبو په عوض او بدل کي نوره مرسته کوو، د هاجَر رضي الله عنها هم خوښه سوه او دوی ته یې د اوسېدلو اجازه ورکړل.

د الله عزوجل قدرت ته وګوره اوبه یې ورته پیدا کړې او د نور رزق سبب هم پیدا سو، ځکه د معیشت نور ضروريات یې هغه د جُرهم قبیلې پر ذمه واخیستل، اوس نو دغه عربي قبیله چې د جُرهم قبیله نومېدل په مکه مکرمه کي یې سکونت شروع کړی او دغه ځای یې د ځان وطن وګرځاوه او د زَمزَم د اوبو دپاره یې یو حوض جوړ کړی، تر دغه وخته کعبه شریفه نه ده جوړه سوې او اسماعیل علیه السلام خو عرب نه دی او عربي ژبه یې هم نه ده زده ځکه ابراهیم علیه السلام دوی د فلسطین څخه دلته مکې مکرمې ته را وستلي وه نو عربي ژبه یې دغه د جُرهُم د قبیلې څخه زده کړل.

کله چې اسماعیل علیه السلام لوی سو ښځه یې هم د دغې عربي قبیلې څخه وغوښتل نو ځکه د اسماعیل علیه السلام اولادې ته عربِ مستعرَب ویل کیږي، یعني اصلاً عرب نه وه او بیا عرب سول، همدارنګه زموږ پاک پیغمبر محمّد مصطفٰی ﷺ د اسماعیل علیه السلام د اولادې څخه دی.

ابراهیم علیه السلام به کله نا کله څه موده تر منځ دلته را تلی د خپل زوی او خپلې ښځې بي بي هاجَر علیها السلام خبر به یې اخیستی او بیرته به ولاړی، تر څو چې د اسماعیل علیه السلام عمر (۱٦) کلو ته ورسېدی د الله عزوجل له طرفه ابراهیم علیه السلام ته د کعبې شریفې د جوړولو امر وسو چې ته او ستا زوی اسماعیل علیه السلام کعبه شریفه جوړه کړی او دوی هم کعبه شریفه جوړه کړل، خو کله چې الله جل جلاله ابراهیم علیه السلام ته د کعبې شریفې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د جوړولو امر کاوه ورته و ویل سوه چي د آدم علیه السلام پربناء یې جوړه کړه، الله عزوجل د سورة آل عمران په (۹۶) نمبرآیات کي فرمایي:

﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ﴾

یعني: خامخا د الله جل جلاله هغه اول کور چي د خلکو دپاره ایښوول سوی دی! هغه: هغه کور دی چي په بَکه کي واقع دی.

په یوه روایت کي راغلي دي چي اصلاً کعبه شریفه د آدم علیه السلام یا شیث بن آدم علیه السلام په زمانه کي جوړه سوې ده او بیا د نوح علیه السلام په طوفان کي ونړېدل.

ځرنګه چي کعبه شریفه د الله جل جلاله اولنۍ کور دی نو خود د خلکو د عبادت دپاره د الله عزوجل اول کور بلل کیږي، کله چي ابراهیم علیه السلام د کعبې شریفي اساس، بنسټ یا تاداو کِندی په مځکه کي یې هغه د آدم علیه السلام اساس پیدا کړی او پر هغه اساس یې جوړه کړل، دا د کعبې شریفي د جوړولو ابتداء او شروع وه.

خو د جوړولو په وخت کي چي ابراهیم علیه السلام یو دېوال آخر ته ورساوه او اوس هغه بل دېوال جوړوي دلته خو کُنج پیدا کیږي، چي د دغه کُنج ځخه د بِناء او جوړولو اصل او اساس، نقشه او رَجه اخیستل کیږي او نوره بِناء له دغه کُنجه ځخه سمه او صحي جوړېدلای سي نو ابراهیم علیه السلام غوښتل چي په دغه کُنج کي یوه لویه، قوي او مناسبه ډبره کښېږدي، نو یې اسماعیل علیه السلام ولېږی چي ولاړ سه شا وخوا وګوره چي د دغه کُنج دپاره یوه مناسبه ډبره پیدا کړې، اسماعیل علیه السلام ولاړی په غرو کي ګرځي خو د دغه ځای دپاره یې د دوی د غوښتني سره سمه، وړ او مناسبه ډبره نه کړل پیدا او بیرته راغلی خو دلته یې و لیدل چي د پلار سره یې یوه ډیره مناسبه او هغه قسم ډبره چي دوی غوښتل پرته ده، اسماعیل علیه السلام و ویل: دا ډبره دي د کومه کړل؟ ابراهیم علیه السلام و ویل: دا د الله عزوجل له طرفه راغله.

ورونو! دغه ډبره هغه حجرِاسود دی چي د جنت ځخه راغلی دی او د جنت د ډبرو ځخه یوه ډبره ده چي د کعبې شریفي په بِناء کي کار سوې ده، کعبه شریفه د دغي ډبري ځخه په صحي بِناء سره جوړه سوه، ابراهیم علیه السلام چي به څه دېوال جوړ کړی نو به شا ته ولاړ او د څه لیري فاصلې ځخه به یې دغه جوړ سوي دېواله ته کتل

چي آيا دېوال سم دی کوږ خو به نه وي؟ او دلته به د فکر کولو دپاره ښه وخت ولاړ ؤ نو ځکه دغه ځای ته مَقام ابراهيم ويل کيږي، الله ﷻ په سورةُ البقره کي فرمايي:

﴿وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَٰهِـۧمَ مُصَلًّى﴾ [البقره: ۱۲۵]

يعني: اې مؤمنانو! د ابراهيم عليه السلام د درېدلو ځای د لمانځه، طواف او دعاء ځای وګرځوی.

دغه ځای د کعبې شريفي د صحي جوړولو دپاره د ابراهيم عليه السلام د فکر کولو ځای دی، ځرنګه چي د ليري څخه د دېوال برابري اوکوږ والی معلوميږي نو ځکه دغه مَقام د کعبې شريفي څخه ځه ليري واقع دی.

همدارنګه مقام ابراهيم هغي ډبري ته ويل کيږي: کومه چي د کعبې شريفي د جوړولو په وخت کي به ابراهيم عليه السلام پر درېدی، په دغه ډبره کي د ابراهيم عليه السلام د پښو نخښي او علامې هم سته او دغه ډبره هم د جنت څخه را وړل سوې ده.

کله چي کعبه شريفه جوړه سوه دا خو د ډبرو يوه خونه ده چي يوه انسان جوړه کړل نو خلک دلته د عبادت کولو دپاره ولي او ښنګه ورته راسي؟

دلته بيا ابراهيم عليه السلام ته الهي امر وسو چي خلک بيت الله الحرام ته په حج کولو سره خبر کړه الله ﷻ د سورةُالحج په (۲۷) نمبر آيات کي فرمايي:

﴿وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا﴾ [الحج: ۲۷]

يعني: په خلکو کي د حج د آداء کولو دپاره ږغ وکړه چي تا ته به له هره ځايه څخه پياده او پر پښو حاجيان راسي.

ابراهيم عليه السلام و ويل: الهي! زه ښنګه کولای سم چي ټول خلک خبر کړم؟ زما آواز به ټولو خلکو ته ښنګه ورسيږي؟ د الله ﷻ له طرفه ورته و ويل سوه:

يا ابراهيم! پر تا ناره کول دي او تر خلکو پوري رسول يې پر ما دي، ته فقط ږغ وکړه دا چي خلکو ته ښنګه رسيږي دا زما کار دی ته فقط په آواز کولو سره امر يې.

نو ابراهيم عليه السلام د عرفات غره ته ولاړی او لوړ غره ته وختی او ناري يې کړل:

اې خلکو! د بيت الله شريفي حج پر تاسي لازم دی او دلته به د حج کولو دپاره راځی، نو له دې سببه عرفات د حج په شعائرو کي راغلی دی او د حج د ارکانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مهم رکن دی ځکه عرفات د خلکو د حج کولو د پاره د اعلان او خبرتیا ځای دی.

په یوه بل روایت کي ویل کیږي چي ابراهیم علیه السلام د مَقام ابراهیم پر ډبره ودریدی او دغه ږغ یې وکړی.

کله چي ابراهیم علیه السلام په حج کولو سره ږغ او اعلان وکړی الله عزوجل دغه د ده آواز تر مشرقه او مغربه و رساوه، دا د الله جل جلاله له طرفه یوه معجزه وه چي ټولو خلکو د ده آواز واوریدی، همدارنګه الله جل جلاله د ټولو انسانانو په زړو کي د کعبې شریفي حُب او محبت، تعظیم او تکریم ور واچاوه.

بیانو د دنیا له هره ځایه څخه د کعبې شریفي د عزت او حج کولو د پاره خلک راتله خاصتاً د جزیرةُ العرب څخه په ډلو ډلو خلک همېشه ورته را تلل، حج او د الله جل جلاله عبادت به یې کاوه هر کال حج کېدی د کعبې شریفي تعظیم او احترام کېدی.

دا د الله جل جلاله قدرت او معجزه ده که نه د هیڅ انسان په وسه نه ده پوره چي د ډبرو خوني ته دومره عزت او اعتبار ورکړي، اوس نو کعبه شریفه معززه سوه او د ابراهیم علیه السلام دین نشر سو، توحید او د یوه الله عزوجل عبادت په خلکو کي شروع سو، ټول عرب د ابراهیم علیه السلام پردین وه او د ټولو عربو عقیده د توحید او وحدانیت عقیده وه یوازي او یوازي د الله جل جلاله عبادت کېدی په ټوله جزیرةُ العرب کی هیڅ کافر او مشرک نه ؤ موجود خو عُمر دی تېرېږي، څه وخت او زمانه پر دغه حال تېر سوه تر څو چي د خُزاعه په قبیله کي د (عَمرو بن لُحی) په نامه سره یو نفر پیدا سو.

خُزاعه د عربو یوه بله قبیله ده او دغه عَمرو د دغي قبیلې رئیس او سردار ؤ، دغه عَمرو بن لُحی د جُرهم د قبیلې سره هغه چي پر مکه مکرمه آمران وه جنګونه شروع کړل غواړي چي د کعبې شریفي تصرف او د مکې مکرمې آمریت ځني واخلي او د دغو دوو قبیلو په منځ کي ډیر لوی جنګ پیښ سو څو په آخر کي د جُرهُم قبیلې شکست او ماته وخوړل او د مکې مکرمې تصرف او آمریت د خُزاعه د قبیلې لاس ته ورغلل، د دغو جنګو او ماتي په نتیجه کي د جُرهُم د قبیلې ډیر کسان د مکي مکرمې څخه دباندي و وتل او ځیني یې په مکه مکرمه کي پاته سول او دالته یې استوګنه کول مګر کارونه او آمریت ټول د خُزاعه د قبیلې په لاس کي وه، خو کله چي د جنګ په

(c) kitabton.com: The Digital Library

وخت کي د جُرهم قبیله په خپله ماته او شکست پوه سوه نو یې غوښتل چي د خزاعه قبیلې ته په مکه مکرمه کي تکلیف او مشکلات جوړ کړي او د دغې قبیلې ژوند ور تریخ کړي، غواړي چي دغه تکلیف او زحمت د اوبو د نه درلودلو په سبب ورته پیدا کړي.

هو د مکې مکرمې د ښار عزت او عظمت، لویي او حُرمت په کعبه شریفه سره دي خو د خلکو ژوند یې د زَمزَم په اوبو سره ؤ، که اوبه نه وي هلته بیا ژوند تریخ دی، نو د جُرهم قبیلې د خزاعه د قبیلې د ژوند تریخولو دپاره د جنګ په وخت کي د زَمزَم څاه پټ کړی او هغه په کعبه شریفه کي پرتې خزانې یې هم ټوله دغه څاه ته ور واچولې چي یوه د سرو زرو اوسی هم پکښې وه او د څاه یې هیڅ نخښه او علامه نه پرېښودل، کله چي د خزاعه قبیلې د مکې مکرمې تصرف او آمریت په لاس کي واخیستی د زَمزَم د اوبو یې هیڅ اثر نه کړی پیدا نو مجبوره سوه اوبه به یې د مکې مکرمې د دباندي څخه راوړلې، د خُزاعه قبیلې د مکې مکرمې آمریت لاس ته را وړی خو زَمزَم نه سو ور پاته ځکه هغه پټ او ښخ کړل سو، زَمزَم تر هغه وخته ورک او پټ ؤ چي دوهم وار بیا زموږ د پاک پیغمبر سرورکائنات أشرف المخلوقات محمّد مصطفیٰ ﷺ نیکه عبدالمطلب وکندی.

*دا د زَمزَم د څاه د پټېدلو قصه وه چي پر مکه مکرمه د خزاعه دقبیلې د تسلط په سبب د جُرهُم دقبیلې له طرفه پټ کړل سو.*

پر مکه مکرمه د خزاعه د قبیلې تسلط تر (۳۰۰) یا په بل روایت تر (۵۰۰) کلو پوري دوام کړی دی خو په شروع کي د خزاعه د قبیلې مشر او رئیس چي عَمرو بن لُحی نومېدئ د مکې مکرمې حاکمِ مطلق او عمومي رئیس وګرځېدی او د ده له امره هیچا سرکښي او نا فرماني نه کول، دغه عَمرو ډېر مالداره او سخي سړئ ؤ د حاجیانو خواړه یوازي ده له خپله ماله ورکول او د حاجیانو دپاره اوبه هم یوازي ده په خپل مصرف برابرولې.

او دا هم تاسي ته معلومه ده چي د زَمزَم د څاه د پټېدلو په سبب اوبه د مکې مکرمې د دباندي او د لیري ځایو څخه را وړل کېدې، خو دغه کارونه ده پر خپله غاړه اخیستي وه او دغه عَمرو بن لُحی دومره معتبره ؤ چي هر امر یې د خزاعه قبیلې، د مکې مکرمې اوسېدونکو او د مکې مکرمې حاجیانو داسي قبلاوه لکه دیني او شرعي

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوامر، هیڅ‌چا د ده له امره نا فرماني او سرکښي نه کول.

۞ یو وخت دغه عَمرو بن لُحی شام ته په سفر ولاړی او هلته د شام په حدودو کي یوه قبیله اوسېدل چي د عمالیق قبیله ورته ویل کېده او دغه قبیله بُت پرسته وه د بتانو عبادت یې کاوه، خو تر دغه وخته عربو نه بتان پېژندل او نه یې د بتانو عبادت کړی ؤ بلکه ټول عرب موحدین او د حضرتِ ابراهیم علیه السلام پر دین وه، دغه عَمرو بن لُحَی د عمالیق د قبیلې څخه پوښتنه وکړل چي دا څه شي دي؟ هغو ورته و ویل: دا آلهه او خدایان دي، کله چي پرموږ لوږه او کاختي راسي ډوډی را کوي، کله چي یو قوم پر موږ حمله وکړي او جنګ را سره کوي دوی زموږ مرسته کوي، بارانونه راباندي اوروي او بالآخره الله جل جلاله ته مو نژدې کوي، عَمرو بن لُحی ډیر په تعجب کي سو او دا خبري یې پر دماغ ښه ولګېدې ځکه دوی په مکه مکرمه کي اوبو ته ډېر ضرورت درلودی، نو ویل: ما ته هم یو بت را کړی ښایي چي زموږ مرسته هم وکړي موږ په مکه مکرمه کي اوبو ته ډیرضرورت لرو، د عمالیق د قبیلې بت پرستانو چي د ځان ملګري پیدا کړل ویل ښه دی، نو یې په ډیره خوشالي سره ده ته یو بت ورکړی چي (هُبل) نومېدی، دا هغه اول بت دی چي جزیرةُ العرب ته راوړل سو.

عَمرو بن لُحی دغه بت مکې مکرمې ته را وړی او په کعبه شریفه کي یې کېښناوه خلک یې د دغه بت په عبادت کولو سره امر کړل، خلکو هم دغه د ده امر و مانه.

اوس نو عَمرو بن لُحی د شیطان په لار ښوونه نوي امرونه صادروي چي هغه امرونه یې د توحید او د ابراهیم علیه السلام له دینه مخالف وه او بیا عَمرو بن لُحی نور بتان هم جزیرةُ العرب ته را وړل چي دغه بتان یې آلهه او خدایان بلل.

عَمرو بن لُحی د عربو هره قبیله امر کړل چي د ځان دپاره به یو بت اختیاروي او په کعبه شریفه کي به د هغه بت عبادت کوي، بیا یې بل امر صادر کړی ویل: تاسي خو په خپلو کُلُو او کورو کي هم عبادت کوی خو دا نه ده صحي چي بیله بتانو څخه د مکې مکرمې د بل شي عبادت وکړی، نو پر هر چا دا لازمه ده چي د مکې مکرمې د ډبرو څخه یوه ډبره ور سره واخلي او هلته په خپل کور او کلي کي به د هغې ډبري عبادت کوي، عربو هم دا امر و مانه او هر یوه د مکې مکرمې څخه یوه ډبره ور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


واخیستل، هلته په خپل کور کې به یې هغې ډبرې ته عبادت کاوه حتّی د هغې ډبرې عبادت به یې کاوه چې دغه کار په عربو کې د توحید پرځای د بتانو د عبادت شروع او ابتداء وه.

د عَمرو بن لحی په امر سره په جزیرةُ العرب کې بت پرستي شروع سوه، رسول الله ﷺ د دغه عَمرو بن لحی په باره کې فرمایي:

« رَأَیْتُ عَمْرَو بْنَ عَامِرِ بْنِ لُحَیْ اَلخُزاعِي یَجُرُّ قُصْبَهُ فِی النَّارِ»

یعني: عَمرو بن عامر بن لُحی الخُزاعي مي ولیدی چې خپلې کُلمې په اور کې کشوي.

دا ولې؟ ځکه دئ هغه څوک دی چې د عربو دین ته یې تغیر ورکړی، تر دغه د مخه ټول عرب پر توحید او د ابراهیم علیه السلام پر دین وه خو اول سړئ چې د دوی دین یې په شرک او بت پرستي ورواړاوه هغه دغه عَمرو بن لُحی خبیث ؤ.

او بیا یې د حج او عُمرې تلبیې ته تغیر ورکړی، تر دغه د مخه عربو تلبیه داسي ویل:

«لَبَّیْکَ اللّٰهُمَّ لَبَّیْکَ، لَبَّیْکَ لَاشَرِیْکَ لَکَ لَبَّیْکَ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَکَ وَالمُلْکَ، لَاشَرِیْکَ لَکَ»

چې دا د اسلام او توحید تلبیه ده، خو عَمرو بن لُحی خبیث په آخر کې دغه جمله پر زیاته کړل چې (لَاشَرِیْکَ لَکَ اِلاَّ شَرِیْکاً هُوَ لَکَ، تَمْلِکُهُ وَمَا مَلَکَ) دا د شرک جمله ده، خو ده دغه د شرک جمله د توحید پر تلبیې زیاته کړل.

او بیا یې د حیواناتو په باره کې پر عربو نور نوي امرونه جاري کړل، هغه دا چې ځینو حیواناتو ته باید د احترام په سترګه وکتل سي او مقدس وبلل سي، د هغو څخه باید کار وانه خستل سي او د ځینو غوښې هم باید و نه خوړل سي او د ځینو غوښې نارینه انسان خوړلای سي خو ښځو ته یې خوړل حرام دي او د ځینو حیواناتو غوښې یاشیدې بیله مېلمه بل چا ته حرامي دي.

چې د دغو حیواناتو د جملې څخه یوه ته (بَحِیره) ویل کېده، بل ته (حامي) ویل کېده، بل ته (سائبه) ویل کېده او بل ته (وصیله) ویل کېده او داسي نور نومونه یې ورته کښېښوول، مثلاً (سائبه) هغه اوښه وه چې لس لوښي یا جونګیاني یې پرله پسې زېږولي وای او په منځ کې یې نارینه جونګئ نه وای نو پر دغه اوښه نه څوک سپرېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه یې بار پر وړی، نه د هغې وړی شکول کېدې او نه د دغې اوښې شیدې بېله میلمه څخه بل چا چښلې او که به یې تر لسمې جونګې وروسته بله یوولسمه جونګې وزېږول هغې ته (بحیره) ویل کېدل، د هغې غوږ به یې ور چاک کړی او د خپلې مور سره به یې ایله کړل پر هغې هم نه څوک سپرېدل نه یې د وړیو څخه کار اخیستی او نه یې بیله مېلمه بل چا شیدې چښلې، دا هم داسې وه لکه د دې مور چې دې ته (بحیره) ویل کېدل او د (سائبې) لور وه او (وصیله) هغه مېږ وه چې پنځه واره به پرله پسې غبرګه لنګه سول او د هر وار دواړه بچیان به یې ښځې وُری وې، په پنځه سره واره کې به یې نارینه وُرئ نه ؤ زېږولی نو دوی به ویل: دا ورسېدل.

که به دغه (وصیلې) تر دغه وروسته بل بچئ و زېږاوه د هغه د غوښو خوړل د مشرکانو نارینه ته روا وه خو ښځو ته یې خوړل نه وه روا او که به بیا مردار سو یعنې: په خپله به مړسو نو ښځو ته یې هم خوړل روا وه او (حامې) هغه ځوان نر اوښ ؤ چې د ده د ختلو په واسطه به پرله پسې لس ښځې جونګیانې و زېږېدلې نو د ده شا د بار او سپرېدلو څخه وساتل سوه او نه یې د وړیو څخه کار اخیستل کېدی، فقط په اوښانو کې به د ختلو دپاره ایله ؤ، الله ﷻ د مشرکانو د دغه کار په باره کې فرمایي:

﴿ مَا جَعَلَ ٱللَّهُ مِنۢ بَحِيرَةٖ وَلَا سَآئِبَةٖ وَلَا وَصِيلَةٖ وَلَا حَامٖ وَلَٰكِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَأَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿١٠٣﴾ ﴾ [المائده: ۱۰۳]

یعني: الله جل جلاله هیڅ یو د بَحیرې، د سائبې، د وصیلې او د حام څخه نه دي ګرځولي یا روا کړي، مګر هغه کسان چې کافران سوي دي پر الله افتراء کوي، له ځانه باطلي خبري پوري تړي یا جوړوي او ډېر د دوی په حق او باطل نه پوهېږي.

عَمرو بن لُحی داسې نور ډېر شیان دوی ته د دین او شریعت پر قسم کښېښوول او په دوی کې یې رواج کړل حتّی نور بتان یې هم کعبې شریفې ته د آلهه په نامه سره را وړل او نور لوی لوی بتان چې کعبې شریفې ته را وړل سوه په دغو نومو سره یادېدل:

لومړی: (وَد) چې د بني کلب د قبیلې دپاره ؤ او هغوې عبادت کاوه.

دوهم: (سُواع) چې د هُذیل د قبیلې دپاره ؤ او هغوې عبادت کاوه.

دریېم: (یغوث) چي د طئ د قبیلې او اهل جرش دپاره ؤ او هغوی یې عبادت کاوه.
څلورم: (یعوق) چي د همدان د قبیلې دپاره ؤ او هغوی یې عبادت کاوه.
پنځم: (نسر) چي د یمن دپاره ؤ او هغوی یې عبادت کاوه.
الله جل جلاله د سورة نوح په (۲۳) نمبرآیات کي فرمایي:

﴿وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾

اصلاً دا د نوح علیه السلام د قوم د بتانو نومونه دي او مشرکانو هر بت د یوه خاص مقصد دپاره خاص کړی ؤ، خو دغه پخواني بتان بیا په عربو کي رواج او جوړ سول، *همدا رنګه په هندوستان کي د هنوانو دپاره د (بشنو) (برهما) (اندر) (شپو) (هنومان) او په نورو نومو سره مشهوره بتان سته.*

دا چي د دغو بتانو څخه هر یو د عربو په یوه قبیله پوري خاص سو دا کار هم د عَمرو بن لحی په امر سره وسو، مګر (هُبل) هغه بت چي اول را وړل سوی ؤ هغه د قریشو دپاره ؤ او هغه عجیب ترین د دغه آلهه یا خدایانو (د دوی په قول) إساف او نائله دي چي د دغو دوو بتانو قصه پخوا پېښه سوې وه هغه دا سي:

إساف د یوه سړي نوم ؤ او نائله د یوې پیغلي نوم ؤ چي دوی دواړه د یمن اوسېدونکي وه، دوی دواړو یو د بل سره مینه او محبت درلودی، إساف د نائلې د پلار څخه نائله وغوښتل خو د نائلې پلار دغه د ده غوښتنه نه کړه قبوله.

نو دوی دواړو د را تلونکي حج په موسم کي د ملاقات وعده سره وکړه چي حج ته به ځو او هلته به سره وینو، د وعدې سره سم دوی د حج په موسم کي سره یو ځای سوه او په یوه فارغه وخت کي یې د کعبې شریفي په شا وخوا کي زنا وکړه، اولاً خو زنا د لویو ګنهو څخه ده او بیا کعبې شریفي ته نژدې؟ نو الله عزوجل دوی دواړه په خپل قدرت ډبري وګرځول چي د ډبرو انسانان پاته سول او دې ته هم بت ویل کیږي.

د هغه وخت د مکې مکرمې حاکمانو دغه دوه بتان د خلکو د عبرت دپاره پر صفا او مروا کښېښوول، إساف یې پر صفا او نائله یې پر مروا کښېښوول او قصه یې هر چا ته معلومه وه عبرت به یې په اخیستی چي دغو دوو نفرو کعبې شریفي ته نژدې فحشاء کړې ده او ډبره سول، خو پر دې قصه ډیر وخت تېر سوی ؤ هر څوک د دغو دوو ډبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا بتانو په تاریخ نه وه خبر، د عَمرو بن لُحی په امر دغه دوه بتان: إساف او نائله د صفا او مروا څخه کعبې شریفې ته نژدې یووړل سوه او خلک د هغو په عبادت کولو امر کړل سوه، چې دغه دوه بتان هم د عَمرو بن لُحی په امر د آلهه یا خدایانو جملې ته ور داخل کړل سوه.

دا د عربو پخوانئ ژوند ؤ او دا د دغو مشرکانو آلهه او خدایان وه، د عربو تر جاهلیت پورې یوه قصه ده: حضرتِ عمرؓ به د خپل خلافت په وختو کې په مجلس کې ناست ؤ او ځینې وخت به یې بیله سببه وخندل، خو یو وخت یو چا پوښتنه ځنې وکړه، ویل: یا امیرَالمؤمنین! وینو دې چې کله کله بېله سببه خاندې دا ولې؟ سیدنا حضرتِ عمرؓ وویل: د جاهلیت په وختو کې عادت دا ؤ: کله چې به څوک د مکې مکرمې څخه دباندې وتی نو به یې د مکې مکرمې څخه یوه ډبره ور سره واخیستل او په سفر کې به یې د هغې ډبرې عبادت کاوه، خو زه هم یو وخت په سفر ولاړم او ډبره مې هیره سوه نه مې را سره واخیستل، کله چې د عبادت کولو وخت راغلی زما سره خو د مکې مکرمې ډبره نه وه را سره نو اوس څنګه عبادت وکړم؟ و مې کتل د مکې مکرمې خرما یا کجور را سره وه، د دغې خرما څخه مې بت جوړ کړی او دغه د خرما د بت عبادت مې کاوه، کله چې هغه نوره خرما را سره خلاصه سوه او د خوړلو دپاره شئ نه سو را پاته وږی سوم نو مې دغه خپل معبود او د خرما څخه هغه جوړ سوی إله وخوړی چې لږ مخکې یې ما عبادت کاوه، نو پر هغه خپل پخوانې جاهلیت او نا پوهې خندا راسې چې دا څنګه آلِهه او دا څنګه دین ؤ؟

دغه د جاهلیت د ژوند لږ حالات چې دغه اوس درته بیان سوه یا په وروسته کې بیانیږي د دغو ټولو حالاتو د بیانولو څخه مقصد دا دی چې موږ ته دا را معلومه سي او په دې پوه سو چې د اسلام دین په ټول عالَم خاصتاً په جزیرةُالعرب کې څومره فرق او تغیر راوستی. *دا خوبت پرستي وه چې په دغه ډول سره جزیرةُ العرب ته راغله.*

(c) ketabton.com: The Digital Library


# يهوديت او نصرانيت وجزيرة العرب ته څنګه داخل سوه؟

اوس به هغه بيان درته وسي چي يهوديت او نصرانيت کله او څنګه جزيرةُ العرب ته داخل سوه؟ او بيا د فارس د مجوسيانو يا فارسيانو حکومت څنګه يمن ته راغلی؟

تاسي ته معلومه ده کله چي سرورکائنات محمّد مصطفٰی ﷺ په رسالت سره مبعوث کړل سو هغه وخت فارسيانو پر يمن حکومت کاوه او د نجران خلک نصارا وه، د يمن ځيني حصې يهوديان او ځيني حصې يې نصارا وه، دغه مختلف أديان جزيرةُ العرب ته څنګه داخل سوه؟ په عربو کي خو دغه شيان نه وه موجود په پخوا کي ټول عرب مُوَحّدِين او د ابراهيم عليه السلام پر دين وه، نو دغه نور اديان څنګه دلته راغله؟

هغه داسي: چي د شام څخه ځيني يهود د يوه ظالم پاچا د ظلم په سبب يثرِب ته (چي په وروسته کي يې نوم مدينه منوره سو) او خيبر ته را مهاجر سول او دغه ځايونه يې د ځان وطن وګرځول، دا خو يثرِب او خيبر ته د يهودو راتګ سو مګر هلته په يمن کي هم ډير يهود موجود وه نو دغه يهود کله او څنګه دلته يمن ته راغله؟

قصه ډيره اوږده ده مګر ډېر تاريخ پوهان يې د ربيع ابن نصر په قصه سره شروع کوي هغه داسي: ربيع ابن نصر چي د يمن پاچا ۋده يو خوب وليدی چي دغه بيان او قصه د تاريخ ټولو علماوو لکه (طبري) (ابن کثير) (ابن الأثير) او تقريباً ټولو مؤرخينو ذکر کړې ده، کله چي پاچا خوب وليدی (*څرنګه چي په هغه وختو کي نجوم ګران، جادوګران او کاهنان پر خلکو او د خلکو پر عقايدو او عباداتو مسلط وه، دا ولي مسلط وه؟ ځکه کوم وخت چي شرک او کفر په عالَم کي نشر سول او الهي دين پټ او ورک سو نو خيالات او اوهام په خلکو کي نشر سوه، په دغه سبب جادو او جادوګران، منجمين او کوډګران دا اعتبار خاوندان سوه او د خلکو د رجوع ځای دوی وګرځېدل*)

کله چي د يمن پاچا خوب وليدی، نو يې د خوب د ترجمې دپاره جادوګرانو او منجمينو ته رجوع وکړه او د هغو څخه يې مرسته و غوښتل، قصه ډيره اوږده ده مقصد دا چي هغو ورته و ويل: ستا د خوب معنٰی دا ده: چي د حبشيانو حکومت به يمن ونيسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاچا وویل: دا به څه وخت پيښه سي؟ دوی ويل: شپېته يا اويا کاله وروسته.

پاچا د دغه خوب په ليدلو او د هغه په ترجمه پر خپلو اولادو او لمسيانو وبېرېدی چي ټوله اولاده به مي د حبشيانو په لاس وژل کيږي؟ نو يې إراده وکړه چي خپله کورنۍ او اولاده د يمن څخه عراق ته نقل کړي او په عراق کي يې (حِيره) چي د نجف او کوفې په منځ کي د يوې منطقې او ښار نوم دی د خپلي اولادې او کورنۍ د سکونت دپاره اختيار کړل او دئ بيا هم په يمن کی د يمن پاچا پاته دی.

*(نعمان بن منذر د هغه وختو د عراق مشهوره پاچا د دغه ربيع ابن نصر د اولادې څخه دی، ځکه ربيع بن نصر خپله کورنۍ هلته نقل کړه او بيا د ده د اولادې پاچهي تر ډېره وخته هلته پاته وه، دغه نعمان بن منذر بيا په وروسته کي زموږ په قصه کي ذکر کيږي په ياد يې ولری).*

څه موده وروسته دغه ربيع بن نصر پاچا مړ سو او د ده زوی د ده پرځای کښېنستی او د يمن پاچهي د ده په اولاده کي پاته سوه ترڅو د ده په اولاده کي يو نفر د تَبان بن اسعد په نامه سره پاچا سو او تُبّع ورته ويل کېدل.

*اصلاً تُبّع د يمن د پاچهانو لقب ؤ يعني: په تيرو وختو کي د يمن هر پاچا ته تُبّع ويل کېده، د روم هر پاچا ته قيصر ويل کېده، د فارس هر پاچا ته کسرٰی ويل کېده، د حبشې و هر پاچا ته نجاشي ويل کېده او د مصر و هر پاچا ته فرعون ويل کېده، نو د هر ځای پاچا خاص لقب درلودی.*

دغه د يمن پاچا تَبّانِ اسعد چي لقب يې تُبّع ؤ د يمن د مشهورو پاچهانو څخه دی ډېر لوئ شان او شوکت يې درلود ټول يمن د ده تر لاس لاندي ؤ، غني او سخي سړئ ؤ ده به همېشه سفرونه کول د يوه ځای څخه به بل ځای ته د سياحت او تجارت دپاره تلی، يو وخت د يمن څخه شام ته رهي سو په لار کي يې خپل زوی په يثرِب کي (چي اوس مدينه منوره ورته ويل کيږي) د تجارت د ځينو کارو دپاره پرېښاوه او دئ شام ته ولاړی، خو دلته د تُبّع د زوی او اهلِ يثرِب په منځ کي داسي اختلاف پېښ سو چي تر جنګه سره ورسېدل او په دغه جنګ کي د تُبّع زوی و وژل سو، کله چي تُبّع ته دا خبر ورسېدی د شام څخه بيرته را وګرځېدی غواړي چي يوازي د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی قاتلانو ته نه بلکه ټول اهل یثرب ته جزاء ورکړي.

دلته نو د اهلِ یمن او اهلِ یثرب په منځ کي جنګ شروع سو او دغه جنګ ډېره موده دوام وکړی، مګر تُبّع په دې جنګ کي يو ډير عجيب کار وليدی، هغه دا چي د يثرِب خلکو به د ورځي د دوی سره جنګ کاوه خو کله چي به مابنام سو او دوه لښکره به سره ليري او جلا سوه د يثرِب خلکو به دوی ته خواړه او سترخانونه را ليږل او د ميلمنو پر ډول به يې د دوی عزت کاوه، تُبّع ډير په تعجب کي ؤ چي دا څنګه خلک دي؟ د خپلو دښمنانو عزت کوي او خواړه ورکوي څوک دومره سخا او کرم لري؟ مګر بيا هم تُبّع نيت کړی ؤ چي د خپل زوی بدله او انتقام واخلي.

جنګ دغسي دوام درلود ترڅو چي د يثرِب د يهودو د علماوو څخه دوه نفره تُبّع ته ورغلل او غوښتل يې چي د ده سره خبري وکړي، ده هم اجازه ورکړه او سره کښېنستل، يهودو ورته وويل: ته څه إراده لرې چي دومره جنګ کوې؟ تُبّع وويل: غواړم چي دغه يثرِب خراب کړم، دوی ويل: دا کار نه سي کولای قسم په الله چي الله جل جلاله به د مخه تر دې چي ته يثرِب خراب کړې تا هلاک کړي، تُبّع وويل: دا څنګه درته معلومه سوه؟ دوی وويل: دا وطن د نبي د هجرت ځای دی دغه ځای ته به را تلونکی نبي هجرت را کوي دا ښار نه خرابيږي او نه يې خرابولای سې، تُبّع پوښتنه وکړه چي تاسي په دې حال څه خبر ياست؟ د يهودو عالمانو وويل: دا زموږ په تورات کي راغلي دي.

دا دي تاسي ته معلومه وي چي د رسول الله ﷺ يوه علامه نه بلکه ډيري علامې د يهودو سره په تورات کي ليکلي او موجودي وې او د رسول الله ﷺ د وخت ټول يهود پوهېدل چي دا هغه وعده سوی نبي دی مګر د عناد او عداوت، حسد او غرور، ځاني ګټو او نفسي غوښتنو په سبب يې ايمان نه راوړی.

کله چي دغه د يهودو عالمانو تُبّع ته دغه خالات بيان کړل او تُبّع تر اوسه تورات نه پېژني نو يې د تورات په باره کي پوښتني ځني شروع کړې، يهودو هم د خپل دين، توحيد او تورات په باره کي پوره معلومات ورکړل او ټول شيان يې په تفصيل سره ورته بيان کړل، دغه ديني او کتابي خبري د تُبّع پر طبيعت ښې او برابري ولګېدې څکه يهوديت الٰهي او آسماني دين ؤ، تُبّع هم د يهوديت دين اختيار کړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library


يهودي سو، د يثرِب خرابول يې پرېښودل او مخ پر يمن رهي سو.

## د اول وار دپاره د کعبې شريفې پوښول

تُبّع رهي سو خو د ده په لار کي مکې مکرمې ته نژدې يوه قبيله وه چي د هُذَيل قبيله نومېدل د دغي قبيلې او د قريشو په منځ کي پخوانۍ دښمني پرته وه ځو واره يې جنګونه سره کړي وه او دغه رنګه د دغي قبيلې د يمن خلک هم نه وه خوښ، دغه د هُذيل قبيلې فکر وکړی چي داسي يوه حيله او چم جوړ کړي چي دواړو هغو قومو ته چي د دوی نه ده ور سره جوړه ضرر او تاوان و رسوي او په جنګ يې سره اخته کړي، نو د هذيل د قبيلې مشران تُبّع ته ورغلل او ورته ويې ويل: غواړې چي د جواهِراتو، سرو او سپينو زرو او خزانو خاوند سې؟ تُبّع ويل: هو، ځوک دی چي جواهرات او خزانې يې نه وي خوښ؟ دوی و ويل: په دغه کلي کي يوه خونه ده چي خلک يې احترام او عزت کوي او دغه خونه په جواهراتو او سرو زرو ډکه ده.

حقيقتاً هم په کعبه شريفه کي هرڅه پراته وه خلکو د کعبې شريفې د احترام په سبب خزانې پکښې ښخولې، د تُبّع هم طمعه پيدا سوه او لښکر يې د جنګ دپاره تيار کړی غواړي چي پر مکه مکرمه حمله وکړي کعبه شريفه ونړوي او خزانې يې واخلي، هغه دوه نفره د يثرِب د يهودو عالمان هم په دې سفر کي د تُبّع ملګري وه ځکه ده ورته ويلي وه چي تاسي زما سره يمن ته ولاړ سی او زما قوم ته يهوديت او د يهوديت احکام وروښوی، دغو عالمانو چي د جنګ دپاره د لښکر تياري وليدل تُبّع ته ورغله او ويل: څه کوې؟ او د څه إراده دي کړې ده؟ تُبّع و ويل: غواړم چي پر دغه کلي حمله وکړم او هغه شيان چي په دغه خونه کي پراته دي هغه واخلم دوی ورته و ويل: په والله د هذيل د قبيلې بل غرض او مقصد نسته بېله ستا د مرګ او هلاکت څخه تُبّع و ويل: ځنګه؟ عالمانو ورته و ويل: دا بيت الله دی د ټولي مځکي پر مخ د الله جل جلاله بل کور او حرم نسته بيله دغه کوره، دغه قبيلې چم درته جوړ کړی دی او غواړي چي تا و وژني، تُبّع و ويل: ځنګه وکړم؟ عالمانو و ويل: عزت يې وکړه او طواف پر وکړه، تُبّع ويل: تاسي يې ولي عزت نه کوی؟ او ولي طواف نه پرکوی؟ دوی و ويل: موږ يې عزت کوو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

طواف به مو هم پر کړی وای خو دغه د مکې خلکو کعبه شریفه په بتانو ډکه کړې ده خرنګه چې موږ موحّدين او عالمان يو موږ ته دا نه ښايي چې پر بتانو طواف وکړو. تُبّع د دوی خبره ومنل او مکې مکرمې ته ورغلی د کعبې شريفې عزت او احترام يې وکړی طواف يې پر وکړی بيا نو هلته بيده سو خوب يې وليدی چې په کعبه شريفه پوښ اغوندي، تر دغه وخته کعبه شريفه لڅه وه چا پوښ نه ؤ په اغوستی تُبّع چې را ويښ سو امر يې وکړی چې د کعبې شريفې دپاره د يوه ښه پشمي ټوکره څخه پوښ جوړ کړی، پوښ جوړ کړل سو او په کعبه شريفه وانوستل سو خو تُبّع بيا بل خوب وليدی چې کعبې شريفې ته تر هغه اول پوښ بل ښه او بهتر پوښ ورکوي نو يې امر وکړی چې د ملائل د ټوکره څخه پوښ ور جوړ کړی چې دغه (ملائل) د هغه وخت د ټوکرانو هغه تر ټولو ښه او نازک ټوکر ؤ، دا نو د کعبې شريفې هغه اول پوښ ؤ او تُبّع اول سړئ دی چې په کعبه شريفه يې پوښ اغوستی دئ چې د دغه تُبّع نوم تَبّان بن اسعد دی او د يمن پاچا ؤ.

بيا نو عربو هر کال کعبې شريفې ته پوښ ورکاوه او نوی پوښ به يې پر هغه زاړه پوښ سر بېره په اغوستی او دغه طريقه چې پوښ سر بيره پر پوښ د عبدالمطلب تر زمانې پوري پاته وه، کله چې عربو ته دا فکر او احساس پيدا سو چې ښايي د کعبې شريفې بناء د دغو پوښو د دروند والي په سبب ونړېږي نو يې زاړه پوښونه ټول څني ايسته کړل او هر کال زوړ پوښ څني کاږي نوی پوښ په اغوندي.

*دا د کعبې شريفې د پوښ په باره کې معلومات وه چې څنګه او ولې شروع سو او د اول وار دپاره چا شروع کړی.*

کله چې تَبان ابن اسعد بيرته يمن ته ورسېدی خپل قوم يې يهوديت ته دعوت کړی، هغو د يهوديت څخه انکار وکړی ويل: خپل دين څنګه پرېږدو؟

هغه وخت د يمن خلکو او د تُبّع قوم مستقل دين نه درلودی د نورو عبادتو تر څنګ يې د اور عبادت هم کاوه، اور يې مقدس باله د اور يې عزت او احترام کاوه، حتّی اور د دوی قاضي هم ؤ، څنګه يې قاضي ؤ؟ هغه داسې: چې دوی د اور يوه خونه درلودل چې په هغه خونه کې به همېشه اور بل ؤ، که به يو وخت د دوی په منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library


کي دعوه، اختلاف او خصومت پيښ سو نو به مدعي او مدعي عليه يعني: د دعوې دواړه طرفه دغه د اور خوني ته ورغلل او د خوني دروازې ته به ودرېدل، مخکي خو به دروازه بنده وه خو هغه د اور مؤظف مامور يا خادم به د اور دروازه په يوه وار پر را خلاصه کړه اور به له خپله زوره په يوه وار دباندي را و وتی او اول چي به د هر چا پر طرف ورغلی هغه ظالم ؤ او حق د هغه دوهم نفر پرطرف ؤ، دغه طريقه کاهنانو او جادوګرانو دوی ته اېښې وه.

اوس چي د پاچا او د ده د قوم په منځ کي د دين په سبب اختلاف پيدا سو نو يې و ويل: په اور سره به فيصله وکړو، د دغي فيصلې دپاره د يهودو عالمان چي د دعوې يو طرف بلل کېدل تورات په لاس کي ونيوی او وايي يې، د يمن کاهنان او نجوم ګران چي د دعوې بل طرف وه ټول د اور د خوني دروازې ته ودرېدل، د اور خادم دروازه پر را خلاصه کړه، اور د کاهنانو پر طرف ورغلی او دوی ځني وځغستل يا وتښتېدل، قوم يې ورته و ويل: ولي تښتې؟ دا حکم او قانون دی بايد ودرېږی کاهنان هم مجبوره سوه بيرته راغله، د اور خادم بيا دروازه پر خلاصه کړه دوهم وار بيا د اور لمبه د کاهنانو پر طرف ورغله کاهنانو دا وار ځانونه ټينګ کړه او ورته ودرېدل مګر اور د چا مراعت نه کوي کاهنان يې پاک وسوځل، د اهلِ يمن يا د يمن د خلکو په دين او عقېده کي دا معلومه سوه چي يهوديان پر حق دي، نو دغه د اور په فيصله د يمن خلکو يهوديت قبول کړی او ټول يهوديان سوه.

*دا هغه معلومات وه چي يمن ته يهوديت څنګه داخل سو.*

خير وختونه دي تېرېږي څو تُبّع د يمن پاچا تبّان بن اسعد مړ سو او پسله ده څخه د ده زوی حَسّان پاچا سو، حسّان خپله پاچهي نوره هم لويه او پراخه کړه، عزت او عظمت يې زيات سو، ډېر زيات غرور او خود خواهي پکښي پيدا سوه نو يې يو ډېر لوی لښکر جوړ کړی او ويل: قسم په الله که عرب يا عجم پرېږدم چي تر خپل حکم لاندي يې را نه ولم د ټولي مځکي پاچهي نيسم (دا ټول غرور ؤ) کله چي کبر او غرور پر انسان مسلط او غالبه سي نو عقل د لاسه ورکړي او هر څه يې هېر سي.

*نن ورځ هم په جهان کي د حسّان پر قسِم دغسي مغروره او بې باکه حاکمان سته*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*او پیدا کیږي چې د ټولې ځمکې پاچهي او حکمراني غواړي، د خپل بېځایه مقصد د حاصلولو دپاره انسانان وژني او ښارونه په خرابو بدلوي، خو پر دې کار نه څوک کامیابه سوي دي او نه کامیابه کېدلای سي فقط د تاریخ بد نامي یې په نصیب سي.*

حَسّان هم د دغي جملې څخه یو نفر ؤ، متکبر او مغروره حَسّان پوښتنه وکړه چې په جهان کي لویه پاچهي د چا ده؟ خلکو ورته و ویل: د فارس پاچهي هغه چې کسریٰ یې پاچا دی تر ټولو لویه پاچهي ده، فارس تر ټولو لوی او قوي ملک دی، حَسّان و ویل: اول په هغه شروع کوم، لښکر یې ښه منظم او آماده کړی چې د هغه وخت د ځمکي پر مخ تر ټولو لویه پاچهي ونیسي.

لښکر یې رهي کړی غواړي چې د هغه وخت د ځمکي پر مخ پر هغه لوی دولت چې فارس دی حمله وکړي، خیر اوس پاچا او د ده لښکر د دغه لوی جنګ دپاره رهي دي خو په لار کي د ده له دغه کاره د قومو او قبیلو مشران نا راضه او نا خوښه دي ځکه هغه پوهېدل چې څوک نه سي کولای چې پر فارسیانو حمله وکړي، موږ څوک یو چې پر فارس حمله کوو او نیسو یې؟ مګر د پاچا څخه هم بیربړي څه نه سي ورته ویلای، دوی پوهېدل چې پاچا مغروره دی او د چا خبره هم نه مني.

څرنګه چې حَسّان ته هم د خلکو نه رضائیت ور معلومېدی نو یې ډیر احتیاط کاوه هیڅوک حتّیٰ د قومو مشران، وزیران او د لښکر مشران د ده مجلس ته بېله تلابښي کولو نه سي ور تلای، خو یواځنۍ نفر چې د پاچا مجلس ته بېله تلابښیه ورځي هغه د پاچا ورور دی چې عَمرو بن تبان نومېدی، د قوم مشرانو سره و ویل: په دې باره کي به د عَمرو سره خبري وکړو، د قوم مشران را ټول سوه او عَمرو ته ورغله ویل: یا عَمرو! د حَسّان څخه مو خلاص کړه او تر هغه وروسته ته زموږ پاچا یې، عَمرو هم د پاچهۍ په طمعه سو او د دوی سره یې د خپل ورور د وژلو نقشه جوړه کړه، مګر په دغه مشرانو کي یو نفر چې ذُو رُعَین نومېدی دغه فیصله نه کړه قبوله او عَمرو ته یې و ویل: یا عَمرو! داسي څوک نسته چې خپل ورور دې یې وژلی وي او غمجن سوی، پښېمانه سوی دي نه وي نو خپل ورور مه وژنه، مګر عَمرو چې د پاچهۍ په طمعه ؤ د ورور پر وژلو یې ټینګار کاوه، دلته نو ذُو رُعَین یو لیک ولیکی او عَمرو ته ورغلی ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه لیک ستا سره د امانت پر قسم کښېږده کله چې ما در څخه وغوښتی بیا یې را وباسه، عَمرو هم دا قبوله کړه او خط یې د ځان سره کښېښاوه، تر دې وروسته عَمرو د خپل ورور حَسّان د وژلو دپاره د حَسّان مجلس ته په داسې حال کې ورغلی چې یو خنجر یې پټ ور سره وړی ؤ او په مناسب وخت کې یې خپل ورور و وژی، که څه هم د عَمرو د نورو مشرانو په ملګرتیا په وسه پوره وه چې حَسّان بیله وژلو د حکمه څخه لیرې کړې مګر د پاچهۍ په طمعه یې ورور و وژی.

د ورور تر وژلو وروسته عَمرو ډېر پښیمانه او ډېر غمجن سو حتّیٰ خوب یې رد سو بیدبدلای نه سي، د دغې پرېشانۍ او بیدارخوابۍ په سبب عَمرو مریض او ناجوړه سو، طبیبان، منجّمین او کوډګران یې ورته راوستل هغو ټولو په اتفاق سره دا ورته و ویل: چې ستا ناروغي ستا د ورور د وژلو په سبب ده هرڅوک چې دغسې کار وکړي دغه حالت ورته پېښېږي، عَمرو و ویل: ښه د دغې مریضۍ او ناروغۍ چاره څه ده؟

طبیبانو او نجوم ګرانو و ویل: ستا د ناروغۍ دپاره بل علاج نسته بیله دې څخه چې ټول هغه کسان و وژنې کوم چې ستا د ورور د وژلو مشوره یې درکړې ده، عَمرو و ویل: دغه کار کوم، نو ټول هغه کسان چې د ورور د وژلو مشوره یې ورکړې وه او په دغه دسیسه کې یې د ده ملګرتیا کړې وه و وژل، اوس د ذو رُعین د وژلو نوبت راغلی ذو رعین و ویل: د مخه تر دې چې ما و وژنې ما ستا سره یو لیک د امانت پر قسم ایښی ؤ هغه را وباسه، عَمرو هم هغه لیک را وایستی، ذو رعین و ویل خلاص یې کړه او و وې وایه، پاچا لیک خلاص کړی چې په هغه کې فقط دغه دوه بیته لیکل سوي وه:

الا مَن یَشتَرِی سَـــهَراً بنومِـــه سعیدٌ من یبیـــتُ قریـــرَ عَینِـــه

فَامّا حِمیَرَ غَـــدَرت وخانـــت فَمعذِرةً اِلهـــي لـــذي رُعـــینِ

یعني: څوک په خپل خوب سره ویښوالی رانیسي، خوښ او خوشاله، خوشبخته او بختور هغه څوک دی چې شپه یې په رضائیت او اطمینان سره تیرېږي، هو اهلِ یمن خو غدر او خیانت در سره وکړی مګر در په یاد یې کړه چې ما درته و ویل: خپل ورور مه وژنه.

یعني: خوشبختي دا نه ده چې پیسې یا لوړه ګرسۍ و لرې، ته یو ډېر لوی پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library


یې مګر بیدېدلای نه سې بلکه خوشبخته هغه څوک دی چې د هیڅ ظلم او تجاوز مسئوله نه وي، د هیچا آزارول او قتلول یې پرغاړه نه وي پاته، د شپې آرام او په فارغه زړه بیده سي. پاچا و ویل: هو صحي ده او ذو رُعین ته یې عفوه وکړل نو دغه دوه بیته د ذو رعین د خلاصېدلو او ژوندي پاته کېدلو سبب وګرځیدل.

کله چې عَمرو مړ سو د ربیع بن نصر د اولادې پر حکم او پاچهي اختلاف پیدا سو، د دغه اختلاف په سبب د یمن خلک پر ډلو وېشل سوه او د اهلِ یمن په منځ کې جنګونه او وژني شروع سوي، په دغه سیاسي بُحران کې چې ټول یمن یې نیولی ؤ یو سړئ پیدا سو چې نوم یې (لِخُنَیعه) ؤ، دغه لِخُنَیعه لار نیوونکی غل او مجرم ؤ د غلو ډله یې درلودل، د دغه سیاسي بحران په حالت کې یې وکولای سوای چې خپله ډله نوره هم ډېره کړي او ځان ته یې نور ملګري هم پیدا کړل تر داسي اندازې چې د هغو څخه یې پوره لښکر جوړ کړی او د یمن پر پایتخت یې حمله وکړه د پاچا قصر یې ونیوی او د یمن حاکم وګرځېدی.

دغه لِخُنَیعه فاجر، خبیث او ظالم سړئ ؤ ټول خلک ځني خپه او ناراضه وه قصه یې اوږده ده خو په مختصر ډول سره د تبان اسعد د زامنو څخه یو نفر چې نوم یې ذونواس ؤ وکولای سوای چې لِخُنَیعه ته ځان ور ورسوي او په خنجر سره یې و وژني، خو د بل وار دپاره د تُبّع تبّان اسعد زوی پر یمن مسلط سو او د یمن پاچهي بیرته د تُبّع اولادې په لاس ورغله، په دغه وختو کې چې ذو نواس د یمن پاچا ؤ په نجران کې یوه کوچنۍ واقعه پېښه سوه مګر دغه کوچنۍ واقعه د نورو ډېرو لویو واقعو چې په وروسته کې یې په جزیرةُ العرب کې پیښي کړې سبب وګرځېدل، هغه واقعه دا سي وه:

یو نصراني سړئ چې د نصاراوو عابد او راهب ؤ، موحِّد او د خالص توحید عقیده یې درلودل، تاسي پوهېږی چې ترنن ورځې پوري په نصاراوو کې موحِّدین موجود دي او سته؟

*د نصارا وو په اقسامو کې یوه ډله ده چې موحِّدین دي، یعني: یوازې الله جل جلاله په الوهیت او ربوبیت سره مني او عیسی علیه السلام د الله عزوجل رسول او پیغمبر بولي او دغې ډلې ته (یُونِیتَیرِینز) یعني: مُوحّدِین ویل کیږي او دغه ډله ترنن ورځې پوري سته مګر*

(c) ketabton.com: The Digital Library


شمېر يې لږ دی.

دغه نصراني چې موحِّد، راهب او عابد سړئ ؤ او نوم يې (فِيمِيُون) ؤ د شام څخه افريقا ته د توحيد د دعوت دپاره تلی، پرلاري د غلو يوه ډله پر پېښه سوه فيميون يې بندي ونيوی او بيا يې د نجران پر يوه سړي خرڅ کړی، د نجران سړي فِيمِيُون د خپل ځان سره جزيرةُ العرب او نجران ته بوتلی، اوس نو فِيمِيُون د دغه نجراني سره مريئ دی د ورځي به يې د خپل بادار خدمت کاوه د شپې او په فارغه وختو کي به يې د خپل رب عبادت کاوه، همېشه به په عبادت مشغوله ؤ مقصد دا چي نصراني فِيميون ډير عابد او د کرامتو خاوند ؤ.

يوه شپه يې بادار د ده کوټې ته د يوه کار دپاره ورغلی وې ليده چي د مريي پر شا وخوا يې نُوراو روښنايي ده، پوښتنه يې ځني وکړه چي ته څوک يې او ستا دين څه شي دی؟ فيميون هم د نصرانيت دين ورته تشريح کړی، سړئ په شک او تردّد کي سو د خپل مريي سره يې د دين په باره کي بحث او نقاش شروع کړی.

په دغه وختو کي د نجران خلکو د يوې درختي يا وُني عبادت کاوه دغه وَنَه يې د ځان إله او رب بلل، دلته نو فيميون د بحث په جريان کي خپل مالک ته و ويل: که زما رب! ستا رب هلاک کړي ته زما د رب عبادت کوې؟

نجراني و ويل: هو! والله که داسي پيښه سي چي ستا رب! زما رب مغلوبه او هلاک کړي معلومه خبره ده چي زه هم ستا د رب عبادت کوم، فيميون و ويل: ته د نجران خلک را ټول کړه بيا به و وينې چي زما رب ستا په رب څه کوي، سړي هم د نجران ټول خلک په يوه معينه ورځ و وُني ته را وبلل، خلک هم په هغه ورځ د وُني سره راټول سوه، فيميون کښېنستی عبادت او دعاء کوي خپل رب عزوجل ته يې ډېره دعاء وکړه ترڅو چي الله جل جلاله د ده دعاء قبوله کړه او د آسمان څخه پر دغه ونه (تندره) ټکه يا (صاعقه) را ولوېدل او ونه ټوله وسوځل سوه، د نجران د خلکو رب او إله نيست او نابود سو نو خود د نجران ټول خلک و نصرانيت ته داخل سوه.

*دا هغه معلومات وه چي جزيرةُ العرب ته نصرانيت څنګه داخل سو.*

په وروسته کي دغه د نجران د نصاراوو څخه يو نفر چي نوم يې عبدالله بن ثامر ؤ

(c) Ketabton.com: The Digital Library

د خپلو څو نفرو ملګرو سره چې ځيني يې راهبان يا عابدان هم وه د نجران ښځه يمن ته هجرت وکړی، هلته په يمن کي اوسېدل او په پټه يې خپل عبادت کاوه، ځکه د يمن د خلکو ښخه چې يهود وه بېرېدل.

## نصرانيت او د حبشې حکم څنګه يمن ته داخل سوه؟

اوس به هغه حالات درته بيان سي چې نصرانيت او د حبشيانو حکم و يمن ته څنګه راغله، دا خو مي درته وويل چې عبدالله بن ثامر او د ده څو ملګري چې نصارا وه او ځيني يې راهبان هم وه د نجران ښخه يمن ته هجرت وکړی او هلته په يمن کي يې د نصرانيت عبادت په پټه سره کاوه ځکه د يمن د يهودو ښخه بېرېدل.

د دغه وخت د يمن پاچا چې ذونواس نومېدی او يهودي ؤ ساحران يې درلودل او د هغو ښخه يې د پاچهۍ په کارو کي کار اخيستی، پاچا د هغه مشر ساحر په غوښتنه او مشوره دا قصد وکړی چې يوه ځوان هلک ته سحر ور زده کړي چې لوی ساحر ځني جوړ سي او په وروسته کي د هغه ښخه د پاچهۍ په کارو کي کار واخلي، ځکه په سپين ږيرو مرګ پسې دی.

*سبحان الله! خلکو ساحران تربيه کول نه يې غوښتل چې دغه ډله ورکه سي خو مونږ علماء ورثة الانبياء وژنو.*

خير پاچا يو ډير پوه او هوښيار هلک پيدا کړی او د هغه دپاره يې هغه لوی ساحر چې د ساحرانو مشر ؤ د استاذ په صفت اختيار کړی چې دغه هلک به د هغه استاذ ښخه سحر زده کوي، څرنګه چې دغه ساحر د غره په يوه لوړه حصه کي اوسېدی.

*[اول خو يمن په خپله لوړ او کښته، غرونه او تپې دی او بل ساحرانو او عابدانو همېشه د خپلي استوګني دپاره غر خوښاوه ځکه هلته به دوی د خپل کار يا عبادت دپاره فارغه وه]*

نو دغه هلک به هره ورځ و هغه لوی ساحر ته چې په غره کي اوسېدی د سحر د زده کولو دپاره ورتلی خو په دغه غره او د هلک په لار کي د نصاراوو د راهبانو ښخه يو راهب هغه چې د نجران ښخه راغلي وه اوسېدی، هلک چې به تېرېدی د دغه راهب

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبادت به یې لیدی د هغه قرائت، تسبیحات او تمتمه به یې اورېدل او خوند یې ورکاوه نو به ورته کښېنستی او غوږ به یې ورته ونیوی ترڅو د راهب شخصه یې د نصرانیت زده کړه او تعلیم شروع کړل، ساحر ته به هم د سحر د زده کولو دپاره ورتلی خو د سحر او الٰہي دین ډېر فرق ؤ د سحر شخصه یې بد راغله او هیڅ یې نه غوښتل چي سحر زده کړي نو سحر او ساحر یې دواړه پرېښوول، و ساحر ته نه ورتلی فقط هغه راهب ته به ورتلی او د مسیحیت دین یې زده کاوه، ساحر و پاچا ذونواس ته خبر ورکړی چي هلک نه راځي، پاچا د هلک شخصه پوښتنه وکړل چي ولي ساحر ته نه ورځې؟ هلک حال ځني پټ کړی، پاچا چي نور معلومات پسي وکړه معلومه سوه چي هلک راهب ته ورځي، پاچا اول د راهب شخصه را شروع کړه هغه یې مجبوره کړی چي خپل دین نصرانیت پرېږدي مگر راهب انکار وکړی، پاچا راهب و وژی او بیا یې د هلک په موضوع شروع وکړه غوښتل یې چي دغه هلک ساحر سي مگر هلک سحر نه غواړي، پاچا چي هر څه کوښښ وکړی چي هلک د سحر و زده کولو ته تشویق کړي هلک نه منل، وهل، تکلیفونه او عذابونه یې ورکړل بیا هم هلک د سحر زده کول نه غواړي، پاچا امر وکړی چي هلک و وژنی، د پاچا عمله غواړي چي د پاچا په امر هلک په دریاب کي غرق کړي، هلک یې د عسکرو سره په یوه کښتۍ کي کښېناوه او ویل: بو یې زی د دریاب په منځ کي یې غرق کړی، کښتۍ چي یې بنه د دریاب منځ ته ور تېره کړل یو طوفاني باد راغلی او کښتۍ یې واړول، عسکر ټول غرق سوه خو هلک پاته سو.

پاچا امر وکړی چي هلک بوزی د غره شخصه یې را واچوی او ویې وژنی، ټول خلک ورته ګوري اوله واقعه یې هم ولیدل او اوس هم د هلک د وژلو انتظار کوي، هلک یې غره ته وخېژاوه اوس عسکر غواړي چي هلک لاندي وغورځوي په دغه وخت کي یوه ډېره شدیده زلزله وسوه ټول عسکر لاندي ولوېده او مړه سوه مگر هلک د غره پر سر پاته سو، د یمن پاچا چي د هلک د وژلو دپاره هره لار جوړه کړي خو د لوی پاچا رب عزّوجلّ د هلک د وژلو إراده نه وه، ذونواس په هیڅ طریقه سره هلک نه سي وژلای، په آخر کي هلک ورته و ویل: ته ما بېله یوې طریقې په ډول سره نه سې وژلای

(c) kitabton.com: The Digital Library

پاچا و ویل: هغه طریقه څنګه ده؟ هلک و ویل: د یمن ټول خلک راټول کړه او ما په یوه ونه پوري وتړه بیا به زما غشي او لیندۍ واخلې او وبه وایې: بسم الله د هلک د رب په إراده او وبه مي وُلې، نو زه وژل کېږم، پاچا خوشاله سو او اوس غواړي چي هلک په دغه طریقه سره و وژني، پاچا د یمن خلک را ټول کړه هلک یې په ونه پوري وتړی او د ده غشي او لیندۍ یې واخیستل ویل: بسم الله د هلک د رب په إراده، غشي پر هلک ومبنتی او هلک شهید سو، دلته په خلکو کي غوغا او نارې شروع سوې، ویل په ټولو عسکرو، په ټول قوت او جبروت یې د هلک د رب بې إرادې هلک نه سوای وژلای نو ښکه چي هلک پر حقه لار او صحي دین دی، په دغه ورځ او د دغي واقعې په لیدلو سره د یمن د خلکو څخه شل زره نفره نصرانیت ته داخل سوه.

تاسي دغه صالح هلک ته وګوری چي د دین د دعوت دپاره یې خپل ځان قرباني کړی د خلکو د دعوت او بلني په سبب یې مرګ او شهادت قبول کړه او نتیجه یې هم هغه سوه چي شل زره نفره په یوه وار نصرانیت ته داخل سوه، پاچا ذونواس ته ډیر قهر ورغلی چي څنګه او ولي دغه خلک د ده بې اجازې نصرانیت ته داخلیږي او د ده د امر مخالفت کوي؟ پاچا غوښتل چي یو هلک د نصرانیت څخه منعه کړي او اوس شل زره نفره په یوه وار نصارا سوه! پاچا امر وکړی چي په مځکه کي یو لوی خندق یا کَنده وکِنی د بوټو او لرګو یې ډکه کړی او اور ور واچوی، دا کارونه وسوه، پاچا هغو خلکو ته چي نصرانیت ته اوښتي وه و ویل: یا به دغه د نصرانیت دین پرېږدی یا مو دغه اور ته ور اچوم، خلکو د دین د پرېښوولو څخه انکار وکړی او پاچا هم یو یو اور ته ور اچوي.

*دغه قصه مشهوره قصه ده د رسول الله ﷺ په احادیثو کي راغلې ده په بخاري شریف او د احادیثو په نورو کتابو کي موجوده ده خو دلته په اختصار سره بیان سوه.*

رسول الله ﷺ فرمایي: په دغو نفرو کي چي اورته اچول کېدل یوه ښځه وه چي یو کوچنئ د تي زوی یې په غیږ کي ؤ، ښځه و بېرېدل چي څنګه خپل ځان او دغه کوچنئ زوی په اور کي واچوم؟ نو یې پښه ونیول په تردد کي ده چي آیا ځان او دغه کوچنئ اور ته ور واچوم که یا؟ هغه د غیږي کوچني زوی یې خبري وکړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ويل: موري! مه بېرېږه ځان دغه اور ته ورواچوه ته جنت ته رهي يې.

دا د الله جل جلاله د قدرت معجزه وه چي د تي کوچنئ خبري کوي او مور يې هم ماشوم په غيږ کښي ځان او کوچنئ اور ته ورغورځول.

سبحان الله! خلکو د حق دين د اختيارولو دپاره او په آخرت کي د دوږخ له اوره د نجات او خلاصون دپاره په دنيا کي ځانونه او اولادونه اور ته ور غورځول، موږ ته څه ښېښه ده چي د نفساني خواهشاتو د پوره کولو دپاره د څو ورځو فاني ژوند د راحت دپاره يا د موقتي کُرسۍ دپاره حق دين او حق ويل پرېږدو او د دوږخ اور په خپله خوښه اختيارووو؟

دغه لوی مشهد او عظيمه قصه الله جل جلاله په قرآن کريم کي هم ذکر کړې ده او فرمايي:

﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ ۝١ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ ۝٢ وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ ۝٣ قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ ۝٤ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ ۝٥ إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُودٞ ۝٦ وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ ۝٧ وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ۝٨ ﴾.

دغه شل زره نفره چي نصرانيت ته داخل سوي وه ټول دغه اور ته واچول سوه فقط يو نفر چي نوم يې (دَوس ذو ثعلبه) وُ په تېښته او ځغستا ځان خلاص کړی، بيا هم د ذونواس لښکر په پسې وُ چي ويې نيسي خو ذو ثعلبه يوې رېګني ځمکي ته ننوتی او لښکر نه سوای کولای چي پسي ور ورسېږي، نو ذو ثعلبه د دوی څخه خلاص سو.

اوس ذوثعلبه ناست دی او د ځان سره فکر وهي چي څه وکړي؟ او څنګه د خپل وژل سوي او سوځل سوي قوم د وژلو بدله واخلي؟

فکر وهي چي څوک کولای سي چي په دغه موضوع کي زما مرسته وکړي؟ په دغه وخت کي يې د روم پاچا قيصر ور په ياد سو چي هغه هم نصراني دی او تر کسرٰی وروسته لوی پاچا او د قدرت خاوند دی نو د روم پر طرف قيصر ته ور رهي سو څو ځان يې قيصر ته ورساوه او د هغه دربار ته ورغلی، قيصر ته يې وويل: زموږ مرسته او کومک وکړه د يمن پاچا ذونواس دغسي ظلم را سره وکړی شل زره نصارا يې په يوه ورځ په اور وسوځل او ووژل.

(c) kitabtoh.com: The Digital Library

قیصر چې متعصب نصراني ؤ په دغه کار ډیر خواشینی او ناراضه سو او ډیر قهر ورغلی مګر یمن ډیر لیري دی، نو یې ذوثعلبه ته و ویل: څرنګه چې یمن زموږ څخه ډیر لیري دی نو زه به یو بل حل در پیدا کړم، هغه دا چې زه به د حبشې پر پاچا نجاشي لیک درکړم او نفر به در سره ولېږم چې هغه دې مرسته وکړي ځکه یو خو حبشه و یمن ته نژدې ده او بل نجاشي هم نصراني دی، د ذوثعلبه هم خوښه سوه، نو قیصر د ذوثعلبه په ملګرتیا خط او نفر و نجاشي ته ولېږل چې د ذوثعلبه مرسته وکړه، خط و نجاشي ته ورسېدی نجاشي هم ډیر په قهر سو چې ذونواس د ده د دین خلک وژلي دي.

نجاشي ډیر لوی لښکر چې شمېر یې اویا زرو نفرو ته رسېدی جوړ کړی چې په هغه وختو کې جزیرةُ العرب په دغه اندازه لښکر هیڅ نه ؤ لیدلی، د دې لښکر عمومي مشر او آمر (ارياط) نومېدی خو په لښکر کې یو بل نفر هم سته چې د یوې فرقې مشر دی او نوم یې (أبرَهَه) دی. (زموږ په قصه کې دغه ابرهه مهم سړئ دی په یاد یې لری)

لښکر تیار سو او د کښتیو په واسطه په بحر احمر کې تیر سوه څو یمن ته ورسېدل هلته د اهل یمن او د حبشې د لښکر په منځ کې ډیر لوی جنګ شروع سو.

د یمن د لښکر مشر ذونواس دی او د حبشې د لښکر مشر ارياط دی، د جنګ په آخر کې د یمن پاچا ماته وخوړل مګر تسلیم نه سو او وتښتېدی خو حبشیان په پسې وه نه یې پرېږدي، ذونواس د یوې کښتۍ په واسطه دریاب ته داخل سو خو حبشیان یې هلته هم نه پسې پرېږدي څو ذونواس په خپله ځان و وژی او ویل نه غواړم چې د دښمنانو په لاس و وژل سم، اوس نو حبشیان پر یمن مسلط سوه او د یمن حاکم ارياط دی چې نجاشي ته تابع دی او د هغه نائب بلل کیږي، ارياط ډیر ظالم سړئ ؤ یوازي دا نه چې پر اهل یمن یې ظلم کاوه بلکه پر هغو حبشیانو یې هم ظلم کاوه چې د ده ملګري وه، تر څو خلک د ده له ظلمه ډیر په تنګ او ناراضه سوه.

ابرهه چې د ارياط په لښکر کې یو فرقه مشر ؤ په دې ظلم او ستم نه ؤ راضي نو یې دننه په لښکر کې د ارياط مخالف نفر پیدا کړل او په اتفاق سره یې د ارياط پر ضد د جنګ اعلان وکړی، اوس د حبشې لښکر پر دوو حصو تقسیم سو، د ارياط او ابرهه لښکرو د جنګ دپاره ځانونه تیار کړه او دوه لښکره مخ په مخ د جنګ دپاره تیار

(c) ketabton.com: The Digital Library


او آماده ولاړ دي، په دغه وخت کي ابرهه و ارياط ته نفر ور ولېږی او ویل راسه چي اول زه او ته خبري سره وکړو يو وار به دواړه بيله اسلحې سره کښېنو او بحث به سره وکړو ښايي بېله جنګه بله د حل لار پيدا کړو، ارياط هم دغه بلنه قبوله کړه نو دوی دواړه د خبرو دپاره بېله اسلحې سره کښېنستل، ابرهه ورته و ويل: زموږ لښکر ټول حبشيان دي که دغه خپل لښکر سره و جنګوو حبش مړه کيږي او د يمن حکم بيرته د يمن خلکو ته پاته کيږي او دا جنګ د حبشې په ضرر تماميږي.

ارياط و ويل: مقصد دي څه دی؟ أبرهه و ويل: فقط زه او ته به جنګ سره وکړو هر يو چي غالبه سو حکم د هغه دی او هغه د يمن حاکم پاته کيږي، ارياط و ويل: خوښه مي ده، نو د لښکرو پرځای دوی دوو يو په يو جنګ سره شروع کړی، اوله حمله يا د توري واری ارياط وکړی هغه خطا سو خو فقط د ابرهه پر پزه توره و مښتل او د ابرهه پزه يې ورپرې کړه نو ځکه ابرهه ته (أبرهۀ أشرم) ويل کيږي، ځکه په عربي کي (أشرَم) هغه چا ته ويل کيږي چي پزه يې پرې سوې وي، خو دوهمه حمله يا د توري واری ابرهه وکړی ارياط يې په توره و واهه او ويې وژی، نو د يمن حاکميت ابرهه ته ورپاته سو او ابرهه د يمن پاچا سو، دا خبر د حبشې پاچا نجاشي ته ورسېدی، نجاشي ډير په قهر او غضب سو او ويل: حبشيان څنګه په خپل منځ کي سره جنګيږي او ابرهه څنګه دا جرئت کاوه چي ارياط و وژني؟ نجاشي قسم يادکړی چي د خپله لښکره سره به يمن ته ځم او د يمن خاوره به تر پښو لاندي کوم او د ابرهه سر به ور خروم.

*[په هغه وختو کي د سر خروول د ذِلت علامه وه نو ځکه د مړيانو سرونه به يې همېشه ورخرول]*

دا خبر ابرهه ته ورسېدی چي نجاشي په قهر سوی دی او زما د ذِلت دپاره يې قسم ياد کړی دی، څرنګه چي د ابرهه د نجاشي سره هيڅ په وسه نه وه پوره نو يې خپل سر په خپله وخراوه او د يمن څه خاوره يې په يوه کڅوړه کي واچول، دغه خاوره او خپل وربښتان يې د يوه ليک سره د نفر په لاس نجاشي ته ولېږل، په ليک کي يې نجاشي ته ليکلي وه: زه ستا تابع او ستا خادم يم ما چي ارياط و وژی د هغه سبب دا ؤ چي هغه ظالم ؤ ډير ظلم يې کاوه او خلک يې ستا څخه متنفره يا بېزاره کول، ستا د قسم د آداء کولو دپاره ما خپل سر وخراوه دغه زما وربښتان دي او دغه هم د يمن

(c) ketabton.com: The Digital Library


خاوره ده د دې دپاره يې تر پښو لاندې کړه چې ستا قسم آداء سي. نجاشي هم راضي سو او ويل: ځرنګه چې دئ زما تابع دی او زما له امره مخالفت نه کوي نو جنګ ولې ورسره کوم، د نجاشي سره خبره پای ته ورسېدل.

مګر ابرهه چې د نجاشي نائب بلل کېږي د هغه په زړه کې بيا هم د نجاشي بيره ورسره وه، د دې دپاره چې خپله وفاء او تابع والی نور هم نجاشي ته وښيي نو يې امر وکړی چې په يمن کې يوه ډېره لويه او ښايسته کنيسه جوړه کړی (کنيسه) د نصاراوو د عبادت ځای دی، ځرنګه چې نجاشي نصراني او عابد سړئ ؤ ابرهه ويل په دې کار به نور هم نجاشي خوښ او راضي کړم، کله چې کنيسه جوړه سوه نو يې د (قُلَيس) نوم پر کښېښاوه او نجاشي ته يې حال ولېږی چې په يمن کې مي يوه ډېره لويه کنيسه ستا د عزت او خوشالولو دپاره جوړه کړل او ټول عرب به په دې سره امر او مکلف کړم چې دغي کنيسې ته د عبادت کولو دپاره راځي، بيا يې شا وخوا د عربو قبيلو ته نفر ولېږل چې عرب هم د کنيسې په جوړېدلو خبر او مکلف کړي چې د حج او عبادت دپاره قُلَيس ته راځي.

په دې جمله کې د ده نفر د عربو يوې قبيلې ته ورغله چې هلته (أهلِ نَسِئ) اوسېدل، اهلِ نَسِئ څوک وه؟ اود دې نامه څخه مقصد څه ؤ؟

د نسئ د لفظ ترجمه تاخير او ځنډول دي، نَسَأَ شَئ، يعني: يو شئ يې وځنډاوه، الله ﷻ د سورةُ التوبه په (۳۷) نمبر آيات کې فرمايي:

﴿إِنَّمَا ٱلنَّسِىٓءُ زِيَادَةٌ فِى ٱلْكُفْرِ﴾

يعني: بېشکه چې دغه ځنډول نور هم په کفر کې زياتوالی دی.

نو دغه اهلِ نسیء څوک وه؟ او څه وظيفه يې درلودل؟ د دغو خلکو پېژندل څه نورو معلوماتو ته ضرورت لري هغه داسي: کله چې الله ﷻ ټول عرب د ابراهيم عليه السلام پر دين کړل او په ټولو عربو کې بيله د ابراهيم عليه السلام له دينه بل دين نه ؤموجود ټول عرب موحدين وه، خو بيا کرار کرار د دين عالمان کمېدل او د دين صحي او اصلي احکام هم ور سره پټېدل په دين کې نور شيان د دين په نامه داخلېدل، خو بيا هم پر دې سر بيره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابراهیم علیه السلام د دین څه آثار پاته وه، لکه حج، عمره او څه نور شیان چي د هغې جملې څخه یو هم د حرامو میاشتو عزت ؤ، الله جل جلاله فرمایي:

﴿إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ مِنْهَآ أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ﴾ [التوبه:٣٦]

یعني: بېشکه چي د الله جل جلاله په نیز په هغه ورځ چي مځکه او آسمانونه یې پیدا کړي دي د میاشتو شمېر د الله جل جلاله په کتاب کي دوولس میاشتي دی چي د هغو دوولسو میاشتو څخه څلور میاشتي حرامي دي.

الله جل جلاله د خلکو د حساب دپاره دوولس میاشتي پیدا کړي دي چي د هغو میاشتو څخه الله جل جلاله د ابراهیم علیه السلام په دین کي په څلورو میاشتو کي جنګ او تجاوز منعه کړی دی، دغو څلورو میاشتو ته (أَشْهُرِ حُرُم) ویل کیږي، یعني: حرامي میاشتي او هغه څلور حرامي میاشتي دا دي: رجب، ذوالقعده، ذوالحِجّه او محرم، اوس نو په دغو څلورو میاشتو کي جنګ او تجاوز حرام او ناروا ؤ.

مګر د خپله ځانه څخه دفاع جائزه او روا وه او په عربو کي چي په دغو حرامو میاشتو کي هر جنګ پېښ سوی دی هغه جنګ ته یې (حربُ الفُجار) وایه یعني: د فاجرانو جنګ، ځکه دا کار د الله جل جلاله پر حُرُماتو تجاوز ؤ او دا کار فاجرانو کاوه.

د فُجار جنګونه پنځه دي یعني: عربو په خپل ټول تاریخ کي په دغو حرامو میاشتو کي پنځه واره جنګونه کړي دي او د فُجار په پنځم جنګ کي رسول الله ﷺ هم ګډون یا اشتراک کړی دی، دغه جنګ هغه وخت پېښ سو چي د هوازن قبیلې په حرامو میاشتو کي پر مکه مکرمه حمله وکړه او قریشو د خپل ځان د دفاع دپاره د هغو سره جنګ کاوه او دفاع خو بیا جائزه او روا وه، څرنګه چي دغه جنګ د رسول الله ﷺ تر بعثت او رسالت د مخه ؤ او رسول الله ﷺ هم په عمر کم ؤ نو په دغه جنګ کي یې خپلو اکاګانو ته غشي ورکول په حدیث شریف کي را غلي دي چي رسول الله ﷺ فرمایي: ما د فجار په ورځ د هوازن په حمله کي خپلو اکاګانو ته غشي ورکول، نو عربو د ابراهیم علیه السلام د دین سره موافق په دغو څلورو میاشتو کي جنګ او تجاوز نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو له بله طرفه د عربو ژوند او کاروبار پر جنګو ولاړ ؤ که جنګ نه وای خواره نه وه، یوې قبیلې به پر بلې قبیلې حمله کول د هغو خوراکي مواد، سامانونه او حیوانات به یې په غنیمت اخیستل او بندیان به یې ځني نیول چې هغه بندیان به یې بیا د مریانو پر قسم خرڅول، دغه جنګونه د دوی ژوند، تجارت او کاروبار ؤ، د ځنګله قانون ؤ، هر زورور به کمزوره خوړی، بیله جنګه د دوی ژوند په لوږه او مسکنت تېرېدی، څرنګه چې په دیني لحاظ په دغو څلورو میاشتو کې پر دوی جنګ منعه ؤ او دوی بېله جنګه ژوند نه سوای کولای، خو بیا هم رجب یوازي یوه میاشت وه دوی د جنګ څخه صبر کولای سوای مګر هغه نوري درې میاشتي ذوالقعده، ذوالحِجّه او محرم سره پسې وې دغه درې میاشتي جنګ نه کول دوی ته سخت تمامېدل، نو یې د دغه مشکل د حل دپاره یوه لاروسنجول چې هغه د حل لار داسي وه:

عربو یوه قبیله وټاکل او هغې قبیلې ته یې د میاشتو د اړولو واک او اختیار ورکړی.

یعني: دغه قبیله کولای سي چې یوه میاشت په بله میاشت سره واړوي، مثلاً دوی کولای سوای چې د محرم میاشت چې جنګ پکښې حرام دی صفره و بولي نو جنګ جائز او روا سو او بیا د صفري میاشت د محرم میاشت و بولي یعني: حلاله میاشت و حرامي ته واړوي او بیا د هغې پر ځای هغه حلاله میاشت حرامه کړي، خو دغه د میاشتو اړول یوازي (أهل نَسِئ) کولای سوای دا د بل چا کار نه ؤ.

*(اوس چې موا هل نسئ وپېژندل، بیرته به هغه خپلي قصې ته را سو)*

کله چې د ابرهه امر دغه د اهل نسئ قبیلې ته ورغلی چې تاسي به د حج او عبادت دپاره (قُلیس) ته راځی، یعني: هغه کنیسې ته چې ابرهه په یمن کي جوړه کړې ده، دغې قبیلې سره وویل: ابرهه قُلَیس جوړ کړی او غواړي چې دغه قُلَیس د کعبې شریفي په عوض د خلکو د حج او عبادت ځای وګرځوي خو دا کار هیڅ امکان نه لري.

نو د دغه اهل نسئ څخه یو نفر یمن ته ولاړ او قُلَیس ته ور ننوتی په هر قسم سره چې ؤ یو فارغه وخت یې پیدا کړی او په قُلَیس کي یې انساني ضرورت آداء کړی یعني: ګنګي او مرداري یې پکښې وکړه، په هغه مرداري سره یې د قُلَیس ټول دېوالونه ولړل ټوله کنیسه یې مرداره کړه او سړئ وتښتېدی، دا خبر شا وخوا نشر سو او په خپله ابرهه

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلی دغه ښایسته منظره یې ولیدل، ډیر قهر ورغلی او ویل: دا کاز چا کړی دی؟ خلکو و ویل: دا کار د اهل نسئ د قبیلې څخه یوه نفر کړی دی چې دغه قبیله د کعبې شریفې ډیر عزت کوي، ابرهه چې کعبه یې نه پېژندل ویل: کعبه څه شي ده؟ خلکو ویل: کعبه یوه د ډېرو ·خونه ده چې ټول عرب او نور خلک د حج دپاره ورته راځي، د یمن خلکو د کعبې شریفې په باره کې ابرهه ته نور معلومات هم ورکړل، ابرهه ته دا معلومه سوه چې ترڅو کعبه شریفه موجوده وي د ده قُلَیس ته څوک د حج او عبادت دپاره نه ورځي نو یې د کعبې شریفې د نړولو نیت او إراده وکړه چې باید کعبه و نړوم.

## د فیل کال او د اصحابُ الفیل قصه

اوس نو ابرهه د کعبې شریفې د نړولو دپاره د یوه لوی لښکر د جوړولو امر وکړی وایې غواړم چې کعبه ونړوم، لښکر تیار او آماده سو ابرهه د لښکره سره له یمنه د مکې مکرمې پر طرف رهي سو او خپل زوی یې د ځان نایب او د یمن حاکم پرېښاوه، ابرهه په خپل لښکر کې پر نورو فیلانو سر بېره یو بل ډېر لوی فیل هم را رهي کړی چې پر دغه فیل یې د محمود نوم ایښی ؤ او دا یې إراده وه چې په دغه فیل سره به کعبه نړوم، په لار کې د عربو قبیلې د ابرهه مخ ته را ووتلې غواړې چې دئ له دغه کاره څخه منعه کړي ځکه د عربو قبیلې د ده تر حکم نه وې لاندي.

د عربو د مشرانو څخه یوه مشر چې نوم یې ذُونَفر ؤ یو لښکر جوړ کړی او د جنګ دپاره د ابرهه مخ ته ور ووتی خو د ذونفر لښکر دومره نه ؤ چې د ابرهه سره وجنګېږي نو خود د ذو نفر قبیلې ماته وخوړل او په خپله ذونفر اسیر ونیول سو نو ابرهه دئ هم د خپله لښکره سره را رهي کړی، بیا په لار کې د خُثْعُم قبیلې ته دا خبر ورسېدی چې ابرهه غواړي کعبه شریفه ونړوي، دوی هُم لښکر جوړ کړی چې مشر یې نُفَیل ابن حبیب ؤ خو تر لږ جنګ وروسته دې قبیلې هم ماته وخوړل او نفیل هم اسیر ونیول سو خیر ابرهه طائف ته ورسیدی، اهلِ طائف چې د ثقیف قبیله وه د ابرهه څخه وبېرېدل چې خلک به مو ووژل سي او طائف به په خرابه بدل کړل سي، نو یې ابرهه ته نفر ور ولېږل چې موږ په دې موضوع کې هیڅ دخل نه لرو که ته کعبه نړوې وېې

(c) kitabton.com: The Digital Library

نړوه او د دې دپاره چې دا درته ثابته سي چې موږ بې طرفه يو او ستا په کار کار نه لرو يو نفر به هم در سره ملګرى کړو چې تا ته لار در ښيي او کعبې ته دي ورسوي، د طائف د خلکو څخه يو نفر چې نوم يې ذُو رُغال ؤ په خپله خوښه د ابرهه ملګرى سو چې د ده لښکر ته لار ور وښيي، *نور عرب کله په دې راضي وه او هيڅوک داسي نه وه چې د کعبې شريفي د نړوونکو سره دي کومک وکړي يا دي لار ور وښيي خو دا يو لوى خيانت ؤ چې ذو رغال وکړ*، ذو رغال د ابرهه سره ملګرى سو او د مکې مکرمې لار ور ښيي کله چې دوى مکې مکرمې ته نژدې سوه ذو رُغال په لار کي مړ سو او هلته د مکې مکرمې او طائف په منځ کي ښخ کړل سو او د ده قبر د عربو دپاره د ډبرو ويشتلو ځاى وګرځېدى يعني: هر وخت چې به عرب دلته تېرېدل د ده قبر به يې په ډبرو ويشتى او ويل به يې: دا د خپل قوم خائن دى. حتّٰى که عرب تر اوسه پوري د يوه خائن دپاره مثال را وړي نو وايي: فلانئ ذو رغال دى چې خپل قوم ته يې خيانت وکړى او د ښمن ته يې لار ور ښوول.

*زه نه پوهېږم چې نن ورځ به په موږ مسلمانانو کي هم د ذُورُغال پر قسم داسي خائنان موجود وي چې د څو پيسو د ګټلو دپاره دي دښمن ته د مسلمانانو د وژلو او نيولو لاري چاري ور ښيي که يا؟ که دغسي کسان پيدا سي يواځي دا نه چې قبر يې بايد په ډبرو ويشتل سي بلکه ....نوره سزاء به يې تاسي ته پرېږدم.*

ابرهه د مکې مکرمې اطرافو ته ورسېدى او هلته د مکې مکرمې سارېانانو د قريشو اوښان څارل، د ابرهه لښکر دغه اوښان واخيستل او خپل د لښکر ځاى ته يې بوتله، په دغو اوښانو کي (۲۰۰) اوښان د عبدالمطلب وه چې دغه عبدالمطلب زموږ د پيغمبر حضرت محمّد مصطفٰی ﷺ نيکه دى او په دغه وخت کي عبدالمطلب د مکې مکرمې عمومي مشر او رئيس ؤ.

دغه اخبار مکې مکرمې ته ورسېدل چې ابرهه راغلى دى غواړي چې کعبه شريفه ونړوي او د قريشو اوښان يې هم بوتله، عبدالمطلب ورغلى غواړي چې د ابرهه سره و ويني خو ابرهه انکار وکړى ويل: نه غواړم چې په عربو کي د هيچا سره و وينم، عبدالمطلب و هغه ذو نفر ته ورغلى چې د ابرهه سره بندي ؤ او ويل: کومه داسي لار

(c) ketabton.com: The Digital Library


او طريقه نسته چي زه د دغه پاچا سره و وينم؟ ذو نفر و ويل: لکه څرنګه چي ته مي وينې زه بندي يم خو بيا هم (اُنيس) چي د دغه محمود نومي فيل فيلوان او تربيه کونکی دی او ابرهه ته نژدې دی د هغه سره پيژنم.

*هغه وخت فيلوانانو د پاچهانو په حضور دومره قدر او عزت درلود لکه نن ورځ چي د جنګي طيارو د ښه او تکړه پيلوټ قدر سته.*

نو ذونفر و ويل: زما او د دغه (اُنيس) فيلوان په لار کي څه تعلق او شناخت پيدا سوی دی که دي خوښه وي زه به دغه انيس ته و وايم چي ابرهه ته دي ور ولي، د عبدالمطلب خوښه سوه او ويل: ښه دی ته ورته و وايه، ذو نفر و اُنيس ته و ويل: دغه عبدالمطلب د قريشو د قبيلې لوی سردار او رئيس دی که دي د خبرو د پاره د ابرهه سره مخامخ کړی احسان به دي وي، اُنيس يې واسطه سو او ابرهه هم عبدالمطلب ته د ملاقات اجازه ورکړه، عبدالمطلب چي ډير ښايسته او د دبدبې خاوند ؤ هيبت يې درلود هر چا چي به وليدی بېله اختياره د ده عزت ځني کېدی، نو کله چي دئ د ابرهه مجلس ته ور داخل سو د اولو ليدلو سره د ابرهه په زړه کي د عبدالمطلب عزت او هيبت پيدا سو، لوړ او عزتمن شخص ورته معلوم سو.

ابرهه پر يوه خاص او مخصوص تخت کښېنستی، کله چي يې عبدالمطلب وليدی زړه يې ورته و ويل چي عبدالمطلب هم پر دغه تخت ور سره کښېنوي خو د نورو حبشيانو څخه وشرمېدی نو ابرهه د خپل تخت څخه را کښته سو او د عبدالمطلب د عزت د پاره د ده سره پر ځمکه کښېنستی او پوښتنه يې ځني وکړه چي څنګه او څه لره راغلی يې؟ عبدالمطلب و ويل: ستا عسکرو زموږ اوښان بېولي دي او په هغه جمله کي زما هم (۲۰۰) اوښان سته زه راغلم چي دغه زموږ حيوانات بيرته موږ ته راکړې، د دې خبري په اورېدلو سره ابرهه ته ډير قهر ورغلی او ويل: کله چي ما ته وليدې ته مي تر دې لوی او لوړ وبللې، ستا عزت مي وکړی حتّی ستا د عزت د پاره پر ځمکه در سره کښېنستم خو تا چي خبري شروع کړې فقط اوښان غواړې، ما دا فکر کاوه چي ته به د کعبې په باره کي زما سره خبري وکړې، هغه کعبه چي ته او ستا قوم يې عبادت کوی او معززه يې بولی د الله جل جلاله کور يې بولی، ما فکر کاوه چي ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library


و وایې: دغه کعبه مه نړوه مګر ته وایې زموږ اوښان راکړه، عبدالمطلب ورته و ویل: یا ابرهه! زه د اوښانو خاوند یم دغه د دنیا مال دی چې زه حکم پر لرم او تصرف پکښې کوم مګر کعبه! هغه خپل ځان ته مالک لري او خپل مالک یې ساتي، د کعبې په باره کې ته پوه سه اوکار دي که دا د الله جل جلاله کور ؤ هغه الله جل جلاله یې ساتي، ابرهه ته دا خبره عجبه ښکاره سوه او امر یې وکړی چې د قریشو اوښان بیرته ورکړی، بیا یې عبدالمطلب ته و ویل: موږ د دې دپاره نه یو راغلي چې تا او ستا قوم ته آزار درو رسوو زموږ کار د دغې خونې سره دی غواړو چې دغه خونه و نړوو که ته د ځان او ستا د قوم دپاره نجات غواړې نو تاسي د مکې څخه ووزی چې زموږ له آزاره وساتل سی، کله چې موږ دغه خونه ونړول بیا تاسي بیر ته مکې ته راسی.

خیر عبدالمطلب د ابرهه څخه رهي سو او مکې مکرمې ته ولاړی، د مکې مکرمې خلک یې امر کړل چې د مکې څخه ووزي، د مکې مکرمې خلک هم د ښار او خپلو کورو څخه و وتل او پر هغه نژدې غرو ورته کښېنستل د هغه ځای څخه ورته ګوري چې څه پیښیږي، د مکې مکرمې ښار د خلکو څخه خالي پاته سو.

په هغه معینه ورځ چې ابرهه تاکلې وه د ابرهه په امر د حبشیانو لښکر سره د فیله د کعبې شریفې پر طرف حرکت وکړی غواړي چې کعبه شریفه ونړوي، فیل سره د لښکره د کعبې شریفې طرف ته رهي دي او د مکې مکرمې خلک د غرو څخه ورته ګوري، کله چې فیل او لښکر تر مزدلفې تیرسوه دلته یوه شېله ده چې (وادي مُحسِّر) ورته ویل کیږي او تر دغه شېلې وروسته منٰی شروع کیږي، یعني: دغه شېله د منٰی او مزدلفې په منځ کې واقع ده، فیل او لښکر چې دغې شېلې ته ورسیدل په دغه وخت کې هغه نُفَیل ابن حبیب چې د ابرهه سره بندي ؤ ځان خلاص کړی او په ځغستا د فیل و طرف ته ورغلی د فیل په غوږ وځړېدی او پر ناري یې کړه: پرېوزه محموده! پرېوزه، دا د الله جل جلاله کور دی، فیل هم زنګون کت کړی او پرېوتی، دلته نو د ابرهه نفر راغله چې فیل ولاړ کې خو فیل چې هر څه ولاړوي نه ولاړیږي، کشوي یې، وهي یې فیل حرکت نه کوي، څو هغه اُنیس فیلوان راغلی د فیل مخ یې بل طرف ته واړاوه فیل ولاړ سو او ځي، فیل چپه او راسته طرف ته، د شا پرطرف، هر طرف ته چې دوی وغواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځي، خو مخ پر کعبه شريفه هيڅ حرکت نه کوي، خلک په تعجب کي دي دوی په فيل مشغوله دي مخ يې يوه طرف او بل طرف ته اړوي چي هلته ليري په آسمان کي د مرغانو سېلونه را ښکاره سول چي د آسمان مخ يې ټول نيولی دی، خلک په تعجب کي سوه چي دا څه شي دي؟ کله چي را نژدې سوه معلوم سول چي دا کوچني کوچني مرغان دي، د غه مرغان دومره کوچني وه لکه چوغکي، لوی او غټ مرغان نه دي او د هر مرغه سره درې د ختو څخه جوړي سوي لوټي يا ډبري ور سره دي دغه ډبري دومره کوچني کوچني وې لکه د نخودو يا ماشو دانې، هر مرغه يوه ډبره په مشوکه کي نيولې ده او دوې ډبري يې په پښو کي نيولي دي، کله چي دغه مرغان د ابرهه لښکر ته را ورسېدل نو يې د ډبرو په ويشتلو شروع وکړه، د دغه لښکر څخه چي هر يوه ته ډبره ور ورسېږي سبحان الله! لکه يو ميکروبي مرض چي يې بدن ته داخل سي غوښي يې توييږي، ويليږي او لويږي ترڅو چي مړ به سو، د ابرهه د لښکر افراد يو په بل پسي وژل کېده، ابرهه چي دا حال وليدی په ځغستا سو غواړي چي وتښتي مګر د الٰهي لښکر څخه خلاصيدل نسته الله جل جلاله پر ده يو مرض مسلطه کړی چي د هغه په واسطه يې د لاس ګوتي و لوېدې او ډنګرېدی، يمن ته په داسي حال کي ورسېدی چي دومره سوی ؤ لکه يو چيچڼ او هلته مړ او هلاک سو.

دغه واقعه د محرم په مياشت کي پېښه سوه چي د رسول الله ﷺ تر مبارک ميلاد پنځوس ورځي د مخه وه، دغه د فيل او ابابيل واقعه الله جل جلاله په قرآن کريم کي مور ته بيان کړې ده او په سورة الفيل کي فرمايي:

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ ۝١ أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ۝٢ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ۝٣ تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ۝٤ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ۝٥﴾.

دغه واقعه د الله جل جلاله د قدرت معجزه وه، د دې واقعې خبر د هغه وخت په متمدينو او لويو مملکتو کي لکه فارس او روم نشر سو ځکه ابرهه د نجاشي له طرفه په يمن کي والي او نائب ؤ او حبشې بيا د روم د حکومت سره ټينګ او نژدې تعلقات درلودل، نو روم د حبشې د لاري په دغه واقعه خبر سو او فارس چي هميشه به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د روم او د هغه د حلفاوو يا متعاهدينو خبرونه د جاسوسۍ د لارې لاس ته راوړل او هغو ته به هميشه په خزه کې ناست وه دا خبر ور و رسېدی او د هغه وخت د مځکې د مخ هغه لوی او پرمخ تللي مملکتونه هم دغه دوه وه، نو دغه واقعې ټول عالَم ځان ته متوجه کړی او عالَم يې د بيت الله په شرف پوه او خبر کړی، عالَم ته دا معلومه سوه چې الله جل جلاله دغه ځای مقدس کړی دی لکه دا چې د دغه ځای شخه د رسول الله ﷺ د راتگ مقدمه وه او عالَم ته يې دا ور ښکاره کړه که د دغه ځای د أهله شخه يو څوک د نبوت دعوه وکړي دا به عيناً هغه شئ وي چې د دغي واقعې تقاضاء او غوښتنه ده او د دغه ځای شخه به د نبي را وتل د دغه پټ حِکمت تفسير او بيان وي چې الله جل جلاله ولي د مکې مکرمې مشرکان د هغه وخت پر اهل ايمان چې نصارا وه په داسي طريقه کاميابه کړل چې د اسبابو تر قدرت لوړه خبره وه، تاسي پوهېږی چې د ابرهه لښکر څو نفره ؤ؟ شپېته زره نفره د ابرهه د لښکر تعداد او شمېر ؤ او دغه ټول لښکر په کوچنيو مرغانو هلاک کړل سو، نو خود دغه واقعه د دغه ځای شخه د نبي د را وتلو مقدمه وه.

سبحان الله! الله جل جلاله د کعبې شريفي ظاهري بِناء د ابرهه د لښکره په کوچنيو مرغانو وساتل او د کعبې شريفي باطني او روحاني عظمت يې د رسول الله ﷺ په مبارک ميلاد سره ورو ساتی چې د بت پرستانو د بتانو شخه يې پاکه او خالي کړه.

*د دغي واقعې په ليدلو سره نور هم د عربو په زړو کي د کعبې شريفي عزت زيات سو.*

څرنګه چې عربو جنتري نه درلودل نو دوی به د يوې لويي واقعې په پېښېدلو سره خپل تاريخونه پيژندل يا بيانول، مثلاً داسي به ويل کېده: فلانئ کار د حربُ الفُجار د مخه يا وروسته پيښ سو، د غسي يوه لويه واقعه چې به د دوی په ژوند کي پيښه سوې وه په هغه سره به يې نور تاريخونه ښوول، نو دغه د فيل واقعه هم د عربو دپاره تاريخ وګرځېدی، مثلاً داسي به يې ويل: فلانئ کار د فيل تر کال يو کال د مخه وسو، يافلانئ کار د فيل تر کال دوه کاله وروسته وسو.

اصلاً د دنيا ټول تاريخونه همداسي دي چې په يوه لويه واقعه سره شروع کيږي، مثلاً ميلادي تاريخ د حضرت عيسى عليه السلام په زېږېدلو سره شروع سوی دی او زموږ مسلمانانو تاريخ هغه چې هجري تاريخ ورته ويل کيږي د رسول الله ﷺ په هجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره شروع سوې دی، زموږ په وطن کي به هم داسي ويل کېدل: فلانۍ کال د وباء په کال وسو، يا فلانۍ کال د بلوا په کال وسو، د سکاوې په کال يا د ترکي په کال داسي وسوه، مقصد دا چي د فيل کال هم د عربو دپاره تاريخ وګرځېدی او رسول اللهﷺ د فيل په کال او د فيل تر واقعې پنځوس ورځي وروسته دنيا ته تشريف راوړی دی.

## يمن ته د فارس يا فارسيانو داخلېدل:

اوس خو ابرهه مړ سو مګر بيا هم د يمن حکم د حبشيانو په لاس کي ؤ ځکه ابرهه خپل زوی چي (يَکسوم) نومېدی په يمن کي د خپل ځان پر ځای پاچا ګرځولی ؤ او تر يکسوم وروسته د ابرهه بل زوی چي (مسروق) نومېدی د يمن پاچا سو، د مسروق په وختو کي يو نفر پيدا سو چي عرب او د يمن د اصلي اوسېدونکو څخه ؤ، يوازي دا نه چي عرب ؤ بلکه د ربيعه بن نصر د اولادې څخه هم ؤ، هغه ربيعه چي زموږ په قصه کي د يمن اول پاچا ؤ هغه چي خوب يې ليدلی ؤ، د دغه يمني عرب نوم (سيف بن ذي يزن) ؤ، دغه سيف چي اصلي عرب او د پخواني پاچا ربيعه د کورنۍ څخه هم ؤ هميشه به په فکر کي ؤ چي د يمن د اصلي عربو حکم د حبشيانو په لاس کي دی او دغه تجاوز ګرانو څنګه د عربو مځکه په خپل قدرت کي را وستلې ده او د ده د نيکه ګانو پاچهي يې غصب کړې ده، نو يې نيت وکړی چي داسي يو کار وکړي چي د حبشيانو څخه بيرته پاچهي واخلي مګر د ده په خپله د حبشيانو سره هيڅ په وسه نه وه پوره نو همېشه به په فکر کي ؤ او په چاره پسي ګرځېدی څو دې نتيجې ته ورسيدی چي دئ بايد د روم د پاچا قيصر څخه مرسته وغواړي، د دغه مقصد دپاره شام ته ولاړی او د قيصر ملاقات ته ورغلی، قيصر چي د ده غوښتنه واوريدل د ده يې سوړ هر کلئ وکړی او د مرستي وعده يې نه ور سره وکړه، دا ځکه چي قيصر نصراني ؤ او حبشيان هم نصارا وه، قيصر نه غوښتل چي د نصاراوو په مقابل کي د اهل يمن مرسته وکړي، کله چي سيف وليدل چي د قيصر څخه يې شئ لاس ته نه ورځي نو يې فکر وکړی چي د يوه عرب پاچا څخه مرسته وغواړي، په دغه وخت کي يې نعمان بن منذر چي په عراق کي قدرتمن پاچا ؤ ور په ياد سو او دغه پاچا هم د (ربيع بن نصر)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اولادې څخه ؤ، هغه ربیع بن نصر چې خوب یې لیدلی ؤ او خپله پاچهي او اولاده یې د یمن څخه عراق ته نقل کړي وه، د سیف بن ذي یزن په فکر کي دغه نعمان بن منذر پاچا ور وګرځېدی او د روم څخه مخ پر عراق رهي سو څو نعمان بن منذر پاچا ته ورغلی او هغه ته یې خپل او د یمن حال و وایه، نعمان بن منذر ورته و ویل: د حبشیانو حکومت ډېر قوي دی او زما زور نه په رسیږي خو که ستا خوښه وي د حَل یوه بله لار سته، هغه دا چې زه په کال کي یو وار کسریٰ ته چې د فارس پاچا دی ورځم او د هغه په حضور مشرفه کیږم که ستا خوښه وي ته دلې زما سره و اوسېږه کله چې زما د تګ وخت راغلی ته به هم زما سره د کسریٰ ملاقات ته ولاړ سې او هلته به کسریٰ ته خپله غوښتنه او شکایت بیان کړې، سیف بن ذي یزن چې بله لار او چاره نه درلودل ویل: ښه دی، سیف دلته په حِیره کي د نعمان بن منذر پاچا سره تر هغو پاته سو چې د هغه د تګ وخت راغلی، بیانو نعمان بن منذر سیف هم د ځان ملګری کړی او فارس ته د کسریٰ د ملاقات دپاره ولاړل.

*اوس به د کسریٰ د دربار او مجلس شکل او عادت درته بیان سي:*

کله چې به خلک هغه صالون ته ور داخل سوه کوم چې د کسریٰ ملاقات پکښې کېدی خلک به په ولاړي ولاړ وه نه به کښېنستل او پر هغه ځای چې کسریٰ کښېنستی د هغه مخ ته پرده وه او هغه ځای نسبت دغه نور صالون ته لوړ ؤ، پر دغه لوړ ځای بیا د کسریٰ تخت چې په رنګارنګ جواهراتو ښایسته سوی ؤ پروت ؤ او پر دغه تخت سر بېره د سرو زرو د پاچهي تاج ځړېدی چې دغه تاج تر اندازې زیات لوی ؤ، ویل کیږي چې د دغه تاج وزن (۹۰) کېلو ؤ او دغه تاج د سرو زرو په ځنځیرانو لوړ په چت پوري تړل سوی ؤ، تر دغه تاج لاندي د کسریٰ تخت او د ناستي ځای ؤ، د ده او د خلکو په منځ کي پرده وه دغه پرده به تر هغو نه ایسته کېدل ترڅو چې کسریٰ به راغلی او پر هغه خپل خاص د جواهراتو پر تخت به کښېنستی هغه تاج چې د درون والي په سبب ده پر سر نه سوای ایښوولای نو به دئ تر هغه لاندي کښېنستی او هغه به یې پر سر برابر کړی بیا به هغه پرده چې د کسریٰ او د خلکو په منځ کي وه کش کړل سوه خلک خو به په ولاړي ولاړ وه، خو کله چې به خلکو د کسریٰ دغه عجیب او

(c) ketabton.com: The Digital Library


شانداره شکل او منظر ولیدی نو به ټولو سجده ورته وکړه (العیاذ بالله) حتیٰ پاچهانو هم سجده ورته کول، دغه نعمان بن منذر هم سجده ورته کول.

اوس نو سیف بن ذي یزن په دغه مجلس کې د کسریٰ د ملاقات په انتظار ولاړ دی څو چې پرده پورته سوه او ټول خلک پرسجده پرېوتل بېله سیف څخه، ده سجده و نه کړه فقط سر یې وښوراوه، کسریٰ ته ډېر قهر ورغلی ویل: دا احمق څوک دی چې ما ته سجده نه کوې؟ سبحان الله! کبر او غرور د انسان څخه هر څه هېروي، که یو څه فکر وکړو آیا هغه څوک چې خواړه خوري او بیا د هغو د ایستلو ضرورت ورته پېښېږي د دې وړ او لایق دی چې عبادت دي یې وسي؟ یا دي هغه رب او إله وبلل سي؟

خیر فوراً سیف ورته را وستل سو کسریٰ و ویل: ولې دي سجده ونه کړه؟ سیف و ویل: هغه غمونه چې زما سره سته هغو د کسریٰ د سجدې څخه مشغوله کړم، کسریٰ و ویل: څه غمونه لرې؟ ده خپل بیان ورته وکړی چې حبشیانو د یمن مځکه اشغال کړې ده، د ده د پلرو او نیکه ګانو مَلک او پاچهي یې ځني غصب کړي دي زه راغلی یم او ستا څخه مرسته غواړم چې یمن د حبشیانو څخه راخلاص کړې، کسریٰ خپلو مشاورینو او وزیرانو ته مخ ور واړاوه او ویل: څه وایاست؟ هغو وُرته و ویل: دا یې موږ یمن د حبشې څخه خلاص کړی او ده ته مو ور تسلیم کړی نو موږ څه فایده وکړه؟ د عزبو په مځکه کې کوم د فایدې شئ نسته چې موږ د هغه دپاره د کسریٰ لښکر یمن ته ولیږو، کله چې زموږ ګټه او فایده نه وي نو د لښکر لېږل بې فایدې دي، تر دې مشورې وروسته کسریٰ د سیف د مرستې او کومک کولو څخه انکار وکړی.

*نن ورځ هم د دنیا د لویو او قوي مملکتو دا قانون او عادت دی: په کوم ملک کې چې خپلې خاصې ګټې او فایدې و نه لري هغه ښه و نه څېړي حساب ورته و نه کړي هیڅکله خپل عسکر او فوجونه هلته نه لیږي، خو دا چې ځینې کسان د هغو په هدف او مقصد نه پوهیږي یا ځان نه پوهوي دا د هغو جهالت دی، که نه هیڅوک خپل عسکر د بل په ملک کې زما او ستا دپاره نه وژني.*

خیر: څرنګه چې کسریٰ پاچا ؤ او نه یې غوښتل چې څوک په خالي لاس پرېږدي نو یې امر وکړی چې ده ته د سپینو زرو لس زره درهمه او یوه ښه جوړه کالي

(c) kotabton.com: The Digital Library

ورکړی، فوراً دا پیسې او کالي ورکړل سوه، مګر سیف د دې دپاره نه ؤ راغلی چي پیسې واخلي بلکه هغه د یمن پاچهي غوښتل، کله چي سیف د کسرٰی له قصره ووتی د دغه ورکړل سوو پیسو په وېشلو یې شروع وکړه خلک پر راټول دي او دئ پیسې ورکوي، دا خبر کسرٰی ته ورسېدی چي هغه نفر پیسې و نورو خلکو ته ورکوي کسرٰی و ویل: دا ځوان د یوه حاله خالي نه دی بیرته یې را ولی، سیف چي یې را وستی کسرٰی ویل: ولي؟ ما تا ته هدیه درکړه او تا هغه خلکو ته تقسیم کړه د دې سبب څه دی؟ سیف و ویل: اې شاهنشاه! زه د سرو او سپینو زرو سره علاقه نه لرم زه د داسي مځکي څخه راغلی یم چي غرونه یې سره او سپین زر دي (*اصلاً ده په دغه خبره سره غوښته چي په کسرٰی کي طمعه پیدا کړي او د ده مرسته وکړي*) نو ویل زه د بل غرض دپاره راغلی وم زما زر نه دي په کار، په دغه خبره سره په کسرٰی کي هم طمعه پیدا سوه بیا یې د مشاورینو سره مشوره وکړه هغو ورته و ویل: موږ خو تر اوسه پوري نه ؤ خبر چي په یمن کي سره او سپین زر سته دا نوی خبر دی، کسرٰی و ویل: تاسي نه ولیدی چي دراهم یې خلکو ته ور غورځول؟ دا د دې علامه ده چي دئ دراهمو یا پیسو ته اړ او محتاجه نه دی، اوس نو کسرٰی او د ده مشاورین په تردد کي دي چي د سیف مرسته او کومک وکړي که یا؟ هلته خو په دوی کي طمعه هم پیدا سوې ده، په آخر کي یې پر دې فیصله وکړه چي موږ په بندیخانو کي داسي خلک لرو چي پر هغو د وژلو امر سوی دی چي باید اعدام کړل سي دغه خلک به را وباسو او لښکر به ځني جوړ کړو د سیف بن ذي یزن سره به یې ولېږو، که دوی پر حبشه کامیابه سوه یمن ستا سو او که مړه سول دا هغه شئ دی چي موږ یې د هغو دپاره غواړو، کسرٰی و ویل: دا ښه فکر دی نو یې د بندیخانو څخه داسي خلک را ټول کړه چي د وژلو امر پر سوی ؤ، په دغو خلکو کي غله، مجرمان، قاتلان او سیاسي بندیان موجود وه، د دغو ټولو نفرو شمیر اتو سوو نفرو ته ورسېدی کسرٰی د خپل لښکر د مشرانو څخه یو نفر چي نوم یې (أخرُز) ؤ د دغه لښکر مشر مقرره کړی.

*نن ورځ هم استعماري حکومتونه د نورو ملکو د نیولو او جنګو دپاره هغه کسان (که نارینه وي که ښځي) لیږي چي بې موره او بې پلاره وي یعني د زنا د لاري پیدا*

(c) ketabton.com: The Digital Library


*سوي وي او بيا يې دوی اول په مرستونو کي او بيا په عسکري فرقو کي د جنګ دپاره وروزي، نو د هغو په وژل کېدلو د دغه استعماري ملک هيڅ باک او پروا نه کېږي.*

اُخرُز په جنګ پوه، قوي او تجربه کاره سړئ ؤ، د دغو اتو سوو نفرو څخه يې لښکر جوړ کړی او د سيف بن ذي يزن په ملګرتيا يمن ته رهي سو، دغه نفر په آټو کښتيو کي سپاره سوه، اول فُرات ته ور داخل سوه او بيا خليج العرب ته او بيا بحرُ العرب ته تر څو چي عدن ته ورسيدل، هلته حبشيانو ته هم دا خبر و رسيدی چي د کسرٰی لښکر را رهي دی هغو هم د لښکر په جوړولو شروع وکړه، سيف بن ذي يزن هم په يمن کي د خپلو طرفدارانو چي عرب وه او د حبشيانو په حکم نه وه راضي په را ټولولو شروع وکړه چي د دغه فارسيانو د لښکر مرسته وکړي، څو په آخر کي د دغو دوو لښکرو په منځ کي جنګ شروع سو چي يو د حبشې لښکر ؤ او بل د فارسيانو او يمني عربو لښکر ؤ.

د حبشې د لښکر مشر په خپله مسروق د يمن پاچا ؤ او د فارسيانو د لښکر مشر اُخرُز ؤ، اُخرُز ډېر قوي او شديد سړئ ؤ ويل کيږي: د ده غشی او ليندۍ د ډېر قوت په سبب بېله ده څخه بل چا نه سوای استعمالولای، اوس چي جنګ شروع دی اُخرُز ولاړ دی د جنګ حالاتو ته ګوري او څارنه يې کوي د جنګ نقشه جوړوي، اُخرُز پوښتنه وکړه ويل: د حبشيانو پاچا پيژنې؟ سيف ويل هو هغه سړئ وينې چي وربښمين کالي يې اغوستي دي پر فيل سپور دی او پر تندي يې سور ياقوت دی؟ اُخرُز ويل هو، سيف ويل: دغه نفر يې پاچا دی، اُخرُز ويل: اوس يې پرېږده تر څو چي له فيله کښته کيږي، بيا اُخرُز ته و ويل سوه چي د فيل څخه کښته سو پر آس سپور سو، ويل اوس يې هم پرېږدی څه وخت وروسته اُخرُز ته و ويل سوه چي اوس پر غاطره يا قچره سپور سو، ويل: ها د خره پر لور؟ اوس يې حال ګوری، اُخرُز د خپل لښکر شا ته ولاړ ؤ د هغه ځايه څخه يې غشي ورته برابر کړی مسروق يې د دوو سترګو په منځ کي هغه د ياقوت پرځای و ويشتی او غشی د مسروق د سر تر هغه بل طرف و وتی، د ابرهه زوی مسروق و وژل سو او د ده په مرګ د حبشې لښکر ماته وخوړل او د فارسيانو لښکر پر يمن مسلط سو، کله چي فارسيان کامیابه سوه نو يې د يمن حکومت او اختيار سيف بن ذي يزن ته ور نه کړی بلکه دوی په خپله حکومت جوړ کړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library


سیف په نامه سره پاچا ؤ، او دغه خبره تر اوسه پورې په یمن کې متل ده چې وایي:

دا غوټه د سیف بن ذي یزن غوټه ده خلاصېدل نه لري.

د یمن د خلکو دا عادت ؤ کله چې به دوی ته داخلي مشکلات پېښ سوه نو به یې د خارجیانو څخه کومک و غوښتی خو کله چې به هغه خارجیان راغله د دوی مشکل به تر هغه اول هم زیات سو، هو د یمن خلک اوس د حبشې له حکومته څخه خلاص سوه مګر د فارسیانو تر تسلط لاندې سوه.

بیا نو کسرٰی د خپله طرفه یو والي پر یمن مقرره کړی چې نوم یې مُرزُبان ؤ، کله چې مُرزُبان مړ سو بیا د هغه زوی تَوبُو جان د یمن والي مقرره سو، څه موده وروسته د کسرٰی له طرفه دغه تَوبُو جان ایسته سو او د هغه پر ځای یې باذان د یمن والي مقره کړی چې د یمن دغه والیان ټول فارسیان او کسرٰی ته تابع وه.

## اسلام ته د یمن د خلکو داخلېدل

د رسول اکرم محمّد مصطفٰی ﷺ بعثت او د نبوت شهرت په هغه وخت کې وه چې د یمن حاکم باذان ؤ چې هغه قصه داسې ده:

په دغه وخت کې چې د کسرٰی له طرفه باذان پر یمن والي ؤ رسول الله ﷺ د فارس پاچا کسرٰی ته یو لیک یا رساله ولېږل چې اسلام ته یې دعوتاوه، خو کسرٰی بیله دې څخه چې د رسول الله ﷺ لیک و وایي هغه یې څیري او ټوک ټوک کړی او د قاصد په باره کې یې د وژلو إراده وکړه، کله چې رسول الله ﷺ ته د کسرٰی او د هغه د دغه ناوړه عمل خبر و رسېدی نو رسول الله ﷺ و فرمایل: ده زما لیک ټوک ټوک کړی الله جل جلاله دې د ده پاچهي ټوک ټوک کړي.

کسرٰی چې د رسول الله ﷺ د لیک په لیدلو او اورېدلو سره په قهر سوی ؤ نو یې وویل: دا څوک دی؟ یو صحرایي عرب غواړي چې زه د ده متابعت وکړم؟ د کسرٰی متکبر دماغ هیڅکله دا نه قبلول، د دې مثال د مغرور او متکبر کسرٰی دپاره داسې ؤ لکه نن ورځ چې په یوه ډېره لیرې صحراء کې یو کوچنۍ کلی واقع وي او د دغه کلي یو نفر د امریکا د حکومته څخه و غواړي چې د ده د دین متابعت دې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کسرٰی هم په هغه وخت کې د مځکې د مخ لوی پاچا ؤ او دا خبره ډېره عجبه ورته ښکاره سوه، دې موضوع ته يې په ډېره سپکه وکتل نو يې د سرورکائنات رسول الله ﷺ د نيولو او راوستلو دپاره لښکر و نه لېږی بلکه د يمن والي باذان ته يې حال ولېږی چي هلته په جزيرةُ العرب کي يو نفر پيدا سوی دی او غواړي چي زه د ده متابعت وکړم دغه نفر ما ته را ولېږه، باذان هم د جزيرةُ العرب خلک ضعيفه وبلل فقط دوه نفره يې مديني منورې ته ولېږل ويل ورسی او دغه نفر ته و واياست چي د لښکر و لېږلو او جنګ کولو ته ضرورت نسته بېله ځنډه او بېله عذره ځان تسليم کړه.

***مسلمانان ډېرضعيفه ورته ښکاره کېدل او دوی خپل ځان د دنيا لوی قدرت باله.***

دغه دوه نفره مديني منورې ته ورسېدل رسول الله ﷺ ته ورغله او ورته ويې ويل: زموږ سره باذان ته ولاړسه او هغه دي بيا کسرٰی ته لېږي ځکه کسرٰی ته غوښتی يې، رسول الله ﷺ و فرمايل: تاسي نن شپه استراحت وکړی او ستاسي جواب به سبا درکړم، خلک چي سبا د جواب اخيستلو دپاره رسول الله ﷺ ته ورغله، رسول الله ﷺ و فرمايل: باذان ته و واياست چي زما رب نن شپه ستا رب کسرٰی و وژی، نفرو و ويل: که کسرٰی نن شپه وژل سوی وي نو دغه خبر تا ته چا را وړی؟ د فارس څخه تر مديني پوري تقريباً په يوه مياشت کي خبر را رسيږي ته څنګه خبرسوې؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: د الله جل جلاله له طرفه وحيِ راته راغلې، نفرو و ويل: موږ ته ستا جواب دغه دی؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: هو، ولاړ سی او باذان ته دغه حال و واياست، دوی هم رهي سوه تر څو يمن ته ورسېدل او باذان ته يې دا بيان وکړی چي موږ ويل: ځان تسليم کړه ده و ويل: چي کسرٰی و وژل سو، تر دغه وخته د کسرٰی د وژل کېدلو خبر د فارس څخه يمن ته نه ؤ رسېدلی، باذان پوښتنه وکړه چي دا کومه شپه وه چي ده ويل: کسرٰی و وژل سو؟ هغه شپه يې ور وښوول چي فلانۍ شپه وه، باذان و ويل: انتظار وکړی، پسله څو ارلس ورځو يمن ته خبر را ورسېدی چي کسرٰی په فلانۍ شپه د خپل زوی له طرفه و وژل سو، دا عيناً هغه شپه وه چي رسول الله ﷺ ورته ويلي وه چي نن شپه، نو باذان و ويل: په والله دغه معلومات بيله نبي څخه بل چا ته نه کيږي، باذان ايمان راوړی او مسلمان سو، هغه نور فارسيان چي په يمن کي موجود

(c) Ketabton.com: The Digital Library

وه هغه ټول د باذان د مسلمانېدلو په سبب د باذان سره مسلمانان سوه او باذان و ویل: تر دې وروسته موږ د مدینې د حکم تابع یو نه د فارس، نو تر دغه وروسته یمن او د هغه حکومت د رسول الله ﷺ او مسلمانانو د حکم تابع وه نه د کسرٰی.

د باذان الفارسي ﷜ په مسلمانېدلو سره اسلام یمن ته داخل سو او رسول الله ﷺ هم دغه باذان د ده د وفات تر وخته پر یمن حاکم پرېښاوه، کله چې باذان وفات سو د ده زوی شَهر د یمن حاکم سو او رسول الله ﷺ هم پر دغه حکومت پرېښاوه، ترڅو چې (اَلأَسوَد العُنسِي) په یمن کې پیدا سو او د نبوت دعوه یې وکړه، بیا یې د باذان زوی شِهر و وژی او د یمن حکومت یې ونیوی دغه واقعه د رسول الله ﷺ د حیات په آخرو وختو کې پیښه سوه چې وروسته به په تفصیل سره درته بیان سي.

او د رسول الله ﷺ عادت دا ؤ: کوم پاچهان چې به په اسلام مشرفه کېدل هغه یې پر هغه خپل حکومت پرېښوول.

*دا هغه معلومات وه چې یمن څنګه د فارس په حکم کې داخل سواو بیا څنګه د فارس د حکمه څخه ووتی او په اسلام کې داخل سو.*

اوس به یوه بله قصه درته بیان سي چې دغه قصه هم د سرور کائنات محمّد مصطفٰی ﷺ په ژوند پوري تعلق لري او دا قصه د قُصَی بن کِلاب قصه ده چې دغه قُصَی بن کلاب د رسول الله ﷺ څلورم نیکه دی.

## د مکې مکرمې څخه د خزاعه د قبیلې ایستل

ستاسي به هغه د مخه بیان په یاد وي چې د جُرهم قبیله څنګه د یمن څخه مکې مکرمې ته راغله او اسماعیل علیه السلام چې د ابراهیم علیه السلام زوی ؤ د دوی د قبیلې څخه ښځه وغوښتل او اوس دغه موجوده عربِ مستعرَب د اسماعیل علیه السلام او د جُرهم لمسیان دي او د مکې مکرمې آمریت او اداره د دوی په لاس کې وه او بیا د خزاعه قبیلې د جُرهم پر قبیله او د اسماعیل علیه السلام پر لمسیانو حمله وکړه چې په جنګ او زور یې د مکې مکرمې حکم څني واخیست، که څه هم د اسماعیل علیه السلام لمسیان دالته په مکه مکرمه کې اوسېدل خو قدرت او د شي اختیار یې نه درلودی بلکه حکم او آمر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټول د خزاعه د قبیلې وه او دا بیان مو هم درته وکړی چې د خزاعه د قبیلې مشر عَمرو بن لُحی څنګه د دوی دین ته تغیر ورکړې او شرک یې پکښې داخل کړی، دغه د خزاعه قبیلې تقریباً پنځه سوه کاله پر مکه مکرمه حاکمیت درلودی خو په دغه موده کې د اسماعیل علیه السلام د اولادې بیا هم زړه غوښتی چې قدرت خپل لاس ته راوړې ځکه چې مکه مکرمه اصلاً د دوی وه او حکم یې هم د دوی په لاس کې ؤ مګر دا کار یې نه سوای کولای ځکه دوی جنګي قدرت نه درلودی، ترڅو چې د اسماعیل علیه السلام په اولاده او په قریشو کې د قُصَی بن کِلاب په نامه سره یو نفر پیدا سو.

د اسماعیل علیه السلام په اولاده کې یو نفر د (فِهَر) په نامه سره یادیږي چې د دغه نفر لقب قریش ؤ او د ده ټولې اولادې ته قریش ویل کیږي، کله چې قریش ذکر او یاد سي مقصد یې د دغه فهر اولاده ده او فِهر د اسماعیل علیه السلام د نژدې لمسیانو څخه دی، نو ټول قریش د دغه فِهر اولاده ده او قُصی بن کلاب هم د فِهر د اولادې څخه دی.

دغه قصی ابن کلاب ته الله جل جلاله ډیر مال او غنٰی ورکړي وه په خپل قوم کې مشر او سردار ؤ او بیا یې د (حُلَیل) د لور سره واده وکړی چې دغه حُلیل په دغه وخت کې د خزاعه د قبیلې او مکې مکرمې عمومي مشر او رئیس ؤ، دې واده نور هم د قصی بن کلاب شرف ور زیات کړی ځکه یو خو دئ د اسماعیل علیه السلام د اولادې څخه ؤ او بل د ده ښځه د خزاعه د قبیلې او د مکې مکرمې د رئیس لور وه او په عین وخت کې غني او مالداره هم ؤ په خپل قوم کې مشر او د عزت خاوند ؤ، کله چې د دغه قُصی اولادونه زیات سوه نسل یې ډیر سو نوریې هم عزت او دبدبه پیدا کړه نو دا فکر ور سره پیدا سو چې د خپلو پلرو مَلک او حُکم بیرته لاس ته را وړي، په دغه وختو کې د ده خُسر چې حُلیل نومېدی او د خزاعه د قبیلې رئیس ؤ مړ سو، قُصی بن کلاب اعلان وکړی چې دئ د مکې مکرمې مشر او سردار دی، د دې کار دپاره یې د خپلو ورونو، د اکا د زامنو او خپل قوم څخه مرسته وغوښتل هغو یې هم مرسته وکړه او خلک د ده د مرستې او کومک کولو دپاره ورته را ټول سوه.

اوس نو په مکه مکرمه کې د جنګ دپاره دوه لښکره جوړ سوه چې یو د قریشو د قُصی بن کلاب لښکر دی او بل د خزاعه د قبیلې لښکر دی، جنګ پر شرف او د مکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکرمې پر حکم دی، کله چې جنګ شروع سو د دواړو طرفو څخه ډیر کسان و وژل سول، خلکو چې دا قتل او وژنه ولیدل نو عادل او پوهو خلکو د صلحې دپاره د دوی په منځ کې مداخله وکړه او ویل تاسې باید بیله جنګه د منصفانو په حکم فیصله وکړئ، بیانو دواړو طرفو د دریېیم یا د منصف پر حکم اتفاق وکړی او یو داسې سپین ږیری سړئ یې چې ډېر هوښیار او د عربو د پوهانو څخه ؤ د منصف او فیصله کوتکي په صفت سره وټاکی چې د دغه سړي نوم یَعمُر بن عوف ؤ، دواړو قبیلو پر دې اتفاق وکړی چې یعمر بن عوف مو منصف دی او دواړو طرفو ډیر شدید قسمونه یاد کړه چې دغه یعمر بن عوف چې هره فیصله وکړه بیله کم دلیله یې منو، هیڅوک د ده پر حکم اعتراض نه سي کولای پر دغه اتفاق او قسمو یې شاهدان هم و درول، اوس نو ټول خلک دغه یعمُر ته را ټول سوه او د مدعیانو څخه هر یو غواړي چې خپل دلائل و وایي، اول قُصی بن کلاب و ویل: مکه زما د پلرو مَلک دی اسماعیل علیه السلام زما نیکه دی او هغه اول سړئ دی چې په مکه کې اوسېدلی دی زَمزَم هم الله جل جلاله د هغه دپاره پیدا کړی، کعبه شریفه هم هغه جوړه کړې ده د خزاعه قبیلې دا مَلک په زور لاندي کړی دی، هو دا صحي ده چې دوی پنځه سوه کاله دلته حکم کړی دی خو دوی په اوله ورځ د زور څخه کار اخیستی دی او د بل حق یې خوړلی دی او دغه کعبه شریفه هم زما نیکه جوړه کړې ده او ویل: اوس دي نو دوی خپل دلیل و وایي، مګر د خزاعه د قبیلې سره د یادولو وړ هیڅ دلیل نه ؤموجود ځکه رشتیا هم دوی ټول شیان په زور غصب کړي وه.

اوس یعمُر حکم کوي ټول خلک د حکم د اورېدلو په انتظار او چپه خوله دي.

یعمر و ویل: د مکې مکرمې ټول شیان د قصی بن کلاب دي.

چې هغه شیان: رِفاده، سِقایه، سِدانه، حِجابه، کِسوه او نَدوه، دي، هر امر او د هري واقعې فیصله په قُصَی بن کَلاب پوري تعلَق لري او خزاعه لره په مکه مکرمه کې هیڅ اختیار او تصرف نسته.

په دې فیصله سره ټول شیان د خزاعه د لاسه ووتل او هر څه د قصی بن کلاب په تصرف کې سوه د ټولو عربو ټول شرف د ده لاس ته ورغلی، اوس نو قصی بن کلاب بیله اختلافه د مکې مکرمې عمومي رئیس او سردار سو او خزاعه هم د مکې مکرمې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټول تصرفات ده ته تسلیم کړه ځکه وعده یې کړې وه او قسمونه یې یاد کړي وه.

قُصی بن کلاب چې ډیر سخي سړی ؤ د حاجیانو ټول مصرف یې له خپله ماله ځخه کاوه د حاجیانو دپاره اوبه او خواړه دی برابروي، په دغه سخا سره یې نور هم د خلکو په زړو کي محبت زیات سو، قصی بن کلاب کعبې شریفي ته نژدې د قریشو د ټولنو او مشورو دپاره یوه ډیره لویه خونه یاصالون جوړکړی چې نوم یې (دارُالنّدوه) پر کښېښاوه، نو دارالندوه یو تعمیر ؤ چي په هغه کي د قوم اجتماع، مجلس او مشورې کېدلې، دغه دارالندوه داسي ځای ؤ چي د اهلِ مکې ټولي فیصلې په دغه ځای کي کېدلې د قریشو په منځ کي هیڅ عهد او اتفاق بیله دغه دارالندوه بل ځای نه کېدی، حتّی د نورو قبائلو سره هم هر قِسم وعدې او فیصلې، قراردادونه او عهدونه په دغه دارالندوه کي کېدل، هیڅ مشوره، د جنګ او صلحي فیصله بل ځای نه کېده بیله دغه ځایه ځخه، دا کار نور هم مخ ته ولاړی هغه دا چي په مکه مکرمه کي هیچا بل ځای واده نه کاوه مګر په دارالندوه کي چي دارِ قُصی بن کلاب هم ورته ویل کېده، دا هغه دارالندوه ده چي د رسول الله ﷺ د هجرت په ورځ د قریشو مشران په دغه ځای کي سره جمعه سوه او د رسول الله ﷺ د وژلو فیصله یې وکړه او دا هغه کور دی چي دلته د مسلمانانو په مقابل کي د جنګ فیصلې سوي دي، مقصد دا چي د عربو او قریشو ټول حکم او شرف په دارالندوه کي ؤ، ټولي فیصلې یې په دغه ځای کي کېدلې او د دغه کور مؤسس قُصی بن کلاب ؤ چي دغه قُصی د رسول الله ﷺ څلورم نیکه دی.

کله چي قصی بن کلاب سپین ږیری او ضعیفه سو دا ورمعلومه سوه چي اوس مي مرګ را نژدې دی نو یې په خپلو اولادو کي وکتل وې لیدل چي ټول په مکه مکرمه کي د خپلو اخلاقو او پوهي په سبب قدر، عزت، او شرف لري بېله عبدالدار څخه، د ځان سره یې دا فکر وکړی چي نور ټول اولادونه مي په خپله د عزت خاوندان دي او عبدالدار چي تر ټولو مشر هم دی په خلکو کي عزت نه لري، نو راسه د مکې مکرمې مشرتوب ده ته ورکړه چي دی هم په دغه مشرتوب د عزت خاوند سي، قُصی بن کلاب وصیت وکړی چي تر ما وروسته د مکې مکرمې ټول مشرتوب د عبدالدار دی.

کله چي قُصی بن کلاب مړ سو زامنو یې هم ټول منصبونه عبدالدار ته پرېښوول

(c) Ketabton.com: The Digital Library


مګر کله چي بیا عبدالدار مړ سو بیا نو د قُصی زامنو د مشرتابه وظیفې په خپل منځ کي سره تقسیم کړې، د عبدالدار اولادې ته یې سِدانه او حِجابه ورپرېښوول، عبد مناف او د ده اولادې ته چي بني هاشم دي سقایه ورورسېدل، په دغه تقسیم سره د قریشو ټولو ښاخو ته چي د قُصی بن کلاب اولاده وه خاصه خاصه وظیفه ورکول سوه.

د قُصی بن کلاب یو زوی عبد مناف نومېدی چي د دغه عبد مناف بیا هاشم او مطلب زامن وه، د هاشم د اولادې څخه یو هم (شیبه) دی.

د شیبه پلار هاشم تر مکې مکرمې د دباندي عربو څخه یا په بل عبارت د مدینې منورې د بني عدي بن النجار څخه یوه ښځه چي د شرف او عزت خاونده وه په نکاح کړه څرنګه چي دې ښځي په خپل قوم کي ډېر لوړ مقام او عزت درلودی نو دا هلته د خپل قوم سره په مدینه منوره کي اوسېدل او هاشم به هلته ورتلی، د واده د شرطو څخه یې یو شرط دا ؤ چي طلاق د دې په اختیار ؤ ځکه دا شریفه، مالداره او د عزت خاونده وه، د دغي ښځي څخه د هاشم بن عبدمناف زوی پیدا سو او د دغه زوی نوم یې شیبه کېښاوه څه موده وروسته هاشم مړ سو او شیبه د خپلي مور سره تر مکې مکرمې دباندي اوسېدی، کله چي د هاشم زوی شیبه د بلوغ سِن یا عمر ته ورسېدی د ده اکا چي مطلب نومېدی او د هاشم ورور ؤ د شیبه مور ته ورغلی او ویل: زه هلک را سره بیایم، هغې ویل: څنګه یې بیایې دا زما زوی دی؟ دئ باید زما سره وي، مطلِب وویل: زوی دي اوس غټ سو او د سړیانو درجې ته ورسېدی دئ په خپل قوم کي د سردارانو او اشرافو څخه دی، دئ د قُصی ابن کلاب د زامنو څخه دی د ده دپاره دا نه ښایي چي بیله مکې په بل ځای کي واوسېږي ځکه هلته د ده شرف او عزت، احترام او مقام سته.

ښځي چي د شرف او سرداری نوم واورېدی نو یې وویل: اختیار به ده ته پرېږدو چي ستا سره ځي او که زما سره پاتېږي، کوم وخت چي یې اختیار و شیبه ته ورکړی ده وویل: د اکا سره ځم ځکه دئ پوهېدی چي هلته شرف او عزت سته او ده ته هم دغه شرف ډېر اعتبار درلودی، که څه هم د ده عمر لږ ؤ خو د شرف په قدر پوهېدی.

اوس نو شیبه د خپل اکا سره د هغه پر اوښ تر شا ور سره سپور سو، هغه وخت عادت داسي ؤ چي خلکو به همېشه نوي نوي مریان را نیول، نو کله چي دوی مکې

(c) ketabton.com: The Digital Library


مکرمې ته داخل سوه او خلکو شیبه د مطلب سره ولیدی چي د ده تر شا پر اوښ سپور دی د خلکو دا خیال سو چي مطلب نوی مریئ را نیولی دی نو یې شیبه ته عبد المطلب ویل، یعني: د مطلب مریئ، که څه هم وروسته خلکو ته دا معلومه سوه چي دا د هاشم زوی شیبه دی او د مطلب وراره دی خو شهرت یې په عبدالمطلب سره پیدا کړی.

دغه عبدالمطلب چي اصلي نوم یې شیبه دی او د هاشم زوی دی او هاشم د عبد مناف زوی دی او عبد مناف د قُصی ابن کلاب زوی دی زموږ د نبي محمّد رسول الله ﷺ نیکه یعني د پلار پلار دی، خیر عبدالمطلب ځوان سو او واده یې وکړی، د عبدالمطلب اول اولاد چي زوی ؤ حارث نومېدی چي د ده تر ټولو اولادو مشر ؤ، کله چي دغه حارِث لوی او ځوان سو په دغه وخت کي عبدالمطلب خوب ولیدی.

*(البته عبدالمطلب نور اولادونه هم درلودل خو هغه کوچنیان وه)*

د عبدالمطلب خوب داسي ؤ: دئ بیده ؤ او یو چا پر ږغ کړه (طِیبَه) وکِنده، ده وویل: طِیبه څه شي ده؟ خو هغه ناره کوونکی ولاړی، دئ په تعجب کي سو چي دا څنګه خوب ؤ؟ دوهمه شپه بیا بیده دی چي یو څوک ورته وایي: (بره) وکِنده، ده ورته و ویل: بره څه شي ده؟ ناره کوونکی بیا ولاړی، د عبدالمطلب په زړه کي ور وګرځېدل چي یوه قصه سته ځکه داسي تکراري خوب بې څه نه وي.

دریمه شپه بیا په خوب کي هغه ناره کوونکی ورته راغلی او ویل: (مضمونه) وکِنده، ده ویل: مضمونه څه شي ده؟ هغه ناره کوونکی بیا ولاړی، اوس نو بالکل د ده یقین سو چي یو لوی او مهم کار سته چي د هغه په باره کي درې ورځي پرله پسې خوب وینم، دغسي مکرر خوب په عادي ژوند کي څوک نه ویني.

## د عبدالمطلب په واسطه
## دوهم وار د زَمزَم د څاه کِندل

څلورمه شپه بیا عبدالمطلب خوب ویني چي یو څوک ورته وایي: (زَمزَم) وکِنه، ده ورته و ویل: زَمزَم څه شي دی؟ دا وار ناره کوونکی نه ولاړی او ورته وېي ویل: هیڅکله نه وچیږي او نه بهیږي، حاجیان به په اوبه وې او دغه زَمزَم د وینو او لرشین په

(c) Ketabton.com: The Digital Library


منځ کې پر هغه ځای دی چې سپین وزری کارګه مشوکه وهي، د مېږيانو د کلي سره (چې په پښتو مېږتون ورته وايي) دا خبري د عبدالمطلب په زړه کې حفظ او ياد سوې، عبدالمطلب پوه سو چې ده ته د زَمزَم د کندلو وظيفه ورکول سوه دئ بايد زَمزَم وکِني.

زَمزَم په اهلِ مکه کې مشهور ؤ، اورېدلی يې ؤ مګر ځای يې چا ته نه ؤ معلوم چې چيري دی او دا هم د دوی دپاره مشکله او نا ممکنه وه چې د کعبې شريفې ټول اطراف د زَمزَم د پيدا کولو دپاره وکِني، مګر اوس عبدالمطلب ته د زَمزَم په کندلو سره امر وسو.

دغه اشارات او علامات هم ورته و ويل سوه نو ځای هم تقريباً معلوم سو خو عبدالمطلب ته يو بل تکليف پيښ دی هغه دا چې نور قريش کله ده ته اجازه ورکوي چې دئ د کعبې شريفې پر شا وخوا کِندل وکړي او دئ هم بېله دغه يوه زويه چې ځوان دی بل مدافع او مرسته کوونکی نه لري، خو په دا سبا سهار دئ او د ده زوی حارث دواړه له کوره را و وتل او کعبې شريفې ته ورغله چې زَمزَم پيدا کړي او وې کِني اوس په هغو علامو پسې ګرځي چې ده ته په خوب کې ويلي سوي وې.

اوله علامه داوه: چې د وينو او لري په منځ کې،

دوهمه علامه: پر هغه ځای چې سپين وزری کارګه مشوکه وهي،

دريمه علامه: د مېږتون سره،

دئ د کعبې شريفې پرشا وخوا په دغو علامو پسې ګرځي مګر علامې هيڅ نسته، دئ پر دغه حال ؤ چې څو نفره راغله غواړي چې يوه غوا د هغه بت سره حلاله کړي چې إساف نوميږي، دا بيان خو مو د مخه درته کړی دی چې إساف او نائله څوک وه او څنګه بتان سوه، نو دغو نفرو هغه غوا د إساف سره حلاله کړل،

د غوا ويني د إساف سره توی سوې مګر دغه حلاله سوې غوا د حلالېدلو د ځای څخه وغورځېدل ويني څني بهيږي او غوا ځغلي څو بل ځای غځاره سوه، نفر پسې ورغله د غوا پاته کارېې هَلَته وروکړی لری او ګلمې يې هَلَته څني را وايستل، اوس نو عبدالمطلب ته اوله علامه ور معلومه سوه چې دا يې ويني او هغه يې لری يا لرشين، د دغو دوو په منځ کې د زَمزَم ځاه دی خو بيا هم دغه منطقه ډېره لويه او پراخه منطقه ده دئ نه سي کولای چې دغه ټوله منطقه وکِني، نو په دغه ځای کې ګرځي چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


مېږتون پیښ سو، دا هم دوهمه علامه سوه مګر دغه د مېږیانو ښار هم یوه لویه منطقه ده او د عبدالمطلب دپاره دا سخته ده چې دغه ټوله منطقه وکِني، په فکر کې دی چې څه وکړي؟ په دغه وخت کې یو کارګه یا ټپوس راغلی چې په وزرو کې یې سپیني ښکې وې، کارګه عادتاً ټول تور وي خو ده ته په خوب کې ویل سوي وه چې (غُرابِ أعصَم) او غراب أعصم په عربي کې هغه کارګه ته ویل کیږي چې په وزرو کې یې سپیني ښې وي، دغه کارګه نژدې و هغه مېږتون ته مځکه په مشوکه وهل، عبدالمطلب پوه سو چې دا هغه د مقصد ځای دی او د هغه ځای په کِندلو یې شروع وکړه.
قریش پر را ټول سوه او ویل: دا څه کوې د إساف او نائلې په منځ کې مځکه کِنې؟ موږ هیڅکله اجازه نه درکوو چې ته کعبې ته نژدې مځکه وکنې، عبدالمطلب پرخپل زوی حارث ږغ کړه چې دوی را څخه ګرځوه او په خپله عبدالمطلب په کندلو مشغول دی، قریش له یوه طرفه او حارث له بله طرفه سره اخته دي، قریش یې د کندلو څخه منعه کوې او حارث د هغو مخنیوئ کوي، عبدالمطلب په خپل کار مشغول دی کِندل کوي.
دغه شخړه او کشمکش تر ډېره دوام درلودی خو عبدالمطلب پر هغو ډبرو پېښ سو چې عادتاً د څاه پر خوله ایښوول کېدې او په لوړ آواز یې ناري کړه (الله اکبر) قریش پوه سوه چې عبدالمطلب د خپل مقصد شئ پیدا کړی، قریشو پوښتنه ځني وکړه چې ته څه شي کندې؟ ده و ویل: زَمزَم، عبدالمطلب نور هم خپلو کندلو ته دوام ورکړی او حقیقتاً یې د زَمزَم څاه پیدا کړی، اوس نو قریش ورته وایي: موږ دي په دغه څاه کي شریکان یو عبدالمطلب ویل: د څه شي شریکان؟ تر اوسه پوري مو زه کِندلو ته نه پرېښودلم ما وکندی اوس چي اوبه پیدا سوې تاسي مي شریکان یاست؟
واقعاً هم په مکه مکرمه کي د اوبو مِلکیت ډېر لوی شرف ؤ، اوبه! په مکه کي؟ تر اوسه پوري دوی خپلي لوبه د مکې مکرمې د دباندي څخه را وړلې او اوس په خپله په مکه مکرمه کي زَمزَم ورته پیدا سوا خو عبدالمطلب پر دې ټینګ سو چي اوبه زما دي او نور قریش بیا وایي: موږ حتماً در سره شریکان یو څو خبره ترجنګه ورسېدل، په آخر کي پر دې فیصله وسوه چي درېیم طرف دي زموږ په منځ کي حُکم او فیصله وکړي.
ویل: دغه درېیم به څوک وي؟ هغه هم پردې اتفاق وسو چي د بني سعد پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


کاهن به فیصله کوو چي دغه کاهن په یثرِب کي اوسېدی، خلک یثرِب ته رهي سول (چي اوس مدینه منوره ورته ویل کیږي) هلته چي ورسېدل د بني سعد کاهن خیبر ته تللی ؤ، دوی خیبر ته پسي رهي سوه.

تاسي وګوری: کله چي په انسانانو کي الٰهي دین او الٰهي قانون نه وي جهالت او بې علمي وي نو سحر او جادوګري، کوډي او کاهني ځومره پر خلکو او د دوی پر عقیده مسلط وه او څومره یې ځانونه پسي ستړي کول، د مکې مکرمې څخه ترمدینې منورې پوري د کاهن یا کوډګر فیصلې ته ورځي بیا د مدینې منورې څخه خیبر ته هغه هم پیاده یا پر اوښانو په کوډګر او کاهن پسي د فیصلې دپاره ځي.

*نن ورځ زموږ په ملک او وطن کي هم ډیر داسي خلک سته چي د الله جل جلاله او د رسول الله ﷺ حکمونه هیروي په هره لویه او کوچنۍ معامله کي کوډګر ته ورځغلي چي دغه کار یوازي دا نه چي د بې علمیه کیږي بلکه حرام او ناروا هم دی.*

خیر دوی د کاهن د حکم او فیصلې دپاره خیبر ته رهي دي خو په لار کي چي تو له رنګ او غرونه دي د عبدالمطلب او د ده د ملګرو اوبه خلاصي سوې، د هغه نورو قریشو سره هم لږ اوبه پاته دي خو عبدالمطلب اود ده ملګري د تندي د لاسه مرګ ته قریب او نژدې سوه د هغو نورو قریشو څخه یې اوبه وغوښتې هغو ویل: زموږ سره دومره اوبه پاته دي چي فقط موږ ژوندي په پاته سو او اوبه یې ور نه کړې، عبدالمطلب او د ده ملګرو د مجبوریه ځانونه پر مرګ وسپارل.

ویل: وچ دښت دی اوبه نه لرو او د مقصد ځای هم ډیر لیري دی بیله مرګه بل شئ نه دی پاته نو ویل: باید څه وکړو؟ ویل: باید د خپلو ځانو دپاره قبرونه جوړ کړو، په مرګ کي خو مو هیڅ شک نسته حتمًا مرو مګر دا چي تول پر دښت پراته یو او حیوانان مو خوري تر دې دا ښه دی چي ښخ کړل سو، قبرونه به جوړ کړو هر یو چي د مخه مړ کېدی دا نور به هغه ښخوي فقط هغه آخري نفر به بېله ښخېدلو پاته سي او هغه نور به ښخ سوي وي، ویل: ښه فکر دی نو یې د قبرو په کندلو شروع وکړه، د قریشو هغه بله ډله ورته ګوري دوی قبرونه وکندل او د مرګ په انتظار کښېنستل خو بیا د عبدالمطلب زړه طاقت و نه کړی، ویل: دا نه ده صحي چي موږ ناست یو او د مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library


انتظار باسو دا عُجز او تسلیمېدل دي تر څو چي ژوندي یو باید په اوبو پسي وګرځو، دوی بیا د اوبو د پیدا کولو دپاره ولاړ سوه، په دغه وخت کي د عبدالمطلب اوښ مځکه په پښه و وهل او د مځکي څخه اوبه را و وتلې دوی په تلوار پر راټول سوه اوبه یې وڅښلې، کله چي د دوی ضرورت پوره سو هغه نورو قریشو ته یې ور بږغ کړه ویل راسی اوبه وڅښئ، هغه هم راغله اوبه یې وڅښلې او خپل لوښي یې ډک کړه، دلته نو هغه نورو قریشو عبدالمطلب ته و ویل: څرنګه چي تا ته الله جل جلاله په دغه وچ دښت کي اوبه درکړې نو زَمزَم هم ستا دی او الله جل جلاله تا ته درکړی دی، دوی پوه سوه چي دا د الله جل جلاله له طرفه اشاره ده چي زَمزَم د عبدالمطلب دی زَمزَم یې ده ته پرېښاوه او د کاهن له طرفه بیرته را وګرځېدل، چي په دغه فیصله سره (سِقایه) یعني: د حاجیانو اوبول او د زَمزَم د څاه مِلکیت بېله اختلافه د عبدالمطلب سوه او د زَمزَم تصرف د عبدالمطلب او د هغه د اولادې سو.

الله جل جلاله عبدالمطلب ته پرله پسې اولادونه ورکول لس یې زامن ورکړل او شپږ یې لوني ورکړې، د عبدالمطلب په لسو زامنو کي څلورو د اسلام وخت نیولی دی چي هغه: عبّاس، حمزه، ابوطالب او ابولهب دي، په دغو څلورو کي دوه په اسلام مشرفه سوي دي او دوو یې اسلام نه دی قبول کړی، د عبدالمطلب هغه دوه زامن چي د اسلام وخت یې نیولی دی او په اسلام مشرفه سوي دي عبّاس او حمزه رضي الله عنهما دي او هغه دوه چي د اسلام وخت یې نیولی دی او اسلام یې نه دی قبول کړی ابوطالب چي اصلي نوم یې عبدمناف دی او ابولهب چي اصلي نوم یې عبدالعزٰی دی، دغو دوو د اسلام عصر نیولی دی او اسلام یې نه دی قبول کړی او د عبدالمطلب هغه زامن چي د اسلام عصر یې نه دی نیولی او د رسول الله ﷺ تر بعثت د مخه وفات سوي دي هغه عبدالله چي د رسول الله ﷺ پلار دی او (حِجل) (ضِرار) (مُقدّم) (زُبَیر) او (حارث) دي، دا د عبدالمطلب هغه شپږ زامن دي چي تر اسلام او بعثت د مخه وفات سوي دي او د عبدالمطلب لوني (صفیه) (اُمِ حَکَم) (عاطفه) (اُمیمَه) (اَروَه) (بَره) دي.

د رسول الله ﷺ شپږ عمه ګاني او نه اکاګان او لسم د ده ﷺ پلار دا د عبدالمطلب اولادونه وه، مګر کله چي عبدالمطلب د زَمزَم څاه کِندی او څوک یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


درلودل چي د ده څخه دفاع وکړي نو يې د ضعف او بې کسۍ احساس وکړی چي خپل اولادونه نه لرم او د قوم په مقابل کي ضعيفه يم نو په هغه وخت کي يې داسي نذر کښېښاوه: که الله جل جلاله ما ته لس زامن را کړل يو به يې د الله جل جلاله د رضاء دپاره حلالوم، کله چي الله عزوجل ده ته لسم زوی ورکړی او هغه هم ځوان سو نو عبدالمطلب به رهي ؤ او لس ځوانان زامن به ترشا په پسې وه، اوس نو عبدالمطلب إراده وکړه چي هغه خپل نذر آداء کړي، د نذر د آداء کولو دپاره د کعبې شريفي کاهن ته ورغلی او د کاهن سره به أقداح پراته وه چي أزلام هم ورته وايي.

أقداح يا أزلام څه شي دي؟ کاهن او منجم چا ته ويل کيږي؟

اول: کاهن هغه چا ته ويل کيږي چي خلکو ته به يې د مستقبل يا را تلونکي وخت حالات او اخبار بيانول او دا دعوه به يې کول چي زه په اسرارو او پټو حالاتو خبر يم او پوهېږم، خو منجّم بيا هغه چا ته ويل کيږي چي ستورو ته ګوري د هغو پر تګ د هغو پر مواقيتو د هغو پر راختلو او لوېدلو حساب کوي چي په حقيقت کي دا کار پر ستورو ايمان درلودل دي.

او أزلام يا أقداح: هغو غشو ته ويل کيږي چي پر هغو بڼکي نه وي تړل سوي فقط ساده غشي وي.

د مشرکانو سره أزلام پرڅو قسمه وه، يو قسم يې هغه وه چي پر ځينو به (هو) ليکل سوي وه او پر ځينو به (يا) ليکل سوي وه او دغه غشي به سره ګډ وه، عربو چي به د يوه کار إراده وکړه مثلاً د سفر، يا واده، يا د يوه شي د رانيولو اراده به يې سوه نو کاهن ته به ورغله او هغه به د دغو غشو د جعبې څخه يو غشی را وايستی، که به د (هو) غشی را ووتی هغه کار يې کاوه او که به د (يا) غشی را ووتی هغه کار به يې دغه کال معطله کړی، په دغو أزلامو کي نور قسمونه هم وه مقصد دا چي د مشرکانو د ژوند ټول کارونه او معاملات پر فال، کاهن او منجم ولاړ وه دا د مشرکانو دين او عقيده وه.

بد بختانه نن ورځ زموږ په وطن کي هم ډېر انسانان د کوډګرانو او ساحرانو سره تعلق او د هغو سره تګ او را تګ لري چي دا کارونه د کفر او شرک کارونه دي، د دينِ مبينِ اسلام څخه وتلي او مخالف دي قطعاً حرام او ناروا دي. *خير خپلي قصې ته به راسو:*

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبدالمطلب چې د کعبې شريفي کاهن ته ورغلی د هر زوی نوم يې جلا جلا پر يوه يوه غشي وليکی، لس غشي يې جوړ کړل او کاهن ته يې و ويل: چې اوس نو دغه غشي سره ګډ کړه او بيا يو ځني را وباسه، د هر زوی غشی چې را و وتی هغه د خپل نذر د آداء کولو دپاره حلالوم، څرنګه چې د عبدالمطلب په زامنو کي عبدالله پر عبدالمطلب ډير ګران ؤ نو عبدالمطلب په دغه وخت کي د ځانه سره و ويل: که عبدالله د دغه حلاليدلو څخه چَپ او خلاص سو نو مسئله په خير ده يعني: که بېله عبدالله بل د هر يوه نوم را ووزي مسئله ډېره درنه نه ده ځکه عبدالله تر ټولو زامنو پر ګران ؤ، کاهن د غشو په ګډولو مشغول سو او عبدالمطلب په کعبه شريفه کي ولاړ دی دعاء کوي چې د عبدالله نوم را و نه وزي، خو کله چې کاهن غشي سره ګډ کړل او يو يې ځني را پورته کړی هغه د عبدالله غشی ؤ، څرنګه چې عبدالمطلب پر خپله وعده ولاړ ؤ نو يې عبدالله ترلاس ونيوی او د إساف طرف ته رهي سو غواړي چې عبدالله حلال کړي، قريش دا حالويني چې عبدالمطلب زوی ترلاس نيولی دی او چاړه يې په لاس کي ده غواړي چې خپل زوی حلال کړي، قريشو پوښتنه ځني وکړه ويل: يا عبدالمطلب! دا څه کوې؟

ده و ويل: نذرمي اينبی ؤ اوس يې آدا کوم، قريشو زوی ځني را کش کړی ويل: زوی ولي حلالوې؟ دوی يې دې طرف ته کشوي او عبدالمطلب يې د ځان طرف ته کشوي په دغه کش مکش کي د عبدالله سر په هغه چاړه زخمي سو چې د پلار په لاس کي يې وه، په دغه سبب عبدالله ته (عبدالله أشَج) ويل کېده، ځکه چې پر سر يې زخم ؤ او أشج په عربي کي هغه چا ته ويل کيږي چې سر يې زخمي وي.

اوس قريش ورته ټينګ دي چې قسم دی که زوی حلال کړې که تا دا کار وکړی دا به په عربو کي عادت او طريقه پاته سي چې د هر چا لس.زامن پيدا سوه يو به حلالوي؟ هلته به نو د ژوند څه خوند او څه مزه وي؟ عبدالمطلب د زوی پر حلالولو ټينګ دی او قريش يې منعه کوي، په آخر کي يې و ويل: چاره څه ده؟ دوی ويل: د کاهنانو څخه به پوښتنه وکړو، بيا يې هغه د بني سعد کاهن اختيار کړی چې پر هغه به فيصله کوو، د دغه مشکل د حلولو دپاره د بني سعد کاهن ته ورغله دا وار هغه کاهن

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرځای ؤ، دوی د کاهن څخه پوښتنه وکړه چې په دې مسئله کې څه وایې؟ کاهن و ویل: په تاسي کي د یوه نفر د وژلو دیت څه شي او څومره دی؟ دوی ویل: لس اوښه.

*دیت څه ته وایي؟*

*جواب: که د یو چا څخه بل انسان په سهوه او خطا کې و وژل سي د دغه قاتل یا وژونکي څخه د دغه قتل او وژلو په بدل کي څه مال اخیستل کیږي او د وژل سوي نفر کورنۍ ته ورکول کیږي چې دغه ته دیت وایي.*

نو کاهن و ویل: په تاسي کي د یوه نفر د وژلو دیت څه شي دی؟ دوی ویل: لس اوښه، کاهن و ویل: تاسي بیا غشي سره ګډ کړی پر یوه غشي عبدالله ولیکی پر بل غشي لس اوښه، که د اوښانو غشی را و وتی اوښان به حلال کړی عبدالله خلاص سو او که د عبدالله غشی را و وتی نو لس اوښه به شل اوښه کړی بیا به یې د عبدالله سره واچوی، په هر وار چې اوښان را و وتل پر هغه اندازه اوښان به حلال کړی او که د عبدالله غشی را وتی لس لس اوښه به نور پر زیاتوی تر څو چې د اوښانو غشی را وزي او عبدالله د حلالېدلو څخه خلاصیږي، د دوی هم دغه فیصله خوښه سوه او بیرته مکې مکرمې ته راغله، بیا د کعبې شریفي کاهن ته ورغله چې د عبدالله او لسو اوښانو په منځ کي غشي سره واچوي، د غشو تر ګډولو او را ایستلو وروسته د عبدالله غشی را و وتی، لس اوښان یې نور پر زیات کړه چې شل اوښه او عبدالله سوه بیا د عبدالله غشی را ووتی، لس اوښه یې نور پر زیات کړه چې دیرش اوښه سوه، بیا د عبدالله غشی را ووتی، دغسي لس لس اوښان زیاتوي او د عبدالله غشی را وزي څو د اوښانو شمېر سلو ته ورسېدی، لس واره غشي سره ګډ سوه خو هر وار به د عبدالله غشی را وتی کله چې د اوښانو شمېر سلو ته ورسېدی او غشي سره ګډ کړل سوه دا وار د اوښانو غشی را و وتی، یعني: اوښان باید حلال کړل سي او عبدالله خلاص سو، خو عبدالمطلب و ویل: یا! دا مي نه ده قبوله بل واریې بیا سره ګډ کړی، بیا یې غشي سره ګډ کړل بیا د اوښانو غشی را و وتی، عبدالمطلب ویل: یا! درېیم واریې بیا سره ګډ کړی غواړي چې په دې کار کي چم او حیله نه سي جوړ او پوره تاکید وسي، درېیم وار بیا غشي ګډ سوه چې یوه طرف ته عبدالله او بل طرف ته سل اوښان دي بیا د اوښانو غشی را و وتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالمطلب هم د عبدالله په عوض او فدیه کې سل اوښه حلال کړه او د هغو غوښو د خوړلو او وړلو څخه یې نه انسانان منعه کول نه حیوانان او رسول الله ﷺ فرمايي (أَنَا إِبنُ ذَبِيحَينِ) يعني: زه د دوو حلال کړل سوو زوی یم، چې مقصد یې عبدالله او اسماعیل علیه السلام دي او دوی دواړو ته الله جل جلاله نجات ورکړی.

*دا د عبدالله د حلالولو قصه وه، خو الله جل جلاله په دغه طریقه سره خلاص کړی.*

## د عبدالله بن عبدالمطلب
## واده او د محمّد ﷺ مبارک میلاد

اوس نو عبدالله ځوان دی او پلار یې غواړي چي واده ور وکړي نو یې یوه د عزت او شرف خاونده ښځه چي دا هم د عبد مناف بن زهره بن کلاب د اولادې څخه وه ور وغوښتل او د دې ښځي نوم آمنه بنت وهب ؤ، چي د رسول الله ﷺ سره په نسب کي شریکه او د اسماعیل علیه السلام د اولادې څخه ده، چي په دې ډول رسول الله ﷺ د مور او پلار له طرفه د ډېر مشرف او معزز نسب خاوند دی، د رسول الله ﷺ ماما ګانو په یثرِب کي ژوند کاوه او آمنه هم هَلته اوسېدل، عبدالمطلب هَلته په یثرِب کي د عبدالله واده وکړی او بیا مکې مکرمې ته راغله، په دغه موده کي آمنه حامله سوه او د دې تر حمل څو میاشتي وروسته عبدالله وفات سو، نو رسول الله ﷺ د مخه تر دې چي دنیا ته تشریف را وړي د پلار له طرفه یتیم سو.

کله چي د محمّد مصطفی ﷺ د ولادت وخت رانژدې سو مور یې خوب ولیدی چي د دې یو ماشوم پیدا کېږي او د دغه ماشوم سره یو نُور یا روښنایي او ځلا ملګرې وي چي د مځکي مخ ډکوي او دغه نُور تر شامه ورسېږي او دا په دغه خوب کي وایي (أعِیذُهُ بِالله الوَاحِدِ، مِن شَرِّ کُلِ حَاسِدِ) یعني: ده لره په یوه الله سره د هر حسد کوونکي څخه ساتنه غواړم، سره د دې چي دوی مشرکان وه خو بیا یې هم دغسي خوب ولیدی چي پناه او ساتنه یې په یوه الله جلّ جلاله سره غوښتل.

د فیل په کال او د فیل تر واقعې پنځوس ورځي وروسته د ربیع الأول د میاشتي په دوولسمه بلکه په راجحه روایت کي د ربیع الأول د میاشتي پر نهمه د دوشنبې په ورځ سرورِ کائنات، اشرف المخلوقات، رحمةٌ للعالمین، محمّد مصطفی ﷺ دنیا ته تشریف را وړی چي دغه مبارکه ورځ د میلادي سنې د (۵۷۱) کال د اپرېل د میاشتي د (۲۰) یا (۲۲) تاریخ سره موافق او برابره ده او دا چي مورږ (۲۰) یا (۲۲) تاریخ وایو دا د هغه وخت په جنتریو کي فرق ؤ، د یوې جنترۍ یا کلنډر په حساب (۲۰) تاریخ ؤ او د بلي جنترۍ په حساب (۲۲) تاریخ ؤ، او د ده ﷺ د ولادت په وخت کي ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


عجیب او له عادته مخالف واقعات پېښ سوه چي اوس به د هغو واقعاتو څخه ځیني درته بیان سي خو دا بیان یې په دې سبب نه دی چي د ده ﷺ شرف او عظمت په دغو واقعاتو کي دی چي د ده ﷺ د ولادت سره پېښي سوې، یا! بلکه دا هغه علامې دي چي د ده ﷺ د را تګ زیري پکښې دي که نه اصلاً د رسول الله ﷺ عظمت او لویي په هغه رسالت او منهج کي دي چي ده ﷺ مور ته را وړي دي، دغه شیان صرف د ده ﷺ د را تګ زیري او علامې دي.

د رسول الله ﷺ د حضور شاعر حَسّان بن ثابت رضي الله عنه چي د مدینې منورې د انصارو څخه دی وایي: زما عمر اوه کاله ؤ او په دغه ورځ چي رسول الله ﷺ دنیا ته تشریف را وړی زه په مدینه منوره کي د یهودو په منطقه کي د یهودو سره وم چي د یهودو یو راهب پر قلا ختلی ؤ او داسي نارې یې وهلې: اې یهودیانو! نن د احمد ستوری ښکاره سو، هغه ستوری ښکاره سو چي نه ښکاره کېږي مګر د احمد ﷺ په پیدا کېدلو سره.

یعني: یو ستوری دی چي تر هغو نه راخېژي ترڅو چي خاتمُ الأنبیاء محمد ﷺ پیدا نه سي او هغه ستوری نن راختلی دی، حَسّان بن ثابت رضي الله عنه دا شاهدي آداء کوي چي ده دغه خَبَره د یهودو څخه واورېدل او د دې څخه دا هم معلومه سوه چي حَسّان رضي الله عنه تر رسول الله ﷺ اوه کاله په عمر زیات دی.

د رسول الله ﷺ د مبارک میلاد د زیرو او بشارتو څخه یو هم دا دی: کله چي د ده ﷺ مور حامله سوه دغه د دې حمل بېله دردو او بېله تکلیفه ؤ، که څه هم تاسي ته معلومه ده چي حمل یا د ښځي د پاره حامله کېدل همېشه د تکالیفو او دردو سره وي خو د رسول الله ﷺ مور د دغو دردو څخه آرامه او فارغه وه.

د رسول الله ﷺ د ولادت د عجائبو څخه یوه هم دا ده: کله چي دئ ﷺ پیدا سو پر دواړو لاسو یې تکیه کړې وه او سر یې لوړ نیولی ؤ لکه آسمان ته چي ګوري بل دا چي دئ ﷺ مختون و زېږېدی یعني: سنت کړل سوی ؤ او مسرور و زېږېدی یعني: نُو یې هم پرې سوی ؤ، زموږ د ماشومانو نُو خو د مور څخه ور پرې کړي او هغه پاته حصه بیا څو ورځي وروسته لوېږي خو رسول الله ﷺ د دغو شیانو څخه فارغه پیدا سو او کله چي پر عبدالمطلب د ده ﷺ د ولادت زیری وسو هغه ډیر په خوشاله سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې بیا دغه حالات هم ورته بیان سوه چې مختون دی، مسرور دی او پر خپلو لاسو یې تکیه کړې وه نور هم خوشاله سو او ویل: والله دغه زوی لره مي یوه درجه او مقام سته څنګه په دغه عجیبه طریقه سره پیدا کیږي؟ دغه زوی مي بې څه نه دی او د ډیري خوشالیه یې محمّد ﷺ په غېږ کي واخیستی کعبې شریفي ته یې دننه وروستی او هلته یې د ده پر زېږېدلو د الله جل جلاله شکر آداء کړی، که څه هم تر دغه وخته لا نوم نه دی پر ایښوول سوی مګر چې بیا یې د محمّد نوم پرکښېښاوه په دې کي هم یو سِر او راز ؤ هغه دا چې: یو وخت عبدالمطلب شام ته په سفر تللی ؤ په دې سفر کي یې درې نفره نور هم ملګري وه او هلته یې د یهودو د یوه حَبره سره ولیدل (حَبر) لوی عالم ته ویل کیږي، حبر پوښتنه ځني وکړه چې تاسي دکوم ځای یاست؟ دوی ویل: موږ د مکې یو، حبر ورته و ویل: ستاسي په جزیرةُ العرب کي آخري نبي پیدا کیږي، قصه ډیره اوږده ده خلاصه دا چې دوی پوښتنه ځني وکړه چې د دغه نبي نوم به څه شي وي، حَبر و ویل: محمّد.

تر دغه د مخه په عربو کي د محمّد نوم هیڅ نه ؤ ایښوول سوی که تاسي د عربو په ټول تاریخ کي وګوری تر رسول الله ﷺ د مخه د هیچا نوم محمّد نه دی تیر سوی.

کله چې دغه څلور نفره چې یو یې عبدالمطلب او درې یې ملګري دي بیرته له شامه څخه راغله هر یوه دا قصد او إراده درلودل چې زوی یې پیدا سي نوم به یې محمّد ایږدي، څرنګه چې د عبدالمطلب د عمر په حساب د اولاد امید نه ؤ، نو ده دا نیت درلودی چې د ده په زامنو کي که د هر یوه زوی پیدا سو نوم به یې محمّد ایږدم نو ځکه یې د رسول الله ﷺ نوم محمّد کښېښاوه او هغه درې نفره د عبدالمطلب ملګري دغه کسان وه:

اول: (سلیمان بن مُجاشِع) چې د زوی نوم یې محمّد کښېښاوه چې دغه محمّد د عربو د مشهوره شاعر فرزدق نیکه دی.

دوهم: (اُحَیحَب بن حلاج) چې هغه هم د خپل زوی نوم محمّد کښېښاوه.

دریم: (عِمران بن ربیعه) چې د زوی نوم یې محمّد کښېښاوه.

په ټولو عربو کي دغه څلور نفره د اول وار دپاره په محمّد سره مسمّٰی سوي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دا د رسول الله ﷺ د نامه سراو سبب ؤچې د ده نیکه عبدالمطلب ولې د ده ﷺ نوم محمّد کښېښاوه.

نور هغه حوادث یا علامې چې د رسول الله ﷺ د پیدایښت په وخت کې پېښې سوې دي د هغو څخه یوه دا ده: چې د رسول الله ﷺ د ولادت په وخت کې د کسرٰی قصر او ماڼۍ و ربږدېدل او د کسرٰی له قصره څخه څوارلس برجه ونړېدل.

همدارنګه د مجوسیانو اور مړ سو او دا درمعلومه ده چې د آتش پرستانو اور د همېش دپاره بلېږي څکه دوی یې عبادت کوي او خپل اور هیڅکله مړ کېدلو ته نه پرېږدي خو د رسول الله ﷺ د ولادت په وخت کې دغه د مجوسیانو اور مړ سو.

د کسرٰی په قصر کې یوه کوچنۍ دریاچه وه چې (بُحَیرِ ‌ٔساوا) ورته ویل کېده د دغې دریاچې یا بُحیرې لاندي مځکه وچاودل او اوبه یې وچې سوې، د دغو واقعو څخه کسرٰی و بېرېدی چې دا څه قصه ده نو یې کاهنان او منجّمین را وغوښتل.

ورونو! ځیني کاهنان او کوډګران د جِن او پیرانانو سره تعلق او ارتباط لري او جِن هم ځیني اخبار د آسمان څخه اورېدل او بیا به یې دغه خبرونه کاهنانو ته د دې دپاره ویل چې خلک ګمراه کړي او په فتنو کې یې واچوي او دغه خبره چې جن له آسمانه اخبار اورېدل موږ ته الله جلّ جلاله په قرآن کریم کې بیانوي او فرمایي:

﴿وَأَنَّا كُنَّا نَقۡعُدُ مِنۡهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمۡعِ﴾ [الجن: ۹]

الله جلّ جلاله د پیرانانو دغه خبره موږ ته بیانوي چې دوی به ویل: موږ به پخوا کې دغه آسمان ته د ناستې په ځایو کې د دې دپاره کښېنستلو چې یو خبر واورو.

خو د رسول الله ﷺ په بعثت سره پر پیرانانو دغه د غوږ نیولو او اورېدلو لار بنده سوه.

نو کله چې کسرٰی د کاهنانو څخه پوښتنه وکړه چې دا څه قصه ده؟ ځینو کاهنانو ورته وویل: چې دغه واقعې د نبي د ولادت په سبب پېښې سوې، کسرٰی پوښتنه وکړه چې دغه څوارلس برجه ولې ونړېدل؟ کاهنانو وویل: د دې مقصد دا دی چې د فارس د حکومت به څوارلس پاچهان نور هم تېرېږي بیا نو د فارس پاچهي زائلېږي، کسرٰی و ویل: څوارلس پاچهان به نور هم راځي بیا نو د فارس پاچهي ختمېږي دا ډېر اوږد

(c) ketabton.com: The Digital Library


وخت دی، خو د ده تر مرګ وروسته د فارس پر حکم مقابله شروع سوه په څلورو کلو کي لس پاچهان رَد او بدل سوه چي دغه ټوله د فارس د حکم د زائلېدلو علامې وې.

## د رسول الله ﷺ نسب او کورنۍ

د رسول الله ﷺ نسب یا شجره درې حصې لري چي اوله حصه یې تر عدنان پوري رسېږي او پر دغه حصه یې د سیرت او أنسابو ټول علماء اتفاق لري او هغه داسي ده: محمّد بن عبدالله، بن عبدالمطلب: چي اصلي نوم یې شیبه دی، بن هاشم: چي اصلي نوم یې عَمرو دی، بن عبدمناف: چي اصلي نوم یې مغیره دی، بن قُصَی: چي اصلي نوم یې زید دی، بن کلاب، بن مره، بن کعب، بن لؤي، بن غالب، بن فِهر: او دغه فهر هغه څوک دی چي قریش یې لقب ؤ او د قریشو د قبیلې نسبت هم ده ته کیږي او بیا نو دغه فِهر بن مالک، بن النضر، بن کنانه، بن خُزیمه، بن مُدرکه، بن الیاس، بن مُضر، بن نزار، بن مُعد، بن عدنان.

او د رسول الله ﷺ د نسب دوهمه حصه: کوم چي تر عدنان لوړ دي او بیا تر ابراهیم علیه السلام پوري رسېږي په هغه کي اختلاف سته څوک یې قبلوي او تائیدوي او څوک څه نه پکښي وایي چپ پاته دي خو په دې کي شک نسته چي عدنان د ابراهیم علیه السلام د اولادې څخه دی او د هغه نسب داسي دی: عدنان بن أد، بن هُمَیسع، بن سلامان، بن عُوص، بن بوز، بن قَموال، بن أبيّ، بن عوام، بن ناشِد، بن حزا، بن بلداس، بن یدلاف، بن طابخ، بن جاحم، بن ناحش، بن ماخي، بن عِیض، بن عبقر، بن عبید، بن الدعا، بن حمدان، بن سنبر، بن یثربي، بن یحزن، بن یلحن، بن ارعوي، بن عِیض، بن دیشان، بن عَیصر، بن افناد، بن ایهام، بن مقصر، بن ناحث، بن زارح، بن سمي، بن مزي، بن عوضه، بن عرام، بن قیدار، بن اسماعیل، بن ابراهیم علیه السلام.

او د رسول الله ﷺ د نسب درېیمه حصه: چي د ابراهیم علیه السلام څخه لوړ بیا تر آدم علیه السلام پوري رسېږي او دا هغه حصه ده چي بیله شکه ځیني غیر صحي شیانْ پکښي داخل سوي دي او هغه داسي ده: ابراهیم علیه السلام بن تارح: چي نوم یې آزر دی، بن ناحور، بن ساروغ، بن راعو، بن فالخ، بن عابر، بن شالخ، بن ارفخشد، بن سام بن

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوح علیه السلام بن لامک، بن متوشلخ، بن اَخنوخ. ویل کیږي چې دغه اخنوخ ادریس علیه السلام دی، بن یرد، بن مهلائیل، بن قینان، بن آنوشه، بن شیث، بن آدم علیه السلام.

## د رسول الله ﷺ رضاعت او پرورښت

اوس به د رسول الله ﷺ د تي رودلو او پرورښت په باره کې څه معلومات درته بیان سي هغه داسې: کله چې به د قریشو نارینه اولاد پیدا سو هغه به یې په مکه مکرمه کې نه لویاوه او د دې کار دپاره څو سببه وه، یو سبب دا ؤ چې مکې مکرمې ته له هره ځایه خلک راتله او ځیني خلک به د ډیري مو دې دپاره په مکه مکرمه کې پاته کېدل لکه دغه اوس چې هم دغسې ده او د قریشو سره به یې راکړه ورکړه او راشه درشه درلودل نو کوم هلکان چې به په مکه مکرمه کې لویېدل د هغو ژبه به د دغه ګډون او اختلاط په سبب په سل کې سل خالصه او فصیحه عربي نه وه، د هغه بېګانه خلکو د اخلاقو او ژبې تر تاثیر لاندې کېدل، نو د دې جهته قریشو دا ښه بلل چې د دوی اولادونه ترمکې مکرمې دباندې لوی سي، ذا د دې دپاره چې ژبه یې پر فصیحه عربي واوړي، کله چې به د دغو ماشومانو د ژبې د زده کولو عمر تېرسو بیا به یې بیرته مکې مکرمې ته راوستل ځکه بیا به د دغو نورو خلکو د ژبې تر تاثیر نه لاندې کېدل.

او بل سبب دا ؤ چې قریشو غوښتل چې د دوی اولادونه سخت سري د تکالیفو او مشکلاتو زغم او تحمل ولري د سختیو او تکالیفو سره عادت ولري ځکه د دوی په مخ کې جنګونه او سفرونه وه دوی نه غوښتل چې اولادونه یې په ښار کې نازک او پاسته لوی سي، ځکه کوم کسان چې په ښارو کې لوی سي هغه نرم، پاسته او نازک طبیعته وي د تکالیفو او مشکلاتو زغم او تحمل نه سي کولای نو سختۍ او تکالیف په صحراء کې وه، دا معلومه خبره ده چې د صحراء خلک سخت سري او متحمّل وي.

دریم سبب دا ؤ: چې مکه مکرمه ښار او دیني مرکز ؤ له هره ځایه قِسم قِسم خلک ورته راتله او دغو خلکو د خپلو ځانو سره رنګارنګ مرضونه را وړل، مګر صَحراء د مرضو څخه پاکه وي که د اطرافو او صحراء خلک د ښاري خلکو سره مقایسه کړل سي په هغو کې مرض لږ او نادره پیدا کیږي، په دغو څو سببو د قریشو دا خوښه وه چې اولادونه یې

(c) kitabtoh.com: The Digital Library

تر مکې مکرمې دباندې لوی سي، نو ځکه خپل کوچني اولادونه يې د صحراء خاصتًا د بني سعد دايګانو ته ورکول چې هغه يې صحرا ته بوزي او هلته يې لوی کړي. بيا چې به دغه هلکان لوی سوه بيرته به يې مکې مکرمې خپل مور او پلار ته راوستل.

د صحراء خلکو بيا دغه کار د رزق د پيدا کولو دپاره کاوه، خو دايګانو پر دې کار تنخواه او معلومه مزدوري نه اخيستل دا يې عيب باله چې د شيدو قيمت واخلي د ماشوم د اخيستلو په وخت کې پرکوم مبلغ، تنخواه، يا د شيدو پر بدل هيڅ اتفاق نه کېدی، خو بيا څه موده ترمنځ او په آخر کې د کوچني د مور او پلار له طرفه دايې ته هديې او سوغاتونه ورکول کېدل چې په هغو هديو سره به دايګانو خپل ضرورتونه پوره کول.

دغه د صحراء دايګاني به څه موده ترمنځ مکې مکرمې ته راتلې او هغه نوي پيدا سوي ماشومان به يې ور سره بېول، په دغه وخت کې چې رسول الله ﷺ دنيا ته تشريف را وړی د بني سعد ځنې دايګاني راغلې چې په مکه مکرمه کې نوي پيدا سوي ماشومان ور سره بوزي، د دوی په جمله کې يوه ښځه يا دايي وه چې نوم يې حليمه ؤ او د مېړه نوم يې حارث ؤ.

د بني سعد قبيله ټول غريبان وه خاصتاً په دغه کال چې بارانونه هم نه وه او وچ کالي وه، په دوی کې بيا حليمه ډېره غريبه وه، حليمې خپل کوچنئ د تي زوی هم درلودی او په قريشو کې ګرځي چې يو بل کوچنئ هم پيدا کړي او د دغه خپل زوی سره تئ ورکړي، خو حليمه په خپله وايي چې د ډېري لوږي او غريبۍ په سبب مي دومره شيدې نه درلو دې چې دغه خپل زوی په موړ کړم، نو دا بل کوچنئ به څنګه ور سره مړوم؟ مګر احتياج او مسکنت دې کار ته مجبوره کړې وم، حليمه چې د خپلې قبيلې ځنې راتله پر يوې خرې سپره وه چې دغه خره يې هم ډېره ډنګره او ضعيفه وه پر لاري به د ضعف په سبب تر ټولې قافلې وروسته رهي وه، نورو ښځو به نارې پر وهلې چې حليمې ژر سه و دي ځنډولو، خو حليمې چې به هرڅه کوښښ وکړی چې خره يې چابکه سي هغه نه سوای تلای، خير! په ډېر تکليف يې ځان مکې مکرمې ته ورساوه، اوس نو دايګاني په مکه مکرمه کې کور په کور په ماشومانو پسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګرځي، خو هره دايي چي د رسول الله ﷺ مور آمنې ته ورسي او په دې پوه سي چي هلک يتيم دی په پته خوله يې پرېږدي او دا ولاړه سي، دا ځکه چي دايګانو په اول کي د تنخوا يا مزدورۍ خبري نه کولې او ټول اميد به يې هغو هِديو او سوغاتو ته وُ چي په وروسته کي ورکول کېده، نو دايګانو ته چي به دا معلومات وسوه چي هلک يتيم دی پلار نه لري د ځان سره به يې و ويل: د هلک مور به موږ ته څه هديه او سوغاتونه راکړي، نو په پته خوله به له کوره و وتلې او هلک به يې پرېښاوه، دايګانو داسي فکر کاوه چي نيکه دومره غمخور نه دی لکه پلار، او مور د مال او پيسو خاونده نه ده موږ ته څه نه سي را کولای، نو خود ټولو دايي ګانو محمّد ﷺ پرېښاوه.

*راسی چي قصه په خپله حليمې ته پرېږدو چي دا يې په تفصيل سره را ته بيان کړي.*

حليمه السعديه وايي: زه د خپل وطن ښځه د خپل مېړه او د تي رودلو د زوی سره د بني سعد د ښځو په ملګرتيا را و وتم چي موږ ټولو نور د تي ماشومان غوښتل او دا داسي وچ کال وُ چي موږ ته د خوړلو دپاره هيڅ شئ نه وُ را پاته، زه پر يوې خرې سپره وم او زموږ سره يوه زړه اوښه د لوشلو دپاره راسره وه چي د دې شيدې به زموږ او زموږ د ماشوم زوی دپاره غذاء وه، خو هغې اوښي هم په والله د لوږي په سبب يو څاڅکی شيدې نه کولې او موږ ټوله شپه د خپل ماشوم زوی د ژړا له لاسه خوب نه سوای کولای چي د لوږي به يې ژړل، نه زما په تي کي څه وه چي دئ په موړ سي او نه زموږ اوښي شيدې کولې چي ده ته يې ورکړو، موږ ټول د باران په اميد وُ چي بارانونه وسي اوکال آباد سي، خير: زه پر دغه خپله خره را و وتم چي د خپلو ټولو ملګرو دپاره تکليف او د سر درد وم ځکه زما خره ډنګره او د ضعف د لاسه پر لار نه سواء تلای، د ملګرو به مي دغه نارې وې چي حليمې ژر سه او ژر سه، خو مکې مکرمې ت، را ورسېدلو او موږ ټوله د قريشو په کورو کي په ماشومانو پسي ګرځېدلو، په موږ ټولو کي داسي ښځه نه وه چي هغې ته دي د محمّد ﷺ د اخيستلو نه وي ويل سوي، خو چي دا به ورته و ويل سوه چي هلک يتيم دی هري ښځي به پرېښاوه ځکه موږ د کوچني د پلار څخه د هديو او تحفو اميد درلودی، خو کله چي به دا راته و ويل سوه چي هلک يتيم دی موږ به ويل چي مور اونيکه به يې څه را کړي، نو موږ ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دغه يتيم والي په سبب نه اخيستی، په آخر کي په موږ ټولو کي يوه ښځه هم نه سوه پاته چي يو کوچنئ دي نه کړي پيدا بېله ما څخه، اوس چي موږ بيرته تر مکې مکرمې دباندي خپل د اړولو ځای ته راغلو او بني سعد ته مو د تللو إراده سوه ما خپل خاوند ته و ويل: په والله زما دا نه ده خوښه چي زما ټولو ملګرو ښځو دي ماشومان پيدا کړي وي او زه دي بېله کوچني ولاړه سم، زه هغه يتيم کوچني ته ورځم او هغه اخلم، مېړه مي و ويل: ښه دی ورسه وايې خله ممکن دغه يتيم زموږ دپاره د برکت سبب وګرځي، نو وايي: ورغلم او محمّد ﷺ مي را واخيستی او د ده د اخيستلو بل هيڅ سبب نه ؤ بيله دې چي ما بل ماشوم نه کړی پيدا، کله چي مي دئ ﷺ را واخيستی او خپل ځای ته راغلم تي ته مي واچاوه، تي مي زما د غوښتني پر اندازه شيدې پر را ايله کړې، ده تر هغو رودلې چي مړېدی او د ده ورور چي زما زوی ؤ هغه هم تر مړېدو و رودلې او بيا دواړه بيده سوه، حال دا چي زموږ کوچنئ تر دغه د مخه د لوږې په سبب نه سوای بيدېدلای، بيا مي مېړه و هغي زړې اوښي ته ور ولاړ سو چي ويې لوشي، د اوښي څخه يې دومره شيدې ولوشلې چي ما او ده تر مړېدلو وچښلې.

دغه شپه ښه په خير را باندي تېره سوه، حليمه وايي: په سهار کي زما ملګرو ښځو راته و ويل: يا حليمه! په والله مبارک او د برکته ډک ماشوم دي اخيستی دی، ما ويل: زما هم دغه اميد دی.

حليمه وايي: په سهار کي زه پر هغه خپلي خرې سپره سوم محمّد مي هم را سره واخيستی او د خپل کلي پر طرف رهي سوو، په والله خره مي زما تر ملګرو دومره د مخه سوه چي د هغو خره نه سوای پسي رسيدلای، ترڅو چي ملګرو به مي راته ويل: يا حليمه! څه صبر وکه آيا دغه ستا خره هغه خره نه ده چي د ها خوا پر راغلې؟ ما ويل: په والله هغه هغه ده، دوی ويل: په والله يو څه ور ته پېښه ده، حليمه وايي: بيا نو موږ بني سعد او خپلو کورو ته ورسېدلو او د الله تعالی په مځکو کي د باران د نه کېدلو په سبب زموږ تر ځای وچ ځای نه ؤ، خو بيا هم زما پسونه چي به راغله ماړه او غلانځې به يې د شيدو ډکي وې موږ به خپلي مېږې لوشلې او شيدې به مو چښلې خو بل چا د خپلو مېږو څخه يو څاڅکی شيدې نه سوای لوشلای او نه يې د مېږو

(c) ketabton.com: The Digital Library


په غُلانځو کي څه وه، تر داسي اندازې چي زموږ د کلي خلکو به خپلو شپنيانو ته په قهر او غضب سره ويل: تاسي پسونه وښو ته نه بياياست، پسونه هلته بياياست چيري چي د حليمې پسونه پيول کيږي، چوپانانو به ورته ويل: په والله زموږ او د حليمې پسونه يو ځای ګرځي، خو بيا به هم د دوی پسونه وږي راغله او يو څاڅکی شيدې به يې نه کولې خو زموږ پسونه به ماړه او د ميږو غلانځي به د شيدو ډکي وې، زموږ دغه حال ؤ د الله ﷻ له طرفه خير او برکتونه را باندي اوربدل څو دوه کاله تېر سوه.

حليمه وايي: د محمّد ﷺ جسم او بدن نسبت و نورو ماشومانو ته مخالفه وَدَه او پروربنت کاوه، د عمر يې دوه کاله لا نه وه پوره سوي داسي معلومېدی لکه د پنځو شپږو کالو هلک، صحت او عافيت يې کامل او سالم وه. په خبرو کي يې فصاحت ؤ، خبري يې سمي او پوره کولې، کله چي د ده ﷺ دوه کاله پوره سوه مور ته مو ور وستی او عادت هم دا ؤ چي دايګانو به هلکان پسله دوو کلو خپل مور او پلار ته ور وستل، خو ځينو پلرو به د دوهم وار دپاره بيا دغه ماشوم و دايي ته ورکړی چي څه موده دي نوره هم په صحراء کي تېره کړي او ځينو خلکو به پر دغه دوو کلو بس کړل، اوس حليمې هم محمّد ﷺ مکې مکرمې او خپلي مور ته ور وستی، خو کوښښ کوي چي بيرته يې د ځانه سره بوزي، د رسول الله ﷺ مور آمنه ورته وايي: بسته دلې دي وي او حليمه ورته وايي: دلته ګرمي ده مرضونه دي، دئ تر اوسه بنه نه دی لوی سوی څه موده به يې نور هم را سره بوزم. حليمه وايي: موږ دا کوښښ کاوه چي محمّد ﷺ بيرته را سره بوزو، ځکه موږ په ده کي هغه ذکر سوي برکتونه ليدلي وه، څو په آخر کي مو د محمّد ﷺ مور راضي کړه چي محمّد ﷺ بيا را سره بوزو او دوهم وار مو بيا بني سعد ته راوستی.

*دلته به ستاسي د معلوماتو د زيات والي دپاره د رسول الله ﷺ رضاعت، رضعي ورونه او رضعي خوندي در وښوول سي،*

اول: هغه ښوک چي رسول الله ﷺ ته يې پسله د ده د موره تئ ورکړی دی هغه (ثُوَيبه) ده چي د ابولهب آزاده سوې مينځه وه، هغې د خپل زوی سره چي مسروح نومېدی تئ ورکړی او دغه ثويبې تر رسول الله ﷺ د مخه حمزه ؓ ته هم تئ ورکړی ؤ، په دې حساب حمزه ؓ چي د رسول الله ﷺ اکا ؤ رضعي ورور يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


سو او دغه ثويبې په وروسته کي ابوسلمه ﷛ ته هم تئ ورکړی دی، نو ابوسلمه ﷛ هم د رسول الله ﷺ رضعي ورور دی او د رسول الله ﷺ هغه رضعي ورونه يا خوندي چي د حليمې او حارث اولادونه وه داسي دي: عبدالله بن حارث، انيسه بنت حارث، حُذافه بنت حارث چي په شيما سره مشهوره ده او دغه حليمه د ابوسفيان بن حارث بن عبدالمطلب دايي هم وه، چي ابوسفيان بن حارث د رسول الله ﷺ د اکا زوی ؤ او رضعي ورور يې هم سو، همدارنګه حليمه السعديه وحمزه ﷛ ته هم تئ ورکړی دی، چي حمزه ﷛ د رسول الله ﷺ د دوو طرفو رضعي ورور سو، يو د ثُويبه له طرفه او بل د حليمه السعديه له طرفه. *(اوس به بيرته خپلې قصې ته راسو)*

حليمه وايي: د محمّد ﷺ تر دوهم وار را وستلو څه موده وروسته د محمّد ﷺ د تي يا رضعي ورور وارخطا او په ځغستا خپلي مور او پلار ته راغلی او ويل يې: هغه زما قريشي ورور ېرېږي، دوی ورته ويل: څه ورته پيښه ده؟ هلک ويل: دوه نفره چي سپين کالي يې اغوستي وه راغله او محمّد ﷺ يې بې سده کړی، حليمه او حارث د دې خبر په اورېدلو سره ډېر وېرېدل او د محمّد ﷺ طرف ته په تلوار او وارخطايي سره ورغله، که ګوري د محمّد ﷺ د مخ رنګ بل قسم اوښتی دی، دوی ورته ويل: څه درته پېښه ده؟ محمّد ﷺ و ويل: دوه نفره چي سپين کالي يې اغوستي وه راغله زه يې و وهلم او پر مځکه ولوېدم، بيا يې زما ځيګر را څيري کړی او زما زړه يې راوايستی.

دغه واقعه په هغه حديث شريف کي بيان سوې ده چي امام مسلم يې د انس ﷛ څخه روايتوي او وايي:

«أَنَّ رَسُولَ اللّه ﷺ أَتَاهُ جِبْرِيلُ وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَهُ فَصَرَعَهُ فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ فَاسْتَخْرَجَ الْقَلْبَ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً فَقَالَ هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ. ثُمَّ غَسَلَهُ فِي طَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ لأَمَهُ ثُمَّ أَعَادَهُ فِي مَكَانِهِ وَجَاءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلَى أُمِّهِ - يَعْنِي ظِئْرَهُ - فَقَالُوا إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ. فَاسْتَقْبَلُوهُ وَهُوَ مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ. قَالَ أَنَسٌ وَقَدْ كُنْتُ أَرَى أَثَرَ ذَلِكَ الْمِخْيَطِ فِي صَدْرِهِ. [رواه: مسلم]

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني: رسول اللهﷺ د ماشومانو سره لوبي کولې چي جبریل علیه السلام ورته راغلی، دیﷺ یې واخیستی او بې سده یې کړی او د دهﷺ سینه یې ور څیري کړه او زړه یې را وایستی او د هغه څخه یې یوه ټوټه ایسته کړل او ویل: دا ستا څخه د شیطان برخه ده، بیا یې دغه زما زړه د سرو زرو په طشت کي د زَمزَم په اوبو پریولی او بیا یې بیرته د دهﷺ زړه په هغه خپل ځای کي کښېښاوه اوسینه یې ور وګنډل او ماشومان د دهﷺ مور یعني: دایي ته په ځغستا ورغله چي محمّدﷺ و وژل سو، دوی ژر هلته ورغله او وې لیده چي د دهﷺ د رنګ بنه اوښتې ده.

انس رضي الله عنه وایي: ما د دغه ګنډلو اثر د رسول اللهﷺ په سینه کي لیدی.

دلته د دغي واقعې په لیدلو حلیمه ډېره وېرېدل او خپل میړه حارث ته یې و ویل: ښایي دغه نفر د پېرانانو څخه وي موږ باید دغه هلک د مخه تر دې چي څه ورته پېښه سي خپلي مورته ور ولو، نو یې محمّدﷺ مکې مکرمې او خپلي مور ته ور وستی ویل دا دی ستا زوی مو جوړ روغ، صحي او سالم درته را وستی.

د دهﷺ مور په تعجب کي سوه ویل: سبب څه دی چي را مو وستی؟ تاسي خو په هغه بل وار ډېر کوښښ کاوه چي در سره بو یې زی او اوس مو په خپله را وستی؟

حلیمې و ویل: نه ویل کیږي د دنیا ښې او بدي دي سبا به یو تکلیف ورته پېښ سوی وي او ته به موږ ملامتوې خو اوس مو دا دی صحي سالم درته را وستی.

آمنې ویل: یا یو سبب سته او حال به را ته وایاست.

حلیمه آخر مجبوره سوه او د هغه نفر قصه یې ورته وکړه.

آمنې و ویل: تاسي پر ده د جن یا پیري څخه و بېرېدلاست؟

دوی ویل: هو، آمنې ویل: یا! هیڅکله ده ته جن ته سي ور رسېدلای ځکه ما د ده د ولادت په وخت کي خوب ولیدی چي یو څوک راته وایي و وایه:

(اُعِیذُکَ بِاللهِ الوَاحِد، مِن شرِّ کلِ حاسِد)

قسم دی چي ده ته جن او شیطان نه سي ور رسېدلای.

*خیر حلیمه بیرته بني سعد ته ولاړل او محمّدﷺ د خپلي مور سره پاته سو.*

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د رسول الله ﷺ د مور وفات

کله چې د محمّد ﷺ عمر شپږو کلو ته و رسېدی د رسول الله ﷺ مور د خپل وفات سوي مېړه سره د وفاء په سبب دا خوښه وبلل چې د هغه د قبر زيارت ته چې په يثرِب کې ؤ ورسي، نو د مکې مکرمې څخه رهي سوه او پنځه سوه کيلو متره لاريې مزل وکړی څو يثرِب ته ورسېدل، د دې سره په دې سفر کې د دې کوچنئ زوی محمّد ﷺ او د دې خادمه ام ايمن او د دې خسر عبدالمطلب ملګري وه، يوه مياشت يې په مدينه منوره کې تېره کړه د ها خوا څخه چې بيرته مکې مکرمې ته راتلل د لارې په شروع کې د رسول الله ﷺ مور ناروغه سوه او په ابواء کې وفات سوه، ابواء د مکې مکرمې او مدينې منورې تر منځ په لار کې د يوه ځای نوم دی او په دغه وخت کې د رسول الله ﷺ عمر شپږ کاله ؤ او د عبدالمطلب سره بيله موره مکې مکرمې ته راغلی.

اوس نو محمّد ﷺ د مور او پلار د دواړو له طرفه يتيم سو، د ده ﷺ تربيه او روزنه د ده نيکه عبدالمطلب پر غاړه واخيستل، دلته نو د رسول الله ﷺ په ژوند کې نوې مرحله شروع سوه.

*په تيرو سوو بحثو کې مو دا وويل: چې عربو د مخه تر اسلام د جاهليت په وختو کې څومره ناوړه کارونه کول تر داسې اندازې چې ژوندي انسانان يې ښخول او بيا مو د رسول الله ﷺ معزز او مشرف نسب درته بيان کړی چې د شريف او محترم نسب خاوند ؤ ځکه چې د الله جل جلاله اراده همداسې وه چې د ده ﷺ نسب بايد لوړ او شريف وي دا د دې دپاره چې څوک د نسب پيغور ور نه کړي او خلک په ده ﷺ باور او اعتماد ولري او دئ ﷺ بايد قوي قوم د دې دپاره ولري چې دغه قوم يې د دښمنانو او تجاوزګرانو له ظلمه او تېري څخه وساتي او همېشه پيغمبران همداسې وي چې په قوي او معززه قوم کې پيدا کيږي او په هغه خپل قوم کې د رسالت وظيفه ورکول کيږي، چې د دې څخه مقصد همدا دی چې په خپل قوم وساتل سي لکه څرنګه چې الله عزوجل فرمايي: ﴿وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ﴾ هود: ٩١)*

(c) ketabton.com: The Digital Library


*چي دا د شعیب علیه السلام قوم ؤ او شعیب علیه السلام ته وایي: که چیري ستا قوم نه وای موږ به ته رجم کړی وای. یعني: د ډبرو په ویشتلو به موو ژلی وای.*

نو که یو پیغمبر د یوه عادي نسب څخه وي یا قوم و نه لري د هغه نبي آزارول د خلکو دپاره ډیر آسانه وي او تاسي به په را تلونکي بحث او بیان کي و وینی چي دغه د نسب شرافت د دې سبب وګرځېدی چي له یوه طرفه خلکو د رسول الله ﷺ احترام کاوه او اعتماد یې پر درلودی او له بله طرفه یې خلک د ده ﷺ له آزاره منعه کول.

او بیا مو د رسول الله ﷺ د ولادت بیان درته وکړی چي کومي معجزې او کرامتونه د ده ﷺ د ولادت سره یو ځای وه، دا هم د دې دپاره چي خلکو ته د ده ﷺ د راتګ زیري ور معلوم سي که څه هم د ده ﷺ د را تګ علامې په پخوانیو آسماني کتابو کي ډیري موجودي وې خو پر هغو سربېره کوم حوادث چي د ده ﷺ د ولادت سره یو ځای پېښ سول په هغو ټولو کي د خاتم النبیین ﷺ د را تګ اشارې موجودي وې.

او بیا مو د ده ﷺ د یتیم کېدلو حال بیان کړی، د مخه تر دې چي دنیا ته تشریف را وړي د پلار له طرفه یتیم سو او کله چي یې عمر شپږو کلو ته ورسېدی د مور له طرفه هم یتیم سو، دا ټوله د الله جل جلاله إراده وه، علماء کرام د ده ﷺ د یتیم کېدلو دپاره ډیر سببونه بیانوي چي یو د هغو څخه دا دی چي په ده ﷺ کي رحمت، شفقت او مهرباني پیدا سي، ځکه که څوک په خپله د یتیم والي په حالت کي ژوند وکړي هغه داسي نه وي لکه اورېدلي چي یې وي، په عربي کي مثال دی چي وایي (لَیسَ الخَبَرُ کَالمُعَایِنَة) اورېدل داسي نه دي لکه لیدل یا په فارسي کي وایي (شنیده کی بود مانند دیده) دا چي یو سړی فقط د یتیم پر سر لاس تېر کړي یا د یتیم سره مرسته وکړي، هغه داسي نه دی لکه خپل ژوند چي په یتیم والي پر تېر سوی وي، د دې دوو په منځ کي ډېر زیات فرق او توپیر سته، نو الله جل جلاله په دغه یتیم والي سره دئ ﷺ رحیم او مهربانه تربیه کړی، لکه څرنګه چي په حدیث شریف کي رسول الله ﷺ فرمایي « أَدَّبَنِی رَبِّی فَأَحسَنَ تَأدِیبِی» یعني: زما رب ادب او تربیه راکړل او په ښه ادب سره یې مؤدبه کړم، نو د رسول الله ﷺ تربیه الهی تربیه وه او الله جل جلاله ښه ادب او ښه اخلاق ورکړل او د ده ﷺ د ژوند دغه حالات تصادفي او د ژوند پېښي نه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلکه د دې شیانو د پېښېدلو ترشا لوی لوی مقصدونه پراته وه، علماء کرام د ده ﷺ د یتیم والي نور سببونه هم وايي، خو د دې دپاره چې بحث مو اوږد نه سي د هغو تر بیانولو تېرېږم او دا بیان مو هم درته وکړی چې رسول الله ﷺ په صحراء کي تربیه سو او د صحراء د تربیې فایدې مو هم بیان کړې چې اول صحت او عافیت دی او بل د مشکلاتو تحمل دی، رسول الله ﷺ په ناز او نعمتو کي نه دی لوی سوی دا د دې دپاره چې د سختیو او مشکلاتو د زغملو قدرت ولري، که تاسي د رسول الله ﷺ را تلونکي ژوند اوحالاتو ته وګورئ و به وینئ چې د ده ﷺ ټول عمر په جهاد، عبادت، تکالیفو او آزارو تېرسوی دی او بل د صحراء د ژوند څخه د ژبي فصاحت او بلاغت حاصلېږي، د ښاري خلکو ژبه ګډه وډه وي او رسول الله ﷺ تر ټولو خلکو فصیح ؤ چې دا هم د بني سعد د ژوند په سبب وه، ځکه رسول الله ﷺ په خپله د دغه فصاحت په باره کي فرمايي، کله چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! تر تا فصیح مي نه دی لیدلی، رسول الله ﷺ و فرمایل: څنګه به داسي نه وي یا ابا بکر! زه د قریشو څخه یم او په بني سعد کي تربیه سوی یم.

اول قریش په خپله فصیح وه او بل بني سعد هم په فصاحت کي شهرت درلودی.

## د رسول الله ﷺ اقتصادي حالت

رسول الله ﷺ غریب او مسکین لوی سو مال يې نه درلودی، هو محمّد ﷺ په نسب مشرف او معزز دی خو د مال خاوند نه ؤ او د دې سبب چې د ده کورنۍ مال نه درلودی دا ؤ: چې د عبدالمطلب کورنۍ د حاجیانو د خوړکې او اوبو مسؤله وه، یعني: د حاجیانو د خوړلو او څښلو برابرول چې رِفاده او سِقایه ورته ویل کېده د دوی پرغاړه وه نو ځکه زیات مال نه ور سره پاته کېدی، د سخا او ډوډۍ ورکولو په سببْ د دوی سره هیڅ مال نه ؤ او سخیان همیشه غریبان وي چې یو مثال يې حاتمِ الطایي دی هغه چې په عربو کي ډېر مشهوره سخي تېر سوی دی خو دئ د سخا په واسطه ډېر غریب ؤ ځکه په لاس کي يې شئ نه پاته کېدی، د عبدالمطلب او د ده د کورنۍ هم دغه حال ؤ چې د سخا او ورکړي په سبب يې څه نه درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا چې محمّد ﷺ غریب او مسکین لوی سو په دې کې هم الهي مقصدونه وه چې د هغو مقصدو څخه یو دا ؤ چې د مسکین او محتاجه په حال خبر وي، د رسول الله ﷺ ژوند د غنیانو او مال دارانو پر قسم نه ؤ چې د غریبانو او مسکینانو له حاله بې خبره وي، هو غني به له خپله ماله څخه یوه غریب ته څه ور کړي خو بیا هم د ده ژوند هوسا او آسوده وي د غریبانو هغه حقیقي درد او احتیاج نه ور معلومېږي نو ځکه الله جل جلاله محمّد ﷺ د کوچني والي څخه په یتیم والي او مسکنت کې تربیه کړی، دا ټول الهي حکمتونه دي چې الله جل جلاله خپل رسول د رسالت د رسولو دپاره آماده کوي.

کله چې د رسول الله ﷺ مور وفات سوه د ده ﷺ تربیه د ده نیکه عبدالمطلب پر غاړه واخیستل او دا چې د ده ﷺ تربیه د عبدالمطلب پر لاس سوه په دې کې هم لوی حکمت ؤ، هغه دا چې عبدالمطلب د قریشو سردار او د مکې مکرمې رئیس دی، همېشه به د قریشو او نورو قبائلو مشران او سرداران د ده په مجلس کې ناست او حاضر وه، په دې مجلس کې به د لویو لویو کارو تصمیمونه نیول کېدل او د خلکو په منځ کې به فیصلې کېدې، په دغه وخت کې د محمّد ﷺ عمر شپږ کاله ؤ نو د ده ﷺ د تعلیمي ژوند شروع په دې سره وسوه چې وویني د خلکو سره څه قسم ګذاره او معامله، راشه درشه کیږي، او د لویو لویو کارو فیصلې څه قسم کیږي، طبیعتاً د دغه عمر هلکان په دغسې مجلسو کې نه کښیني او د لوبو دپاره ولاړېږي خو رسول الله ﷺ به همېشه په دغه مجلس کې ناست ؤ او نه به ولاړېدی، دا د الله جل جلاله إراده وه چې محمّد ﷺ پوه سي چې د خلکو سره باید څنګه ژوند وسي، یوازې دا نه چې د غریبانو او صحرایي عربو سره یې د ژوند کولو طریقه زده وي بلکه د سردارانو او د قومو د مشرانو سره هم باید په ژوند پوه وي، نو دئ ﷺ به همېشه د عبدالمطلب په مجلس کې حاضر ؤ.

د تاریخ په کتابو کې ذکر سوي دي چې د عبدالمطلب د ناستې دپاره کعبې شریفې ته نژدې او د کعبې شریفې په سایه کې ځای سمېدی، هلته به د عبدالمطلب زامنو د ده دپاره فرش آوار کړی نو د عبدالمطلب زامن او نور قریش به هلته په انتظار ولاړ وه هیڅوک به نه کښېنستی تر څو چې عبدالمطلب به راغلی هغه به کښېنستی بیا به دا نور کښېنستل، ځکه عبدالمطلب د مکې مکرمې عمومي مشر او رئیس ؤ، مګر رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي په عمر هم لږ او کوچنئ ؤ تر عبدالمطلب د مخه به راغلی او هلته به پر هغه فرش کښېنستی، اکاګانو به یې کوښښ کاوه چي دئﷺ د دغه کاره څخه منعه کړي او د دغه فرش څخه یې ولاړ کړي مګر عبدالمطلب چي به راغلی ویل به یې: پرېږدئ یې ړدی په ده کار مه لرئ په والله دغه زوی لره مي یوه درجه او مقام سته.

نو رسول اللهﷺ به همېشه د عبدالمطلب په مجلس کي ناست او حاضر ؤ او تاسي پوهېږئ چي دغه مجلس ته به همېشه مشران، مخور او د نورو ځایو څخه ډلي راتلې او رسول اللهﷺ دوه کاله په دغه مجلس کي کښېنستی او دا یې هم زده کړل چي د قومو د مشرانو سره څه قسم معامله او خبري کېږي.

کله چي د رسول اللهﷺ عمر اته کاله سو عبدالمطلب هم وفات سو چي دا د محمّدﷺ دپاره بل واریتیم والی ؤ، د مخه خو دئﷺ د پلار له طرفه یتیم ؤ، مګر هغه وخت په نامه یتیم ؤ ځکه دهﷺ خپل پلار نه ؤ لیدلی مګر د عبدالمطلب په وفات سره د دهﷺ یتیم والی حقیقي، ډېر سخت او مشکل ؤ ځکه دا د خپل مهربانه نیکه نېستي والی ؤ، هغه نیکه چي د کعبې شریفي د دېواله سره به ناست ؤ او د دهﷺ سره به یې شفقت او مهرباني کول، ناز به یې ورکاوه او دهﷺ د نیکه په وجود کي د پلار نه درلودل نه حسول، هغه نیکه یې وفات سو چي د دهﷺ دپاره پلار ؤ او دغه اوسنئ یتیم والی دهﷺ په سترګو ولیدی، چي دغه یتیم کېدل تر هغه اول یتیم والي ډېرسخت وه، عبدالمطلب د مرګ په وخت کي وصیت وکړی چي د محمّدﷺ تربیه او روزنه دي ابوطالب کوي او دا یې هم ورته و ویل: چي د ده د روزني او تربیې دپاره به ډېره خاصه توجه کوې.

## د ابوطالب سره د رسول اللهﷺ تربیه

د عبدالمطلب تر وفات وروسته د محمّدﷺ تربیه د ده اکا ابوطالب پر غاړه واخیستل ځکه ابوطالب د محمّدﷺ د پلار عبدالله سکه ورور ؤ، هو د ابوطالب او عبدالله پلار خو عبدالمطلب ؤ بلکه مور یې هم یوه وه، اوس نو ابوطالب د رسول اللهﷺ درېیم تربیه کوونکی سو، اول مور، دوهم نیکه، درېیم اکا او د عبدالمطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر وفات وروسته د مکې مکرمې مشرتوب هم د ابوطالب پر غاړه سو، مګر ابوطالب تر عبدالمطلب ډیر غریب ؤ، د ابوطالب اولادو به د خپل پلار سره د خرڅ او مصرف په پیدا کولو کي مرسته او کومک کاوه.

کله چي محمّد ﷺ ولیدل چي ابوطالب غریب دی حتّی د خپلو اولادو نفقه نه سي پیدا کولای نو محمّد ﷺ هم په کار کولو شروع وکړه چي هغه کار د پسو چوپاني وه او دا معلومه خبره ده چي چوپاني تربنار د باندي وي، نو رسول الله ﷺ به د شپې او ورځي تر مکې مکرمې دباندي پاته کېدی چي په دغه چوپاني کي له یوه طرفه هغه د صحراء ژوند شروع سو چي د هغه ژوند ځیني فایدې مو د مخه درته بیان کړي دي او له بله طرفه په خپله چوپاني هم ډیري فایدې لري چي علماء کرام یې داسي بیانوي:

**اول**: پر حیواناتو رحم او مهرباني چي دغه خوی په رسول الله ﷺ کي موجود ؤ، رسول الله ﷺ یوازي دانه چي پر انسانانو مهربانه ؤ بلکه حیواناتو هم د ده ﷺ د رحمت او مهربانیه څخه حصه حاصله کړې ده چي دغه رحم په شرعي احکامو کي ډیر واضح او ښکاره دی، مثلاً د حیوان د حلالولو دپاره به چاړه تېره وي، یو حیوان به د بل حیوان مخ ته نه حلالیږي، پر حیوان به ظلم نه کوې، حیوان به نه وږی کوې او نه به یې تږی کوې، پر حیوان به د ده تر طاقت زیات بار نه باروې او داسي نور.

**دوهم**: په چوپاني کي حلم او صبر حاصلیږي، پسونه شا و خوا پاشل کیږي د هغو د راټولولو او یو ځای کولو طریقه زده کیږي، پسونه باید له دښمنه وساتل سي، چي دا ټوله د امت د یو ځای کولو او ساتلو دپاره تجربې وې او رسول الله ﷺ دا هم زده کړه چي خپل مصرف په خپل لاس پیدا کړي، تر اوسه خو یې اعتماد د مور یا نیکه پر نفقه ؤ خو اوس یې په خپله په کار کولو او په خپل لاس د مصرف په پیدا کولو شروع وکړه، نو ده ﷺ د اته کلنۍ څخه په چوپاني شروع وکړه او تر هغو یې دا کار کاوه چي عمر یې تقریباً یو ویشت کلو ته ورسېدی او دغه چوپانۍ د ده ﷺ د عمر ډیره موده په بر کي ونیول، رسول الله ﷺ فرمایي: « مَامِنْ نَبِیٌّ إلاّ وَرَعَی الغَنَمَ » یعني: داسي نبي نسته چي د پسو چوپاني دي یې نه وي کړې، نو دغه وظیفه ټولو انبیاء علیهم السلام پر ځای کړې ده، علماء کرام د چوپانۍ په ګټو او فایدو کي یوه دا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیانوي او وایي: کوم څوک چي په دښت کي د پسو په پېولو مشغول وي نو دئ تنها وي او تنهایي سړئ و چرت او فکر کولو ته پرېږدي، په آسمانو، ستورو، لمر او سپوږمۍ کي فکر کوي، دغه برابر نظام او الٰهي قدرتو ته ګوري چي دغه افکار د انسان د روح د صفایي او پاک والي سبب ګرځي، مګر کوم کسان چي په ښارو کي اوسیږي هغه په تګ او را تګ مشغوله وي، دا ولاړی هغه راغلی، نوي نوي خبري او حوادث اوري فکر یې ګډوډ وي، انسان د الله عزوجل په قدرتو کي فکر کولو ته نه فارغه کیږي، نو دا هم د دښت او صحراء فایده وه چي رسول الله ﷺ یې فکر کولو ته فارغه کړی.

په دغه وخت کي چي رسول الله ﷺ په چوپاني مشغول ؤ ابوطالب د تجارت په کار مشغول ؤ، کله چي د رسول الله ﷺ عمر دوولسو کلو ته ورسېدی په دغه وخت کي ابوطالب قصد درلودی چي شام ته په تجارت ولاړ سي، قافله تیاره سوه، کله چي ابوطالب د تللو إراده وکړه رسول الله ﷺ ورته ټینګ سو چي ما هم در سره بوزه، ابوطالب نه غوښتل چي محمّد ﷺ یې په دغه سفر کي ملګری وي مګر رسول الله ﷺ ترکالو ټینګ ونیوی او ویل: خامخا به مي در سره بیا یې، ځرنګه چي محمّد ﷺ پر ابوطالب ډیر ګران ؤ آخر راضي سو او دئ ﷺ یې د ځان ملګری کړی، دا نو تر مکې مکرمې دباندي او شام ته د رسول الله ﷺ اول سفر ؤ چي په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ عمر دوولس کاله ؤ، خیر قافلې حرکت وکړی کله چي قافله د شام حدودو ته ورسېدل نو یې نژدې و یوه (دیر) یا صَومعې ته واړول (دیر) یا صَومعه د نصاراوو د عبادت ځاي ته ویل کیږي او د دوی راهب هلته په کلو کلو ناست وي نه راوزي، خواړه او اوبه یې هلته ورته پراته وي او راهب په عبادت مشغوله وي، د قریشو تجارتي قافلې به همېشه پر دغه لار د دغي صومعې سره تېرېدلې خو نه به قریش دغي صومعې ته ورتلل او نه به هغه راهبان ورته را وتل مګر نن ورځ چي قافلې دغي صومعې ته نژدې واړول د صومعې د راهبانو مشر چي بُحَیرا ورته ویل کېده د مخه لا تر صومعې دباندي ولاړ ؤ او د لیري څخه یې قافلې ته کتل په دغه قافله کي یې ډیر عجب او نادره کارونه ولیدل، وې لیده چي د قافلې پر سر اوریځ ور سره رهي ده، بُحیرا په تعجب کي سو او پوه سو چي په دې قافله کي یو سِر او راز سته، کله چي قافلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


و صومعې ته نژدې وا ړول، بحیرا خپلو ملګرو ته و ویل چې نن خواړه ډیر پاخه کړی او یو نفر یې قافلې ته هم ولېږی چې ورسه او ورته و وایه: تاسي نن زموږ میلمانه یاست او په قافله کې به څوک نه پرېږدی ټول راسی، د قافلې خلکو هم دا دعوت قبول کړی او ټول ورغله، یوازې محمّد ﷺ یې د قافلې سره پرېښاوه چې د قافلې د سامانو ساتنه وکړي، اوس نو د قافلې ټول نفر ناست دي خواړه راغله او په خوړلو یې شروع وکړه، بحیرا ورته ګوري او د قافلې یو یو نفر تر نظر باسي، په دې خلکو کې یې کوم داسي شئ و نه لیدی چې هغه دي عجب او د دې وړ وي چې اوریځ دي پر سر ور سره ولاړه سي *(د نصاراوو علماوو ته دا معلومه وه چې د آخري نبي د راتګ وخت او زمانه را نژدې دي نو ځکه دوی په علاموا و اشارو پسي ګرځېدل)* مګر بحیرا په دې خلکو کي د توجه وړ شئ و نه لیدی نو یې پوښتنه ځني وکړه چې تاسي ټول راغلاست؟ څوک مو نه دی پاته سوی؟ دوی ویل: هو، ټول راغلو فقط یو کوچنئ مو د قافلې سره پرې ایښی دی چې زموږ د سامانو ساتنه کوي.

د قافلې د خلکو څخه یوه نفر و ویل: والله موږ بد خلک یو موږ راغلو خواړه خورو او یتیم مو پرېښاوه، نو یې یو نفر ولېږی چې ورسه محمّد ﷺ هم راوله، نفر ولاړی او محمّد ﷺ یې د ځانه سره راوستی، بحیرا چې په اول وار ولیدی پوه سو چې په دغه هلک کي غیرِ طبیعي شئ سته، نو ور ته ګوري او فکر پکښې وهي، محمّد ﷺ کښېنستی او خواړه خوري، بُحیرا یې مخ ته ناست دی او ورته ګوري، بیا نو بحیرا د محمّد ﷺ څخه په پوښتنو شروع وکړه او ویل: ستا دي په لات او عُزٰی سره قَسم وي.

لات او عُزٰی د مشرکانو دوه بتان وه او دا قَسم هم د مشرکانو قَسم ؤ، که څه هم بحیرا لات او عُزٰی ته عقیده نه درلودل خو ده لیدل چې دغه قوم یو و بل ته په لات او عُزٰی سره قَسم ور کوي نو بحیرا هم د دوی پر ډول په لات او عُزٰی سره محمّد ﷺ ته قَسم ورکړی او ورته وایي: ستا دي په لات او عُزٰی سره قَسم وي، رسول الله ﷺ ورته و ویل: په لات او عزٰی قسم مه راکوه قسم په الله چې ما هیڅکله د هغو عبادت نه دی کړی او د هیڅ شي څخه مي دومره بد نه راځي لکه د لات او عزٰی څخه.

*د تاریخ او سیرت په ټولو کتابو کي دا ثابته ده چې رسول الله ﷺ د ژوند د شروع*

(c) ketabton.com: The Digital Library


*څخه هیڅکله د بت عبادت نه ؤ کړی که څه هم د ده ﷺ قوم او کورنی ټول بت پرستان وه خو ده ﷺ هیڅکله نه بت ته سجده کړې ده او نه يې بت مشرف بللی دی چي دا د الله جل جلاله له طرفه ساتنه وه، هوا ممکن یو څوک د خپلي کورنی په لار نښوونه یا د سالمي تربيې په سبب د ځینو بدو کارو څخه بېزاره وي مګر د رسول الله ﷺ د بتانو څخه نفرت اولیري والی د خپلي کورنی د تربيې په سبب نه ؤ ځکه د ده ﷺ پر شا وخوا ټول خلک بت پرستان وه نو معلومه خبره ده چي دا د الله جل جلاله له طرفه الهي ساتنه او الهي تربیه وه.*

راهب ورته و ویل: بنه ستا دي په الله سره قسم وي چي حق او حقیقت به راته وايې، رسول الله ﷺ و ویل: هو، په الله سره قسم راکړه، راهب بُحیرا په پوښتنو شروع وکړه څه فکر وهې؟ په خوب کي څه شي وینې؟ څنګه حالات درته پیښیږي؟ داسي ډیري پوښتني يې څني وکړې او رسول الله ﷺ جوابونه ورته وايي.

بحیرا خو عالم ؤ او په آسماني کتابو کي د آخري نبي علامې ذکر سوي وې او اوس بحیرا هغه ټولي علامې په محمّد ﷺ کي ولیدلې نو يې ورته و ویل: ته دي شا یا مَلا را ته لڅه کړه، پریږده چي ملا دي و وینم، رسول الله ﷺ هم خپله ملا لڅه کړه، بحیرا ولیدل چي پر ملا يې د نبوت مُهر هم سته، هغه مُهر چي په ډیرو صحي احادیثو سره يې موجودیت ثابت دی، علماء کرام د نبوت د مُهر داسي تعریف او بیان کوي: چي (خَاتَمُ النّبُوَّة) د رسول الله ﷺ د دوو مبارکو اوږو په منځ کي د کوتري د هګۍ پر اندازه یو تور داغ دی او په هغه داغ کي داسي وریښتان دي لکه د چرګ د سر کاکُل او د دغه تور داغ پر شا وخوا نور ډیر تور خالونه هم سته چي دغه علامه د نبوت مُهر دی او بحیرا دغه علامه ولیدل او وېې پیژندل نو يې ابوطالب ته مخ ور واړاوه او ویل: دا هلک دي څه دی؟ ابوطالب ویل: دا مي زوی دی، بحیرا و ویل: د ده پلار باید نه وي ژوندئ ځکه بحیرا ته دا معلومه وه چي د آخرالأنبیاء علیه السلام د علامو څخه یوه هم دا ده چي یتیم به وي او اوس يې ولیدل چي ټولي علامې په دغه هلک کي موجودي دي او دغه یوه علامه مخالفه ده دا نه سره لګیږي نو ځکه يې ابوطالب ته و ویل: دئ باید پلار و نه لري، ابوطالب و ویل: هو، دئ زما وراره دی، بحیرا د ځان سره و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس صحي سوه، نو يې ابوطالب ته و ويل: وراره دي بيرته مکې مکرمې ته بوزه که دئ شام ته درسره ولاړ سي هلته يې يهود پيژني او که يې وپيژندی ضرور رسوي.

ابوطالب هم پرخپل وراره و بېربدی، نو ابوطالب په خپله نه ور سره را وګرځېدی بلکه يو بل نفر يې ور سره ملګری کړی او محمّد ﷺ يې بيرته مکې مکرمې ته را وستی او دغه اولنۍ سفر يې نه سو پوره.

***دغه د بحيرا قصه هم د رسول الله ﷺ د نبوت د علامو څخه يوه لويه او روښانه علامه ده.***

د رسول الله ﷺ د نبوت يوه بله علامه دا ده: چي ځيني وختونه به مکې مکرمې ته ځيني خلک راتلل چي دغه خلکو ته أهلُ الفَراسة ويل کېده او دغو خلکو يو علم حاصل کړی ؤ چي هغه علم ته هم عِلمُ الفَراسة ويل کيږي، د دغه علم عالمانو چي به يو چا ته وکتل د هغه علم په واسطه به يې د هغه نفر د مستقبل يا را تلونکي ژوند ځيني حالات ورته بيانول او دغه حالات به تر ډيري اندازې صحي او رشتيا را وتل، ځکه دا علم دی چي د هغه تعليم کيږي او غيب ويل نه دي، حتّی امام شافعي رحمه الله هم پنځه کاله د دغه علم تعليم کړی دی او دغه علم ته زموږ او ستاسي په اصطلاح کي د (قيافه شناسي يا قيافې پېژندلو علم) ويل کيږي، نو دغه اهلُ الفراسة دغه علم درلودی او دوی چي به هر ځای ته ولاړل خلکو به خپل هلکان ورته راوستل چي د هغو د ژوند راتلونکي حالات ورته و وايي، لکه زموږ په وطن کي فال بينان چي د خلکو فال به يې کتی، که څه هم هغه فال کتونکي بې علمه او ناپوه خلک وه فقط د پيسو د ګټلو دپاره به يې خلک په بې ځايه او بې معنٰی خبرو خطايستل.

نو يو وخت د دغه اهلُ الفَراسه څخه يو نفر مکې مکرمې ته راغلی او خلکو خپل هلکان ورته را وستل چي د ژوند را تلونکي حالات يې ورته و وايي، په دې جمله کي ابوطالب هم خپل وراره محمّد ﷺ ورته را وستی او دغه واقعه هم هغه د شام تر سفر وروسته وه، محمّد ﷺ يې ورته را وستی او د هلکانو په قطار کي يې د ده مخ ته کښېناوه، دغه د علمُ الفراسه عالِم تر اوسه د هلکانو په ليدلو او کتلو شروع نه ده کړې، خو محمّد ﷺ ته په ډير ځير او دقت سره ګوري او دغه کتل يې هم غير عادي او غير طبيعي وه، مخ ته يې ګوري، لوړ ورته ګوري، کښته ورته ګوري دغه کتل يې ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library


شدید او حیرانوونکي وه، حتّی ابوطالب د دغه کتلو څخه وبېرېدی، بیا نو سړي له یوه طرفه د هلکانو په کتلو شروع وکړه په خپل کار مشغول سو، په دغه وخت کي ابوطالب محمّد ﷺ تر لاس ونیوی له دغه منځه څخه یې وایستی او ګوښه یې کړی، سړئ چي د نورو هلکانو د لیدلو او کتلو څخه فارغه سو هرڅه چي ګوري محمّد ﷺ نسته، نو ویل: څه سو هغه ځوان چي دغه اوس زما مخ ته ناست ؤ؟ چا جواب نه ورکاوه، سړي په لوړ آواز ناري کړل: څه سو هغه هلک چي زما مخ ته ناست ؤ رایې ولې په والله هغه لره شان او شوکت، درجه او عظمت سته، ابوطالب خو د مخه لا بېرېدلی ؤ محمّد ﷺ یې نه راوستی.

***دا هم د رسول الله ﷺ د لوړي درجې او عالي مقام یوه نښانه او علامه وه.***

همدارنګه رسول الله ﷺ تر نبوت او رسالت د مخه د ځوانۍ په وخت او موده کي د الله ﷻ په ساتنه د هر شر او هر ناوړه کاره څخه ساتل سوی ؤ، یوازي دا نه چي د شرک، د بتانو د عبادت او ګنهو څخه ساتل سوی ؤ بلکه د هر هغه عادي او کوچني شیانو څخه چي فقط یوه اخلاقي کمزوري به پکښې موجوده وه یا به هغه کار د انساني فطرت څخه مخالفه ؤ د هغو ټولو څخه رب ﷻ ساتلی ؤ، هغه کارونه چي په اهلِ مکه کي هیڅ عیب نه بلل کېده او د ژوند عادي کارونه وه بیا هم الله ﷻ خپل رسول ﷺ د هغو کارو څخه ساتلی ؤ چي د هغې جملې څخه به څو شیه درته بیان سي:

**اول:** رسول الله ﷺ هیڅکله د فسق او فجور ځای ته نه دی حاضر سوی، د رقص او غنا، موسیقۍ او عیاشۍ مجلس ته هیڅکله نه دی ورغلی.

یو وخت رسول الله ﷺ او د ده د چوپانۍ ملګري تر مکې مکرمې دباندي پسونه پېول، رسول الله ﷺ د لیري څخه د واده ساز او آواز واورېدی او په ټول عمر یې دغسي محفل نه ؤ لیدلی نو یې هغه خپل ملګري ته وویل: ما تر اوسه واده نه دی لیدلی نو نن شپه ته زما پسونه ګوره او زه به ولاړ سم چي دغه وادهووینم، هغه ویل ښه دی، ملګری یې د پسو سره پاته سو او محمّد ﷺ ور رهي سو چي واده او د هغه ساز و ویني، خو کله چي په دغه مجلس کي کښېنستی سمدستي خوب پر غالبه سو او بیده سو، رسول الله ﷺ فرمایي: بل شي نه کړم را ویښ مګر د لمر حرارت او ګرمۍ، سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library


لمر راختلې را وېښ سو او ټول خلک تللي وه، د دغه واده يې هيڅ و نه ليدل.

بله ورځ بيا واده دی بيا يې هغه خپل ملګري ته و ويل: چې هغه شپه خو ما هيڅ و نه ليدل او نه مي واورېدل ځکه بيده سوم نن به ولاړ سم او ته زما پسونه ګوره، هغه ويل: ښه دی ولاړ سه، بيا چې راغلی د اول کښېنستلو سره خوب پر غالبه سو او بيده سو، سهار د لمر تر راختلو وروسته را وېښ سو، نو رسول الله ﷺ پوه سو چې دغه ودونه او مجلسونه زما دپاره نه دي، ځکه هلته د فسق او فساد کارونه کېدل.

خو د ډېر افسوس ځای دی چې تر نن ورځې پورې په ودو او ښاديو کې دغه د فسق او فساد کارونه دوام لري، فلمونه او عکسونه، ساز او رقص، اسراف او سيالي، لڅ کالي او کفري موډونه، دغه حرام کارونه د ودو شرطونه ګرځېدلي دي، نوی کور او نوی فاميل جوړېږي خو متأسفانه اساس او بنسټ يې په ګنهو او د الله ﷻ په نافرمانيو اېښوول کيږي او بيا وايي: اولاد مي صالح او زما په خوله نه دی، د ښځې سره مي ژوند تريخ دی، پوروړی او دربدره يم، په ژوند کې مي خوشالي نسته.

وروره! دا ته يې چې دغه ژوند دې د ځان دپاره خوښ او اختيار کړی دی، دا ستا د هغو ګنهو او نا فرمانيو نتيجه ده چې د دغه کور د جوړولو په شروع کې دې کولې، ته نه وينې؟ کله چې آدم علیه السلام د هغه منعه سوي وُنې څخه څه خواړه وخوړل څه ورته پېښه سوه؟ د جنت څخه وايستل سو، د خپلې زوجې څخه په کلو کلو جلا سو، دا فقط يوه کوچنۍ نا فرماني وه او موږ په يوه واده کې سل نا فرمانۍ کوو.

نن ورځ خلک د واده د نېک او مبارک نامه څخه بده استفاده کوي د ګنهو او ناجائزه کارو وسيله يې ګرځوي، هر هغه واده چې په هغه کې حرام کارونه و نه سي واده يې نه بولي، هو! مسلمانان د روا او جائزه خوشاليو څخه نه دي منعه، په واده کې د نکاح د اعلانولو دپاره نجونو ته دا روا ده چې څه وخت درېې وټکوي (نه داسي لکه موږ چې په هفتو هفتو مو سازونه او رقصونه شپه تر سهاره دوام لري) په واده کې خوشالي مطلوب او جائزه ده، زموږ دين د غم او مصيبت دين نه دی مګر هغه حرام مظاهر او مناظر، دغه لڅ کالي او بېر سرونه، هغه ساز او رقصونه، بلکه ټول هغه کارونه او عملونه چې د فسق او فساد، د اسراف او سياليو څخه خالي نه دي! بايد پرېږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو رسول الله ﷺ د دغسي مجالسو څخه په الهي ساتنه سره وساتل سو.

**دوهم**: د هغو كارو د جملې څخه چي رسول الله ﷺ ځني ساتل سوی دی يو بل بد عادت ؤ چي د اهلِ مكې او مشركانو په رواج او اصطلاح كي عادي او معمولي كار ؤ چي هغه د عورت لڅ والی ؤ، كه به يو سړئ لڅ پڅ ګرځېدی هم يې پروا نه كول او د دغه عادت د رواجولو دپاره ځو سببه موجود وه، يو دا چي په پخوا كي د قريشو له طرفه ځيني امرونه صادر سوي وه چي خلك د هغو اوامرو په عملي كولو مكلف وه، چي يو د هغو اوامرو څخه دا ؤ: چي پر كعبه شريفه څوک په خپلو كالو كي طواف نه سي كولای ځكه په هغو كالو كي يې ګنهونه كړي دي نو د قريشو يو خاص قسم كالي وه چي خلكو به هغه كالي د قريشو څخه رانيول او بيا به يې په هغو كالو كي طواف كاوه.

*طبعاً په دې كاركي د قريشو دپاره اقتصادي او تجارتي ګټه وه چي قريشو به خپل مال خرڅاوه*

نو كوم څوک چي به د مكې مكرمې د دباندي څخه راغلی او هغه د قريشو كالي به نه وه ورسره نو رانيولو ته به يې مجبوره ؤ او بيا به يې هغه د قريشو په كالو كي پر كعبه شريفه طواف كاوه، خو هغه څوک چي د كالو د رانيولو دپاره به يې پيسې نه درلودې لڅ طواف به يې كاوه، په دې لڅوالي كي نارينه او ښځو فرق نه درلودی، خو صرف ښځو به د شپې طواف كاوه، د ډېر جهالت څخه د حيوانيت درجې ته رسېدلي وه.

د لڅوالي دپاره بل سبب دا ؤ چي د جزيرةُ العرب خلك عموماً ټول غريبان وه هر چا پوره كالي نه درلودل، نو په مكه مكرمه او عربو كي د عورت لڅوالی يو عادي او طبيعي كار ګرځېدلی ؤ، خو پر دغه سربېره رسول الله ﷺ هيڅكله نه لڅ طواف كړی دی او نه لڅ ګرځېدلی دی، الله جل جلاله له دغي بې ستريه ساتلی ؤ، په عربو كي دغه لڅوالی او بې ستري د هجرت تر نهم كال پوري دوام درلودی ترڅو چي مكه مكرمه فتحه سوه او تر حجة الوداع يو كال د مخه د حج په موسم كي رسول الله ﷺ حضرتِ ابوبكرِ الصدّيق رضي الله عنه مكې مكرمې ته د حج د آداء كولو دپاره او د حج آمر ولېږی او ورته ويې فرمايل: خلك خبر كړه چي تر نن ورځي وروسته به هيڅوک لڅ طواف نه كوي.

څرنګه چي د ټول بدن لڅول په مكه مكرمه كي يو عادي او طبيعي كار ؤ او هيڅ عيب نه بلل كېدی، نو كله چي به خلكو كارونه كول خاصتاً څه درانه او مشكل كارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه ځیني د ختنو او بِناء کارونه، یا د ډبرو نقلول نو به یې ځانونه لڅول، بالکل به یې کالي وکښل او کار به یې کاوه، یو خو به د ګرمۍ تاثیر څه لږ سو او بل به یې کالي نه خیرېدل او د دوی لباس یا کالي څه شي وه؟ فقط یو د اوږو پټو چي د کمیس کار یې ځني اخیستی او بل لنګ چي لاندي بدن به یې په پټاوه.

یوه ورځ رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره کار کاوه او د یوه ځای څخه یې بل ځای ته ډبري نقلولې، ویل کیږي چي دغه کار د کعبې شریفي د بِناء او جوړولو کارؤ او د کار ټولو ملګرو یې ځانونه لڅ کړي وه ځکه دوی کالي لږ درلودل، نو کله چي به یې ډبري نقلولې لنګ به یې خلاص کړی او هغه به یې پر اوږه کښېښاوه او ډبره به یې پر هغه لنګ کښېښوول، چي په دغه ډول سره به یې اوږه د زخمي کېدلو څخه وساتل سوه، رسول الله ﷺ هم د دغو خپلو ملګرو سره ډبري نقلولې خو هغه ډبره به یې پر لڅه اوږه ایښوول ځکه ځان یې نه ؤ لڅ کړی، په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ د اکاګانو څخه یوه اکا ورته و ویل: اې وراره! که دغه لنګ خلاص کړې او پر اوږه یې کښېږدې د دغو ډبرو له آزاره به دي وساتي، خو کله چي رسول الله ﷺ د لنګ د خلاصولو إراده وکړه یو دم بېهوښي پر راغله او سترګي یې آسمان ته شخي پاته سوې، نو کار او د لنګ خلاصول دواړه پاته سوه. *د الله جل جلاله په ساتنه پټ او مستور پاته سو.*

مقصد دا چي رسول الله ﷺ هیڅ وخت نه دی لڅ سوی، که څه هم یوازي په مکه مکرمه کي نه بلکه په ټوله جزیرة العرب کي د ځان لڅول عادي او طبیعي کارؤ.

**دریم:** رسول الله ﷺ ته د الله جل جلاله له طرفه ډیر لوی ادب ورکول سوی دی، کله چي رسول الله ﷺ کوچنئ او د ابوطالب په کور کي ؤ، ابوطالب ډیر غریب او عیال داره ؤ نو کله چي به خواړه را وړل سوه خواړه به لږ او خوړونکي به ډیر وه، د ابوطالب لس اولاده وه نو به څه پېښېدل؟ معلومه خبره ده چي پر خوړو به چور او حملې سوې، خو رسول الله ﷺ د دغو نورو هلکانو پر ډول نه پر خوړو چور جوړاوه او نه یې حملې وهلې په انتظار به ناست ؤ، کله چي به د ابوطالب عیال او اولاده د دوړی خوړلو څخه فارغه سوه محمّد ﷺ به وکتل: که به کوم شئ پاته ؤ هغه به یې وخوړی او که به نه ؤ پاته دغسي وږی به ګرځېدی او داسي ډیر پېښېدل چي څو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورځي به وړی ګرځېدی ځکه اصلاً د هغو څخه شئ نه پاته کېدی، رسول الله ﷺ د دغه خپلو ښو اخلاقو په سبب که څه هم وړی به ؤ خو د نورو هلکانو پر ډول يې پر خوړوا وډوډی نه چور جوړاوه او نه يې حملې وهلې.

څو یوه ورځ په خپله ابوطالب دغه حالت ته متوجه سو چي دغه نور هلکان خواړه ځني خلاصوي او محمّد ﷺ ته شئ نه پاته کيږي، نو يې خپله کورنۍ امر کړه چي محمّد ﷺ ته خواړه جلا ورکوی ځکه دئ ﷺ د نورو هلکانو پر قسم پر ډوډۍ تلوار نه کوي او وړی پاته کيږي، چي دا کار د رسول الله ﷺ د ادبه څخه ؤ.

**څلورم:** د رسول الله ﷺ د اخلاقو څخه يو هم رشتيا ويل وه په ټول عمر يې هيڅ خلاف يا د حقيقته څخه مخالفه خبره نه ده کړې که څه هم د کوچنيوالي او وړکتوب په حالت کي ؤ، دا هم هغه ادب دی چي د الله جل جلاله له طرفه ورکول سوی ؤ.

کله چي د رسول الله ﷺ عمر پنځلس يا په بل روايت شلو کلو ته ورسېدی د فجار جنګ پيښ سو او رسول الله ﷺ په هغه جنګ کي ګډون او اشتراک وکړی، د جنګ فجار يا حربُ الفُجّار بيان خو مي مخ کي درته کړی دی چي حرب الفجار هغه جنګ ته ويل کيږي: کوم چي په حرامو مياشتو کي پيښ سي او حرامي مياشتي څلور دي (رجب) چي دا يوازي مياشت ده او نوري درې مياشتي چي سره پسې دي: چي هغه ذوالقعده، ذوالحجه او محرم دي، نو د ابراهيم عليه السلام په دين کي په دغو څلورو مياشتو کي جنګ شروع کول او تجاوز کول حرام او ناروا وه خو د خپل ځان څخه دفاع کول جائزه او روا وه.

څرنګه چي د هوازن قبيلې په دغو حرامو مياشتو کي پر قريشو حمله وکړه نو قريشو ته دا جائزه او روا وه چي د ځان دفاع وکړي، په دغه جنګ کي چي حربُ الفُجّار ورته ويل کيږي رسول الله ﷺ د خپلي کورنۍ او اکاګانو په ملګرتيا د مکې مکرمې څخه دفاع کول او رسول الله ﷺ فرمايي: «كُنتُ أنبلُ لِاعمَامِی فِی يَومِ الفُجَارِ» يعني: ما د فُجار په ورځ خپلو اکاګانو ته غشي ورکول او څوک وايي: د فجار په ورځ يې د خپلو اکاګانو څخه غشي ګرځول او هغو جنګ کاوه، څرنګه چي دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


جنګ د ډېري مودې دپاره ؤ نو په دغه جنګ کي رسول الله ﷺ د جنګ کولو طريقه هم زده کړه ځکه جنګ يې وليدی او اشتراک يا ګډون يې هم پکښي وکړی.

همدا رنګه رسول الله ﷺ په حِلفُ الفُضول کي ګډون او اشتراک کړی دی، حلف الفضول (يعني: د مظلوم د حقوقو د اخيستلو دپاره قسم) د حِلفُ الفُضُول جوړېدل يوه قصه لري، هغه دا چي: د اهلِ يمن څخه يوه نفر مکې مکرمې ته د تجارت دپاره څه مال را وړی ؤ او دغه مال يې پر عاص بن وائل په پور خرڅ کړی، عاص بن وائل د مشهوره صحابي عَمرو بن العاص رضي الله عنه پلار دی او عاص بن وائل د مکې مکرمې او قريشو د سردارانو څخه دی، عاص د دغه يمني څخه مال د پور پر قسم اخيستی ؤ او پيسې يې نه وې ور کړې کله چي يمني غوښته چي خپل وطن ته ولاړ سي نو عاص ته ورغلی چي زما پيسې راکړه غواړم چي خپل وطن ته ولاړ سم، مګر عاص بن وائل د سبا او بل سبا وعده ور کوي او معطله کوي يې، څو د يمني صبر پای ته ورسېدی او د آخر وار دپاره عاص ته ورغلی ويل: پيسې مي را کوې که يا؟ عاص ويل: يا! ورځه هر څه چي دي په وسه پوره وي هغه وکه. (زموږ د وطن ځيني کسان هم داسي وه چي د غريبانو حق يې نه ورکاوه)

موږ مخ کي ويلي وه چي هلته د ځنګله قانون ؤ هر زورور به کمزوری خوړی اوس هم عاص ظلم کوي، يمنۍ مسافر او بې چاره دی نه يې قوم سته نه قبيله، څوک نه لري چي د ده مرسته وکړي، اوس په حيرت کي دی چي څه وکړي؟ آخر هغه دارالندوه ته ورغلی کوم چي د قريشو د ټولنو ځای ؤ، هلته قريش سره را ټول وه او يمني په شعر او بيتو سره له ظلمه څخه شکايت شروع کړی خاصتاً د قريشو له ظلمه او ويل: که تاسي پر دغه ظلم خوله پټه کړی نو تاسي هم د ده ملګري ياست او په الله سره قسم چي په ټولو عربو کي به ستاسي نوم در بد کړم، څرنګه چي د قريشو نور مشران په دې کار نه وه راضي، ځکه دوی د مکې مکرمې او قريشو مشران دي او د عربو سرداران دي او که د دوی له ظلمه خلک شکايت وکړي دا د دوی دپاره شرم او پيغور دی او په عربو کي د دوی نوم بدېږي.

نو د قريشو څو نفره سره يو ځای سوه او پر دې يې عهد او قسم وکړی چي د هر مظلوم مرسته به کوو او د ظالم څخه به يې حق ور اخلو که څه هم دغه ظالم هرڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي، دغه کار په اول کي درو نفرو شروع کړی چي د هر یوه نوم فَضَل ؤ، نو ځکه دغه قَسم ته حلف الفُضول ویل کیږي او ځوک بیا وایي: چي دغه قسم ته په دې سبب حلفُ الفَضول ویل کیږي: چي فُضُول په عربي کي حقوقو ته وایي، نو (حِلفُ الفضول) یعني: د حقوقو د اخیستلو دپاره قسم، د مظلوم او د هغه د حقوقو د دفاع دپاره قسم، نو دغو درو نفرو په الله سره قسم یاد کړی چي هر مظلوم چي په مکه مکرمه کي وي که د اهلِ مکې څخه وي یا د بل ځای وي د هغه دفاع به کوو او د ظالم څخه به یې حق ور اخلو که څه هم دغه دفاع زموږ په وینو او زموږ په مرګ سره وي، خو د مظلوم حق به د توري په زور ورته راګرځوو او بیا یې اهلِ مکه سره یو ځای کړل ویل: څوک زموږ سره په دې قسم کي ملګري کیږي؟ د مکې مکرمې ډیر خلک د دوی سره په دغه قسم کي ملګري او یو ځای سوه چي د هغو د جملې څخه یو هم محمّد مصطفٰی ﷺ ؤ، البته دغه قصه د رسول الله ﷺ تر بعثت د مخه وه، بیا نو دغه نفر ټول سره یو ځای سوه توري او اسلحه یې واخیستل د عاص بن وائل کور ته ورغله او عاص بن وائل ته یې و ویل: موږ قسم کړی دی چي د هر مظلوم سره به مرسته او کومک کوو نو د دغه سړي حق ورکړه که یې نه ورکوې موږ دي وژنو.

دا هم مړانه، همت او غیرت ؤ، غواړي چي د مکې مکرمې د سردارانو او د دوی له قومه څخه یو نفر د ظلم د لیري کولو دپاره و وژني، عاص چي دا د دوی عزم او اجتماع ولیدل، د دوی اتحاد او اتفاق یې ولیدی، د دوی خبره یې قبوله کړه او د هغه یمني حق یې ورکړی.

دغه حلف یا قَسم په جاهلیت او اسلام کي دوام پیدا کړی او باقي پاته سو، رسول الله ﷺ په صحي حدیث کي فرمایي: «قَد دُعِیتُ فِی الجَاهِلیَةِ اِلی حِلفٍ لَو دُعِیتُ اِلَیهِ فِی الإسلَامِ لأَجَبتُ» یعني: د جاهلیت په عصر او زمانه کي یوه حِلف او اتفاق، یوه عهد او وعدې ته وبلل سوم، چي هغه داسي حِلف دی که چیري هغَه ته په اسلام کي بلل سوی وای هم به مي دغه بلنه او دعوت قبول کړي وای.

نو دغه حلفُ الفضول یوازي دا نه چي د هغه وخت په اسلام کي باقي پاته سو بلکه د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته هم پاته ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په وروسته کې بیا د یزید بن معاویه د خلافت په وخت کې د مدینې منورې والي چې ولید نومېدی د سیدنا حسین بن علي رضی الله عنه په یوه حق کې ظلم وکړی او د حسین رضی الله عنه حق یې نه ورکاوه، نو حسین رضی الله عنه ورته وویل: که ته زما حق را نه کړې زه به حلفِ الفضول ته ور ناري کړم، عبدالله بن زبیر رضی الله عنه هم په دغه وخت کې حاضر ؤ نو عبدالله رضی الله عنه وایي: که حسین رضی الله عنه حلفُ الفضول ته ناري کړي وای قسم په الله ما به خپله توره را ایستلې وای او تر هغو به مې پوښ ته نه وای اچولې چې یا مې د ده حق ور اخیستی وای یا زه وژل سوی وای، خو هغه د مدینې منورې والي د حضرت حسین رضی الله عنه حق د حلفُ الفضول د بیرې څخه ورکړی.

دغه ډول عهد او قَسم، اتحاد او اتفاق ډېر ښه کار دی، په داسې اتحاد کې لوی او مهم مقصدونه سته که نن ورځ اسلامي حکومتونه دغسې اتحادیو او اتفاقیو ته ور داخل سي چې په هغه کې د ضعیفه او مظلوم دفاع کیږي دا جائز او ښه کار دی حتّی که مظلوم د مسلمانانو څخه هم نه وي، ځکه د اسلام د اهدافو څخه یو هم د ظلم ایسته کول او نیستي کول دي، نو دغه حِلفُ الفضول په اسلام کې باقي پاته سو او رسول الله ﷺ هم په دغه حِلف کې اشتراک کړی دی.

پسله څه وخته یوه کوچنۍ واقعه پیښه سوه چې د رسول الله ﷺ ژوند ته یې تغیر ورکړی، هغه دا چې خدیجه بنت خوَیلِد رضی الله عنها چې د عبد العُزیٰ بن قُصَی بن کلاب د اولادې څخه وه او د رسول الله ﷺ سره په قصی بن کلاب کې یو ځای کیږي، یعني: دا هم د شریفه نسبه څخه وه، دغه خدیجه رضی الله عنها ډېره غني او مالداره ښځه وه د دې د غنا په باره کې داسې ویل کیږي: چې د دې تجارت د ټولو قریشو د تجارت سره برابر او مساوي ؤ، یعني: یوه طرف ته د ټولو قریشو تجارت او بل طرف ته یوازې د دې تجارت سره مساوي او برابر وه، څرنګه چې دا ښځه وه په خپله یې تجارت نه سوای کولای نو به یې څه کول؟ خپل مالونه به یې قِسم قِسم او مختلفو خلکو ته ورکول، چا ته په شراکت، چا ته په مزدوري، حتّی یوه نفر ته یې هم خپل ټول مال او دارایي په لاس نه ورکول ځکه دا ممکنه وه چې هغه څوک خیانت ور سره وکړي او ټول مالونه ځني غصب کړي، نو یې مختلفو خلکو ته څه، څه مالونه ورکول، بل دا چې دا ښځه وه د بازار د قېمتو معلومات هم نه ورته کېدی امکان یې درلودی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلک حقیقت ورته ونه وایي مالونه او پیسې ځني وخوري نو د غلا او خیانت د مخنیوي دپاره په أمین او صادقه خلکو پسي ګرځېدل.

کله چي دې د محمّد ﷺ د صدق او امانت تعریف او توصیف د هر چا څخه اورېدی او په عین حال کي د دې قریب هم ؤ نو یې د محمّد ﷺ څخه وغوښتل چي د دې د تجارت څه مالونه شام ته یوسي، رسول الله ﷺ هم موافق سو، قافله جوړه سوه او مالونه یې بار کړل، مَیسَره چي د خدیجې رضي الله عنها مریئ ؤ هغه یې هم په دغه سفر کي د رسول الله ﷺ ملګری کړی چي په لار کي به د محمّد ﷺ خدمت کوي، اوس نو محمّد ﷺ د میسره په ملګرتیا شام ته رهي سو، په لار کي میسره د محمّد ﷺ څخه عجیب او د عادته مخالف کارونه ولیدل.

اول او تر هر څه د مخه ادب او ښه اخلاق، میسره اصلاً مریئ دی او د خلکو دا عادت ؤ چي د مریانو سره به یې سخته او آمرانه ګذاره کول.

خو رسول الله ﷺ ده ته د یوه ملګري په سترګه ګوري د ادب او مهربانۍ ژوند ورسره کوي، نو میسره ډیر په تعجب کي پاته ؤ چي دا څنګه اخلاق دي!

تر دې وروسته یې نور شیان هم ولیدل، هغه دا چي دوی پرلاري رهي وي پر دوی لمر نه وي بلکه پر سر یې اوریځ وي، دوی د شام په لار کي بیا و هغي صومعې ته نژدې واړول کوم چي د مخه هغه بحیرا راهب پکښې ؤ خو دا وار بحیرا وفات سوی ؤ او بل راهب د بحیرا پر ځای درېدلی ؤ، کله چي دغه بل راهب دغه کوچنۍ قافله ولیدل چي فقط دوه نفره ورسره دي په تعجب کي سو، خیر قافلې واړول محمّد ﷺ ولاړی هلته ګوښه د قافلې څخه لیري یوه ونه وه تر هغې وُني لاندي کښېنستی، راهب ورته ګوري چي د وُني ښاخونه را کږېږي اُو پر رسول الله ﷺ سایه جوړوي، راهب میسره ته ورغلی او د هغه څخه پوښتني کوي چي دغه نفر څوک دی؟

میسره ویل: دا محمّد بن عبدالله دی، راهب د محمّد ﷺ د نسب پوښتنه وکړل او نوري پوښتني یې وکړې، میسره جوابونه ورته وایي، آخر میسره ورته و ویل: سړیه! ستا مقصد څه دی؟ راهب هغې وُني ته اشاره وکړه کومه چي محمّد ﷺ تر لاندي ناست ؤ او ویل: دغه اوس تر دغه ونه یا درختي لاندي بل څوک نه دی ناست بیله

(c) ketabton.com: The Digital Library


نبي، يعني: دغه نفر چې تر دغه ونه لاندې ناست دی نبي دی ټولې علامې يې د نبوت دي، ميسره نور هم په تعجب کې سو چې نبي او نبوت څه معنٰی؟ خير دوی شام ته ورسېدل او ميسره هلته نور هم د دهﷺ د اخلاقو په باره کې عجب شيان وليدل، د خلکو سره ادب او احترام، په بيع او شراء کې رشتيا ويل او امانت، رحم پر غريبانو، د خلکو سره خوش طبعي، غريبانو ته د دهﷺ ورکړه او عطاء او خلکو هم د معاملې يا رانيولو او خرڅولو دپاره دهﷺ ته رجوع کول.

د قريشو د تجارو دا عادت ؤ کله چې به يې خپل مالونه خرڅ کړل نو به را رهي سوه خو رسول اللهﷺ داسې و نه کړل، هغه خپل ور سره مالونه چې يې په شام کې خرڅ کړل د هغو مالو په قيمت يې د هغه ځای ښخه نور مالونه را نيول او مکې مکرمې ته يې راوړل يعني: د مکې مکرمې مالونه يې په شام کې په ګټه خرڅ کړل او د شام مالونه چې يې را وړل په مکه مکرمه کې يې په ګټه خرڅ کړل چې په دې حساب يې دوه واره ګټه وکړه، په نتيجه کې يې ښه او مناسبه ګټه خديجېؓ ته را وړل چې بل چا دومره ګټه نه وه ورته را وړې.

په تېر بيان کې مو ولېدل چې رسول اللهﷺ د غريبۍ په حالت کې ښکله ژوند کاوه او کله چې بيا غني او تاجر سو ښکله اخلاق او معامله يې وه، د مشرانو او سردارانو سره يې هم ژوند وکړی، په جنګ هم پوه سو ځکه دهﷺ په خپله اشتراک پکښې وکړی او اوس مو بيا وليدل چې په تجارت کې يې ښکله معامله وه، ټول هغه شيان چې د خلکو په ژوند پورې تعلق لري د هغو ټولو دوره او تجربه پر تېره سوه.

کله چې خديجېؓ دغه د ده ګټه او پوهې، صداقت او امانت، وليدل ډېره خوشاله سوه، بيا نو خديجېؓ د ميسره ښخه د محمّدﷺ د اخلاقو او معاملې پوښتنه وکړه، ميسره هم د اورېځې ښخه رانيولې بيا د راهب خبرې او د دهﷺ اخلاق، رحم، شفقت، عقل او په کاروبار پوهېدل ټول يو يو ورته بيان کړل، خديجهؓ هم د دهﷺ د اخلاقو او صداقت، د کار او امانت ښخه ډېره راضي وه.

په دغه وخت کې د محمّدﷺ عمر پنځه ويشت کاله ؤ
او د خديجېؓ عمر څلويښت کاله ؤ او کونډه هم وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د رسول الله ﷺ واده یا زواج

خدیجې رضي الله عنها تر دغه وخته دوه واره واده کړی ؤ او دواړه واره یې خاوند وفات سوی ؤ، څرنګه چې اوس یې د رسول الله ﷺ اخلاق او ادب، امانت او صداقت ډېر خوښ سوه نو یې إراده وکړه چې د ده ﷺ سره واده وکړي، تر دغه وخته چې به هر چا مرکه ورته وکړه (یعني د دې سره به یې د واده کولو غوښتنه وکړه) هغه ته به یې د (یا) جواب ورکاوه، حتّی د مکې مکرمې او د قریشو سردارانو مرکې ورته کولې او دې به منفي جواب ورکاوه ځکه دې رضي الله عنها د مخه دوه واره واده کړی ؤ او اوس یې نوره د واده کولو تقاضا او إراده نه درلودل، خو خلکو بیا مرکې په دې سبب ورته کولې چې یو خو خدیجه رضي الله عنها غني او مالداره وه، بل د عقل او جمال خاونده وه، پر دې سر بېره د شریف نسبه ښځه وه، ټول هغه اوصاف چې د هغه په سبب ښځه غوښتل کیږي په دې کي موجود او سره یو ځای سوي وه نو ځکه خلکو ډېر میل ورته کاوه مګر دې به همېشه انکار کاوه، خو کله چې یې د رسول الله ﷺ دغه ښه اخلاق او عالي صفات ولیدل نو یې د ده ﷺ سره د واده کولو إراده وکړه.

هلته د دې په ملګرو کي یوه ښځه وه چې نوم یې نفیسه ؤ دغه ښځه یې رسول الله ﷺ ته ور ولېږل چې د ده ﷺ سره د واده کولو په باره کي خبري وکړي، نفیسه هم رسول الله ﷺ ته ورغله او ورته ویې ویل: یا محمّد! ته ولي واده نه کوې؟

محمّد ﷺ ورته و ویل: مال نه لرم غریب یم.

نفیسې ورته و ویل: آیا د یوې داسي ښځي سره د واده کولو إراده لرې چې مال، جمال او نسب ولري او د دغو ټولو طرفو څخه پوره وي؟

رسول الله ﷺ و ویل: دا به څوک وي؟

نفیسې ویل: خدیجه بنت خُوَیلِد.

محمّد ﷺ و ویل: زما او د خدیجې یې سره څه، خدیجه د مکې و اشرافو او سردارانو ته منفي او د نه قبلولو جواب ورکوي نو په ما به څنګه راضي سي، نفیسې و ویل: هغه یې پرما هغه به زه راضي کړم ستا قبوله ده؟ رسول الله ﷺ ویل: هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو د دغه زِواج یا واده لاري چاري نفیسي سره مرتبي او برابري کړې او د نکاح ترړلو دپاره ورځ وټاکل سوه، په هغه معینه ورځ محمد ﷺ د خپلو اکا ګانو سره د خدیجې رضي الله عنها کور ته ورغلی د خدیجې د نکاح طلب یې د دې د پلاره څخه چي خویلد نومېدی وکړی او څوک وایي د دې د اکا څخه یې وکړی.

دغه دوه روایته دي مقصد دا چي نکاح وتړل سوه او د نکاح خطبه هم د رسول الله ﷺ اکا ابوطالب و ویل او دې نکاح تړلو ته ټول بني هاشم او د مُضر د قبیلې مشران او رئیسان حاضر سوي وه، د خدیجې رضي الله عنها مَهَر شل (دایِر) ؤ چي رسول الله ﷺ په خپله او د اکاګانو په مرسته برابر کړی او د خدیجې رضي الله عنها سره یې واده وکړی، دا نو هغه ډېر مشرف او مبارک زِواج یا واده ؤ او دغه واده د شام څخه تر بیرته را تګ دوې میاشتي وروسته ترتیب سو، بیانو د رسول الله ﷺ او خدیجې رضي الله عنها ګډ ژوند پنځه ویشت کاله دوام وکړی او په دغه پنځه ویشت کلو کي رسول الله ﷺ بل واده نه دی کړی، د رسول الله ﷺ په دغه پنځه ویشت کاله ژوند کي چي د ځوانۍ وخت او موسم یې هم ؤ په یوه واده سره قناعت کول پر هغو کسانو رَد دی چي پر رسول الله ﷺ د کثرتِ زِواج یا د ډېرو ودو تهمت وایي چي اصلاً دغه خبره د اسلام د دښمنانو څخه را پورته کېږي.

دلته د څه تبصرې ضرورت وینم هغه دا چي: هغه اول شئ چي انسان یې د دغه زواج یا واده څخه تر هر څه د مخه فهم او ادراک کولای سي هغه دا دی: چي رسول الله ﷺ د جسدي خوندو او نفساني خواهشاتو د پوره کولو په فکر او اهتمام کي نه ؤ، ځکه که دئ ﷺ لکه د هغه وخت یا اوسنۍ زمانې د نورو ځوانانو پر قسم د جسد د خواهشاتو د پوره کولو په فکر کي وای نو به یې د داسي چا سره واده کولای چي هغه څوک تر ده ﷺ په عمر لږ وای، یا لږ تر لږه د ده سره یې عمر برابر وای.

او دا چي رسول الله ﷺ د خدیجې رضي الله عنها سره د واده کولو میل ښکاره کړی د هغه څخه په ښکاره او واضحه ډول معلومېږي چي دغه میل او رُغبت د دې رضي الله عنها د شرف په سبب ؤ ځکه دا په خپل قوم او خاندان کي په ښو اخلاقو سره تر داسي اندازې مشهوره وه، چي د جاهلیت په زمانه کي د (العفیفه الطاهره) په نامه سره یادېدل او دغه واده د خدیجې رضي الله عنها تر وفاته پوري دوام درلودی چي د وفات په وخت کي د خدیجې رضي الله عنها عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library


پنځه شپېته کلو ته رسېدلی او د رسول الله ﷺ عمر پنځوسو کلو ته قريب ؤ، په دغه ټوله موده کي رسول الله ﷺ د بلي ښځي يا بلي پيغلي سره د واده کولو په فکر کي نه سو، حال دا چي د انسان د عمر د شل کلنۍ او پنځوس کلنۍ په منځ کي هغه وخت دی چي په دغه موده کي يې د ښځو د ډېرولو و طرف ته ميل او رُغبت زيات وي او د شهواني قوت د زيات والي په سبب يې د زوجاتو و تعدُد ته ميل وي، مګر رسول الله ﷺ د عمر دغه ټوله موده بېله دې ښځه تېره کړه چي د بلي ښځي يا واده په باره کي دي فقط فکر هم وکړي، د خديجې ﵂ سره يې نه بله ښځه او نه مينځه يو ځای کړل، حال دا که رسول الله ﷺ غوښتلای هم به يې بله زوجه پيدا کړې وای هم ډېري مينځياني او دا کار په هغه وخت کي نه د عادت او نه د رواجه څخه مخالف کارؤ بلکه ډېرو خلکو همداسي کول مګر رسول الله ﷺ يوازي د خديجې ﵂ سره په واده غاړه وايستل، حال دا چي هغه کونډه وه او هم تر رسول الله ﷺ تقريباً د ده د عمر په اندازه تر ده مشره وه، دا هغه حقيقت دی چي د دغه حقيقت په بيانولو سره د هغو کسانو خولو ته لُجام او قيزه وراچول کېږي چي د دوی زړونه د اسلام سره د حِقد او حسد په اور کي سوځي، ځيني مبشرين او مستشرقين او د دوی جاهل متابعين داسي ګمان کوي چي دوی د رسول الله ﷺ د زوجاتو د تعدد په سبب داسي موضوع پيدا کړې ده چي په هغه سره دي اسلام ته ضرر ورسوي، يا دي د رسول الله ﷺ په رسالت کي يوه خدشه پيدا کړي، دوی دا ګمان کوي چي د رسول الله ﷺ د زوجاتو د تعدّد په بيانولو سره دي رسول الله ﷺ د خلکو په نظر يو شهواني انسان ښکاره کړي چي په جسدي لَذّاتو کي غرق ؤ خو دا معلومه خبره ده چي مبشرين او اکثره مستشرقين د اسلام سرسخته دښمنان دي دا ځکه چي د دغه دين دښمني د دوی کِسب دی او په دغه دښمني سره ځان ته سرمايې پيدا کوي، مګر هغه جاهل خلک چي بيا د دوی تر شا رهي دي هغه فقط تقليدي د اسلام دښمني کوي، خپل فکرونه او عقلونه د بحث او فهم دپاره نه خلاصوي، که نه يو شهواني انسان! په داسي محيط کي لکه د هغه وخت د عربو او بيا د جاهليت په زمانه کي پنځه ويشت کاله پاک او عفيف نه ګرځي، خامخا يې د فساد يو موج ور کشوي، شهواني انسان دا نه قبلوي چي د کونډي سره دي واده

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړي، یوازې کونډه نه بلکه عمر دې یې هم د ده د عمر دوه چنده وې او بیا دې هم د هغې زوجې سره تر هغه وخته ژوند کوي چې حتّی عمر یې د ځوانۍ تر دورې تېر سو او د شیخوخت درجې ته ور داخل سو.

مګر دا چې بیا رسول الله ﷺ تر دغه وروسته د حضرت عائشې رضي الله عنها او د نورو زوجاتو سره واده کړی دی، هغه ودونه هر یو ځان ته قصه او ځان ته حکمت لري چې د رسول الله ﷺ پر عظمت د مسلمان ایمان ور زیاتوي او په دې سره اقرار کوي: چې د رسول الله ﷺ شان لوړ او اخلاق یې کامل وه، که رشتیا هم رسول الله ﷺ د ډېرو ودو سره علاقه درلودلای نو به یې په دغه ځواني کې یو بل واده هم کړی وای.

رسول الله ﷺ پر خدیجې رضي الله عنها بله ښځه نه کړه په تکاح که څه هم دا کونډه او تر ده ﷺ پنځلس کاله مشره وه او بیا د دې د وفات په وخت کې د رسول الله ﷺ عمر پنځوس کاله ؤ، نو معلومه خبره ده چې د رسول الله ﷺ د ودو سره علاقه نه وه، خو دا چې بیا په وروسته کې رسول الله ﷺ نور ودونه کړي دي د هغو دپاره لوړ اخلاقي او اسلامي سببونه سته، یا دا چې د خپلو اصحابِ کرامو څخه یې د یوه شخص د درجې اظهار کاوه، لکه د حضرتِ عائشې رضي الله عنها سره واده چې د حضرتِ ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه لور وه، یا د حضرتِ حفصه رضي الله عنها سره واده چې د حضرتِ عمرِ فاروق رضي الله عنه لور وه، چې په دې ودو کې د دوی مقام او درجه معلومېدل او لوړېدل، یا د اُم سلمه رضي الله عنها سره واده چې په دې واده کې د رسول الله ﷺ د وفات سوي ملګري او صاحب حتّی رضعي ورور د زوجې مراعت ؤ، که څه هم په دغه وخت کې ام سلمه رضي الله عنها سپین سرې او په عمر زیاته وه، نو که رسول الله ﷺ د ودو یا ښځو سره علاقه درلودلای خو یوه ځوانه ښځه به یې په تکاح کړې وای، یا! خبره د علاقې نه ده بلکه د ابو سلمه رضي الله عنه سره د وفاء په سبب او د اُم سلمه رضي الله عنها د رضائیت او د هغې د سرپرستۍ په سبب یې د هغې سره واده وکړی.

یا دا چې د ده ﷺ واده به د یوې پوره قبیلې د راجلبولو او جذبولو دپاره ؤ چې مثال یې د حضرتِ صفیه بنت حُیَی بن أخطب رضي الله عنها سره واده دی، او په دغه دوستي سره یې د ټولو یهودو هغه عداوت او دښمني چې د مسلمانانو سره یې درلودل تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېري اندازې لږ او کمه کړل، مقصد دا چې د رسول الله ﷺ د هر واده دپاره خاص خاص سببونه موجود وه چې په راتلونکو قصو کې به تر يوې اندازې را ته معلوم سي، نو د محمّد ﷺ په ودو کې نور لوی او عمده مقصدونه پراته وه نه په ښځو سره مشغوله کېدل، که چيري د دغو ودو څخه مقصد په ښځو سره اشتغال وای رسول الله ﷺ به هغه وخت ودونه کولای چې دئ ﷺ ځوان ؤ.

مقصد دا چې رسول الله ﷺ پر حضرت خديجې ﷺ د دې تر وفاته بله ښځه و نه غوښتل او الله جل جلاله رسول الله ﷺ ته د حضرت خديجې ﷺ څخه اولادونه ورکړل چې د هغې جملې څخه يو قاسم دی، قاسم د رسول الله ﷺ اول اولاد دی، ويل کيږي چې قاسم د دوو يا څلوروکلو ؤ چې وفات سو، خو صحي روايت دا دی چې قاسم لوی سو حتّی داسي اندازې ته ورسيدی چې پر آس سپرېدلای سوای، يعني: د اوو کلو په شا وخوا کې ؤ چې وفات سو، همدارنګه د خديجې ﷺ څخه د رسول الله ﷺ بل زوی عبدالله ؤ چې د دغه عبدالله يو لقب طاهر ؤ او بل لقب يې طيب ؤ، ځيني خلک په دې کې خطاوزي او وايي: د رسول الله ﷺ زامن: قاسم، عبدالله، طاهر او طيب دي، خو په حقيقت کې طاهر او طيب دواړه د دغه عبدالله لقبونه دي او عبدالله هم په کوچنيوالي وفات سو، قاسم د رسول الله ﷺ تر بعثت د مخه وفات سوی دی او عبدالله په کوچنيوالي پسله بعثته وفات سوی دی او د رسول الله ﷺ دريم زوی چې ابراهيم نومېدی د حضرتِ ماريه القبطي ﷺ څخه دی چې د هغه ولادت بيا وروسته په مدينه منوره کې ؤ، کله چې مقوقس د مصر پاچا و رسول الله ﷺ ته دغه ماريه ﷺ په هديه کې راوليږل او رسول الله ﷺ نکاح ور سره وکړه الله جل جلاله د هغې څخه زوی ورکړی چې نوم يې ابراهيم ؤ او ابراهيم هم د رِضاعت يعني: تي رودلو په وخت کې وفات سوی دی، د عمر يې دوه کاله نه وه پوره سوي چې وفات سو، په حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ فرمايي: ابراهيم لره په جنت کې دايي سته او ده ته هلته تئ ورکوي، دا د رسول الله ﷺ زامن وه چې دوه يې د حضرتِ خديجې ﷺ څخه وه، چې قاسم او عبدالله دي او يو زوی يې د ماريه القبطي ﷺ څخه ؤ چې ابراهيم دی، مګر د رسول الله ﷺ لوني: زينب، رُقيه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُم کُلثوم او فاطمه رضي الله عنهن دي چې ټولي لوی سوي دي او د اسلام وخت یې نیولی دی او ټولو هم ایمان راوړی دی او په اسلام مشرفه سوي دي او د رسول الله ﷺ ټولي لوڼي د حضرت خدیجې رضي الله عنها څخه دي.

اوس نو د رسول الله ﷺ وخت او ژوند تر واده کولو وروسته تر بعثته پوري چې پنځلس کاله دی په عادي ډول سره تېرېدی ځکه کله چې ده ﷺ واده وکړی عمر یې پنځه ویشت کاله ؤ او پر څلوېښتم کال وحیي ورته نازلي سوې، په دغو پنځلسو کلو کي څه عادي واقعې پېښي سوي دي چې د هغو واقعو د جملې څخه یوه واقعه د کعبې شریفي د بِناء او تعمیر نوی والی او بیا جوړول دي.

## د کعبې شریفي بیا جوړېدل

د کعبې شریفي په تعمیر کي چاکونه او درزونه پیدا سوه چې تاریخ وایي دغه درزونه د سیل او سېلاب په واسطه وه، اصلاً مکې مکرمې ډېر زیات او شدید سېلابونه درلودل ځکه غرنۍ او شیله لرونکې ځکه وه او دغه سېلابونه بیا خاصتاً د کعبې شریفي سره جمعه کېدل، نو د یوه شدید سېلاب په سبب د کعبې شریفي بناء او تعمیر که څه هم و نه نړېدی مګر ضعیفه سو او وښورېدی او د دې ډېر امکان ؤ چې ودي نړېږي ځکه د دېواله ډېري یې د خپله ځایه څخه ښورېدلي وې، دا یو روایت دی.

او بل روایت وایي: چې یوې ښځي کعبې شریفي ته خوشبویي دودول او غوښتل یې چې د کعبې شریفي پوښونه خوشبویه کړي خو په دغه حالت کي د کعبې شریفي پوښ اور واخیست او ټول پوښونه وسوځل سوه او د دغه اور په سبب د کعبې شریفي بِناء وښورېدل او د نړېدلو امکان یې ؤ.

د کعبې شریفي د دېوالو د ضعیفه کېدلو په باره کي دغه دوه روایته دي خو په هرحال دا واضحه وه چې ممکن کعبه شریفه ونړېږي او بېله دې څخه چې د کعبې شریفي بِناء نوې جوړه کړل سي بله چاره نه وه، نو د قریشو مشران او سرداران په دارالندوه کي سره را ټول سوه او پر دې یې اتفاق وکړی چې کعبه شریفه باید نوې او له سره څخه جوړه سي اوس په دې فکر کي سوه چې څنګه یې بیرته جوړه کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه د جوړېدلو دپاره ډبري په کار دي او د چت دپاره لوی لوی لرګي په کار دي او بل دوی د ډبرو په بِناء هم نه پوهېږي ځکه د دوی تولي بِناوي د ختو خخه جوړي سوي وې او په هغه ښه پوهېدل خو د ډبرو بِناء يې نه ده زده ځکه د کعبې شريفي هغه اوله او د مخنۍ بِناء ابراهيم علیه السلام جوړه کړې وه او هغه د شام ؤ او په شام کي د ډبرو بِناء معروفه او مشهوره وه خو اهلِ مکه د ډبرو په کار نه پوهېږي.

او بل د چت دپاره ډېرو اوږدو لرګيو يا تيرانو ته هم ضرورت لري او هغه هم د دوی سره نسته، اوس نو قريش په فکر او حيرت کي دي چي څه وکړي؟

سبحان الله! الٰهي کارونه دي په دغو ورځو کي خبر راغلی چي د جدې په سمندر کي يوه کښتۍ د ډبرو سره جنګېدلې او ماته سوې ده، د دغي کښتۍ لوی او اوږده لرګي د سمندر څپو ساحل يا د درياب غاړي ته را غورځولي دي او خلکو هغه لرګي د خرڅولو دپاره مکې مکرمې ته را وړي دي، قريشو وويل: دايې اوله آساني، اوږده لرګي په خپله را ورسېدل او څو ورځي وروسته د مکې مکرمې په بازار کي يو مريئ خرڅېدی چي نوم يې عامرُ القُدسي ؤ او د ډبرو بِناء او تعمير يې زده وه ويل: دا يې بله آسانتيا، اوس بَناء او مُعلّم هم پيدا سو چي د ډبرو بِناء را و ښيي چي کعبه شريفه بايد څنګه جوړه کړو، نو قريشو د مال په تولولو شروع وکړه چي د کعبې شريفي د بِناء او جوړېدلو دپاره پيسې تولي کړي مګر دلته يې د پيسو د تولولو دپاره پر خپلو ځانو شرطونه کښېښوول، ويل: دا د الله جَلَّ جَلَالُهُ کور دی دا نه ښايي چي موږ يې بيله پاک او حلال مال څخه په بل شي جوړ کړو، نو يې پاک مال معلوم کړی چي پاک مال څه شي دی؟ اول يې د زنا مال ځني وايستی، ويل: د زنا مال بايد نه سي پکښي داخل.

ځکه هغه وخت هم ځينو کسانو په زنا سره تجارت کاوه، يعني: مينځياني يې درلودې او په هغو به يې پيسې برابرولې نو قريشو وويل: هر هغه څوک چي مال يې د دغه قسمه څخه وي زموږ سره دي د دغه بِناء په کار کي حصه نه اخلي او بل بايد د ظلم مال نه سي پکښي داخل، د تجارو څخه چي هر څوک په ظلم سره مشهوره دی هغه به زموږ سره په دې کار کي حصه نه اخلي او بل د رِبا مال به څوک نه راوړي، رِبا و سُد ته ويل کيږي، که څه هم په دوی کي رِبا معمولي او رواجي کار ؤ او ډېري

(c) ketabton.com: The Digital Library


معاملې یې په رِبا سره کولې خو پوهېدل چې دا یو خبیث کار دی، د مخه تر دې چې اسلام سُد او رِبا حرام کړي دوی ته معلومه وه چې دا ښه کار نه دی مګر کاوه یې.

او بیا یې د مال په ټولولو شروع وکړه، په دغه وخت کې یې د کعبې شریفې د نړولو إراده هم وکړه، خو ټول قریش بیرېږي چې د کعبې شریفې په نړولو څنګه شروع وکړي، ځکه دوی ټولو د ابرهه قصه په خپلو سترګو لیدلې وه، هغه صرف د نړولو إراده کړې وه رب ﷻ څه په وکړه؟ او اوس دوی په خپله دا کار کوي، ډیر بېرېږي او د کعبې شریفې پر نړولو جرئت او اقدام نه سي کولای، هر یو و هغه بل ته وایي چې ته یې ونړوه خو ټولو د دې کار څخه انکار کاوه، دوی غواړي چې ویې نړوي مګر بېرېږي، په آخر کې ولید بن مغیره چې د خالد بن ولید پلار دی هغه و ویل: زه یې نړوم، نویې یُوم او کُلنګ را واخیستل او د هغه دېوال په نړولو یې شروع وکړه کوم چې د رُکنِ یماني او حجرِاسود په منځ کې دی په کُلنګ یې وهي او ډبري را لوېږي، هغه دېوال چې یې څه ونړاوه نویې پر دا نورو قریشو ږغ وکړی چې اوس نو مرسته را سره وکړی، هغه نور وایي: یا! تر سبا پوري درته ګورو چې په تا څه کیږي؟ که تر سبا پوري څه نه در وسوه نو بیا مرسته او کومک در سره کوو او که په تا یو څه وسوه موږ به دغه نړېدلې ډبري بیرته پرخپلو ځایو کښېږدو، پوره ورځ دغه نورو قریشو کار نه ور سره وکړی او د ده د حال انتظار کوي، خیر شپه تېره سوه او سبا سهاړ بیا ولید د خپلو اولادو سره راغلی کُلنګان ورځخه دي کار یې شروع کړی او نورو قریشو یې هم په مرسته کولو شروع وکړه خو په عین حال کې دعاوي هم کوي او وایي: الٰهي! زموږ إراده د خیر ده، موږ یې د دې دپاره نړوو چې بیرته یې جوړه کړو، د شَر إراده نه لرو، (*دغه ټولې خبرې د بیرې څخه کوي*) څو بالآخره یې کعبه شریفه ونړول، مګر د کعبې شریفې د هغه وخت بِناء او تعمیر داسې نه وُ لکه دغه اوسنی بِناء، د دغه څخه یې فرق درلودی، هغه دا چې دغه (حِجرِ اسماعیل) دغه ګول او ګردۍ ځای چې د کعبې شریفې بغل ته دېوال پر را ګرځېدلی دی او (حَطِیم) هم ورته ویل کیږي دا هم په کعبه شریفه کې داخل وُ، ټوله یوه خونه وه او بل کعبې شریفې دوې دروازې درلو دې چې یوه یې دغه اوسنی دروازه وه او یوه بله دروازه یې د دغې دروازې پر برابري په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مقابل طرف کې درلودل او دواړې دروازې يې کښته پر ځمکه وې او خلاصې به وې خلک به له يوه طرفه ور ننوتل او له هغه بله طرفه څخه به وتل، لکه څرنګه چې په بخاري شريف کې حديث دی چې رسول الله ﷺ د مکې مکرمې تر فتحه کولو وروسته حضرتِ عائشې رضي الله عنها ته فرمايي: يا عائشه! که چيرې ستا قوم يعنې: قريش د کفر وخت ته نژدې نه وای ما به کعبه نړولې وای او د ابراهيم عليه السلام پر اساس به مې جوړه کړې وای او دغه حِجر به مې پکښې داخل کړی وای او دوې دروازې به مې ورکړې وای چې د يوې څخه خلک ور ننوزي او پر هغه بله وزي، دا په صحيح البخاري کې د کعبې شريفې د پخوانۍ بِناء کومه چې ابراهيم عليه السلام جوړه کړې وه صفت او بيان دی.

اوس چې قريشو د کعبې شريفې په بِناء شروع وکړه هغه مال چې دوی را ټول کړی ؤ د کعبې شريفې د پوره جوړولو د پاره لږ ؤ، قريشو وويل: دومره به جوړه کړو چې په دغه را ټولو سوو پيسو جوړيدلای سي ځکه اوس د دوی د پاره دوې لارې وې چې د هغو څخه به يوه اختياروي، هغه داچې: يا به نورې پيسې ټولوي پر حلالو او حرامو به يې نه کيږي يا به کعبه شريفه د پيسو د نېستې والي په سبب کمه او ناقصه جوړوي، قريشو دغه دوهمه لار خوښه کړه، که څه هم دوی کولای سوای چې نورې پيسې ټولې کړي مګر هغه پيسې به د ظلم، ربا، يا داسې نور حرام مال څخه وای، نو يې دا ښه او بهتره وبلل چې کعبه شريفه به دومره جوړه کړو څومره چې په حلال مال جوړيږي، خو نجس او حرام مال به نه په ګډوو، پسله دغې فيصلې يې د ډبرو په ايسته کولو شروع وکړه، دغه د دېواله ډبرې ايسته کوي يوه طرف ته يې ايږدي.

کله چې د دېوالو د نړېدلو څخه فارغه سوه غواړي چې اساس او تاداو يې هم وکنې او د هغه تاداو څخه يې نوې جوړه کړي، نو يې تر دېواله لاندې حصه دننه په ځمکه کې هم وکندل، کله چې ځمکه څه کښته سوه، وې ليدل چې په ځمکه کې زرغونې ډبرې دي او دغه ډبرې د اوښانو د بوکو پر اندازه دي، يوه ډبره د بلې څنګ ته اوډل سوي پرتې دي، دوی ډير په تعجب کې سوه نو د دوی څخه يوه نفر دا إراده وکړه چې دغه ډبرې هم را وکاږي، کله چې يې کُلنګ تر يوه ډبره لاندې کړی او ډبره يې لږ را پورته کړه د ډبرې د کښته يا لاندې څخه يو شديد نُور او روښنايي را ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوه، دومره قوي رڼا وه چي قريبه وه دغه سړئ د دغي رڼا په سبب ړوند سي، ګُلنګ يې د لاسه ولوېدی او ډېره بيرته پر هغه خپل ځاي ولوېدل، قريشو چي دا حالت وليدی ويل: په زرغونو ډبرو کار مه لرئ پر دغو ډبرو دېوال پورته کړئ. نو يې شا و خوا تول دېوال تر دغه زرغونو ډبرو پوري ايسته کړی او د دغه زرغونو ډبرو څخه يې نوې بِناء شروع کړه، دېوال پورته سو ترڅو چي د حجر اسود حد او اندازې ته و رسېدی.

## د کعبې شريفي په نوې بناء کي د حجر اسود ايښوول

اوس د کعبې شريفي په بِناء کي حجر اُسود ايښوول کيږي او بيا نور دېوال پر پورته کيږي دلته د قريشو هر مشر غواړي چي حجراسود دئ پر دغه خپل ځای کښيږدي او حجر اسود خو در معلوم دی چي هغه مشرفه او مبارکه ډبره ده چي د کعبې شريفي په بِناء کي کار سوې ده، بلکه د مځکي پر مخ هغه ډيره مشرفه ډبره ده او د هغې په باره کي زموږ عقيده دا ده چي دا يوه ډبره ده چي نه ضرر رسوي او نه فايده، لکه څرنګه چي په حديث شريف کي راغلي دي وايي کله چي حضرتِ عمرِ فاروق رضي الله عنه راغلی او غوښتل يې چي حجر اسود مچ کړي نو يې په داسي لوړ آواز چي خلک يې واوري و ويل: والله زه پوهېږم چي ته ډبره يې نه فايده رسولای سې نه تاوان خو که ما رسول الله ﷺ نه وای ليدلی چي ته يې مچولې ما به نه وای مچ کړې، نو اوس هم موږ دغه ډبره مچوو، نه په دې سبب چي چا ته نفعه يا ضرر رسوي او نه په دغه ډبره کي د اُلوهيت او خدايي کوم شئ سته بلکه صرف د رسول الله ﷺ متابعت دی که هغه ﷺ نه وای مچ کړې موږ به هم نه مچولای، زموږ دپاره د حجراسود مچول سنت دي او رسول الله ﷺ ولي حجراسود مچ کړی؟ ځکه دا د جنت د ډبرو څخه يوه ډبره ده، دا خو مو مخ کي په تفصيل سره وويل: چي حجر اسود د ابراهيم عليه السلام او د کعبې شريفي دپاره له جنته را وړل سوا و دغه ډبره د مځکي د ډبرو څخه نه ده.

د حجر اسود قصه اوږده ده موږ يې مخ کي هم څه بيان درته کړی دی چي ابراهيم عليه السلام خپل زوی اسماعيل عليه السلام وليږی چي د دغه کُنج دپاره يوه مناسبه ډبره

(c) ketabton.com: The Digital Library


پیدا کړي، هغه ولاړی او وګرځېدی خو د خپلي خوښي یا ضرورت ډبره یې نه کړه پیدا بیرته چي راغلی د پلار سره یې دغه ډبره پرته وه، ویل: دا ډبره دي له کومه کړل؟ پلار یې و ویل: دا د الله جل جلاله له طرفه را ته راغله او په یوه روایت کي ویل کیږي چي حجر اسود په اول کي سپینه ډبره وه مګر په وروسته کي د انسانانو د ګنهو په سبب توره سوه.

د حجراسود په تاریخ او قصه کي دا هم راغلي دي: چي په مسلمانانو کي د قرامطه په نامه سره یوه ډله پیدا سوه چي د اسلام څخه منحرف او اوبښتي وه او دې ډلي د حجاز پر منطقه قدرت او تسلط پیدا کړی، دا چي دوی د اسلام څخه ډیر منحرف وه نو دوی قصد وکړی چي یوه بله کعبه جوړه کړي او رشتیا یې هم په حِجَر کي یوه بله بناء او خونه جوړه کړه چي اوس دغه حِجَر د أحساء په نامه سره یادیږي او څوک وایي بحرین دی او د دې دپاره چي خلک د حج او زیارت دپاره دغه د دوی کعبې ته ورسي نو یې دغه حجر اسود د کعبې شریفي څخه وکښی او حِجَر ته یې نقل کړی د هغه خپلي کعبې په بناء کي یې کښېښاوه او دغه حجر اسود د قرامطه په کعبه کي شپېته کاله پاته سو (په بل روایت کي وایي شل کاله پاته سو) ترڅو چي بیرته په واقعي مسلمانانو کي طاقت او قوت پیدا سو او حجر اسود یې بیرته د هغه ځای څخه را نقل کړی، مګر د قرامطه ډلي مات کړی او ټوټه ټوټه کړی ؤ، که چا حجر اسود لیدلی وي په هغه کي یوه ټوټه اصلي حجر اسود دی او نور په خپله حجر اسود نه دی بلکه د عقیق د ډبري اوړه دي چي د حجر اسود هغه کوچني ټوټې یې را ټولي کړي دي او دغه د عقیقو په اوړو کي یې د دې دپاره سره جمعه کړي او یو ځای کړي دي چي سره یو ځای سي، خو واقعي حجراسود فقط هغه یو تور داغ دی چي په دغه ځای کي معلومیږي، دغه کار چي حجر اسود یې مات کړی د قرامطه لعنة الله علیهم د ډلي په واسطه وسو. *(بیرته قصې ته راسی)*

کله چي قریش د کعبې شریفي په جوړولو کي د حجر اسود د ایښوولو ځای ته ورسېدل دلته نو د قریشو د مشرانو څخه هر یو غواړي چي دئ دغه ډبره پر هغه خپل ځای کښېږدي او دغه شرف یې په نصیب سي، ځکه د حجر اسود ایښوول داسي شرف او عزت دی چي په ټول ژوند کي د یوه وار دپاره دوی ته حاصلیږي، د حاجیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


سقایه یا رِفاده داسي شرف دی چي هر کال مکررېږي او په هر کال کي سته مګر د حجر اسود شرف په عمر کي د یوه وار دپاره دی، نو خود د قریشو هر ښاخ غواړي چي دغه د حجر اسود د ایښوولو شرف د دوی په نصیب سي نه غواړي چي هغه بل ښاخ یې کښېږدي، د قریشو په ښاخو کي د حجراسود پر ایښوولو مقابله او نزاع شروع سوه، د عبدالدار اولاده چي دکعبې شریفي د حِجابې یا پوښولو مسئول وه هغو و ویل: د کعبې شریفي پوښول زموږ وظیفه ده نو حجراسود هم په والله که بیله موږه بل څوک کښېږدي، د دغهِ قَسم د تائید او تاکید دپاره یې د وینو ډک لوښی را وړی او لاسونه یې په دغه وینو ولړل او بیا یې قسم وکړی چي حجر اسود به بېله موږه بل څوک نه کښېږدي مګر زموږ د وینو په تویولو سره، یعني: زموږ بې مرګه یې بل څوک نه سي ایښوولای، بني مخزوم چي دا حال ولیدی هغو هم د وینو ډک لوښی را وړی او لاسونه یې په ولړل او عیناً دغه قَسم یې یاد کړی، بني عدي بن کعب چي د حضرتِ عمر فاروق رضی الله عنه قوم دی هغو هم د وینو لوښی را وړی او عیناً دغه قَسم یې یاد کړی مسئله ډېره خطرناکه سوه قریبه ده چي دا فتنه اور واخلي او په خپله قریش سره و وژني، د قریشو هر ښاخ ځانونه د جنګ دپاره تیار او آماده کړي دي، ټولو قَسم کړی دی چي حجر اسود به بیله موږه بل څوک نه کښېږدي او نه یې ایښوولای سي.

دا د قریشو ژوند او حال ؤ، هره مسئله چي په هغه کي شرف او عزت وي دوی تیار او آماده دي چي د هغه شرف د حاصلولو دپاره خپل ځانونه قتل او قرباني کړي، کله چي نورو خلکو د پیسو دپاره، د ښځو دپاره، د دینار او درهم دپاره جنګونه کول خو د قریشو جنګ پر شرف او عزت ؤ، په دغه خطرناکه حالت کي د دوی په منځ کي یو هوښیار سړئ پیدا سو چي تر ټولو قریشو په عمر زیات ؤ، ویل کیږي چي په دغه وخت کي د ده عمر یو سل او شل کاله ؤ او د دغه سړي نوم ابو اُمیه بن مغیره ؤ، ابو اُمیه و ویل: اې قومه! خپل ځانونه پر څه بربادوی؟ که تاسي قریش په خپل منځ کي سره وجنګېږی نو د قریشو څخه به څوک پاته سي؟ تاسي د مکې سرداران یاست که تاسي یو د بله سره و وژنی مکه به څوک إداره کوي؟ آیا د مکې د إدارې دپاره به د دباندي څخه نور خلک راځي؟ (*کشکي زموږ وطنوال هم دغسي فکر وکړي*) خلکو هم د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبره قبوله کړه او وعده يې وکړه چې د درېيم په فيصله به قناعت کوو، بيا يې د ابوأميه څخه پوښتنه وکړه چې قاضي او فيصله کوونکی څوک وټاکو؟ ابو أميه وويل: ستاسي فيصله به هغه څوک درکوي کوم چې دغه د بني شيبه له دروازې څخه اول را داخل سو، يعني: کوم سړئ چې له دغي دروازې څخه اول حرم ته راغلی حُکم او فيصله هغه ته پرېږدی هر څه چې هغه نفر و ويل هغه به قبلوی، ټول قريش په دغه خبره راضي سوه او په انتظار دي چې څوک به له دغي دروازې څخه راسي.

الهي حکمت ته وګورئ: په دغه وخت کي خير البشر سرورکائنات اشرف المخلوقات محمّد مصطفٰی ﷺ د بني شيبه د دروازې څخه حَرم ته ور داخل سو، ټولو نارې کړې: (الصّادق الأمين) راضي يو، راضي يو، يعني: دا څومره ښه کار وسو چې صادق الأمين راغلی هو موږ ټوله د ده په حکم او فيصله خوښ او راضي يو.

اوس نو يو لوی عقل په کار دی چې دغه فتنه پای ته و رسوي، عقل او حکمت، دانايي او هوښياري په کار دي چې د خلکو له منځه خصومت او عداوت پورته کړي، په دغه مسئله کي حکم کول آسانه کار نه دی، د دغه قاضي هره خطا امکان لري چې د قريشو د جنګ او تباهی سبب وګرځي، دلته بايد سړئ له حکمته کار واخلي او تاسي د رسول الله ﷺ لوی حکمت ته وګورئ، کله چې رسول الله ﷺ ته حال و ويل سو او د دوی د نزاع سبب خو مخ کي ورته معلوم ؤ نو يې خپل مبارک پټو د اوږو څخه ايسته کړی او د کعبې شريفي څخه يې ليري پر مځکه آوار کړی حجرِ اسود يې په خپلو مبارکو لاسو پر دغه پټو کښېښاوه بيا يې د قريشو رئيسانو ته ور بغ کړه ويل: اوس نو په ټولو دغه پټو در پورته کړئ، په دې پورته کولو کي د قريشو د هر ښاخ مشر حصه واخيستل او حجر اسود چې د کعبې شريفي څخه ليري پروت ؤ هغه خپل ځای ته يې ورساوه، د قريشو د مشرانو څخه هر يوه دا فکر کاوه چې ما يو څه وکړه، بيا نو په خپله رسول الله ﷺ حجر اسود د هغه پټو څخه واخيستی او د کعبې شريفي په بِناء کي يې په خپلو مبارکو لاسو پر هغه خپل ځای کښېښاوه.

اوس نو هغه څوک چې حجراسود يې پردغه ځای کښېښاوه هغه سرورکائنات محمّد مصطفٰی ﷺ ؤ او د ده ﷺ په حِکمت سره هغه د اور لګېدلو پُليته ايسته سوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


قریش په داسي ډول د قتل او قتال څخه وساتل سوه چي هر یو خوشاله ؤ، دا هغه مهمه واقعه وه چي د محمّد ﷺ په ژوند کي تر واده کولو وروسته او تر بعثت د مخه پېښه سوې ده چي په دغه وختو کي د رسول الله ﷺ عمر پنځه دیرش کاله ؤ، نور نو رسول الله ﷺ په عادي ډول سره ژوند کاوه او کومه خاصه واقعه نه ده پېښه سوې.

*اوس به د کعبې شریفي د بناء او جوړېدلو څه تاریخ درته بیان سي:*

کعبه شریفه په ټول تاریخ او زمانه کي په یقیني ډول سره فقط څلور واره جوړه سوې ده او تردغه څلور واره په د مخه جوړېدلو کي یې د علماء کرامو شک او اختلاف سته، خو اول وار جوړېدل یې هغه دي چي ابراهیم علیه السلام د خپل زوی اسماعیل علیه السلام په مرسته او ملګرتیا جوړه کړه چي دغه جوړېدل د الله عزوجل د امر پر ځای کول وه او دغه جوړېدل یې په قرآن مجید او صحي احادیثو سره ثابت دي، الله عزوجل فرمایي:

﴿ وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَـٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾ ﴾. [البقره: ۱۲۷]

ژباړه: اې محمّده ﷺ هغه وخت یاد کړه چي ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام د کعبې شریفي تاداوونه او بنسټونه پورته کړل او دواړو به ویل: اې زموږ ربه ته دغه کار زموږ څخه قبول کړه، بېشکه چي ته ښه اورېدونکی او ښه پوهېدونکی یې.

یعني: الٰهي! ته دغه د کعبې شریفي جوړول زموږ څخه قبول کړه او ته د ټولو دعاوي اورې او د ټولو په نیتو پوهېږې، په دغه باره کي صحي احادیث هم خورا ډېر دي چي په را نقلولو سره یې بحث اوږدېږي او د دغي اولني بناء په باره کي د تاریخ کتابونه او علماء کرام وایي: د ابراهیم علیه السلام د کعبې شریفي د دېوالو لوړ والی (۹) ذراعه ؤ او اوږد والی یې (۳۰) ذراعه ؤ او د کعبې شریفي بر یا عرض (۲۲) ذراعه ؤ او بله چته وه یعني: چت او بام یې نه درلودی.

او د کعبې شریفي دوهم وار جوړول دغه دي چي قریشو تر بعثت او اسلام د مخه جوړه کړه او د دغه وار په جوړولو کي رسول الله ﷺ هم اشتراک کړی دی او په دې وار کي یې د کعبې شریفي د دېوالو لوړ والی (۱۸) ذراعه کړی خو د اوږد واله څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې (٦) ذراعه او د ذراع څه حصه د مال د کمبودۍ په سبب پرېښوول چي دا هغه ځای دی چي (حِجَر) یا (حَطِیم) ورته ویل کیږي او د کعبې شریفي شمالي طرف ته دی او د کعبې شریفي دروازه یې د مځکي څخه لوړه کړه، دا هم د دې دپاره چي بېله اجازې څخه د قریشو څوک دننه ورنه سي.

په دغه باره کي رسول الله ﷺ د مکې مکرمې تر فتحي وروسته حضرت عائشې رضي الله عنها ته فرمایي: یا عائشه! که ستا قوم یعني: قریش د جاهلیت وختو ته نژدې نه وای ما به د کعبې شریفي د نړولو امر کړی وای، خو په نوي جوړولو کي به مي هغه حصه پکښې داخله کړې وای کومه چي ځني ایستل سوې ده او د مځکي سره به مي برابره کړې وای، یعني: د کعبې شریفي دننه مځکه به مي دومره کښته کړې وای چي د مځکي سره برابره وای او یوه دروازه به مي د شرق طرف ته ورکړې وای او بله د غرب طرف ته، نو به دغه جوړ والی هغه د ابراهیم علیه السلام پر اساس وای.

او د کعبې شریفي دریم وار جوړېدل هغه دي: کله چي کعبه شریفه د یزید بن معاویه په زمانه کي د ده د لښکرو له طرفه وسوځل سوه،

چي د هغې واقعې خُلاصه داسي ده: د (٣٦) سنې په آخر کي د یزید لښکرو د (حُصین ابن نُمَیر السکوني) په قومنداني عبدالله ابن زُبیر رضي الله عنه چي د مسلمانانو خلیفه او امیرالمؤمنین ؤ د یزید په امر په مکه مکرمه کي محاصره کړی او بیا یې کعبه شریفه په منجنیق و ویشتل، کعبه شریفه د دغه ویشتلو په سبب ونړېده، عبدالله بن زُبیر رضي الله عنه د حج تر موسمه انتظار وکړی څو چي له هره ځایه خلک د حج کولو دپاره راغله او عبدالله بن زُبیر رضي الله عنه مشوره ور سره وکړه ویل: اې خلکو! ما ته د کعبې شریفي په باره کي مشوره راکړی، توله و نړوم او بیرته یې له سره جوړه کړم؟ که یې دغه نړېدلي ځایونه ور ترمیم کړم؟ عبدالله ابن عبّاس رضي الله عنه و ویل: زما نظر دا دی چي نړېدلي ځایونه یې په دغه خپلو ډبرو ور جوړ کړې او نوره کعبه شریفه پر خپل حال پرېږدې ځکه دا هغه کعبه ده چي خلک پر دې مسلمانان سوي دي او دا هغه ډبري دي چي خلک پر هغو مسلمانان سوي دي، یعني: هر څه دي پر خپل حال پاته وي فقط نړېدلي ځایونه یې ور جوړ کړه، عبدالله بن زُبیر رضي الله عنه و ویل: که ستاسي څخه د هر چا کور نړېدلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوځېدلی وای تر هغو نه راضي کېدی چې کور يې بيرته له سره نه وای جوړ سوی، نو د خپل رب عزوجل د کور په باره کې څنګه فکر کوی؟ عبدالله بن زُبير رضي الله عنه و ويل: زه له خپله ربه څخه درې ورځې استخاره کوم بيا پر هغه کار اقدام کوم يا هغه کار کوم چې خير پکښې و وينم، پسله درو ورځو يې د کعبې شريفې په نړولو شروع وکړه ترڅو تر مځکې يې ورسول او بيا يې شا و خوا پَردې پر را وګرځولې او د کعبې شريفې په نوې بِناء يې شروع وکړه او هغه شپږ ذراعه خالي مځکه چې د حِجَر په نامه دغسې پرېښوول سوې وه هغه يې هم پکښې داخله کړه او د کعبې شريفې د دېوالو په لوړ واله يا جګواله کې يې تر پخوا لس ذراعه نور هم زيات کړل او دوې دروازې يې ورکړې چې پر يوه دروازه به خلک ورننوتل او پر هغه بله به وتل، خو دغه زياتوب يا تغيرات يې د هغه حديث شريف په جرئت سره وکړل کوم چې حضرتِ عائشې رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روايت کړي دی او د مخه درته بيان سو.

د کعبې شريفې څلورم وار بناء يا جوړول هغه دي چې د عبدالله بن زبير رضي الله عنه تر شهادت وروسته وسوه، چې واقعه يې امام مسلم رحمه الله د عطاء رضي الله عنه څخه روايتوي او وايي:

کله چې عبدالله بن زبير رضي الله عنه د حجاج بن يوسف الثقفي له طرفه شهيد کړل سو او په دغه جنګ کې د حجاج له طرفه کعبه شريفه په منجنيق ونړول سوه، نو حجاج بن يوسف و عبد الملک بن مروان ته چې د وخت خليفه وُ د عبدالله بن زبير رضي الله عنه د وژلو خبر او دا و ليکل: چې ابن زبير کعبه شريفه د اهلِ مکې له نظره مخالفه جوړه کړې ده، عبدالملک بن مروان ورته وليکل: موږ د ابن زُبير د کارو د مخالفت إراده نه لرو، کوم چې په لوړ واله کې يې زياتوب کړی دی پر هغه اندازه يې جوړه کړه، مګر دا چې حِجَر يې د کعبې شريفې په بناء کې داخل کړی دی بيرته يې ځني وباسه پر پخواني شکل يې کړه او دغه دوهمه دروازه چې يې ورکړې ده هغه هم بنده کړه، نو بيا کعبه شريفه ونړول سوه او بيرته د قريشو پر هغه پخواني شکل جوړه سوه.

د تاريخ په کتابو کې ذکرسوي دي: کله چې رشيد هغه چې د عبّاسي خُلفاوو څخه دی خليفه سو نو يې دا إراده وکړه چې کعبه شريفه ونړوي او بيرته يې د عبدالله بن زبير رضي الله عنه د بناء پر قسم جوړه کړي، مګر امام مالک بن انس رحمه الله ورته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


يا اميرَالمؤمنين! د الله روی ته وګوره کعبه شريفه د وروستنيو پاچهانو د لاس لوبه مه ګرځوه (يعني: د هر چا چي إراده سوه چي تغير پکښي را ولي، را ولي به يې) او په دې ډول د کعبې شريفي هيبت د خلکو د زړو څخه پورته کيږي، نو رشيد هم د خپلي رأيي څخه واوښت او د کعبې شريفي نړول او جوړول يې پرېښوول.

داهغه څلور واره وه چي په يقيني ډول سره کعبه شريفه جوړه سوې ده.

مګر پنځم وار جوړېدل يې هغه دي چي په هغه کي شک او اختلاف سته او دا هغه جوړول دي چي د ابراهيم عليه السلام تر جوړولو د مخه دي چي آيا د ابراهيم عليه السلام ترجوړولو د مخه هم کعبه شريفه جوړه سوې ده که يا؟ په ځينو آثارو او رواياتو کي راغلي دي چي اوڵ هغه څوک چي کعبه شريفه يې جوړه کړې ده هغه آدم عليه السلام ؤ او د دغه جوړيدلو دپاره دليل هغه حديث شريف دی چي امام بيهقي يې د عبدالله بن عَمرو رضي الله عنه څخه روايتوي، عبدالله بن عَمرو رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ و فرمايل: الله عزوجل و آدم او حواء عليهما السلام ته و فرمايل: زما دپاره کور جوړ کړی او جبريل عليه السلام دکعبې شريفي خط او نقشه ور واچول، نو آدم عليه السلام مځکه کِندل او حواء عليها السلام يې خاوري او ډېري نقلولې، ترڅو چي اوبو ته و رسېدل، دکښته څخه ږغ پر وسو: يا آدم! بسته او بيا چي يې کعبه شريفه جوړه کړه د الله عزوجل له طرفه وحي ورته وسوې چي طواف پر وکړی او ورته و ويل سوه: ته اول انسان يې او دا اول بيت دی، بيا نو وختونه تېرېدل ترڅو چي نوح عليه السلام دکعبې شريفي حج وکړی، بيا وختونه او قرنونه تېر سوه څو چي ابراهيم عليه السلام يې دوهم وار دېوالونه پورته کړل.

خو امام بيهقي د حديث شريف په آخر کي وايي: د دغه حديث په اِسناد کي يوازي ابن لَهيعه سته او ابن لهيعه ضعيفه دی په ده سره حجت او دليل نه سيِ ويل کېدلای.

او هلته نور روايات هم سته چي په معنٰی کي دغه د بيهقي و روايت ته نژدې دي خو هغه ټول روايتونه له ضعفه خالي نه دي.

داسي يو روايت هم سته چي وايي: اول هغه څوک چي کعبه شريفه يې جوړه کړې ده شيث بن آدم عليه السلام ؤ، اوس نو که دغه ضعيفه روايتو ته اعتبار ورکړل سي نو کعبه شريفه په ټول تاريخ او زمانه کي پنځه واره جوړه سوې ده، خو ښه او بهتره خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ده: چي پر هغه اعتماد وکړو چي په يقين سره ثابت دي، هغه دا چي کعبه شريفه څلور واره جوړه سوې ده لکه د مخه چي په وضاحت سره بيان سوه او بيله دغه څلور واره جوړېدلو څخه به يې علم الله ﷻ ته پرېږدو. هو په وروستنيو مختلفو وختونو کي څو ځلي د کعبې شريفي د تعمير قسمِ قسم ترميمات او اصلاحات سوي دي.

## د رسول الله ﷺ خلوت او تنهايي خوښېدل

څه موده وروسته او تر بعثت درې کاله د مخه رسول الله ﷺ د خلکو د بياندني ژوند څخه په تنګ ؤ، هلته فسق او فساد، فجور او د بتانو عبادت ؤ نو خود د رسول الله ﷺ او د ده د قوم په منځ کي ډېر فرق او ليري والی موجود ؤ، ځکه نو رسول الله ﷺ ته تنهايي او فکر کول او د الله ﷻ عبادت ډېر خوښ وګرځېدل، دا يې عادت ؤ چي څه موده ترمنځ به د څو ورځو او شپو دپاره غارِ حراء ته تلی (غارِ حراء په جبل نور کي يو کوچنۍ غار دی) د غرو ځيني غارونه ډېر لوی وي مګر غار حراء کوچنۍ غار دی چي فقط يو يا دوه نفره پکښي ځايېږي او د غره په لوړه حصه کي دی چي څوک بېله تکليفه او ستړيا څخه نه سي ورختلای، رسول الله ﷺ دغه ليري او ګوښه غار د خپل خلوت او تنهايي دپاره انتخاب کړی ؤ ځکه د ده ﷺ نه وه خوښه چي بل څوک ور سره ملګری وي او مقصد يې هم يوازي والی او د الله ﷻ عبادت ؤ چي په دغه تنهايي کي به يې د کون په موجوداتو کي فکر کاوه او په دې کي به يې فکر کاوه چي د دې کون تر شا يو إداره کوونکی قدرت سته او رسول الله ﷺ په هغه څه نه ؤ راضي چي د ده ﷺ قوم د هغه عقيده درلودل چي هغه شرک او باطل افکار وه، خو بيا هم رسول الله ﷺ ته يوه واضحه لار او معين شريعت نه ؤ ور معلوم چي په هغه سره مطمئن او راضي وي.

د رسول الله ﷺ دغه تنهايي اختيارول د الله جل جلاله په إراده سره وه چي د رسالت و لوی امانت ته آماده سي او په هغه رسالت سره د مځکي په مخ کي تغير را ولي، رسول الله ﷺ ته تر بعثت درې کاله د مخه دغه تنهايي خوښه وګرځېدل او دغه کوچنۍ غار يې د خپل فکر او عبادت دپاره خلوت ګاه وګرځول او دغه کوچنۍ غار!

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوې خولې لري چې په يوه ورننوزي او بله خوله يې د کعبې شريفې طرف ته ده (لکه يو کلکين داسې ده) او د هغې خولې څخه کعبه شريفه معلومېږي.

نو کوم ځوک چې غارِ حراء ته داخل سي کولای سي چې د دغه غار د داخل څخه کعبه شريفه و ويني، سبحان الله! دغه غار چې د کعبې شريفې څخه درې ميله ليرې دی او د غره په ډېره لوړه حصه کې دی چې تقريبًا په يوه نيم ساعت کې ځوک ورختلای سي، نو تاسې فکر وکړی چې رسول الله ﷺ به څومره ګرځېدلی وي چې د ځان او عبادت کولو دپاره دې دغسې ليرې او ګوښه ځای پيدا کړي چې د هغه ځای څخه دې کعبه شريفه هم معلومېږي.

رسول الله ﷺ به په دغه غار کې د تَفَکُر عبادت کاوه او کعبې شريفې ته به يې کتل، هر وخت به دغه غار ته د څو ورځو او شپو دپاره ورتلی او دا يې خوښه وه چې د رمضان په مياشت کې هلته ډېر واوسېږي، خو په هغه کال چې تر بعثت د مخه ؤ رسول الله ﷺ په دغه غار کې پوره يوه مياشت تېره کړه، په پخوا کې به پوره يوه مياشت هلته نه پاته کېدی مګر د بعثت په کال پوره يوه مياشت هلته پاته سو ځکه د الله جل جلاله عبادت ډېر خوښ ورته ګرځېدلی ؤ، هو! يو وخت به د خوړو يا اوبو را وړلو دپاره، يا د کور د خبر اخيستلو دپاره را کښته سو خو بيرته به هغه غره او هغه غار ته ولاړ.

په دغه آخري کال چې تر بعثت د مخه کال ؤ رسول الله ﷺ چې به پرلار رهي ؤ يا دغه غار ته به تلی يو آواز به يې اورېدی چې ويل کېدل به: السّلام عليکَ يا رسولَ الله! او ده ﷺ به شا وخوا وکتل هيڅوک به يې نه ليدل، په حيرت او فکر کې به سو چې دا څه آوازونه دي، رسول الله ﷺ فرمايي: چې بيا مې د وحيو تر نزول وروسته د جبريل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چې يا جبريل! تر بعثت د مخه چې به پرلارې تلم اورېدل به مې چې يو ځوک راته وايي: السّلام عليکَ يا رسولَ الله! ما به شا وخوا وکتل ځوک به نه وه، دغه رِږغ چا کاوه؟ او دا ځوک وه؟

جبريل عليه السلام و ويل: يا رسولَ الله! دغه وُنو او ډبرو سلام درباندې وايه.

محترمه وروره او خوري! آيا نن ورځ پر رسول الله ﷺ درود ويل د ځان سعادت او خوشبختي نه بولې؟ رسول الله ﷺ چې په الٰهي دربار کې کوم لوړ مقام او عزت

(c) ketabton.com: The Digital Library


لري زما او ستا درود ويلو ته ضرورت نه لري، الله جل جلاله او په آسمانو کي ملائکې، په هوا کي مرغان، په دښتو کي حيوانات، په اوبو کي ماهيان حتّی وُني او ډبري درود او سلام پر وايي، خو زما او ستا دپاره درود ويل هغه شئ دي چي ګټه او فايده يې موږ ته را رسيږي، د رسول الله ﷺ سره زموږ محبت په زياتيږي، د متابعت شوق يې را پکښي پيدا کيږي، درود ويل زموږ د ښه او بختور ژوند سبب ګرځي، حتّی د درود ويلو په برکت به مو إن شاء الله تعالی د رسول الله ﷺ شفاعت هم په نصيب سي.

نو وروره! په خپل ژوند کي درود ويل ډير کړه او د ځان عادت يې وګرځوه، نتيجه به يې په يقيني ډول سره په دنيا اوآخرت کي و وينې.

## دوحيو نازلېدل

کله چي د رسول الله ﷺ د عمر خلويښت کاله پوره سوه د رسول الله ﷺ د ژوند په آفاقو کي د نبوت آثار او علامې ښکاره سوې، چي د هغو علامو څخه يو هم رشتيا خوب ؤ، رسول الله ﷺ به هيڅ خوب نه ليدی مګر هغه کار به عيناً په هغه شکل سره وسو چي په خوب کي به يې ليدلی ؤ، امام المحدثين امام بخاري رحمه الله د أم المؤمنين حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي چي فرمايي:

اول هغه شئ چي په هغه سره رسول الله ﷺ ته وحي شروع سوې هغه الرؤيا الصّالحه الصّادقه وه، يعني: صالحه او صادقه خوب ؤ، هيڅ خوب به يې نه ليدی مګر هغه به داسي پيښن او واقع سو لکه روښانه سهار، نو رشتيا خوب د نبوت د علامو او حصو څخه دی، خو پر دغه کيفيت شپږ مياشتي تيري سوې.

تاسي ته معلومه ده چي د نبوت ټوله موده او زمانه درويشت کاله ده، نو دغه صادقه خوب د نبوت شپږ خلويښتم جز دی او الله جل جلاله يې هغه چا ته ورکوي چي د ده جل جلاله خوښه وي، کله چي په غار حراء کي د رسول الله ﷺ د خلوت او تنهائی دريم کال او د رمضان المبارک مياشت وه د الله جل جلاله دا خوښه او إراده سوه چي د مځکي پر خلکو خپل رحمت نازل کړي او رسول الله ﷺ په نبوت او رسالت سره مکرم کړي، څو هغه معينه ورځ راغله چي يوازي د مسلمانانو تاريخ ته نه بلکه د بشر

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاریخ ته او د ټولي مځکي د مخ تاریخ ته یې تغیر ورکړی، که موږ دغي ورځي ته فکر او حساب وکړو په دلائلو او قرائنو سره دا ممکنه ده چي دغه مبارکه ورځ معلومه او معینه کړو، دغه ورځ د دوشنبې ورځ او د روژې د میاشتي یو ویشتم تاریخ ؤ چي دا د (٦١٠) میلادي کال د اګست د میاشتي لسمه ورځ وه او د رسول الله ﷺ عمر په دغه وخت کي په قمري حساب سره پوره څلوېښت کاله شپږ میاشتي او دوولس ورځي ؤ او په شمسي حساب سره نه دیرش کاله درې میاشتي او دوه ویشت ورځي ؤ، دغه د دوشنبې ورځ د بعثت او رسالت اوله ورځ ده، رسول الله ﷺ فرمایي: زه په غار حراء کي ناست وم چي ناڅاپه (دفعتاً) یو سړی را ته راغلی.

دغه سړی جبریل علیه السلام ؤ او د یوه انسان په شکل او قیافه ورته راغلی نه د ملائکې په شکل، نو رسول الله ﷺ فرمایي: ناڅاپه یو سړی راغلی چي سپین کالي یې اغوستي وه او د ده سره د دېباج یو لوښی یا ټوکر ور سره ؤ (دېباج ورېښمین ټوکر دی) او په هغه کي یو کتاب ؤ، څرنګه چي دغه نفر په یوه وار او ناڅاپه را ښکاره سو وې بېرولم (بې رڼغه، بې خبره په نیمه شپه توره تاریکه او په غره کي ناڅاپه او یو دم سړی پیدا سو) سړی را نژدې سو کتاب یې را ته ونیوی او ویل: یا محمّد! إقرأ، اې محمّده! و وایه، رسول الله ﷺ د بیري په حالت کي ورته و ویل: زه ویونکی نه یم (یعني: لیک او لوست مي نه دي زده) نه شئ ویلای سم او نه یې لیکلای سم.

تاسي ته معلومه ده چي رسول الله ﷺ اُمّي ؤ، ویل او لیکل یې نه وه زده، که چیري د ده ﷺ ویل او نوشته کول زده وای کفارو به دا تهمت پر ویلای چي دا قرآن تا جوړ کړی او لیکلی دی، خو اوس د ده ﷺ قوم او ټولو قریشو ته دا معلومه وه چي محمّد ﷺ اُمّي دی.

نو رسول الله ﷺ فرمایي: دغه سړي زه په غېږ کي ونیولم او کښې یې کښېم، قریبه وه چي د دغه کښېکښلو سره مي روح وتلی وای، د رسول الله ﷺ بېره نوره هم زیاته سوه او دغه نفر بیا را ته و ویل: یا محمّد! إقرأ، رسول الله ﷺ بیا ورته و ویل: زه ویونکی نه یم، وایي: بیا یې زه په غېږ کي ونیولم او کښې یې کښېم او وې ویل: یا محمّد! إقرأ، د دریېم وار دپاره محمّد ﷺ و ویل: زه ویونکی نه یم، نو وایي: دریېم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وار یې بیا دومره په قوت سره کښېکښېنم قریبه وه چې نفس مې وخېژي او بیا یې و ویل: یا محمّد! و وایه، رسول الله ﷺ ورته و ویل: څه شي و وایم؟ جبریل علیه السلام و ویل:

﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝٢ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ۝٣ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝٥﴾. [العلق]

فقط د سورةُ العلق دغه اولنۍ پنځه آیاته یې ور ته تلاوت کړه، دغه پنځه آیاته هغه اولنۍ آیاتونه دي چې د آسمان څخه په لیلة القدر کې نازل سوي دي الله عزّوجلّ فرمایي:

﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ۝١﴾.

یعني: موږ دغه قرآن مجید په لیلة القدر کې نازل کړی دی.

او د روژې په میاشت کې نازل سوی دي، ځکه بیا هم الله جلّ جلاله فرمایي:

﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾. [بقره: ۱۸۵]

د روژې میاشت هغه میاشت ده چې په هغه کې قرآن مجید نازل کړل سوی دی.

رسول الله ﷺ فرمایي: کله چې مې دغه آیاتونه و ویل، دغه سړی غائب سو او ولاړی، رسول الله ﷺ ډېر زیات په بېره کې ؤ چې دا څه کیفیت او حالت دی؟ په دغه وخت کې د رسول الله ﷺ صادقه او مخلصه زوجه حضرتِ خدیجه رضي الله عنها چې هلته په خپل کور کې وه، په زړه کې یې ور و ګرځېدل: چې محمّد ﷺ ته یو څه ور پېښه سوې ده، نو یې خپل یو مریئ غار حراء ته ولېږی چې ولاړ سه وګوره چې محمّد ﷺ ته څه پېښه ده؟ ځکه دې ته معلومه وه چې رسول الله ﷺ هلته دی، دلته بیا رسول الله ﷺ د غار حراء څخه را وتلی دی او په ډېر تلوار د کور و طرف ته رهي دی، د ډېرې بیرې په سبب د ځغستا پر قِسم په تلوار او چابکۍ سره د کور پر طرف رهي دی، مریئ چې غار ته راغلی وې لیدل چې رسول الله ﷺ نسته نو مریئ دې خوا ها خوا ته د رسول الله ﷺ په پلټنه او پیدا کولو مشغول سو او رسول الله ﷺ د مکې مکرمې پر طرف په تلوار رهي دی، رسول الله ﷺ د بیرې او خوف په حالت کې خپل کور ته ولاړ، خدیجې رضي الله عنها چې دئ ﷺ ولیدی پوه سوه چې رسول الله ﷺ ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېرېدلی دی او اوس هم د بیري په حالت کې دی او له ډېري بیري څخه رېږدي او وايي: زَمّلُونِي زَمِّلُونِي، یعني: پټ مي کړی، پټ مي کړی، لکه د چا چي یخ کیږي او رېږدي، خدیجې رضي الله عنها هم په یوه کالي پټ کړی ترڅو چي بېره ځني ولاړه او آرام سو.

نو بې خدیجې رضي الله عنها ته هغه ښه سوې قصه وکړه، ټول هغه واقعات چي ورته پېښ سوي وه ورته بیان یې کړه او ویل: زه پر ځان و بېرېدم، خدیجې رضي الله عنها ورته و ویل: ښایي ته داسي فکر کوې چي دا د جن او پیري اثر وي؟ رسول الله ﷺ ویل: هو، خدیجې رضي الله عنها و ویل: یا والله تا ته هیڅکله د جن او پیري شر او آزار نه در رسیږي او الله تا نه خرابوي، ځکه ته صلهٔ رحمي وصلوې، یعني: د دوستانو او اقرباوو حقوق پر ځای کوې، په خبرو کې رشتیا وایې، د ضعیفانو مرسته کوې، د محتاجو ضرورت او اړتیا رفعه کوې، د مېلمه عزت کوې، د حق مرسته او طرفداري کوې، ټول اخلاق دي ښه او کریم دي، جن تا ته تکلیف نه سي در رسولای، نو بیې هم رسول الله ﷺ پرېښاوه چي ښه آرام سو بیا یې نو وَرَقَه بن نَوفل ته چي د خدیجې رضي الله عنها د اکا زوی ؤ ور وستی، دغه ورقه چي عرب او قریش ؤ نصراني سوی ؤ او دا قصه به په وروسته کي درته وکړو چي څنګه او ولي نصراني سو، مقصد ورقه بن نوفل د خدیجې رضي الله عنها اکا زوی نصراني ؤ، څرنګه چي ده د یهودو او نصاراوو کتابونه لوستل او انجیل یې د عِبراني څخه په عربي ډېر لیکلی ؤ، نو د ډېرو معلوماتو خاوند ؤ، په عمر ډېر او په سترګو ړوند سوی ؤ، د انبیاء علیهم السلام د ژوند معلومات ورته وه او دا هم ورته معلومه وه چي د را تلونکي نبي وخت او زمانه را نژدې سوې ده.

کله چي دوی وَرَقه ته ورغله خدیجې رضي الله عنها ورته و ویل: یا ابن عم! اې د اکا زوا! د وراره څخه دي د ده حال واوره، ورقه و ویل: اې وراره! څه دي لیدلي او اورېدلي دي؟ رسول الله ﷺ هغه خپل حال ورته بیانوي او ورقه په ډېر تعجب غوږ ورته نیولی دی او اوري یې، ورقه ته چي د آسماني کتابو څخه د آخري او راتلونکي نبي په باره کي کومي علامې ور معلومي وې هغه ټولي په محمّد ﷺ کي موجودي وې، نو یې په آخر کي په لوړ آواز و ویل: الله اکبر والله ناموس اکبر درته راغلی دی هغه چي الله جل جلاله و موسی علیه السلام ته را استولی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ناموس اکبر څخه مقصد جبریل علیه السلام دی او د ناموس معنی؟ یعني: د سِر او پټ راز ساتونکی، مګر هو هغه د خیر او مصلحت راز او د جاسوس معنی: د شر او بد راز ساتونکی، نو د جبریل علیه السلام یو نوم ناموس اکبر دی او بل نوم یې روح یا روح القُدُس دی، لکه څرنګه چې الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي:

﴿ فَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهَا رُوحَنَا ﴾. [مریم: ۱۷]

یعني: موږ و مریم علیها السلام ته زموږ روح ور واستاوه، د روحنا څخه مقصد جبریل علیه السلام دی او بیا هم الله جل جلاله فرمایي:

﴿ تَنَزَّلُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا ﴾.

یعني: په لیلة القدر کې ملائکې او جبریل علیه السلام را کښته کیږي.

دلته هم د روح څخه مقصد جبریل علیه السلام دی، خیر ورقه بن نوفل و ویل: والله ناموس اکبر درته راغلی دی، هغه چې موسٰی ته راغلی ؤ او عیسٰی علیه السلام یې نه کړی یاد دا ولې؟ ځکه د ورقه دا عقیده نه وه چې عیسٰی علیه السلام نبي دی.

ورونو! نصارا پر درې قسمه دي، یوه ډله یې وایي: عیسٰی علیه السلام په خپله رب او إله دی (العیاذ بالله) او د نصاراوو بله ډله بیا وایي: چې مرتبې او درجې درې دي، یوه د الله درجه ده او یوه د نبي درجه ده او د دغو دوو درجو په منځ کې یوه بله درجه سته چې تر الله کښته او تر نبي لوړه ده او عیسٰی علیه السلام په دغه درجه کې دی، د ورقه بن نوفل عقیده هم داسې وه، چې دغه عقیده نه پوره شرک دی او نه پوره توحید دی، نو ځکه ورقه بن نوفل عیسٰی علیه السلام نه کړی یاد، بلکه ویل: دا هغه ناموس اکبر دی چې موسٰی علیه السلام ته راتلی او بیا دغه ورقه یوه عجیبه خبره وکړه، ویل: کشکې زه په هغه وخت کې ځوان وای چې ستا قوم تا د مکې څخه باسي او ما ستا مرسته کړې وای، رسول الله ﷺ په تعجب سره وویل: ما د مکې له ښاره باسي؟ ما شړي؟ ورقه بن نوفل وویل: هو! هر چا چه دغسې شئ را وړی دی لکه تا ته چې راغلی دی هغه څوک د خپل قوم له طرفه آزار سوی دی او دغه عمل همېشه د نبیانو سره کېدی، څرنګه چې ته هم نبي او رسول یې خامخا آزارېږې او که زه په دغه ورځ ژوندئ وم مرسته او کومک به دې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا نو د وحيو او بعثت شروع وه، اوس نو محمّد ﷺ د ځينو علماوو په قول د سورۃُ العلق د دغو آياتو په نزول سره نبي سو مګر رسول نه دی، ځکه ځيني علماء د نبي او رسول فرق داسي بيانوي: نبي هغه دی چي وحي ورته نازليږي خو په تبليغ نه وي امر کړه سوی او رسول هغه دی چي هم وحي ورته راځي او هم د دين په تبليغ سره مامور او مکلف وي، نو د دغو علماوو په قول محمّد ﷺ د سورۃُ العلق په نزول سره نبي سو، ځرنګه چي په تبليغ نه سو امر نو رسول نه سو، خو بيا د سورۃُ المدثر په نزول سره رسول هم سو، ځکه هلته بيا په تبليغ هم امر کړل سو (دا د علماوويو قول ؤ)

پسله دغه غار حراء د واقعې څخه رسول الله ﷺ ته نور څه نه سوه پېښ او وحيِ هم نه نازليږي چي دغي مودې ته علماء کرام (فترۃُ الوحي) وايي، يعني: وحيِ قطعه سوې او دا موده په هغه صحي روايتو کي شپږو مياشتو ته ورسېدل، که څه هم ځينو علماوو دا موده درې کاله بللې ده خو دا مطلقاً خطا ده او هغه راجحه روايت دا دی چي دغه د وحيو د قطعه کېدلو موده شپږ مياشتيْ وه، پوره نيم کال وحيِ قطعه دي هيڅ شئ نسته، نو له دغه جهته علماء کرام رشتيا او صادقه خوب د نبوت شپږ څلويښتمه حصه بولي، ځکه نبوت يا رسالت ټوله درويشت کاله ؤ، که دغه درويشت کلونه و شپږو مياشتو ته واړوو نو شپږ څلوېښت واره (٦) مياشتي ځني جوړيږي.

او په دغه موده کي چي وحيِ نه وې رؤيا الصادقه موجوده وه، نو ځکه رؤيا الصادقه د نبوت شپږ څلويښتمه حصه سوه، خير په دغو شپږو مياشتو کي ورقه بن نوفل هم وفات سو او رسول الله ﷺ فرمايي: ورقه بن نوفل مي په جنت کي وليدی، ځکه د هغه د اسلام إراده وه، په خپل نيت جنت ته داخل سو او د ورقه د ژوند په وخت کي رسول الله ﷺ هم خوک و اسلام ته نه دي دعوت کړي او د هيچا څخه يې د ايمان را وړلو طلب او غوښتنه نه وه کړې، نو ورقه بن نوفل په هغه خپل نيت چي ويل کشکي زه ځوان وای او ستا مرسته مي کړې وای جنت ته داخل سو، دا هم د الله جل جلاله الٰهي رحمت او احسان دی چي د ورقه پر نيت يې معامله ور سره وکړه که څه هم دئ تر رسالت د مخه وفات سو خو جنت ته داخل سو.

اوس نو په دغو شپږو مياشتو کي چي وحيِ قطعه دي که څه هم رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اولو ورځو کي بېرېدی او په بېره کي ؤ، خو څه موده وروسته يې زړه غوښتی چي بيا جبريل عليه السلام ورته راسي او وحيِ ورته را وړي شوق او علاقه يې پيدا سوه تر داسي اندازې چي دښت او صحرا ته به وَوتی، غرو ته به ولاړی او هلته به په انتظار ؤ چي ښايي جبريل عليه السلام ورته راسي.

د وحيو د قطعه کېدلو څخه مقصد هم دا ؤ چي د رسول الله ﷺ د جبريل عليه السلام و ملاقات او د وحيو و نزول ته شوق او علاقه پيدا سي چي واقعاً هم داسي سوه، رسول الله ﷺ د هغه د مخنی بېرې پر ځای اوس دښت او غرو ته وزي او د دې انتظار کوي چي د جبريل عليه السلام سره ملاقي سي، دا ورځي د رسول الله ﷺ دپاره ډېري درنې او له خواشينيه ډکي ورځي وې چي آيا زما څخه خو به داسي يو کار نه وي پېښ سوی چي زما رب را څخه ناراضه سوی وي، حتّی ځيني وختونه به يې دا إراده وکړه چي د غره څخه ځان را وغورځوي، خو يوه ورځ يې ناڅاپه د آسمان له طرفه ږغ واورېدی چي ويل: يا محمّد! رسول الله ﷺ فرمايي: سر مي را پورته کړی چي يو عجبه منظر دی، انسان ته هيڅکله داسي حالت نه پيښيږي، و مي ليدل چي جبريل عليه السلام په هوا کي پر يو عرش ناست دی او شپږ سوه وزرونه يې دي چي د مشرق او مغرب منځ يې ټول ډک کړی ؤ، ټول آسمان يې نيولی ؤ، وايي د آسمان هر طرف ته چي به مي کتل دغه جبريل مي ليدی او دغه ږغ کوي:

يا محمّد! أنتَ رسُولُ الله وَ أنَا جبريل.

يعني: يا محمّد! ﷺ ته رسول الله يې او زه جبريل يم او رسول الله ﷺ د ډېري بيري څخه پرخپل ځای ولاړ دی، له بيري او وَهمه حرکت نهِ سي کولای، د دغه منظر او مشهد بيان الله جلّ جلاله په قرآن مجيد کي کړی دی او فرمايي:

﴿وَٱلنَّجۡمِ إِذَا هَوَىٰ ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمۡ وَمَا غَوَىٰ ۝٢ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝٤ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ ۝٥﴾. [النجم]

يعني: قسم دی په ستورو سره چي غروب يا طلوع وکړي چي نه دی ګمراه سوی ملګری ستاسي چي مقصد رسول الله ﷺ دی، يعني: رسول الله ﷺ نه د غلط فهميه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د صحي لاري اوښتی دی او نه په خپل قصد او اختيار سره د لاري اوښتی دی، بلکه لکه د آسمان ستوري چې په ختلو او لوېدلو کې پر يوه معينه او مقرره سوې لار ځي، همدارنګه رسول الله ﷺ د الله عزوجل له طرفه پر معينه سوې لار برابر ځي او دا امکان نه لري چې مخالفت ځني وکړي او نه محمّد ﷺ د خپلې غوښتني او خواهش مطابق خبري کوي او نه دی دغه قرآن مګر وحي دي چې و ده ته لېږل سوي دي، ده ته شديد القوٰى: د ډېرو شديدو قوتو خاوند (چې جبريل عليه السلام دی) ښوولي دي.

ورونو! جبريل عليه السلام د ملائکو رئيس او قائد دی او انبياء عليهم السلام ته د رسالت او وحيو په رسولو تر نورو ملائکو غوره کړه سوی او اختيار سوی دی، د ملائکو څخه بل داسي څوک نسته چې رسولانو ته دي وحي راوړي بيله جبريل عليه السلام څخه او جبريل عليه السلام شديدُ القوٰى دی، د ده د قوت څخه يو دا دی چې پوره او کامل ښاريې د وزر په يوه طرف چپه واړاوه، د دغه لوی ښار چې د لوط عليه السلام د قوم ښارو لوړه حصه يې کښته کړل او کښته حصه يې لوړه کړه، دا د جبريل عليه السلام قوت دی.

﴿ ذُو مِرَّةٍ فَٱسْتَوَىٰ ۝٦ وَهُوَ بِٱلْأُفُقِ ٱلْأَعْلَىٰ ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۝٨ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ۝٩ فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ۝١٠ مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ۝١١ ﴾
[النجم]

الله جل جلاله فرمايي: چې دا واقعي ليدل دي، خيال او تصور نه دی، بلکه حقيقتاً يې جبريل عليه السلام وليدی.

ورونو! رسول الله ﷺ د خپل رسالت په ټوله موده کې جبريل عليه السلام پر خپل واقعي شکل فقط دوه واره ليدلی دی، بشر دا نه سي تحمل کولای چې ملائکې و ويني نو ځکه جبريل عليه السلام به د وحيو راوړلو په وخت کې رسول الله ﷺ ته په قِسم قِسم صورتو او شکلو سره راتلی.

د مخه تردې چې د رسول الله ﷺ د رسالت او نبوت د ژوند په تفصيلاتو شروع وسي دا ښه او لازمه ده چې د وحيو اقسام او اشکال در وښوول سي ځکه وحي د رسالت اساس او د دعوت ريښه او اصل بلل کيږي، نو وحي يا نزول د وحيو پر شپږ قسمه دي، يعني: رسول الله ﷺ ته وحي پر شپږ قسمه نازلي سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اول**: د خوب لیدل دي، علماء کرام وايي چي د أنبياء عليهم السلام خوب وحيِ دی، ځکه ابراهیم علیه السلام خپل زوی ته و ویل:

﴿يَـٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلۡمَنَامِ أَنِّيٓ أَذۡبَحُكَ﴾. [الصافات: ۱۰۲]

یعني: اې زما زویه زه پرله پسې په خوب کي وینم چي تا حلالوم.

نو دغه خوب وحيِ وې.

**دوهم**: دا چه جبریل علیه السلام به د رسول الله ﷺ په زړه کي هغه د مقصد شئ ور واچاوه، بېله دې څخه چي رسول الله ﷺ ملائکه و ویني په زړه کي به یې یو احساس پیدا سو، لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايي:

« إنَّ الرُّوحَ الأمين نَفَثَ فِي رَوْعِي أنَّهُ لَيسَ مِنْ نَفْسٍ تَموتُ حتّٰى تَسْتَوفِي رِزقَها، فَاتَّقُوا اللهَ وَأجْمِلُوا فِي الطَّلَب، وَلا يَحْمِلُكُم إسْتِبْطاءُ الرِّزقِ على أن تَطلُبُوهُ بِمَعاصِي اللهِ فَإنَّهُ لا يَنالُ ما عِندَهُ إلاّ بطاعَتِه ». [رواه: ابن أبي شيبه]

یعني: روحُ الأمین چي جَبریل علیه السلام دی زما په زړه کي را واچول (چي موږ و دغه ته الهام وايو) رسول الله ﷺ فرمايي: الهام را ته وسو چي هیڅ نفس یا هیڅ ژوندئ مخلوق تر هغو پوري نه مري چي رزق یې پوره نه سي، نو د الله جل جلاله څخه وبیرېږی او د رزق په طلبولو کي سمه لار اختیار کړی او د رزق طلبول باید تاسي دې ته مجبوره نه کړي چي د الله جل جلاله په معصیت او ګناه یې طلب کړی، ځکه هر هغه څه چي د الله جل جلاله سره دي بېله اطاعته د الله په بل شي سره نه حاصلیږي.

خو دې حدیث په بیانولو سره زموږ مقصد الهام ؤ چي دا هم د وحیو یو قسم دی.

**د وحیو درېیم قسم دا دی**: چي رسول الله ﷺ ته به جبریل علیه السلام د یوه سړي په شکل سره راغلی او په دغه قِسم وحیو کي به اصحابِ کرامو هم دغه سړئ لیدی او دا د دوو نفرو د تفاهم او پوهېدلو دپاره د وحیو هغه تر ټولو آسانه طریقه ده، ځکه دلته د دواړو طرفو په منځ کي تجانُس او یو شئ والی موجود وي او ډیر ځله جبریل علیه السلام و رسول الله ﷺ ته د دِحیَةُ الکَلبي رضي الله عنه په شکل راغلی دی.

**د وحیو څلورم قسم دا سي ؤ**: چي د زنګ یا زنګولې د شرنګهاري په شکل سره به یو آواز ؤ، چي د وحیو په اقسامو کي دغه قسم وحيِ د رسول الله ﷺ دپاره هغه تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


سخته طریقه او مشکل قسم د وحیو ؤ، تر داسي اندازې چي په ډېر شدید یخ کي به پر رسول الله ﷺ خولې را بهېدلې او که به پر کوم حیوان سپور ؤ د هغه حیوان څنګنونه به پر مځکه کت سوه، یو وخت و رسول الله ﷺ ته دغه قسم وحيِ نازلېدې او د رسول ﷺ مبارک څنګون د زید بن ثابت رضی الله عنه پر څنګانه پروت ؤ، زید رضی الله عنه وایي: قریبه وه چي د رسول الله ﷺ د څنګانه د دروند والي په سبب مي څنګون په مځکه ننوزي.

**د وحیو پنځم قسم دا دی**: چي رسول الله ﷺ به د وحیو راوړونکې ملائکه یعني جبریل علیه السلام په هغه خپل واقعي شکل کوم چي الله جل جلاله پر هغه شکل خلق کړی او پیدا کړی ؤ ولیدی او دغه قسم وحيِ و رسول الله ﷺ ته د ټول رسالت په موده کي دوه واره پیښي سوي دي، لکه الله جل جلاله چي په سورةُالنجم کي ذکر کړي دي.

**د وحیو شپږم قسم هغه دی**: کوم چي الله جل جلاله د معراج په شپه لوړ تر آسمانو پر رسول الله ﷺ لمنځونه فرض کړل، بیله واسطې بیله ملائکې د پردې تر شا خطاب او خبري کول وه او لکه د موسیٰ علیه السلام سره چي په جبل طور کي څو واره داسي وسوه، چي د الله جل جلاله خبري به یې اورېدلې او هغه عزوجل به یې نه لیدی او دا د وحیو هغه کاملترین شکل او صورت دی. *بیرته قصې ته راسه:*

نو جبریل علیه السلام و رسول الله ﷺ ته په خپل واقعي شکل او حقیقي صورت فقط دوه واره ښکاره سوی دی چي اول واریې دغه د بعثت په شروع کي ؤ او دوهم وار د إسراء او معراج په شپه ؤ او د دغه اول او دوهم وار په باره کي الله جل جلاله په سورةُالنجم کي فرمایي:

﴿ مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ﴿١١﴾ أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿١٣﴾

یعني: د محمّد ﷺ زړه خلاف نه وه ورته ویلي، هغه چي جبریل علیه السلام یې په سترګو لیدلی ؤ، آیا تاسي د محمّد ﷺ سره په دغه شي کي چي ده لیدلی دی بحث او جنجال کوئ؟ او خامخا محمّد ﷺ بل وار بیا جبریل علیه السلام لیدلی دی، چیري یې لیدلی دی؟ ﴿عِندَ سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ﴾ دا هغه دوهم وار لیدل دي چي د معراج په شپه د سِدرةُ المُنتهیٰ د وُني یا درختي سره وسوه، چي د دغه تفصیلي بیان به إن شاء الله تعالی د معراج په قصه کي درته راسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو دغه اوسنئ منظر او مشهد چې رسول اللهﷺ د اول وار دپاره جبریلعلیه السلام په خپل واقعي شکل او صورت سره ویني ډیر عجیب او نادره حالت ؤ، رسول اللهﷺ له ډیره خوفه پرخپل ځای حیران ولاړ دی هیڅ حرکت نه کوي هري خوا ته چي ګوري آسمان په جبریلعلیه السلام ډک دی او دغه ورته وایي:

یا محمّد! أنتَ رسولُ الله وَأنا جبریل.

څه وخت دغه حالت ؤ چي بیا جبریلعلیه السلام د دهﷺ له نظر او لیدلو څخه غایب شو او رسول اللهﷺ د ډیري بیري او خوف په حالت کي کور ته راغلی او ریږدي او وایي: زَمّلوني زَمِلوني، پټ مي کړی، پټ مي کړی.

رسول اللهﷺ په بستر کي ځان پېچلی ؤ چي جبریلعلیه السلام وحيِ ورته را وړې او دا وار یې د اللهجل جلاله له طرفه رسالت ورته را وړی چي هغه وحيِ د سورةُ المدثر دغه آیاتونه وه:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ ۝١ قُمْ فَأَنذِرْ ۝٢﴾.

یعني: اې هغه څوکه چي د وحیو له بیري دي ځان په کالو کي پېچلی دی! د خوب له بستره ولاړ سه او خلک د الهي عذاب څخه یا په الهي عذاب سره وبېروه.

چي دا د خلکو په بېرولو او إنذار سره الهي امر دی او د رسالت درنه وظیفه د رسول اللهﷺ پر غاړه ورولوېدل او نور هم ورته فرمایي:

﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۝٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ۝٤ وَٱلرُّجْزَ فَٱهْجُرْ ۝٥ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ۝٦﴾.

یعني: او خپل رب په لویي سره یادوه او خپل کالي دي پاک وساته، ګناه او بتان پرېږده، یعني: ظاهر او باطن دي باید پاک وي او داسي احسان او نیکي مه کوه چي بدل یې ډیر غواړې.

اللهجل جلاله مورِ ته لوړ همت را ښیي چي هر شئ که مال وي که دولت، که علم وي که خلکو ته لاړ ښوونه هر څه چي چا ته ورکوې دا نه ښایي چي د هغه عوض او بدل وغواړې بلکه ته باید د دغه شکر آداء کړې چي اللهجل جلاله تا ته دغه نعمتونه درکړي دي.

او فرمایي: ﴿وَلِرَبِّكَ فَٱصْبِرْ ۝٧﴾.

او خپل رب ته صبر کوه، یعني: اوس نو ستا آزارېدل شروع سوه، خلک دي بېله

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزارولو نه پرېږدي ته باید صبر وکړې.

دغه ټول الهي امرونه یوازي رسول اللهﷺ ته نه بلکه ټول محمدي امت ته لار ښوونه ده، نو مسلمان وروره! کوم زحمتونه او تکلیفونه چي د دعوت په لار کي تا ته پیښېږي د هغه په مقابل کي د صبر او تحمله څخه کار اخله او پوه سه چي دغه د تبلیغ او دعوت عظیم الشانه وظیفه بیله زړه ورتیا او حوصلې، صبر او استقامته څخه پای ته نه رسیږي.

تر دغه وروسته د وحیو نزول پرله پسې سو او همېشه وحيِ نازلېدلې او بیا د سورةُ المزمل دغه آیاتونه نازل سوه:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ۝١ قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ۝٢﴾.

یعني: اې هغه څوک چي ځان دي په کالو کي پېچلی دی! په شپه کي لمانځه ته ولاړ سه، بیله لږي حصې څخه، یعني: شپه په عبادت تیره وه، څوک د شپې څه حصه آرام کوې کومه مضائقه نسته، پروا نه لري.

دا نو ورسول اللهﷺ ته په عبادت کولو سره امر ؤ. او بیا سورةُ الضحی نازل سو:

﴿وَٱلضُّحَىٰ ۝١ وَٱلَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ۝٣﴾.

یعني: قسم په څاښت چي روښانه دی او قسم په شپه چي تاریکه سي او ټول شیان په خپله تاریکه کي پټ کړي چي ستا رب ته نه یې پرې ایښی.

یعني: دا چي وحيِ نه نازلېدې دا د اللهﷻ له طرفه ستا پرېښوول او مهجوره کېدل نه دي چي ته یې پرېښوولې بلکه د دې انقطاع څخه مقصد دا ؤ چي ته مستعد سې، د وحیو د نزول دپاره شوق او استعداد پیدا کړې او پرله پسې آیاتونه نازلېدل او بیا هم اللهﷻ هغه نعمتونه ذکر کړل چي رسول اللهﷺ ته یې ورکړي وه او فرمایي:

﴿وَلَلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ ٱلْأُولَىٰ ۝٤ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰٓ ۝٥﴾.

او اې محمده!ﷺ خامخا تا لره آخرت تر دنیا ښه او بهتر دی او ژر ده چي ستا رب به تا ته لویه برخه درکړي پس ته به راضي سې، اللهﷻ نور هم هغه نعمتونه ورته بیانوي چي دهﷺ ته یې پرله پسې ورکړي دي او فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ۝٦ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ۝٧ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ۝٨﴾

آيا ته يې يتيم نه وې پيدا کړی؟ بې پلاره يې پيدا کړې او بيا يې د پناه ځای درکړی او ته يې داسي پيدا کړی وې چې په شرعه او شرعي احکامو نه پوهېدې او تا ته يې شرعي احکام در وښوول او نبوت يې درکړی (دلته ضلالت د انحراف او دلاري ځخه د اوښتلو په معنٰی نه دی بلکه د ضلال معنٰی: د عبادت په طريقه نه پوهېدل او د هغې طريقې نه پېژندل دي، چې څوک بايد څنګه د الله جل جلاله عبادت وکړي) او ته يې فقير يا مسکين پيدا کړې او بيا يې غني کړې، نو الله جل جلاله د دغه سورت په نزول سره و رسول الله ﷺ ته اطمينان ورکړی او هغه خپل نعمتونه او احسانونه يې ورياد کړل چې ستا رب هيڅکله تا نه پرېږدي او نه دي مهجوروي بلکه احسان يې هم درباندي کړی دی او نوريې هم درباندي کوي.

ورونو! په جزيرةُ العرب کي تر رسول الله ﷺ او د هغه تر مبارک بعثت د مخه نور خلک هم موجود وه چې د الله جل جلاله پر وحدانيت او يو والي يې عقيده درلودل، مګر دغه خلک چې الله جل جلاله هدايت ورته کړی ؤ شمېر يې کم او لږ ؤ، د دغو لږو خلکو څخه يو زيد بن عَمرو بن نُفَيل ؤ، بل عثمان بن حارث او بل ورقه بن نوفل ؤ، دغه درې نفره د بتانو له عبادته بېزاره وه او بد يې ځني راتله، د مشرکانو د کارو څخه په تنګ وه، دغه درې نفره سره کښينستل او مشوره يې سره وکړه، ويل: دغه د بتانو عبادت خو عبث او بيهوده، غلط او باطل کار دی مونږ بايد د صحيح او حق دين پوښتنه او پلټنه وکړو، نو په اتفاق سره دې خوا او ها خوا ته ګرځي، د لوی عالم پوښتنه کوي چې هغه و دوی ته حق دين او سمه لار ور وښيي، د دغه حق په تلاښ کي عثمان او ورقه بن نوفل نصارا سوه، مګر زيد بن عَمرو بيا هم ګرځي غواړي چې پوره اطمينان حاصل کړي، خلکو يو نفر ور وښاوه چې دغه سړئ لوی عالم دی او هغه عالم يهودي ؤ، زيد بن عَمرو هغه عالم ته ورغلی او ويل: ستا د دين بيان را ته وکړه چې څنګه دين دي دی؟ هغه عالم هم د خپل دين يهوديت په باره کي معلومات ورکړه د يهوديت عقائد او احکام يې ورته بيان کړه، زيد ورته و ويل: دغه دين حق او الٰهي دين دی؟

هغه و ويل: هو دا هغه حق دين دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زید بن عَمرو ورته وویل: زه څنګه یهودي کېدلای سم؟

عالم و ویل: تر څو چه د الله عزوجل څه غضب درباندي و نه سي ته نه سې یهودي کېدلای ځکه الله عزوجل پر یهودو په غضب سوی دی، که ته غواړې چي یهودي سې د الله جل جلاله غضب به قبلوې بیانو یهودي کېدلای سې.

زید و ویل: زما تیښته د الله جل جلاله له قهره او غضبه څخه ده زه د هغه رضا غواړم او ته مي د الله جل جلاله په غضب اخته کوې، یا! زه تر دې دین تیریم مګر بل څوک یا بله لار را وښیه.

عالم و ویل: بل شئ نه دی را معلوم مګر دا چي حنیف سې.

زید ویل: حنیف څه شي دی؟

عالم و ویل: هغه دا چي مُوَحِّد اوسې.

زید ویل: مُوَحِّد څه شي دی؟

عالم و ویل: د ابراهیم علیه السلام دین حنیف او د توحید دین دی.

زید ویل: د ابراهیم علیه السلام دین څنګه دین دی؟

یهودي و ویل: هغه دین نه دی را معلوم خو یو پخوانئ آسماني دین دی چي اوس بالکل له منځه تللی دی، عالمان یې ټول مړه سوي دي اوس د هغه دین احکام چا ته نه دي معلوم فقط دومره خبر یم چي الٰهي او د توحید دین دی، خو احکام او تفصیل یې نه دي را معلوم.

زید ویل: چي دا هم نه دی در معلوم نو یو بل دین را وښیه.

عالم و ویل: زه تر دغه زیات نه پوهېږم ته و فلاني نفر ته ورسه هغه لوی عالم دی.

زید رهي سو هغه نفر ته ورغلی او ویل: ما ته حق دین را وښیه، څرنګه چي هغه عالم نصراني ؤ نو هغه و ویل: دغه د مسیح علیه السلام دین حق دین دی، د دین عقائد او احکام یې ورته بیان کړه، دغه عالم چي نصراني ؤ د نصرانیت دین یې په تفصیل ورووښووی.

زید ویل: زه څنګه نصراني کېدلای سم؟

عالم ورته و ویل: ته بېله ضلالته نه سې نصراني کېدلای ځکه نصارا ګمراه سوي دي، که ته غواړې چي نصراني سې څه ضلالت به قبلوې او بیا حساب پر الله دی.

زید ویل: زه له ګمراهیه او ضلالته تښتم او ته مي ګمراهۍ ته کشوې، زه مستقیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ثابته لار غواړم.

عالم وویل: زموږ دین دغه دی نور نو ته اختیار لرې.

ورونړو! الله جل جلاله په سورة الفاتحه کې فرمایي:

﴿غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧﴾.

یعني: الٰهي ما ته د هغو کسانو لار مه راښیې چې پر دوی غضب سوی دی چې یهود دي او د ګمراهانو لار مه راښیې، چې نصارا دي. *(بیرته به خپلې قصې ته راسو)*

نو زید هغه نصراني عالم ته و ویل: ښه یوه بله صحي لار او حق دین را وښیه، راهب وویل: بله لار او حق دین نه دي را معلوم، مګر حنیف سې.

زید ویل: حنیف څه شي دی؟

راهب ویل: هغه د ابراهیم علیه السلام دین دی آسماني او د توحید دین دی مګر څرنګه چې د هغه دین عالمان مړه سوي دي چا ته یې د احکامو صحي معلومات نسته.

زید ویل: بیله دغه څخه بل دین را وښیه، عالم و ویل: نور نو د صحي دین معلومات را ته نسته، نور ټول ادیان منحرف او خطا دي زید بن عَمرو په حیرت کي پاته سو چي څه وکړي؟ بیرته مکې مکرمې ته رهي سو او پرلاري د ځان سره وایي: الٰهي! ته شاهد یې چي زه د ابراهیم علیه السلام پر دین یم، زه حنیف یم، ټول را ته وایي: چي دغه دین حق دی، څرنګه چي زه یې په نور تفصیل او احکامو نه یم خبر نو دومره وایم چي زه موحِّد او د ابراهیم علیه السلام پر دین یم، بیله یوه الله بل د هیڅ شي عبادت نه کوم، مګر په دې هم نه پوهېږم چي څنګه لمونځ او عبادت وکړم خو د ابراهیم علیه السلام پر دین یم، کله چي به زید بن عَمرو غوښتل چي لمونځ او عبادت وکړي نو به یې بیله حسابه رکوع او سجدې کولې، ځکه د عبادت هیڅ طریقه نه وه ور معلومه، د خپله ځانه څخه یې اجتهاد او عبادت کاوه، کله چي مکې مکرمې ته راغلی نور مشرکان هم توحید ته ور بولي او د بتانو له عبادته یې منعه کوي، او وایي: یوازې د الله جل جلاله عبادت کوی، د مکې مکرمې نورو خلکو پرده بد ویل، ناپوه او بیعقل یې بلی خو دئ پر دغه خپل توحید ټینګ ؤ، رسول الله ﷺ فرمایي: زید بن عَمرو بن

(c) ketabton.com: The Digital Library


نُفیل مي ولیدی چي کعبې شریفي ته یې تکیه کړې وه خلکو چي به طواف کاوه د شرک تلبیه به یې ویل، هغو به ویل:

« لَبَّیْکَ اللّٰهُمَّ لَبَّیْک، لَبَّیْکَ لاَ شَرِیْکَ لَکَ لَبَّیک، اِنَّ الحَمْدَ والنِّعمَةَ لَکَ وَالمُلْک، لاَ شَرِیکَ لَک »

پر دغه ځای به زید پرناري کړه بس بس نور مه وایه، مګر هغو به دغه الفاظ هم پر زیاتول:

{الاَّ شَرِیکاً هُوَ لک، تَمْلکُهُ وَ ما مَلَک}

چِي دغه الفاظ د شرک الفاظ دي، مګر زید دوی د شرک د تلبیي د ویلو څخه منعه کول.

بل دا چي زید نور مشرکان د مړه سوي حیوان د غوښو د خوړلو څخه منعه کول، ویل هغه حیوان چي په خپله مړ سوی وي غوښي یې مه خوری او مشرکان یې د بتانو د تَقَرُب یا نژدې والي دپاره د حیواناتو د حلالولو څخه منعه کول.

یعني: کفارو چي به کوم حیوانات د بتانو پر نامه حلالول او دا یې عقیده وه چي دغه قرباني موږ دغو بتانو ته ور نژدې کوي، زید بن عَمرو له دغه کاره منعه کول او ویل به یې: حیوانات د بتانو پر نامه مه حلالوی، خلکو چي به پوښتنه ځني وکړه چي د تقرب دپاره د حیواناتو حلالول ولي منعه کوې؟ ده به ویل: حیوانات اللهﷻ پیدا کړي دي او تاسي یې بل چا ته یا د بل چا پر نامه حلالوی عقل دا نه قبلوي.

*د دغسي کارو غلطیا په عقل سره هم ثابتیږي، حیوانات اللهﷻ پیدا کړي دي، خالق اورازق یې الله دی او مشرکانو به د بت پر نامه یا هغوته د نژدیکت دپاره حلالول.*

مقصد دا چي زید بن عَمرو مشرکان د شرک د بدو او ناوړو کارو څخه منعه کول او دغه زید بن عَمرو تر بعثت پنځه کاله د مخه وفات سو رحمه الله علیه د رسول اللهﷺ سره یې لیدلي دي صحبت یې ورسره کړی دی، مګر د رسول اللهﷺ د بعثت او رسالت وخت یې نه دی نیولی، رسول اللهﷺ د دغه زید بن عَمرو په باره کي فرمایي:

«یُبعَثُ یومَ القِیَامَة اُمَّةً وَحدَهُ »

یعني: دغه زید به د قیامت په ورځ یوازي دئ یو امت را پاڅول کیږي، نور خلک به په مجموعي شکل سره امتونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د ابراهیم علیه السلام امت دی، دا د موسیٰ علیه السلام امت دی، دا د عیسیٰ علیه السلام امت دی، دغه رنګه ټول خلک امت امت دي، مګر زید بن عَمرو به یوازې د خپل ځان دپاره امت وي او رسول الله ﷺ فرمایي:

« رَأَيتُهُ يَجُرُّ أثوَابَهُ فِي الجَنَّةِ »

ژباړه: زید مي ولیدی چي په جنت کي خپل کالي کشوي، یعني: په جنت کي اوسیږي، دغه زید بېله نبي بېله رسوله په خپل عقل او خپل کوښښ هدایت او سمي لاري ته ورسېدی. *دا د ورقه بن نوفل د نصرانیت او د زید بن عَمرو د توحید قصه وه.*

په جزیرةُ العرب کي د موحدینو څخه یو بل نفر هم ؤ چي قَس بن ساعده نومېدی، دغه قس د ډېر عمر سړیٔ ؤ ځیني مؤرخین د ده په عمر کي مبالغه کوي او وایي: عمر یې شپږ سوه کلو ته ورسېدی خو زموږ مقصد یې عمر نه دی بلکه دا مو مقصد دی چي قَس د هغو خلکو څخه ؤ چي دیٔ په خپله پر توحید ؤ او هم یې نور خلک توحید ته ور بلل او پسله مرګه یې پر را ژوندي کېدلو ایمان درلودی، پر بتانو یې بد ویل او خلک یې دغه خپلي د توحید عقیدې ته ور بلل، څرنګه چي قریشو د ده دغه د توحید عقیده نه زغمله او نه قبلولای سوای نو قَس یې د مکې مکرمې څخه وایستی (فِراره یې کړی) ده په دښت او صحرا کي ژوند کاوه، څرنګه چي دیٔ پوه، هوښیار او حکیم سړیٔ ؤ خلک به هلته د ده د ملاقات او مشورو دپاره ورتله، حتّٰی دیٔ په وعظو او نصیحتو کي یو نثر هم لري او د ده په حکمتو به عربو مثالونه تېرول، د قَس د حِکمتو څخه یو څه داسي دي: دیٔ وایي:

{مَنْ عَاشَ مَاتَ، وَمَنْ مَاتَ فَاتَ، وَكُلُّ مَاهُوَ آتٍ آتَ}.

او بیا وایي:

« أَيُّهَا النَّاسُ اسِتَمعُوا وَعُوا، إنَّ فِي السَّمَاءِ لَخبَراً، وَإنَّ فِي الاَرضِ لَعِبَراً، بَحْرٌ يَغُورُ، وَنُجُومٌ تَغُورُ، وَسَقفٌ مَرفُوعٌ، وَمِهَادٌ مَوضُوعٌ ».

او داسي نور حکمتونه هم لري، څرنګه چي قَس هلته په غرو او دښتو کي یوازې اوسېدی نو وحشي او ځیرونکو حیواناتو الفت ور سره نیولی ؤ، ده ته به راتله او ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library


یې ور سره کاږه، تر داسې اندازې چې یو نفر وایې: زه یو وخت قُس بن ساعده ته د مشورې دپاره ورغلم، دئ د اوبو د حوض پر غاړه ناست ؤ او دغه حوض ته د اوبو د څښلو دپاره زمریان هم راتله، خو یوه به د اوبو په څښلو کې تر هغه بل ځان د مخه کاوه، قُس به هغه په لکړه و واهه او ورته ویل به یې: صبر وکړه چې ملګری دې اوبه وڅښي، او دغه قس هم تر بعثت د مخه وفات سو.

مقصد دا چې په جزیرةُ العرب کې د رسول الله ﷺ تر بعثت د مخه هم څو نفره موحِّدین موجود وه او خلک به یې توحید ته ور بلل، مګر ویښ زړونه او اورېدونکي غوږونه نه وه چې د دوی آواز واوري، تر څو چې د الله جل جلاله له طرفه محمّد ﷺ په رسالت سره اختیار کړل سو او خلکو ته یې آخري رسالت را وړی او د الله جل جلاله له طرفه وحيِ ورته نازلې سوې، د مخه هغه نور موحِّدین موجود وه مګر اثر او نتیجه یې یا هیڅ نه وه، یا خو لږ او کمه وه، خو د رسول الله ﷺ د رسالت اثر لوی او ابدي اثر ؤ، چې ټوله جزیرةُ العرب او نور ډېر مېلکونه یې له شِرکه خلاصه کړل او جهان یې د توحید او وحدانیت په نور ډک کړی.

## د رسول الله ﷺ رسالت
## او په دعوت سره مکلف کېدل

د الله جل جلاله له طرفه و رسول الله ﷺ ته د سورةُ المدثر د اولو آیاتو په نزول سره یو شمېر الٰهي امرونه صادر سوه چې دغه امرونه په ښکاره او ظاهره سره ډېر بسیط او آسانه اوامر دي خو په حقیقت کې یې مقصد ډېر لوړ او اثر یې ډېر قوي دی، په دغه نازل سوي آیاتو کې رب عزوجل خپل رسول محمد ﷺ ته فرمایي:

**اول:** ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ ۝١ قُمْ فَأَنذِرْ ۝٢﴾.

اې هغه څوک چې د وحیو د هیبته څخه دې ځان په کالو کې پېچلی دی! د خوب له بستره ولاړ سه او خلک د الله جل جلاله له عذابه وبېروه.

دلته د هر هغه چا انذار او بیرول مقصد دي چې د الله عزوجل د رضاء او اوامرو څخه مخالفت

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي، هر هغه څوک چي په عالَم کي موجود وي هغه باید د خپلو مخالفو اعمالو په بده نتیجه او جزاء داسي وبیرول سي چي په زړه کي یې ربړد او وار خطایي پیدا سي.

دوهم: ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿٣﴾﴾.

او خپل رب په لویي سره یادوه.

د دې مقصد دا دی: چي په مځکه کي باید د هیچا دپاره کبریاء او لویي نه سي پاته، د هر متکبر او مغرور شان او شوکت مات سي، لویي یوازي او یوازي یوه الله جل جلاله لره ده، بېله الله جل جلاله بل لوی او قوي، عظیم او متکبر نسته.

دریم: ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾﴾.

او خپل کالي یا لباس پاک وساته، بد کارونه، ګناه او بتان پرېږده.

مقصد دا چي هر څوک باید په خپله ظاهري او باطني پاکي کي ډېر کوښښ وکړي، خپل نفس باید د ګنهوله نجاسته تر داسي اندازې پاک کړي چي د ده نفس د الٰهي رحمت، هدایت او نُور قابل وګرځي او په بشري ټولنه کي یو مثال او نمونه سي، سالم زړونه و ده ته میلان پیدا کړي او ور جذب سي او هغه مشکوک زړونه د ده په هیبت او فخامت ثابت او سالم وګرځي.

څلورم: ﴿وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾﴾.

او داسي لږ احسان مه کوه چي بدل یې ډېر غواړې.

د دې آیات څخه مقصد او هدف دا دی: چي یو څوک خپل کوښښ او فعالیت ډېر عظیم و نه بولي، بلکه نور هم همېشه په جِد او جُهد کي وي، د یوه کار تر خلاصولو وروسته د بل کار پر شروع کولو اقدام کوي، د حق د ثابتولو دپاره ډېر جُهد، ډېره تضحیه او قرباني ښندي او بیا هم دغه خپل کوښښونه تر داسي اندازې هیروي لکه هیڅ چي یې نه وي کړي.

او په آخرني آیات کي فرمایي:

﴿وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾﴾.

او خپل رب لره دي صبر کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته و دې ته اشاره ده چې د معاندینو له طرفه څخه به مخالفتونه او آزارونه، پسخندونه او سپکوالی وینې، تر داسې اندازې چې ستا او ستا د اصحابو د وژلو کوښښونه به کیږي او غواړي به چې ټول هغه کسان چې پر تا را ګرځېدلي دي نیست او نا بود کړي، خو الله جل جلاله ورته فرمایي: چې پر دې ټولو به په پوره قوت او اطمینان، په ډاډ او ثبات صبر کوې، د خپل نفس د نفساني خوندو او لذاتو څخه به د یوه لذت په طمعه نه یې، بلکه د خپل رب عزوجل د رضاء په حاصلولو کې به کوښښ کوې.

الله اکبر! دغه امرونه په ظاهره څومره آسانه او بسیط دي، مګر په عمل کې څومره عظیم او فخیم دي، په خپله په دغو آیاتو کې دعوت او تبلیغ سته، اول دا چه: د انذار خپله معنٰی او مفهوم دا دی: چې په دنیا کې داسې اعمال سته چې نتیجه یې بده او کوونکي ته یې جزاء ورکول کیږي، حال دا چې هر څوک په دې پوهیږي چې په دې دنیا کې د انسان د اعمالو جزاء نسته، نو د انذار څخه مقصد دا سو چې بیله دې دنیا د ورځو څخه یوه بله داسې ورځ هم سته چې په هغه کې د اعمالو جزاء ورکول کیږي، چې هغه د قیامت ورځ ده او د دې څخه دا معلومه سوه چې بیله دغه دنیوي ژونده یو بل ژوند هم سته، چې هغه د آخرت ژوند دی.

دغه ټول تلاوت سوي آیاتونه د بندګانو څخه خالص او صریح توحید غواړي، هر مسلمان باید د خپل ځان او خپل نفس رضائیت، د نورو بندګانو رضائیت د الله عزوجل تر رضائیت پوري پریږدي، چې د دغو تلاوت سوو آیاتو نتیجه داسې ویلای سو:

**اول**: توحید.

**دوهم**: د قیامت پر ورځ ایمان.

**دریم**: د نفس پاکوالی، چې د دغه پاکۍ دپاره دوه شیه په کار دي، یو د ګنهو او فواحشو پرېښوول او بل د خیر او فضائلو د اعمالو ډېرول.

**څلورم**: ټول کارونه به د الله عزوجل د رضاء دپاره وي.

**پنځم**: دغه ذکر سوي شیان به ټول پسله هغه څخه وي چې د محمّد ﷺ پر رسالت ایمان ولري، د هغه ﷺ تر قیادت او لارښوونو به لاندې وي.

او بیا نو رسول الله ﷺ د دغو اوامرو د پوره کولو دپاره تر شل کاله زیات جد او

(c) ketabton.com: The Digital Library


جُهد وکړی، نه یې بیا استراحت کړی دی نه آرام، نه یې بیا د خپل ځان دپاره ژوند کړی دی نه د خپلې کورنۍ دپاره، پاته ټول عمر یې په دعوت إلی الله او جهاد في سبیل الله کې تیر کړی.

د رسالت درووند بارېې پر اوږو اخیستی ؤ د ټولې مځکې لوی امانت یې په غاړه کې ؤ د ټولې عقیدې اصلاح یې وظیفه وه او د دغه کار دپاره یې خو قسمه جهاد کړی دی، د رسالت په درویشت کلنۍ موده کې همیشه په معرکه کې ولاړ ؤ، له کمه وخته چې یې دغه الٰهي امر واوریدی د دغې وظیفې څخه هیڅ شي مشغوله نه کړی، الله دې زموږ او د ټول بشریت له طرفه د خیر بدله او عوض ورکړي.

زموږ را تلونکی بحث ټول د رسول الله ﷺ د اوږده او د مشکلاتو څخه ډک جهاد نمونه ده چې په دغه ټوله موده کې بیا رسول الله ﷺ نه آرام کړی دی نه استراحت او خدیجه رضي الله عنها ته به یې ویل: یا خدیجه! د خوب او آرام، راحت او استراحت وخت تېر سو، د دعوت او جهاد وخت شروع سو.

اوس نو موږ کولای سو چې د رسول الله ﷺ د دعوت موده و دوو زمانو ته و وېشو، چې یوه یې د مکې مکرمې زمانه ده چې تقریباً دیارلس کاله یې په بر کې ونیول.

او بله یې د مدینې منورې زمانه ده چې پوره لس کاله یې دوام وکړی.

او بیا دغه هره زمانه ځان ته خاصې مرحلې لري چې هره مرحله یې د هغې بلې مرحلې څخه په خاصو خصوصیاتو سره فرق او امتیاز لري، نو په دغه اساس موږ کولای سو چې د مکې مکرمې زمانه و درو مرحلو ته و وېشو.

**اوله مرحله یې**: پټ او سِرِي دعوت ؤ چې درې کاله یې دوام درلود.

**دوهمه مرحله یې**: په اهلِ مکه کې ښکاره دعوت ؤ، چې د بعثت د څلورم کال څخه شروع سو او د بعثت د لسم کال تر آخره یې دوام وکړی.

**درېیمه مرحله**: تر مکې مکرمې دباندې دعوت دی چې د بعثت د لسم کال د آخره څخه شروع سو او بیا یې تر هجرته پورې دوام درلودی.

خو د مدینې منورې د وخت او زمانې مرحلې به بیا پر هغه خپل ځای د تفصیله سره درته بیان سي إن شاء الله تعالٰی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مَکي دورې اوله مرحله
# یا د سِري دعوت درې کلونه

دا معلومه خبره ده چي مکه مکرمه د عربو ديني مرکز ؤ او کعبه شريفه د ټولو عربو دپاره (د دوی د باطل دين) په مقدسه بتانو يا خدايانو ډکه وه، په دغه ځای کي د اصلاح و مقصد ته رسېدل نسبت و هغه ليري ځايو ته سخت او مشکل کار ؤ، دلته او په دغسي ځای کي و داسي فولادي عزم ته احتياج او ضرورت ؤ چي مشکلات او تکاليف تاثير نه سي پر کولای او په داسي ځای کي هنر او حکمت دا دی چي په ابتدايي مرحله کي دعوت پټ او سري وي، دا د دې دپاره چي ټول اهل مکې ته ناځاپه د يوه داسي کار و نه ويل سي چي د دوی هيجان او احساسات را وپاروي.

نو د عقل تقاضاء دا وه چي رسول اللهﷺ په شروع کي اسلام پر داسي چا عرض کړي چي هغه د ده کورنی، يا په ده پوري منتي خلک وي يا د ده آشنايان وي او هر هغه څوک اسلام ته را وبولي چي په هغو کي د خير علامې موجودي وي او داسي څوک دعوت کړي چي دیٔﷺ دوی پيژني او دوی دیٔﷺ پيژني، يعني: ده ته دا معلومه وي چي دغه خلک حق او خير خوښوي او هغو ته بيا دیٔﷺ د صدق او اصلاح په صفت ور معلوم وي او د هغو څخه بيا هغو کسانو د رسول اللهﷺ دعوت قبول کړی چي هغو ته د رسول اللهﷺ په عظمت، د نفس په پاکي او د خبرو په صداقت کي هيڅ شک نه ؤ موجود، چي هغو کسانو ته په اسلامي تاريخ کي د السّابقينُ الأوّلين په نامه سره ويل کيږي، چي د هغو ټولو په مقدمه کي څلور نفره دي:

**اول**: ام المؤمنين حضرتِ خديجه بنت خويلدرضي الله عنها د رسول اللهﷺ صادقه او مخلصه زوجه.

**دوهم**: د رسول اللهﷺ آزاد کړه سوی مریئ (زيد بن الحارثه بن شرحبيلرضي الله عنه) چي زيد بن محمّد ورته ويل کېده.

**دريم**: د رسول اللهﷺ د اکا زوی حضرتِ علي بن أبي طالبرضي الله عنه چي په دغه وخت کي ماشوم او هلک ؤ او د رسول اللهﷺ په کور کي اوسيدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم**: د رسول الله ﷺ خور او صادقه ملګری ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه.

دغه څلورو نفرو د دعوت په اولو ورځو کې ایمان را وړی دی، اوس به دغه څلور نفره په تفصیل سره درته معرفي سي:

**اول**: خدیجه بنت خُوَیلد رضی الله عنها د رسول الله ﷺ زوجه چې د مخه معرفي سوې ده و تکرارولو ته یې حاجت نسته.

**دوهم**: زید بن الحارثه رضی الله عنه چې زید بن محمّد ورته ویل کېده او دا چې رسول الله ﷺ زید رضی الله عنه په زوی واله نیولی ؤ هغه لره یوه قصه سته، هغه دا چې:

دغه زید کوچنیٔ ؤ او په خپله قبیله او کورنۍ کې د خپل مور او پلار سره اوسېدی.

د عربو د قبیلو خو دا عادت او تجارت ؤ چې همېشه به یوې قبیلې پر بلې قبیلې تیریٔ او تجاوز کاوه حیوانات او انسانان به یې ځني بیول، نو یو وخت د دغه زید پر قبیله یوې بلې قبیلې حمله وکړه چې په دغه وخت کې د زید عُمر اته کاله ؤ او زید یې هم د بندیانو په جمله کې بوتلی او بیا یې د مریي په شکل خرڅ کړی.

او په بل روایت کې وایي: زید د اتو کالو ؤ چې مور یې د خپلو دوستانو د لیدلو دپاره د یوې قبیلې څخه بلې قبیلې ته تله او زید یې هم د ځان سره ملګری کړی ؤ، په لار کې د بني القَین قبیله پر پېښه سوه او زید یې ځني بوتلی، بیا یې د مریي په ډول د حَباشه په بازار کې خرڅ کړی او حکیم بن حزام چې د مکې مکرمې د قریشو څخه ؤ د نورو مریانو سره دَغه زید هم را نیوی او بیا یې خدیجې رضی الله عنها ته په هدیه کې ورکړی، او خدیجې رضی الله عنها بیا د رسول الله ﷺ سره تر واده کولو وروسته و رسول الله ﷺ ته په هدیه کې ورکړی، د زید پلار چې حارثه نومېدی په زید پسې ډېر غمجن ؤ او همېشه د هغه په تلاښ کې ؤ چې چیري به یې پیدا کړي، په دې کې کلونه تیر سوه چې پلار په زوی پسې ګرځي څو په آخر کې یې دا معلومات ورته وسوه چې زوی یې په مکه مکرمه کې دی نو د خپله وروره سره را رهي سو او مکې مکرمې ته راغلی، زوی یې پیدا کړی او د هغه مالک ته چې محمّد ﷺ دی ورغلی (*البته دا قصه د مخه تربعثت وه*) ویل: یا محمّد! دغه زید زما زوی دی او دیٔ مریی نه بلکه حُر دی خو دښمنانو خرڅ کړی دی، زه اوس راغلی یم او غواړم چې دغه خپل زوی ستا څخه رانیسم، رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورته و ویل: یا! خرڅوم یې نه مګر یو کار به وکړم هغه دا چې په خپله زید ته به اختیار ورکړم که ستا سره ځي در سره ولاړ دي سي او زما له طرفه بېله قیمته آزاد دی او که زما سره پاتیږي پاته دي سي د زید خوښه او اختیار دی، د زید پلار حارثه په دې خبره ډېر خوشاله سو چې دا ډېر ښه اختیار دی ځکه حارثه پوهېدی که یو چا ته اختیار ورکړل سي چې مریئ پاته کیږې که د پلار سره ځې؟ هغه حتماً د پلاره سره ځي.

رسول الله ﷺ زید را وغوښتی او پوښتنه یې ځني وکړه چې دغه نفر پیژنې؟

زید ویل: هو دا زما پلار دی او دغه بل مې اکا دی (*خبره داسي نه وه چې زید خپل پلار نه پېژندی*) نو پلار خپل زوی زید ته و ویل: زویه! محمّد ﷺ تا ته اختیار درکړی دی دلته د ده سره مریئ پاته کیږې او که زما سره ځې؟

زید و ویل: والله تر محمّد ﷺ هیڅوک نه خوښوم او نه ځوک اختیاروم.

*دا تر بعثت د مخه د رسول الله ﷺ اخلاق وه، له دغه ځایه د رسول الله ﷺ اخلاق او ګذاره معلومیږي چې حتّی د مریي سره یې څنګه ښه ژوند، د مهرباني او محبته ډکه ګذاره کول.*

او زید نور هم و ویل: والله زه ګمان نه کوم چې مور او پلار دي داسي ښه او د محبت ژوند را سره وکړي لکه محمّد ﷺ چې یې را سره کوي.

تاسي دې رحمت، مهرباني او حسن معاشرت ته وګوری چې خیر البشر ﷺ د یوه مریي سره کول، تر داسي اندازې چې هغه مریئ دي دئ ﷺ تر مور او پلار خوښ او اختیار کړي او دغه اخلاق یې د مخه تردې وه چې وحيِ ورته نازلي او د الله جلّ جلاله له طرفه په رسالت سره اختیار کړل سي، نو ځکه به خلکو صادق الأمین ورته ویل او زید پر دې ټینګار کاوه چې د محمّد ﷺ سره پاته کېږم.

د زید پلار حارثه په تعجب کې سو چې دا څنګه کېدلای سي چې یو چا لره دي مالک تر پلار خوښ وي؟ بیا نو رسول الله ﷺ د دې دپاره چې د حارثه زړه مطمئن سي زید یې تر لاس ونیوی او د قریشو په حضور کې یې دا اعلان وکړی چې دغه زید آزاد او حُر دی او بیا یې دا هم ورسره و ویل: چې زید زما زوی دی.

تر اسلام د مخه او د جاهلیت په وختو کې په عربو کې داسي وه چې یو چا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



پَرَدئ ځوک خپل زوی وګرځاوه او هغه به په ټولو احکامو او معاملاتو کې داسي سو لکه د ده نسبي او واقعي زوی، یعني: په میراث، د نکاح په حراموالي او داسي نورو مسائلو کي به واقعي زوی او د فامیل جزء وګرځېدی، نو خود تر دغه ورځي وروسته و زید ته (زید بن محمّد) ویل کېده، ترڅو چي دغه (تَبَنّي) یعني د بل چا زوی د ځان زوی ګرځول په اسلام کي منعه سوه.

څرنګه چي پسله بعثته رسول الله ﷺ په دعوت او تبلیغ امر کړل سو او دغه زید د رسول الله ﷺ په کور کي اوسېدی او رسول الله ﷺ اسلام ته دعوت کړی نو زید هم مسلمان سو.

**دریم:** او دریم نفر چي په اسلام مشرفه سوی دی هغه هم د رسول الله ﷺ په کور کي اوسېدی او هغه حضرت علي بن أبي طالب ﷺ ؤ.

د رسول الله ﷺ په کور کي د حضرت علي ﷺ د اوسېدلو سبب دا ؤ چي ابوطالب ډیر غریب سو او دا واقعه هم تر بعثت د مخه وه، ابوطالب دومره غریب او مسکین ؤ چي د خپلو اولادو نفقه پر تکلیف وه، خپل اولادونه یې نه سوای مړولای، نو رسول الله ﷺ خپل اکا عبّاس ﷺ ته ورغلی او ویل: اې اکا! ته د ابوطالب په غریبي او مسکنت خبر یې؟ حتّی د خپلو اولادو خواړه او نفقه هم نه لري، که دي خوښه وي ور به سو او موږ به هر یو د ده د اولادو څخه یو یو واخلو چي زموږ سره به اوسیږي، د هغو کفالت به وکړو، یعني: خواړه او مصرف به یې پر خپل ځان کړو، پر ابوطالب به دغه غریبي څه سپکه سي، عبّاس ﷺ و ویل: دا ډیر ښه فکر دی، نو د عبدالمطلب له کورنیه څخه څو نفره سره یو ځای سوه او ابوطالب ته ورغله ویل موږ دا سره جوړه کړې ده چي موږ به هر یو ستا د زامنو څخه یو یو اخلو او زموږ سره به وي، ابوطالب و ویل: که یو عُقَیل را پرېږدی په نورو کي ستاسي خوښه ده، عُقَیل د ابوطالب مشر زوی ؤ ویل دئ را پرېږدی چي زما سره د ژوند په کارو کي مرسته کوي، دوی هم عقیل ور پرېښاوه او هر یوه د ابوطالب یو یو اولاد د ځانه سره بوتلی، رسول الله ﷺ علي بن أبي طالب ﷺ را وستی، ځکه علي ﷺ هغه وخت هم پر رسول الله ﷺ ګران ؤ نو ځکه حضرت علي ﷺ د رسول الله ﷺ په کور کي تربیه سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضرت علي رضي الله عنه هیڅ وخت د بت عبادت یا بت ته سجده نه ده کړې ځکه دئ د رسول الله ﷺ په کور کي لوی او تربیه سو او دا چه موږ وایو: علي كَرَّمَ اللهُ وَجهَهُ. د هغه مقصد هم دا دی چي الله جل جلاله د ده مخ مکرم کړی دی، په څه سبب یې مکرم کړی دی؟ ځکه د ده مخ یې د بتانو له عبادته څخه ساتلی دی، دا د دغي جملې د ویلو سبب دی چي موږ د علي رضي الله عنه د نامه سره (كَرَّمَ اللهُ وَجهَهُ) وایو.

نو علي رضي الله عنه هم مسلمان سو، چي دا د رسول الله ﷺ د کورنۍ څخه دریم نفر دی او بیا د رسول الله ﷺ لونو رُقَيّه، زینب، ام کلثوم او فاطمه رضي الله عنهن اجمعین ایمان را وړی، دا د رسول الله ﷺ په کورنۍ کي دننه د ایمان را وړلو ترتیب ؤ.

خو د رسول الله ﷺ تر کورنۍ دباندي هغه اول نفر چي اسلام ته دعوت سوی دی او هغه هم بیله پوښتني او دلیله څخه اسلام او ایمان قبول کړي دي، هغه ابوبکر الصدِّیق رضي الله عنه دی، رسول الله ﷺ فرمایي: هرڅوک چي مي اسلام ته را بللی دی د اسلام په باره کي یې بحث او نقاش را سره کړی دی، پوښتني او معلومات یې را څخه کړي دي، بیله ابوبکره، فقط رسول الله ﷺ ورته و ویل: زه د الله جل جلاله له طرفه رسول یم، ابوبکر رضي الله عنه و ویل: أشهدُ أنّکَ رسولُ الله. شاهدي آداء کوم چي ته رسول الله یې، بېله نقاشه، بېله بحثه، بېله پوښتني، چي کله او څنګه؟ او دا یې هم و نه پوښتل چي څنګه دین دی او د کومه راغلی دی، هیڅ پوښتنه یې و نه کړه.

صدیق اکبر د اولي لحظې څخه صدِیق ؤ، دا ولي؟ ځکه ابوبکر الصدِّیق رضي الله عنه ته د رسول الله ﷺ اخلاق او امانت، صِدق او صداقت، پوره ور معلوم وه او رسول الله ﷺ یې پوره پېژندی او دئ پوهېدی چي محمّد ﷺ هیڅکله د حقیقته مخالفه خبره نه کوي او نه یې کړې ده، پسله هغه څخه چي ابوبکرالصدِّیق رضي الله عنه په اسلام مشرفه سو سمدستي یې په تبلیغ او دعوت شروع وکړه، څرنګه چي ابوبکر الصدِّیق رضي الله عنه د الفت او محبت خاوند ؤ، پوست او نرم سړئ ؤ، ښه اخلاق یې درلودل، د ده د قوم خلک به د ده د علم او تجارت، د ده د ښو اخلاقو او پوهي په سبب ورته را تله نو ده هم د هغو کسانو په دعوت شروع وکړه چي د ده ملګري او مجلسیان وه، د ده رضي الله عنه په دعوت سره په اولو ورځو کي دغه کسان مسلمانان سوي دي: عثمان بن عفان الأموي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


زبیر بن العوام الأسدي، چې ځوان او د (۱٦) کلو ؤ، عبدالرّحمٰن بن عوف، سعد بن ابی وقاص، چې د قوم په اساس د رسول الله ﷺ د ماما زوی بلل کیږي، طلحه بن عبیدالله، دغه ټول د حضرتِ ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه د دعوت په واسطه مسلمانان سوي دي، دغه اته نفره د اسلام اوله ډله او د محمّدي دعوت اول ګلان دي.

دغه کار د واقعي او صادقه مسلمان کار دی، کله چې یې ایمان را وړی په هغه لحظه یې په دعوت شروع وکړه، چې دا د ابوبکر رضی الله عنه صدق او تصدیق دی او دئ رضی الله عنه تر ټول امت غوره او بهتر دی، رسول الله ﷺ د ده په باره کي فرمایي:

«لَو وُزِنَ إِيْمَانُ الأُمَّة بِإِيْمَانِ أَبِي بَكرٍ لَرَجَحَ إِيْمَانُ أَبِي بَكر».

یعني: که د ابوبکر ایمان د ټول امت د ایمان سره وتلل سي د ابوبکر ایمان به پر دروند سي او رسول الله ﷺ فرمایي:

« وَاللهِ مَا وَطِئَ الأَرضَ بَعدَ الأَنبِيَاءِ خَيرٌ مِّن أَبِي بَكرٍ»

یعني: والله پسله انبیاوو تر ابوبکر ښه او بهتر پر مځکه نه دی ګرځېدلی.

نو د رسول الله ﷺ په شاهدي سره پسله انبیاوو ښخه ښه او بهترین د خلکو ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه دی، دا د صدیق اکبر مقام او درجه ده او دا یې فدا کاري وه چې د اسلام په شروع او ابتداء کي یې یوازي د دعوت دپاره دغه خدمت کړی دی چې د عشرهٔ مبشره ښخه پنځو نفرو د ده رضی الله عنه پر لاس اسلام را وړی دی.

او د هغو کسانو ښخه چې په اول او شروع کي په اسلام مشرفه سوي دي د ځینو نومونه په داسي ډول سره دي: بلال بن رباح الحبشي، د دې امت امین ابو عبیده عامر بن الجراح، ابو سلمه بن عبدالأسد، أرقم بن ابی الأرقم، عثمان بن مظعون او د ده دوه ورونه (قُدامه) او (عبدالله) عبیده بن الحارث بن المطلب، سعید بن زید او د ده ښځه فاطمه بنت الخطاب، چې د عمر بن الخطاب رضی الله عنه خور ده، خَباب بن الأرت، عبدالله بن مسعود او ځیني نور خلک رضی الله عنهم اجمعین، چې دغو نفرو ته السّابقون الأوّلون ویل کیږي، دغه ذکر سوي خلک په پټه مسلمانان سوي وه او رسول الله ﷺ به د تعلیم او ښوونې دپاره په پټه سره یو ځای کول او دین به یې ور ښاوه، ځکه تر اوسه پوري دعوت سِرِي او فردي ؤ، کله چې به د دغو مسلمانانو ښخه یوه نفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عبادت کولو إراده وکړه، نو به یې د مکې مکرمې په شېلو کې د قریشو د سترګو او لیدلو څخه ځان پټ او غائب کړی، هلته به یې په پټه سره د خپل رب عبادت کاوه او بیا چې د دغو مسلمانانو شمېر دیرشو نفرو ته ورسېدی چې په دې عدد کې نارینه او ښځې دواړه داخل وه، بیا نو رسول الله ﷺ د دوی د اجتماع او تعلیم دپاره د دوی څخه د یوه نفر کور اختیار کړی چې دغه کور د أرقم بن ابی الأرقم رضي الله عنه کور ؤ، ویل: دلته به د تعلیم او دیني لارښوونو دپاره سره یوځای کېږو.

د سورةُ المدثر تر نزول وروسته پرله پسې وحيِ نازلېدې چې د دغه وخت نازل سوي آیاتونه د نفس پر پاکي او د ګنهو پر پرېښوولو مشتمل وه، د اور او جنت بیان به پکښې موجود ؤ، مومنان یې په داسې فضاء کې تربیه کول چې د مشرکانو د موجوده ټولني سره یې ډېر فرق درلودی.

د دغې مرحلې دعوت که څه هم سِرّي او فردي ؤ خو بیا هم قریشو ته ځیني اخبار رسیدل، خو د قریشو کومه خاصه پروا نه په کېدل، امام غزالي رحمه الله وایي: د اسلام او اسلامي دعوت ځیني معلومات قریشو ته ورسېدل خو سر یې نه په ګرځاوه، ښایي دوی دا فکر کاوه چې محمّد ﷺ به هم یو د هغو کسانو څخه وي چې د مخه پیدا سوي وه، چې په الوهیت او د الله جل جلاله په حقوقو کې یې خبري کولې، لکه قُس بن ساعده او زید بن عَمرو بن نُفیل او داسې نور، خو بیا هم د رسول الله ﷺ د اخبار د نشریدلو څخه او د هغه د تاثیره څخه د قریشو په زړو کې بېره پیدا سوه او د ده ﷺ د دعوت مراقبت یې شروع کړی، پر دغه حال درې کاله تیر سوه، بیا هم دعوت سِرّي او فردي دی، په دغه موده کې د مسلمانانو یوه کوچنۍ ډله جوړه سوه چې د دوی په منځ کې مطلق د ورور ګلوی او تعاون ژوند ؤ او بیا داسې وحيِ نازلې سوې چې رسول الله ﷺ یې په دې سره مکلف کړی چې خپل قوم ته د اسلام اعلان وکړه او د دوی د باطل دین په مقابل کې ودرېږه او د دوی د بتانو ماهیت او اهمیت بیان کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مکي دورې دوهمه
# مرحله يا په ښکاره سره دعوت

کله چي د الله جل جلاله دا قول نازل سو چي فرمايي:

﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾﴾. [الحجر: ٩٤]

يعني: اې محمده! ﷺ جَهر او ښکاره کړه هغه شئ چي ته په امر سوى يې او مخ واړوه له مشرکانو څخه يعني: د دوى د خبرو او ويناوو هيڅ پروا مه کوه، په ښکاره ډول سره خپل تبليغ کوه، دوى په تا هيڅ نه سي کولاى.

د دغه آيات په نزول سره رسول الله ﷺ امر کړل سو چي اسلام ته دعوت عام کړه، يوازي دا نه چي خپل اقارب، دوستان او هغه څوک چي ستا پر شا وخوا دي هغه اسلام ته دعوت کړه، يا! بلکه عام او ټولو خلکو ته د توحيد او اسلام دعوت شروع کړه، نو د دغې ورځي په سهار رسول الله ﷺ د أَبي قُبَيس غره ته وختى.

د أبي قبيس غر هغه کعبې شريفي ته تر ټولو نژدې غر دى کوم چي اوس پر هغه غره قصر جوړ سوى دى او د صفا د غونډۍ سره مبتنى غر دى، دغه غر کعبې شريفي او د قريشو د ناستي ځايو ته ډېر نژدې ؤ او هر څوک چي د کعبې شريفي طرف ته وي د غره شا، يعنيٰ: د غره هغه بل طرف نه ويني، نو رسول الله ﷺ دغه د أبي قُبَيس غره ته وختى او په لوړ آوازيې ناري کړه: (وَا صَبَاحَا، وَا صَبَاحَا)

دغه ناره د قريشو د خطر ناره وه، کله چي به د دښمن لښکر پر راغلی، يا به بل عمومي شر او خطر پيښ سو قريشو به دغه ناره کول، نو قريش د دغي نارې په اورېدلو سره پوه سوه چي خطر دى، پوښتنه يې وکړه چي ناره کوونکی څوک دى؟ ويل صادق الأمين، خلکو په خپل منځ کي سره نارې کړې: هلی ژر سی صادق الأمين دروغ نه وايي خامخا يو خطر سته، نو ټول قريش د أبي قُبيس د غره سره و رسول الله ﷺ ته را ټول سوه، رسول الله ﷺ ورته و ويل: که زه درته و وايم چي د دغه غره تر شا يو مسلح لښکر ولاړ دى او غواړي چي پر تاسي حمله وکړي تاسي يې منی؟ قريشو ويل: هو! موږ هيڅکله ستا څخه خلاف او دروغ نه دي اورېدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ و فرمایل: زه تاسي د الله جل جلاله له سخت عذابه بېروم او زه تاسي ته د الله جل جلاله له طرفه رسول یم، دلته نو د رسول الله ﷺ اکا چي نوم يې عبدالعزیٰ او لقب يې ابولهب دی و ویل: (تَبّاً لَکَ) تا لره دي هلاک وي د دغه دپاره دي موږ راوغوښتلو، خپل ټول کارونه مو پرېښوول چي ستا دغه خبري واورو او ابولهب نورو خلکو ته و ویل: ځی ځی خپلو کارو ته مو ولاړ سی او خلک بیرته د رسول الله ﷺ څخه رهي سوه او ولاړل، خلک چا په بیرته تلو سره امر کړه؟ د رسول الله ﷺ اکا ابولهب، نو ځکه د ده په باره کي دغه آیاتونه نازل سوي دي:

﴿ تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ۝١ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ۝٣ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ۝٤ فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ۝٥﴾.

دا خو ابولهب ؤ چي د اولي ورځي څخه يې خپل ټول عمر د اسلام په دښمني کي تیر کړی دی چي قصې به يې په وروسته کي درته راسي، همدارنګه د ده ښځه چي ام جمیل ورته ویل کېده او د ابوسفیان بن حرب خور وه د اسلام او رسول الله ﷺ سر سخته دښمنه وه، دې به همیشه زوزان لرونکي لرګي یا ښاخلې را وړلې او د هغو زوزان به يې د رسول الله ﷺ په لار کي ایښوول، کتل به يې چي رسول الله ﷺ پر کومه لار تیریږي په هغه لار کي به يې دغه زوزان کښېښوول، چي دغه زوزان د رسول الله ﷺ په مبارکو پښو ننوزي او آزار ور کړي، نو ځکه الله جل جلاله و فرمایل:

﴿وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ۝٤﴾

یعني: د ده ښځه به د دوږخ د اور لمبو ته په داسي حال کي ننوزي چي دوږخ ته به د لرګو د بار وړونکې وي.

﴿فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ۝٥﴾

ژباړه: د دې په غاړه کي به د اور رسۍ وي.

د دغه آیات شریف په ترجمه کي ډېر مفسرین وایي: چي په دوږخ کي به د دې په غاړه کي د اور امیل یا غاړګۍ وي ځکه دې یوه ډیره قیمت بها غاړګۍ یا امېل درلودی او دې به په لات او عزیٰ سره قسم یاداوه چي زه به دغه خپل امېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمدﷺ په دښمني کې مصروفوم، نو الله ﷻ به د دغه عمل په عوض او پر ځای په دوږخ کې د اور امیل یا غاړکۍ ورپه غاړه کړي او د دې بد بختې مرګ په ډېر عجب شکل سره پېښ سو، هغه دا چې دې یو وخت د بوټو یا لرګیو بار را اخیستی ؤ، پرلاري سترې سوه نو یې دغه بار پر یوه لویه ډبره کښېښاوه چې ځان هوسا کړي، د الله ﷻ په امر سره د بار رسۍ د دې په غاړه کې غوټه سوه او بار د ډبري شا ته ولوېدی.

نو څه پیښه سوه؟ د ډبري یوه طرف ته بار ځړېږي او بل طرف ته د ابولهب ښځه ځړېږي، دواړه په یوه رسۍ تړلي دي او رسۍ د دې په غاړه کې غوټه ده ترڅو چې هغه خبیث روح او نَفَس یې وخوت.

***دا د ابولهب د ښځې مرګ ؤ او د ابولهب د مرګ قصه به په وروسته کې واوری.***

او بیا د سورةُ الشعراء د (۲۱۴) نمبر آیات په نازلېدلو سره چې الله ﷻ فرمایي:

﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾﴾

یعني: اې محمده!ﷺ د الله ﷻ له عذابه څخه ستا نژدې خپلوان وبېروه.

نو رسول اللهﷺ بني هاشم، بني عبدالمطلب او خپل قریبان په خپل کور کې سره را ټول کړه چې د مُطلّب بن عبد مناف د اولادې څخه هم څو نفره پکښې موجود وه او د ټولو نفرو شمیر (۴۵) نفرو ته رسېدی، کله چې رسول اللهﷺ د خبرو کولو إراده وکړه د مخه تردې چې رسول اللهﷺ خبري شروع کړي ابولهب په خبرو شروع وکړه او ویل: یا محمّد!ﷺ که تا مور د دې دپاره را ټول کړي یو چې ستا د دین بیان راته وکړې نو خبري مه کوه مور یې نه اورو او پوه سه چې ستا قوم د ټولو عربو قوت او طاقت نه لري، رسول اللهﷺ ولیدل چې وخت او موقع د خبرو کولو دپاره نه دي مناسب نو چپ سو او څه یې و نه ویل، څو ورځې وروسته یې بیا خپل اقرباء سره را ټول کړه، مهماني یې ورته جوړه کړه، پسله عزته او احترامه، پسله خوړلو او څښلو رسول اللهﷺ په خبرو شروع وکړه او وې فرمایل:

« الحمد لله أحمَدُهُ، وأستَعِينُهُ، وأُومِنُ بِهِ، وَأَتَوَكَّلُ علَيه، وأشهدُ أن لا إله إلا الله وحده لاشريكَ لَهُ »

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بیا یې وفرمایل: هیڅ رائد او قائد خپل قوم ته درواغ نه وایي، زما دي قسم په هغه الله وي چې بېله ده څخه بل الله نسته چې زه تاسي ته خاص رسول الله یم او نورو ټولو خلکو ته عام رسول الله یم، په والله تاسي داسي مری لکه چې بیدېږی او بیا داسي را ژوندي کېږی لکه چې را ویښېږی او ستاسي سره ستاسي د عملو حساب کیږي او تر حساب وروسته یا ابدي جنت دی یا ابدي اور.

ابوطالب وویل: موږ ستا نصیحت واورېدی او ستا د خبرو پوره تصدیق کوو او ستا سره مرسته او معاونت کول زموږ ډیر خوښ دي، دغه حاضر نفر ستا د پلرو زامن دي او زه د دوی څخه یو نفر یم، خو زه تر دوی ټولو د مخه و هغه کار ته حاضریم چې ستا خوښ وي، په هرڅه چې امر کړه سوی یې پر هغه اقدام وکړه په والله زه به همیشه ستا څخه دفاع کوم، خو دا بیا بله خبره ده چې زما زړه دا نه خوښوي چې د عبدالمطلب دین پرېږدم.

ابولهب وویل: والله دا بد کار دی د مخه تر دې چې نور خلک یې منعه کوي تاسي یې منعه کړی، ابوطالب وویل: یا! والله ترڅو چې ژوندي یو د ده دفاع به کوو.

او بیا رسول الله ﷺ د اسلام او توحید په باره کي خبري وکړې او هریوه ته یې د هغه په نامه سره خطاب کاوه او وې فرمایل:

یا بني کعب بن لؤی! خپل ځانونه له اوره خلاص کړی.

یا بنی مُرّه بن کعب! خپل ځانونه له اوره خلاص کړی.

یا بني عبد شمس! خپل ځانونه له اوره خلاص کړی.

یا بني عبد مناف! خپل ځانونه له اوره خلاص کړی.

یا بني عبدالمطلب! خپل ځانونه له اوره خلاص کړی.

هر یوه ته یې د هغه په نامه سره جلا جلا خطاب کاوه، حتّی خپلو عمه گانو ته یې د هغو په نامه سره خطاب کاوه، او ویل: یا صفیه بنت عبدالمطلب! د الله له طرفه هیڅ نه سم درسره کولای زه مو د الله جل جلاله له عذابه نه سم خلاصولای، خپل ځانونه په خپله خلاص کړی، یا فلان، یا فلان، هریو په نامه یادوي، تر څو خپلي لور حضرتِ فاطمه رضی الله عنها ته یې وویل: یا فاطمه! د دنیا د مال څخه چې ستا خوښ وي هغه را څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وغواړه، مګر د الله جل جلاله له عذابه دي نه سم خلاصولای، هر يو يې جلا جلا په خپل دين او اسلام خبر کړی او ټوله يې د الله جل جلاله له عذابه و بېرول.

اوس نو د دغو اقرباوو څخه خوک اسلام ته داخل سوه او ځوک نه سوه داخل، د هغي جملې څخه چي په اسلام مشرفه سوه يوه هم صفيه بنت عبدالمطلب د رسول الله ﷺ عمه وه، چي د زبير بن العوام رضی الله عنه مور ده او رسول الله ﷺ نور هم په ښکاره سره خپل دعوت او تبليغ ته دوام ورکړی، خو د قريشو عکس العمل د دغه دعوت په مقابل کي دا ؤ چي رسول الله ﷺ ته يې شا ور وګرځول او د ده ﷺ دعوت يې نه قبلاوه او ويل يې: موږ هغه دين نه سو پرېښوولای چي د پلرو او نيکه ګانو څخه را پاته دی او اوس زموږ د ژوند عادت او رواج ګرځېدلی دی.

دلته نو رسول الله ﷺ دوی دې ته متوجه کړه چي تاسي بايد خپل فکرونه او عقلونه د ړانده تقليد او بې سنجولو متابعت له قيده آزاد کړی، د عقل او منطق څخه کار واخلی او ويل: دغه بتان چي تاسي د هغو عبادت کوی نه ګټه در رسولای سي نه ضرر او دا چي ستاسي پلرو او نيکه ګانو د هغو عبادت کاوه دا عذر نه دی دا فقط ړوند تقليد دی.

کله چي رسول الله ﷺ د دوی پر آلهه يا خدايانو عيبونه و ويل، ضعيفه او بې وسه يې وبلل او ويل: دا چي ستاسي پلرو او نيکه ګانو د هغو عبادت کاوه ستاسي پلرو د عقله څخه کار نه دی اخيستی، دغه خبري پر کفارو ډيري درنې سوې، قريش ټول په قهر او غضب سوه ځکه اوس په لوړ آواز سره اوري چي مشرکان او د بتانو عبادت کوونکي ګمراه دي، دغه خبري لکه يوه صاعقه يا ټکه چي پر را ولوېدل، د مکې مکرمې په آرامه فضاء کي زلزلې شروع سوې، قريش سره يو ځای سوه چي د دغه طوفاني انقلاب مخه ونيسي، بيربړي چي زموږ رواجونه او موروثات به له منځه ولاړ سي مګر اوس د داسي چا په مقابل کي چي په صادق الأمين سره مشهوره دی څه وکړي؟ هغه داسي ځوک دی چي د بشريت او ښو اخلاقو يو اعلیٰ مثال دی، د ده په مثل سره يې نه په خپل او نه د خپلو پلرو په عصر کي ځوک ليدلی ؤ اوس حيران پاته دي چي څه وکړي؟

نو قريشو سره و ويل: دا ځوک دی چي محمّد ﷺ د هغه په قوت او ساتنه دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت پیدا کړی چې زموږ خدایان بې قدرته او عبث وبولي؟

دا معلومه خبره وه: هغه څوک چې د محمّد ﷺ ساتنه او حفاظت یې کاوه هغه ابوطالب ؤ، قریشو پسله ډیرو مشورو بله لار نه کړه پیدا بیله دې څخه چې د رسول الله ﷺ اکا ابو طالب ته ورسي او د هغه څخه دا غوښتنه وکړي چې خپل وراره دې د دعوت له کاره منعه کړه او ورته و وایي چې دغه د ده ﷺ دعوت چې وایي: خپل آلهه یا خدایان پریږدی او هغه تاسي ته د نفعي یا ضرر رسولو قدرت نه لري، دا زموږ خدایانو ته بد ویل او ښکنځل دي او په عین حال کي په دغو خبرو کي زموږ د پلرو هغه چې پر دغه دین وه ګمراهي او نا پوهي هم بیانیږي.

د قریشو دا فکر خوښ سو او ژر یې د هغه په عملي کولو شروع وکړه، د قریشو د اشرافو څخه یوه ډله ابوطالب ته ورغله او ورته ویې ویل: یا ابا طالب! دغه ستا وراره زموږ آلهه په بده سره یادوي او زموږ دین غلط بولي، زموږ عقیده باطله بولي، زموږ پلرونه چې پر دغه دین وه ګمراهان بولي او موږ پوهیږو چې هغه ستا په ساتنه کي دی، یا دئ زموږ څخه منعه کړه چپ یې کړه چې زموږ خدایانو او دین ته بد نه وایي یا موږ او دئ سره پریږده څکه ته هم دغه زموږ پر دین او د ده مخالف یې.

ابوطالب د دوی ښه پوست او نرم جواب وکړی او دوی هم څني ولاړل، خو رسول الله ﷺ پر هغه خپل حال ؤ د الله جل جلاله د دین اظهار او بیان یې کاوه او خلک یې دعوتول، خو د قریشو څخه یې په ظاهري شکل د ده اکا ابوطالب او د عبدالمطلب اولاده ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دعوت د اورېدلو ځخه
## د حاجیانو د منعه کولو دپاره د قریشو مشورې

په دغه موده کي قریشو ته یو بل مهم کار پیدا سو، هغه دا چي د دعوت پر ښکاره کېدلو فقط څو میاشتي تیري سوي وې چي د حج موسم را نژدې سو او قریش پوهېدل چي د عربو مختلفي ډلي د مختلفو ځایو څخه مکې مکرمې ته راځي نو دوی و ویل: موږ باید خامخا داسي یوه خبره ولرو چي د محمدﷺ په باره کي یې نورو عربو ته وایو، دا د دې دپاره چي د محمدﷺ دعوت د نورو عربو پر زړو تاثیر و نه کړي، نو د قریشو مشران و ولید بن مغیره ته را ټول سوه او په دغه باره کي مشوره ور سره کوي چي موږ باید خلکو ته د محمدﷺ په باره کي څه و وایو؟
ولید و ویل: هو په اتفاق سره باید یوه خبره جوړه کړی او ټوله به هغه یوه خبره کوی، مختلفي خبري به نه کوی ځکه په مختلفو خبرو کي یوه ډله هغه بله ډله دروا‌غجنه کوي او د یوې ډلي خبري د هغي بلي ډلي په خبرو رَدیږي، قریشو ویل: نو ته و وایه چي خلکو ته به څه وایو؟ ولید ویل: یا! تاسي و وایاست زه به غوږ درته ونیسم، قریشو و ویل: خلکو ته به وایو چي کاهن دی، ولید و ویل: یا والله کاهن نه دی، موږ کاهنان لیدلي دي د ده په خبرو کي نه دکاهنانو سجعه سته نه زَمزَمه، قریشو ویل: داسي به وایو چي لیونئ دی، ولید ویل: لېونئ هم نه دی، موږ لېونتوب لیدلی دی او را معلوم دی، نه د لېونتوب وسوسه پکښي سته نه یې خُرافات، قریشو ویل: نو به وایو چي شاعر دی، ولید ویل: شاعر هم نه دی، موږ د شعر ټول اقسام پیژنو، رِجز او هَجز، قُریض او مَقبوض، مبسوط او د شعر نور ټول اقسام را معلوم دي، د ده خبري شعر نه دی، قریشو ویل: نو به وایو چي ساحر دی، ولید و ویل: ساحر هم نه دی، موږ ساحران او د هغو سحر لیدلی دی، نه د هغو پو کل پکښي سته او نه د هغو غوټه کول.
قریشو ویل: نو څه و وایو؟ ولید و ویل: والله د ده خبري خوږې دي، د خبرو رېښې یې خوشبویه دي او ښاخونه یې مېوه لرونکي دي، د ده په باره کي چي تاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه هرڅه و ویل، معلومیږي چې ټول ناحقه او باطل وایاست، قریشو و ویل: نو هغه ستا ښه او روښانه نظر را ته و وایه، ولید و ویل وخت راکړی چې فکر پکښې وکړم، ولید فکر واهه، واهه څو په آخر کې یې و ویل: معقوله خبره دا ده: چې و وایاست ساحر دی، داسې خبرې کوي چې په هغه سره زوی او پلار جلا کوي، ورور او ورور جلا کوي، ښځه او خاوند جلا کوي، سړئ او خپله قبیله جلا کوي، پسله هغه چې د قریشو پر دغه خبره اتفاق او مصلحت وسو نو یې د هغې پر عملي کولو اقدام وکړی.

د حج د موسم په وخت کې قریشو د مکې مکرمې پرلارو نفر کښېنول، هرڅوک چې به مکې مکرمې ته را تله هغه به یې ببرول او ورته ویل به یې چې په موږ کې یو داسې ساحر پیدا سوی دی چې په خپلو خبرو پلار او زوی سره جلا کوي، ورور او ورور سره جلا کوي، ښځه او خپل خاوند سره جلا کوي، پام کوی چې خبرې یې وانه وری او د دې کار مشرتوب ابولهب پر غاړه واخیستی، کله چې به رسول الله ﷺ د حج د موسم په وخت کې خلک ویوه الله جل جلاله او وحدانیت ته دعوتول ابولهب به په پسې ؤ او دغه به یې ویل: د ده خبرې مه منی دا د دینه اوښتی او کذاب دی (العیاذ بالله) او د دې کار نتیجه دا سوه چې د دغه موسم راغلو عربو د ځانه سره دغه خبر خپلو وطنو ته یو وړی او د رسول الله ﷺ د دعوت خبر د عربو په ټولو وطنو او قبیلو کې نشر سو.

## د دعوت د چپولو دپاره د قریشو قِسم قسم طریقې

کله چې قریشو ولیدل چې محمّد ﷺ د خپله دعوته څخه لاس نه اخلي نو بیا سره کښېنستل او په دې باره کې یې فکر وکړی، د دعوت د منعه کولو دپاره یې ډیرې خبرې وکړې او ډیرې لارې چارې یې وسنجولې او د هغو د عملي کولو دپاره یې فیصلې وکړې چې د هغو فیصلو خلاصه به درته بیان سي:

**لومړۍ**: په مسلمانانو پسخند او ملنډې وهل، مسلمانان خوار او ضعیفه بلل، پر هغو مسخرې کول، پر هغو خندل او درواغجنان بلل، چې په دې کارو سره یې د مسلمانانو ښوَیَوَل مقصد وه او د دوی معنوي قواوې یې ور ضعیفه کولې، پر رسول الله ﷺ یې بېځایه تهمتونه ویل، سپکې او نالایقې خبرې یې ورته کولې، د مجنون او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليوني په نامه سره به يې ناړې وروهلې، الله جل جلاله په سورة الحِجر كي فرمايي:

﴿وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴿٦﴾﴾. [الحجر: ٦]

يعني: دغو كفارو به محمّد ﷺ ته ويل: اې هغه څوكه چي پر هغه قرآن نازل سوى دى، بيشكه ته خامخا ليونئ يې.

او ځيني وختونه به يې ورته ويل: ته ساحر او كاذب يې (العياذ بالله) الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَعَجِبُوا أَن جَاءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ ۖ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَٰذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٤﴾﴾. [ص: ۴]

يعني: كفار د دې څخه تعجب كوي چي د دوى له جنسه او د دوى له قومه دوى ته بېرووونكى (رسول) راغلى دى او دغه كافران وايي: چي دغه بېرووونكى (رسول) ساحر كوډګر درواغجن دى.

كله چي به رسول الله ﷺ يو ځاى كښېنستى او د ده پر شا و خوا به د ده ﷺ هغه ضعيفه اصحاب ناست وه، كفارو به پسخندونه په وهل او ويل به يې: دغه خوار او ضعيفه خلك د ده مجلسيان دي؟

**دوهم**: د رسول الله ﷺ پر تعاليمو او لار ښوونو شُبهات پيدا كول او د حقيقت څخه ليري درواغ پوري تړل او پر اسلامي تعليماتو بېځايه ايرادونه نشرول، حتّى د رسول الله ﷺ پر شخصيت د شُبُهاتو او ايراداتو نشرول او دا نشريات دومره ډير وه چي عامو خلكو د رسول الله ﷺ د دعوت په حقيقت كي د فكر كولو وخت او مجال نه درلودى او قرآن مجيد ته يې اساطير الأولين (پخوانى قصې) ويل او ويل به يې چي دغه قرآن يو انسان ور ښيي او ويل به يې دا څنګه رسول دى چي خواړه خوري او په بازارو كي ګرځي، خو په قرآن مجيد كي د كفارو د دغه ټولو ايراداتو رَد موجود دى.

**درېيم**: د قرآن مجيد سره په پخوانيو قصو معارضه كول، چي خلك به يې د قرآن مجيد د اورېدلو څخه په هغو قصو مشغوله كول او داكار يې د نضر بن الحارث په واسطه سره كاوه چي تفصيل به يې په وروسته كي درته راسي.

**څلورم**: مساومات، يعني: د رسول الله ﷺ سره داسي خبري وكړي چي څه راكړه او څه واخله، د دې څخه مقصد دا دى چي شرك او اسلام سره ګډ كړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


يعني: مشرکان د خپل شرک څه کارونه پرېږدي، او رسول اللهﷺ د خپل دين او دعوت څه کارونه پرېږدي. *دا خود کفارو فيصلې او عمل ؤ.*

خو پر دغه سربېره مشرکانو وليدل چې دعوت نور هم نشرېږي او د خلکو توجه ور اوړي، قريش په بېړه کې سوه چې دا قصه نوره هم پسې اوږدېږي او دوی يې مخ نيوی نه سي کولای، قريبه ده چې د اسلام او مسلمانانو د دعوت مسئله پر ټوله مکه غالبه سي، نو د قريشو مشرانو دا مشوره او اتفاق وکړی چې داسي يوه کار ته به محمّدﷺ را وبولو چي تراوسه مو هغه پيشنهاد نه دی ورته کړی، نوې خبره ده ښايي دا را سره ومني.

د قريشو ټولو مشرانو دغه خبره خوښه کړه او رسول اللهﷺ يې د قريشو د مشرانو سره د ملاقات دپاره ور وغوښتی، سرور کائناتﷺ هم ورغلی، قريش ورته کښېنستل او ويل: يا محمّد! هر پيشنهاد چې مو درته وکړی تا نه کړی قبول اوس يوه نوې طريقه درته وايو او دا دي هم تا ته معلومه وي چې دغه نوې طريقه موږ ته ډېره سخته او مشکله ده، رسول اللهﷺ و فرمايل: واياست دغه نوې خبره مو څه شي ده؟

قريشو و ويل: موږ وينو چې ته پرخپله خبره ټينګ يې، نو به يو بل اتفاق وکړو، هغه دا چې يوه ورځ ته زموږ د آلهه يا خدايانو عبادت کوه او يوه ورځ به موږ ستا د الله عبادت کوو سره برابر به يو، يوه ورځ ته زموږ پر دين سه او يوه ورځ به موږ ستا پر دين يو (چې دغه هغه مساومات دي) رسول اللهﷺ و فرمايل: دا د دين کار دی دا اختياري معامله نه ده، داسي نه سي کېدلای، قريشو ويل: موږ به يوه هفته ستا د الله عبادت کوو او ته يوه ورځ زموږ د خدايانو عبادت کوه، بيا هم رسول اللهﷺ نه کړه قبوله او ويل: دا څه بې معنٰی خبري دي، دا لوبي او مسخرې دي؟ آلهه يا خدايان داسي وي چې يوه ورځ يې تابع او بله ورځ يې منکره ياست؟

ابن اسحاقرحمه الله وايي: رسول اللهﷺ پر کعبه شريفه طواف کاوه چې اسود بن مطلب، وليد بن مغيره، اميه بن خلف، عاص بن وائل، چې دغه ټول د قريشو لوی لوی مشران دي و رسول اللهﷺ ته و درېدل او ويل: يا محمّد!ﷺ راسه موږ به د هغه چا عبادت کوو چې ته يې عبادت کوې او ته د هغه چا عبادت کوه چې موږ يې عبادت کوو، که ستا معبود زموږ تر معبود ښه او بهتر ؤ موږ به هم په هغه کي خپله حصه اخيستې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي او که زموږ معبود ستا تر معبود ښه او بهتر ؤ تا به هم د هغه څخه خپله حصه اخیستې وي، الله جل جلاله د دوی په باره کې سورة الکافرون نازل کړی چې رب عزوجل فرمایي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ۝ لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ ۝ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ۝ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ ۝ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ۝ لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ ۝﴾.

الله عزوجل دغه د مشرکانو مساومات یا مفاوضات په دغه قاطعه او جازمه فیصله سره ور رد کړل، خو دغه مساومات د یوه یا دوو وارو دپاره نه دي سوي بلکه دغه خبري د مشرکانو له طرفه څو واره او تکراراً سوي دي خو په هر وار کي به بې فایدې وې ځکه دا امکان نه لري چې هلته مشترک عبادت موجود وي چې هم دي الله جل جلاله منم او هم د ډبرو بتان او د الله جل جلاله دا قول هم په دغه باره کي نازل سو چې فرمايي:

﴿وَدُّواْ لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ ۝﴾. [قلم/ ۹]

یعني: که ته د دوی طرف ته لږ ور واوړې دوی تیار او آماده دي چې ستا طرف ته ور واوړي، مګر یا! دا د عقیدې مسئله ده په عقیده کي هیڅ نرمتیا او مراعت امکان نه لري، د عقیدې کار باید خامخا واضح، صریح او ښکاره وي، د عقیدې په کار کي بېره، نرمي، غوړه مالي، د یو چا لحاظ او مراعت هیڅ او بالکل نه ځاییږي.

## د مشرکانو له طرفه د آزارو شروع کېدل

د بعثت د څلورم کال په شروع کي مشرکانو د دعوت د چپولو او منعه کولو دپاره دغه ذکر سوي طریقې یوه پسله بلي عملي کولې، پر دې کار څو میاشتي تیري سوې چي فقط دوی د خولې د خبرو څخه کار اخیستی، د مسلمانانو په آزارولو او عذاب ورکولو یې شروع نه وه کړې، خو دوی ولیدل چې دغه طریقې د اسلامي دعوت په منعه کولو او چپولو کي بې فایدې دي او هیڅ نتیجه نه ورکوي، نو د بل وار دپاره بیا د قریشو سرداران او مشران سره را ټول سوه چي د دې مجلس او شورى د اعضاوو شمېر پنځه ویشت نفره ؤ او د دې مجلس رئیس ابولهب د رسول الله ﷺ اکا ؤ، پسله ډېره فکره او پسله ډېرو مشورو دې مجلس د رسول الله ﷺ او د ده د اصحابِ کرامو

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرضد ډېر جازم او قاطع تصاميم ونيول، ويل: هرڅوک به د اسلام او مسلمانانو سره په مقابله او جنګېدلو کي خپل ټول قدرت او پوره طاقت استعمالوي، د محمّد ﷺ په آزارولو کي به هيڅ دريغ او کوتا هي نه کوي او هغه کسان چي اسلام ته داخل سوي دي يا نوي داخلېږي هغو ته به سخت سخت عذابونه او تکليفونه ورکول کيږي، دغه مادې تصويب سوې او د هغو د عملي کولو دپاره تصميمونه ونيول سوه.

اوس خو د نورو مسلمانانو سره خاصتاً د هغه ضعيفي طبقې سره د دغو مقرراتو عملي کول آسانه کار ؤ مګر رسول الله ﷺ چي د ډېر وقار او دبدبې خاوند دی، خوږ شخصيت يې دی، د دوستانو او دښمنانو په سترګو کي لوی او محترم دی، د داسي چا سره څوک بيله عزته او احترامه نه سي مخامخ کېدلای، د داسي چا په مقابل کي بې ادبي او سپکي خبري کول بېله رذيل او بې شرفه خلکو بل څوک نه سي کولای او پر دې ټولو سر بېره محمّد ﷺ د ابوطالب په ساتنه کي دی او ابوطالب د مکې مکرمې د خاصو مشرانو څخه دی، هيڅوک د هغه يوه هګۍ ځان ته حلاله نه سي بللای او محمّد ﷺ د هغه وراره دی، دغه کيفيت قريش په تردُد کي واچول مګر بيا هم ترکومه وخته د دغه دعوت په مقابل کي چي د دوی ديني زعامت او مشرتوب، دنيوي صدارت او آمريت يې په خطر کي اچولي دي صبر وکړي؟.

## د رسول الله ﷺ او اصحابِ کرامو آزارول

اوس نو د مشرکانو له طرفه د رسول الله ﷺ آزارونه شروع سوه چي د دغه آزارووتکو مشري د ابولهب پرغاړه وه، ابولهب خو هغه څوک دی چي د رسول الله ﷺ سره يې د اولي ورځي څخه د مخه ترديې چي قريش د هغه د عداوت په باره کي فکر وکړي دښمني شروع کړې وه، د صفا د غونډۍ د نارې په ورځ دئ ؤ چي رسول الله ﷺ ته يې ناوړه جواب و وايه او خلکو ته يې د بيرته تللو امر وکړی، په ځينو رواياتو کي راغلي دي: کله چي رسول الله ﷺ د صفا پر غونډۍ د خپل رسالت اعلان وکړی ابولهب يوه ډېره واخيستل غوښتل يې چي په هغه سره رسول الله ﷺ و وُلي.

همدارنګه د بني هاشم په مجلس کي ابولهب ؤ چي رسول الله ﷺ يې د اسلام .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دعوت او بیانولو څخه منعه کړی، دغه ابولهب تر بعثت د مخه د خپلو دوو زامنو دپاره چي عُتبه او عُتیبه نومېدل د رسول الله ﷺ دوې لوڼي رُقَیّه او ام کُلثوم په نکاح کړي وې، کله چې رسول الله ﷺ په رسالت سره مبعوث کړل سو ابولهب خپل زامن د رسول الله ﷺ د لوڼو په طلاقولو سره جبراً او قهراً امر کړل، ترڅو چي هغو هم تر واده کولو د مخه طلاقي کړې او کله چي د رسول الله ﷺ دوهم زوی عبدالله وفات سو ابولهب په ځغستا خپلو نورو مشرک ملګرو ته ورغلی او دا زېری یې پر کاوه چي محمّد ﷺ ابتر یعني: (بې زویه) سو، او دا مو مخ کي درته و ویل کله چي به رسول الله ﷺ د حج په موسم کي نوري قبیلې اسلام ته دعوتولې ابولهب به تر شا په پسې ؤ او خلکو ته به یې ویل: د ده خبري مه منی دا د دینه اوښتی او درواغجن دی (العیاذ بالله) په یوه روایت کي راغلي دي چي یوازي پر دغو خبرو یې کفایت نه کاوه بلکه رسول الله ﷺ به یې په ډبرو هم ویشتی ترڅو چي د رسول الله ﷺ تر پښو به وینې بهېدې.

د ابولهب ښځه چي ام جمیل ورته ویل کېده او نوم یې اروٰی بنت حرب بن امیه ؤ او د ابوسفیان خور وه د رسول الله ﷺ په دښمني کي تر خپل مېړه ابولهب کمه او پاته نه وه، د شپې به یې زوزان را وړل او د رسول الله ﷺ په لار او د کور په دروازه کي به یې د دې دپاره ورته اېښوول چي د ده ﷺ په مبارکو پښو ننوزي.

د ابولهب ښځه یوه بد خولې او د اوږدې ژبې خاونده وه، پر رسول الله ﷺ به یې تهمتونه ویل او بې ځایه خبري به یې پر کولې، د فتنې اور ته به یې پکه وهل، د رسول الله ﷺ پرضد چي هرڅه پرخوله ورتله هغه به یې ویل، نو ځکه قرآن مجید دا د حمّالۃ الحطب په نامه سره یاده کړې ده.

کله چي دې واورېدل چي د دې او د دې د مېړه په باره کي قرآن نازل سوی دی چي هغه د تبت یدا سورة دی نو رسول الله ﷺ ته ورغله چي هغه د کعبې شریفي سره ناست ؤ او ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه هم ورسره ؤ، د دې په لاس کي یو مټ شګي هم ور سره وې غواړي چي په دغه شګو رسول الله ﷺ و وُلي، کله چي دا ورته و درېدل الله جلّ جلاله د دې پر سترګو د رسول الله ﷺ لیدل منعه کړه، نو دې و ویل: یا ابا بکرا! ملګری دي چیري دی؟ زه خبره سوې یم چي ده پر موږ بد ویلي دي، په والله که

(c) ketabton.com: The Digital Library


مي وليدی په دغو شکو به يې پرخوله وولم او والله زه شاعره يم.

او بيا يې وويل:

(مُذَمَّمًا عَصَيْنا * وَامرُهُ أَبيْنَا * وَدِينُهُ قَلَيْنا)

يعني: موږ د مذمّم نافرماني کړې ده او د ده امر نه قبلوو او د ده د دين سره مو مقاطعه کړې ده.

د محمّد پر ځای يې مذمّم و وايه او بيا رهي سوه، ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ويل: يا رسولَ الله! آيا ته يې نه ليدلې؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: هو زه يې نه ليدلم، الله عزوجل دا پر ما ړنده کړل.

هغه د رسول الله ﷺ اکا ابولهب ؤ چي هغه ناوړه کارونه يې کول او دغه يې ښځه وه او په عين وخت کي دوی د رسول الله ﷺ همسايګان هم وه، کور يې د رسول الله ﷺ د کوره سره مښتي ؤ، رسول الله ﷺ پر دوی سربېره نور همسايګان هم درلودل چي دوی ټولو رسول الله ﷺ دنه په خپل کور کي ډير آزارا وه، د رسول الله ﷺ همسايګان هغه چي ده ﷺ ته يې په کور کي آزار او تکليف ورکاوه دغه کسان وه: ابولهب، حکم بن ابی العاص، عُقبه بن أبي مُعيط، عُدَی بن حمراء الثّقفي، ابن الأصداء الهُذلي، دغه څو نفره د رسول الله ﷺ همسايګان وه، وعده او اتفاق يې سره کړی ؤ چي هميشه به محمّد ﷺ ته آزار ورکوو، رسول الله ﷺ به په خپل کور کي پر لمانځه ولاړ ؤ د دغو همسايګانو څخه به يوه د پُسه د نس مردار شيان پر ورغورځول، ترڅو چي رسول الله ﷺ د دغه آزارو په سبب دې ته مجبوره سو چي لمونځ د هغي لوېي ډبري شا ته وکړي کومه چي د ده ﷺ په کور کي موجوده وه.

او ځينو همسايګانو چي به يې پُسه يا اوښ حلال کړی د هغه د نس چټل او خراب شيان به يې د رسول الله ﷺ دکور غولي يا ميداني ته ور غورځول يا به يې د ده ﷺ د کور په دروازه کي ورته کښېښوول، رسول الله ﷺ به هغه چټلي او مرداري، لَرَی او کلمې په يوه لرګي را پورته کړه او د خپل کور په دروازه کي به ودرېدی فقط دومره به يې و ويل: يا بني عبد مناف! دا څنګه همسايتوب دی؟ آيا د همسايه حق دغه دی؟ تر دغه جملې زيات به يې نور څه نه ويل او بيا به يې هغه چټلي ليري

(c) ketabton.com: The Digital Library


وغوړځول، دغه آزارونه همېشه و رسول اللهﷺ ته ور رسېدل، هره ورځ به دغو همسايګانو خپل انبار او کچره د رسول اللهﷺ د کور مخ ته غورځول او رسول اللهﷺ به ايسته کول.

اوس نو ته فکر وکړه: که د يو چا يو همسايه بد وي، هغه څومره په تکليف وي؟ مګر که ستا ټول همسايګان بد سي او ستا د تکليف او آزارولو نيت يې هم کړی وي نو بيا به دي څه حال وي؟ خو زموږ پيشوا او پيغمبر سرور کائناتﷺ د خپلو همسايګانو څخه دغسي آزارونه او تکاليف ليدل او د هغو د لاسه څخه يې دغسي تريخ ژوند تېراوه.

عُقبه بن أبي معيط په خپل خباثت او شقاوت کي نور هم زياتوب کاوه، امام بخاري د عبدالله بن مسعودﷺ څخه روايت کوي: چي يوه ورځ رسول اللهﷺ د کعبې شريفي سره لمونځ کاوه، ابوجهل او د قريشو نور مشران هم هلته ناست وه او ورته ګوري، زړونه يې له قهره او غضبه ورته ايشي، په دغه وخت کي نور خلک راغله او کعبې شريفي ته نژدې يې يوه اوښه حلاله کړه، نس يې ورڅيري کړی کُلمې او لړمون يې څني را وايستل، قريش ورته ګوري او په خپل منځ کي يې سره و ويل: څوک دغه کُلمې اخلي او د محمّدﷺ پر سر يې د ده د سجدې په وخت کي ور ايږدي؟

قريش خاندي او ملنډي وهي غواړي چي يو څوک دغه ناوړه کار وکړي، خو عُقبه بن أبي مُعَيط ملعون و ويل: دا کار زه کوم، قريش خاندي او عقبه ته وايي ونيسه ولاړ سه يو له يوه طرفه او بل له بله طرفه دئ په دغه کار امر کوي، څو عقبه لعنة الله عليه ولاړ سو او هغه د اوښي د نس مردار شيان يې ور سره واخيستل، کله چي رسول اللهﷺ پر سجده سو د هغه پر سر يې ورکښېښوول، ويني، مرداري، غوړزګي، د رسول اللهﷺ پر مبارک سر پراته دي او دهﷺ خپل رب ته سر پر سجده ايښی دی، عقبه ملعون بيرته د قريشو پر طرف ور رهي سو او خاندي، شين شين د خندا کيږي، هغه نور قريش هم ورته ګوري او پر دغه خپل رذيل او خبيث عمل خاندي، رسول اللهﷺ خپل رب ته سر پر سجده ايښی دی او دغه چټل، غوړ او مردار شيان يې پر سر پراته دي او هلته قريش پر خاندي.

هغه څوک چي د دغي قصې روايت کوي وايي: قريشو دومره وخندل چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ډېري خندا څخه پر یوه او بل طرف کږېدل، یوه به پر بل ځان تکیه کاوه، د ډېري خندا څخه یې ځانونه نه سوای تکیه کولای او دغه خندا یې ټوله د رسول الله ﷺ پر دغه حالت وه او رسول الله ﷺ بې حرکته خپل رب ته سر پر سجده ایښی دی او د سجدې څخه نه را پورته کېږي، څو د رسول الله ﷺ کوچنۍ لور حضرتِ فاطمه رضي الله عنها راغله او په ژړا یې دغه کُلمې د رسول الله ﷺ له سره ایسته کړې.

فکر وکړئ: دغه قسم معامله د مکې مکرمې د یوه سردار سره د صادق الأمین سره کېدل، بیله دې څخه چې نبي، پیغمبر او رسول الله ﷺ ورته و وایو، خو د قریشو ژوند او اخلاق د هغه چا سره چې خلک یې د یوه رب عزوجل عبادت ته رابلل او د بتانو د عبادت څخه یې خلاصول دغې اندازې ته رسېدلي وه.

کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو او د هغو مردارو کُلمو وینې، خیرې، غوړزګې پر پراته وه نو یې دوی ته کتل او ښراوې یې ورته کولې او ویل: اللّهم علیکَ بقُریش، درې واره یې دغه جمله تکرار کړل او بیا یې د دوی نومونه یادول:

(اللّهم علیک بأبي جهل، اللّهم علیک بعُتبه بن ربیعه، و شیبه بن ربیعه، و الولید بن عتبه، و امیه بن خلف، و عُقبه بن أبي مُعیط).

د دغو ناستو خلکو نومونه یې یادول، یو یو یې په نامه سره یاد کړی، راوي د حدیث وایي: ټول هغه کسان چې رسول الله ﷺ یې نومونه یاد کړل په والله ټوله مې د بدر د غزا په ورځ مړه او مردار سوي ولیدل، ټول هغه کسان چې د رسول الله ﷺ په مقابل کې یې دغه بد عمل او ناوړه کار کړی ؤ ټول د بدر په ورځ مردار کړل سوه او د دوی نا پاکه جسدونه یوه وچ څاه ته ور واچول سوه.

ورونو او خوندو! تاسي ولیده چې رسول الله ﷺ څه وخت ښرا وکړه او څه وخت قبوله سوه؟ پسله کلو ټول و وژل سوه، په دې کې و ټولو مسلمانانو ته اشاره او لارښوونه ده، کله چې دعاء کوی او د رب عزوجل څخه یو شئ غواړی تلوار به نه کوی، دعاء مو قبلیږي مګر وخت یې په الله جل جلاله پوري تعلق لري، رسول الله ﷺ فرمایي:

« لاَ يَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ ما لَمْ يَدْعُ | ژباړه: همېشه د بنده دعاء قبلیږي تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ مَالَمْ يَسْتَعْجِلْ » قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰه مَا الاسْتِعْجَالُ قَالَ « يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِي فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذَلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ » [رواه: مسلم]

چي په ګناه یا د صلهٔ رحمي په پرې کولو دعاء و نه کړي او تر څو چي تلوار ونه کړي، یو چا پوښتنه وکړه او ویل: یا رسولَ الله! تلوار څنګه او څه شي دی ؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه داسي چي یو څوک وایي دعاء مي وکړه، دعاء مي وکړه او قبوله نه سوه، دلته نو د دعاء څخه لاس واخلي او دعاء کول پریږدي.

قبلېدل داسي نه دي چي پسله یوې ورځي یا یوې میاشتي یا باید نن او سبا زما کار وسي، قبلېدل ښایي پسله کلو وسي لکه د رسول الله ﷺ سره چي په دغه حالت کي وسوه، پسله کلو یې دغه دعاء یا ښرا قبوله سوه، نو کله چي د رسول الله ﷺ دعاء کلونه په برکي نیسي د نورو خلکو په باره کي څه فکر کوې؟

مقصد دا چي دعاوي کوی، هرڅه چي د الله جل جلاله څخه غواړی و یې غواړی مګر تلوار مه کوی، که چا تلوار کاوه دعاء یې نه قبلیږي، ځکه د حدیث شریف لفظ هم داسي دی چي فرمایي:

«يُستَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَم يَستَعجِل»

یعني: ستاسي څخه د هر یوه دعاء قبلیږي تر څو چي تلوار و نه کړي.

*مورېمخ کي د هغو آزارو بیان کاوه چي د مشرکانو له طرفه و رسول الله ﷺ*
*ته ور کول کېدل اوس هغه بحث پسي پوره کوم.*

اُمیه بن خلف چي دئ هم د قریشو د رئیسانو څخه ؤ د رسول الله ﷺ په غیاب کي چي به یې پر هغه ﷺ هر بد ویل هغه خویې ویل، خو کله چي به یې رسول الله ﷺ ولیدی په ښکاره سره به یې هم بد او پوچ ورته ویل، د الله جل جلاله دغه قول چي فرمایي:

﴿ وَيۡلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ۝١ ﴾

د دغه اُمیه بن خلف په باره کي نازل سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن هشام وايي: هُمزه هغه څوک دی چي په ښکاره سره يو چا ته پوچ او فحش وايي او په سترګو هم کړې وړې اشارې ورسره کوي، چشمکان وهي او لُمزه هغه څوک دی چي د يو چا په غياب کي يعني: د هغه تر شا پر هغه عيبونه وايي او په خبرو يې آزاروي، نو دغو کسانو لره دي (که اُميه بن خلف يا بل څوک وي) ويل او هلاک وي.

مګر د اُميه بن خلف ورور اُبئ بن خلف د کفارو د هغي جملې څخه ؤ چي د مسلمانانو سره يې ډېر زيات عداوت او دښمني درلودل، يوه ورځ رسول الله ﷺ ته ورغلی او يو زوړ پخوانئ هډوکی يې په لاس کي ؤ، داسي زوړ هډوکی ؤ چي بالکل وروست او شوړېدلی ؤ، دغه هډوکی يې مات کړی او په اورغوي کي يې سره و موږ څو داسي سو لکه اوړه، بيا يې دغه اوړه د رسول الله ﷺ پر مخ ور وپاشل او رسول الله ﷺ ته يې و ويل: ته وايي: الله موږ د دغو اوړو يا ايرو څخه بيا را ژوندي کوي؟ څوک پسله مرګه موږ بيرته را ژوندي کولای سي؟

پسله دغه څخه چي موږ دغسي ايرې سو لکه دغه هډوکی بيا را ژوندي کېدلای سو؟ په دغه باره کي د الله جل جلاله دا قول نازل سو چي فرمايي:

﴿ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُۥ قَالَ مَن يُحْيِ ٱلْعِظَٰمَ وَهِىَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ ﴾.

[يٰسين، ۷۸]

يعني: موږ ته يې د وراسته شوړېدلي هډوکي مثال را وړی او خپل پيدايښت يې هېر کړی دی دئ وايي: څوک به دغه هډوکي ژوندي کړي؟ حال دا چه دغه هډوکي وراسته او شوړېدلي دي.

﴿ قُلْ يُحْيِيهَا ٱلَّذِىٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ ﴾. [يٰسين/ ۷۹]

يا محمّد! ﷺ ده ته و وايه چي بيا يې هغه قادر مطلق ذات ژوندي کوي چي اول واريې پيدا کړي دي او بېشکه دغه الله پر هر قسم پيدايښت ښه عالم دی.

(که نوي پيدا کول وي که زاړه) سبحان الله! هغه ذات چي اول وارېې د هيڅ څخه پيدا کړي دي، دوهم وارېې هم هغه ذات پيدا کوي.

دغه آياتونه د دغه اُبئ بن خلف کافر د دغه عمل په باره کي نازل سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عُقبه بن أبي مُعیط چي دئ هم د قریشو او مشرکانو د مشرانو څخه ؤ د دې دپاره چي د مسلمانانو او مشرکانو په منځ کي دغه له دښمنیه ډکه معامله او ګذاره لږ څه آرامه سي یوه ورځ یې رسول الله ﷺ میلمه کړی، کله چي خواړه را وړل سوه، رسول الله ﷺ د خوړو د خوړلو څخه انکار وکړی، دکور خاوند عقبه بن أبي مُعیط ور ته ټینګ دی چي خواړه وخوره، خو رسول الله ﷺ و ویل یا! تر هغو به ستا خواړه ونه خورم چي ته و نه وایي:

«أشهَدُ أن لا إله إلاّ الله وَأنّي رسولُ الله»

عقبه چي هرڅه کوښښ وکړی چي رسول الله ﷺ خواړه وخوري مګر رسول الله ﷺ د ډوډۍ خوړلو دپاره دغه شرط کښېښاوه، دا ځکه چي د رسول الله ﷺ امید ؤ که عقبه دغه د شهادت کلمې مراعتاً هم و وایي په نتیجه کي به یې مسلمان سي، لکه حمزه ﷺ چي ابوجهل ته و ویل: ته محمّد ته ښکنځل کوې او زه د هغه پر دین یم، دا خبره د حمزه تر خولې ښله ارادې را ووتل، خو بیا د دغه خپلې خبري په واسطه مسلمان سو. *(د حمزه ﷺ د اسلام قصه به په وروسته کي درته بیان سي)*

اوس هم د رسول الله ﷺ دا امید ؤ که چیري عُقبه مراعتًا د رسول الله ﷺ د ډوډۍ خوړلو دپاره د شهادت کلمې و وایي، خو ښایي آخر مسلمان سي، عقبه چي هر څه ځان یوې او بلي خوا ته کړی رسول الله ﷺ پرخپله خبره ټینګ ؤ، عقبه فکر وکړی چي میلمه دی دا امکان نه لري چي خواړه و نه خوري او ولاړ سي دا عیب دی نو عقبه د عقیدې په سبب نه بلکه په دې سبب چي رسول الله ﷺ خواړه وخوري د شهادت کلمې وویلې او ویل:

«أشهدأن لا إله إلاّ الله وأشهد أنّکَ رسولُ الله»

او رسول الله ﷺ هم خواړه وخوړل، مګر وروسته په قریشو کي دا خبر نشر سو چي عُقبه بن أبي معیط د شهادت کلمې و ویلې، قریش په دې خبره ډیر خواشیني او ناراضه سوه او هغه چي ډیر زیات خواشینی سو هغه اُبيّ بن خلف ؤ، ځکه اُبيّ د دغه عقبه ډیر نژدې آشنای او مجلسي ؤ، نو اُبيّ و عُقبه ته ورغلی او ویل: زما مخ پرتا حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی نه خبري در سره کوم او نه دي آشنای یم ترڅو چي د محمّد ﷺ پر مخ ور ټوف نه کړې، د هغه دپاره دي د شهادت کلمې و ویلې خو زما شرط بیا دا دی چي پر مخ به یې ور ټو کې، که تا دغه کار وکړی هغه وخت بیا خبري در سره کوم.

اوس عقبه په حیرت او تردد کي دی چي څه وکړم؟ هر څه کوښښ یې وکړی چي اُبئ بیله دغه شرطه راضي او خوشاله کړي او له دغه شرطه څخه دئ خلاص سي فایده یې نه کول اُبئ پر خپله خبره ټینګ ولاړ دی، د عقبه په مخ کي دوې لاري دي یا به د محمّد ﷺ په مقابل کي دغه ناوړه عمل کوي یا به د قریشو مشران د لاسه ورکوي، آخر یې دا ښه وبلل چي محمّد ﷺ خپه او نا راضه کړي، نو ورغلی د رسول الله ﷺ پر مبارک مخ یې توف کړل، رسول الله ﷺ چپ او پټه خوله ؤ هیڅ یې و نه ویل.

مسلمانانو! ښه فکر وکړی: دا هم یو د هغو آزارو او إهانتو څخه دی چي سرور کائنات رسول الله ﷺ د دین د نشرولو دپاره او د دعوت په لار کي قبول کړي دي، که نن ورځ د هغه چا په مقابل کي چي خلکو ته اسلامي احکام بیانوي یا د اسلام لاري ته خلک را بولي، یا د ټولني انحرافات او خطاوي بیانوي، د ځینو کسانو له طرفه ناوړه الفاظ ویل کیږي، یا ځیني تهمتونه پر تړل کیږي، یا د اخلاقو څخه لیري حرکتونه ور سره کیږي، هغه باید په دې سره نه زهیر سي او نه ناراضه، ږدئ باید دغه اعمال ور په یاد کړي چي د رسول الله ﷺ اشرف المخلوقات په مقابل کي کېدل.

*اې د محمّدي دین بیانوونکې! نن ورځ هم دوې ډلې ستا سره حسد او عناد لري، اوله هغه ډله ده چي په دې له سره د اسلام دښمنان دي حق ویل او حق اوریدل یې نه دي خوښ، او دوهمه هغه ډله ده چي په ښکاره سره حاجي، ملا او آخندزاده دی خو د دعوت او تبلیغ فضیلت د دوی نه دی په برخه سوی، نو ځکه د حسد په سبب یې یوازي دا نه چيّ ستا وعظ او دعوت نه وي خوښ بلکه پر تا هم د دې دپاره عیبونه وایي چي خلک در څخه متنفره کړي او هغه د ده شیطان راضي او د حسد اور یې مړ سي.*

*مګر د یوه واعظ او عالم مقصد باید د الله جل جلاله رضاء او د دین نشرول وي که څه هم په دغه لار کي تکلیفونه او آزارونه ورکول سي، یو مسلمان باید د دین د نشرولو په لار کي تهمتونه او آزارونه په پراخه سینه سره قبول کړي، ځکه د هغه معامله د الله جل جلاله سره ده،*

(c) ketabton.com: The Digital Library


*خلک د پیسو د ګټلو دپاره تکلیفونه او آزارونه قبلوي، ته یې د الله جل جلاله د رضاء او جنت دپاره نه قبلوې؟ خو دا دي هم درته معلومه وي چې د دغو حاسدانو په مقابل کې هلته نور ډیر داسې خلک سته چې ستا د وعظ کولو او دین نشرولو څخه ډیر خوښ دي او الله جل جلاله ستا په وعظ او نصیحت سره سمې لارې ته راوستلي دي او د نېه عمل کولو توفیق یې هم ورکړی دی، هغه خلک باید له فکره ونه باسې.*

د دغه عقبه بن أبي معَیط او د هغه د ملګري أبيّ بن خلف په باره کې د سورة الفرقان دغه آیاتونه نازل سوه چې رب عزوجل فرمایي:

﴿وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا ﴿٢٧﴾﴾.

یعني: یا محمّد! ﷺ هغه د قیامت ورځ در په یاد کړه چې دغه ظالم به د پښېمانۍ په سبب له ډیره غمه او افسوسه په خپلو لاسو خولې لګوي او وایي به: کشکې د رسول الله ﷺ سره د هغه پر لار تللی وای.

﴿يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا ﴿٢٨﴾﴾.

او وایي به: ما لره دې وَیل هلاک او خرابي وي کشکې مې فُلانئ چې دغه (أبيّ بن خلف) دی د ځان دوست او خلیل نه وای ګرځولی.

﴿لَّقَدۡ أَضَلَّنِي عَنِ ٱلذِّكۡرِ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَنِيۗ﴾.

په تحقیق پسله هغه څخه چې د قرآن ذکر او نصیحت ما ته راغلی، ده زه ګمراه کړم، بیا نو الله عزوجل فرمایي:

﴿وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِلۡإِنسَٰنِ خَذُولٗا ﴿٢٩﴾﴾.

او شیطان د انسان دپاره بېوَیوُونکی او خطایستونکی دی.

عُقبه بن ابی مُعَیط به د قیامت په ورځ وایي: ډیر افسوس! قریبه وه چې زه اسلام ته داخل سوی وای، مګر اُبيّ بن خلف کافر را ته راغلی او ګمراه یې کړم، نو به د قیامت په ورځ له پښېمانیه په خپلو لاسو غاښونه لګوي چې ایمان او اسلام مې له لاسه ووتل، سره د دې چې دئ ور نژدې سوی وُ.

ابوجهل ملعون به ځیني وختونه و رسول الله ﷺ ته کښېنستی، قرآن مجید به

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې اوريدی او بيا به ولاړ سو نه يې ايمان را وړی او نه يې د رسول الله ﷺ اطاعت کاوه، خو پردې سربيره به يې رسول الله ﷺ په خبرو هم آزاراوه، د عبادت او لمانځه څخه به يې منعه کاوه او بيا به يې دغه خپل د شر په عمل فخر هم کاوه، لکه يو لوی کارچي يې کړی وي او د ده ملعون په باره کي د سورةُ القيامه دغه آياتونه نازل سوه چي رب عزوجل فرمايي:

﴿فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ۝ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ۝ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ ۝﴾

يعني: نه يې د دغه قرآن تصديق وکړی او نه يې پر هغه يقين وکړی او نه يې لمونځ وکړی، مګر قرآن يې درواغ وباله او له ايمانه يې مخ وګرځاوه او بيا به له دغه مجلسه خپل اهل يا کورنۍ ته په تکبر سره ولاړی.

ابوجهل ملعون چي د اولي ورځي څخه رسول الله ﷺ وليدی چي په حرم شريف کي لمونځ کوي د دغه لمانځه څخه يې منعه کاوه، يوه ورځ رسول الله ﷺ د مقام ابراهيم سره لمونځ کاوه ابوجهل ورته راغلی او ويل: يا محمّد! ما ته له دغه کاره نه يې منعه کړی؟ که دي بيا دلته لمونځ کړی ؤزه به درسره جوړ سم، رسول الله ﷺ په مقابل کي ورته و درېدی، ابوجهل ويل: يا محمّد! ته په څه شي سره زما مقابله کولای سې؟ په والله زه په دغه ښارکي تر ټولو خلکو ډير نفر لرم، په يوه روايت کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ ابوجهل تر ګرېوانه ونيوی وې ښوراوه او دغه آيات شريف يې تلاوت کړی:

﴿أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ۝ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ۝﴾ [قيامه ۳۴/ ،۳۵]

د الله دښمن ابوجهل و ويل: آيا ته ما ته په عذاب سره وعده را کوې؟ يا محمّد! په والله نه ته او نه ستا رب په ما څه کولای سی او زه تر هغو ټولو خلکو معززيم کوم چي په مکه کي يې ژوند کړی دی، ابوجهل يوازي په دغو ويناوو سره کفايت نه کاوه، بلکه ورځ په ورځ يې دښمني او عناد زياتېدل.

امام مسلم د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کوي چي ابوجهل و قريشو ته و ويل: محمّد ستاسي په حضور سر پر سجده ايږدي؟ دوی ويل: هو، ابوجهل و ويل: زما دي په لات

(c) ketabton.com: The Digital Library


او عزّی سره قسم وي: که ما ولیدی پر غاړه به يې پښه ورکښېږدم او مخ به يې په مځکه پورې ورو موږم، په دغه وخت کې رسول الله ﷺ راغلی او په لمانځه يې شروع وکړه. ابوجهل په دغه نیت ورړهې سو چې پر غاړه يې پښه ورکښېږدي او هغه خپل شوم نیت عملي کړي، قریش ورته ګوري چې ناڅاپه ابوجهل د شا پر طرف ځغلي او لاسونه داسې ښوروي لکه څوک چې د ځانه څخه یو شئ منعه کوي، قریش ورته را ولاړ سوه او ویل: څه درته پیښه سوه یا ابا الحکم؟ ابوجهل ویل: زما او د ده په منځ کې د اور خندق ؤ او مخ ته مې د مرغانو وزرونه وه لکه ما چې په چپلاخو یا څپېړو وهي، رسول الله ﷺ فرمایي: که دئ ما ته را نژدې سوی وای ملائکو به اندام اندام کړی وای.

دا د هغو تکالیفو او آزارو څه بیان ؤ چې رسول الله ﷺ ته ورکول کېدل، سره د دې چې رسول الله ﷺ د لوړ او خواږه شخصیت خاوند ؤ، د عامو او خاصو خلکو په زړو کې يې وِقار او دبدبه درلودل، او پر دې سر بیره د هغه ابوطالب چې په مکه مکرمه کې ډېر عظیم او محترم سړئ ؤ په ساتنه کي هم ؤ دغه يې حال ؤ.

مګر هغه نور مسلمانان خاصتاً هغه کسان چې ضعیفه وه، د هغو په مقابل کې دغه آزارونه ډېر شدید او ډېر ترخه وه او په عین حال کې هري قبیلې و هغه چا ته د عذاب ورکولو وظیفه پر غاړه واخیستل کوم چې د دوی د قبیلې څخه مسلمانان سوي وه یا نوي اسلام ته داخلېدل او هر هغه څوک چې قبیله به يې نه درلودل هغو ته به يې لچک او اوباش خلک ور ګمارل، هم به د قبیلو رئیسانو خپل زړه په سړاوه او هم به اوباشانو داسې سخت او قِسم قِسم عذابونه ورکول چې په اوریدلو يې د انسان زړه ټوک ټوک کېږي، راسی چې د دغو عذابو او آزارو څخه لږ څه د دې دپاره واورو چې دا رامعلومه سي چې اسلام په څومره تکالیفو نشر سوی دی او بیا تر ما او تا را رسېدلی دی، خو بد بختانه چې نن ورځ مورږ د اسلام او د هغه د احکامو څخه بې پروا یو.

ابوجهل چې به د هر چا د اسلام را وړلو واوریدل که به هغه سړئ د قوم او شرف خاوند ؤ نو به يې خبرکړی (یا په اوسني اصطلاح اخطار به يې ورکړی) ورته و به يې ویل: سړیه! خبر اوسه چې په مال او عزت کې به دومره تاوانونه در و رسوم چې ته به يې توان او طاقت و نه لرې او که به هغه سړئ ضعیفه ؤ نو به يې وهل او ټکول ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


عثمان بن عفان رضي الله عنه چي مسلمان سو د ده اکا به په هغه بوریا کي وپېچی چي د خرما د وُني د پاڼو څخه جوړه سوې وه او بیا به یې د کښته څخه دود ورته جوړ کړی، دئ رضي الله عنه به په بوریا کي پېچلی ؤ او دغه دوده به ورکول کېده.

مصعب بن عمیر رضي الله عنه چي ډېر نازولی او ډېر پیشني ځوان ؤ په ناز او نعمت کي لوی سوی ؤ کله چي د ده مور د ده په اسلام خبره سوه خواره یې ځني منعه کړه او له کوره یې وایستی، دغه نازولي مصعَب د تکالیفو او زحمتو څخه داسي پوست واچاوه لکه مار چي پوست اچوي.

*ورونو! لږڅه په دقت سره دغو آزارو، دغه صبر او تحمل ته متوجه سئ!*

یو هم د هغو کسانو څخه چي سخت آزارونه او تکلیفونه ورکول سوي دي حضرت بلال رضي الله عنه دی چي د اُمیه بن خلف مریئ ؤ، اُمیه به د ده په غاړه کي رسۍ ور واچول او بیا به یې د هلکانو په لاس ورکړی چي د مکې مکرمې په غرو او شېلو کي یې وګرځوی، تر هغو به یې ګرځاوه چي ټول هلکان به ستړي سوه او د بلال رضي الله عنه په غاړه کي به د دغي رسۍ زخمونه پاته وه، امیه به دغه رسۍ ونیول او بلال رضي الله عنه به یې په ډېر زور او شدت سره د ځان طرف ته ورکش کړی او دلته به یې بنه ټینګ لرګئ و واهه، بلال رضي الله عنه به یې په زور او جبر د دوبي د غرمې و لمر ته کښېناوه، اوبه او خواړه به یې هم نه ورکول او تر دې ټولو اشد عذاب دا ؤ چي بلال رضي الله عنه به یې تر مکې مکرمې دباندي غرو او شېلو ته وایستی پر هغه مځکه چي د لمر په حرارت به دومره توده سوې وه چي غوښي به پر کبابېدې (*دا خبره هغه چا ته معلومېږي چي د مکې مکرمې ګرمي یې لیدلې وي*) نو به یې پر دغه ګرمه او سوځوونکې مځکه لڅ بیله کالو پرې ایستی او بیا به یې یوه لویه او درنه ډبره چي په څو نفرو به یې پورته کوله د بلال رضي الله عنه پر ځیګر کښېښوول او بیا به یې ورته و ویل: په وﷲ تر هغو به دغسي یې چي یا به مرې یا به د محمّد ﷺ له دینه انکار کوې د لات او عزی عبادت به کوې.

خو حضرت بلال رضي الله عنه به په دغه حال کي فقط دغه ویل: اَحَدٌ احد، احدٌ احد، په وروسته کي د بلال رضي الله عنه څخه پوښتنه وسوه چي د دغي جملې سِر او سبب څه ؤ؟ تا ولي دغه یوه جمله اختیار کړې وه چي احدٌ احد؟ بلال رضي الله عنه و ویل: ما په اول کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قِسم قِسم جملې ویلې خو په ټولو کي دغې جملې کفارو ته ډیر تکلیف ورکاوه او دغې جملې ډیر قهر وروستی او زما زړه غوښتل چي دوی زهیر کړم، نو ځکه مي یوازي دغه جمله و دوی ته د عذاب ورکولو په سبب اختیار کړه، د حضرت بلال رضی الله عنه دغه حال ؤ ترڅو چي یوه ورځ ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه تېرېدی او کفارو و بلال رضی الله عنه ته دغه عذابونه ورکول نو ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه دَئ د خپل مالک اُمیه څخه رانیوی، بلکه خپل تکړه مریئ یې د بلال رضی الله عنه په بدل کي ورکړی او څوک وایي د سپینو زرو په پنځه یا اوه اوقیه یې رانیوی او بیا یې آزاد کړی، نو ځکه عمر رضی الله عنه به ویل:

(ابوبکر سیِّدُنا وَ أطلَقَ سیِّدَنا)

یعني: ابوبکر زموږ سردار دی او زموږ سردار بلال یې آزاد کړی.

عمّار بن یاسر رضی الله عنه چي د بني مخزوم د آزاد سوو مریانو څخه ؤ، دئ او د ده کورنۍ د هغو کسانو څخه دي چي ډیر تکلیفونه او زحمتونه یې لیدلي دي، عمّار، د ده پلار چي یاسِر نومېدی او د ده مور چي سُمَیّه نومېدل مسلمانان سوه، مشرکانو به د ابوجهل په مشرۍ د ګرمۍ په شدید موسم کي دښت ته وایستل او هلته به یې سخت سخت عذابونه ورکول، د دوی په مثل عذابونه لږو کسانو لیدلي دي.

رسول الله ﷺ چي به تېرېدی او دغه د دوی عذابونه به یې لیدل نو به یې ورته و فرمایل:

« صَبراً آلَ یَاسِر فَإنَّ مَوعِدَکُمُ الْجَنَّة »

یعني: د یاسر کورنۍ یا اولادې صبر کوی ستاسي دپاره وعده سوی ځای یا د ورتګ ځای جنت دی.

او دوی همېشه په دغه عذاب کي وه، ترڅو چي یوه ورځ ابوجهل نور هم د دوی عذاب ور ډیر کړی او د عذاب ورکولو په وخت کي یې رسول الله ﷺ ته پوچ او فحش ویل، سُمَیّه رضی الله عنها د ده د یوې خبري جواب ورکړی او په دغه وخت کي یې د شهادت کلمې و ویلې، ابوجهل ملعون له ډیره قهره د پښو په منځ کي (د عفت په ځای کي) په نېزه و وهل او ویې وژل، سُمَیه رضی الله عنها په اسلام کي اوله شهیده ده او بیا ابوجهل پر یاسر رضی الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


را واچول او وهي يې، ياسر رضی الله عنه چې سپين ږيرى او ضعيفه سړى ؤ خو بيا هم پر دين ټينګ ؤ، ويل: هيڅکله دغه دين نه پرېږدم، نو ياسر رضی الله عنه هم په دغه وهلو کې د ابوجهل ملعون له طرفه ووژل سو او شهيد سو، بيا يې پر عمّار چې د دوى زوى ؤ را واچول، پسله هغه څخه چې د ده مور او د ده پلار يې د ده په حضور شهيدان کړه و ده ته يې هم قسم قسم وهل او عذابونه ورکړه، يو وار به يې پرګرمو ډبرو پرې ايستى، يو وار به يې لويه درنه ډبره د ده پرځيګر ورکښېښوول، يو وار به يې په اوبو کې غوټه کړى، دغه وهل او عذابونه داسي اندازې ته ورسېدل چې د تحَمّل او زغملو امکان يې نه ؤ او ابوجهل به ورته ويل: په والله تر هغو دي نه پرېږدم چې محمّد ته بد و نه وايې، پر لات او عُزّٰى ښه و نه وايې، معلومه خبره ده چې عمّار رضی الله عنه دومره ځان ټينګ کړى چې په وسه يې پوره وه، مګر وهل او عذابونه داسي اندازې ته ورسېدل چې ده يې نه طاقت درلودى او نه يې زغملاى سواى نو مجبوره سو رسول الله صلی الله علیه وسلم يې په بدو سره ياد کړى، ابوجهل په دې سره هم کفايت و نه کړى ويل يا! نو ريې هم واهه او ويل تر هغو دي وهم (پرمځکه يوه توره خزدکه رهي وه) چې و نه وايې: دغه خزدکه زما رب دى.

عمّار رضی الله عنه د عذاب له سختيه او شدته د ابوجهل د غوښتني خبري وکړې، بيا يې نو پرېښاوه، اوس نو عمّار رضی الله عنه ډېر غمجن او خواشينى دى چې ولې مي پر وهلو صبر و نه کړى او ولې دا خبري را څخه و ويل سوې، د پښېمانۍ په حالت کې په عذر او ژړا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلى او ويل: يا رسولَ الله! والله نه يې پرېښوولم، موريې را ووژل، پلار يې را ووژى او زه يې هم تر هغو وهلم ترڅو چې تا ته مي بد و ويل او بيا مي و ويل: دغه خزدکه زما رب دى، رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: ستا زړه څه ويل؟ يعني: په زړه کې دي څه ويل؟ عمّار رضی الله عنه و ويل: زړه مي پر ايمان مطمئن ؤ، يعني: زړه مي پر ايمان ټينګ او ثابت ؤ، رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل:

«يا عمّار إن عَادُوا فَعُد»

يعني: که دوى بيا ستا د وهلو دپاره راغله بيا د دوى د خوښي خبري وکړه.

د ظالم له ظلمه د ځان خلاصولو دپاره دغسي خبري معاف دي او په دغه باره کې د الله جل جلاله دا قول نازل سو چې فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٦ ﴾

[النحل: ١٠٦]

یعني: هر هغه څوک چې پسله ایمان را وړلو پر الله ﷻ کافر سي پر هغه د الله غضب دی، بېله هغه چا څخه چې زور پر وسي (او د مجبوریه د کفر کلمه و وایي) او په داسي حال کي یې و وایي چې د ده زړه په ایمان سره مطمئن او آرام وي، مګر هغه څوک چې سینه یې کفر ته پراخه وي (اعتقاداً دغه د کفر په کلمه راضي وي) نو پر دوی د الله ﷻ له طرفه غضب دی او دوی ته په آخرت کي ډېر لوی عذاب سته.

دغسي چا ته مرتد ویل کیږي. نو عمّار رضي الله عنه یا د عمّار په مثل که پر یو چا زور ورسي او زړه یې پر ایمان ثابت وي خو په ظلم او جبر سره د کفر کلمه په و ویل سي هغه معاف دی.

بل هغه څوک چې عذابونه ورکول سوي دي ابو فُکَیهه رضي الله عنه دی چې نوم یې اَفلح ؤ او د بني عبدالدار مریئ ؤ، د ده پښې به یې په رسۍ وروتړلې او پر ډبرینه مځکه به یې کشاوه.

بل هغه څوک چې د اسلام او ایمان په لار کي یې ډېر وهل او تکول زغملي دي خَباب بن الأرت رضي الله عنه دی، چې د اُم أنمار بنت سِباع الخزاعي مریئ ؤ، مشرکانو په ده د ډېرو سختو عذابو خوند کتلی دی، دیٔ رضي الله عنه به یې تر وریښتانو نیولی ؤ او کشاوه به یې، غاړه به یې ډېره سخته وربېچل، خو واره یې پر داسي ډبرو پرې ایستلی دی چې پر هغو به یې اور بل کړی ؤ او بیا به یې پر ده یوه لویه ډبره کېښوول چې د هغو ګرمو ډبرو څخه ښور و نه خوري، خباب بن الأرت رضي الله عنه به یې پر سره رېګ لڅ پڅ پرې ایستی یا به یې پر ډبرو اور بل کړی چې هغه ډبري به داسي سوې لکه اور، پر دغو ګرمو سوو او سرو سوو ډبرو به یې پرې ایستی او پر کشاوه به یې.

د حضرتِ عمر رضي الله عنه د خلافت په وخت کي حضرت عمر رضي الله عنه او نور اصحابِ کرام ناست وه خباب رضي الله عنه هم حاضر ؤ، حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه ځني وکړه ویل: یا خباب! په هغو عذابو کي چې پر تا تېر سوي دي کوم عذاب ډېر سخت ؤ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


خباب و ویل: یا امیرَالمؤمنین! د دغه په مثل مي بل عذاب نه دی لیدلی او شا یا ملا یې لڅه کړه، حاضرین ورته ګوري چي په ملا کي یې یو لوی تورکدئ یا واله ده چي د اوږو څخه نیولې بیا د ملا تر لاندي حصې پوري رسېدلې ده، د ده رضي الله عنه په ملا کي توره سوځل سوې واله وه، حضرت عمر رضي الله عنه په تعجب کي سو ملا کندل سوې او سوځل سوې؟ ویل: والله داسي عجیب او غریب زخم مي نه دی لیدلی، دا یې څه در وکړه چي دغه زخم درپکښي جوړ سو؟ خباب و ویل: یا امیرَالمؤمنین! کفارو پر ډېرو اور بل کړی او په دغه اور کي یې نوري ډبري هم کښېښوولې څو دغه ډبري تکي سرې سوې، داسي وګرځېدې لکه اور او بیا یې زما څخه کالي وکښل او تر پښو یې ونیولم پر دغو ډبرو یې پرې ایستم او پر کشولم یې، د هغو ډبرو اثر دغه دی چي ته یې وینې.

پسله هغه چي کفارو خباب رضي الله عنه ته دغه عذاب او د اسلام را وړلو سزا ورکړه، خباب رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته ورغلی او له ډېره درده یې ژړل، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ د کعبې شریفي تر پوښو لاندي یا د کعبې شریفي د دیواله و سایې ته ناست ؤ، خباب رضي الله عنه ورته کښېنستی او ویل: یا رسولَ الله! قریشو ډیر عذاب راکړی او ډیر یې آزار کړو، خپله ملا یې و رسول الله ﷺ ته ور ښکاره کړه چي دغه حال مي دی او دغه یې را سره وکړه، تر دغه نو زیات عذاب څومره او څه شي وي؟ آیا ته الله جل جلاله ته دعاء نه کوې؟ آیا ته د الله څخه زموږ نصرت نه طلبوې؟

د خباب مقصد دا دی چي د مسلمانانو ډېر ژر نصرت او بریٔ په نصیب سي او له دغو عذابو څخه خلاص سي، رسول الله ﷺ و فرمایل: یا خباب! هغه کسان چي تر تاسي د مخه وه، یو مسلمان به یې راوستی او غار به یې وکِندی په دغه غار کي به یې دغه مسلمان و دراوه او غار به یې په خاورو ډک کړی، بیا به یې د اوسپني اّره د مسلمان پر سر ورکښېښوول پر منځ به یې اّره کړی دوې حصې به یې کړی.

بل مسلمان به یې راوستی د اوسپني تېرې ږمونځي به یې ورته ونیولې د دغه نفر غوښي او رګونه به یې ور ږمونځول، بیا هم دغو عذابو هغه خلک له دینه څخه نه اړول، یا خباب! والله! الله جل جلاله به دغه دین پوره او کامیابه کړي، تر داسي اندازې چي یو نفر به د حضرموت څخه ترصنعاء پوري یوازي ځي او بېله یوه الله د بل چا

(c) ketabton.com: The Digital Library


څخه به نه بیرېږي (*صنعاء او حضرموت په یمن کي د دوو ښارونو نومونه دي*) مګر تاسي تلوار کوی، نصر، مرسته او کامیابي را تلونکي دي، مګر د آزار د قبلولو څخه چاره نسته دا امتحان دی صبر غواړي باید صبر وکړی، دا هغه امتحان دی چي مجاهد د منافق څخه په پیژندل کیږي او خامخا باید صابر د بې صبره څخه جلا سي او خلک بیله الٰهي امتحانه نه پیژندل کیږي او نه معلومیږي.

ورونړو! د الله جل جلاله دغه قول چي فرمایي:

﴿أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ۝٢﴾. [عنکبوت/۲]

ژباړه: خلک دا ګمان کوي چي دوی به پر دغه پرېښوول سي چي فقط دومره ووايي: موږ ایمان راوړی دی او دوی به امتحان نه کړل سي؟

د دغه آیات شریف مقصد هم دا دی چي خلک دي دا ګمان نه کوي چي فقط دومره ووايي: موږ مسلمانان یو بس پر دغه به پرېښوول سي او امتحان دي نه کړل سي؟

یا والله! د هر مسلمان د اسلام او مسلمانۍ د معلومولو دپاره امتحان او ازمایښت ضروري دی.

د ایمان دعوه کول آسانه کار نه دی هرڅوک چي د ایمان دعوه کوي ابتلاء او امتحان ته دي هم تیار سي ځکه امتحان دی چي صادق او کاذب سره جلا کوي، که دغسي امتحانونه نه وي او نه وای خلکو صادق او کاذب، واقعي مسلمان او منافق نه سوای سره پېژندلای او جلا کولای.

بل هغه څوک چي ډیر عذاب ورکول سوی دی: زِنیره رضي الله عنها ده، دومره عذاب ورکول سو چي د سترګو دید یې د لاسه ورکړی (یعني ړنده سوه) کفارو به ویل: لات او عُزّٰی ړنده کړه، ځرنګه چي دې لات او عزّٰی پرېښوول او دا د هغو څخه منکره سوه عبادت یې نه کوي نو هغو ړنده کړه، مګر الله جل جلاله د دې د سترګو لیدل بیرته ورکړه، سترګي یې بینا سوې، چي دا هم یوه الٰهي معجزه وه او کفار وشرمول سوه.

د هغو کسانو څخه چي ډېر عذابونه ورکول سوي دي یوه ښځه وه چي نوم یې نَهدِیه ؤ او یوه لور هم ور سره وه، دوی دواړو ایمان راوړی او د دوی مالکه چي یوه ښځه وه دوی ته عذابونه ورکول، ابوبکرالصدِّیق رضي الله عنه ورغلی ویل ولي عذاب ورکوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښځي ویل: والله دوی بل چا دلاري نه دي ایستلي بېله تا، قسم په الله هیڅکله به یې پرې نه ږدم، ابوبکر ؓ ویل: قسم مه یادوه، ښځي ویل: نو یې را څخه را نیسه، ابوبکر الصِّدِّیق ؓ هم دواړي رانیولې او آزادي یې کړې او په مسلمانانو کي دغه طریقه شروع سوه چي قوي او غني مسلمانانو به مسلمان مریان او مسلماني مینځیاني د هغو د مالکانو څخه رانیول او بیا به یې آزادول، خاصتاً د ابوبکر الصِّدِّیق ؓ دغه کار سو هر چیري چي به یې ضعیفه او مظلوم مسلمان مریئ یا مسلمانه مینځه ولیدل هغه به یې رانیول او آزاد به یې کړه، څو چه اوه یا اته نفره یې آزاد کړل، د ابوبکر ؓ پلار ابو قحافه چي نوم یې عثمان ؤ ورته و ویل: زویه! ته پر دغه دین یې او مریان آزادوې که قوي نفر آزاد کړې مرسته به دي وکړي، د ضعیفه د آزادولو څخه به څه فایده واخلې، دئ په خپله ضعیفه دی تا ته فایده نه سي در رسولای، حضرتِ ابوبکر الصِّدِّیق ؓ ورته و ویل: پلاره! زه دوی د دې دپاره نه آزادوم چي زما مرسته وکړي، بلکه زه یې د الله جل جلاله د رضاء دپاره آزادوم.

نو د حضرتِ ابوبکر الصِّدِّیق ؓ په باره کي د سورةُ اللیل دغه آیاتونه نازل سوه چي رب عزوجل فرمایي:

﴿ٱلَّذِی یُؤۡتِی مَالَهُۥ یَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾﴾.

یعني: هغه څوک چي خپل مال د دې دپاره ورکوي او مصرفوي چي پاک سي،

﴿وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٖ تُجۡزَىٰٓ ﴿١٩﴾﴾

او د ده سره یا پر ده باندي د هیچا هیڅ نعمت او هیڅ احسان نه وي چي دئ د هغه بدله او عوض ورکوي،

﴿إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٠﴾﴾

بېله د خپل لوړ او اعلیٰ رب د رضاء غوښتلو څخه بل مقصد نه لري، دغه د ده ورکړه فقط د خپل لوړ او لوی رب د رضاء دپاره وي.

﴿وَلَسَوۡفَ یَرۡضَىٰ ﴿٢١﴾﴾

او ژر ده چي خامخا به دئ د الله جل جلاله له طرفه راضي سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه آياتونه د حضرتِ ابوبکرالصدّيق رضي الله عنه په باره کي نازل سوي دي، دا چي ده دغه ضعيفه مينځي او مريان فقط د هغو د ضعف او مظلوميت په سبب د الله جل جلاله د رضاء دپاره آزاد ول او خپل يې هيڅ مقصد او غرض نه درلودی، نو الله جل جلاله فرمايي: ډير ژر به دئ د الله جل جلاله له طرفه په جنت او د الله جل جلاله په لقاء راضي سي، خو د آياتو مضمون عام دی که نن ورځ هم يو څوک بيله خپل شخصي مقصده د الله جل جلاله د رضاء دپاره خپل مال د خير په کارو کي مصرفوي هغه څوک دي مطمئن اوسي چي الله جل جلاله خامخا هغه په جنت سره راضي کوي.

﴿وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾﴾

د دغه نيک عمل په مقابل کي چي دئ يې خاص د الله جل جلاله د رضاء دپاره کوي او د هغه تر شا يې خپله فايده نه وي سنجولې، الله جل جلاله به يې په آخرت کي راضي کړي.

*ورونړو! د زړو مالک الله جل جلاله دی او د انسان د زړه په هر حال خبر دی، موږ بايد په خپلو عملو کي د صدق او اخلاص څخه کار واخلو، د دين په کارو کي بايد دنيوي ګټي او فايدې، رياء او ځان ښکاره کول په نظر کي و نه نيسو، دا د دې دپاره چي هغه نېه عمل موضائع او عبث نه سي، د خير هر کارمو بايد د الله جل جلاله دپاره وي، نه د نامه، سياليو او ځان ښکاره کولو دپاره.*

د هغو مسلمانانو د جملې څخه چي د اسلام په سبب وهل سوي او آزار سوي دي يوه هم د بني مُؤمّل يوه مينځه ده او دې ته چا عذاب ورکاوه؟ عمر بن الخطاب، حضرتِ عمر رضي الله عنه چي هغه وخت نه ؤ مسلمان سوی دغه کار يې په خپله خوښه او د ثواب دپاره کاوه، ځکه نه دئ د دې مالک ؤ او نه دا د ده د قومه څخه وه، کله چي به عمر رضي الله عنه د خپلو کارو څخه فارغه سو نو به ورغلی او دې ته به يې وهل او عذابونه ورکول، دا به په صبر وه، تر هغو به يې وهل چي قوي او جبّار عمر به ستړی سو او بيا به يې ورته و ويل: زه معذرت غواړم چي ستا وهل را څخه پاته سوه او په دې سبب مي پرېښوولې چي زه ستړی سوم که نه دا مي خوښه وه چي نوره دي هم و وهم.

هغې مسلماني مينځي به ورته و ويل: دا هم د الله جل جلاله کار دی چي ته يې ستړی کړې، نو په دغه ورځ به يې پرېښوول او سبا به بيا د دې د وهلو دپاره ورغلی او وهل به

(c) ketabton.com: The Digital Library


یې ورکول، عمر رضی الله عنه د مسلمانانو هغه ډیر شدید دښمن ؤ، په ټولو قریشو کې د مسلمانانو سخت او شدید دښمنان دغه دوه نفره وه چې یو یې: ابوجهل او بل یې: عمر بن الخطاب ؤ او دغه مینځه هم ابوبکر رضی الله عنه رانیول او آزاده یې کړل.

مشرکانو به ځیني اصحابِ کرام د اوښ یا غوایي په پوست کې و پیچل او بیا به یې د غرمې په شدیده ګرمي کې پر سره ریګ واچول او په ځینو به یې د اوسپني زغره واغوستل بیا به یې د دې دپاره پر تودو ډبرو پرې ایستل چې بدنونه یې داغ سي.

هغه کسان چې د الله جل جلاله په لار کې عذابونه ورکول سوي دي ډیر زیات دي او د دوی قصې زړه دردوونکې دي (که نه یو څوک دي د دغو عذابو تصور پر خپل ځان وکړي) قریش چې به د هر چا په اسلام خبر سوه هغه به یې د مسلمانېدلو څخه منعه کاوه او عذابونه به یې ورکول.

دا خو درته معلومه ده چې حضرتِ ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه د خپل اسلام راوړلو د اولې ورځې څخه و اسلام ته په دعوت شروع وکړه او همیشه به یې د اسلام اظهار او اسلام ته دعوت کاوه، مګر قریشو له دې کاره منعه کاوه، قریشو هیڅوک نه پرېښاوه چې اسلام ته دعوت او بلنه وکړي خو ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه عزم کړی ؤ چې همیشه به د الله جل جلاله دین او اسلام ته بلنه کوي او په هره واسطه سره چې وي اسلام باید نشر او ښکاره کړي، نو یوه ورځ یې د کعبې شریفې سره په لوړ آواز د قرآن مجید په ویلو شروع وکړه او وایي یې، قریشو بیا د ده په وهلو شروع وکړه؛ ډیر سخت او شدید وهل یې ورکړه، سره د دې چې ابوبکر رضی الله عنه د قریشو د اشرافو څخه هم ؤ، خو قریشو صبر نه ورته وکړی او دومره یې و واهه چې وینې پر بهېدلې، له سره یې پر مخ او شا دومره وینې را وبهېدې چې مخ یې د شتې څخه نه معلومېدی، چا چې به ورته کتل نه پوهېدی چې دا یې مخ دی که شتې؟

بل هغه څوک چې د اسلام او دعوت اظهار یې کاوه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ؤ، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ډیر ضعیفه، ډنګر او کوچنئ سړئ ؤ، دومره ډنګر ؤ چې خلکو به د ده پر ډنګرتیا او نریو پښو خندل (د ده تر ډنګرتیا پورې یوه قصه ده) یو وخت (دا بیا وروسته په مدینه منوره کې) عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د خرما د رختې ته وختی، رسول الله ﷺ او اصحابِ کرام هم ناست وه، د ختلو په وخت کې دِ عبدالله رضی الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ښـو پنډۍ ښکاره سوې، اصحابِ کرامو چي دغه د ده وچې او نرۍ پنډۍ وليدې وېې خندل، رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا تاسي د عبدالله پر ډنګرتيا خاندئ؟ په والله د ابن مسعود پښې په ترازوکي د اُحُد تر غره درنې دي.

نو دغه کوچني، ډنګر او ضعيفه عبدالله بن مسعودﷺ هم په ښکاره سره خپل اسلام اعلاناوه، يوه ورځ يې د کعبې شريفي سره سورهٔ الرّحمان په لوړ آواز وايه. قريش پر را ټول سوه او د ده په وهلو يې شروع وکړه، دئ قرآن مجيد وايي او قريش يې وهي چي چپ سه بسته، مګر دهﷺ وايه. په دغو وهلو او ټکولو کي يې هم د قرآن مجيد تلاوت نه پرېښاوه، ترڅو چي سورهٔ الرّحمان يې پوره و وايه او هغو هم ډير وهل ورکړه، بيا نو رسول اللهﷺ ته ورغلی، رسول اللهﷺ ورته و ويل: دا دي په ځان څه وکړه؟ ده ويل: يا رسولَ الله! که دي خوښه وي سبا يې بيا وايم.

د اصحابِ کرامو زړو ته ايمان ننوتلی ؤ، او دا يې هغه ايماني جوش او جذبه وه چي په هر حالت کي يې خپل اسلام ښکاره کاوه.

ورونو او خوندو! هرڅوک چي د رسول اللهﷺ او د ده د اصحابِ کرامو رِضوان الله عليهم اجمعين، دغه قِسم قسم عذابونه او شديد تکاليف واوري د هغه سره دا سوال او پوښتنه پيداکيږي چي رسول اللهﷺ او د ده ملګرو ته دغه عذابونه او آزارونه ولي ورکول کېده؟ حال دا چي دوی پر حق وه او الله عزّوجلّ ولي دوی د دغو عذابو څخه نه ساتل؟ حال دا چي دوی د الله عزّوجلّ لښکر ؤ او په دوی کي رسول اللهﷺ موجود ؤ او دوی د الله جلّ جلاله د دين تبليغ کاوه، دين ته يې دعوت کاوه او د خپل رب عزّوجلّ او د هغه جلّ جلاله د دين د لوړلو په لار کي يې جهاد کاوه.

**جواب:** په دې دنيا کي د انسان اول صفت دا دی چي دئ مکلف دی، يعني: د الله جلّ جلاله له طرفه څخه په ځينو کارو سره امر کړه سوی دی، د ده څخه غوښتل کيږي چي داسي شيان تحمّل کړي يا و زغمي چي په هغو کي مشقت او زحمت وي، نو اسلام ته دعوت او في سبيل الله جهاد د دغه مکلفيت تر ټولو مهم جز دی.

او دا چي موږ وايو: (موږ د الله جلّ جلاله بندګان يو) د دغي بندګۍ سره لازمي او تړلی، حتمي او ضروري شئ دا دی چي موږ به دغه الٰهي مکلفيت منو، ځکه که زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر غاړه الٰهي اوامر او مکلفیتونه نه وي پراته، بیا نو بندګي او عبودیت معنٰی نه لري، او د الله عزوجل دپاره د انسان بندګي او عبودیت، د الله جل جلاله د اُلوهیت د ضروریاتو څخه یو ضرورت دی، که موږ په خپلو ځانو کي عُبودیت حِس نه کړو نو پر الله جل جلاله مو ایمان کومه معنٰی نه لري.

د دغو ټولو ذکر سوو خبرو مقصد او معنٰی دا سوه: کله چي یو انسان مومن سو هغه باید خپل ځان عبد او بنده و بولي، کله چي بیا عبد او بنده سو هغه باید خپل ځان په یوهٔ شي سره مکلف و بولي، کله چي مکلف سو نو د مکلفیت سره د مشکلاتو تحمل کول او د نفسي خواهشاتو سره جهاد او مقابله کول ترلي او ضروري دي، نو د دغه مقصد دپاره په دې دنیا کي د الله جل جلاله پر بندګانو د دوو کارو عملي کول واجب او ضروري دي.

**اول:** د اسلامي دین ټینګول او د واقعي اسلامي ټولني جوړول.

**دوهم:** د اسلامي ټولني د جوړولو دپاره: د سختیو، مشکلاتو او خطرو قبلول، حتّٰی د دغه مقصد د پوره کولو دپاره د مال او سر ښندل.

**ښه متوجه سه!** الله جل جلاله موږ په ایمان مکلفه کړي یو او د ایمان تر څنګ یې موږ د هغو مشکلاتو په زغملو هم مکلف کړي یو چي موږ د دغه ایمان و مقصد ته رسوي، که څه هم دغه تکالیف او مشکلات ډېر خطرناکه او درانه وي، که د الله جل جلاله إراده وای پسله ایمانه به یې د اسلامي ټولني د جوړولو دپاره لاري چاري آسانه کړي وای.

مګر یا! په داسي کېدلو کي و الٰهي دربار ته زموږ عبودیت نه معلومېدی او نه ثابتېدی، موږ دا نه سوای ثابتولای چي موږ د ایمان د اعلان د شروع څخه خپل ژوند او مال پر الله عزوجل خرڅ کړي دي او زموږ ټولي غوښتني او خواهشات د هغه څه تابع او پیرَو دي کوم چي رسول الله ﷺ را وړي دي، که دغه تکالیف او مشکلات نه وای بیا نو مومن او منافق، صادق او کاذب پر دغه لاریو قسم تله او یو له بله نه پیژندل کېده، نو ځکه هر هغه څه چي اسلامي علماوو، د دین مبلغینو او مجاهدینو ته د اسلامي ټولني د قائمولو په لارکي پېښېږي، دا د تاریخ د شروع څخه په کون کي الٰهي قانون او الٰهي طریقه ده، چي دغه درې شیه د هغه غوښتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اول:** د الله جل جلاله دپاره د انسان د بندګۍ او عبوديت لازم والی، لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾﴾.

**دوهم:** د عبوديت سره مکلفيت تړلی دی، يعني: کله چې بنده سوې نو په يو څه مکلف هم يې، هيڅ نارينه او ښځه نسته چې دوی دي د بلوغ سن ته ورسيږي او د الله جل جلاله له طرفه دي مکلف نه وي، چې هغه مکلفيت يې دا دی: اول به په خپل ځان کې اسلامي قوانين عملي کوي او بيا به د اسلامي ټولني د جوړولو کوښښ کوي او د دغه هدف د حاصلولو په لار کې به ډېر تکاليف او آزارونه قبلوي، ترڅو چې د مکلفيت معنٰی ښکاره او موجوده سي.

**دريم:** د صادق او کاذب ښکاره کېدل او معلومېدل: که خلک يوازي پر داسي حال پرېښوول سي چې فقط په ژبه سره د اسلام او د الله جل جلاله د محبت دعوه وکړي نو صادق او کاذب سره يو شئ سوه، مګر يا! ابتلاء او امتحان هغه ترازو دی چې صادق د کاذب څخه جلا کوي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله د سورةُ العنکبوت په اولو آياتو کي فرمايي:

﴿الٓمٓ ﴿١﴾ أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ﴿٢﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ ﴿٣﴾﴾. [العنکبوت]

يعني: آيا خلک دا ګمان کوي چې دوی به پر دغه پرېښوول سي چې فقط په خوله سره و وايي: موږ ايمان را وړی دی؟ او دوی به امتحان نه کړل سي؟ او خامخا هغه کسان چې تر دوی د مخه وه موږ امتحان کړي دي او خامخا به الله جل جلاله په علم ظاهري سره هغه کسان معلوم کړي چې صادقه دي او خامخا به هغه کسان معلوم کړي چې دروا غجنان دي.

همدارنګه رب عزوجل د سورة آل عمران په (۱۴۲) نمبر آيات کي فرمايي:

﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿١٤٢﴾﴾

ژباړه: آيا تاسي دا ګمان کوی چې جنت ته به ننوزی؟ حال دا چې: الله جل جلاله به ستاسي څخه هغه کسان نه وي معلوم کړي چې جهاد يې کړی دی او هغه کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي معلوم کړي چي پر سختيو يې صبر کړی دی؟ هيڅکله داسي نه ده بلکه الله جل جلاله په ظاهري علم سره صادق او کاذب معلوموي، مجاهد او تښتېدونکی معلوموي.

لوړو درجو او نعمتو ته هغه کسان رسېدلای سي چي د الله جل جلاله په لار کي هر قسم ستړيا او تکاليف قبول کړي، د ځان او مال د قربانولو دپاره هميشه تيار او آماده وي، دا د بندګانو دپاره الٰهي قانون دی او په الٰهي قانون کي حتّٰی د أنبياء عليهم السلام او صدّيقينو سره تغير او تبديل نسته.

﴿ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلاً ﴿٢٣﴾ ﴾. [الفتح / ۲۳]

نو د همدغه مقصد دپاره رسول الله ﷺ او تر ده ﷺ د مخه ټول انبياء عليهم السلام آزار سوي او زهير سوي دي او د همدغه مقصد دپاره د رسول الله ﷺ اصحابِ کرام زهير سوي دي، تر داسي اندازې چي ځيني يې تر عذابو لاندي شهيدان سوي او ځيني يې رانده سوي دي، سره د دې چي دوی د الله عزوجل په حضور د ډېر فضيلت او لوړ مقام خاوندان وه.

نو د دغو معلوماتو په نتيجه کي دا را معلومه سوه چي دغه عذابونه او آزارونه، تکاليف او مشقات هغه طبيعي لار ده چي الله عزوجل د مسلمان او د ده د مقصد په منځ کي ورته ايښې ده، يعني: مسلمانان خپل مقصد ته (هغه چي دوی په مکلف دي) په هغه اندازه ور نژدې کېږي، کوم چي دوی په هغه اندازه په دغه لار کي تکليفونه او زحمتونه ويني او په دغه لار کي شهيدان ورکوي، نو ځکه که مسلمانان د دين او اسلام په لار کي تکليفونه او زحمتونه و ويني، بند او شهادتونه و ويني، دوی ته دا نه ښايي چي نا اميده سي، بلکه بر عکس دا هغه کار دی چي د دغه دين د طبيعته سره برابر او موافق دی، دا هغه لار ده چي دوی هغه د دوی مقصد ته رسوي.

يعني: که مسلمانانو د الله جل جلاله د اوامرو د اطاعت په لار کي د اسلامي ټولني د جوړولو په لار کي هر څومره تکليفونه او ضررونه وليدل، دوی بايد يو او بل ته د نصرت زيري ورکړي، ځکه دوی په دغه قربانيو و بري او نصرت ته ور نژدې کېږي او د دغه خبري دليل د خَبّاب بن الأرت رضي الله عنه په قصه کي واضحه او روښانه دی، کله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خَباب بن الأرت رضي الله عنه د ډیر عذاب تر لیدلو وروسته هغه چي د بدن ډیره حصه یې په سرو او تودو ډبرو ور داغ کړې یا اُوتو کړې وه او رسول الله ﷺ ته ورغلی او د دغو عذابو شکایت یې ورته کاوه، د رسول الله ﷺ څخه یې وغوښتل چي د مسلمانانو دپاره د نصرت دعاء وکړي، د رسول الله ﷺ جواب هم په دغه معنٰی سره ؤ (که تا ته د الله جل جلاله په لار کي دغه آزارونه او تکلیفونه عجب معلومیږي، نو پوه سه چي مقصد ته د رسېدلو لار. دغه ده) او د ټولو هغو کسانو دپاره چي ایمان یې را وړی دی دغه الٰهي قانون دی، ډیر کسان د دین په لار کي د سر څخه تر پښو پوري د اوسپني په ږمونځو ږمونځ سوي دي، د اوسپني په اره اره سوي دي، خو دغو عذابو د الٰهي دینه څخه نه دي منعه کړي، که ته په دغو عذابو کي د بري او نصرت څخه د نا امیدۍ دلائل یا علامې وینې ته خطا وتلی یې، بلکه حق او ثابته خبره دا ده چي ته په دغو عذابو او دردو کي پر هغه لار رهي یې چي بري ته دي ور نژدې کوي او په والله! الله عزوجل به دغه دین ډېر ژر تر داسي اندازې کامیابه کړي چي یو سړۍ به د صنعاء څخه تر حضرموت پوري ځي او بیله الله جل جلاله د بل شي یا بل چا څخه به نه بیریږي.

وروڼو او خوندو! د دغه مقصد د اثبات دپاره ډیر دلائل او مثالونه سته خو زه د مضمون د اوږد والي د بیري تر نور څه ویلو تېرېږم او فقط د الله عزوجل په هغه قول سره کفایت کوم کوم چي د سورةُ التوبه په (۱۱۱) نمبر آیات کي فرمايي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَ ﴾. [التوبه: ۱۱۱]

یعني: بیشکه چي الله جل جلاله د مومنانو څخه د دوی ځانونه او د دوی مالونه رانیولي دي (چي خپل ځان او مال په في سبیلِ الله جهاد کي قرباني کړي) په څه شي یې را نیولي دي؟ چي دوی لره جنت دی، مسلمانان د الله جل جلاله په لار کي جنګونه کوي، تکلیفونه او زحمتونه زغمي، نو کله مسلمانان کفار وژني او کله بیا کفار مسلمانان شهیدانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د أرقم بن ابی الأرقم کور..

د دغو عذابو او آزارو په وخت او مقابل کي د پوهي او حکمت کار دا ؤ چي رسول الله ﷺ مسلمانان د اسلام د اعلانولو او ښکاره کولو څخه منعه کړي، که په خبرو سره وي که په عمل سره مسلمانان باید خپل اسلام ښکاره او اظهار نه کړي او د رسول الله ﷺ سره باید په سِري ډول یا په پټه یو ځای سي، ځکه که رسول الله ﷺ د مسلمانانو سره په ښکاره او د مشرکانو په حضور ټولنه او اجتماع وکړي په دې کي هیڅ شک نسته چي کفار به په هره وسیله سره چي وي د دوی په منځ کي لیري والی را ولي او د دې امکانات سته چي د مسلمانانو او مشرکانو په منځ کي جنګونه وسي او داسي هم یو وار پیښه سوه، هغه دا چي: د رسول الله ﷺ اصحاب د لمانځه او عبادت دپاره د مکې مکرمې په شېلو کي سره یو ځای کېدل، د کفارو څخه څو نفرو دوی دغه د عبادت په حال کی ولیدل نو کفارو بدي او ناوړه خبري ورته وکړې چي په نتیجه کي جنګ ته سره ورسېدل، سعد بن ابی وقاص ﷺ د کفارو څخه یو سړئ داسي وواهه چي ویني یې ورو بهولې او دا هغه اولي ویني دي چي په اسلام کي بهول سوي دي او دا معلومه خبره ده که دغه جنګونه اوږده سوي او تکرار سوي وای د مسلمانانو د بربادۍ او هلاکت سبب ګرځېدل، نو د عقل او حکمت کار دا ؤ چي د غسي ټولني په پټه او سِري ډول سره وسي، اکثره اصحابِ کرامو خپل اسلام پټاوه، عبادت، دعوت او ټولني یې په پټه کولې، مګر رسول الله ﷺ په ښکاره سره دعوت کاوه، خپل عبادت یې د مشرکانو په حضور او د هغو په منځ کي کاوه، هیچا او هیڅ شي د دې کاره څخه نه سوای منعه کولای، فقط د مسلمانانو سره یې یو ځای کېدل او ټولنه، تعلیم او تبلیغ په پټه وه، دا هم د دوی او د اسلام د مصلحت دپاره.

نو د أرقم بن ابی الأرقم کور چي د صفا پر غونډۍ ؤ او د مشرکانو د سترګو او د مجلس له ځایه ګوښه او نهام ؤ، رسول الله ﷺ دغه کور د دعوت مرکز او د مسلمانانو د اجتماع، تعلیم او ټولنو ځای ګرځولی ؤ، أرقم بن ابی الأرقم ﷺ چي نوم یې عبد مناف بن أسد دی او قریش دی لسم نفر دی چي مسلمان سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حبشې ته اول هجرت

مسلمانانو ته د کفارو له طرفه د عذابو او آزارو ور کول د بعثت د څلورم کال په منځ یا په آخر کې شروع سوه، خو په شروع کې دغه عذابونه سپک او خفیف وه، مګر ورځ په ورځ او میاشت په میاشت سختېدل او زیاتېدل، تر څو چې د بعثت د پنځم کال په نیمایي کې دومره ډېر شدید او ډېر سخت سوه چې تر تحمّل او زغملو وتل، مسلمانان دې ته مجبوره سوه چې یوه داسې حیله وسنجوي چې له دغه دردناکه عذابو څخه خلاص سي، په دغه سختو حالاتو کې سورةُ الکهف نازل سو چې په هغه کې د داسې سوالو جوابونه موجود وه چې مشرکانو د رسول الله ﷺ څخه کړي وه، مګر په دغه سورة کې درې قصې هم وې چې په هغو قصو کې د الله جلّ جلاله له طرفه و خپلو مومنو بندګانو ته واضحه اشارې وې.

**اول:** د اصحاب کهف قصه وه چې په دغه قصه کې دا لار ښوونه وه: که کوم وخت څوک پر خپل دین و بیرېږي نو دي د کفر او ظلم له ځایه هجرت وکړي، الله جلّ جلاله په سورةُ الکهف کې فرمایي:

﴿وَإِذِ ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ يَنشُرۡ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم مِّرۡفَقٗا ١٦﴾. [الكهف:١٦]

یعني: کله چې تاسې د دغو مشرکانو څخه او د هغو بتانو څخه چې دوی یې عبادت کوي ګوښه او پر یوه طرف سواست، یعني: تعلق نه ور سره لرئ، دوی مشرکان دي او تاسې مسلمانان یاست، نو تاسې په هغه غار کې ځای ونیسئ، ستاسې رب به تاسې ته خپل رحمت نشر کړي او ستاسې د کار جوړولو او ګذارې کولو او خوشالۍ اسباب به درته مهیا او آماده کړي.

دغه خبره اصحابِ کهف په خپل منځ کې سره وکړه، ویل: څرنګه چې موږ د مشرکانو له دینه بیل او جلا یو نو په ګذاره کولو کې هم باید له دوی څخه جلا سو او څرنګه چې د دوی د باطلو معبودانو څخه جلا یو نو باید له هره طرفه خپل تعلقات او روابط د مشرکانو سره وشکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دوهم**: د موسٰی او خضر علیهما السلام قصه پکښې موجوده وه، چې د هغې قصې څخه بيا دا معلومېدل چې د حالاتو نتيجه همېشه پر ظاهري قسم نه وي بلکه ډېرځله کار د هغه څه پر عکس وي چې ته يې په ظاهره سره وينې، په دې کې دا نرمه او لطيفه اشاره وه چې کوم جنګونه چې نن ستاسي پر ضد روان دی ډېر ژر به سر چپه او پر عکس واوړي او دغه مشرکان که ايمان را نه وړي ستاسي د لاسه به شپې پر آرامه نه سي تېرولای.

**درېيم**: د ذي القرنين قصه وه چې د قصې نتيجه دا وه: چې ځمکه د الله جل جلاله ده، حاکميت او خلافت يې هغه چا ته ورکوي چې د ده عزوجل خوښه وي او کاميابي د ايمان په لار کې ده نه د کفر، او د ځمکي د خلافت هغه څوک حقداره دي چې د الله جل جلاله صالحه بندګان وي.

او بيا سورۀ الزُمر نازل سو چې په هغه کې و هجرت ته اشاره وه، الله جل جلاله فرمايي:

﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾﴾. [الزُمر/١٠]

يعني: هغو کسانو ته چې په دې دنيا کې يې په طاعت سره نيکي کړې ده په آخرت کې نيکي سته (چې جنت او د الله جل جلاله رضاء ده) او د الله جل جلاله ځمکه پراخه ده، او بې شکه چې صابرانو ته به بې حسابه اجر او ثواب ورکول سي.

رسول الله ﷺ ته دا ورمعلومه وه چې هلته په حبشه کې يو عادل سړئ پاچا دی چې نوم يې اَصحَمه النجاشي ؤ او د هغه په ملک کې څوک پر چا ظلم نه سي کولای، اوس چې رسول الله ﷺ دغه تکليفونه او آزارونه کوم چې قريشو مسلمانانو ته ورکول وليدل حتّٰی کفارو اوس د زبير بن العوام، د سعد بن ابی وقاص، عثمان بن عفان رضی الله عنهم په آزارولو شروع وکړه، تر داسي اندازې چې ابوبکر الصدّيق رضی الله عنه ته هم تکليف او آزار ورکوي چې دا ټوله د قريشو د محترمو کورنيو او سردارانو څخه وه، مسلمانان په ډېر تکليف کې دي او ژوند يې ډېر سخت سو او وې ليدل چې عذاب ورځ په ورځ نور هم زياتېږي، اصحابِ کرام په سختو عذابو او آزارو کې شپې تيروي، نو رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصحاب کرامو ته و فرمايل: که له ستاسي څخه څوک غواړي چي د مکې مکرمې څخه ووزي او حبشې ته هجرت وکړي ولاړ دي سي، ځکه هلته په حبشه کي يو پاچا دی چي د هغه په پاچهي کي پر چا ظلم نه کيږي.

نو د بعثت په پنځم کال او د رجب په مياشت کي د اصحاب کرامو اولي ډلي حبشې ته هجرت وکړی چي دغه ډله دوولس سړي او څلور ښځي وې، د دغي ډلي مشر عثمان بن عفان رضي الله عنه وُ او د ده سره د ده زوجه د رسول الله ﷺ لور رُقَيه رضي الله عنها ور سره وه، او رسول الله ﷺ د دوی په باره کي فرمايي: پسله ابراهيم او لوط عليهما السلام څخه دوی هغه اوله کورنۍ ده چي في سبيل الله يې هجرت کړی دی او د رسول الله ﷺ د اصحابو څخه ابو حُذَيفه او د هغه ښځه، زبير بن العوام، مُصعَب بن عُمَير، عبدالرّحمٰن بن عوف، ابو سلمه او د ده ښځه ام سلمه، عثمان بن مظعون، مقصد ټوله دوولس نفره وه چي هجرت يې وکړی، دغه خلک د قريشو د ويري د شپې په تاريکه کي د مکې مکرمې له ښاره و وتل څو سمندر يا درياب ته ورسېدل او هلته په کښتۍ کي سپاره سوه او بيا حبشې ته ورسېدل، قريش چي د دوی په هجرت خبر سوه پسي ور و وتل، قريش چي د سمندر غاړي ته ور ورسېدل دوی تللي وه او مسلمانانو هلته په حبشه کي د نجاشي په ښه همسايتوب کي په فارغه زړه د خپل رب عزوجل عبادت کاوه.

ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه هم حبشې ته هجرت وکړی خو دا هجرت يې پای ته و نه رسېدی ځکه په لار کي پسله دوې ورځي تګ او سفره د اَحابيش قبيلې ته ورسېدی، دا قبيله د حبشيانو قبيله وه چي دغه خلک عرب نه وه بلکه دا هغه خلک وه چي اصلاً حبشيان او په جزيرةُ العرب کي مړيان وه او بيا د وخت په تيريدلو سره آزاد سوي وه او يوه حصه يې د حبشې څخه راغلي وه، دغه ټول په يوه ځای کي سره راټول سوي وه او ځان ته يې خاص کلی او منطقه جوړه کړې وه او (قبيلةُ الأحابيش) ورته ويل کېده يعني: د حبشيانو قبيله، دغه قبيله لويه او قوي قبيله وه، د دې قبيلې مشر او رئيس يو نفر وُ چي (ابن دُغُنّه) ورته ويل کېده، ابن دُغنّه چي ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه وليدی ويل: د خيره چيري ځې؟ يا ابا بکر! ده ويل: حبشې ته ځم، ابن دُغُنّه و ويل: ولي او د څه شي دپاره؟ ابوبکر الصِدّيق رضي الله عنه و ويل: هجرت کوم ځکه زموږ قوم آزار او تکليف را کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابن دُغُنه و ویل: یا! ستا په مثل سړئ باید هجرت ته نه سي مجبوره ته د خپل قوم د سردارانو څخه یې ته پر خپل قوم مهربانه یې، غریبانو ته خواړه ورکوې، د ضعیفه مرسته کوې، د میلمه عزت کوې، دوی څنګه تا ته تکلیف او آزار درکوي؟ ته باید هجرت و نه کړې بیرته راځه چي دواړه مکې ته ولاړ سو او زه تا ته جِوار او امان درکوم.

د جِوار کلمه زموږ په وروسته بیان کي ډیره ذکر کیږي، د دې دپاره چي ویونکو او اوریدونکو ته د دغي کلمې د معنٰی په سبب مشکلات نه سي پیښ، نو به اوس د دغه لفظ مفصله ترجمه وکړو او بیا یې وراګرځولو ته ضرورت نسته، تاسي یې هم په یاد ولری.

په عربو کي د ژوند طریقه د ځنګله قانون ؤ هر زوروربه کمزوره خوړی، هر هغه څوک چي بې قومه او بې قبیلې به ؤ هغه نفر هلته په تنهایي کي ژوند نه سوای کولای، هر چا به د خپلي قبیلې په منځ کي ژوند کاوه، که څه هم یوې قبیلې به په خپل منځ کي داخلي اختلافات درلودل خو نورو دباندنیو قبیلو ته په اتفاق وه، که چیري د نورو ځایو څخه یو څوک راغلی وای هغه چا په عربو کي انفرادي یا تنها ژوند نه سوای کولای ترڅو چي یوې قبیلې هغه ته جِوار او امان نه وای ورکړی، یعني: د دغه بې قومه سړي ساتنه یو چا پر ذمه نه وای اخیستې او هغه ذمه یې داسي اخیستل کېده:

یوې قبیلې به په ښکاره او واضحه ډول په عام مجلس او د خلکو په حضور کي اعلان وکړی چي دغه فلانئ نفر زموږ په جِوار او ساتنه کي دی، بیا نو نورو قبیلو تعارض نه پرکاوه، دا یو قسم جوار ؤ.

او بل قسم جوار بیا داسي ؤ چي یو نفر به په خپله قبیله کي بې کسه ؤ، ورونه یا اولادونه به یې نه درلودل نو د خپلي قبیلې څخه په امان نه سوای پاته کېدلای، نو به دغه نفر په خپله قبیله کي د یوه قوي نفر څخه جِوار وغوښتی او که به هغه قوي نفر دغه د ده غوښتنه قبوله کړه نو به یې په قبیله کي اعلان وکړی چي فلانئ زما په جِوار کي دی، بیا به پر دغه ضعیفه سړي چا تجاوز نه کاوه ځکه داسي به وګرځېدی لکه د هغه قوي سړي د کورنۍ غړی، نو خلک به یا د هغه قوي نفره څخه بېرېدل یا به یې د هغه مراعت کاوه، هغه ضعیفه نفر به د هغه قوي نفر په سایه کي په امن او امان ژوند کاوه او دغه ساتني ته جِوار ویل کېده چي موږ په خپله ژبه او اصطلاح کي د دغه جوار

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر ځای پناه استعمالوو او وايو (پناه يې ورکړه)

نو ابن دُغُنّه و حضرتِ ابوبکرالصدّيقؓ ته و ويل: راځه بيرته مکې ته ځو او زه تا ته جوار او امان درکوم، دوی دواړه مکې مکرمې ته راغله او ابن دُغُنه د کعبې شريفې سره و دريدی او د قريشو په منځ کي يې په لوړ آواز ناري کړه: ابوبکر زما په جوار کي دی که څوک آزار او تکليف ورکړي هغه د حبشيانو د قبيلې څخه پر آرامه نه سي پاته کېدلای، دا خبر ټولو قريشو ته ورسېدی او حضرتِ ابوبکر الصدّيقؓ د ابن دُغُنه په ساتنه او جوار کي سو څوک آزار نه ورکوي.

ابوبکر الصدّيقؓ د خپل کور سره يو ځای جوړکړی ؤ چي هلته به يې لمونځ کاوه او قرآن مجيد به يې وايه، حتّی د کعبې شريفي سره به يې قرآن کريم وايه، ابوبکر الصدّيقؓ چي د نرم زړه خاوند ؤ او د قرآن مجيد د ويلو سره به يې ژړل، هلکان به ورته ولاړ وه د ده ژړا ته به يې کتل، په عين وخت کي به دغو هلکانو قرآن مجيد هم ځني زده کاوه او بيا به يې دغه آياتونه په لارو او کوڅو کي ويل، پر قريشو دا کار ډېر درووند سو او ډېر په عذاب سوه خو منعه کولای يې هم نه سي ځکه دئ د ابن دُغُنه په جوار کي دی او قريش د قرآن مجيد ويل او اورېدل هم نه سي زغملای، نو څو نفره قريش ابن دغنه ته ورغله او ويل: تا ابوبکر ته جوار او امان ورکړی موږ څه و نه ويل، مګر دا چي دئ د کعبې سره ناست وي او زموږ خدايانو ته بښکنځل او بد ويل کوي پر دې صبر نه سو کولای، ابن دُغنه چي په خپله هم کافر او مشرک ؤ ابوبکر الصدّيقؓ ته ورغلی او ويل: ما تا ته جوار او پناه د دې دپاره درکړل چي د قريشو له آزاره څخه دي وساتم نه د دې دپاره چي ته دوی او د دوی خدايانو ته بد و وايې، ابوبکرؓ و ويل: ما نه بښکنځل او نه بد ويل کړي دي، زه فقط قرآن وايم، ابن دُغُنه ويل: يا! زما په جوار کي چي يې قرآن به نه وايې، حضرت ابوبکر الصدّيق ؓ ورته و ويل: ما ستا جوار بيرته تا ته دررد کړی دی او زما دا خوښه ده چي د نورو مسلمانانو په مثل په تکليف او آزارو کي و اوسم نه ستا په جوار کي، ابن دغنه بيرته خپلي قبيلې ته ولاړی او ابوبکرؓ په مکه مکرمه کي بېله جواره پاته سو، دا د ابوبکر الصدّيقؓ د نه هجرت کولو سبب ؤ که نه دئ ؓ هم په شروع کي د هجرت دپاره رهي سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وختو کې چې رسول الله ﷺ او د ده اصحاب کرامو ته تکلیفونه او آزارونه ورکول کېږي نور هم د مسلمانانو هجرت و حبشې ته زیاتېدی، د مسلمانانو ډېر نفر حبشې ته تله او د نجاشي په پاچهي کې یې ژوند کاوه ترڅو چې یوه کوچنۍ واقعه پېښه سوه او په حبشه کې یې د مهاجر مسلمانانو پر ژوند تاثیر وکړی.

هغه واقعه داسې وه: په مکه مکرمه کې پر رسول الله ﷺ د سورهٔ النّجم آخري آیاتونه نازل سوه، نو دغه د بعثت د پنځم کال د روژې په میاشت کې رسول الله ﷺ حرم شریف ته را و وتی او هلته د قریشو ډېره لویه ډله ناسته وه چې په دوی کې د قریشو مشران او سرداران هم وه، رسول الله ﷺ ورته و درېدی او د سورهٔ النجم په ویلو یې شروع وکړه، کفارو چې کلام الله تر دغه د مخه په صحي شکل نه ؤ اورېدلی ځکه د قریشو پرله پسې کوښښ دا ؤ چې څوک قرآن کریم وا نه وري او همېشه به ځینو و ځینو نورو ته ویل: قرآن مه اورئ بلکه د محمّد ﷺ د قرآن ویلو په وخت کې غالمغال ښور ماښور جوړوئ، چې نه یې تاسې واورئ او نه یې بل څوک واوري، لکه څرنګه چې الله جل جلاله د سورهٔ حٰمٓ السجده یا فصلت په (۲٦) نمبر آیات کې فرمایي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ ﴿٢٦﴾﴾

یعني: هغه کسان چې کافران سوي دي وایي: کله چې محمّد ﷺ قرآن وایي غوږ مه ورته نیسئ او غالمغال، شخول ښور ماښور جوړوئ، ښایي چې په دغه طریقه سره تاسې پر محمّد غالبه سئ.

اوس چې کفارو الٰهي کلام د رسول الله ﷺ د مبارکې خولې څخه واورېدی هغه خپله دښمني یې هېره سوه د خپله ځانه بې خبره دي، هر یوه په دقت غوږ ورته نیولی دی او رسول الله ﷺ د سورهٔ النّجم آخرني آیاتونه ورته تلاوتوي:

أعوذُ بالله من الشّیطٰن الرّجیم ط

﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضۡحَكَ وَأَبۡكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحۡيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيۡهِ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰ ﴿٤٧﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغۡنَىٰ وَأَقۡنَىٰ ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعۡرَىٰ ﴿٤٩﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ عَادًا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَاْ فَمَآ أَبۡقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ هُمۡ
أَظۡلَمَ وَأَطۡغَىٰ ﴿٥٢﴾ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ أَهۡوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ
تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نَذِيرٞ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلۡأُولَىٰٓ ﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ ٱلۡأٓزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيۡسَ لَهَا مِن دُونِ
ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنۡ هَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ تَعۡجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضۡحَكُونَ وَلَا تَبۡكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمۡ
سَٰمِدُونَ ﴿٦١﴾ فَٱسۡجُدُواْۤ لِلَّهِۤ وَٱعۡبُدُواْ۩ ﴿٦٢﴾ ﴾.

د دغه آخري آيات تر ويلو وروسته چې د سجدې آيات دی رسول الله ﷺ سجده وکړه، کفار چې د دغو آياتو تر تاثير لاندې راغلي وه د ټولو ښخه بېله اختياره سجده وسوه، کفار د دغو آياتو د عظمت او بلاغت تر تاثير لاندې سوه، حق او بليغ کلام الله يې واورېدی نو د قريشو ټول سرداران او اهلِ مکه چې دلته حاضر وه ټولو سجده وکړه، بېله يوه بد بخته، ضعيفه او سپين ږيري سړي ښخه چې هغه سجده و نه کړه فقط د مځکې ښخه يې خاوري را پورته کړې پر سر يې واچولې يا يې په تندي پورې ومښلې او ويل: ما لره دغه بس او کافي دي، مګر د قريشو سردارانو سجده وکړه، هغه کار ځني پېښ سو چې دوی د هغه د منعه کولو دپاره په کلو کلو ډېر کوښښونه کړي وه، چې هغه کار د قرآن مجيد اورېدل وه.

کله چې قريشو وليدل چې د محمّد ﷺ خبري دومره تاثير لري چې حتّٰی دوی هم د هغه تر تاثير لاندې راغله او خبره تر داسې ځايه ورسېدل چې دوی هم سجده وکړه، دا کار پر قريشو ډېر درونده سو تر اوسه دوی خلک منعه کول چې د محمّد ﷺ د خبرو تر تاثير لاندې نه سي او اوس په خپله دوی سجده وکړه! قريش ډېر غمجن وه.

دغه خبر په خلکو کې نشر سو چې قريشو د محمّد ﷺ خبرو ته يا د محمّد ﷺ د خبرو په واسطه سجده وکړه خو د حبشې مهاجر مسلمانانو ته دا خبر داسې ورسېدی چې قريش ټول اسلام ته داخل سوه، سجده په اسلام بدله سوه، هغو کسانو چې دغه خبر و منی چې رشتيا هم قريش اسلام ته داخل سوي دي نو د دغه کال د شوال په مياشت کې بيرته د حبشې ښخه مکې مکرمې ته را رهي سوه، ځکه دوی ويل: قوم مو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ايمان را وړی او تر دې وروسته موږ ته آزار نه را کوي نو موږ ولي ژوند په هجرت او د رسول الله ﷺ څخه ليري تېروو.

تاسي پوهېږی؟ چي هجرت په خپله د عذابو او دردو د اقسامو څخه يو قسم درد او عذاب دی چي د دين په لار کي دغه مهاجرينو قبول کړی ؤ، اسلامي هجرت د آزارو څخه تېښته او د راحت طلبول نه دي، بلکه يو تکليف په بل تکليف سره تر هغه وخته بدليږي ترڅو چي د الله جل جلاله له طرفه نصر او برئ راځي او ته پوهېږې؟ چي په هغه وخت کي مکه مکرمه هم دار الإسلام يا اسلامي ملک نه ؤ چي څوک و وايي: اصحاب کرامو څنګه دار الإسلام پرېښاوه او د خپلو اروحو د ساتني دپاره د کفر ملک ته ولاړل، په هغه وخت کي مکه مکرمه او حبشه او نور ملکونه ټول سره يو شئ او د کفر ملکونه وه او په دغه ملکو کي چي په هر يوه کي د اصحاب کرامو د دين او دعوت دپاره آسانتيا موجوده وه هغه د دوی د استوګني دپاره ډير وړ او لائق ؤ.

او دا چي څوک د يوه اسلامي ملک څخه بل اسلامي ملک ته هجرت کوي په هغه کي درې حکمه دي:

يا دا چي: دغه هجرت واجب دی.

يا دا چي: دغه هجرت مباح دی.

يا دا چي: دغه هجرت حرام دی.

**اول**: د خپل ملک او وطن څخه بل اسلامي ملک ته (*نبه متوجه سه اسلامي ملک ته نه د کفر ملک او نبارته*) هغه وخت هجرت واجب دی چي مسلمان په دغه خپل ملک کي اسلامي شعاير لکه لمونځ، روژه، آذان او حج نه سي آداء کولای.

**دوهم**: د خپل وطن څخه بيا هغه وخت بل اسلامي ملک ته هجرت مباح او جائز دی چي په دغه خپل ملک کي داسي تکاليف ور رسيږي چي د ده ژوند ور تريخوي، نو ده ته دا جائزه او روا ده چي له دغه خپله ملکه بل اسلامي ملک ته هجرت وکړي.

(*نه دا چي د نبه او مستريح ژوند دپاره کفري ملکو ته ځي او بيا وايي ما هجرت وکړی*)

**درېيم**: هغه وخت بيا له خپله ملکه هجرت کول حرام دي چي د ده په هجرت کولو سره د ده په ملک کي د اسلامي واجباتو څخه يو واجب پاته کيږي او بيله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل څوک هغه ديني واجب نه سي پرځای کولای.

*(دا د هجرت کولو په باره کي فقهي احکام وه بيرته خپلي قصې ته راګرځم)*

نو مهاجر اصحاب کرام د دې خبر په اورېدلو سره چي ټول قريش اسلام ته داخل سوه د حبشې څخه د مکې مکرمې پر طرف رهي سوه، کله چي مکې مکرمې ته دومره نژدې سوه چي د يوه يا دوو ساعتو لارپاته وه دوی ته د هغه اورېدلي خبر واقعيت ور معلوم سو او پوه سوه چي هغه د آياتو د عظمت تاثير ؤ چي قريشو سجده وکړه، په حقيقت کي نه قريشو ايمان راوړی دی او نه مسلمانان سوي دي، نو څوک بيرته له هغه ځايه حبشې ته وګرځېدل او ځيني يې په پټه يا د قريشو څخه د يو چا په جِوار کي مکې مکرمې ته داخل سوه او دلته په مکه مکرمه کي پر دغو راغلو کسانو او نورو عامو مسلمانانو عذابونه او آزارونه نور هم زيات سوه، قريشو ته دې خبر ډېر زور ورکړی ؤ چي مسلمانان د نجاشي په همسايتوب کي آرام او هوسا ژوند کوي او رسول الله ﷺ د مسلمانانو دپاره بله چاره نه ليدل بېله دې څخه چي دوهم وار بيا د حبشې د تګ مشوره ورکړي او دغه دوهم وارِ هجرت تر اول وار ډېر سخت او مشکل ؤ، ځکه دا وار قريش ورته ويښ او بيداره وه او دا يې إراده وه چي مسلمانان به هجرت ته نه پرېږدو، خو بخت د مسلمانانو ملګری ؤ او الله جل جلاله دغه سفر ورته آسانه کړی، د مخه تر دې چي قريش پسي ورورسيږي مسلمانان حبشې او نجاشي ته رسېدلي وه، په دغه دوهم هجرت کي د نارينه وو شمېر (۸۳) نفره ؤ او (۱۸) يا (۱۹) ښځي هم ورسره ملګري وې.

## د حبشې مهاجر مسلمانانو ته د قريشو چم او حيله

د مکې مکرمې مشرکان په دې ډېر خواشيني او ناراضه وه چي مهاجر مسلمانانو د خپل دين او خپلو ځانو دپاره د أمان ځای پيدا کړی دی، نو غواړي چي هغه مهاجر مسلمانان هم په يوه طريقه سره مکې مکرمې ته راولي ځکه چي هغه مسلمانان د دوی له آزاره فارغه وه او قريش په دې نه وه خوښ چي څه مسلمانان بېله تکليفه او بېله آزاره پاته سي نو قريشو د خپلو سردارانو څخه دوه پوه، قوي او هوښيار نفر اختيار

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړه چې دا به حبشې ته ځي او هلته به نجاشي په دې راضي کوي چې دغه مهاجر مسلمانان بېرته مکې مکرمې ته ولېږي، دغه دوه نفره چې یو یې عَمرو بن العاص ؤ او بل یې عبدالله بن أبي ربیعه ؤ، که څه هم دغه دوه نفره په وروسته کې مسلمانان سوي دي.

قریشو په خپل منځ کې مشوره سره وکړه چې موږ باید کومه هدیه او سوغات نجاشي او د هغه درباریانو ته ولېږو چې هغه په خوشاله سي او دغه زموږ غوښتنه قبوله کړي؟

ځینو و ویل: د نجاشي د څرمني څخه جوړ سوي شیان ډېر خوښ دي او قریشو هم دغه د څرمني څخه جوړ سوي شیان د شام څخه را وړي وه، ښه ښایسته چرمي شیان یې درلودل، نو یې له دغو چرمي شیانو څخه ډېر سوغاتونه د نجاشي او د هغه وزیرانو او درباریانو دپاره سره یو ځای کړه.

څرنګه چې نجاشي نصراني ؤ او حبشه هم د نصرانیت پر دین وه، نو یې د نصاراوو علماوو ته هم هدیې او سوغاتونه ورسره واخیستل، دغه دوه نفره د هدیو او سوغاتو سره حبشې ته ورسېدل، د مخه تردې چې نجاشي ته ورسي د هغه په درباریانو، وزیرانو او حاضر باشانو یې شروع وکړه، هغو ته یې هدیې او سوغاتونه ورکړه، معلومه خبره ده چې هغه هم په دغو سوغاتو ډېر خوشاله سوه او بیا یې و دغو درباریانو ته و ویل: دلته په حبشه کې زموږ د قوم خلک اوسیږي چې د مکې څخه یې هجرت را کړی دی او یو نوی دین یې را وړی دی چې نه زموږ په دین دي او نه ستاسي په دین دي (د دې خبرو څخه یې *مقصد دا ؤ چې دغه درباریان د مسلمانانو څخه ناراضه او ورته په قهر سي*) او ویل: موږ غواړو چې د نجاشي سره په دغه باره کې و وینو او خبري ور سره وکړو، درباریانو ویل: هو بالکل کولای سی، څرنګه چې دغه خلک ستاسي قوم دی تاسي حق لری چې د هغو په باره کې د نجاشي سره خبري وکړی، درباریانو وعده ور سره وکړه چې د دغه ملاقات په وخت کې به د دوی مرسته هم کوي، څو دغه دوه نفره د قریشو نمایندګان د نجاشي دربارته ورغله، هغه را وړي سوغاتونه یې نجاشي ته ورکړه، نجاشي هم ډېر په خوشاله سو او بیا دغو دوو نفرو د مهاجرو مسلمانانو په باره کې خبري شروع کړې، ویل: أيّها الملِك! زموږ د مَلک او وطنه ستا وطن ته څو نفره بیعقل ځوانان راغلي دي چې د خپل قوم له دینه اوښتي دي او ستا په دین کې هم نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


داخل سوي، يو بل نوی دين يې له ځانه جوړ کړی دی چي نه يې موږ پېژنو نه ته، او د دوی د قوم مشرانو چي د دوی پلرونه او اکاګان دي موږ و تا ته د دوی په باره کي را لېږلي يو چي ته يې بيرته هغه خپلو مشرانو ته ور ولېږې، ځکه هغه قوم د دوی ښه څارنه کولای سي او د دوی په غلطياوو ښه خبر دي.

درباريانو هم په خپل نوبت سره وويل: دوی حق او صحي وايي هغه راغلي کسان بايد دوی ته ور تسليم کړل سي چي خپل وطن او قوم ته يې بوزي، نجاشي وويل:

زه ظلم نه کوم ستاسي خبري مي د هغو په باره کي واورېدې خو غواړم چي د هغو خبري هم واورم بيا وروسته حکم کولای سم، درباريانو بيا وويل: موږ دوی پېژنو، دوی په خپل قوم کي معتبره او د عزت خاوندان دي، دوی حق او رشتيا وايي، نجاشي وويل: يا! دا ظلم دی چي د يوه طرف په خبرو پر هغه بل طرف حکم وکړم حتماً بايد د هغه بل طرف خبري هم واورم.

*واقعاً نجاشي عادل ؤ او رسول الله ﷺ مخ کي د هغه په باره کي مسلمانانو ته فرمايلي وه چي حبشې ته هجرت وکړی ځکه هلته يو پاچا دی چي د هغه په مُلک کي ظلم نه کيږي، که څه هم نجاشي مسلمان نه ؤ مګر ظالم هم نه ؤ.*

نجاشي پردې تېنګار وکړی چي تر هغو حکم نه سم کولای څو د هغه بل طرف خبري وا نه ورم او په حديث شريف کي راغلي دي: که يو سړئ په داسي حال کي درته راغلی چي يوه سترګه يې د لاسه ورکړې وه او له يوه نفره څخه يې شکايت کاوه چي هغه دغسي را سره وکړه، ته به د ده په فايده حکم نه کوې ترڅو چه هغه بل نفر و نه وينې، ښايي چي د هغه دواړي سترګي له منځه تللي وي، بيا نو څوک ظالم دی؟ د دې حديث شريف مقصد دا دی چي پرحکم کولو تلوار مه کوه بلکه ځان صحي او پوره په موضوع خبروه.

نو نجاشي هم پر خپله خبره ټينګ سو او ويل: زه بايد د هغو خبري هم واورم، درباريانو هر څه کوښښ وکړی چي نجاشي د دغو دوو نفرو د غوښتني سره سم حکم وکړي، مګر نجاشي وايي: تر هغو چي زه د مسلمانانو خبري وا نه ورم دا امکان نه لري چي حکم وکړم، نجاشي امر وکړی چي مسلمانان راولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانانو ته و ويل سوه چي نجاشي غوښتي ياست، مسلمانانو په خپل منځ کي سره و ويل: هرڅه چي پيښيږي خو موږ بايد پاچا ته رشتيا و وايو او د خبرو کولو دپاره يې د رسول الله ﷺ د اکا زوی جعفر بن أبي طالب رضي الله عنه خپل مشر وټاکی.

اوس چي مسلمانان د نجاشي دربار ته ورغله نجاشي ورته و ويل: دا څنګه دين دی چي تاسي په هغه کي د خپله قومه جلاسوي ياست؟ نه زما په دين کي داخل سوي ياست او نه په بل داسي دين کي چي هغه دي د مځکي پرمخ موجود وي.

جعفر بن أبي طالب رضي الله عنه چي د مسلمانانو له طرفه خبري کوونکی ؤ و ويل:

ايّها الملک! موږ يو جاهل قوم ؤ چي د بتانو عبادت مو کاوه، د مړه سوي حيوان غوښي مو خوړلې، بد او فاحش کارونه مو کول، صلهٔ رحمي مو قطعه کول، يعني: پر دوستانو مو رحم او شفقت نه کاوه د همسايه سره مو بد کول، په موږ کي قوي ضعيفه خوړی، زموږ دغه حال ؤ چي الله جل جلاله موږ ته زموږ له قومه يو رسول را ولېږی چي موږ ته د هغه نسب، صداقت، امانت او پاکي را معلوم وه، دغه رسول موږ و يوه الله او د هغه جل جلاله عبادت ته وبللو او ويل: هغه شيان چي تاسي او ستاسي پلرو يې عبادت کاوه بېله الله عزوجل څخه هغه نور پرېږدی، چي هغه د ډبرو بتان وه.

او دغه رسول موږ په رشتيا ويلو، د امانت په بيرته ورکولو، په صلهٔ رحمي، په ښه همسايتوب، امر کړو، د آزار او وينو بهولو، د فواحش او درواغ ويلو، د يتيم د مال د خوړلو څخه يې منعه کړو او موږ يې امر کړو چي يوازي د يوه الله جل جلاله عبادت وکړو، هيڅ شريک ورته و نه نيسو، موږ يې د لمانځه په آداء کولو، صدقه ورکولو او په روژه نيولو امر کړو، جعفر رضي الله عنه هغه کارونه چي اسلام په امر کړي وه يو يو ورته بيان کړل او و ويل: موږ د ده تصديق وکړی او پر ده ﷺ مو ايمان را وړی، د ده او د هغو شيانو متابعت مو وکړی چي د الله عزوجل له طرفه يې را ته را وړي وه، نو يوازي د يوه الله عبادت کوو او هيڅ شئ د الله شريک نه بولو، هغه شيان حرام بولو چي پرموږ حرام کړل سوي دي او هغه شيان حلال بولو چي راته حلال سوي دي، زموږ قوم پر موږ تېرئ او تجاوز وکړی، عذابونه يې را کړل، په خپل دين کي يې په تکليف کړو، غواړي چي موږ بيرته د الله جل جلاله له عبادته د ډبرو د بتانو عبادت ته ورکش کړي او هغه خبيث شيان چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ حلال بلل بیا حلال وبولو، نوکله چې یې ظلمونه راباندي وکړه، عذابونه یې راکړه، ځکه یې راباندي تنګه کړه او کوښښ کوي چې زموږ او زموږ د دین په منځ کې جلا والی را ولي نو موږ ستا مملکت ته راغلو، ته مو تر نورو خوښ او اختیار کړې، ستا جِوار مو زړه وغوښتی او دا مو امید دی چې ستا په مَلک کې ظلم را باندي و نه سي.

نجاشي پوښتنه وکړه ویل: آیا ستا سره د هغه څه څخه یو شئ سته چې دغه رسول د الله ﷻ له طرفه را وړي دي؟ جعفر ﷺ و ویل: هو، نجاشي ویل: را ته ویې وایه، جعفر ﷺ د سورة مریم هغه آیاتونه تلاوت کړه چې د زکریا او یحیٰی علیهما السلام قصه پکښي بیان سوې ده، نجاشي دومره و ژړل چې ږیره یې په اوښکو لنده سوه او د نصاراوو علماوو چې اساقفه ورته ویل کیږي هم د قرآن مجید په اورېدلو سره وژړل، بیا نو نجاشي دوی ته و ویل: والله دغه کلام او هغه کلام چې عیسٰی علیه السلام را وړی دی دواړه د یوه طاقه یا کلکینه څخه را وتلي دي.

دغه د زکریا او یحیٰی علیهما السلام قصه د نصاراوو سره موجوده وه مګر د قرآن مجید الفاظ او د بیان طریقه معجزه ده پر نجاشي یې ډېر تاثیر وکړی.

نجاشي د عَمرو بن العاص او عبدالله بن ربیعه طرف ته مخ ورواړاوه او ویل:

یا! والله هیڅکله به دوی تاسي ته در تسلیم نه کړم، نجاشي مسلمانانو ته و ویل: ورځی بېغمه کښېنی والله قریشو ته مو هیڅکله نه ور تسلیموم.

وروسته عَمرو بن العاص او عبدالله بن ربیعه د نجاشي له درباره ناکامه و وتل، مګر عَمرو بن العاص چې ذکي او هوښیار سړئ ؤ په دغه یو وار ورتګ نه ؤ قانع او فکر وهي چې یوه حیله او چم جوړ کړي، پسله فکره یې دا فیصله وکړه چې دوهم وار بیا نجاشي ته ورسي، که څه هم عبدالله بن ربیعه ورته و ویل: دا کار مه کوه دغه مسلمانان که څه هم زموږ مخالفه دي خو زموږ قوم او أقرباء دي، مګر عَمرو بن العاص بیا هم پر هغه خپل فکر ټینګ دی.

عَمرو بن العاص سبا سهار بیا د نجاشي دربار ته ورغلی او ویل: ایها الملک! دغه کسان چې تا په خپله مځکه کې د سکونت اجازه ورکړې ده دوی د عیسٰی علیه السلام په باره کې ډیري لویې خبري کوي، نجاشي و ویل: د هغه په باره کې څه وایي؟ عَمرو و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


په خپله دوی را وغواړه پوښتنه ځني وکړه چي دوی د عیسیٰ علیه السلام په باره کي څه وایي.

نجاشي دوهم وار بیا مسلمانان را وغوښتل، مسلمانان پوه سوه چي قریشو بیا چم او حیله جوړ کړي دي، مسلمانانو په خپل منځ کي مشوره سره وکړه او پر دې یې فیصله وکړه چي د نجاشي د هري پوښتني جواب به په رشتیا او حق ویلو سره ورکوو، ځکه: حق همیشه کامیابه کیږي.

کله چي مسلمانان د نجاشي دربار ته ورغله، نجاشي پوښتنه ځني وکړه چي تاسي د عیسیٰ علیه السلام په باره کي څه وایاست؟ جعفر رضی الله عنه و ویل: موږ د عیسیٰ علیه السلام په باره کي هغه څه وایو چي زموږ نبي ﷺ را ته را وړي دي چي هغه عبدُالله، رسولُ الله، روحُ الله، کلمةُ الله دی هغه چي د مریمُ العذراء البتول په نس کي یې بېله پلاره اچولی دی او بیا یې د سورةُ المریم د (۱٦) نمبر آیات څخه تر (۳۴) نمبر آیاته پوري ورته تلاوت کړل چي په دغو آیاتو سره جعفر رضی الله عنه د عیسیٰ علیه السلام قصه پای ته ورسول.

او په دغو آیاتو کي دا واضحه او ښکاره ده چي د عیسیٰ علیه السلام پیدا کېدل فقط یوه الٰهي معجزه ده چي بېله پلاره د مور څخه پیداسو او عیسیٰ علیه السلام په خپله الله نه دی او کوم اختلاف چي نصارا د ده په باره کي کوي چي خوک یې په خپله الله یا د الله زوی بولي (العیاذ بالله) دا ټول بشري او د انسانانو اختلاف دی خو په حقیقت کي عیسیٰ علیه السلام هغه انسان او بشر دی چي الله عزوجل په خپل کتاب کي ذکر کړی دی چي عبدالله اورسول الله دی او له موره بېله پلاره پیدا سوی دی، کله چي جعفر رضی الله عنه د آیاتو د ویلو څخه فارغه سو نجاشي و ویل: (صدق الله العظیم) او د مځکي څخه یې یوه خاشه را پورته کړه ویل: والله عیسیٰ علیه السلام تر دغه چي تا و ویل، دغه یوه خاشه فرق نه درلودی، یعني: عیسیٰ علیه السلام بنده او د الله رسول دی او پیدایښت یې په دغه مُعجِزډول سره ؤ.

هغه درباریان چي د نجاشي په مجلس کي حاضر وه او د هغو عقېده دا وه چي عیسیٰ په خپله الله دی هغو مخالفت ښکاره کړی، نجاشي ورته و ویل: که څه هم تاسي مخالفت کوی بیا هم والله عیسیٰ علیه السلام د دوی له بیانه څخه یوه خاشه فرق نه لري او نه یې درلودی.

نجاشي امر وکړی چي مسلمانان دي ولاړ سي په أمن او ېېغمي کي دي ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي او هیڅوک به آزار نه ور رسوي او خپلو درباریانو ته یې و ویل: د دوی دوو هدیې بیرته ورکړئ زه هغه ته ضرورت نه لرم، الله جل جلاله زما څخه رشوت نه دی اخیستی چې زما پاچهي یې بیرته ما ته را کړل او زه اوس په خپله پاچهي کي رشوت واخلم؟ ام سلمه رضي الله عنها چې د دغي قصې روایت کوي وایي: بیا نو دغه دوه نفره د نجاشي له درباره په بد مخ و وتل او هغه هدیې چې دوی را وړي وې بیرته ورکول سوې او موږ د نجاشي سره په ښه همسایتوب کي وخت تېراوه.

*اوس به اول په حبشه کي د نجاشي سره وروستني واقعات درته بیان سي او بیا به د قریشو تر ناکامه سفر وروسته په مکه مکرمه کي د قریشو نوري فیصلې او اقدامات درته بیان سي.*

په دغه خبرو سره د نجاشي او د هغه د درباریانو په عقیده کي اختلاف ښکاره او پیدا سو، ځکه نجاشي عیسیٰ علیه السلام د الله بنده او رسول وباله او درباریانو عیسیٰ علیه السلام په خپله رب باله. العیاذ بالله.

(درباریان د قومو او قبیلو هغه مشران دي چې همېشه به د نجاشي په دربار کي حاضر وه)

نو د پاچا او درباریانو د عقیدې د اختلاف په سبب په حبشه کي فتنه شروع سوه، درباریان په دې واقعه ډیر ناراضه دي چې نجاشي ولي د دوی د عقیدې څخه مخالفه خبري کوي مګر نجاشي عالم ؤ، یوازي پاچا او امیر نه ؤ بلکه د نصاراوو ډیر لوی عالم هم ؤ، هغه په انجیل کي معلومات درلودل او د هغه سره د عیسیٰ علیه السلام په باره کي صحي معلومات وه، نو خود د پاچا او درباریانو په منځ کي ورځ په ورځ اختلاف زیاتېدی.

په دغه وختو کي به نجاشي د جعفر رضي الله عنه سره ملاقاتونه کول او جعفر رضي الله عنه به اسلام او د هغه احکام ور ښوول، خو نجاشي په پټه مسلمان سو او پر رسول الله ﷺ یې ایمان را وړی او د قرآن مجید لیکني یې د جعفر رضي الله عنه څخه د زده کولو دپاره اخیستې.

په دغه موده کي د پاچا او درباریانو اختلاف نور هم شدید سو، نجاشي ولیدل چې د درباریانو د اختلاف په سبب یې پاچهي ضعیفه کېږي نو یې یوه ورقه چې قرآن مجید پر لیکل سوی ؤ تر خپلو کالو لاندي پر ځیګر کښېښوول او بیا یې ټول درباریان را ټول کړه او ورته ویې ویل: تاسي ته څه ښکاري؟ وینم مو چې په فتنه او بې اتفاقي اخته کېږئ، درباریانو و ویل: ته د عیسیٰ علیه السلام په باره کي داسي خبري کوې چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبري زموږ د عقيدې څخه فرق لري، نجاشي و ويل: تاسي د عيسٰى عليه السلام په باره کي څه واياست؟ درباريانو و ويل: موږ وايو: عيسٰى عليه السلام د الله زوی دی (العياذ بالله) نجاشي لاس پرځيګر کښېښاوه او ويل: زه پر دغه يم، مقصد يې هغه قرآن ؤ چي ده ترکالو لاندي ايښی ؤ، مګر په ظاهره هغوته داسي ښکاره سوه چي زه ستاسي سره پر دغه خبره يم او قسم يې ياد کړی چي زه هم پر دغه يم، موضوع لږ څه سړه سوه مګر بيا هم ځيني درباريان په شک او تردد کي دي او وضعه پوره نه آراميږي.

څو د حبشيانو يو قومي مشر د څو نفرو درباريانو سره يو ځای سو او د لښکر د مشرانو څخه يې هم څو نفره د ځان ملګري کړه د نجاشي پر ضد يې جنګ اعلان کړی، د نجاشي لښکر پر دوې حصې و ويشل سو يوه ډله د مخالفينو وه او بله ډله د نجاشي ملګري وه، د نجاشي او مخالفينو په منځ کي جنګ شروع سو، د جنګ ميدان د يوې لويي او برداره ولې پر غاړه ؤ چي (نهر) ورته وايي او مسلمانان د دغه نهر پر هغه بله غاړه اوسېدل، جنګ يې ليدی مګر د جنګ نتيجه يا د يوه طرف کاميابي نه ورته معلومېدل، نو مسلمانانو و ويل: څوک به د جنګ خبر او نتيجه موږ ته راوړي چي څوک کاميابه کيږي او څوک ماته خوري؟ که نجاشي کاميابه سو موضوع په خير ده ځکه هغه زموږ پر طرف دی او که مخالفين کاميابه سي نو زموږ ژوند په خطر کي دی.

زبير بن العوام رضی الله عنه چي په دغه وخت کي قوي ځوان ؤ هغه و ويل: دا خبر به زه درته را وړم، مګر واله ډېره لويه او برداره ده څوک وايي: دغه واله بحر نيل ؤ، زبير بن العوام رضی الله عنه د اوبو يو ژئ خالي کړی او بيا يې په هوا ډک کړی (وې پړساوه) اوبو ته يې ور واچاوه لاسونه يې پوري ونيول په اوبازي يې شروع وکړه څو د ولې هغه بل طرف ته ورسېدی او هلته د جنګ حالاتو ته ګوري، د جنګ په نتيجه کي د نجاشي لښکر کاميابه سو او مخالفينو ماته وخوړل، زبير بن العوام رضی الله عنه د هغه ژي په مرسته بيرته په دغه لوی نهر کي راغلی او مسلمانانو ته يې د نجاشي د کاميابۍ زيری را وړی.

نجاشي د مرګ تر وخته پر اسلام پاته سو، کله چي بيا په وروسته کي نجاشي رضی الله عنه وفات سو جبريل عليه السلام د هغه د وفات خبر و رسول الله ﷺ ته راوړی او رسول الله ﷺ پر هغه د غائب د جنازې لمونځ آداء کړی، صلوةُ الغائب پر هغه چا کيږي چي پر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنازې لمونځ نه وي سوی، مګر هغه څوک چې پر هغه د جنازې لمونځ سوی وي پر هغه مړي د غائب د جنازې لمونځ نه کیږي او پر نجاشي رضي الله عنه د جنازې لمونځ نه ؤ سوی ځکه هغه په نصاراوو کې ؤ او خپل اسلام یې پټاوه، نو رسول الله ﷺ او اصحابِ کرامو پر نجاشي د غائب د جنازې لمونځ آداء کړی.

دا د نجاشي د اسلام قصه او هغه واقعې وې چې مهاجر مسلمانانو ته په حبشه کې پېښې سوي وې. *(اوس به بیرته مکې مکرمې ته ولاړ سو)*

کله چې عَمرو بن العاص او عبدالله بن ربیعه د حبشې له ناکامه سفره مکې مکرمې ته راغله او د قریشو هغه چم او حیله کوم چې د مهاجر مسلمانانو دپاره یې جوړ کړي وه بې فایدې او بې معنٰی وګرځېدل، قریش پوه سوه چې دوی تر خپلو حدودو دباندي څه نه سي کولای او دلته په مکه مکرمه کې هم د دوی ژوند تریخ دی دا حال نور نه سي زغملای، نو یې یوه ډېره خطرناکه مشوره وکړه ویل: موږ له دې شره تر هغو نه سو خلاصېدلای ترڅو چې محمّد ﷺ په تمامه معنٰی له دعوته څخه منعه نه کړو یا دا چې ویې وژنو، خو دا کار د دوی په وسه نه ؤ پوره ځکه ابوطالب د قریشو او د رسول الله ﷺ په منځ کې ولاړ دی او د محمّد ﷺ پوره ساتنه کوي، نو قریشو دا خوښه وبلل چې په دغه باره کې د ابوطالب سره جِدّي خبري وکړي.

## ابو طالب ته د قریشو دوهم وار ورتګ

د قریشو مشران او سرداران د دوهم وار دپاره ابوطالب ته ورغله او ویل: یا ابا طالب! ته په موږ کې مشر د شرف او مقام خاوند یې موږ د مخه ستا څخه وغوښتل چې وراره دې له دعوته او دغه بېځایه خبرو څخه منعه کړه خو تا نه کړی منعه، نور نو د قریشو په منځ کې فتنه مه جوړوه، په والله موږ پر دغه حال نور صبر نه سو کولای چې زموږ پلرو ته بد ویل کیږي، پر آلِهه یا خدایانو مو عیبونه ویل کیږي، دین مو عبث او بېکاره بلل کیږي، یا دې وراره زموږ څخه منعه کړه یا دا چې ته او دې دواړه زموږ مقابل طرف یاست، نور نو موږ تر هغو آرام نه کښېنو چې یوه له دغو دوو ډلو څخه هلاکه نه سي (یعني: یا موږ و نه وژل سو یا تاسي و نه وژنو) دغه وعدې او تهدیدونه و ابوطالب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوی او خطرناکه معلوم سوه او پوه سو چې د نورو قریشو او د عبدالمطلب د اولادې په منځ کې فتنه جوړېږي، نو یې رسول الله ﷺ را وغوښتی او ورته ویې ویل:

اې وراره! ستا قوم ستا څخه شکایت لري او ما ته راغله دغسي او دغسي یې را ته وویل، نو زما او د خپل ځان د ساتني فکر وکړه او پر ما دومره بار مه ایږده چې زه یې د وړلو طاقت نه لرم دغه موضوع باید حل سي یا دا چې ته چپ سې یا بله لار وسنجوو، دا نه ده صحي چې خبره دغسي پاته وي او په آخر کې لویه فتنه ځني جوړه سي، د رسول الله ﷺ دا خیال او ګمان سو چې اکا مي زما د مرستي څخه لاس اخلي او اوس زما د کومک کولو څخه عاجزه سو، نو یې وویل:

اې اکا! په والله که کفار زما په راسته لاس کي لمر او په چپه لاس کي سپوږمۍ کښېږدي او را ته و وایي چې دغه کار یعني: د دین تبلیغ او اسلام ته دعوت پرېږده، تر هغو به یې پرې نږدم چې یا دغه دین ښکاره او ظاهره نه سي یا زه هلاک نه سم.

بیا نو رسول الله ﷺ وژړل او د اکا څخه په خواشیني سره ولاړ سو، ابوطالب چې مهربانه اکا ؤ او د رسول الله ﷺ د خواشینه کېدلو طاقت یې نه درلودی پسي ور رغ کړه، رسول الله ﷺ چې مخ ورته را واړاوه اکا یې ورته و ویل:

اې وراره! ورځه هر څه چې دي خوښه وي هغه وایه په والله هیڅ شي او هیچا ته به دي هیڅکله تسلیم نه کړم او بیا یې دغه شعر و وایه:

والله لن یَصِلوا إلیکَ بجمعهم حتّٰی أُوسدُ فی التراب دفینا
فَاصدع بأمرک ما علیک غضاضه و أبشر و قَر بذاک منک عیونا

یعني: په والله تر هغو قریش به په خپل ټول قوت او طاقت سره تا ته در و نه رسیږي او په تا به هیڅ و نه کړي ترڅو چې زه په خاورو کي نه یم ښخ سوی، په عزم او همت سره دي خپل د دعوت کار کوه پر تا هیڅ خطر او ملامتیا نسته او زه په خپله دغه وعده سره تا ته زېری درکوم چې ستا سترګي به یخي سي، یعني: د زړه مراد به دي حاصل او خوشاله به سې.

دا هغه قومي اتحاد او اتفاق ؤ چې د هغه په سبب یې د رسول الله ﷺ ملا تړ او تایید کاوه، چې هم دغه د ابوطالب ملا تړ او مرسته د رسول الله ﷺ د دعوت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دین د اظهار دپاره د قوت او طاقت مصدر او منبع وه، رسول الله ﷺ نور هم د دعوت په نشرولو کي زیاتوالی وکړی، و ډلو ته، و حاجیانو ته، و افرادو ته، هر چا ته بېله تردد او بېله بیري د توحید او اسلامي دین بیان کوي، قریشو ولیدل چي محمّد ﷺ نور هم خپل دعوت نشروي نو پوه سوه چي ابوطالب نه غواړي چي محمّد ﷺ منعه کړي یا د ده ﷺ د ساتني ځخه لاس واخلي او همدغه ابوطالب دی چي د قریشو د تفرقې او دښمنۍ سبب دی.

## ابوطالب ته د قریشو دریم وار ورتګ

دریم وار بیا قریش سره را ټول سوه او ابوطالب ته ورغله دا وار یې یو عجیبه وړاندیز یا پېشنهاد ور سره را وړی ؤ، هغه دا چي د قریشو د ځوانانو ځخه یې یو ښایسته ځوان ور سره را وستلی ؤ چي عمّار بن ولید بن المغیره نومېدی او د خالد بن ولید رضي الله عنه ورور ؤ، دغه ځوان د نامه، شرف او نسب، خاوند ؤ، ښایسته او مالداره ځوان ؤ، نو قریشو و ویل: یا ابا طالب! دغه ځوان عمّار بن الولید واخله د ځان زوی یې وګرځوه ستا سره دي اوسیږي، د ده عقل او قوت یې ستا او مور به یې هم نسبت تا ته کوو ستا زوی به یې بولو او په عوض یا بدل کي یې ستا وراره هغه چي ستا او ستا د پلرو له دینه مخالف دی او قوم یې سره پاشلی دی را تسلیم کړه چي موږ یې و وژنو نو سړئ په سړي سو، ابوطالب و ویل: والله دا ډیره بده سودا ده، ستاسي زوی راکوی چي در ویې ساتم او زما زوی درکړم چي تاسي یې و وژنی؟ په والله دا سي به هیڅکله پېښه نه سي.

مُطعِم بن عدي و ویل: یا ابا طالب! والله ستا قوم انصاف در سره وکړی خو زه تا وینم چي هیڅ شئ نه قبلوې، ابوطالب و ویل: والله انصاف مو نه دی را سره کړی مګر ته غواړې چي قوم پر ما را پورته کړې ورځه هر څه چي دي په وسه پوره وي هغه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د رسول الله ﷺ د وژلو
# د پاره د یاغي او سرکښه قریشو مشوره

اوس چي د قریشو لاس ته څه نه ورغله او دوه درې واره د ابوطالب څخه نا امیده ولاړ سوه نو یې خپل آزارونه او تکالیف تر هغه پخوا ډیر زیات کړه او په دغه ورځو کي د طاغي قریشو سره د محمّد ﷺ د وژلو فکر په بله طریقه سره پیدا سو، مګر د قریشو دغه د رسول الله ﷺ د وژلو فکر او دغه د آزارو شدت او ډیر والی د اسلام د تقویې سبب وګرځېدل، هغه دا چي د مکې مکرمې دوه نامتو پهلوانان او قهرمانان د اسلام دین ته داخل سوه چي یو یې حمزه بن عبدالمطلب ؤ او بل یې عمر بن الخطاب ؤ، خو د دوی د اسلام را وړلو تر قصې د مخه به لږ څه هغه سخت آزارونه درته بیان کړم چي رسول الله ﷺ ته ورکول کېده.

عُتیبه بن أبي لهب چي د رسول الله ﷺ د اکا ابولهب زوی دی یوه ورځ و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: زه د:

﴿ وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ﴿١﴾ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ﴿٨﴾ ﴾.

د آیاتو او مفهومه څخه منکره یم، یعني: کوم شئ چي د دغو آیاتو څخه مقصد دی هغه نه منم او بیا یې د رسول الله ﷺ په آزارولو شروع وکړه کالي یې پر څیري کړه او د رسول الله ﷺ پر مخ یې ور تُوف کړه، مګر د ده ناړي پر رسول الله ﷺ نه ولګېدې، دلته نو رسول الله ﷺ ښرا ورته وکړه، ویل: الٰهي ستا د سپو څخه یو سپئ پر مسلطه کړې، د رسول الله ﷺ دغه ښرا قبوله سوه، هغه داسي چي یو وخت دغه عُتیبه د قریشو د څو نفرو سره شام ته په سفر تللی ؤ او هلته یې په یوه ځای کي واړول چي هغه ځای ته (الزرقاء) ویل کیږي، د شپې یو زمرئ پر راغلی، عُتَیبه ناري کړې ویل: ما لره دي ویل او هلاک وي لکه څرنګه چي محمّد ﷺ ما ته ښرا کړې ده په والله دغه زمرئ ما وژني او زه محمّد ﷺ په داسي حال کي و وژلم چي دئ په مکه کي دی او زه په شام کي یم، زمرئ ور نژدې سو او د ټولو خلکو له منځه یې پر دغه عُتیبه حمله وکړه او سره څیري یې کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قریشو د قاتلانه اعمالو څخه یو هم هغه دی چي رسول الله ﷺ په حرم شریف کي لمونځ کاوه، د سجدې په وخت کي عُقبه بن أبي مُعیط کافر د ده ﷺ پر مبارکه غاړه پښه کښېښوول او تر دومره وخته یې کښېکښل چي قریبه وه د رسول الله ﷺ نفس وخېژي.

د هغو کارو څخه چي پردې دلالت کوي چي قریشو د رسول الله ﷺ د وژلو اراده درلودل یو هم هغه دی چي ابن اسحاق یې په یوه اوږده حدیث کي روایتوي او وایي: ابوجهل د قریشو د مشورو په یوه مجلس کي وویل: یا معشرَ القریش!

یعني: اې د قریشو قومه یا ډلي! تاسي وینی چي محمّد ﷺ ته بل کار نه دی پاته ببله دې څخه چي زموږ پر دین بد و وایي، پلرونه مو بیعقلان او ناپوهان و بولي، زموږ آلهه یا خدایان په بدو نومو سره یاد کړي، زه خو نور صبر نه سم ورته کولای، کومي لاري چي د حَل او صلحي دپاره موجودي وې هغه مو ټولي عملي کړې خو هیڅ فایده یې و نه کړه او اوس ما یوه چاره سنجولې ده چي ببله هغه بله لار نه لرو، قریشو و ویل: هغه چاره څه شي ده؟ ابوجهل علیه لعائن الله و ویل: زه محمّد ﷺ وژنم، زما د الله سره وعده ده چي یوه دومره ډبره اخلم چي تر هغې لویه ډبره نه سم اخیستلای، کله چي محمّد ﷺ په لمانځه کي سر پرسجده کښېښاوه، په هغه ډبره یې پر سر وهم او د هغه په وژلو سره به د هغه څخه خلاص سو، بیا نو ستاسي خوښه او اختیار دی چي ما د عبد مناف اولادې ته ورتسلیموی او که مي دفاع کوی، حتّی که د عبدالمطلب اولاده ما مړ هم کړي خو زه دغه کار کوم، ابوجهل د دې امت فرعون او دا یې شیطاني اعمال.

قریشو و ویل: یا! والله هیڅکله دي هیچا ته نه تسلیموو، موږ ټول ستا دفاع کوو هرڅه چي دي زړه غواړي هغه وکړه.

سبا ورځ هغه ده چي ابوجهل باید خپله شیطاني نقشه عملي کړي، په سبا سهار کي قریش د خپل مجلس په ځای کي ناست دي او په دې انتظار دي چي اوس ابوجهل څه کوي؟ ابوجهل یوه لویه ډبره ور سره کښېښوول او د رسول الله ﷺ د راتګ انتظار کوي، رسول الله ﷺ د خپل عادته سره سم په خپل کور کي اودس تازه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړی ؤ او راغلی د کعبې شریفې سره لمونځ کوي، د رسول الله ﷺ دا عادت ؤ چې ډیره اوږده سجده به یې کول، کله چې رسول الله ﷺ خپل رب ته سر پر سجده کښېښاوه ابوجهل هغه خپله ډبره واخیستل او د رسول الله ﷺ پر طرف ور رهي سو، کله چې رسول الله ﷺ ته ور نژدې سو ډبره یې وغورځول مخ پر قریشو را ځغلي، د بیري څخه یې د مخ رنګ او بڼه بل قسم اوښتې ده، قریش د ده مخ ته ور ولاړ سوه ویل: څه درته پیښه سوه؟ یا ابا الحکم!

ده وویل: آیا تاسي نه ولیدی؟

قریشو ویل: څه شي مو نه ولیدی؟

ابوجهل وایي: هغه چې ما ولیدی تاسي نه ولیدی؟

قریش وایي: څه شي دي ولیدل؟ حال و وایه.

ابوجهل ویل: و مي لیده چې ځوان او غټ، قوي او مست اوښ زما پرطرف را رهي دی خوله یې خلاصه کړې ده غواړي چې پر ما حمله وکړي.

قریشو ویل: ته پرتي وایې؟ موږ هیڅ شئ نه دی لیدلی.

ده ویل: قریبه وه چې ما ووژني او تاسي و نه لیدی.

دا د ابوجهل د هغه خبیثي نقشې څخه د رسول الله ﷺ د نجات او خلاصون دپاره الهي معجزه وه.

اوس چې د قریشو دا کار هم د ناکامۍ سره مخامخ سو خو بیا هم د رسول الله ﷺ د وژلو نقشې او دسیسې په خپل فکر او دماغ کي سنجوي، مګر په دغه وختو کي یې یو بل چم او حیله هم وسنجول چې داسي یو کار وکړي چې هیڅوک د محمّد ﷺ خبرو ته غوږ و نه نیسي، ویل: نضر بن الحارث را وغواړی، نضر بن الحارث د قریشو څخه یو نفر ؤ چې په طائف کي اوسېدی د دې سړي ژوند په سفرو تېر سوی ؤ، په دغه سفرو کي یې ډیري قصې زده کړي وې، د ډیرو ملکو تاریخ او قِسم قسم حوادث یا واقعات ور معلوم وه، د خبرو ډک سړئ ؤ، زړې قصې او نوي واقعات، عجائب او غرائب، درواغ او رشتیا یې زده وه، قریشو دا سړئ را وستی او ویل: ته به دلته اوسېږې، هر وخت چې دي محمّد ﷺ ولیدی چې یو ځای کښیني ته به هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلته ورته کښېنې دئ ﷺ به خبرو ته نه پرېږدي، هغه ستا مزه داره او خوندوري قصې به شروع کړې (لکه نن ورځ چې کفار په دوش او کېبل مسلمانان د ديني معلوماتو د حاصلولو او اذکارو د ويلو څخه منعه کوي او منعه کړي يې هم دي) نضر بن الحارث هم دغه خپله وظيفه شروع کړه او هميشه به يې داسي کول چې چيري به رسول الله ﷺ کښېنستی او قرآن مجيد به يې وايه يا به يې د دعوت خبري کولې نضر به هم هلته ورغلی او خپلې قصې به يې شروع کړې، په اولو وختو کې د قريشو دغه حيله تر يوې اندازې کاميابه سوه خلکو به د دغه نضر عجائبو او غرائبو ته غوږ نيوی، د رسول الله ﷺ مجلس به يې پرېښاوه او نضر ته به ناست وه، کله چې به نضر خپلې خبري خلاصي کړې نو به يې و ويل: څوک وايي چې محمّد ﷺ تر ما ښه او بهتر دی؟ هغه زړې او پخوانۍ قصې کوي زه هم زړې او پخوانۍ قصې کوم، د هغه دا هم ټول خُرافات دي او زما دا هم ټول خُرافات دي دواړه يو شئ يو، څو ورځې پر دغه قسم تيري سوې او خلک د نضر بن الحارث په قصو ماړه سوه، چيري د ده خبري او قصې او چيري قرآن کلامُ الله، خلکو بيرته دئ او د ده مجلس پرېښوول او هلته به رسول الله ﷺ ته ناست وه.

د نضر بن الحارث د دغه عمل او وينا په باره کې چې ده او نورو کفارو به ويل: قرآن مجيد پخوانۍ قصې دي د قرآن مجيد په مختلفو سورتو او ځايو کې (۹) آياته نازل سوي دي چې هغه ټول آياتونه د کفارو د دغې خبري رَد کوي چې وايي: قرآن پخوانۍ قصې دي، چې يو د هغو آياتو څخه د سورةُ الأنعام (۲۵) نمبر آيات دی چې رب عَزَّوَجَلَّ فرمايي:

﴿يَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴾. [الأنعام: ۲۵]

يعني: هغه کسان چې کافران سوي دي هغه وايي: نه دی دا قرآن مګر د پخوانيو خلکو باطلي قصې.

نو په هر آيات کې چې د اساطير لفظ ذکر سوی دی په هغه کې پر نضر بن الحارث رَد دی، چې قرآن کريم اساطيرالأولين نه دی بلکه دا کلام الله تَنذِيرٌ مِنَ الرّحمٰن الرّحيم دی، په دې کلام کې ببره، وعظ، نصيحت او لارښوونه موجود دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


داهم د دعوت د منعه کولو او د هغه د اثر د خُنثی کولو دپاره د قریشو له طرفه یوه طریقه وه، خو په عین وخت کې د قریشو په زړو کې د رسول الله ﷺ د وژلو فکر هم ور سره دی، ابن اسحاق د عبدالله بن عَمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روایت کوي چې وايي: یوه ورځ کعبې شریفې ته نژدې قریش ناست وه او زه هم ورغلم هلته کښېنستم، رسول الله ﷺ له کوره را و وتی د کعبې شریفې پرطرف رهي دی څو حجر اسود یې مسحه کړی او بیا یې په طواف شروع وکړه، په طواف کې چې د قریشو پر محاذاة یا برابرې ورغلی قریشو ځینې داسې بدې او ناوړه خبرې ورته وکړې چې د هغو خبرو اثر د رسول الله ﷺ پر مخ ښکاره سو او څه یې و نه ویل، دوهم وار چې بیا د دوی پر برابرې ورغلی قریش بیا پُچ او رَد وايي، رسول الله ﷺ پته خوله دی هیڅ نه وايي خو د قهر علامې یې پر مخ ښکاره دي، بل وار بیا دغه حال دی، د طواف په هر شوط کې چې پر دوی راسي قریش دغه سپک ویل کوي، رسول الله ﷺ حلیم دی او هیڅ نه ورته وايي، خو د طواف په آخري شوط کې قریشو ډیر شنیع او بد الفاظ د ده ﷺ په مقابل کې استعمالول، رسول الله ﷺ ورته ودرېدی په ډیر قهر او غضب سره یې و ویل:

«اَتَسْمَعُونَ يَا مَعشَرَ القُريش! أمّا وَالَّذي نَفْسي بيَده لَقَدْ جِئتُكُم بالذَّبح ».

یعني: اې د قریشو ډلې! تاسي یې اورئ؟ زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما د نفس اختیار د هغه په قدرت کې دی زه به تاسي ته حلالول را وړم، یعني: تاسي به ټول حلال کړم، قریش د دغې لهجې او د دې الفاظو په اورېدلو وارخطا او په بېره کې سوه ټول چپ او پرخپلو ځایو ناست دي، په دوی کې هغه قوي نفر دومره وکولای سوای چې رسول الله ﷺ ته ور ولاړ سو په ډیره نرمه او د عذر په لهجه ورته وايي: یا ابا القاسم! و مو بخښه ته کریم او حلیم یې موږ ستا په حق کې غلطیا وکړه، عذر وايي، دغه ټول عذرونه یې د رسول الله ﷺ د قهرمنې لهجې او شدیدې څبرې د بیرې څخه وه، رسول الله ﷺ رهي سو او دوی یې پرېښوول.

قریش چې بیرته پرخپلو ځایو کښېنستل اوس ځانونه ملامتوي او یو د بل سره وايي: دا مو څه وکړه؟ موږ د ده د آزارولو او تکلیف ورکولو نیت کړی دی او اوس موږ ټول د ده په یوه خبره و بېرېدلو دا څه راوسوه؟ ژر مو بیا بخښنه ځني وغوښتل او

(c) ketabton.com: The Digital Library


زارۍ مو ورته کولې، هغه هم د ده په یوه خبره؟ قریشو قصد وکړی چي سبا به یې ډیر آزاروو، دوهمه ورځ بیا قریش کعبې شریفي ته نژدې ناست دي رسول الله ﷺ راغلی غواړي چي طواف وکړي، قریش ټول په یوه وار ورته را ولاړ سوه او پر را وګرځېدل، دا یې یوې خوا ته کشوي هغه بل یې بلي خوا ته کشوي، یو سوک ورسره کړي او هغه بل چپلاخه او ورته وایي: ته موږ په حلالولو بېروې؟ او موږ حلالوې؟ له هره طرفه پر رسول الله ﷺ د چپلاخو او سکانو باران دی، رسول الله ﷺ د دوی په منځ کي ورک دی د کومي خوا دفاع وکړي، کار یې د قدرته وتلی دی او نور هم پر رسول الله ﷺ وهل زیاتیږي، حضرتِ فاطمه رضی الله عنها راغله او دا حال یې ولیدی غواړي چي په چغارو او بغارو خپل پلار خلاص کړي خو په وسه یې نه سوه پوره، نو یې د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه د کور و طرف ته ور وځغستل او هغه یې خبر کړی، هغه هم په ځغستا راغلی او د خلکو په منځ ور ننوتی یوه او بل طرف ته خلک پوري وهي څو ځان یې رسول الله ﷺ ته ور ورساوه او رسول الله ﷺ یې د قریشو له منځه را وایستی، ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه ژاړي او وایي: تاسي یو سړئ پر دغه وژنی چي وایي زما رب الله دی؟ بس دغه یې ګناه ده؟ او رسول الله ﷺ یې له دغه وهلو څخه خلاص کړی، دا هغه درد، هغه تکلیف او هغه عذاب دی چي رسول الله ﷺ ته له خپله قومه ور رسېدی.

امام بخاري د عُروه بن زبیر رضی الله عنه څخه روایت کوي چي وایي: د عبدالله بن عَمرو بن العاص رضی الله عنه څخه مي پوښتنه وکړه چي په هغه ډیر سخت او شدید عذاب مي خبر کړه چي مشرکانو ورسول الله ﷺ ته ورکړی دی، عبدالله بن عَمرو رضی الله عنه و ویل:

رسول الله ﷺ د کعبې شریفي په حِجر یا حطیم کي لمونځ کاوه چي عُقبه بن أبي مُعَیط راغلی او خپل پټو یا کالئ یې د رسول الله ﷺ په غاړه کي ور واچاوه او ډیر شدید یې خپه کړی ترڅو چي ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه راغلی او عُقبه یې تر اوږو ونیوی او څنګي کش یې کړی او ویل: تاسي پر دغه یو سړئ وژنی چي وایي رب مي الله دی؟

په هغه حدیث کي چي د ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه لور اَسماء رضی الله عنها یې روایتوي وایي: ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه ته ورناري کړل سوه چي هله ملګري ته دي ځان ور و رسوه، وایي: ابوبکر چي زموږ څخه یا له خپله کوره وتی ده څلور کوڅې درلو دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


(يعني د خپلو ورېښتانو څخه يې څلور کوڅۍ اودلي وې) او د کوره څخه د وتلو په وخت کي يې دغه ويل: آيا تاسي يو سړئ پر دغه وژنی چي وايي زما رب الله دی؟ هلته چي ور ورسېدی مشرکانو رسول الله ﷺ پرېښاوه پر ابوبکرالصديق رضي الله عنه يې را واچول، اسماء رضي الله عنها وايي: کله چي ابوبکر الصديق رضي الله عنه بيرته خپل کور ته راغلی هري کوڅۍ ته چي به مو لاس ور وړی هغه به زموږ په لاسو کي راغله، يعني: د سر ورېښتان يې ټول ور شکولي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه اسلام

تردې وروسته پر رسول الله ﷺ نور هم آزارونه زياتېدل او قريش پر دلاوره کېدل، قريشو جُرئت پيدا کړى، ځرنګه چي رسول الله ﷺ حليم ؤ د بد ويلو او ښکنځلو جواب يې چا ته نه ورکاوه او تر پټه خوله زيات يې نور څه هم نه سواى کولاى، فقط دعوت کوي او تحمّل، هغه آيات شريف خو مو د مخه درته بيان کړې چي رب عزوجل ورته و فرمايل:

﴿وَلِرَبِّكَ فَٱصْبِرْ﴾ او خپل رب ته دي صبر کوه.

رسول الله ﷺ هم په صبر دى او قريش هره ورځ آزارونه ورکوي او په آزار ورکولو کي ورځ په ورځ زياتوب او شدت کوي، دغه د ظلم او طغيان د تورو اوريځو په فضاء کي د ضعيفه خلکو دپاره يو نور او روښنايي وځليدل چي هغه د حمزه بن عبدالمطلب اسلام ؤ، حمزه رضي الله عنه د بعثت د شپږم کال په آخر کي مسلمان سو او ډير داسي ګمان کيږي چي د ده اسلام د ذي الحجه په مياشت کي ؤ.

د حمزه رضي الله عنه د اسلام سبب دا ؤ چي يوه ورځ قريش د کعبې شريفي سره ناست وه او رسول الله ﷺ طواف کاوه، ابوجهل چي هم دلته حاضر ؤ رسول الله ﷺ ته يې په ښکنځلو او بد ويلو شروع وکړه داسي شديد او غليظ الفاظ يې ورته و ويل چي تر دغه وخته چا دغسي بد الفاظ نه وه ورته ويلي، د رسول الله ﷺ د مخ رنګ له ډيره قهره تغير کاوه مګر په وسه يې څه نه وه پوره، په يوه روايت کي وايي چي ابوجهل په يوه ډبره هم پر سر و واهه او د رسول الله ﷺ له سره څخهويني را توى سوې، بيا نو ابوجهل ولاړى هلته د قريشو سره د هغو په مجلس کي په فخر کښېنستى.

يوه ښځه چي د عبدالله بن جدعان مينځه وه هغې دغه حال وليدى چي ابوجهل پوچ او رَد وايي او رسول الله ﷺ پټه خوله دى، ښځه د دغه ظلم په ليدلو نه وه خوښه خو رهي سوه، په لار کي حمزه رضي الله عنه په مخه ورغلى چي له ښکاره را رهي ؤ او هغه خپل غشي او ليندى ور سره وه، د حمزه رضي الله عنه ښکار خوښ ؤ او ښکار يې کاوه، خاصتاً د زمريانو ښکار چي دا د حمزه رضي الله عنه د قوت او شجاعت علامه ده خو تر دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وخته پر هغه خپل شرک ؤ، اول چي مکې مکرمې ته داخل سو هغه ښځي ورته و ویل: که چیري تا لیدلي وای؟ چي ابو الحکم (یعني: ابوجهل) ستا وراره ته څه و ویل، حمزه ﷺ ویل: څه یې ورته و ویل؟ ښځي ویل ښکنځل بد ویل هرڅه چي وه هغه یې ټول ورته و ویل، حمزه ﷺ و ویل: چا د دغو خبرو جواب ور نه کړی؟ ښځي ویل یا والله هیچا جواب ورنه کړی، حمزه ﷺ چي په قریشو کي شجاع او قوي ځوان ؤ ډیر قهر ورغلی د خپل کور پر ځای د دارالندوه طرف ته رهي سو، په لار کي هیچا ته نه درېږي فقط ابوجهل یې په کار دی چي وېویني او ورحمله کړي، مستقیم هغه د قریشو ټولني ته ورغلی هلته ابوجهل د قریشو په منځ کي ناست دی او حمزه ﷺ ورته و درېدی هغه لېندۍ چي د ښکار دپاره ورسره وه په هغه یې پر سر و واهه، د ابوجهل له سره ویني را ایله سوې، حمزه ﷺ ورته و ویل: ته محمّد ته ښکنځل کوې او زه د ده پر دین یم (خُذهَا وأَنَا إِبنُ الأَکرَمِین) واخله دغه زما واری او زه د اشرافو زوی یم او په هغه لیندۍ یې بل واری پر وکړی او بغ یې کړه: څوک زما جواب وایي؟

د ابوجهل قوم چي بني مخزوم وه هغه ولاړ سوه غواړي چي د ابوجهل پر طرف و جنګیږي لوی جنګ او فتنه جوړه سي، ابوجهل بغ پر وکړی چي پرېږئ یې ږدی خطاء زما وه ځکه ما د ده وراره ته ډیر بد و ویل، زه یم چي تجاوز مي کړی دی.

دلته نو حمزه ﷺ د رسول الله ﷺ بدله او انتقام واخیستل، مګر ده یوه جمله و ویل، دئ وایي زه نه پوهېږم چي دغه جمله څنګه زما تر خوله و وتل؟ هغه دا چه ما و ویل: ته محمّد ته ښکنځل کوې او زه د ده پر دین یم، دا جمله مي بې اختیاره له خولې و وتل حال دا چه زه د ده پر دین هم نه وم، حمزه ﷺ وایي: کور ته ولاړم او په دغه جمله کي چي بې اختیاره زما تر خولې وتلې وه فکر کوم او ډیر په حیرت کي پاته سوم چي زه خو د محمّد ﷺ پر دین نه یم او اوس به ټول خلک دا فکر کوي چي زه د هغه پر دین یم ځکه دا جُمله د قریشو د مجلس په منځ کي زما تر خوله و وتل او اوس په حیرت کي یم چي د هغه خپلي خبري په سبب د محمّد ﷺ دین ته ور واوړم او که سبا هغه مجلس او اجتماع ته ورسم او ورته و وایم: زه د محمّد ﷺ پر دین نه یم او دا هم په عربو کي عیب دی چي سړئ د خپلي خبري څخه واوړي، حمزه ﷺ وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټوله شپه په دغه فکر راباندې تېره سوه او نه پوهېږم چې څه وکړم؟ په آخر کې مې په دعاء شروع وکړه، ما ویل: الٰهي که دغه د محمّد ﷺ دین خیر او بهتر وي د هغه تصدیق زما په زړه کې را واچوې اوکه د دغه څخه غیر او مخالف وي له دغه تشویشي حالته چې زه پکښې متردد او حیران یم ته مې وباسې، حمزه ﷺ وایي: د محمّد ﷺ تصدیق مې په زړه کې ټینګ سو، سبحان الله! د قهر او غضب په وخت کې یې بېله إرادې یوه خبره تر خوله وتلې وه هغې خبرې سمې لارې ته را وستی، نو رسول الله ﷺ ته ورغلی او د شهادت کلمې یې و ویلې، حمزه ﷺ اسلام ته داخل سو او رسول الله ﷺ د ده په اسلام ډېر زیات خوشاله سو.

## د عمر بن الخطاب ﷺ اسلام

بیا هم د مسلمانانو په دغه ضعیفه او مظلوم حال کې چې څوک یې په هجرت او څوک یې په عذابو او آزارو کې ژوند تېروي یو بل نور او روښنایي و ځلېدل چې تر هغه اول نور او روښنایي یې ځلا زیاته او ډېره وه چې هغه د عمر بن الخطاب ﷺ اسلام ؤ.

حضرتِ عمر بن الخطاب ﷺ د بعثت د شپږم کال د ذي الحجه په میاشت کې د حضرت حمزه ﷺ تر اسلام را وړلو درې ورځې وروسته په اسلام مشرفه سو او رسول الله ﷺ د ده د اسلام را وړلو دعاء کړې وه.

امام ترمذي د عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت کوي او امام طبراني د عبدالله بن مسعود ﷺ او انس ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

« اللّٰهُمَّ أَعِزَّ الإِسْلَامَ بِأَحَبِّ هَذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ إِلَيْكَ بِأَبِی جَهْلٍ أَوْ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ».

یعني: الٰهي! په دغو دوو نفرو کې چې هر یو تا ته خوښ وي چې یو یې ابوجهل بن هشام دی او بل یې عمر بن الخطاب دی په هغه سره اسلام معزه کړې.

نو د دغو دوو څخه په الٰهي دربار کې عمر بن الخطاب ﷺ خوښ ؤ او د رسول الله ﷺ دعاء د ده په باره کې قبوله سوه.

لکه څرنګه چې د مخه درته و ویل سوه چې په قریشو کې هغه څوک چې د مسلمانانو سره یې ډېر عداوت او دښمني درلودل یا په بل عبارت د مسلمانانو هغه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


شدید دښمن عمر بن الخطاب ؤ، مګر په عین وخت کي پوه، عاقل، هوښیار، خطیب، قوي او قوال سړئ هم ؤ، د همت او عزم خاوند ؤ، د هر کار إراده چي به یې وکړه هغه به یې تر آخره رساوه او همدارنګه عَمرو بن هشام چي ابو الحکم ورته ویل کېده او په مسلمانانو کي یې نوم ابوجهل ؤ هغه هم د مسلمانانو ډېر شدید دښمن او د عزم خاوند، خطیب او د قریشو د مشرانو څخه ؤ، معلومه خبره ده چي په مسلمانانو کي د دغسي چا وجود لکه عمر بن الخطاب یا عَمرو بن هشام اسلام ته ډېره مرسته او کومک رسولای سوای، نو ځکه رسول الله ﷺ به دعاء کول چي الٰهي په یوه د عمرینو اسلام معززه کړې، که یو د دوی څخه مسلمان سي اسلام په قوي کېږي.

ځکه اسلام تر دغه وخته په خپل ابتدایي او د شروع په حالت کي ؤ نو خود ضعیفه ؤ، او یوه داسي شدید او عزم درلودونکي سړي ته یې ضرورت درلودی، مګر د رسول الله ﷺ دعاء د عمر بن الخطاب رضی الله عنه په نصیب سوه او د حضرت عمر رضی الله عنه د اسلام را وړلو په تولو روایاتو کي چي وګورې دا معلومیږي چي د ده زړه ته د اسلام نوتل په تدریج سره وه، د مخه تر دې چي د ده رضی الله عنه د اسلام را وړلو قصه بیان کړو دا ښه او بهتره ده چي د ده رضی الله عنه هغه د ننه عواطفو او مشاعرو ته څه اشاره وکړو.

حضرت عمر رضی الله عنه د طبیعت په تېزۍ او تُندۍ سره مشهور او معروف ؤ، قهرمن او شدید سړئ ؤ او ډېر ځله مسلمانانو د ده څخه قسم قسم آزارونه لیدلي دي او دا معلومه ده چي د ده په د ننه زړه کي ضِد او نقیض مشاعر موجود وه، له یوه طرفه یې د هغو عاداتو او تقالیدو احترام کاوه کوم چي د ده پلرو او نیکه ګانو ورپرې ایښي وه او له بله طرفه یې ځان هغه لهو او لعب، خواهشاتو او شهواتو ته ور ایله کړی ؤ کوم چي ده او د ده ماحول عادت ور سره درلودی، خو بالمقابل د مسلمانانو لمونځ او دا چي دوی د خپلي عقیدې په لار کي دغه سخت آزارونه قبلوي ښه ورته ایسېدل او بیا د ده په عاقل زړه کي شک او تردد ؤ چي ممکن دغه شئ چي اسلام هغه ته بلنه کوي تر دغه نورو کارو ښه او بهتر وي، په فکر او دماغ کي به یې دغه ضِد افکار پرله اوښتل او بیا به خاموشه سوه، خو د ده د اسلام په باره کي چي روایتونه سره را ټول کړو خلاصه یې داسي را وزي: یوه شپه ده غوښتل چي تر کور د باندي شپه تېره کړي نو حرم شریف

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته ورغلی او د کعبې شریفي په پوښ ننوتی، هلته رسول الله ﷺ هم ولاړ ؤ او لمونځ يې کاوه، رسول الله ﷺ په لمانځه کي سورةُ الحاقه شروع کړی، عمر ﷺ قرآن مجيد ته غوږ ونيوی او د هغه ترکيب او تألیف يې ډير خوښ سو، نو وايي: ما د خپله ځانه سره وويل: لکه څرنګه چي قريش وايي په والله دئ شاعر دی، خو رسول الله ﷺ په دغه وخت کي دغه آياتونه تلاوت کړه:

﴿إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ﴿٤٠﴾ وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَاعِرٖۚ قَلِيلٗا مَّا تُؤۡمِنُونَ ﴿٤١﴾﴾.

يعني: بېشکه خامخا دغه قرآن د مکرم عزتمن رسول قول دی او دا قول د کوم شاعر قول نه دی، تاسي ډير لږ ايمان راوړئ (بلکه نه مومنان کېږئ)

عمر ﷺ وايي ما د ځان سره وويل: چي شاعر نه دی نو کاهن دی او بيا رسول الله ﷺ دغه آيات شريف تلاوت کړی:

﴿وَلَا بِقَوۡلِ كَاهِنٖۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾﴾.

. او دغه قرآن د کاهن قول نه دی لکه تاسي چي ګمان کوئ، تاسي لږ پند اخلئ (بلکه هيڅ پند نه اخلئ)

﴿تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٣﴾﴾.

دغه قرآن د رب العالمين له طرفه نازل سوی دی او رسول الله ﷺ سورة تر آخره و وايه، عمر ﷺ وايي: څه نا څه تر تاثير لاندي سوم اسلام مي زړه ته را نژدې سو.

دا هغه د اسلام تخم ؤ چي د حضرتِ عمر ﷺ په زړه کي کښېښوول سو مګر هغه د جاهليت آثار او تقليدي قوميت، د پلرو او نيکه ګانو د دين لوی والی او د هغه دين سره علاقه، بيا هم پر دغه حقيقت چي د ده پر زړه يې رِغ کاوه غالبه وه، بيا هم په خپل عمل کي د اسلام ضِد او د مسلمانانو دښمن ؤ، د هغه خپل زړه په پټ شعور لا نه ؤ قانع، خو بيا هم چي د ده په دباندني ژوند کي هغه اول نرم والی په ده کي وليدل سو، هغه وحبشې ته د مسلمانانو د هجرت په وخت کي ؤ.

مسلمانانو خو يوه په بل پسي هجرت کاوه، نو د مسلمانانو څخه يوه ښځه وه چي اُمِ عبدالله ورته ويل کېده دغي ښځي غوښته چي هجرت وکړي، نو يې د خپل زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبدالله سره داسي اتفاق وکړی چي ته جلا رهي سه او زه به جلا رهي سم او د فلاني غره تر شا به سره یو ځای سو او بیا به په ګډه سره ځو، مسلمانانو هجرت په پټه کاوه ځکه کفارو هجرت ته هم نه پرېښوول، نو عبدالله تر مور د مخه د هغه وعده سوي غره شا ته ولاړی او اُمِ عبدالله د شپې نا وخته پر خره سپره سوه د لاري د ضرورت شیان ور سره دي پسي را رهي سوه، د مکې مکرمې څخه چي و وتل عمر بن الخطاب په مخه ورغلی، وې لیدل چي ښځه د سفر دپاره تیاره او آماده ده، ویل: یا اُم عبدالله! چیري ځې؟ مسلمانان خو د سفرکولو څخه منعه دي.

ښځي ورته و ویل: یا عمر! آزارونه مو را کړل، مځکه مو را باندي تنګه کړه، پرېږ مو بِدی چي درڅخه ولاړ سو نه تاسي مورِ غواړی نه مورِ تاسي غواړو نو مي پرېږده چي هجرت درڅخه وکړم، تا ته څه تاوان رسیږي که دي پرېښوولم او ولاړم، عمر رضی الله عنه د دغو خبرو په اورېدلو سره نرم سو او ښځي ته یې و ویل: دا نو جلا والی دی یا اُم عبدالله؟ (اُمِ عبدالله او عمر رضی الله عنه په نسب سره نژدې او شریک وه) ښځي و ویل: هو! فراق او جدایي ده، عمر رضی الله عنه و ویل: په مخه دي ښه او سلامتیا دي ملګرې سه.

د اول وار دپاره عمر نرمیږي او څه نه وایي، ښځه په تعجب کي سوه او ولاړل، پر هغه وعده سوي ځای د خپل زوی سره یو ځای سوه، زوی یې پوښتنه ځني وکړه چي چا خو و نه لیدې؟ ښځي ویل یا! بل چا نه یم لیدلې یوازي عمر ولیدم، زوی یې ویل عمـــر؟ دا لوی مصیبت دی او ته یې څنګه پرېښوولې؟ ښځي قصه ورته وکړه او ویل تر دغه سوال او جواب زیات شئ نه دی پېښ سوی او په آخر کي یې دا هم راته و ویل: په مخه دي ښه سه، زوی یې ورته و ویل: مور! ستا لکه چي د دغي جملې د ویلو په سبب د عمر اسلام راوړلو ته امید پیدا سوی دی؟ ښځي ویل: هو داسي را ته معلومیږي، عبدالله و ویل: والله د خَطاب خر به د شهادت کلمې و وایي خو عمر به یې و نه وایي.

دا هغه اوله نرمي وه چي د عمر رضی الله عنه څخه ښکاره سوه مګر دغه نرمي مَیل و اسلام ته نه ؤ بلکه دا فقط د دغي ښځي سره نرمي وه، عمر رضی الله عنه چي کور ته راغلی په چرت او فکر کي دی چي دغه تفرقه او د قوم پاشل ولي پېښیږي؟ دغه ښځه د ده د قوم څخه ده او حبشې ته هجرت کوي، د دې ټولو مصائبو او مشکلاتو سبب څه شي دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


پسله فکره دې نتیجې ته ورسېدی چې د دغو ټولو اختلافاتو سبب محمّد ﷺ دی. نو یې نیت او عزم وکړی چې رسول الله ﷺ ووژني که څه هم دئ د هغه په بدله کې ووژل سي مهمه نه ده مکه خو به د دغو مشکلاتو څخه خلاصه کړم.

نو یې د رسول الله ﷺ د وژلو إراده د ځان سره پخه کړه، سهار یې توره واخیستل او له کوره څخه د رسول الله ﷺ د وژلو په نیت و وتی، په لار کې یوه صحابي ولیدی چې نوم یې نعیم بن عبدالله ؤ او په پټه مسلمان سوی ؤ، د ده په اسلام څوک نه وه خبر، کله چې دغه نعیم ولیدل چې د عمر له مخه د شر علامې پورته کېږي توره ورسره ده او د جنګ دپاره تیار دی ویل: د خیره یا عمر! چیري ځې؟

عمر رضي الله عنه ویل: غواړم چې هغه څوک و وژنم کوم چې زموږ قوم یې سره متفرق کړی او پاشلی دی، زموږ پلرونه بیعقلان بولي او زموږ آلهه یا خدایان په بده سره یادوي، نعیم د دې خبرو په اوریدلو سره و بېرېدی ځکه عمر جبّار، شدید او قهرمن سړئ دی، د یوه شي إراده چې وکړي هغه تر سره کوي.

نعیم غواړي چې عمر د دغه کاره څخه را وګرځوي، نو یې ورته و ویل: که ته محمّد و وژنې آیا ته به د عبدالمطلب د اولادې څخه خلاص سې؟ عمر ویل: داسي را معلومېږي چې ته هم له خپله دینه اوښتی یې او ویل: که څه هم د عبدالمطلب اولاده ما و وژني زه دغه کار کوم، نعیم ولیدل چې عمر د رسول الله ﷺ د وژلو ټینګ عزم او إراده کړې ده حتّی خپل مرګ یې هم فرض کړی او منلی دی.

هو! هلته داسي نور خلک هم وه چې د رسول الله ﷺ د وژلو تقاضاء او آرزو یې درلودل، مګر دا کار یې نه سوای کولای ځکه هغه د عبدالمطلب د اولادې څخه پر خپل مرګ بېرېدل.

هر چا ته دا معلومه وه که څوک رسول الله ﷺ و وژني د عبدالمطلب کورنۍ هیڅکله هغه سړئ بېله مرګه نه پرېږدي مګر عمر چې دا کار کوي د خپل ځان مرګ یې فرض کړی دی، نعیم فکر وکړی چې یوه داسي حیله جوړه کړي چې لږ تر لږه دومره وخت پیدا کړي چې رسول الله ﷺ یا اصحاب کرامو ته خبر ورکړي، نو یې عمر رضي الله عنه ته و ویل: چې داسي ده نو ته یې باید اول د خپلې کورنۍ څخه را شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړي (اصلاً د نعیم مقصد دا دی چي عمر په یوه بل کار مشغوله کړي او دئ رسول الله ﷺ ته خبر ورسوي) عمر ویل: مقصد دي څوک دی؟ نعیم ویل: خور دي: فاطمه بنت الخطاب او د دې مېړه د دینه اوښتي دي او هغه دین یې پرې اېښی دی چي ته پر هغه دین یې، عمر نه وُ خبر چي خور او اخښی یې مسلمانان سوي دي، ځکه اسلام ته دعوت پټ او سِرّي وُ، اسلام نه وُ پټ، رسول الله ﷺ په ښکاره سره اسلام بیاناوه او په ښکاره سره یې عبادت کاوه، مګر ځیني کسان چي اسلام ته داخلېدل یا داخل سوي وه هغو خپل اسلام نه ښکاره کاوه، هر چا د خپل اجتماعي حال او مقام سره عمل کاوه، چا په پټه ایمان راوړی چا په ښکاره، فاطمه بنت الخطاب رضي الله عنها د عمر خور د هغي جملې څخه وه چي خپل اسلام یې پټ ساتلی وُ، نو ځکه عمر رضي الله عنه له نعیمه څخه پوښتنه وکړه چي آیا زما خور خپل دین پرې اېښی دی؟ نعیم ویل هو، عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ له طرفه را وګرځېدی د اخښي او خور د کور پر طرف رهي سو.

د فاطمې رضي الله عنها مېړه د عمر بن الخطاب اخښی سعید بن زید بن عَمرو بن نُفَیل دی دغه سعید د هغه زید زوی دی چي د مخه یې بیان درته وسو چي مُوَحِّد، حنیف او د ابراهیم علیه السلام پر دین وُ او سعید بن زید رضي الله عنه د اولو مسلمانانو څخه دی او د هغه عشرهٔ مبشره څخه دی چي رسول الله ﷺ د جنت زېری ورکړی دی.

په دغه وخت کي چي عمر رضي الله عنه د خپلي خور فاطمې کور ته ورځي سعید رضي الله عنه د فاطمې خاوند هم په کور کي دی، خَباب بن الأرت رضي الله عنه هم د دوی سره دی او قرآن مجید ورته وایي ځکه رسول الله ﷺ هغو کسانو ته چي نوي په اسلام مشرفه کېدل هغه کسان ور استول چي مخ کي یې ایمان را وړی وُ چي قرآن او اسلام ور وښیي.

نو دوی درې نفره سره ناست دي قرآن کریم وایي چي عمر کور ته ور داخل سو او دننه په خونه کي یې د قرآن مجید د ویلو آواز واورېدی، پوره یې نه اوري فقط یوه همهمه او روړ اوري، غوږ یې ورته ونیوی بیا هم نه پر بېلېږي نو یې دروازه ورپوري وهل.

عمر جبّار! تاسي فکر کوی چي د عمر به څومره قوت او طاقت وُ؟ عمر په بدن ډېر لوی سړئ وُ، د هغو ډېرو غټو خلکو څخه وُ ډېر لوی او قوي بدن یې وُ، کله چي به پر آس سپور سو پښې یې مځکي ته رسېدې، د ده په مثل غټ سړئ په ټولو مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کي نه ؤ بېله خالد بن ولید ﷛ څخه، د دوی دوو د غښ واله په باره کي وايي: کله چي به ډېر مسلمانان سره یو ځای سوه د ټولو له منځه به خالد او عمر ﷠ معلومېدل، د عمر ﷛ ډېر لوی او برداره ځیګر ؤ د ده په لیدلو څوک بېرېدی، هیبت او دبدبه یې درلودل.

دغه جبّار عمر دروازه ور پوري وهل خور یې وبېرېدل ژر یې خَباب ﷛ په پَستو کي پټ کړی (پَستو په پښتو کي هغي کوچنۍ خوني ته وايي چي د استوګني د خوني په آخر کي د ګدام یا مخزن په شکل سره وي او په عربي کي مَخدَع ورته ویل کیږي) خباب ﷛ یې هلته پټ کړی فاطمي ﷞ هغه د قرآن مجید ورقه پټه کړه او بیا یې دروازه خلاصه کړه، عمر ورننوتی او ویل: تاسي څه شي وایه؟ هغو ویل: هیڅ شئ نه ؤ مور په خپل منځ کي خبري سره کولې، عمر ویل: یا! ما یو څه واورېدل آیا دا هغه د محمّد خبري وې؟ سعید ﷛ و ویل: یا عمر! که حق بېله ستا له دینه په بل دین کي ؤ؟ عمر پر سعید ﷛ ناري کړه: اَصبأتَ؟ آیا له دینه اوښتی یې؟ سعید و ویل: بَل اَسلَمتُ، یا! له دینه نه یم اوښتی بلکه مسلمان سوی یم، عمر هغه خپل اخښی سعید را چپه کړی او وهي یې، د عمر خور فاطمي ﷞ عمر ځني را پورته کړی او خپل خاوند خلاصوي، عمر خپله خور فاطمه هم پرمخ په چپلاخه یا څپېړه و وهل، د هغې شونډه پرې سوه او ویني ځني را ایله سوې، عمر جبّار او شدید دی رحم او شفقت یې هېر دي خور یې په ژړا سوه او ویل: هو مور مسلمانان سوي یو پر الله او د هغه پر رسول مو ایمان راوړی دی: ﴿أشهَدُ أن لاَ إلهَ إلا اللهُ وَأشهَدُ أنّ محمّداً رسولُ الله﴾.

عمر نا امیده سو او وې لیدل چي خور یې ژاړي او د خولې څخه یې ویني بهیږي وشرمېدی او پر خپل عمل پښېمانه سو، په زړه کي یې رحم او شفقت پیدا سو چي څنګه خپله خور وهي او دا هم اول وار ؤ چي خور یې و وهل نو یې په نرمه لهجه ورته و ویل: هغه ورقه چي تاسي ویل هغه را ښکاره کړی چي زه یې و وایم، خور یې ویل: یا! نه یې درښکاره کوم، عمر ویل: قسم په لات او عزیٰ په بد نیت لاس نه وروړم فقط رایې کړه چي وېې ګورم او تاوان هم نه ور رسوم، خور یې پوه سوه چي عمر نرم سو نو یې ورته و ویل: یا عمر! دا کلام الله دی او ته مشرک او نجس یې که دي د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ويلو إراده وي يو وار غسل وکړه بيا به ورقه درکړم چي ويې وايې.

د عمر فکر او چرت په هغه ورقه کي بند سو چي دا به څه شي وي او څه به پکښي ليکلي وي نو له ډيره شوقه موافق سو غسل خانې يا تشناب ته ننوتی او غسل يې وکړی کله چي را و وتی خوريې هغه ورقه ورکړه چي قرآن مجيد پرليکل سوی ؤ، د حضرت عمر رضي الله عنه ليک او لوست زده وه او د ورقي په ويلويې شروع وکړه په ورقه کي ليکل سوي وه:

﴿بسم الله الرّحمٰن الرحيم﴾.

عمر رضي الله عنه و ويل: الرّحمٰن او الرّحيم څومره ښه پاک او طيب، نېک او مبارک نومونه دي، بيا ليکل سوي وه:

﴿طه ۝١ مَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لِتَشْقَىٰٓ ۝٢﴾.

يعني: اې محمّده! موږ د دې دپاره دا قرآن پر تا نه دی نازل کړی چي ته ځان په محنت او مشقت کي واچوې.

﴿إِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ۝٣﴾.

بلکه موږ د هغه چا دپاره پند او نصيحت نازل کړی دی چي د الله جل جلاله څخه بيريږي.

﴿تَنزِيلًا مِّمَّنْ خَلَقَ ٱلْأَرْضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلْعُلَى ۝٤﴾.

نازل سوی دی د هغه چا له طرفه چي پيدا کړي يې دي مځکه او لوړ لوړ آسمانونه.

﴿ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ ۝٥﴾.

دغه د مځکو او آسمانو خالق ډير مهربان (رحمان) پرعرش مستولي او غالبه دی.

﴿لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ ٱلثَّرَىٰ ۝٦﴾.

خاص ده لره دي (يوازي دئ يې مالک دی) د هغو شيانو چي په آسمانو کي دي او د هغو شيانو چي په مځکه کي دي او د هغو شيانو چي د مځکي او آسمانو په منځ کي دي او د هغو شيانو چي تر مځکه لاندي دي دغه ټول موجودات په پيداکولو، په ملکيت په فرمان برداري کي يوازي د ده جل جلاله دي بل هيڅوک نه دی ورسره شريک.

﴿وَإِن تَجْهَرْ بِٱلْقَوْلِ فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخْفَى ۝٧﴾.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوكه په خبرو يا ذكر كولو سره جَهَر په زورَوالى كوې، دې ته ضرورت نسته ځكه چې بېشكه دغه الله خبر او عالم دی په پټه خبره او تر هغې هم په پټه چې د زړه حال دی (الله عزوجل ته په زوره خبري، كوا ري خبري بلكه پټ د زړه حال ټول يو شئ دي، په ټولو حالاتو عالم او خبر دی)

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۝٨﴾.

الله نسته بل معبود بر حق مګر يوازي هم دئ جل جلاله دی، خاص ده لره دي ښه نومونه او صفتونه.

دغه د سورة طٰه آياتونه وايي تر څو دې آيات شريف ته ورسېدی چې الله عزوجل فرمايي:

﴿إِنَّنِىٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدْنِى وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكْرِىٓ ۝١٤﴾.

بېشكه چې زه الله يم، بېله ما بل هيڅوک د عبادت وړ او لائق نسته، نو زما عبادت كوه او زما د يادولو دپاره لمونځ آداء كوه.

﴿إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا﴾.

بېشكه چې قيامت را تلونكى دی زه إراده لرم چې د هغه د راتللو وخت پټ او مخفي وساتم.

﴿لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا تَسْعَىٰ ۝١٥﴾.

دپاره د دې چې هر چا ته د هغو عملو جزا وركړل سي چې دوی يې كوي.

داسي آياتونه دي چې ټول د الله جل جلاله او د قيامت په باره كي خبري كوي، حضرتِ عمر رضي الله عنه د دغو آياتو په تلاوت سره نرم سو د كلام الله تر تاثير لاندي راغلی د مسلمانېدلو إراده يې سوه نو يې وويل: دا څومره ښه او مكرم كلام دی محمّد ﷺ را وښوی چې ور سم.

خباب بن الأرت رضي الله عنه خو پټ ؤ او دا خبري اوري، دلته چې عمر رضي الله عنه دا خبره وكړه خباب بن الأرت رضي الله عنه را وغورځېدی ويل: زيری دركوم يا عمر! زه دا آرزو لرم چې د رسول الله ﷺ د جمعې د شپې دعاء ستا دپاره سي هغه چې ويې فرمايل: الٰهي په عمر بن الخطاب يا ابوجهل بن هشام سره اسلام معززه كړې او در ځه رسول الله ﷺ ته زه در وښيم، نو يې حضرت عمر رضي الله عنه د أرقم بن ابى الأرقم كور ته ور رهي كړی، هغه كور

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي د مسلمانانو د اجتماع او تعليم ځای ؤ، کله چي دوی د أرقم کور ته ورسېدل، د عمر رضي الله عنه سره تر اوسه هغه توره ور سره وه او د جنګ دپاره آماده معلومېږي او هلته بيا هغه نعيم رسول الله ﷺ ته خبر ورورکړی ؤ چي عمر ستا د وژلو په نيت را رهي دی.

اصحاب کرامو ته ټول اخبار داسي رسېدلي دي چي عمر را رهي دی او غواړي چي رسول الله ﷺ و وژني، په هغه نوره قصه چي د فاطمې بنت الخطاب او سعيد بن زيد رضي الله عنهما په کور کي پېښه سوه نه دي خبر، نو خود اصحاب کرام دلته د دغه راتلونکي خطر د مقابلې دپاره تيار او آماده دي، کله چي عمر رضي الله عنه د أرقم بن ابی الأرقم کور ته ور ورسېدی او د کور دروازه يې وټکول يو د اصحاب کرامو څخه ور ولاړ سو د دروازې تر چاک يې ورته وکتل، وې ليدل چي عمر توره په لاس ولاړ دی رسول الله ﷺ چي دننه په خونه کي ؤ هغه ته يې حال و وايه او دلته اصحاب کرام د سرای په ميداني کي سره را ټول دي، حمزه رضي الله عنه پوښتنه وکړه چي څه پېښه ده؟ دوی ويل: عمر دی، حمزه رضي الله عنه ويل: عمر؟ دروازه ور خلاصه کړی که د ده راتګ د خير په نيت ؤ خير به وويني او که د شر په نيت راغلی ؤ د ده په توره به يې و وژنو.

هو! دا صحي ده چي عمر غټ او ډېر قوي دی مګر سيّدنا حمزه رضي الله عنه جنګي پهلوان او فارِس دی داسي پهلوان دی چي په قريشو کي يې مثل نسته، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ د خوني يا کوټې څخه را ووتی، حمزه رضي الله عنه و ويل: پرې يې ږدی چي کور ته راسي زه يې د ده په توره وژنم، رسول الله ﷺ و فرمايل: يا حمزه! ته ننوزه، حمزه هم د رسول الله ﷺ په امر خوني ته ننوتی او رسول الله ﷺ و فرمايل: عمر ته دروازه ور خلاصه کړی، اوس خلک په حيرت کي دي! چي عمر د ده ﷺ د وژلو دپاره راغلی دی او رسول الله ﷺ وايي: دروازه ور خلاصه کړی حال دا چي د رسول الله ﷺ سره کوم ساتونکی هم نسته او حمزه رضي الله عنه چي په مسلمانانو کي قوي او پهلوان دی هغه ته يې هم و ويل: ته خوني ته ننوزه، مګر چاره نسته د رسول الله ﷺ اطاعت حتمي دی، عمر ته يې دروازه ور خلاصه کړه او عمر کور ته ور ننوتی، غټ، قوي، جابر، شديد سړئ توره هم ور څخه ده، رسول الله ﷺ ور نژدې سو عمر رضي الله عنه يې تر ګرېوانه ونيوی او شديد تکان يې ورکړه په دومره قوت سره يې وښوراوه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


عمر پر څنګنو کښېنستی او رسول الله ﷺ و فرمایل: « أمَا انَ لکَ یَابنَ الخطاب أن تُسلِم». یعني: اې د خطاب زویه! د دې وخت نه دی راغلی چې مسلمان سې؟ او نور یې هم پسي و فرمایل: او ته تر هغو نه مسلمانېږې چې الٰهي غضب درباندي نازل نه سي؟ لکه پر ولید بن المغیره چې نازل سو او وې فرمایل:

«اللّهم هذا عمر بن الخطاب اللّهم أعِزَّ الإسلامَ بِعمر بن الخطاب»

عمر ﷺ و ویل:

« أشهد أن لا إله إلا الله، و أشهد أنّکَ رسولُ الله »

رسول الله ﷺ تکبیر و وایه او کوم اصحاب کرام چې دلته موجود وه هغو هم په لوړ آواز ناري کړه: الله اکبر، دا تکبیر په دومره لوړ آواز ؤ چې ټولي مکې واورېدی.

قریشو و ویل: والله یوه حادِثه پېښه ده او لویه حادثه ده، رسول الله ﷺ پوه سو چې خبره ښکاره او واضحه سوه او خلک خبر سوه، نو یې اصحاب کرام امر کړه چې خپلو کورو ته ولاړ سی، ټول مسلمانان د أرقم ﷺ له کوره په تلوار و وتل او هر یو پر خپله لار ولاړی.

عمر ﷺ وایي: کله چې ما اسلام را وړی د ځانه سره مي فکر وکړی چې د اهلِ مکې څخه څوک د رسول الله ﷺ سره ډېر عداوت لري؟ خپل زړه راته و ویل: ابوجهل، نو ورغلم او د ابوجهل دروازه مي ور وټکول، ابوجهل را و وتی ویل:

أهلاً و سهلاً مرحباً یاابنِ أخي!

او ویل: څنګه راغلی یې؟ ما ویل: غواړم چې خبر دي کړم چې ما پر الله او د هغه پر رسول محمّد ﷺ ایمان را وړی او ټول هغه شیان منم چې محمّد ﷺ را وړي دي، ابوجهل د کور دروازه په زوره بنده کړه او ویل: ( تَبًّا لکَ ) تا لره دي مرګ یا هلاکت وي، زما دي ټوله ورځ را خرابه کړه په شنه سهار دي دا زېری را باندي وکړی دا څه خبر ؤ چې تا ما ته راوړی.

تاسي پوهېږی چې عمر د همت او مړاني، د قصد او عزم خاوند ؤ، د ده اسلام ټولو مشرکانو ته ذِلت او سپکاوی ؤ او مسلمانانو ته عزت، شرف او خوشالي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عمرﷺ وايي: کله چې به يو څوک مسلمان سو کفار به پر را وګرځېدل وهل او ټکول به يې ورکول، خو کله چې زه مسلمان سوم زما ماما ته ورغلم چې عاصي بن هاشم ؤ او په خپل اسلام مي خبر کړی، هغه په کور ننوتی او دروازه يې را ته وتړل او بيا د قريشو يوه بل لوی سړي ته ورغلم (چې ښايي دغه ابوجهل وي) هغه مي هم په خپل اسلام خبر کړی، هغه هم دروازه را ته بنده کړه او په کور ننوتی، بيا عمرﷺ پوښتنه وکړه چې څوک سِر او پټ راز نه ساتي؟ خبر ژر نشروي او هر ځای يې بيانوي، عمرﷺ غوارِي چې د ده د مسلمانېدلو خبر ژر نشر سي او ټول قريش په خبر سي، خلکو ورته وويل: د خبر د نشرولو دپاره تر جَميل بن مُعَمِّر بل مناسب څوک نسته، نن خبر ورته و وايه په دغه ورځ د مکې ټول ښار در خبروي د هغه وخت د بي بي سي راډيو ؤ، عمرﷺ د جميل پر طرف ور رهي سو، د دغي قصې روايت عبدالله بن عمرﷺ کوي، او وايي: زه په خپل پلار پسې وم چې پلار مي جميل بن مُعَمِّر ته ورغلی جميل د کعبې شريفي سره ناست ؤ، عمرﷺ ور سره کښېنستی او ور ته ويې ويل: يا جميل! آيا ته نه يې خبر؟ هغه ويل: په څه شي؟ ويل: ته نه سوې خبر چې زه وايم:

﴿ أشهد أن لا إله إلا الله، و أن محمّداً رسولُ الله﴾

عبدالله بن عمرﷺ وايي: والله زما پلار ته يې هيڅ جواب ورنه کړی او نه يې پوښتنه ځني وکړه چې کله يا څنګه بس ولاړ سو او ناري يې کړه: يا معشرَ القريش! عمر له دينه واوښتی، عمر ﷺ تر شا په پسې دی او وايي: دئ درواغ وايي بلکه زه مسلمان سوم او وايم:

﴿أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمّداً رسولُ الله﴾

عمرﷺ خپل اسلام د ټولو قريشو په حضور ښکاره کړی، قريشو د حضرت عمرﷺ په وهلو شروع وکړه دوی دئ وهي او دئ دوی وهي، دې وهلو له ماپښينه تر ماښامه دوام درلودی، خو په آخر کي عمرﷺ ستړی سو، قريش ډير دري ځيني يې ځان هوسا کوي او ځيني يې وهل کوي، خو عمرﷺ يوازي دی او پرله پسې وهل کوي.

قريش يو نفر نه دی پر عمرﷺ له هره طرفه وارونه کيږي او وهل کيږي، عمرﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوه سو چي نور نه سم جنګېدلای، نو يې په دوی کي وکتل هغه د دوی شريف او معتبره چي عُتبه بن ربيعه ؤ هغه يې ونيوی او پر مځکه يې غځار کړي او د هغه پر ځيګر کښېنستی، نور قريش دئ وهي خو دئ د عتبه پر ځيګر ناست دی او دوې ګوتي د هغه پر سترګو ورموړي او ورته وايي: دغه خلک را څخه ليري کوې او که دي سترګي در وچاودم؟ عتبه نارې کړې چي ځني ليري سی پرې يې ږدی والله ړندوي مي، قريش هم ليري سوه عمرؓ يې پرېښاوه، ده هم عتبه ايله کړی، قريشو بيا حمله پر وکړه عمرؓ بيا عتبه ونيوی عتبه بيا نارې کړې، دوی دغه د ونيسه ايله که په حال کي وه څو عاص بن وائل د عَمرو بن العاصؓ پلار چي د قريشو د لويو مشرانو څخه ؤ راغلی، ويل: څه قصه ده؟ حال ورته وويل سو، هغه پوهېدی چي عمر شديد او د عزم خاوند دی او که دا مسئله نوره هم اوږده سي په خپله د قريشو په منځ کي فتنه جوړېږي نو ويل: يوه سړي د خپل ځان دپاره يو دين اختيار کړی پرې يې ږدی هغو هم پرېښاوه او عمرؓ خپل کور ته ولاړی.

امام بخاري د عبدالله بن عمرؓ څخه روايت کوي او وايي: کله چي عمرؓ په کور کي ؤ دا بېره ور سره وه چي قريش به کور ته پسي راسي، په دغه وخت کي عاص بن وائل السهمي ور ته راغلی او دغه عاص په جاهليت کي زموږ د حلفاوو څخه ؤ او عمرؓ ته يې وويل: څه درته پيښه ده؟ عمرؓ ويل: ستا قوم دا إراده کړې ده که زه مسلمان سوم ما و وژني، عاص بن وائل و ويل: څوک نه سي در نژدې کېدلای، عمرؓ وايي: پسله دغه چي عاص دا را ته و ويل نو زه په امان سوم، عاص چي له کوره ور ووتی وې ليدل چي شېله په خلکو ډکه ده ويل چيري ځی؟ خلکو ويل: دغه عمر ته ورځو چي له دينه اوښتی دی ، عاص ويل: هغه ته څوک نه سي ورتلای، يعني: زما په جوار او ساتنه کي دی، بيا نو خلک سره وپاشل سوه، اوس نو عمرؓ هره ورځ د کعبې شريفي سره قرآن مجيد وايي خو څوک د بيري نه سي ور نژدې کېدلای، دا خو نسبت و مشرکانو ته د عمرؓ ايمان را وړل وه مګر د مسلمانانو دپاره د عمر ؓ اسلام څه فايده ورسول؟ د هغه په باره کي عبدالله بن مسعودؓ وايي: موږ مسلمانانو د کعبې شريفي سره لمونځ نه سوای کولای ترڅو چي عمر اسلام را وړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صُهيب بن سنان الرومي رضي الله عنه وايي: کله چي عمر رضي الله عنه اسلام را وړی اسلام ښکاره سو او اسلام ته دعوت هم په ښکاره سره کېدی او موږ مسلمانان د کعبې شريفي پر شا وخوا ډله ډله کښېنستلای سوای پر کعبه شريفه مو طواف کولای سوای او که چا بد او نا لائق -را ته ويلي وای تر يوې اندازې مو د هغه جواب هم ورکولای سوای.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي له کومه وخته چي عمر اسلام را وړی موږ په عزت سوو.

د مسلمانانو په حال کي دغه ټول تغير د هغي ورځي څخه راغلی چي عمر رضي الله عنه د أرقم بن ابی الأرقم کورته ورغلی او ويل: يا رسولَ الله! آيا موږ مسلمانان که مړه سو او که ژوندي پاته سو پرحق نه يو؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: هو قسم مي دي په هغه ذات وي چي زما د نفس اختيار د هغه په قدرت کي دی که مړه سی او که ژوندي پاته سی تاسي پرحق ياست، عمر رضي الله عنه و ويل: نو موږ ولي خپل دين او اسلام پټوو؟ قسم مي دي په هغه ذات وي چي ته يې په حق سره را لېږلی يې چي موږ د باندي ور وزو، رسول الله ﷺ هم هغه اصحابِ کرام چي په دار الأرقم کي موجود وه د وتلو دپاره تيار او آماده کړل، مګر هو! هغه حُر او آزاد اصحاب چي د قريشو د ساداتو او اشرافو څخه وه، مريان او هغه ضعيفه خلک يې پرېښوول چي دغه نفر ټول څلوېښت نفره سوه، نو رسول الله ﷺ دوه لينه يا دوه قطاره ځني جوړ کړه او ټول نفر په خپله اسلحه مسلح دي د يوه قطار په مخ کي حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه دی او د بل قطار په مخ کي عمر بن الخطاب رضي الله عنه دی او د دوو قطارو په منځ کي سرورکائنات حضرتِ رسول الله ﷺ رهي دی، ټول مسلمانان د دار الأرقم څخه مسلح او منظم را و وتل او د کعبې شريفي طرف ته رهي دي پرلاري تهليل او تکبير وايي: لا إِلٰه إلاّ اللّٰهُ محمّدٌ رسولُ الله او الله اکبر وايي، قريش ورته ګوري او هيڅ يې په وسه و نه سوه نه يې آزار ورکړی او نه يې جنګ ور سره وکړی، د قريشو د ساداتو او اشرافو څخه څلوېښت نفره مسلمانان دي، په دغه طريقه سره د الله عزوجل دين ښکاره او روښانه سو، و اسلام ته دعوت او اسلامي عبادت د هغه پټ حاله څخه و اظهار او اعلان ته را و وتی او د دغي ورځي څخه د رسول الله ﷺ له طرفه و عمر رضي الله عنه ته د فاروق لقب ورکړل سو.

اوس چي عمر رضي الله عنه اسلام ته داخل سو او دعوت ښکاره سو د قريشو ژوند ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


تریخ سو او حیران دي چي څه وکړي؟ نو یې د مسلمانانو و اشد عذاب ته ملا وتړل، حتّی په خپله د رسول الله ﷺ او د هغه د اصحابو آزار یې شدید کړی، ابوجهل و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل یا محمّد! ﷺ که دي تر دې وروسته زموږ خدایان په سپکه سره یاد کړل، بېکاره او بې قدرته دي وبلل موږ بیا ستا رب ته بښکنځل او بد ویل کوو، که څه هم قریشو الله جل جلاله په ربوبیت سره مانه او د هغه جل جلاله عبادت یې هم د بتانو د عبادت سره کاوه او ویل به یې: دغه بتان موږ و الله ته نژدې کوي، مګر نن ورځ یې د حسد او عناد په سبب دا جرئت وکړی او ویل: که تا بتانو ته بد و ویل، موږ وَالله ﷻ ته بد وایو، نو په دغه باره کي د الله جل جلاله دا قول نازل سو چي فرمایي:

﴿وَلَا تَسُبُّوا۟ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّوا۟ ٱللَّهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾. [الانعام/۱۰۸]

یعني: اې مومنانو! هغو معبودانو ته بښکنځل او بد ویل مه کوی چي دغه کفار د هغو عبادت کوي، نو دوی به د خپله جهالته څخه الله جل جلاله ته په ناحقه سره بښکنځل وکړي.

په دغه آیات شریف سره مسلمانان د بتانو د بد ویلو څخه منعه سوه، که څه هم د بتانو په بد ویلو کي د اسلام مصلحت او فایده سته مګر لوی ضرر هم ور سره ملګری دی چي هغه پر الله جل جلاله بد ویل دي، نو مسلمانان هم د بتانو د بد ویلو څخه چپ او پټه خوله سوه، دا د دې دپاره چي هغه لویه او بده ګناه منعه کړل سي کومه چي پر الله جل جلاله بد ویل دي.

## رسول الله ﷺ ته د دعوت د پرېښوولو دپاره د قریشو وړاندیزونه

د دغو دوو مشهوره او معروفه پهلوانانو او قهرمانانو: حمزه بن عبدالمطلب او عمر بن الخطاب رضي الله عنهما ترایمان او اسلام را وړلو وروسته هغه د ظلم توري پردې څیري سوې او قریش د هغه عذاب ورکولو د نشې څخه پُر سد سوه، اوس ویني چي مسلمانان ورځ په ورځ ډېرېږي، نو غواړي چي د رسول الله ﷺ سره د خبرو د لاري د دعوت په پرې ښوولو کي کومي فیصلې ته ورسېږي او د دې کار په مقابل کي چي رسول الله ﷺ هرڅه وغواړي دوی یې ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دوی بېچارګان په دې نه پوهېدل چي تول هغه شيان چي لمر پر راخيژي و رسول الله ﷺ ته د دعوت په مقابل کي د ګُماشي د وزر قدر او قيمت نه لري او دوی په دغه خيلو وړانديزونو کي ناکامه او نا اميده سوه.

هغه داسي: قريشو مشوره سره وکړه ويل اوس نو موږ ته دوې لارې پاته دي چي د هغو څخه به يوه عملي کوو، يو دا چي په خپله د محمدّ ﷺ سره بحث او خبري وکړو قانع به يې کړو چي دغه د دعوت له کاره څخه لاس واخلي، که يې دا نه کړه قبوله نو دوهمه لار پاته ده چي هغه مخامخ مواجهه او مقابله ده، نو ويل څوک بايد د خبرو دپاره ورسي چي خبري ور سره وکړي؟ د قريشو يو خاص مشر يې د دغه کار دپاره انتخاب کړی چي څوک وايي: وليد بن مغيره ؤ او څوک وايي عُتبه بن ربيعه ؤ، په هر صورت يوه ورځ قريش د خپل مجلس په ځای کي سره ناست دي، وې ليدل چي رسول الله ﷺ په مسجد کي يوازي ناست دی، وليد يا عتبه و ويل: يا معشرَ القريش! آيا محمّد ته ور نه سم؟ او خبري ور سره و نه کړم؟ ښايي زموږ د وړانديزونو څخه يو شئ قبول کړي او موږ پرېږدي، قريشو ويل: هو ورسه او خبري ور سره وکړه، وليد هم ور ولاړ سو و رسول الله ﷺ ته کښېنستی او ويل: اې وراره! تا ته معلومه ده چي ته په قوم کي د لوړي مرتبې او ښه نسب خاوند يې او تا دغه خپل قوم ته داسي لوی شئ را وړی چي په هغه سره دي دوی وپاشل، د دوی پر دين او خدايانو دي عيبونه و ويل او د دوی تېر سوي پلرونه دي کافران وبلل، اوس زما څخه څه خبري واوره او په هغو کي ښه فکر وکړه ښايي د هغو څخه ځيني خبري قبولي کړې، رسول الله ﷺ و فرمايل: وايه يا وليد! زه يې اورم، هغه ويل: اې وراره که ته په دغه کار سره پيسې غواړې؟ دومره مال او پيسې به درته را تولي کړو چي تر موږ تولو مالداره او غني سې.

رسول الله ﷺ د کعبې شريفي سره ناست دی او غوږ يې ورته نيولی دی، دا د خبرو کولو او خبرو اورېدلو ادب دی (موږ يې هم *بايد زده کړو*) که څه هم د وليد تولي خبري پوچي او بې معنٰی دي مګر ادب دا نه ايجابوي چي هر ګړئ د هغه خبري ورپرې کړي او خپلي خبري شروع کړي نو يې غوږ ورته نيولی دی.

وليد نور هم خپلو خبري پسي پوره کړې او ويل: که دي د دې کاره څخه شرف،

(c) ketabton.com: The Digital Library


مشري او سرداري مقصد وي، د مکې عمومي سردار او رئيس به دي کړو، هيڅ فيصله به ستا د رأيي څخه مخالفه نه کوو او که پاچهي غواړې زموږ پاچا به دي کړو او که دي د دې کاره څخه مقصد ښځه وي هره ښغله چي ته لاس پر ايږدې در په نکاح به يې کړو او که دغه شئ تا ته يو خيال او تصور راځي يعني: سودا او وسوسه وي او ته يې د ځان څخه نه سې ليري کولای طبيب به درته را وغواړو او په دې لار کي به تر هغه وخته پيسې خرڅي کړو تر څو چي ته جوړ پړې.

که چيري رسول الله ﷺ د دين او دعوت خبري پرېږدي قريش تيار او آماده دي چي د هغه په بدله کي هر څه ورکړي او هر څه وکړي، قريش وايي: هرڅه چي ته وايې زموږ قبول دي پرتا ويل او پر موږ يې کول دي، خو د دين او دعوت خبري پرېږده، قريش تر دغي اندازې له اسلامي دعوته په تکليف وه او د دعوت د نشرېدلو څخه په بېره کي وه، رسول الله ﷺ غوږ ورته نيولی دی.

کله چي وليد د خپلو خبرو څخه فارغه سو، رسول الله ﷺ ورته و ويل: ستا خبري خلاصي سوې؟ وليد ويل: هو، رسول الله ﷺ و ويل: اوس نو ما ته غوږ ونيسه.

اخلاق دغه دي: تر کومه وخته چي هغه خبري کولې دئ ﷺ چپ او خاموشه ؤ فقط غوږ يې نيولی ؤ، کله چي وليد د خبرو کولو څخه فارغه سو رسول الله ﷺ و ويل: اوس نو غوږ ونيسه، هغه ويل: ښه وايه، رسول الله د دغو ټولو خبرو په جواب کي د سورة حٰمٓ السجده څو آياته ورته تلاوت کړل، په نورو خبرو سره يې هيڅ جواب ورنه کړی، د هغه دپاره فقط قرآن مجيد کافي ؤ، رسول الله ﷺ و ويل:

﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝ حمٓ ۝ تَنزِيلٌ مِّنَ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝ كِتَٰبٌ فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ۝ بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ۝ وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا فِىٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ وَفِىٓ ءَاذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَٱعْمَلْ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ۝ ﴾.

ژباړه: دغه قرآن د هغه الله له طرفه را لېږل سوی دی چي ډېر مهربانه او ډېر رحم کوونکی دی، قرآن داسي کتاب دی چي آياتونه يې په تفصيل سره بيان سوي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


قرآن دی چې په عربي ژبه لوستل سوی دی، د هغه قوم دپاره چې پوهیږي، مومنانو ته په جنت سره زېری ورکوونکی دی او کفارو ته له دوږخه بېرووونکی دی، نو د دغو کفارو څخه ډېرو مخ وګرځاوه، دوی حق نه اوري او دغه کفار محمد ﷺ ته وايي زموږ زړونه په پردو کي دي، په هغه څه نه پوهیږو چې ته موږ هغه ته دعوتوې (چې توحید او قرآن دی) او زموږ په غوږو کي درووند والی دی (ستا خبري نه اورو) زموږ او ستا په منځ کي د مخالفت پرده ده، نو ته په خپل دین عمل کوه او موږ په خپل دین عمل کوونکي یو.

رسول الله ﷺ دغه آیاتونه ور ته تلاوتول تر څو د الله ﷻ دې قول ته ورسېدی:

﴿فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَقُلۡ أَنذَرۡتُكُمۡ صَٰعِقَةٗ مِّثۡلَ صَٰعِقَةِ عَادٖ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾﴾.

ژباړه: که چیري دغو کفارو د حقه څخه مخ واړاوه، نو ته دوی ته و وایه: زه تاسي د سخت عذابه څخه بېروم په مثل د سخت عذاب د عادیانو او ثمودیانو، چې پر عادیانو باد صُر صُر مقرره سو او پر ثمودیانو جبریل علیه السلام چغه او ناره وکړه.

ولید د صاعقې د نامه په اورېدلو سره ډېر زیات وبېرېدی له خپله ځایه ور ولاړ سو د رسول الله ﷺ پر مبارکه خوله یې لاس ور کېښېناوه چې چپ سي او نوري د عذاب خبري و نه کړي او ویل: د الله روی مي در وړی دی رَحم، د الله روی مي در وړی دی رَحم، ولید له ډېري بیري وارخطا سو چې پر دوی به هم داسي صاعقه نازله سي لکه د عاد او ثمود صاعقه او بیر ته راغلی پر خپل ځای کښېنستی، رسول الله ﷺ نور آیاتونه هم پسي تلاوت کړه تر څو د سجدې و آیات ته ورسېدی د سجدې آیات چې یې تلاوت کړی رسول الله ﷺ سجده وکړه او بیا یې ور ته و ویل: یا ولید! وادي ورېدل؟ اوس نو ته او دغه آیاتونه، زما له طرفه ستا جواب دغه دی.

نه بحث ؤ نه مناقشه او نه نور دلائل وه، فقط او فقط د ده د خبرو جواب د قرآن مجید آیاتونه وه، ولید له خپله ځایه لکه بېهوښه ولاړ سو، دا د قرآن مجید سحر او اعجاز دی، دا د قرآن کریم تأثیر دی، ولید د اول وار دپاره قرآن مجید مفصل او بې رغه روغه واورېدی، داسي یې واورېدی چې غوږ یې ورته نیولی ؤ، فکر او پام یې پر کاوه، د قرآن مجید تر تاثیر لاندي راغلی دی ولاړ سو او بیرته قریشو ته ورغلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول قریش په دارالندوه کې د ده په انتظار ناست وه، دئ یې د بحث او پېشنهاد دپاره لېږلی ؤ او اوس ټول د جواب په انتظار دي، خو ولید لکه مسحور او بېهوښه دارالندوه ته ورننوتی، د دغه عجیب کلام تر تاثیر لاندې ؤ، رسول الله ﷺ فرمایي:

«انَّ منَ البَیَان لَسحراً»

یعني: بیشکه ځینې بیانونه د سحر تاثیر لري، کله چې د بشر ځیني کلام یا بیان سحري تاثیر ولري، نو د قرآن مجید او الٰهي کلام په باره کې څه فکر کوې؟

رشتیا هم ولید بن المغیره د قرآن مجید په اورېدلو مسحور سوی ؤ، کله چې دارالندوه ته ورننوتی او قریشو ولیدی، ویل: سړئ بیرته راغلی مګر په والله نه په هغه مخ چې تللی ؤ په سړي کې ډېر فرق راغلی دی، ولید کښېنستی قریشو ور ته وویل څه خبر دې راوړی؟ ولید وویل: والله د محمّد څخه مې داسې خبرې واورېدې چې د هغه په مثل خبرې مې په خپل عمر نه دي اورېدلي او دا خبره یې هم پر اضافه کړه:

« إنّ لقَولِه لَحَلاوةً، وَإنّ عَلَیه لَطَلاوةً، وَ إنّ أعلاهُ لَمُثمرٌ، وَإنّ أسفَلَهُ لَمُغدقٌ،
وَ إنّهُ لَیَعلُوا وَلا یُعلی عَلَیه ».

یعني: د ده خبرې خوږ والی لري، په خبرو کې یې اعجاب او بنایست پروت دی، لفظ د خبرو یې مېوه لري، معنٰی د خبرو یې تنده پوره کوي، د ده خبري تر هر چا لوړېږي او د ده پر خبرو څوک نه سي لوړېدلای.

د عربو لوړ والی، مهارت او پوهی په ژبه کې وه، سبحان الله! هر وخت چې الله عزّوجلّ یوه قوم ته خپل رسول ورلېږلی دی د هغه شي معجزه یې ورسره ورکړې ده، چې دغه قوم به په هغه شي کې مشهوره او رسېدلی ؤ، مثلاً د عیسٰی علیه السلام قوم په طب کې شهرت درلودی او رسېدلی ؤ، نو د عیسٰی علیه السلام معجزې هم له دغه قسمه څخه وې چې پیس یې جوړاوه، مور زاده ړوند یې بینا کاوه، حتّٰی مړي یې ژوندي کول، ځکه چې دغه قوم ته دا ورمعلومه سي چې دا د الله عزّوجلّ له طرفه معجزه ده او د انسان کار نه دی.

همدارنګه د فرعون قوم چې په سحر او جادو کې رسېدلی او مشهوره ؤ، نو الله جلّ جلاله موسٰی علیه السلام ته هم له دغه قسمه معجزې ورکړې، هغه دا چه د لاس لکړه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دومره لوی مار سو چي د ساحرانو ټول جوړ سوي شیان یې تېر کړل او لاس چي به یې له بغله را وایستی داسي به ځلېدی لکه لمر، نو ځکه د فرعون ساحرانو چي سحر یې پېژندی او د سحر ماهیت ور معلوم ؤ کله چي یې دغه معجزې ولیدلې پوه سوه چي دا سحر نه دی بلکه الٰهي معجزه ده او ایمان یې راوړی.

عربو د دې شیانو څخه کوم شئ نه درلودی هغه دوی چي درلودی او رقابت به یې په کاوه او د هغه شي استادان وه هغه د ژبي فصاحت او بلاغت ؤ او واقعاً هم د تاریخ د شروع څخه بیا تر اوسه په ټول بشرکي د فصاحت او پراختیا په اساس بله داسي ژبه نه ده پیدا سوې لکه عربي، نو ځکه عربو ته له هغه جنسه معجزه راغله چي دوی په هغه کي مهارت درلودی، داسي شئ په معجزه کي نه ورته راغلی چي دوی د هغه په باره کي معلومات نه لري، بلکه عربو ته داسي شئ په معجزه کي راغلی چي دوی د هغه کار استادان وه او قرآن مجید دومره بلیغ او فصیح ؤ چي دوی ورته عاجزه سوه او تر اوسه هم ورته عاجزه دي، نو ځکه د ولید پر ژبه دغه جملې و ویل سوې.

قریشو ورته و ویل: یا ولید! تا خپل دین پرېښاوه؟ (أ صبأت یا ولید!) له دینه واوښتې؟ ولید ویل: یاړ له دینه نه یم اوښتی مګر والله ما داسي کلام په عمر نه دی اورېدلی، قریشو ویل: دا شعر دی، ولید ویل: والله تر تاسي ټولو په شعر پوهېږم، د شعر په بحرو، په نثر، په شعر، په ټولو پوهېږم، شعر پېژنم د عربو ژبه را معلومه ده مګر د محمّد ﷺ کلام شعر نه دی، قریشو ویل: چي شاعر نه دی نو کاهن او کوډګر دی، ولید ویل: کاهن پېژنم او کارونه یې، د هغو د اور بلولو او شیانو سوځولو ټولي طریقې را معلومي دي، حتّٰی مېرګیان او د مېرګیانو مرض را معلوم دي، د لېوني او مېرګیاني هیڅ حرکت پکښي نسته، قریشو ویل: نو ساحر او جادوګر دی، ولید ویل: سحر او ساحران پېژنم د هغو د شیانو تړل او غوټه کول را معلوم دي د هغو په پوکلو پوهېږم، د هغو د کارو څخه هیڅ کار پکښي نسته، قریشو و ویل: موږ نه پوهېږو چي څه درته و وایو، ولید ویل: یا قوم! زما خبره قبلوی؟ هغو ویل: وایه مقصد دي څه دی؟ ولید و ویل: دوه کاره دي چي د هغو څخه به یو کوی، قریشو ویل: هغه کارونه څه شي دي؟ ولید ویل: اول دا چه متابعت به یې وکړو ځکه د ده خبري حق دي، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل: په تا یې هم سحر کړی دی موږ ښتکه خپل او د خپلو پلرو دین پرېږدو؟ دا هیڅ امکان نه لري، ده ویل: چې دا مو نه سوه خوښه او نه یې قبلوی نو دا دوهم کار وکړی، قریشو ویل: هغه څه شي دی؟ ده ویل: دئ او خلک سره پرېږدی، پرې یې ږدی چې خلک دعوت کړي په والله د ده دغه خبري چې دغه اوس ما واورېدې یو عظیم کیفیت لري که دئ پرخلکو غالبه سو د ده عزت او شرف ستاسي عزت او شرف دی، دئ هم د قریشو څخه دی د ده فخر ستاسي فخر دی، تاسي به په ده سره هغه بختور خلک سی او که خلکو دئ و وژی دا هم هغه شئ دی چې تاسي یې غواړی، د ولید خبره پخه او معقوله وه خو قریشو وویل: یا! والله! دئ او خلک به هیڅکله نه سره پرېږدو، ولید متردد سو چې قریش نه په اوله خبره راضي دي نه په دوهمه، ولید و ویل: اوس به نو آخري خبره درته وکړم، قریشو ویل: ښه! وایه، ولید ویل هغه مناسب او معقول شئ دا دی چې خلکو ته وایاست چې ساحر دی او زموږ تولو خبره باید یوه وي، کوم څوک چې د مکې له دباندي څخه راځي و هغو ته به موږ ټول دغه یوه خبره کوو چې ساحر دی، نژدې او مناسبه خبره هم دغه ده چې د ده په خبرو کې سحر دی، د سحر په واسطه قوم سره جلا کوي، ښځه او خاوند سره جلا کوي پلار او زوی سره جلا کوي، سبحان الله! شیطان د دغه ولید لار و وهل، اوس لږ وخت د مخه ده کوښښ کاوه چې قوم ته سمه لار وروښيي مګر اوس دئ په خپله واوښتی او رسول الله ﷺ ته یې په بد ویلو شروع وکړه، نو د دغه ولید په باره کې د سورة المدثر دغه آیاتونه نازل سوه چې رب ﷻ فرمایي:

﴿ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾ وَجَعَلْتُ لَهُۥ مَالًا مَّمْدُودًا ﴿١٢﴾ وَبَنِينَ شُهُودًا ﴿١٣﴾ وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمْهِيدًا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ﴿١٥﴾ كَلَّآ إِنَّهُۥ كَانَ لِـَٔايَـٰتِنَا عَنِيدًا ﴿١٦﴾ سَأُرْهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾ إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ وَٱسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ إِنْ هَـٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ هَـٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ ﴿٢٥﴾ سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾﴾.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به د دغه تلاوت سوو آیاتو مختصره ترجمه درته وړاندي سي:

﴿ذَرۡنِي وَمَنۡ خَلَقۡتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾﴾

الله جل جلاله فرمايي: ما او هغه څوک چي يوازي مي پيدا کړی دی سره پرېږده، د يوازي څخه مقصد دا دی چي هر سړئ د مور له نسه بې ماله او بې اولاده يوازي را وزي، فوج او لښکر، مال او دولت، اولادونه او اقرباء او نور شيان د ځانه سره نه را وړي او يا د يوازي څخه مقصد خاص دغه وليد بن مغيره دی ځکه دئ د پلار يو زوی ؤ.

﴿وَجَعَلۡتُ لَهُۥ مَالٗا مَّمۡدُودٗا ﴿١٢﴾﴾

او بيا مي ده ته ډېر زيات مال ورکړی.

﴿وَبَنِينَ شُهُودٗا ﴿١٣﴾﴾

او زامن مي ورکړه چي د ده سره به په هر مجلس کي حاضر وه، وليد د ډېر مال خاوند او د لسو زامنو پلار ؤ چي دغه زامن به همېشه د ده په مجلس کي حاضروه.

﴿وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمۡهِيدٗا ﴿١٤﴾﴾

تيار او آماده مي کړل ده لره په تيارولو سره، يعني: ده لره مي په دنيا کي د عزت او مشرتوب ټول اسباب آماده کړي وه.

﴿ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ أَزِيدَ ﴿١٥﴾﴾

او بيا طمعه او اميد کوي چي نور به يې هم ورزيات کړم.

﴿كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِأٓيَٰتِنَا عَنِيدٗا ﴿١٦﴾﴾

هيڅکله داسي نه کوم چي مال، نفر او نعمتونه دې نور هم ور ډېر کړم، بېشکه چي هغه (دغه وليد) زموږ آياتو لره مخالف او عناد کوونکی ؤ.

﴿سَأُرۡهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾﴾

ژر ده چي د اور پر لوړ غره به يې وخېژوم (صَعُود) په دوږخ کي د يوه غره نوم دی چي همېشه کافران ورخېژول کيږي بيا د هغه غره له سره کښته را لغړول کيږي، چي دا هم د کفارو د پاره يو قسم عذاب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾﴾

بېشکه هغه فکر وکړی چې پر قرآن څنګه طعن یا عیب و وایم او په خپل زړه کي يې خبره جوړه کړه، چې و وايي: قرآن کریم سحر دی.

﴿فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾﴾

پس هلاک سو، ملعون کړل سو، څنګه يې دا خبره جوړه کړه.

﴿ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾﴾

بیا دي هلاک او ملعون سي، خراب او برباد دي سي، څنګه يې دا خبره جوړه کړل چي قرآن سحر دی.

﴿ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾﴾

بیا يې محمّد یا قرآن ته وکتل.

﴿ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾﴾

بیا يې مخ تریو او تندئ يې غوټه کړی.

﴿ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾﴾

بیا يې محمّد ته شا کړه او د اسلام څخه يې سر غړونه وکړه.

﴿فَقَالَ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾﴾

نو ویل: نه دی دا قرآن مګر سحر دی چي د نورو ساحرانو څخه را نقل سوی دی.

﴿إِنْ هَٰذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾﴾

نه دی دغه قرآن مګر قول د بشر.

﴿سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾﴾

ژر به دئ د دوږخ اور ته داخل کړم، دغه سړئ چي حق يې وپېژندی او ده ته دغه حق واضح او روښانه سو، تر داسي اندازې چي خپل قوم يې هم ورته رابلی او بیا په یوه وار واوښتی، داسي اوښتل چي د حق دښمن وګرځېدی، نو خود دغه سړئ د اور مستحق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿سَأُصْلِيهِ سَقَرَ﴾

ژر به دئ د دوزخ اورته داخل کړم.

دغه آیاتونه د دغي حادثې یا سوال او جواب په سبب نازل سوه.

## دوهم وار بیا
## د رسول الله ﷺ سره د قریشو خبري

امام طبري او ابن کثیر او نور سیرت پوهان روایت کوي چي دوهم وار بیا د قریشو مشران چي په هغو کي ولید بن المغیره، عاص بن وائل هم وه، و رسول الله ﷺ ته ورغله او دا واریې بیا پر عرض کړه چي دومره مال به درکړو چي په موږ ټولو قریشو کي ته غني سې او زموږ د پېغلانو څخه به هغه تر ټولو ښایسته پېغله در په نکاح کړو او که دغه شئ مرض وي یا د پیري څخه درته پیښ وي موږ به دي په هر څومره پیسو سره چي وي علاج وکړو او داسي نور دنیوي شیان یې پر عرض کړه او ویل ته فقط دغه زموږ د آلهه او خدایانو بد ویل پرېږده او زموږ عادتونه او رواجونه د ناپوهي، او جاهلیت عادتونه مه بوله، رسول الله ﷺ و فرمایل: زه د دغو شیانو دپاره چي دغه تاسي یې را باندي عرضوی یا راکوی نه یم رالېږل سوی چي په خپل رسالت سره دي زه ستاسي مالونه وغواړم، یا دي په تاسي کي شرف وغواړم، یا دي پر تاسي پاچهي وغواړم، مګر الله ﷻ زه و تا سي ته رسول را لېږلی یم او پر ما یې کتاب نازل کړی دی او زه یې امر کړی یم چي تا سي ته بشیر او نذیر سم، ما د خپل رب رسالت در و رساوه او تاسي ته مي نصیحت وکړی، که تاسي دغه شیان چي ما د خپل رب له طرفه درته را وړي دي قبول کړی دا مو په دنیا او آخرت کي ګټه ده او که یې نه و مني تر هغو صبر درته کوم چي الله ﷻ زموږ او ستاسي په منځ کي فیصله کوي.

قریشو ورته و ویل: که ته د دغو شیانو څخه چي دغه موږ درباندي عرض کړل هیڅ شئ نه قبلوې او ته دعوه کوې چي زه رسول الله یم، نو تر تا د مخه ټولو انبیاوو خپلو قومو ته معجزې را وړي دي او تا موږ ته معجزه نه ده را وړې، رسول الله ﷺ و فرمایل: ما تاسي ته د رب ﷻ کلام را وړی دی، کفارو ویل: یا! که ته غواړې چي موږ ستا دین ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


داخل سو نو تا ته دا معلومه ده چي زموږ ملک د هر چا تر وطن تنګه ده، شا وخوا غرونه راباندي را ګرځېدلي دي او اوبه هم هیڅ نه لرو، اقتصادي حالت مو ډېر تنګ دی، نو دي د خپل هغه ربه څخه چي ته یې په دغه رسالت را لېږلی یې وغواړه چي دغه غرونه را څخه لیري کړي او موږ ته داسي ولې او چینې و بهوي لکه د شام او عراق ولې چي د هغه ولو په واسطه موږ ته باغونه، زراعت او وابنه را شنه سي او الله مو غنیان کړي، نو موږ به هم ستا څخه یوه فایده و وینو، رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: دا د الله جل جلاله کار دی که یې خوښه وه دغه شیان به در کړي او که یې نه وه خوښه نه یې درکوي.

کفارو و ویل: یا محمّد! داسي نه کیږي که دا نه سې کولای موږ ته زموږ مړه سوي پلرونه او نیکه ګان را ژوندي کړه ښه دی چي موږ خپل پلرونه او نیکه ګان و وینو او د هغو په جمله کي به قُصَی بن کلاب هم وي، هغه یو صادقه شیخ ؤ چي موږ د هغه څخه ستا په باره کي پوښتنه وکړو چي دا ستا خبري حق دي که باطلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: مړي الله ژوندي کوي زه مړي نه سم ژوندي کولای، قریشو ویل: ګوره هیڅ نه سې کولای خو بیا هم ته وایې چي تا ته ملائکې راځي موږ غواړو چي دغه ملائکې و وینو ځانونه دي را ښکاره کړي د هغو په لیدلو سره به موږ ستا تصدیق وکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: تاسي د ملائکو د لیدلو توان او طاقت نه لری او دا هم د الله جل جلاله کار دی که یې إراده وه در ښکاره به یې کړي او که یې إراده نه وه نه یې سی لیدلای، کفارو و ویل: یو کار دي هم و نه کړی او ته غواړې چي موږ ستا متابعت وکړو حال دا چي ته غریب یې، خلک د غریبانو متابعت نه کوي، نو که ته غواړې چي موږ ستا متابعت وکړو له خپل ربه و غواړه چي باغونه او قصرونه، مریان او مالونه درکړي، کله چي ته غني سوې بیا حق لرې چي خلک ستا متابعت وکړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله جل جلاله رسالت او نبوت بلکه الٰهي تول فضیلتونه په مال او غنا پوري تعلق نه لري، مال خپل خاوند الله ته نه نژدې کوي بلکه علم، تقوٰی او وحيِ دي چي انسان او رب سره نژدې کوي، نه زه دا کار کوم او نه زه هغه څوک یم چي له خپله ربه دغه شیان غواړي، کفارو و ویل: ښه اوس خو دي زموږ د غوښتنو سره برابر یو کار هم و نه کړی او ته همېشه موږ د الله په عذاب سره بېروې، نو اوس موږ دغه الٰهي عذاب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


تيار او آماده يو، آسمان را باندي ونړوه ټوټه ټوټه يې کړه، را باندي را وايې چوه چي موږ دا ستا عذاب و وينو چي دا دي په وسه پوره دی که يا؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: دا هم د الله جل جلاله په إراده پوري تعلق لري، دلته نو قريشو ورته و ويل: والله ته کاذب يې هيڅ شئ دي په وسه نه دی پوره، بلکه ستا استاد يو نفر دی چي نوم يې رحمان دی او په يمامه کي اوسيږي (يمامه په جزيرةُ العرب کي بلکه په نجد کي د يو ځای نوم دی) او ته موږ د هغه سړي په عبادت سره امر کوې.

قريشو به داسي ويل: چي رحمان د الله جل جلاله د نومو څخه نه دی، لکه څرنګه چي د دغه موضوع په باره کي الله جل جلاله فرمايي:

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسْجُدُواْ لِلرَّحْمَٰنِ قَالُواْ وَمَا ٱلرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا ۩ ﴿٦٠﴾ ﴾. [الفرقان/ ٦٠]

يعني: کله چي به دغو کفارو ته و ويل سوه چي رحمان ته سجده وکړی او د رحمان عبادت کوی، دوی وايي: رحمان څه شي دی؟ آيا موږ به هر هغه شي ته سجده کوو چي ته مو په امر کوې؟ او دغه د رحمان د نامه يادول! له ايمانه د دوی نفرت ور زياتوي.

نو قريشو ويل: دغه د يمامې سړئ چي نوم يې رحمان دی او تا ته تعليم کوي ته موږ د هغه په عبادت سره امر کوې، په والله موږ به هيڅکله پر رحمان ايمان را نه وړو، دغه د معجزو د خبرو په آخر کي عبدالله بن ابی اُميه بن مغيره چي د قريشو د مشرانو څخه ؤ او د رسول الله ﷺ د عمه زوی ؤ ولاړ سو او ويل: يا محمّد! هغه ټول شيان چي موږ درته و ويل هغو ټولو ته عاجزه سوې هيڅ شئ دي و نه کړی، زه خو ايمان نه درباندي را وړم که څه هم و دي وينم چي په هوا الوتی يې او په دغه هوا کي آسمان ته ورسېږې او له آسمانه يو کتاب در سره را وړې او زه دغه کتاب په خپل لاس کي هم ونيسم، بيا هم ايمان نه درباندي را وړم او وايم: ته ساحر يې، رسول الله ﷺ هيڅ نه وايي، آيا دغسي د عقل له چوکاټه وتلي خبري جواب لري؟

بيا نورو کفارو و ويل: والله موږ پر تا ايمان نه را وړو تر څو چي الله و نه وينو او ټوله ملائکې و نه وينو چي دغه الله ته راځي، که مو دا وليدل بيا نو ايمان را وړو، بېله دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


څخه زموږ ایمان را وړل هیڅ امکان نه لري، رسول اللهﷺ دغه ټولي خبري اوري او چپه خوله دی هیڅ نه وایي.

خو بیا د کافر قریشو د دغو غوښتنو او دغه سوال او جواب په باره کي د سورة بني اسرائیل یا سورةُ الإسراء دغه آیاتونه نازل سوه چي الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَقَالُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ يَنبُوعًا ﴿٩٠﴾﴾.

او قریش وایي: یا محمّد! تر هغه وخته به پر تا ایمان را نه وړو ترڅو چي جاري کړې ته موږ لره د مځکي څخه بهېدونکې چینه.

﴿أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَارَ خِلَالَهَا تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾﴾

یا وي تا لره یو باغ د خرما او انګورو او وبهوې ته په دا باغ کي ولې په بهولو سره.

﴿أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا﴾

یا را واچوې پر موږ باندي آسمان ټوټه ټوټه لکه څرنګه چي ته ګمان کوې.

﴿أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾﴾

یا را ولې الله او ملائکې مخامخ ښکاره چي موږ یې و وینو،

﴿أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ﴾

یا وي تا لره یو کور چي په سرو زرو ښایسته سوی وي.

﴿أَوْ تَرْقَىٰ فِي السَّمَاءِ﴾

یا په آسمان کي لوړ وخېژې.

﴿وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَّقْرَؤُهُ﴾

او هیڅکله به ستا په تش او یوازي ختلو ایمان را نه وړو ترڅو چي پر موږ داسي یو کتاب را کښته کړې چي موږ یې لولو او ستا تصدیق پکښي موجود وي.

﴿قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٣﴾﴾.

یا محمّد! ﷺ دوی ته و وایه: پاکي ده زما رب لره (آیا یم زه) یعني: زه نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکر يو را لېږل سوی انسان.

او بيا هم په دغه باره کي د سورةُ الأنعام دغه آياتونه نازل سوه کوم چي الله جل جلاله فرمايي:

﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَٰبًا فِى قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ ﴾.

او که موږ پر تا په کاغذ کي ليکل سوی کتاب نازل کړی وای او بيا دوی دغه کتاب په خپلو لاسو مسحه کړی وای نو خامخا به هغو کسانو چي کافران سوي دي ويلای: چي نه دی دغه کتاب مګر ښکاره او معلومداره سحر.

﴿ وَقَالُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ﴾

او کفارو به ويل: ولي پر ده مَلَکه (ملائکه) نه نازليږي؟ يعني: له آسمانه ولي ملائکه نه ورته راځي چي موږ يې وو ينو، الله جل جلاله فرمايي:

﴿ وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِىَ ٱلْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ﴿٨﴾ ﴾.

او که موږ ملکه نازله کړې وای نو خامخا به د دوی د هلاک خبره فيصله سوې وای، بيا به دوی ته مهلت نه وای ورکول سوی.

وروڼو! د تلاوت سوو آياتو په ترجمه کي ډېري خبري او تفصيل سته خو زه نه غواړم چي زموږ د سيرت النبي ﷺ مضمون و تفسير ته واوړي، نو ځکه په مختصره او کوتا ه ترجمه سره کفايت کوم.

﴿ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنَٰهُ رَجُلًا وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِم مَّا يَلْبِسُونَ ﴿٩﴾ ﴾.

او که چيري موږ دغه رسول ملکه ګرځولې وای، يعني: انسانانو ته مو ملائکه په رسالت را لېږلې وای، نو خامخا به موږ دغه ملکه د يوه سړي په شکل ګرځولې وای (ځکه انسان د ملکي د واقعي شکل د ليدلو طاقت نه لري) نوکه ملکه د سړي په شکل سوې وای نو خامخا به موږ دوی په شک او شبهه کي اچولي وای لکه دغه اوس چي دوی پکښي پراته دي، يعني: اول خو مو ملائکه په دې سبب په رسالت نه را ولېږل چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


انسان د ملائکې د ليدلو توان او طاقت نه لري او که يې فرضاً د ملکي د ليدلو طاقت هم را وړی وای او بيا يې هغه ملکي ته د ذرواغو خطاب کړی وای، نو سمدستي عذاب پر نازلېدی، نو ملکه خو په دغو سببو نه را ولېږل سوه او که مو بيا چيري ملکه د انسان په شکل او صورت کي را لېږلې وای نو دغه شک او اشتباه چي اوس يې پر تا کوي پر هغه ملائکې يې هم کاوه او دا به يې ورته ويلای چي ته ساحر، شاعر، کاهن يا کاذب يې.

*ورونيو! اوس خو درته معلومه سوه چي د رسول الله ﷺ په ژوند خبرېدل د قرآن مجيد د معنٰی د پوهېدلو دپاره څومره فايده لري، که د رسول الله ﷺ د ژوند په دغه واقعاتو او سيرت نه سو خبر، آيا د دغو آياتو په ترجمه پوهېدلای سو؟ هيڅکله نه.*

ښه دلته يوه پوښتنه پيدا کيږي: چي رسول الله ﷺ د کفارو دغه غوښتني ولي نه کړې ور د سره؟ يعني: هغه شيان چي دوی غوښتل رسول الله ﷺ ولي نه کړه ورته موجود او هغه د دوی د غوښتني معجزې يې ولې ور ښکاره نه کړې ؟

جواب: د دې څوسببه وه،

اول: هغه انبياء عليهم السلام چي تر رسول الله ﷺ د مخه وه آيا هغو خپلو قومو ته معجزې نه وې ور ښکاره کړي؟ موسٰی عليه السلام و فرعون او د هغه قوم ته (۹) معجزې ور ښکاره کړې او هره يوه يې تر هغه د مخنی معجزې لويه او مشکله وه، آيا د فرعون قوم د دغو معجزو په ليدلو سره ايمان را وړی؟ يا! نه يې را وړی.

د قريشو د معجزو غوښتنه هم د ايمان را وړلو دپاره نه وه بلکه جدل، سبسطه او بېځايه بحث ؤ، آيا عيسٰی عليه السلام خپل قوم ته معجزې نه وې را وړي؟ بلکه را وړي يې وې، مګر قوم يې د هغو معجزو په ليدلو سره بيا هم ايمان نه راوړی.

نو الله جل جلاله په قرآن مجيد کي دا هم ذکر کړي دي چي دغه د دوی غوښتني يې ولي نه کړې ورپوره، الله عزوجل د سورة بنی اسرائيل يا الإسراء په (۵۹) نمبر آيات کي فرمايي:

﴿وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرْسِلَ بِٱلْـَٔايَـٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلْأَوَّلُونَ﴾. الاسراء:۵۹)

او موږ هيڅ شي له دې څخه نه يو منعه کړي چي د دوی د غوښتني معجزې ور ولېږو بېله دې چي پخوانيو کفارو د معجزو تکذيب کړی ؤ، بيانو موږ هلاک کړل، يعني: که اوس موږ د دوی د غوښتني معجزې ورکړو او دوی ايمان را نه وړي دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم هلاکیږي.

﴿ وَءَاتَيْنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُواْ بِهَا ﴾

او ورکړې مو وه د ثمودیانو قوم لره (اوښه) ښکاره معجزه، نو ثمودیانو پرخپلو ځانو د هغې اوښې په زخمي کولو او وژلو سره ظلم وکړی.

﴿ وَمَا نُرْسِلُ بِٱلْأَيَٰتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ﴿٥٩﴾ ﴾

او نه لېږو موږ دغه فرمایشي معجزې مګر د بېرولو دپاره يې لېږو. الله جل جلاله د صالح علیه السلام قوم ته د دوی د غوښتني سره برابره د معجزې په شکل اوښه ورکړل چي ټولو په سترګو ولیدل چي لويه، غټه او قوي اوښه د مځکي یا ډبري څخه را وزي، بیا يې هم ایمان را نه وړی، حتی هغه د معجزې اوښه یې زخمي او مړه کړه.

د کفارو د غوښتنو د نه پوره کولو دوهم سبب دا ؤ چي د دوی د غوښتنو پوره کول د اُمت آخره او انتهاء وه، هغه داسي: کله چي د رسول الله ﷺ او قریشو په منځ کي دغه بحث وسو جبریل علیه السلام و رسول الله ﷺ ته راغلی او ویل: یا رسولَ الله! الله جل جلاله را استولی یم او فرمایي: دوې خبري دي هره یوه چي ستا خوښه وي هغه سي به وسي، اول دا چي د دوی پر بې معنیٰ او غلطو خبرو صبر وکړه او انتظار ورته وکړه، یا دا چي: هغه شیان چي دوی يې غواړي ټول به ورکړم مګر د دغو معجزو تر حاصلېدلو وروسته که يې بیا هم ستا د رسالت تصدیق و نه کړی او ایمان يې را نه وړی ټول به هلاک کړم.

اوس نو خوښه او اختیار ستا دی، یا به پر ټولو مشکلاتو، بې معنیٰ خبرو او ټولو هغو آزارو چي تا ته در کول کیږي صبر کوې، یابه د دوی غوښتني ورکړم، که يې بیا هم تر هغه فرمایشي معجزو وروسته انکار وکړی نو ټوله مکه هلاکیږي، لکه پر پخوانیو امتو چي قِسم قسم عذابونه او خرابۍ نازلي سوي دي، نو یا رسولَ الله! کومه خوا اختیاروې؟

رسول الله ﷺ و فرمایل: صبر او انتظار کوم، الله عزوجل ته امید لرم چي د دوی په وروستنیو نسلو کي داسي څوک پیداسي چي پر الله عزوجل ایمان را وړي، رؤف او رحیم رسولُ الله ﷺ د الله جل جلاله په قدرت او اِراده دا کولای سوای چي د دوی ټولي غوښتني

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورپوره کړي مګر دا نو د امت انتهاء او آخره وه ځکه دا د نبي او امت په منځ کې آخرنۍ فيصله ده، واقعاً هم پسله هغه چې د امت د غوښتنو سره سم تولي معجزې ښکاره او موجودي سي، بيا نو امت نه دوې لارې پاته کيږي، يا به ايمان را وړي، يا به انکار کوي، که يې انکار وکړی الٰهي عذاب پر نازليږي، چې په دغه عذاب سره هغه قوم و انتهاء او آخر ته رسيږي، نو رسول الله ﷺ دا نه غوښتل چې د دوی سره آخري فيصلې ته ورسيږي، ويل: که په دوی کې فايده نسته اولادو ته يې اميد سته، بنايي په هغو کې مسلمانان پيدا سي او واقعًا هم داسي سوه، حتّٰی د ابوجهل زوی عکرمه رضي الله عنه مسلمان سو، په همدې سبب رسول الله ﷺ د صبر کولو او انتظار اړخ يا طرف اختيار کړی.

## ابوطالب د بني هاشم ټولنه جوړوي

که څه هم د حمزه او عمر رضي الله عنهما اسلام د رسول الله ﷺ او مسلمانانو په وضعه او حال کې تغير را وستلی ؤ او د مسلمانانو حالاتو څه نا څه فرق کړی ؤ مګر د ابوطالب په زړه کې بيا هم د مشرکانو څخه پرخپل وراره بېره موجوده وه، د ده هغه تيري سوي واقعې په ياد وې چې يو وار مشرکانو ورته وويل: د وراره څخه دي لاس واخله او بيا يې ويل: وراره دي په عمّاره بن الوليد را سره بدل کړه چې مو پ يې و وژنو او بيا ابوجهل د ده د وراره د وژلو په نيت هغه لويه ډبره واخيستل او عقبه بن أبي معيط د ده وراره د سجدې په وخت کې په پتو يا په يوه ټوکره سره تر داسي اندازې خپه کړی چې قريبه وه و وژل سي او بيا عمر بن الخطاب د ده د وراره د وژلو دپاره توره را اخيستې وه، ابوطالب په دغو واقعاتو کې فکر کاوه او د هغو څخه د داسي شَر بوی را پورته کېدی چې د ده زړه به يې ور و رېږداوه او دا د ابوطالب سره ثابته وه چې مشرکان د ده د وراره په باره کې د ده سره غدر او خيانت کوي او د ده د وراره د وژلو قصد او إراده لري او که د مشرکانو څخه يو نفر د ده پر وراره يوه ناګهاني حمله وکړي او ويې وژني، هلته نو حمزه او عمر يا بل څوک کومه فايده نه سي رسولای، دغه فکرونه د ابوطالب په زړه او دماغ کې په يقيني ډول سره ور ګرځېدل او دا ټول هم حق وه، ځکه واقعاً مشرکانو پر دې اتفاق کړی ؤ چې رسول الله ﷺ په ښکاره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووژني او دغه د مشرکانو واتفاق ته د الله عزوجل په هغه قول کي اشاره ده چي فرمايي:

﴿أَمْ أَبْرَمُوٓاْ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾﴾. [الزخرف/۷۹]

يعني: کفارو د رسول الله ﷺ په خلاف يو کار جوړ کړی او محکم کړی دی او موږ هم د خپل تدبير محکم کوونکي، ټينګوونکي يو.

نو ابوطالب د دغو افکارو په مقابل کي څه وکړه؟ خپله کورنۍ چي د هاشم او مُطلِب اولاده وه سره راټوله کړه (*هاشم او مطلب دوه وروڼه دي چي د عبد مناف زامن وه*) او ويل: موږ او تاسي په ټولو بايد د محمّد ﷺ ساتنه وکړو او مشرکانو ته دا موقع ور نه کړو چي ده ته کوم آزار او تکليف ور ورسوي، دغه راټول سوو خلکو ټولو که مسلمانان وه که کفار د هغه عربي جِوار يا قوم پرستۍ په سبب دا غوښتنه و منل بېله ابولهبه چي هغه د نورو قريشو پرطرف سو او نورو ټولو په اتفاق سره د محمّد ﷺ د ساتني او حفاظت مسئوليت او ذمه واري پرځان قبوله کړه.

اوس نو ترڅلورو هفتو په لړ يا کمه موده کي مشرکانو ته څلور لويي حادثې پېښي سوې.

**لومړئ**: د قريشو شريف او قوي پهلوان حمزه رضي الله عنه مسلمان سو.

**دوهم**: عمر بن الخطاب رضي الله عنه چي معرفي کولو ته يې ضرورت نسته مسلمان سو.

**درېيم**: رسول الله ﷺ د مشرکانو پېشنهاد يا وړانديز د قرآن مجيد په آياتو ورد کړی.

**څلورم**: بني مطلب او بني هاشم ټولو په اتفاق سره که مسلمانان وه که مشرکان د رسول الله ﷺ طرفداري او د هغه ساتنه اعلان کړه.

مشرکان په حيرت کي سوه او دا يې هم حق ؤ چي په حيرت کي سي، دوی پوه سوه که موږ د محمّد ﷺ پر وژلو اقدام وکړو د مکې شېلې به زموږ په وينو وبهيږي او ممکن زموږ نسل ختم سي، کله چي مشرکانو ته دغه حقيقت ور معلوم سو نو يې د رسول الله ﷺ وژل پرېښوول او يو بل ظلم ته يې لاس واچاوه چي تر پخوانيو ظلمو ډېر سخت او اشد ؤ، هغه داسي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ظلم او عداوت عهد نامه
## مقاطعه او بندیز - یا اقتصادي انحصار

د قریشو یوه ډیره لویه ډله سره را ټوله سوه او پردې یې قسمونه یاد کړه چي هیڅوک به د بني هاشم او بني مطلب سره که مسلما ن وي که کافر او د هغو کسانو سره چي د بني هاشم او بني مطلب څخه نه دي خو مسلمانان سوي دي هیڅ قسم معامله نه کوي، نه به ښځه ځني غواړي نه به یې ورکوي، نه به شئ ځني رانیسي نه به یې پرخرڅوي، نه به څوک ور سره کښېني نه به خبري ورسره کوي، حتّی سلام به نه وراچوي، نه به د دوی کورو ته ورځي او نه به یې خپلو کورو ته پرېږدي، ترڅو چي محمّد ﷺ دوی ته د وژلو دپاره ورتسلیم نه کړي او د دغي فیصلې دپاره یې یوه ورقه ولیکل چي په هغه ورقه کي دغه ذکر سوي عهدونه او وعدې لیکل سوي وې.

بل دا چي د بني هاشم سره به هیڅ وخت د صلحي خبري نه کیږي او نه به صلحه ځني قبلیږي ترڅو چي محمّد ﷺ د وژلو دپاره را تسلیم نه کړي.

دغه ورقه یا تعهد نامه د قریشو ټولو کافرو مشرانو امضاء کړل.

ابن قیم رحمه الله وایي: دغه تعهد نامه منصور بن عکرمه بن عامر بن هاشم ولیکل او څوک بیا وایي چي نضر بن الحارث ولیکل، خوصحي خبره دا ده چي بُغَیض بن عامر بن هاشم ولیکل او رسول الله ﷺ ښرا ورته وکړه چي د هغې ښرا په سبب یې لاس شل سو.

د تعهد نامې یا مقاطعه نامې په شروع کي داسي ولیکل سوه:

(بِسمِکَ اللّٰهم) او بیا د تعهد نامې نوري مادي ولیکل سوې چي پکښي لیکل سوي وه: هیڅوک به د بني هاشم او بني مطلب او نورو هغه کسانو سره چي مسلمانان سوي دي د رانیولو او خرڅولو معامله نه کوي، نه به شئ ځني را نیسي او نه به یې پرخرڅوي، نه به ښځه ځني غواړي نه به یې ورکوي او دوی ته به اجازه هم نه ورکول کیږي چي خوراکي مواد د مکې د دباندي څخه را نیسي، نه به څوک خبري ور سره کوي او نه به یې کورو ته پرېږدي، کامل انحصار او پوره مقاطعه ولیکل سوه او تعهد نامه یې دننه په کعبه شریفه کي وځړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# درې کاله د ابوطالب په شِعَب کې

ابوطالب وېرېدی چې د قریشو کافر مشرانو د بني هاشم او بني مطلب او هغو کسانو چې د دوی پرطرف دي پرضد ډېر ټینګ اتفاق او اتحاد وکړی، نو ابوطالب هغه کسان چې د ده او د رسول الله ﷺ پرطرف وه سره را ټول کړه او د مکې مکرمې تر ښار دباندې و وتل، دا د دې دپاره چې دوی سره یوځای وي او په خپل منځ کې مرسته او تعاون سره وکړي، نو یې د مکې مکرمې په بل ځای کې واړول چې هغه ځای ته شِعَبِ أبي طالب ویل کیږي، دوی هلته یو له بله سره مرسته کوي او په دې امید دي چې له دغې مقاطعې او انحصاره څخه خلاص سي.

*سبحان الله! آیا د نن ورځې کفار هم د مسلمانانو په مقابل کې دغه کارونه نه کوي؟*

د قریشو له طرفه د مسلمانانو سره مقاطعه او انحصار په ډېر شدید ډول شروع سوه او دې انحصار یا مقاطِعې درې کاله دوام وکړی، درې کاله او د دوی دا حال دی چې نه شئ راتیولای سي او نه یې خرڅولای سي هیڅوک شئ نه پر خرڅوي حتّٰی که د مکې مکرمې د دباندې څخه نور تجار راسي قریش یې نه پرېږدي چې پر مسلمانانو خواړه خرڅ کړي او که به بیا چیري د بني مطلب یا بني هاشم څخه یو څوک ورغله چې یو شئ را نیسي، قریشو به هغه شئ په دوه چنده قیمت د هغه تاجر څخه د دې دپاره رانیوی چې د مسلمانانو لاس ته د خوړلو شئ ورنه سي، مسلمانان مال لري مګر شئ نه سي په رانیولای او بل د أمن له طرفه هم نه وه په امان، د خپل ضرورت د شیانو د رانیولو دپاره هم د شِعَبِ أبي طالب څخه نه سي را وتلای بېله هغو حرامو میاشتو څخه کومي چې په هغو کې جنګ او تجاوز حرام ؤ.

ابوطالب پر رسول الله ﷺ بېرېدی چې څوک یې د شپې و نه وژني نو کله چې به شپه سوه او خلک به د خوب بستر ته تله ابوطالب به هم رسول الله ﷺ ته و ویل: ورسه پر خپل ځای دي پرېوزه، دا د دې دپاره که چا د ده ﷺ د وژلو إراده کړې وي هغه به یې و ویني چې رسول الله ﷺ هلته پر خپل ځای پرېوتی، مګر کله چې به بیا خلک بیده سوه ابوطالب به د خپلو زامنو یا ورونو څخه یو څوک امر کړی چې ورسه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته د محمّد ﷺ په ځای کې پرېوزه او رسول الله ته به یې و ویل: ته ولاړ سه د ده په بستر کې پرېوزه، یا خو به په خپله ابوطالب د رسول الله ﷺ پر بستر پرېوتی.

کله چې د مسلمانانو او د دوی د کومکیانو خپل خوراکي مواد خلاص سوه او نور نه سي رانیولای نو په مسلمانانو او هغو کسانو کې چې د دوی مرسته یې کول لوږه شروع سوه، داسې کاختې او نیستې جوړه سوه چې د لوږې په سبب یې د درختو او وُنو پاڼې خوړل، نورو قریشو به د مسلمانانو او د هغو د کومکیانو د کوچنیو ماشومانو پرله پسې ژړا او نارې، چغارې او بغارې اورېدلې چې د لوږې په سبب به یې همېشه ژړل، خو زړه سوئ نه وُ بلکه خوند یې پر اخیستی. لکه نن ورځ چې د دنیا ټول کفار د فلسطین د کوچنیو معصومو شهیدانو ننداره کوي او خوند پر اخلي.

هو! هلته په قریشو کې څو نفره وه چې زړه یې غوښتی چې د بني هاشم او نورو سره د هغو دوستیو په سبب چې د دوی سره یې درلودلې مرسته وکړي، ځکه ځینو قریشو د بني هاشم یا نورو سره پخواني قرابتونه او د ښځو له طرفه دوستۍ درلودلې، نو د هغو دوستیو په سبب په دغه مقاطعه او انحصار نه وه راضي مګر په وسه یې هم څه نه وه پوره، نو به یې د موقع په وخت کې د نورو قریشو په پټه څه خوراکي مواد وُروړل چې د هغې جملې څخه یو هم حکیم بن حزام وُ.

حکیم بن حزام د قریشو د مشرانو څخه یو مشر وُ او تر دغه وخته نه وُ مسلمان سوی، د ده زړه غوښتل چې د بني هاشم سره د دغه تنګسې په وخت کې مرسته وکړي ځکه یو خو یې د مور له طرفه د بني مطلب سره دوستي درلودل او بل خدیجه رضي الله عنها د ده عمه وه.

دغه حکیم، یوه ورځ څه خوراکي مواد پر یوه اوښ بار کړه چې شِعبِ أبي طالب ته یې وروړي خو په لار کې ابوجهل ولیدی، ابوجهل وویل: د خیره؟ یا حکیم!

حکیم وویل: دا زما کار دی هر چیرې چې ځم، ابوجهل وویل: ته محمّد او د هغه ملګرو ته خواړه وروړې؟ حکیم وویل: دا زما کار دی هر چیرې چې یې وړم، د دې امت فرعون ابوجهل و ویل: یا! دا ستا کار نه دی! والله نه دې پرېږدم چې ته مسلمانانو ته خواړه وروړې او د ده په منعه کولو یې شروع وکړه.

دوی په دغه کشمکش کې دې چې د قریشو د مشرانو او ساداتو څخه یو بل نفر

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلی چي نوم يې ابوالبختري بن هشام دی او ده هم د مسلمانانو سره همدردي درلودل، که څه هم د ده همدردي د اسلام او ايمان په سبب نه وه بلکه د دې همدردۍ سبب هم قوميت او نسب ؤ، خو دغه ابوالبختري راغلی ويل: پر څه مو شخړه او غالمغال دی؟ حکيم و ويل: زما سره دغه بار را سره دی او غواړم چي هري خوا ته زما زړه وي ولاړ سم، مګر ابوجهل مي نه پرېږدي د ده يې په څه؟

ابوجهل ويل: يا! دئ غواړي چي دغه خواړه محمد ﷺ او د هغه ملګرو ته يوسي، ابوالبختري و ويل: حکيم د قريشو د مشرانو څخه يو مشر دی او ته هم يو مشر يې! نو دئ آزاد دی هر چيري چي ځي ولاړ دي سي، ته حق نه لرې چي منعه يې کړې.

اصلاً مکې مکرمې يو عمومي مشر نه درلودی، هر مشر د خپل قوم او خپلې کورنۍ مشر ؤ، مګر ابوجهل که څه هم د خپل قوم بني مخزوم مشر ؤ خو د زړه غوښتنه او آرزو يې دا وه چي د ټولي مکې مکرمې مشر سي، مګرځرنګه چي قريش ښاخ ښاخ يا پښه پښه وه او هر ښاخ ځان ته مشران درلودل، هغه نورو مشرانو د ابوجهل اطاعت نه کاوه او نه يې دئ د ځان مشر باله، نو ځکه ابوالبختري ورته و ويل: حکيم هم يو مشر دی هر څه چي يې زړه غواړي و دي يې کړي، ابوجهل ويل: يا! نه يې پرېږدم، ابوالبختري ته قهر ورغلی او ويل: ته څوک يې چي نه يې پرېږدې؟ ابوجهل ويل: نه يې پرېږدم او ابوالبختري يې پوري وهی د ابوالبختري هم ور سره حملې سوې، وهل پوري وهل سوه خو په آخر کي ابوالبختري پر زور سو او حکيم هغه خپل بار کړی اوښ مسلمانانو ته ورساوه.

همدارنګه د قريشو ځينو نورو مشرانو کوم چي د ابوطالب يا بني عبدالمطلب سره يې دوستي درلودل څه خوراکي مواد به يې مسلمانانو ته په پټه ور وړل مګر دغه خوراکي مواد چي مسلمانانو ته په پټه ور وړل کېده د دوی نه بسېده، ځکه دا لږ خواړه وه او هغه کسان چي په شِعَبِ أبِي طالب کي اوسېدل ډير او په لسهاوو نفر وه، نو خود پر مسلمانانو او د دوی پر طرفدارانو لوږه غالبه سوه، تر داسي اندازې چي يو د دوی څخه وايي: يوه شپه د حاجت د آداء کولو دپاره د خپله ځايه څخه څه ګوښه او ليري ولاړم، هلته مي يو آواز واورېدی چي باد يو شئ ښو راوه پسي وګرځېدم د مړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوي اوبښ د پوست يوه ټوټه يا يوه حصه مي پيدا كړه، دغه پوست مي واخيستی پسله پرېللو مي و ايشاوه او و مي خوړى، تاسي فكر وكړی چي يو انسان د لوږي له لاسه دغه حال ته رسيږي چي د مړه اوبښ پوست او د درختو يا ونو پاڼي خوري، هغه هم يوه ورځ نه بلكه په كلو يې دا حال وي، دا ځومره سخت ژوند دی مګر يوازي مسلمانانو نه بلكه هغو كسانو چي د مسلمانانو سره يې قرابت او همدردي درلودل دري كاله پرله پسې دغه لوږه وګالل، دري كاله يې پر لوږه سر ښېره د خپلو كوچنيو اولادو او معصومو ماشومانو ژړاوي چي د لوږي د لاسه به يې ژړل تحمل كولې او زغملې دا هم د مسلمانانو دپاره د صبر او مقاومت امتحان ؤ، خو مسلمانانو پر دغو تكاليفو او مشكلاتو، زحمتو او آزارو صبر وكړی او په دغه سخت امتحان كي په همت او مړانه سره كاميابه سوه.

## د تعهد نامې يا مقاطعې ماتول

پوره درې كاله پر دغه حال تېرسوه څو د بعثت د لسم كال د محرمي په مياشت كي دغه تعهدنامه او انحصار مات سوه د هغه د ماتېدلو سبب دا ؤ چي په قريشو كي ځيني كسان په دغه تعهد او انحصار راضي وه او ځيني يې ناراضه وه، نو هغه كسان چي په دغه انحصار نه وه راضي هغو د دغه تعهدنامې د ماتېدلو دپاره كوښښ وكړی، هشام بن عَمرو چي د قريشو د مشرانو څخه ؤ او د شپې به يې په پټه څه خواړه و بني هاشم ته وروړل او د هغو د دغه بد حال په سبب خواشيني او پرېشانه هم ؤ نو همېشه به په دې فكر كي ؤ چي دغه د ظلم ورقه او تعهد نامه چي د قريشو له طرفه ليكل سوې ده څنګه له منځه يوسي او دغه مقاطعه پای ته ورسيږي؟ د دې كار دپاره يې عزم وكړی چي دا مقاطعه بايد ليري او پای ته ورسيږي، نو زُهير بن أبي اميه المخزومي ته ورغلی چي د هغه مور عاتكه بنت عبدالمطلب د ابوطالب خور او د رسول الله ﷺ عمه وه.

زُهير ته يې و ويل: يا زُهَيرُ! آيا ته راضي يې چي ته خواړه خوري او اوبه څښې او ستا د ماما ګانو دي دغه حال وي چي ته په خبر يې؟ زهير ويل: يا! نه يم راضي.

هشام ويل: هو بايد په راضي هم نه سو دري كاله كيږي چي دغه خلک په لوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخته دي موږ يې د شپې او ورځې د کوچنيو ماشومانو ژړاوي اورو چې د لوږې ژاړي او بيا هم چپ يو دغه خلک زموږ قوم زموږ وينه او زموږ ځان دي.

زُهير ويل: نو څنګه وکړم؟ قريشو دا اتفاق کړی دی.

هشام ويل: زه غواړم چي دغه ورقه له منځه يوسم.

زُهير ويل: زه او ته دوه نفره يو دا کار موپه وسه نه دی پوره، بيله ما او تا څخه بل څوک هم سته چي د دغي مقاطعې مخالف وي؟

هشام ويل: يا! فقط زه او ته يو.

زُهير ويل: درېيم نفر هم را ته په کار دی.

نو هشام و مطعم بن عدي ته ورغلی و هغه ته يې د بني هاشم او بني مطلب دوستي او قرابتونه وريادکړه او ويل: دا ښه کار نه دی چي ته په دغه ظلم کي د قريشو پر طرف يې، مطعم ويل زه يو نفريم څه نه سم کولای.

هشام ويل: دوهم نفر مي هم درپيدا کړی دی، ويل: هغه څوک دی؟

ويل: زه يم، مطعم ويل: درېيم نفر هم په کار دی، ويل: هغه مي هم پيدا کړی دی، مطعم ويل: هغه څوک دی؟ ويل: زُهير بن أبي اميه، مطعم ويل: په دې کار کي څلورم نفر هم په کار دی.

نو هشام بن عَمرو و ابوالبختري ته ورغلی، هغه ابوالبختري چي د ابوجهل سره يې د حکيم د اوښ په بار کي وهل او تکول کړي وه، هشام پوهېدی چي ابوالبختري پر بني هاشم مهربانه دی، هغه ته يې هم هغه خبري وکړې چي مطعم ته يې کړي وې، ابوالبختري و ويل: آيا بل څوک هم سته چي په دغه کار کي زموږ مرسته وکړي؟ هشام ويل: هو! زُهير بن أبي اميه، مطعم بن عدي او زه ستاسي سره يم، ابوالبختري و ويل: پنځم نفر ته هم ضرورت سته چي پنځه سو قوت مو زياتيږي.

هشام و زُمعه بن الاسود بن مطلب ته ورغلی د هغه سره يې خبري وکړې د بني هاشم قرابتونه يې وريادکړه، د هغو حقوق يې ورته بيان کړه او ويل: ته په دغه حالت راضي يې چي قوم دي د لوږې مري؟

زُمعه ويل: آيا دغه کار ته چي ته ما ور بولې بل څوک هم را سره سته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هشام وویل: هو! د هغه نورو ملګرو نومونه یې وریاد کړه.

زمعه وویل: هو اوس صحي ده، دغه پنځه نفره د شپې په (حجون) کې چې په مکه مکرمه کې د یوه ځای نوم دی سره یو ځای سوه او د دغې صحیفې یا تعهد نامې د ماتولو دپاره یې عهد او وعده سره وکړه.

زهیر وویل: اول هغه څوک چې د قریشو په حضور په دغه باره کې خبري کوي هغه زه یم، شپه تېره سوه په سهار کې د قریشو مشران او سردارن او نور قریش د کعبې شریفې پر شا وخوا د خپلو مجلسو په ځایو کې ناست دي چې زُهیر له کوره را و وتی ښایسته او ګران قیمته لباس یې اغوستی دی پر کعبه شریفه یې طواف وکړی او بیا یې خلکو ته مخ ور واړاوه ویل: یا اهل مکه! آیا موږ خواړه خورو، کالي اغوندو او بني هاشم هلاکیږي؟ نه شئ پر خرڅیږي او نه څني رانیول کیږي، والله زه تر هغو نه کښېنم تر څو دغه ظالمه ورقه، دغه د دوستۍ قطعه کوونکې ورقه څیري نه سي، درې کاله کیږي چې دوی خواړه نه لري او وږي ګرځي، والله دا پېغور به موږ ته تر ابده پاته وي.

ابوجهل چې د حرم په یوه طرف کې ناست ؤ ولاړ سو او ویل: درواغ دي و ویل والله دغه عهدنامه نه څیرل کیږي، دا هغه عهد او اتفاق دی چې ټولو قریشو کړی دی او وعده یې کړې ده چې دا مقاطعه به تر هغو جاري وي څو مسلمانان زموږ دین ته را اوړي.

زُمعه بن الاسود ولاړ سو او ویل: والله یا ابوجهل ته ډېر درواغجن یې موږ په دې عهد نامه د هغې د لیکلو په وخت کې هم نه ؤ راضي او دا باید څیري سي.

ابوجهل وایي: والله نه څیرل کیږي. ابوالبختري ولاړ سو ویل: زُمعه رشتیا وایي موږ په دغه عهد نامه نه راضي یو او نه یې منو.

ابوجهل غواړي چې د ابوالبختري جواب و وایي چې مطعم بن عدي ولاړ سو او ویل: تاسي رشتیا وایاست او هرڅوک چې له دغه مخالفه خبري کوي هغه درواغ وایي، موږ د الله په حضورکې د دغې عهد نامې څخه او کوم څه چې پکښې لیکل سوي دي بري او بېزاره یو.

ابوجهل د ده جواب ته ځان جوړاوه چې هشام بن عَمرو ولاړ سو او د دغه قسمه څخه خبري یې وکړې، اوس نو کوم څوک چې دا حالت ویني یو د پنځو په مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې دلائل وايي، ابوجهل وايي: دا عهد بايد نه سي مات او مقاطعه بايد نوره هم دوام ولري، مګر دوی پنځه دي که څه هم بل څوک د دوی پر طرف نسته خو دا پنځه منظم او د مخه يې پلان جوړ کړی دی (*پنځه منظم نفر کولای سي چې پر پنځوسو غير منظمو نفرو غالبه سي*) ابوجهل عاجزه پاته سو ويل: دا پلان په شپه کې جوړ سوی دی بيله دغه ځايه په بل ځای کې مشورې او اتفاق سوی دی.

د دغو خبرو په وخت کې ابوطالب د حرم شريف په يوه طرف کې ناست ؤ او دغه خبري اوري. ابوطالب ولي او د څه شي دپاره دلته راغلی ؤ؟ هغه خو په دې موضوعاتو نه ؤ خبر؟

د هغه د را تللو سبب بل شئ ؤ، هغه دا چه الله جل جلاله خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته د دغه صحيفې يا ورقې په باره کې داسې معلومات ورکړل چې په هغه عهد نامه کې ټول هغه ځايونه چې په هغه کې ظلم او د صلهٔ رحمي قطعه کېدل ليکل سوي دي، هغه ټول وَينُو خوړلي دي، بېله هغو ځايو څخه چې په هغه کې د الله جل جلاله نوم ليکل سوی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خبر خپل اکا ابوطالب ته و وايه، ابوطالب ورته و ويل: آيا ستا رب ته په دغه خبر کړی يې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ويل: هو.

نو اوس ابوطالب د خو نفرو سره راغلی دی چې دغه خبر قريشو ته و وايي، د مخه تر دغه مناظرې او مناقشې ابوطالب ځينو قريشو ته دغه خبر و وايه: چې زما وراره دغسي او دغسي راته ويلي دي او هغه هيڅکله درواغ نه وايي، اوس تاسي وګوری که خبره داسي وه لکه هغه چې وايي نو وينئ سی او دغه خپل بد او ظالمانه عمل پرېږدی په والله تر هغو به يې در تسليم نه کړو چې يو نفر مو پاته وي او که هغه خلاف ويلي وه زه به تاسي او دئ سره پرېږدم، بيا نو څه چې مو خوښه وي هغه ور سره وکړی.

قريشو و ويل: ښه او د انصاف خبره دي وکړه، خو د مخه تر دې چې پر دغه موضوع خبري وسي هغه بله خبره شروع سوه، پسله هغه چې د هغو پنځو نفرو او ابوجهل په منځ کې هغه سوال او جواب وسو، مطعم بن عدي کعبې شريفي ته ننوتی چې هغه عهد نامه را واخلي او څيري يې کړي، وې ليدل چې عهد نامه ټوله وَينُو خوړلې ده بېله هغه ځايه چې (بِسمکَ اللّهم) يا بل هغه ځای چې د الله جل جلاله نوم ليکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوی ؤ، هغه پرخپل حال پاته وه نوره ټوله عهد نامه نه وه! وَينُو خوړلې وه.

له دغه وخته دغه عهد او اتفاق، انحصار او بنديز مات سوه، رسول الله ﷺ او د ده ټول ملګري د شِعب أبي طالب څخه را ووتل او خپلو کورو ته ولاړل.

دلته کفارو بيا د رسول الله ﷺ د نبوت د علامو څخه يوه ډېره لويه علامه وليدل، چي هغه د عهد نامې په حال خبرېدل وه، مګر لکه څرنګه چي الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي:

﴿وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ ۝٢﴾. [قمر:۲]

ژباړه: که کفار د الٰهي قدرت يو دليل و ويني مخ څني اړوي نه يې مني او وايي دا سحر دی.

کفارو دلته هم دغه د نبوت لوی دليل نه و منی او نوريې هم کفر پر کفر زيات سو.

دغه مقاطعه او بنديز پسله درې کاله په دغه شکل سره پای ته ورسېدل، مګر دغه موده ډېر سخت او مشکل ژوند ؤ، درې کاله پرله پسې ټولو مسلمانانو او د دوی دوستانو يا طرفدارانو دغه لوږه او د وږو ماشومانو ژړاوي و زغملې.

مسلمانانو ولي او د څه شي دپاره دغه عذابونه او تکليفونه قبلول؟؟؟

ډېره مهمه پوښتنه ده په معقول او منصف جواب پسي يې ته وګرځه.

د رسول الله ﷺ ژوند په دغه ډول تېرېدی، قسم قِسم آزارونه، پرله پسې لوږې، سپکي او نا لايقي خبري، د ده ﷺ د اهل او متابعينو پرله پسې زهېرول او عذابونه ورکول، او بيا د دنيوي امورو لکه پيسې، آمريت او داسي نورو بشري خواهشاتو پېشنهادونه ورته وسوه، خو رسول الله ﷺ د دغو ټولو شيانو څخه هيڅ شي ته نه تسليم سوا و نه يې خپل دعوت پرېښاوه، دعوت کوي او پر هر قسم آزارو صبر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ابوطالب ته د قریشو آخرنی ډله

اوس چې رسول اللهﷺ د خپلو ټولو ملګرو سره د شِعَبِ أبي طالب څخه را ووتی پر هغه خپل پخواني قسم دعوت کوي، مګر قریش که څه هم بندیز او انحصار یې پای ته ورساوه خو بیا هم پر مسلمانانو هغه آزارونه او هغه دوی دي، خلک د الله جل جلاله دلاري څخه منعه کوي او ابوطالب پر هغه ډول د خپل وراره دفاع او ساتنه کوي مګر په دغه وخت کي د ابوطالب عمر تر اتیا کلو اوښتی ؤ، دغه لوی واقعات او غمونه چي د کلو راهیسي پرله پسې پر ده تېرېدل خاصتًا دغه بندیز او انحصار ډېر ضعیفه کړی ؤ، هغه پخوانۍ قوت او شدت یې نه ؤ پاته، د شِعب څخه د ده د را وتلو خو میاشتي لا نه وې تیري سوي چي ډېر سخت ناروغه سو.

دلته نو مشرکانو مشوره سره وکړه، ویل: حمزه او عمر مسلمانان سوه او د محمّدﷺ د دین خبري په ټولو عربو او قریشو کي نشر سوې که موږ د ابوطالب تر وفات وروسته د هغه وراره ته کوم ضرر او تاوان ور ورسوو ټول عرب به موږ ته پیغور را کوي چي اکا یې ژوندئ ؤ دوی څه نه سوای په کولای او اوس چي اکا یې وفات سو او هغه یې تنها ولیدی نو یې پر را واچول، اوس قریش غواړي چي د ابوطالب په حضور د رسول اللهﷺ سره خبري وکړي او څه هغه شیان ور سره و مني چي تر دې د مخه یې نه ورسره منل، نو د قریشو یوه ډله ابوطالب ته ورغله چي دا د قریشو آخرنی ډله ده چي ابوطالب ته ورځي او د ده د وراره په باره کي خبري ورسره کوي.

د قریشو ټول اشراف او مشران چي عُتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه، ابوجهل بن هشام، اُمَیه بن خلف، ابوسفیان بن حرب او نور پکښې وه، ټوله سره پنځه ویشت نفره ابوطالب ته ورغله او ویل: یا ابا طالب! ته په هغه خپل مقام او درجه پوهېږې چي په موږ کي یې لرې او تا ته اوس دغه ناروغي پېښه ده، موږ پر دې بېرېږو چي ته به زموږ له منځه ولاړ سې او په دې هم خبر یې چي زموږ او ستا د وراره په منځ کي اختلاف سته، نو اوس دي وراره را وغواړه زموږ له طرفه څه ده ته ورکړه او د ده له طرفه څه موږ ته راکړه، موږ به د ده څخه منعه سو او دئ به زموږ څخه منعه سي، موږ او زموږ دین دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره پرېږدي او موږ به دئ او د ده دين سره پرېږدو، ابوطالب و رسول الله ﷺ ته نفر ورولېږی او هغه هم راغلی، ابوطالب ورته و ويل: اې وراره! دغه نفر ستا د قوم اشراف دي سره يو ځای سوي دي غواړي چي څه درکړي او څه در څخه واخلي او بيا يې هغه نوري خبري ورته وکړې کومي چي قريشو ابوطالب ته کړي وې چي موږ به په ده کار نه لرو او دئ دي په موږ کار نه لري.

رسول الله ﷺ قريشو ته مخ ور واړاوه او ورته ويې ويل: څه فکر کوی؟ که زه يوه خبره دروښيم او تاسي هغه خبره وکړی په هغه سره به د عربو پاچهان وګرځی او عجم به سر درته کښته کړي.

په بل روايت کئ راغلي دي چي خپل اکا ابوطالب ته يې و ويل: اې اکا! دوی ويوه داسي کار ته نه را بولې چي هغه د دوی دپاره خير او بهتر وي؟ ابوطالب و ويل: څه شي ته يې را بولې؟ويل: زه يې يوې خبري ته را بولم چي د هغې په ويلو سره به عرب سر ور ته کښته کړي او د عجمو به مالکان وګرځي، قريشو چي دا خبره واورېدل چپ سوه او په حيرت کي سوه، نه پوهېږي چي څنګه د دغي يوې جملې د ويلو څخه چي هغه هم دومره فايده ولري انکار وکړي، وروسته ابوجهل و ويل: دا يوه خبره څه شي ده؟ موږ به دي لس خبري ومنو، رسول الله ﷺ و فرمايل: فقط دغه يوه کلمه و واياست (لا إلٰه إلاّ الله) او هغه چي تاسي يې عبادت کوی هغه پرېږدی، قريشو لاسونه سره وټکول او وې ويل: يا محمّد! ته غواړې چي دغه آلهه يو إله وګرځوې؟ ستا کارونه عجب دي، بيا نو ځينو و ځينو نورو ته و ويل: والله دا سړئ د هغو شيانو څخه چي تاسي يې غواړی هيڅ نه درکوي در ولاړسی او د خپلو پلرو دين مو ټينګ کړی، ترڅو چي الله ستاسي او د ده په منځ کي فيصله کوي او بيا نو قريش ولاړل.

د دغو کسانو په باره کي د سورة ص دغه آياتونه نازل سوه چي رب ﷻ فرمايي:

﴿وَعَجِبُوٓا۟ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ ۖ وَقَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝٤﴾.

ژباړه: او کفار د دې څخه تعجب کوي چي دوی ته بېرووونکی نبي د دوی له قومه راغلی دی او دغه کافران وايي چي دغه بېرووونکی نبي ساحر، درواغجن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿أَجَعَلَ ٱلْـَٔالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ﴿٥﴾﴾.

آیا ده دغه (۳٦٠) معبودان یو إله ګرځولی دی؟ دغه چي دئ وايي: دغه ډیر معبودان پریږدی او د یوه الله عبادت کوی یو ډیر عجب شئ یا کار دی چي مثل نه لري.

﴿وَٱنطَلَقَ ٱلْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ ٱمْشُوا۟ وَٱصْبِرُوا۟ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ يُرَادُ ﴿٦﴾﴾

او د دوی مشران په تلوار سره له دغه مجلسه څخه ولاړل چي یوه او بل ته یې سره ویل: درځی درځی، د دې ځایه ولاړېږی او د خپلو معبودانو پر عبادت صبر وکړی (ټینګ اوسی) بېشکه چي دغه شئ یعني: توحید خامخا یو شئ دی چي زموږ څخه یې إراده سوې ده، یعني: دئ غواړي چي د توحید په نامه سره موږ ټول د ځان تابع کړي.

﴿مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِى ٱلْمِلَّةِ ٱلْـَٔاخِرَةِ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا ٱخْتِلَٰقٌ ﴿٧﴾﴾.

دغه توحید او وحدانیت په وروستني (عیسوي) دین کي موږ نه دی اورېدلی، دغه توحید له خپله ځانه جوړ سوي درواغ دي او وروستني نور آیاتونه هم په دغه باره کي نازل سوي دي.

## عَامُ الحُزنِ - یا د غم کال

رسول اللهﷺ بیا هم د هغو آزارو اوتکالیفو سره سره توحید او الهي دین ته دعوت کوي ترڅو چي دوې لویې او ډیري مهمې واقعې پیښي سوې، داسي واقعې چي پر دعوت او د رسول اللهﷺ پر ژوند یې ډیر تاثیر وکړی.

**لومړئ**: د رسول اللهﷺ د مهربانه، خواخوږي او حمایه کوونکي اکا ابوطالب وفات.

**دوهم**: د رسول اللهﷺ د مهربانه او غم شریکي زوجې حضرت خدیجېؓ وفات، چي اوس به دغه دوې واقعې په تفصیل سره درته بیان سي.

د ابوطالب ناروغي نوره هم شدیده سوه ترڅو چي د وفات ورځ یې را ورسېدل، د ابوطالب وفات د بعثت د لسم کال د رجب په میاشت کي ؤ او شپږ میاشتي وروسته ترهغه وفات سو چي د قریشو له طرفه بندیز او انحصار پای ته ورسېدی او څوک وايي: د دغه کال د رمضان په میاشت کي وفات سو، هغه ابوطالب وفات سو چي د قریشو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د آزارو او تکاليفو څخه د رسول الله ﷺ ساتونکی او حمايه کوونکی ؤ، رسول الله ﷺ د ده په وفات ډير غمجن او ترانداز زيات خواشينی سو، ځکه ابوطالب هغه اکا ؤ چي رسول الله ﷺ يې کوچنئ لوی کړی ؤ او رسول الله ﷺ ته د عبدالمطلب تر وفات وروسته د پلار په درجه کي ؤ، د رسول الله ﷺ عمر اته کاله ؤ چي تربيه يې د ابوطالب پرغاړه سوه، سره د دې چي ابوطالب ايمان نه راوړی خو بيا هم د رسول الله ﷺ لوی مرسته کوونکی او حمايه کوونکی ؤ، موږ وليدل چي د مقاطعې په وخت کي يې څومره مرسته او فدا کاري وکړه، که نه يوازي مسلمانانو ته د دې مشکل سره مقابله کول ډيره سخته تماميده، که څه هم ابوطالب د رسول الله ﷺ پر دين نه ؤ مګر بيا هم د خپل وراره د مرستي او قوت عُمده مرکز دئ ؤ، کله چي ابوطالب ته مرګ حاضر سو او د زکندن په حالت کي ؤ رسول الله ﷺ ورته ناست ؤ، ابوجهل ته خبر ورغلی چي ابوطالب د مرګ په حالت کي دی نو دئ او عبدالله بن أبي اميه په تلوار ورغله د ورتګ اجازه يې وغوښتل، اجازه ورکول سوه، په ابوطالب کي روح پاته دی رسول الله ﷺ ورته ناست دی او ورته وايي اې اکا د (لا إله إلا الله) کلمه و وايه، فقط يوه کلمه! کولای سم چي د دغي کلمې په سبب د قيامت په ورځ ستا شفاعت وکړم.

ابوجهل ويل: يا ابا طالب! د عبدالمطلب له دينه اوړې؟ که دي دغه کلمه و ويل ستا اولادې ته به تر ابده پېغور ورکول کيږي، ابوجهل شيطان همېشه د اسلام مخ نيوی کوي او نه غواړي چي څوک مسلمان سي، رسول الله ﷺ کوښښ کاوه چي ابوطالب ايمان را وړي او ابوجهل پرله پسې منعه کاوه، ابوطالب متردِد او په شک کي دی چي د توحيد کلمه و وايي که يا؟ خو ابوجهل او عبدالله بن أبي اميه ورته جوړېدلي دي ترڅو د ابوطالب آخري خبره دا سوه چي ويل: علی ملة عبد المطلب، يعني: د عبدالمطلب پر دين يم او وفات سو، ايمان يې نه را وړی او په دغه بيا د رسول الله ﷺ غم نور هم ډېر سو ځکه اکا يې ايمان ته نژدې سوی ؤ مګر مسلمان نه سو، حال دا چي دئ تر ټولو خلکو و رسول الله ﷺ ته نژدې دوست ؤ او تر هر چا يې د رسول الله ﷺ دفاع زياته کړې وه، بيا نو رسول الله ﷺ و فرمايل: ترڅو چي منعه سوی نه يم د مغفرت طلب به درته کوم، يعني: که مي الله ﷻ منعه نه کړي زه به ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره عفوه او بخښنه غواړم، د دغه موضوع په باره کي الله جل جلاله فرمايي:

﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١١٣﴾ ﴾. [التوبه: ١١٣]

يعني: نبي او هغو کسانو ته چي ايمان يې راوړی دی نه ښايي او نه لائق دي چي د مشرکانو دپاره مغفرت و غواړي که څه هم دغه مشرکان د دوی سره خپلوي ولري (دا کار څه وخت نه دی ورته روا؟) وروسته تر هغه چي دوی ته ښکاره سي چي بې شکه دوی د دوږخ اهل دي (يعني پر کفر مړه سي).

*ورونو! کله چي مومنانو خپل ځانونه او مالونه پر الله جل جلاله خرڅ کړي دي، نو دا کار هم ورسره حتمي او ضروري دی چي خپل ځانونه بل د هر چا څخه را ټول کړي او يوازي يې خپل رب عزوجل ته وسپاري د (أعداءُ الله) سره يعني: د هغه چا سره چي د الله جل جلاله سره د هغو دښمني او دوږخي توب معلوم سوی وي خپله د دوستيو او مهربانيو سلسله وشکوي، که څه هم دغه د الله دښمنان د ده مور او خور، پلار او بادار، نيکه او انا، اکا او ترُبر او نور خاص خپلوان وي، ځکه هر هغه څوک چي د الله دښمن او له خپله ربه سرکښه وي هيڅکله د مومن دوست او خپل کېدلای نه سي، نو د هر هغه چا په باره کي چي دا سي معلومات حاصل سي چي په يقيني ډول سره دوږخي دی د دوی دپاره د بخښني او مغفرت غوښتنه منعه ده.*

اوس نو دغه د کفر او دوږخي توب معلومات که په وحيو سره وي، يا هغه څوک په ښکاره سره پر کفر او شرک مړ سي د دوی دپاره د بخښني او مغفرت غوښتنه منعه ده.

او بيا هم د دغه موضوع په باره کي د الله عزوجل دا قول نازل سو چي فرمايي:

﴿ إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿٥٦﴾ [القصص: ٥٦]

يعني: يا محمّد! ﷺ بېشکه ته هغه څوک پرسمه لار نه سې برابرولای چي ستا خوښ وي، بلکه الله عزوجل وهغه چا ته سمه لار ښيي چي د هغه د هدايت إراده وفرمايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاصه خبرتیا، یا تنبیه

د رسول الله ﷺ د والدینو په باره کې د اسلامي علماوو اقوال ډیر فرق سره لري، ځینو د دې دپاره چې د دوی ایمان او نجات ثابت کړي خاصي رسالې لیکلي دي او ځینو د حدیثو شرحه کوونکو محدثانه او متکلّمانه بحثونه کړي دي، خو د احتیاط او سلامتۍ ښه او غوره لار دا ده: چې په دغه مسئله کې څوک چپ پاته سي او په داسي دقیقو بحثو کې د څېړنو څخه ځان وساتي، د داسي مسائلو حقیقت یوازې الله ﷻ ته معلوم دی او هغه عادل رب په ښه ډول سره د ټولو موضوعاتو فیصله کوونکی دی.

د ابوطالب د ایمان په متعلق دغه لاندني معلومات په صحي احادیثو کې راغلي دي، امام بخاري د أبي سعید الخدري ﷺ څخه روایت کوي چې وایي:

یو وخت د رسول الله ﷺ اکا ابوطالب د ده ﷺ په حضور کې یاد کړل سو، رسول الله ﷺ و فرمایل: ښایي ده ته د قیامت په ورځ زما شفاعت دا نفعه ورسوي چې د اور په څنډه کې به وي، چې اور به یې تر بجلکو پوري رسیږي.

بیا هم په صحي حدیث کې راغلي دي چې حضرت عبّاس بن عبدالمطلب ﷺ و رسول الله ﷺ ته و ویل: اکا ته به دې څه فایده ورسیږي؟ هغه ستا ساتنه کول او ستا په سبب په قهرکېدی (مقصد یې ابوطالب ؤ) رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه د اور په څنډه کې دی، که زه نه وای د اور په هغه کښته طبقه کې به وای.

خو بیا هم په تکرار سره وایم: زیات تر دغه د ابوطالب پر کفر او ایمان بحث کول غیرِ ضروري موضوع ده، ښه به دا وي چې د داسي غیر ضروري او خطراتو ډکو موضوعاتو په باره کې څوک چپ پاته سي چې د کتي پر ځای تاوان ورته پېښ نه سي، ابوطالب هغه څوک ؤ چې د اسلامي دعوت او رسول الله ﷺ دپاره مظبوطه قلا وه، اسلام او مسلمانان یې د قریشو د مشرانو او ببیاکانو د تعارض څخه ساتلي وه.

ابوطالب خپل ټول قوت او شرف د دې دپاره استعمالول چې رسول الله ﷺ او د ده ملګري د مشرک قریشو د شر او آزارو څخه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حضرتِ خديجه رضي الله عنها وفات

د ابوطالب تر وفات دوې مياشتي يا په بل روايت درې ورځي وروسته اُم المؤمنين حضرت خديجةُ الكُبرى رضي الله عنها وفات سوه.

د دې د وفات په تاريخ کي دوه قوله دي، څوک وايي د ابوطالب تر وفات دوې مياشتي وروسته وفات سوه او څوک وايي درې ورځي وروسته وفات سوه، د دې رضي الله عنها وفات د بعثت د لسم کال د روژې په مياشت کي ؤ او په دغه وخت کي د دې رضي الله عنها عمر (٦٥) کاله ؤ او د رسول الله ﷺ عمر (۵۰) کاله ؤ، خديجه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ مهربانه او غم شريکه زوجه، د الله عزوجل د لويو نعمتو څخه يو نعمت ؤ چي رسول الله ﷺ ته يې ورکړې وه.

دا هغه زوجه وه چي تر هر چا و رسول الله ﷺ ته ډېره نژدې او قريبه وه، دا وه چي د رسول الله ﷺ د اولادو مور او روزونکې وه او پنځه ويشت کاله يې د رسول الله ﷺ سره ګډ ژوند وکړی، د ده ﷺ د پرېشانيو او خوابديو په وخت کي به پر ده ﷺ مهربانه وه، د ده د رسالت په دعوت او تبليغ کي يې د ده مرسته او کومک کاوه، د ده د تکاليفو په وخت کي د ده خواخوږې وه، دا اول هغه څوک وه چي ايمان او اسلام يې قبول کړي وه، دا وه چي د نبوت د اولي لحظې څخه يې د رسول الله ﷺ مرسته کول او د جهاد په ترخو ورځو کي يې اشتراک ور سره کاوه، کله چي رسول الله ﷺ ته وحيِ نازلي سوې د دنيا ټول کارونه يې پرېښوول او ځان يې يوازي او يوازي د دعوت دپاره فارغه کړی او دا کار هم د اُم المؤمنين خديجةُ الکبری رضي الله عنها په مرسته سره وسو، دا وه چي ورته ويل به يې: د ژوند مصاريف دي زما له مال او پيسو څخه پوره کوه، ته خپل ځان يوازي او يوازي دعوت ته فارغه کړه، دا وه چي خپل مال يې په دغه لار کي مصرفاوه، رسول الله ﷺ ته به يې ويل: د مال په باره کي هيڅ فکر مه کوه او د ده ﷺ مصرف هم د خديجې رضي الله عنها د ماله څخه ؤ.

مسلمانه او صالحه ښځه يا زوجه دغسي وي چي خپل خاوند د الله عزوجل لاري ته فارغه کوي حتّٰی مصرف يې هم پرخپله ذمه اخلي، داسي نه لکه د نن ورځي ځيني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې چې خاوند يې د خير په کار يا په مسجد کې لږ وځنډيږي د دې سترګي ورته کږې او له قهره ورته ډکه وي، حضرتِ خديجه رضي الله عنها خپل ګران او محبوب خاوند د الله عزوجل عبادت او دعوت ته فارغه کاوه، خپل مال او پيسې يې هم په دغه لار کې مصرفولې، د دعوت د وخت ترخه تکاليف او آزارونه يې هم په ورين تندي ور سره وړل، رسول الله ﷺ فرمايي:

« آمَنَتْ بِيْ حِيْنَ كَفَرَ بِيَ النَّاسُ»

کله چې خلکو زما څخه، يا زما پر نبوت انکار کاوه دې ايمان راباندې را وړی.

« وَصَدَّقَتْنِيْ حِيْنَ كَذَّبَنِيَ النّاسُ »

او هغه وخت يې زما تصديق وکړی چې خلکو درواغجن بللم.

« وأشْرَكَتْنِيْ فِي مَالِهَا حِيْنَ حَرَمَنِيَ النّاسُ »

او د دې په مال کې يې هغه وخت ګډ او شريک کړم چې خلکو محرومه کړم، يعني: خلکو څه نه را کول.

« وَ رَزَقَنِيَ اللهُ وَلَدَهَا وَ حَرَمَ وَلَد غَيرِهَا »

او الله عزوجل د دې څخه اولادونه را کړل، نه د نورو ازواجو څخه.

په هغه حديث شريف کې چې امام بخاري يې د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايتوي وايي چې جبريل عليه السلام و رسول الله ﷺ ته راغلی او ورته ويې ويل: يا رسولَ الله! دغه اوس خديجه تا ته را رهي ده او يو لوښی ور سره دی چې په هغه کې خواړه يا د څښلو شئ دی، کله چې درته راغله د دې د رب له طرفه سلام پر و وايه او په جنت کې په يوه قصر سره زېری ورکړه، داسې قصر چې د لؤلؤ د ملغلري څخه جوړ سوی وي او هلته به نه غالمغال، شخول او نه ښور ماښور وي او نه به ستړيا وي، د دغه حديث شريف په سبب دا رضي الله عنها يقيناً د اهلِ جنت څخه ده او د هغو کسانو څخه ده چې په جنت سره زېری ورکول سوی دی.

دغه دوې غمجنې حادثې د څو ورځو په جريان کې پرله پسې پيښې سوې چې د رسول الله ﷺ په زړه کې يې د غم او درد مشاعر وښورول او تر دغه وروسته پر ده ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ده د قوم له طرفه تکاليف او آزارونه پرله پسې سوه، د ابوطالب تر وفات وروسته قريشو پر ده ﷺ جرئت پيدا کړی او دئ ﷺ به يې په ښکاره سره آزاراوه او بد به يې ورته ويل، د دغو پيښو په سبب د رسول الله ﷺ پر غمو نور غمونه هم زيات سوه تر څو چي د قريشو د ايمان را وړلو څخه نا اميده سو.

ابن اسحاق په خپل سيرت کي وايي: کله چي د رسول الله ﷺ اکا ابوطالب وفات سو قريشو و رسول الله ﷺ ته هغه آزارونه ور رسول چي د ابوطالب په ژوند کي هيچا د هغه آزار فکر هم نه سوای کولای، حتّی د قريشو لڅکانو او بې باکانو تعارضونه پر کول، رسول الله ﷺ چي به پر لار رهي ؤ دغو لڅکانو به يې پر سر خاوري ور پاشلې، يوه ورځ يې يو چا پر سر خاوري ور وپاشلې رسول الله ﷺ خپل کور ته ننوتی او هغه خاوري يې پر سر پرتې وې، د لوڼو څخه يې يوه ور ولاړه سوه د رسول الله ﷺ سر يې ور پرېولی او ژړل يې چي دا څه حال دی، رسول الله ﷺ ورته وويل: لوري! مه ژاړه الله جلّ جلاله ستا پلار د خلکو څخه ساتي.

او رسول الله ﷺ به ويل: د قريشو څخه ما ته داسي تکليف نه دی را رسېدلی چي زه دي په ناراضه يم تر څو چي ابوطالب وفاتېدی، يعني: د ابوطالب تر وفاتَ د مخه ټول آزارونه او تکاليف عادي وه، خو واقعي آزارونه د ابوطالب تر وفات وروسته شروع سوه، څرنګه چي په دغه کال کي پر رسول الله ﷺ دغه غمونه او دردونه، آزارونه او تکاليف پرله پسې ورتله نو رسول الله ﷺ دغه کال د (عامُ الحُزُن) په نامه سره وباله، يعني: د غم کال.

او دغه کال د سيرت او تاريخ په کتابو کي په دغه نامه سره مشهوره سو.

دلته يوې تنبيه او خبرتيا ته ضرورت سته هغه دا چي: ځيني خلک به داسي فکر کوي: چي رسول الله ﷺ دغه کال د عام الحزن په نامه سره وباله د هغه علت فقط دا دی چي په دغه کال کي د رسول الله ﷺ اکا ابوطالب او زوجه حضرت خديجه رضي الله عنها وفات سوه او ډير خلک ښايي د دې دپاره چي پر خپلو مړه سوو اقرباوو د اوردې مو دې دپاره غم وکړي دغه خبره دليل وګرځوي، خو په حقيقت کي دا لويه خطاء ده، رسول الله ﷺ يوازي د خپل اکا او خپلي زوجې فراق او نيستي والي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دومره شدید نه ؤ غمجن کړی چي دغه کال دي د (عامُ الحُزن) په نامه سره وبولي.
بلکه د دې نامه سبب هغه حالات وه چي د دوی د وفات په سبب پېښ سوه، هغه دا چه د اسلامي دعوت ډېري دروازې د دهﷺ پر مخ وتړل سوې، د ابوطالب ساتني او حمايې د اسلامي دعوت دپاره ډېري دروازې خلاصي کړي وي او همدارنګه د اسلامي لار ښوونو او تعليم دپاره ډېري لاري موجودي وې رسول اللهﷺ د خپل اکا په وجود کي د هغه کار دپاره چي خپل رب په امر کړی ؤ ځيني کاميابۍ ليدلې، مګر د ابوطالب تر وفات وروسته دغه لاري او دروازې وتړل سوې، رسول اللهﷺ چي به د تبليغ دپاره هرڅه کوښښ وکړی او هر چيري چي به ولاړی د ده پر مخ لاري بندي وې، نه چا د دهﷺ دعوت ته غوږ نيوی او نه چا اسلام قبلاوه، بلکه ټولو خلکو يا ملنډي په وهلې يا يې آزار ورکاوه، رسول اللهﷺ دغه کار ډېر غمجن کړی ؤ چي هَغه وظيفه يې نه کړه آداء کومه چي الله عزوجل په مکلف کړی دی، نو له دغه سببه دغه کال ته (عامُ الحُزن) وويل سو.

## د اصحابِ کرامو
## د دومره صبر او ثباتَ سبب څه شي ؤ؟

د دغو آزارو او تکاليفو تر اوريدلو وروسته عاقل او هوښيارو خلکو ته دا سوال او پوښتنه پيدا کيږي چي د دغو آزارو په مقابل کي د مسلمانانو د دغه صبر او ثبات، د دغه تحمّل او مقاومت چي عقلونه ورته حيرانيږي سبب او باعث څه شي ؤ؟
مسلمانان څه شي د مقاومت دغي لوړي درجې ته و رسول؟ څنګه يې پر دغو آزارو او تکاليفو چي په اوريدلو سره يې وريښتان شخيږي او زړونه ريږدي صبر کاوه؟
د دغسي پوښتنو او سوالو په جواب کي غواړم چي لږ څه هغو عواملو او اسبابو ته اشاره وکړم چي انسان ته د دغه صبر او ثبات، زغم او مقاومت قدرت ورکوي.
۱ – د دغه ثبات او صبر دپاره اول او تر هر څه د مخه عُمده او اساسي سبب: پر يوه الله جل جلاله ايمان دی او په حقه سره د دغه الله پيژندل دي، ټينګ ايمان چي په زره نغوزي د غرو پر ډول ثبات او دروندوالی لري، د ټينګ ايمان او محکمه يقين پر خاوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دنیا تکالیف هر څومره ډیر لوی او سخت سي، هغه څوک دغه ټول مشاکل د خپل ایمان په مقابل کې داسې وینې لکه د نړووتکې سېل پر سر خاشې، هغه سېل چې لوی بندونه او لوړې قلاوې نړوي، د دغسې ایمان خاوند د خپل ایمان په خوږ واله کې، د خپل یقین په روښنایې کې، دغه دنیوي زحمتونه او تکلیفونه نه حسوي او نه یې پروا په کیږي، د دغه ذکر سوي اصلي او یواځني سببه څخه چې صادقه ایمان دی څو نور فرعي سببونه هم پیدا کیږي چې دغه ثبات او صبر نور هم تقویه کوي.

۲ - داسې قائد او قیادت چې زړونه وهغه ته میلان لري.

رسول الله ﷺ چې د اسلامي امت نه بلکه د ټول بشریت قائد اعلیٰ ؤ داسې ښایسته خویونه، د ځان پوره والی او ښه اخلاق یې درلودل چې زړونه ور جذبېدل او ځانونه تر قربانېدل، د کمال او پوره والې هغه خویونه پکښې موجود وه چې هیڅ بشر ته نه دي ورکول سوي، د شرف، خیر، فضیلت، عفت، امانت، صدق او ټول د خیر اوصاف داسې او دومره پکښې موجود وه چې دښمنانو یې په هغو کې شک نه درلودی، دوستان او ملګرې خو یې څه کوې،د ده ﷺ د خولې څخه هیڅ داسې جمله او کلمه نه را وتل چې د ټولو به د هغې پر رشتیا والي یقین نه ؤ، تاسې راسی چې د نمونې پر قسم د دښمنانو حالت و وینو او د هغو څه خبري واورو، چې څومره یې د رسول الله ﷺ پر رشتیا ویلو اعتماد او باور درلودی.

د قریشو د کفارو د مشرانو څخه درې نفره د شپې په پټه ورتله او د رسول الله ﷺ د کور د دېواله ترشا به یې د ده ﷺ قرآن ویلو ته غوږ نیوی او یو په بل نه وه خبر، د دغو درو نفرو څخه یو هم ابوجهل ؤ.

ترڅو چې دغه درې نفره په خپل منځ کې سره رسوا سوه، نو یوه نفر د ابوجهله څخه پوښتنه وکړه او ویل: د دغه په باره کې چې د محمّد ﷺ څخه دي واورېدل څه وایې؟ ده و ویل: څه مې واورېدل؟ موږ بني مخزوم *(چې د ابوجهل قوم او د قریشو یو ښاخ دی)* او د عبد مناف اولادې د شرف په حاصلولو کې سیالي سره کول، که دوی خلکو ته خواړه ورکول موږ هم خلکو ته خواړه ورکول، که دوی د خلکو سره کومکونه کول موږ هم کول، که دوی خلکو ته مالونه ورکول موږ هم ورکول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخو چي لکه هغه د مسابقې دوه آسان سره برابر او مساوي ؤ، خو دوی و ويل: په موږ کي نبي سته چي له آسمانه وحيې ورته راځي او موږ دغه ځای ته نه سو رسېدلای. نو په والله هيڅکله به نه ايمان پر را وړم او نه به يې تصديق وکړم.

تاسي پوه سواست چي قريشو د قوميت او ترېږ ګلوی له ضده ايمان نه را وړی، که نه د رسول الله ﷺ په صداقت او رشتيا ويلو کي يې شک نه درلودی، ابوجهل به و رسول الله ﷺ ته ويل: يا محمّد! موږ تا دروغجن نه بولو مګر هغه شيان دروغ بولو چي تا را وړي دي، په دغه باره کي د الله ﷻ دغه قول نازل سو چي فرمايي:

﴿فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾﴾. [الأنعام/٣٣]

يعني: دوی ستا تکذيب نه کوي، مګر دغه ظالمان د الله ﷻ د آياتو څخه انکار کوي.

يوه ورځ کفارو و رسول الله ﷺ ته د طواف کولو په وخت کي څو ځله بد و ويل خو په آخري ځل يا شوط کي رسول الله ﷺ ورته و ويل: «يا معشرَ القريش! جئتكم بالذّبح» اې د قريشو ډلي ستاسي د حلالولو دپاره راغلی يم، د دغه خبري د بيري څخه هغه څوک چي ډير يې دښمن ؤ په زاريو يې شروع وکړه، دا ولې؟ ځکه رسول الله ﷺ صادق الأمين ؤ، د کفارو او دښمنانو يې د ده پر هره خبره يقين ؤ.

کله چي رسول الله ﷺ پر سجده ؤ او کفارو د ده ﷺ پر سر هغه د اوښ د نس شيان ورکښېښوول او بيا يې دومره او داسي خندل چي ځانونه يې نه سوای ټينګولای، خو رسول الله ﷺ چي يوه ښرا ورته وکړه، يوازي دا نه چي د کفارو خندا ورکه سوه، بلکه پر تولو غم او پرېشاني ښکاره سوه او دا يې يقين سو چي دوی هلاکيږي او بيا هلاک هم سوه.

رسول الله ﷺ و عُتَيبه بن أبي لهب ته ښرا وکړه، د هغه همېشه دا يقين ؤ چي د رسول الله ﷺ د ښرا مطابق شئ به راته پېښيږي او کله چي يې په شام کي زمرئ وليدی نو يې و ويل: والله محمّد مړ کړم او دئ په مکه کي دی.

اُبئ بن خلف چي رسول الله ﷺ ته به يې په وژلو سره وعده ورکول او ورته ويل به يې چي زه دي وژنم، يوه ورځ رسول الله ﷺ ورته و ويل: بلکه زه تا وژنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



إن شاء الله، کله چي اُبئ د اُحُد په ورځ ډیر لږ زخمي سو، زموږ په اصطلاح (وګړل سو) اُبئ و ویل: محمّد ما ته په مکه کي ویلي وه: زه دي وژنم، والله که پر ما ناړي هم توف کړي مړ به مي کړي.

*(دغه قصه به د اُحُد په غزاء کي په تفصیل سره واورئ إن شاء الله تعالیٰ)*

**سعد بن معاذ ؓ مکې مکرمې ته راغلی ؤ او امیه بن خلف چي د سعد ؓ پخوانئ آشنای وو هغه ته یې و ویل: ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چي ویل** یې: مسلمانان ستا وژونکي دي، امیه بن خلف ډیر وبیریدی او د ځان سره یې دا عهد وکړی چي هیڅکله به د مکې څخه نه وزم، خوکله چي ابوجهل د بدر په ورځ ورته راغلی او ویل: ځان تیار کړه چي جنګ ته ځو نو ده په مکه مکرمه کي هغه تر تولو ښه اوښ رانیوی، دا د دې دپاره چي پر هغه وتښتي، ښځي یې ورته و ویل: یا ابا صفوان هغه خبره دي هېره سوه چي یثربي آشنای دي یعني (سعد بن معاذ) درته وکړه؟ امیه بن خلف و ویل یا والله نه مي ده هېره، زه نه غواړم چي د دوی سره ووزم.

دا د رسول الله ﷺ د دښمنانو او منکرانو حال ؤ، مګر ملګري او اصحاب یې؟ و هغو ته داسي ؤ لکه روح په بدن کي، د هغو په زړو او سترګو کي یې ځای نیولی ؤ، هغه صادقه محبت و ده ﷺ ته داسي ور پوري وهل لکه اوبه چي د لوړي څخه کښتي ته پوري وهل کیږي او زړونه یې ده ﷺ ته داسي ورکښېدل لکه اوسپنه چي مغناطیس، یا آهن رُبا ته ورکشیږي، د دغه حُب او محبت ښکاره اثر دا ؤ چي اصحابِ کرام په دې راضي وه چي د دوی غاړي و وهل سي او د رسول الله ﷺ دي یو نوک نه ګوزل کیږي او نه دي یو زوز په جګیږي، د مثال پرقسم دغه یوه قصه واورئ:

یوه ورځ مشرکان پر رسول الله ﷺ را تول سوه یوه د یوې خوا او بل د بلي خوا په سکانو او چپلا خو واهه، په دغه وخت کي یوه نفر ابوبکر الصدّیق ؓ ته ورناري کړه چي هله ملګري ته دي ځان ورسوه!

ابوبکر الصدّیق ؓ هم په تلوار سره هلته ورغلی یو یوه طرف ته پوري وهي او بل بل طرف ته ځو ځان یې رسول الله ﷺ ته ورساوه، مشرکانو رسول الله ﷺ پرېښاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پر ابوبکرالصدّیق رضي الله عنه یې را واچول، ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د کفارو له طرفه ډیر سخت و وهل سو، خلک پکښې غورځېدل، عتبه بن ربیعه ور نژدې سو د ابوبکر پرځیکر کښېنستی او خپله چوټه یې ورته ونیول پر مخ مخ یې په وهي، مخ یې تر داسې اندازې و پړسېدی چې پزه یې په مخ کي نه معلومېدل (د هغه وخت چوټي وې د مېخو ډکي او هره یوه یې دوه کیلووه) ترڅو چې ابوبکر رضي الله عنه بېهوښه او بې سده پروت ؤ، بیا نو بنو تیم چې د ابوبکر رضي الله عنه قبیله وه، ابوبکر رضي الله عنه یې په یوه پټو کي واخیستی او د ده رضي الله عنه کور ته یې یو وړی او د ده په مرګ کي چا شک نه درلودی، خو ده رضي الله عنه د ورځي په آخر کي خبري وکړې او اوله خبره یې دا وه: رسول الله ﷺ څنګه دی؟ حاضرو کسانو خبره واړول او بیا د ده رضي الله عنه مور ته چې أم الخیر ورته ویل کېده ور ولاړ سوه ویل: د خوړلو یا چښلو یو شئ ورکړه، مور چې یې ور ته راغله او ور سره یوازې سوه ابوبکرالصدّیق رضي الله عنه دغه وایې: رسول الله ﷺ څنګه دی او څه یې وکړه؟

موریې و ویل: والله ستا په صاحب او ملګري نه یم خبره، ابوبکر رضي الله عنه و ویل: و أم جمیل بنت الخطاب ته ورسه او د رسول الله ﷺ د حال پوښتنه څني وکړه، د ابوبکر رضي الله عنه مور أم جمیل ته ورغله او ویل: ابوبکر د محمّد بن عبدالله د حال پوښتنه در څخه کوي، أم جمیل و ویل: نه ابوبکر پیژنم نه محمّد بن عبدالله او که دي خوښه وي چې ستا زوی ته در سره ولاړه سم ولاړه به سم، ویل: هو راځه، أم جمیل (چې فاطمه بنت الخطاب ؛و د عمر رضي الله عنه خور ده او د اسلام قصه یې د مخه تېره سوه) د ابوبکر رضي الله عنه د مور سره ابوبکر رضي الله عنه ته ورغله، وې لیدل چې ابوبکر رضي الله عنه ټپي او زخمي پروت دی، دا ور نژدې سوه او په چغو سره یې ناري کړه: والله هغه قوم چې ستا سره یې دا کار کړی دی هغه د فسق او کفر اهل دي او زه امید لرم چې الله عزوجل به ستا بدله او انتقام د هغو څخه واخلي.

ابوبکر رضي الله عنه و ویل: د رسول الله ﷺ څه حال دی او څنګه دی؟

ام جمیل و ویل: دغه ستا موریې اوري.

ابوبکر رضي الله عنه و ویل: پروا نه لري دا زما مور ده.

ام جمیل ویل: هغه جوړ او روغ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل: هغه چيري دی؟

ويل: د ابن الأرقم په كوركي دی.

ابوبكر رضي الله عنه و ويل: والله نه به خواړه وخورم او نه به شئ وڅښم ترڅو چي رسول الله ﷺ ته نه يم ور رغلی.

هغو ويل: ته لږ وخت انتظار وکړه چي ته څه آرام سې او خلک كورو ته ولاړ سي، ام جميل وايي: پسله څه وخته څخه چي خلک كورو ته ولاړل ابوبكر رضي الله عنه مو په داسي حال كي له كوره را وايستی چي زموږ په منځ كي ؤ او پر موږ يې تكيه كول او رسول الله ﷺ ته مو ور وستی، دغسي د حُب اوفداء كارئ قصې به په دغه كتاب كي ډيري ووينی، خاصتاً هغه چي د اُحُد په ورځ او نوري پيښي سوي دي.

نو د دغسي محبوب رهبر او قائد دپاره به هم څوک قرباني نه قبلوي؟

۳ – د مسئوليت احساس، اصحابِ كرام پوره پوهېدل چي د بشر پر غاړه ډير لوی او عظيم مسئوليت پروت دی او دا ممكنه نه ده چي څوک دي له دغه مسئوليته په هيڅ حال كي ځان ګوښه او خلاص کړي، ځكه هغه خطرناكه عواقب چي د دغه مسئوليت څخه د تيښتي او بې پروايي په حالت كي پېښيږي تر دغه اوسنيو تكاليفو ډير لوی او ډير زيات ضررمن دي او هغه تاوان چي د مسئوليت د نه حسولو په حالت كي دوی او ټوله بشريت ته پېښيږي په هيڅ ډول د دغه اوسنيو تكاليفو او مشكلاتو سره نه سي قياسېدلای، نو ځكه يې دغه تكاليف اوآزارونه قبلول! نه د مسئوليت څخه تېښته.

۴ – ايمان پر آخرت، ايمان پر آخرت هغه شئ دی چي د مسئوليت احساس قوي كوي، د اصحاب كرامو دا پوره يقين ؤ چي دوی د الله جل جلاله په حضور كي دريږي او د دوی د اعمالو كه لږ وي كه ډېر، كه لوی وي كه كوچني، حساب ور سره كيږي او تر حساب وروسته يا به د جنت و همېشني نعمتو ته ځي، يا به د دوږخ په اوركي و همېشني عذاب ته، نو ځكه دوی خپل عمر د بيري او اميد په منځ كي تېراوه، د الله عزوجل د رحمت په اميد وه او د الله جل جلاله له عذابه بېرېدل. الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ﴿٦٠﴾﴾. [المؤمنون: ٦٠]

يعني: هغه كسان چي وركوي هر هغه شئ چي دوی وركړی دی (كه زكوٰة وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که خیرات) په داسي حال کي يې ورکوي چي د دوی زړونه د نه قبلېدلو څخه بېرېدونکي وي، چي بېشکه دوی خپل رب ته ورتلونکي دي.

او اصحاب کرام په دې پوهېدل چي دا دنیا د خپلو ټولو عذابو او نعمتو سره د آخرت په مقابل کي د غماشي د وزر قیمت او اهمیت نه لري، دغه پوهي او یقین پر دوی د دنیا مشقتونه او تکلیفونه دومره سپکول چي په دغو عذابو او آزارو يې هیڅ پروا نه کېدل.

۵ - قرآن مجید، په دغه سختو، قهرمنو او ترخو حالاتو کي د قرآن مجید داسي سورتونه او آیاتونه نازلېدل چي د اسلام پر مبادیو، اساس او بنسټ باندي حجت او دلائل وه او مسلمانانو ته يې هغه لار ښوونې کولې چي د هغو په عملي کولو سره په ټول عالم کي ډېره ښه بشري ټولنه جوړېدل، چي هغه اسلامي ټولنه وه او د مسلمانانو احساسات يې پر صبر او استقامت ټینګول او د دغه مقصد دپاره يې مثالونه او حکمتونه بیانول.

د مثال پر ډول الله عزوجل د سورة البقره په (۲۱۴) نمبر آیات کي فرمايي:

﴿أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ٢١٤﴾. [البقره:۲۱۴]

ژباړه: اې مومنانو! آیا تاسي ګمان کوی چي تاسي به جنت ته داخل سی او پر تاسي به د هغو کسانو په مثل سختۍ نه وي راغلي چي پخوا تېر سوي دي؟ پر هغو تکالیف او سختۍ راغلي وه، لوږه او مسکنت، آزارونه او تکلیفونه ورته پېښ وه، تر داسي اندازې چي هم به هغه د دوی رسول او هم به هغو کسانو چي د ده سره يې ایمان را وړی ؤ ویل: د الله نصرت به کله وي؟ الله جل جلاله د دوی په جواب کي فرمايي: خبر اوسی چي مومنانو ته د الله نصرت قریب او نژدې دی.

دا و مسلمانانو ته ارشاد ؤ چي آیا تاسي امید لری چي جنت ته داخل سی؟ حال دا چه هغه تکلیفونه او آزارونه چي پخوانیو امتو ته پېښ سوي دي تاسي ته به نه پېښېږي؟ او بیا هم الله جل جلاله فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ الٓمٓ ۝ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ۝ ﴾
[العنکبوت: ۱،۲]

آیا خلک داسې ګمان کوي چي دوی به پر دغه پرېښوول سي چي و وايي: (موږ ایمان را وړی دی) او دوی دي امتحان نه کړل سي؟.

﴿ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ۝ ﴾
[العنکبوت/۳]

په تحقیق موږ امتحان کړي دي هغه کسان چي تر دوی د مخه وه، پس خامخا به الله جل جلاله په علم ظاهري سره هغه کسان معلوم کړي چي په خپل ایمان کي صادقه دي او خامخا به هغه کسان په علم ظاهري سره معلوم کړي چي درواغجنان دي.

دغه قرآني آیاتو او مفاهیمو مسلمانان بل عالَم ته نقلول، د کون او کائناتو مشاهد یې په لیدل، د الله جل جلاله د ربوبیت جمال او د اُلوهیت کمال یې په لیدی، د الٰهي رحمت او مهربانیو آثار یې په لیدل، د جنت هغه نعمتونه یې ورته بیانول چي د هغو د حاصلولو دپاره هیڅ تکلیف! تکلیف نه معلومېدی، د دغو آیاتو په جریان کي مسلمانانو ته په الٰهي رحمت او نعمتو، په جنت او په الٰهي رضاء سره زیري ورکول کېدل او په عین وخت کي د دوی د ظالمو دښمنانو او سرکښه کفارو د محاکمې حالات بیانېدل، چي بیا پسله محاکمې څخه پړمخې د دوږخ اورته کشول کیږي او ورته ویل کیږي (ذُوقوا مَسَّ سقر) یعني: د دوږخ د عذابو خوند وګوری.

٦ – دکامیابۍ زیري، د دغو ټولو تکالیفو سره سره مسلمانان د اولي ورځي څخه بلکه د مخه تر دې چي اسلام ته داخل سي په دې پوهېدل چي اسلام ته داخلېدل دا معنٰی نه لري چي باید مشکلات او تکالیف یوسو، بلکه د اولي ورځي څخه د اسلامي دعوت هدف دا وُ چي ړوند جاهلیت او د هغه جاهلیت ظالم نظام له منځه یوسي.

مسلمانان پوهېدل چي د اسلام اساسي هدف دا دی: چي پر مځکه خپل نفوذ جاري کړي او په عالَم کي سیاسي نفوذ لاس ته را وړي، چي انساني اُمت او بشري ټولنه د الله جل جلاله د رضاء پر طرف رهي کړي او بندګان د بندګانو له بندګیه د الله جل جلاله بندګۍ ته ور وباسي او د قرآن مجید دغه دکامیابۍ زیري ځیني وختونه په پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library


صراحت او ځيني وختونه په کنايه سره مسلمانانو ته نازلېدل.

دغه د سختيو په ژوند او د آزارو په وختو کي چي مځکه پر مسلمانانو تنګه سوې وه او قريبه وه چي د دوی د ژوند ورځي پای او آخر ته ورسيږي، هغه آياتونه نازلېدل چي د پخوانيو انبياوو او د دوی د قومو حالات پکښي بيانېدل، داسي واقعات پکښي ذکر کېدل چي د مکې مکرمې د مسلمانانو او کفارو د حاله سره مطلق مطابق او يو شئ وه.

او بيا به په دغو آياتو کي د کفارو او ظالمانو د هلاک حالات بيانېدل او دا بيانېدل چي مځکه به بيرته د الله جل جلاله صالحه بندګانو ته په ميراث ورپاته سوه، نو په دغو قصو کي دې ته واضحه اشارې وې چي د مکې مکرمې کفار، په را تلونکي وخت کي ناکامه کيږي، مسلمانان او اسلامي دعوت کامیابه کيږي، بيا هم په دغو وختو کي داسي صريح آياتونه نازل سوه چي مسلمانانو ته يې د بري او غلبې زيري ورکول، لکه څرنګه چي الله جل جلاله په سورة الصّافات کي فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ ﴾.[الصافات: ۱۷۱]

يعني: پخوا لا زموږ د بندګانو رسولانو د پاره زموږ حکم صادر سوی دی.

﴿ إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ ﴾ [الصافات: ۱۷۲]

بېشکه چي د دوی سره مرسته او مدد سوی دی.

﴿ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿١٧٣﴾ ﴾ [الصافات: ۱۷۳]

او بېشکه زموږ لښکري کامیابه او پر کفارو بريالی دي.

﴿ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٤﴾ ﴾ [الصافات: ۱۷۴]

تر يوه وخته پوري ته له دويه مخ وګرځوه، يعني: څو ورځي لا دوی ته صبر وکړه څه مه ورته وايه.

﴿ وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٥﴾ ﴾ [الصافات: ۱۷۵]

ته څه موده دوی ته وګوره ژر ده چي دوی به خپل عاقبت او آخر کار وويني.

﴿ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٧٦﴾ ﴾ [الصافات: ۱۷٦]

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا دوی زموږ د عذاب د را تللو تلوار کوي؟

﴿ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنذَرِينَ ﴿١٧٧﴾ ﴾ [الصافات، ۱۷۷]

پس کله چې د دوی پر غولي او میدان عذاب نازل سي! بد به وي سهار یا ورځ د دغه بېرول سوو خلکو.

او بیا رب عزوجل په سورة القمر کي فرمایي:

﴿ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ ﴾. [القمر: ۴۵]

یعني: ژر ده چي د دغو کفارو ډله او ټولی به ماته سي او دوی به په جنګ کي مسلمانانو ته خپلې شا وي ورو ګرځوي، یعني ځغلي به او تښتي به.

همدارنګه رب عزوجل د هغه مهاجر مسلمانانو په باره کي چي حبشې ته يې هجرت کړی ؤ فرمایي:

﴿ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ ﴾. [النحل: ۴۱]

یعني: هغه کسان چي د الله جل جلاله په لارکي يې وروسته تر هغه چي ظلم پر وسو هجرت کړی دی، نو خامخا به موږ په دنیا کي دوی ته ښه ځای ورکړو او خامخا د آخرت اجر او ثواب ډیر لوی دی، که دغه مهاجرین په هغه خپل لوی اجر پوهېدلای.

د الله جل جلاله له طرفه دغه قسم زیري او بشارتونه و مسلمانانو ته خورا ډیر دي چي د هغو په را نقلولو سره د مضمون د اوږد والي خخه بېرېږم.

همدارنګه د رسول اللهﷺ له طرفه دغسي زیري یو او بل وخت و مسلمانانو ته ورکول کېده، کله چي به د حج موسم راغلی رسول اللهﷺ به د رسالت د تبلیغ او دعوت دپاره د خلکو په منځ کي و درېدی او یوازي په جنت سره پې زېری نه ورکاوه بلکه په پوره صراحت سره به يې ورته ویل: اې خلکو! (لا إله إلا الله) و وایاست چي له الهي عذابه خلاص سی او په دغه کلمه سره به د عربو پاچهان سی او عجم به مو اطاعت کوي او که مړه سواست په جنت کي به پاچهان یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه رنګه رسول الله ﷺ د قریشو و هغه آخرنۍ ډلي ته چي ابوطالب ته ورغله په صراحت سره و ویل: زه له دویه یوه جمله غواړم، دوی دي هغه قبوله کړي عرب به ورته تابع سي او د عجمو به پاچهان سي.

د رسول الله ﷺ دغه زیري او بشارتونه په پټه او پرده کي نه وه، بلکه لڅ او په ښکاره سره ویل کېده، لکه څرنګه چي مسلمانان په خبر وه دغه رنګه کفارو ته هم تر داسي اندازې ور معلوم وه چي د رسول الله ﷺ اصحابِ کرام به یې ولیدل د پسخند او ملنډو پر قسِم به یې و ویل: هغه دي د مځکي پاچهان راغله، ژر ده چي د کسرٰی او قیصر پر پاچهیو به کامیابه سي، بیا به یې شپېلکیان او چکچکي کړې.

نو د دغه په مقابل کي چي اصحاب کرامو ته په دنیا کي د روښانه مستقبل زیري ورکول کېدل او د هغو امیدو سره چي په آخرت کي به پر جنت کامیابه کیږي، اصحاب کرامو دغه پرله پسې عذابونه چي پر دوی اُورېدل او هغه مصائب چي له هره طرفه پر را ګرځېدلي وه، داسي بلل لکه د پسرلي اوریځ چي ډیر ژر به سره وپاشل سي.

پر دې ټولو سر بېره رسول الله ﷺ به همېشه د دوی اروحونه په ایمان ور تغذیه کول، د دوی ضمیر او وجدان یې د قرآن او حکمت په تعلیم سره ور پاکاوه او په سالمه تربیه سره یې تربیه کول، د دوی اروحونه یې لوړو منزلو او د زړو پاکۍ ته رهنمایي کول، د اخلاقو صفایي، د مادیاتو څخه آزادي یې ور ته بیانول، د شهواتو سره یې د مقاومت لاري چاري ور ښوولې، د مځکي او آسمانو رب ته یې نژدې کول، د جهل د تاریکیو څخه یې د معرفت نور ته ور وستل، د آزارو په مقابل کي یې صبر او د نفس مغلوبه کېدل ور ښوول، نو ځکه د دوی په علم کي رسوخ، د الله جل جلاله په لار کي فاني کېدل، و جنت ته شوق، حرص پر علم، فقهه په دین کي، محاسبة النفس، غلبه پر عواطفو، تقیُّد په صبر، هدوء او وقار زیات سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مکې مکرمې دریيمه مرحله
# یا تر مکې مکرمې دباندې دعوت

اوس نو د رسول اللهﷺ د بعثت او دعوت لس کاله کیږي او په دغو لسو کلو کي بېله اویا نفرو بل څوک اسلام ته نه دي داخل سوي، لس کاله قریشو ته دعوت او بلنه فقط اویا نفره مسلمانان سوي دي، هو! دغه اویا نفره بېله هغو مسلمانانو څخه وه چي په حبشه کي دي، دغه اویا نفره مسلمانان د رسول اللهﷺ ملګري او کومکیان په مکه مکرمه کي موجود دي، خو دغه اویا نفره د قریشو په مقابل کي بې وسه او کمزوري دي.

رسول اللهﷺ فکر وکړی چي خپل دعوت تر مکې مکرمې دباندي وباسي ځکه په مکه مکرمه کي په لسو کلو کي فقط دغه اویا نفرو او هغو نفرو چي په حبشه کي اوسیږي ایمان را وړی دی، خاصتاً د ابوطالب تر وفات وروسته پر رسول اللهﷺ د قریشو له طرفه آزارونه او عذابونه هم ډیر شدید او سخت سوه، تاسي خو هغه ټول آزارونه او عذابونه واورېدل چي پر رسول اللهﷺ تېرېدل، مګر پر دغه سر بېره رسول اللهﷺ فرمایي: قریشو آزار او تکلیف نه دی را رسولی په مثل د هغه آزار چي پسله وفاته د ابو طالب یې را رسولی دی، فکر وکړی: هغه د مخني ټول آزارونه او تکالیف د دغه آزار په مقابل کي چي پسله وفاته د ابوطالب و رسول اللهﷺ ته رسیږي هیڅ وه، دغو آزارو پسله وفاته د ابوطالب ولي او څنګه فرق وکړی؟ هغه داسي کله چي ابوطالب ژوندئ ؤ رسول اللهﷺ ته یوازي د قریشو مشرانو او سردارانو لکه: ابوجهل، مطعم بن عدي، عاص بن وائل، ابولهب، عتبه او داسي نورو آزار ور رسولای سوای بېله مشرانو بل چا د رسول اللهﷺ پر آزارولو جرئت او دلاوري نه سوای کولای، مګر د ابوطالب تر وفات وروسته د مکې مکرمې لچکانو، بیعقلانو او بېباکانو، د رسول اللهﷺ پر آزارولو جرئت او دلاوري پیدا کړه، کله چي به رسول اللهﷺ پرلار تېرېدی هغه کسان چي هیڅ قدر او شرف به یې نه درلودی، هغه لُچک او اوباش خلکو هم و رسول اللهﷺ ته آزار ورکاوه، پر سر به یې خاوري ورپاشلې، په رنګ او خاورو به یې ویشتی، دغه وخت نه د چا څخه بېره وه او نه د چا مراعت

(c) ketabton.com: The Digital Library


او احترام ؤ، ځکه هغه څوک وفات سو چې د رسول الله ﷺ ساتنه او د هغه دفاع یې کول، نو رنګارنګ نوي آزارونه شروع سوه. داسې نه پېښېدل چې رسول الله ﷺ دې پرلار رهي وي او څوک دې بد ورته و نه وایي، سپکې خبرې دې ورته و نه کړي، په پخوا کې یوازې د قریشو مشران وه چې آزارېې ور کاوه، مګر اوس هلکان او بې باکان هم سپک او بد ویل ورته کوي، څوک نسته چې د قوم له آزاره یې وساتي.

کله چې دغه آزارونه او تکالیف ډېر زیات او شدید سوه، رسول الله ﷺ له ځانه سره دا فیصله وکړه چې تر مکې مکرمې دباندې ووزي او په داسې ځا پسې وګرځي چې هغه یې مرسته وکړي، پسله فکره دې نتیجې ته ورسېدی چې ده ﷺ او مکې مکرمې ته هغه نژدې ښار طائف دی، نو یې د طائف د سفر فیصله او اراده وکړه چې هلته به د الله جل جلاله دین ته خلک را دعوت کړم.

## د طائف ته سفر

د بعثت د لسم کال او د شوال په میاشت کي چې د (۶۱۹) میلادي کال د مئ آخري او د جون اولي ورځي وې رسول الله ﷺ طائف ته پیاده او پرېښو رهي سو (*طائف د مکې مکرمې څخه شپېته میله لیرې دی*) په دې سفر کي د رسول الله ﷺ آزاد سوی مریئ زید بن حارثه رضی الله عنه چې په عربي کي (مولی) ورته وایي ور سره ملګری ؤ، په لار کي چې به پر هره قبیله ورغله هغه به یې اسلام ته دعوتول خو یوې قبیلې هم دغه د ده ﷺ دعوت نه کړی قبول، کله چې رسول الله ﷺ طائف ته ورسېدی هلته د طائف په شروع کي د طائف د مشرانو څخه درې نفره ناست وه چې نومونه یې: عبدیا لیل، مسعود او حبیب دي، درې سره ورونه او د عَمرو بن عُمَیر الثقفي زامن وه، رسول الله ﷺ اجازه وغوښتل چې خبرې ورسره وکړي، هغو ولیدل چې د مکې مکرمې د اشرافو څخه او د عبدالمطلب د اولادې څخه یو نفر دی ښه راغلی یې ور ته و وایه، رسول الله ﷺ ورسره کښېنستی د دین او اسلام خبري یې ورته شروع کړې، قرآن مجید یې ورته تلاوت کړی، خو په آخر کي د هغو درو نفرو څخه یو نفر ولاړ سو او ویل: الله جل جلاله بیله تا بل څوک نه کړی پیدا چې په رسالت یې را ولیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه بل و ویل: والله د کعبې پوښونه به څیري کړم خو پر تا به ایمان را نه وړم، (دکفارو په عقیده د کعبې شریفې د پوښو څیرل او غورځول ډېره لویه ګناه وه) نو ویل: دغه لویه ګناه به وکړم خو پر تا به ایمان را نه وړم.

او دریم نفر و ویل: زه هیڅکله خبرې نه درسره کوم. ځکه که ته د رشتیا رسول یې لکه څرنګه چې ته وایې نو ته ډېر خطرناکه یې، باید ستا جواب درنه کړم او که ته پر الله دروغ وایې نو ته د دې لائق نه یې چې خبري درسره وکړم.

رسول الله ﷺ و فرمایل: دا چې تاسي اسلام نه کړی قبول نو دغه حال در سره وساتی پرېږدی چې زه د بل چا سره خبري وکړم، هغو ویل: یا والله نه دي پرېږدو چې د بل چا سره هم خبري وکړې، نه راضي دي چې دوی خبري واوري او نه غواړي چې رسول الله ﷺ د بل چا سره خبري وکړي، نو دغه درې نفره تر رسول الله ﷺ د مخه د طائف و داخل ته ولاړل، هلته یې هلکان، مریان او لچکان سره را ټول کړه، دوه لېنه یا قطاره یې ځني جوړ کړه، کله چې رسول الله ﷺ دننه و طائف ته ورغلی غواړي چې خلک د الله جل جلاله دین ته دعوت کړي د هلکانو او بیباکانو هغه دوې ډلي په پسې سوې او په ډېرو یې ولي او د ډېرو ویشتل یا وارونه د رسول الله ﷺ پر پښو کوي، چې پښه پورته کړي هم یې ولي چې پښه کښېږدي هم یې ولي، تر داسي اندازې چې د رسول الله ﷺ تر مبارکو پښو ویني بهېدلې او زید بن حارثه رضی الله عنه به په خپل جسم او بدن سره رسول الله ﷺ د دغو ډېرو د ویشتلو څخه ساتی، خو د زید رضی الله عنه سر هم څو ځایه مات او زخمي سو او هغه هم په وینو لړلی ؤ.

ښه متوجه سی: دا چه زید بن حارثه رضی الله عنه په خپل جسم او ځان رسول الله ﷺ د کفارو د ډېرو ویشتلو څخه ساتي، خپل ځان یې د هغه ﷺ دپاره سپَر ګرځولی ؤ، تر داسي اندازې چې د ده سر هم څو ځایه زخمي کېږي او ویني تر را بهېږي، دا د هر مسلمان د حال نمونه ده، باید هر مسلمان په هره طریقه سره چې وي د اسلامي دعوت د قائد ساتنه وکړي، که څه هم دغه ساتنه د ده د حیات په قربانولو سره وي، اصحاب کرامو د رسول الله ﷺ سره چې د اسلامي دعوت قائد ؤ دغسي کول، که نن ورځ رسول الله ﷺ زموږ په منځ کي نه دی موجود او موږ یې داسي دفاع نه سو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولای لکه اصحاب کرامو چي کول خو دغه دفاع پر یوه بل قسم کېدلای سي، هغه دا چه موږ د اسلامي دعوت په لار کي عذابونه او تکالیف پرځان درانه و نه بولو. موږ هم باید پر خپلو ځانو د دعوت په لار کي څه ناڅه آزارونه او تکلیفونه قبول کړو، نو به مو په دې ډول د رسول اللهﷺ سره د آزارو په قبلولو کي حصه اخیستې وي.

*نو دا لازمه او ضروري ده چي هر چیري او په هر وخت کي باید د اسلامي دعوت دپاره قیادتونه او مشران موجود وي چي په دعوت کي د رسول اللهﷺ خلافت وکړي او پر مسلمانانو دا لازمه ده چي د دغه قائد پرشا وخوا مخلصه عسکر او لښکر وګرځي، خپل مالونه او قوت تر خپل قائد قربان کړي، لکه څرنګه چي مسلمانانو د رسول اللهﷺ سره کول.*

په طائف کي د رسول اللهﷺ دغه حال ؤ او دغه د ډېرو وارونه وه، دومره یې نه پرېښاوه چي د خلکو سره خبري وکړي، چا دغه پوښتنه هم نه ځني وکړه چي د څه شي دپاره راغلی یې؟ د مخه تر دې چي خلک پوه سي چي رسول اللهﷺ د څه شي دپاره راغلی دی، څه غواړي او څه وایي د ده په ویشتلو یې شروع وکړه، دا د طائف د خلکو له طرفه د رسول اللهﷺ استقبال ؤ، رسول اللهﷺ چي دا حال ولیدی چي چا د خبرو کولو اجازه هم ورنه کړه نو پوه سو چي دلته فایده نسته، بیرته په هغه زخمي پښو او هغه د ستړیا په حالت کي د مکې مکرمې و طرف ته رهي سو.

خو بیا هم هغه سُفَهاء او بېباکان، لڅکان او مریان په پسې دي او په ډېرو یې ولي ترخو رسول اللهﷺ او ملګری یې له طائفه و وتل، هلته په لار کي تر طائف درې میله دباندي د انګورو یو باغ یا باغچه وه، رسول اللهﷺ دغي باغچې ته ور وګرځېدی، دلته نو هغه هلکان او بېباکان ځني را وګرځېدل، رسول اللهﷺ په زخمي پښو او غمجن زړه د انګورو د یوه تاک و سایې ته کښېنستی او دېواله ته یې تکیه وکړه، او دلته یې هغه مشهوره دعاء وکړه کومه چي پردې دلالت کوي چي زړه یې د درد او غمه څخه ډک ؤ او پر دې یې حسرت ؤ چي یوه نفر هم ایمان رانه وړی او وې فرمایل:

«اَللّٰهُمَّ إِلَیکَ أَشْکُو ضُعْفَ قُوَّتِي، وَ قِلَّةَ حِیْلَتِي، وَهَوَانِي عَلَی النَّاسِ، یَا أَرحَمَ الرَّاحِمِینَ، أَنتَ رَبُّ الْمُسْتَضْعَفِینَ، وَأَنتَ رَبِّي، إِلَی مَن تَکِلُنِي؟ إِلَی بَعِیدٍ یَتَجَهَّمُنِي؟ أَم إِلَی

(c) ketabton.com: The Digital Library


عَدُوٍّ مَلَکْتَهُ أمري؟ إنْ لَمْ يَکُن بکَ عَلَيَّ غَضَبٌ فَلاَ أُبالي، ولکنْ عَافيَتُکَ هِيَ أَوسَعُ لِي، أعُوذُ بِنُورِ وَجْهِکَ الَّذي أشْرَقَتْ لَهُ الظُّلُمَات، وَصَلُحَ بِهِ أمرُ الدُّنيا والآخرَة، منْ أنْ يتنزَّلَ بِي غَضَبُکَ، أوْ يَحِلُّ عَلَيّ سَخَطُکَ، لَکَ العُتْبَى حتّى تَرْضَى، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاَّ بِکَ».

ژباړه: الٰهي! د خپل ضعف، د حیلې د لږ والي او پر خلکو زما د سپکوالي شکایت درته کوم، یا ارحمَ الرّاحمین! ته د ضعیفانو رب یې او زما رب یې، وچا ته مي پرېږدې؟ هغه لیري ته چي په تریو تندي را ته ګوري؟ او که دي دښمن ته زما اختیار ورکړی دی؟ که ته پرما په قهر نه یې زما پروا نسته، مګر ستا عافیت زما دپاره پراخه دی، ستا د مخ په هغه نور سره پناه غواړم چي تاریکۍ په روښانه کیږي، د دنیا او آخرت کارونه په اصلاح کیږي، پر ما ستا غضب مه نازلوې، ستا قهر ما ته مه راولې، الٰهي تر هغو زاری درته کوم چي راضي کېږې او بیله تا ما لره نه حول سته نه قوت.

رسول الله ﷺ دعاء کوي او دعاء، داسي دعاء چي د زړه سوز او سوځل پکښې وه، رسول الله ﷺ خواشیني او زهیر ؤ چي اسلام ولي دغه د ضعف په حالت کي پاته دی لس کاله د دعوت تېر سوي دي بیا هم اسلام ضعیفه دی، په طائف کي هم نه چا د ده ﷺ خبره واورېدل او نه چا د ده ﷺ دعوت قبول کړی.

دغه باغ د ربیعه د زامنو ؤ چي عُتبه او شَیبه نومېدل، دوی هم د قریشو د سردارانو څخه وه او په مکه مکرمه کي اوسېدل، په دغه وخت کي دوي هم دلته په دغه باغ کي موجود وه، عتبه او شیبه ولیدل چي د رسول الله ﷺ تر پښو وینې بهیږي ستړی او ستومانه دی زړه یې پر وسوځل سو ویل: وړی به هم وي، دوی یو مریئ درلودی چي په دین نصراني او نوم یې عَدّاس ؤ، هغه خپل نصراني مریئ یې را وغوښتی ویل: یا عدّاس! دغه انګور و محمّد ﷺ ته ور وړه، عدّاس انګور واخیستل او رسول الله ﷺ ته یې ور وړل، عُتبه او شیبه د لیري ورته ګوري، رسول الله ﷺ اول د عدّاس شکریه آداء کړه او بیا چي یې د انګورو په خوړلو شروع کول نو یې وویل: بسم الله، د خوړلو د شروع په وخت کي بسم الله ویل د عربو عادت نه ؤ، عدّاس په تعجب کي سو او رسول الله ﷺ ته یې وویل: دغه خبره چي ستا څخه مي واورېدل د دې ملک خلک دغه جمله نه وایي، رسول الله ﷺ پوه سو چي دا سړئ په زړه کي څه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لري نو يې پوښتنه ځني وکړه چې نوم دي څه دی؟ مريي وويل: عدّاس.
ويل: د کوم ځای يې او دين دي څه شي دی؟
مريي ويل: زه نصراني او د نينوا د اهله څخه يم (*نينوا د عراق د موصل په ښار کې د يوه کلي نوم دی*)
رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه صالح سړي يونس بن متي د وطن يې؟
عدّاس نور هم په تعجب کې سو، ځکه عرب نينوا نه پيژني او دا سړئ نينوا خو پيژني بلکه تاريخ يې هم ور معلوم دی حتّی يونس عليه السلام هم پيژني.
نو يې رسول الله ﷺ ته وويل: ته څوک يې چې يونس بن متي هم پيژنې؟
رسول الله ﷺ وويل: هغه زما ورور دی هغه نبي ؤ او زه هم نبي يم، عدّاس پوه سو چې د يوه عادي او معمولي سړي سره خبري نه کوي، عدّاس ور ولاړ سو د رسول الله ﷺ سر، لاسونه او پښې ور مچوي.
دلته و يوه شي ته متوجه سی: دا الٰهي تسلّی ده چې الله جل جلاله يې خپل رسول ﷺ ته ورکوي، دا هغه پښې نه دي چې د طائف خلکو په ډبرو ويشتلې؟
او اوس هغه پښې يو بل انسان مچوي.
عُتبه او شيبه د ليري ورته ګوري يوه هغه بل ته و ويل: موږ خواړه ور ولېږل او ده مريئ را خراب کړی، عدّاس چې بيرته دوی ته ورغلی دوی ورته و ويل: وَيحک څه درته پښه سوه چې لاس او پښې دي ور مچول؟ عدّاس و ويل: يا سيّدي! په مځکه کې تر دغه سړي بهتر څوک نسته، په داسي شي يې خبر کړم چې بېله نبي بل څوک نه دی په خبر، عتبه او شيبه و عدّاس ته و ويل: محمّد او د هغه خبري پرېږده والله ستا دين د محمّد تر دين ښه او بهتر دی، دوی غوښتل چې عدّاس هم له اسلامه ليري کړي.
خير رسول الله ﷺ په مات او غمجن زړه له دغه باغه د مکې مکرمې پر طرف رهي سو کله چې قرن المنازل ته ورسېدی (قرن المنازل د يو ځای نوم دی) الله جل جلاله جبريل عليه السلام ورته را ولېږی چې هغه پر غرو مقرره ملائکه هم ور سره ملګرې وه او د رسول الله ﷺ څخه يې امر او اجازه غوښتل چې پر اهل مکه دوه غرونه سره را جفت کړي او د مکې مکرمې خلک يې په منځ کې چختاڼ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام بخاري د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي چې دې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ويل: يا رسولَ الله! آيا د اُحُد تر ورځې بله سخته ورځ درباندې راغلې ده؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: ستا د قوم يعنې: عربو څخه هغه آزارونه را رسېدلي دي چې را رسېدلي دي او هغه سخت آزار چې له دويه ما ته را رسېدلی دی هغه په هغه ورځ ؤ چې ما خپل دين او رسالت پر عبدياليل عرض کړی او هغه زما د خوښې جواب را نه کړی او زه غمجن رهي سوم په ځان نه پوهېدم چې چيرې ځم، هغه وخت په ځان پوه سوم چې زه په قرن ثعالب کې وم (دغه قرن ثعالب ته اوس قرن منازل ويل کيږي) رسول الله ﷺ فرمايي: چې سر مې را پورته کړی يوه اوريځ وه چې سايه يې را باندې کړې وه، ما چې اوريځې ته وکتل په هغه کې جبريل عليه السلام ؤ او را بږغ يې کړه ويل: يا محمّد! الله عزوجل ستا د قوم هغه جواب واورېدی چې تا ته يې درکړی او هغه څه يې وليدل چې ستاسره يې وکړه اوس الله جل جلاله هغه پر غرو مقرره ملائکه تا ته را لېږلې ده د دوی په باره کې چې څرنګه ستا خوښه وي هغسې امر پر وکړه، بيا نو هغه پر غرو مقرره ملائکې را بږغ کړه اول يې سلام را ته و وايه او بيا يې را ته و ويل: يا محمّد! ﷺ زه دغه يم څرنګه چې ستا خوښه وي امر کوه که دي خوښه وي چې پر اهلِ مکه دوه غرونه جفت کړم جفت به يې کړم (د دوو غرو څخه مقصد يَو د أبي قُبيس غر ؤ او بل د هغه پر برابري غر دی چې قَعيقُعان ورته ويل کيږي او مکه مکرمه د دغو دوو غرو په منځ کې پرته ده) نو ملکې و ويل: که ستا خوښه وي د مکې ټول خلک به د دغو دوو غرو په منځ کې کښېکاږم (چختاڼ به يې کړم) رسول الله ﷺ و فرمايل: بلکه اميد لرم چې الله عزوجل د دوی له نسله داسې څوک را وباسي چې د يوه الله عزوجل عبادت کوي او هيڅ شريک نه ورته نيسي.

*د رسول الله ﷺ په دغه جواب کې د ده ﷺ لوړ شخصيت ځلېږي چې پر خپل امت يې څومره رحمت او شفقت درلودی، محمّد رسول الله ﷺ رؤف او رحيم پر خپل امت څومره مهربانه ؤ، نه يې غوښتل چې امت يې په الٰهي عذاب سره هلاک سي.*

د رسول الله ﷺ زړه په دغه الٰهي نصرت سره چې لوړ له آسمانه ورته راغلی مطمئن سو او بيا د مکې مکرمې پر طرف رهي سو ترڅو چې وادي نخله ته ورسېدی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او هلته یې څو ورځې تیرې کړې، په وادي نخله کې دوه ځایه دي چې د استوګنې وړ او لائق وه چې یوه ته (سَیل کبیر) ویل کیږي او بل ته (الزَیمه) ویل کیږي خو موږ ته دا معلومات نسته چې رسول اللهﷺ په کوم ځای کې اوسېدی، په دغه وخت کې چې رسول اللهﷺ دلته اوسېدی الله عزوجل د پېرانانو یوه ډله ورته را ولېږل چې د رسول اللهﷺ څخه قرآن مجید واوري او دغه د پېرانانو واقعه الله جل جلاله په قرآن کریم کې دوه ځایه ذکر کړې ده، الله جل جلاله په سورة الاحقاف په کې فرمایي:

﴿ وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓا۟ أَنصِتُوا۟ ۖ فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْا۟ إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ ﴾. [الأحقاف: ۲۹]

یعني: یا محمّد!ﷺ هغه وخت په یاد کړه! کوم چې موږ تا ته د پېرانانو یوه ټولې در وګرځول، یعني: درته را مو وستل چې قرآن مجید ته یې غوږ نیوی، کله چې دوی دغه د قرآن اورېدلو ته حاضر سوه دوی په خپل منځ کې سره وویل: چپ سی.

کله چې د قرآن مجید تلاوت پای ته ورسېدی دوی بیرته خپل قوم ته په داسي حال کې وګرځېدل او ولاړل چې خپل قوم یې له الٰهي عذابه بېراوه.

﴿ قَالُوا۟ يَـٰقَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتَـٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ ﴾.[الأحقاف: ۳۰]

دوی و ویل: اې زموږ قومه! بیشکه موږ داسي یو کتاب واورېدی چې تر موسیٰ علیه السلام وروسته نازل سوی دی او د پخوانیو کتابو تصدیق کوونکی دی، دغه کتاب حق دین او سمي لارې ته لارښوونه کوي.

﴿يَـٰقَوْمَنَآ أَجِيبُوا۟ دَاعِىَ ٱللَّهِ وَءَامِنُوا۟ بِهِۦ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾ ﴾. [الأحقاف: ۳۱]

اې زموږ قومه! د هغه چا خبره قبوله کړی چې د الله طرف ته مو بولي او پر هغه ایمان را وړی، چې الله به تاسي ته ستاسي ګنهونه در وبخښي او تاسي به له دردناکه عذابه څخه خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدارنګه د سورةُ الجن پنځلس اولني آیاتونه په دغه باره کي نازل سوي دي چي پېرانانو د رسول الله ﷺ څخه قرآن مجید واورېدی، الله جل جلاله فرمایي:

﴿قُلۡ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسۡتَمَعَ نَفَرٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡءَانًا عَجَبٗا ١﴾.

یعني: اې محمّده! ﷺ دوی ته و وایه: ما ته وحي راغلې: چي بیشکه زما د قرآن مجید ویل د پېرانانو یوې ډلې واورېدل، کله چي دوی هغه خپل نور قوم ته ورغله ورته ویې ویل: بېشکه موږ په فصاحت او بلاغت کي یو عجیب قرآن واورېدی.

﴿يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا ٢﴾.

داسي قرآن چي حق او ایمان ته لار ښوونه کوي نو موږ پر هغه قرآن ایمان راوړی او پسله ننه به بل هیڅوک د خپل رب سره شریک نه کړو.

﴿وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةٗ وَلَا وَلَدٗا ٣﴾.

او بېشکه چي زموږ د رب شان ډېر لوی او لوړ دی، الله عزوجل نه ښځه لري نه اولاد، لکه څرنګه چي د انسانانو او پېرانانو کفار او مشرکان داسي وايي.

قصه داسي وه: کله چي رسول الله ﷺ له طائفه په هغه شکل سره را و وتی چي نه څوک مسلمان سو او نه چا د ده ﷺ دعوت او خبري واورېدې، نو رسول الله ﷺ د شکه وتلی ډېر خواشیني، غمجن او نا امیده ؤ، چي ولي داسي پیښه ده؟ د اسلام او دعوت کار ولي مخ ته نه ځي؟ الله عزوجل دا إراده وکړه چي دغه غم او پرېشاني پر خپل حبیب محمّد مصطفٰی ﷺ سپک کړي چي ته مه خواشیني کېږه که انسانان ایمان نه را وړي هغه دي پېرانان ایمان راوړي او د آیاتو له تلاوته څخه دا معلومه او روښانه ده چي رسول الله ﷺ د دغو پېرانانو په راتګ او د قرآن مجید په اورېدلو او د هغو په ایمان راوړلو نه ؤ خبر بلکه الله عزوجل د وحیو په واسطه په دغه حال خبر کړی او د پېرانانو د را تللو سبب چي ولي پېرانان دلته و رسول الله ﷺ ته راغله داسي ؤ:

د رسول الله ﷺ تر بعثت د مخه پېرانان و آسمان ته ورنژدې کېدل او د ملائکو خبرو ته یې غوږ نیوی او د ملائکو ځیني خبري به یې اورېدلې، ملائکو به په خپل منځ کي ځیني الٰهي امرونه سره بیانول مثلاً ویل به یې: الله جل جلاله امر کړی دی چي فلاني

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته دي زوی ورکول سي یا د فلاني رزق دي لږ یا زیات سي، پیرانانو به دغه خبرې اورېدلې او بیا به یې دغه خبرې د جادوګرانو او کوډګرانو په واسطه په خلکو کې نشرولې، همدغه سبب ؤ چې همېشه به کوډګران او جادوګران پر خلکو او د هغو پر عقیدو مسلط وه، لکه څرنګه چې دغه موضوع په حدیث شریف کې هم ذکر سوې ده، چې جن به یو د بل پر اوږو سپرېدل او د آسمان خبرو ته به یې غوږ نیوی.

خو د وحیو او قرآن مجید په نزول سره دغه لار پر پېرانانو بنده سوه، د آسمان له طرفه به پېرانان د غوږ نیولو په وخت کې په اور سره ویشتل کېدل، الله جل جلاله د سورة الجن په (۸،۹) نمبر آیاتو کې فرمایي:

﴿ وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾ ﴾. [الجن، ۸]

پېرانان وایي: بیشکه موږ د ملائکو د خبرو د اورېدلو دپاره آسمان ته نژدې سوو، ومو لیدل چې آسمان په سختو پیره دارانو (ملائکو) ډک سوی ؤ او په سوځوونکو ستورو ډک ؤ.

﴿ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٔانَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾ ﴾

او بېشکه د مخه تر لېږلو د دغه پیغمبر موږ د خبرو د اورېدلو دپاره د کښېنستلو په ځایو کې کښېنستلو او هر هغه څوک چې اوس اورېدل غواړي د خپل ځان دپاره به سوځوونکې لمبه په انتظار کې و ویني، یعني: اوس چې موږ آسمان ته ور نژدې سوو، نو هلته مو ولیدل چې ډېرې سختې جنګې پیرې درېدلې دي چې هیڅ یو شیطان هم نه پرېږدي چې غیبي او آسماني خبرې واورې او هر هغه شیطان چې د اورېدلو اراده ولري پر هغه اور اورېږي او تر دې دمخه دومره سختې او ساتنه نه وه.

کله چې دغه د غوږ نیولو لار پر پېرانانو بنده سوه د پېرانانو مشرانو نور پېرانان امر کړه چې ولاړسی په مځکه کې وګرځی وګوری چې څه پیښه ده؟ خامخا یو شئ پېښ دی چې زموږ د اورېدلو لار بنده سوه، نو د پېرانانو یوه ډله دلته تېرېدل او وې لیدل چې رسول الله ﷺ قرآن مجید وایي، پېرانان پر را ټول سوه او غوږ یې ورته ونیوی او بیا خپل قوم ته ولاړل دغه حال او خپل اسلام یې ورته و وایه، لکه د دمخه تلاوت سوو آیاتو په ترجمه کې چې درته و ویل سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ ته د پېرانانو راتګ او د ده ﷺ څخه د قرآن مجيد اورېدل يو وار نه دي پېښ سوي بلكه په وروسته كې هم څو واره پېښ سوي دي.

يو وخت رسول الله ﷺ تر مكې مكرمې دباندې د عبادت كولو دپاره و وتی او عبدالله بن مسعود ﷺ هم ور سره ملګری ؤ، رسول الله ﷺ و عبدالله بن مسعود ﷺ ته و ويل: ته دلته كښينه او ترڅو زه درته و نه وايم له دغه ځايه مه ښوره، رسول الله ﷺ لږ ګوښه ولاړی او عبدالله بن مسعود ﷺ يې له دغه ځايه څارنه او مراقبت كوي، رسول الله ﷺ هلته ليرې پر لمانځه و درېدی او قرآن مجيد په لوړ آواز وايي، په دغه وخت كې د پېرانانو يوه ډله ورته راغله، عبدالله بن مسعود ﷺ هلته ناست دی او ورته ګوري، دیٔ وايي: داسي خلک مې وليدل چې تېره او اوږده سرونه يې وه، زه پر رسول الله ﷺ وبېرېدم او ور ولاړ سوم، خو رسول الله ﷺ اشاره را ته وكړه چې كښېنه، زه هم كښېنستم او دوی پر را تېول دي، پېرانان نور هم پسې ډېرېدل، دومره ډېر سوه چې رسول الله ﷺ نه ښكښي معلومېدی. الله ﷻ فرمايي:

﴿وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا۟ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾﴾. [جن:١٩]

يعني: كله چې د الله بنده محمّد ﷺ لمانځه ته ودرېدی چې دغه الله يې باله، نژدې وه چې دغه پېرانان له ډېره ازدحامه پرده ﷺ سر پر سر سره لوېدل.

﴿قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا۟ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٠﴾﴾.

اې محمّده! ﷺ دوی ته و وايه: په تحقيق زه د خپل رب عبادت كوم او د الله سره بل هيڅوک نه شريكوم. *پېرانانو ايمان را وړی او مسلمانان سوه.*

پېرانان ولي كفار وه؟ جن يا پېرانان ډېر بيعقلان دي عقل يې دومره نه دی لكه د انسان، ويل كيږي چې د پېرانانو هغه ډېر ذكي او هوښيار دومره عقل لري لكه د انسانانو كوچنیٔ هلک، عقلونه يې د ماشومانو دي ذكاوت او هوښياري نه لري، صرف ابليس عليه لعنه په دوی كې هوښيار او ذكي دی او هغه ملعون دوی د لاري واړول، هغه به ورته ويل: د الله ﷻ سره د نورو آلهه وو عبادت هم كوی، مشركان يې ځني جوړ كړل، خو كله چې په حق خبر سوه ايمان يې را وړی، الله ﷻ د دوی قول را ته بيانوي او فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا ۝٤﴾.

او پېرانانو خپل قوم ته و ویل: بیشکه زموږ ناپوه (ابلیس) پر الله جل جلاله لویي او د حقه لیري خبري کولې.

کله چي بیا پېرانانو ته و ویل سوه چي تاسي ولي د هغه خبري منلې؟ دوی وایي:

﴿وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ۝٥﴾.

او بیشکه موږ دا ګمان کاوه چي هیڅکله به انسانان او پېرانان پر الله جل جلاله درواغ نه وایي، ځرنګه چي پېرانان کم عقله دي دا خیال یې نه کاوه چي پر الله عزوجل دي څوک درواغ و وایي او د ابلیس علیه لعنه خبره یې ومنل، کله چي دوی ته و ویل سوه چي د الله جل جلاله سره نور آلهه هم سته، دوی د هغه خپلي کم عقلۍ په سبب دغه خبره و منل او دغو پېرانانو د کفارو او کوډګرانو سره د هغو په ځینو کاروکي مرسته او کومک کاوه او کوډګرانو هم د دوی څخه مرسته غوښتل، الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ۝٦﴾.

او بېشکه چي د انسانانو څخه ډیر سړي وه چي مرسته او پناه به یې د پېرانانو په سړو سره غوښتل، نو دغو انسانانو د دغو پېرانانو سرکښي نوره هم ور زیاته کړل.

د جن او د هغو د کارو په متعلق ډیر آیاتونه سته، مقصد دا چه په دغه وخت کي د قرآن مجید د اورېدلو په سبب ډیرو پېرانانو ایمان راوړی او مسلمانان سوه، پېرانان وایي:

﴿وَأَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا ٱلْهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦ﴾.

او بېشکه کله چي موږ د قرآن مجید هدایت او لار ښووني واورېدې موږ پر هغه ایمان را وړی او بیا وایي:

﴿وَأَنَّا مِنَّا ٱلْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا ٱلْقَٰسِطُونَ﴾

او بېشکه زموږ څخه ځیني مسلمانان دي او زموږ څخه ځیني د حقي لاري څخه په کفر سره اوښتي دي، کله چي دغو پېرانانو ایمان را وړی نو یې په خپل قوم کي په دعوت کولو شروع وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس نو که څه هم په انسانانو کي اسلام لږ ؤ مګر په جن کي نشرېږي او پېرانان و اسلام ته داخلېږي، دا هم د الله جل جلاله إراده وه چي پر خپل محبوب رسول الله ﷺ دغه غم او پریشاني کمه او لږ کړي، ځکه رسول الله ﷺ د طائف تر سفر وروسته د انسانانو د اسلام را وړلو څخه تقریباً نا امیده سوی ؤ مګر په جن کي اسلام نشر سو چي دا و رسول الله ﷺ ته اشاره وه چي ته مه غمجن کېږه، که انسانان نه وي دغه دي پېرانان ایمان را وړي، او حقیقتاً هم اسلام په جن کي نشرېدی، دا د الله جل جلاله پر خپل رسول ﷺ رحمت ؤ چي هغه غم پر سپک کړي، رسول الله ﷺ چي به د یو چا د مسلمانېدلو دپاره هر څه کوښښ وکړی هغو به رَداوه، لکه د مکې مکرمې قریش او بیا تر هغو وروسته اهلِ طائف، طبعاً په دغسي حال کي پسله څه وختته انسان ته نا امیدي پیدا کیږي، لس کاله د دعوت کیږي مګر په مکه مکرمه کي تر اویا نفره زیات مسلمانان نسته، رسول الله ﷺ غمجن ؤ او د دې څخه یې بېره وه چي د دعوت په کار کي زما له طرفه کومه کوتاهي نه وي سوې، نو ځکه الله جل جلاله دغه غم پر خپل حبیب سپک کړی او په حقه سره دغه واقعه او حادثه د رسول الله ﷺ دپاره نصرت ؤ چي له غیبه ورته راغلی.

اوس نو په دغه نصرت او دغه زیري سره د رسول الله ﷺ څخه هغه د غم او نا امیدۍ توري اوریځي کومي چي د طائف له سفره څخه د ده ﷺ سره ملګري وې ایسته سوې او بیرته یې د مکې مکرمې د تګ عزم او قصد وکړی چي هلته به په نوي شوق او کوښښ پر خلکو اسلام عرضوم او الٰهي رسالت به خلکو ته رسوم.

په دغه وخت کي زید بن حارثه رضي الله عنه ورته و ویل: یا رسولَ الله! څنګه بیرته قریشو ته ورځې او هغو ته د مکې کرمې څخه وایستلې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: یا زید! الله جل جلاله د دغه مشکلاتو او تکالیفو څخه د خلاصېدلو لار پیدا کوي او الله عزوجل د خپل دین ناصر او د خپل نبي کامیابه کوونکی دی.

اوس رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته نژدې سو خو دا تشویش ور سره دی که چیري مکې مکرمې ته ولاړ سي هلته که هر څوک و غواړي چي ده ﷺ ته آزار ورکړي ورکولای یې سي او د ده ﷺ د دفاع دپاره څوک نسته، د څه وخت دپاره په غار حراء کي کښېنستی او بیا یې د خُزاعه د قبیلې یو نفر و أخنَس بن شُریق ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ور ولېږي چې د هغه شخصه د رسول الله ﷺ دپاره جِوار و غواړي، د جوار تفصيل خو مو مخ کي درته کړی دی (جِوار) يعني: پناه او ساتنه او دا جوار به هغه چا غوښتی چي قوم به يې نه درلودی ضعيفه او بېکسه به ؤ، نو به يې د يوه قوي نفره شخصه جوار غوښتی او بيا به يې د هغه په ساتنه کي ژوند کاوه، که دغه جوار نه وای قانون د ځنګله ؤ، هر زورور به کمزوری خوړی، رسول الله ﷺ قوم لري خو هغه خپل قوم تکليف او آزار ورکوي او هغه د ده ﷺ شخصه چي يې دفاع کول د ده اکا ابوطالب هم وفات سوی دی، نو ځکه اوس د بل چا شخصه جِوار غواړي، ځکه که د يوه قوي سړي جوار نه وي هر رذيل، اوباش او لچک و ده ﷺ ته اهانت او سپکتيا ور رسولای سي، نو يې د اخنس بن شُريق شخصه جوار وغوښتی، مګر اخنس و ويل: زه د قريشو په مقابل کي چا ته جوار نه سم ور کولای چي دا په حقيقت کي د رسول الله ﷺ د غوښتني ردول او نه منل وه.

رسول الله ﷺ بيا فکر وهي چي د قريشو د سردارانو شخصه به څوک ده ته جوار ورکړي؟ نو يې سُهيل بن عَمرو ته نفر ولېږی (سهيل هغه څوک دی چي په وروسته کي يې د حديبيې صلحه و ليکل) او د مکې مکرمې د سردارانو شخصه دی، رسول الله ﷺ د دغه سهيل شخصه جِوار وغوښتې، سهيل و ويل: زه د بني عامر شخصه يم او بني عامر پر بني کعب جوار نه ورکوي، د سهيل له طرفه هم د رَد او منفي جواب راغلی.

رسول الله ﷺ فکر کوي چي څوک به ما ته جِوار راکړي بيا يې مُطعم بن عدي ته نفر ولېږی، که څه هم دغه مطعم د اسلام ډېر شديد دښمن ؤ مګر بيا هم د شرف او عزتْ موضوع ده ته ډېر اهميت درلودی، کله چي ده ته و ويل سوه چي رسول الله ﷺ ستا شخصه جوار غواړي، دئ هم موافق سو ويل: قبوله مي ده، رسول الله ﷺ ته يې حال ولېږی چي هو ته زما په جوار کي يې ساتم دي او بيا يې خپل قوم او زامن را وغوښتل ويل: اسلحه مو در واخلی او د کعبې شريفي پر کنجانو ودرېږی ما محمّد ﷺ ته جوار ورکړی دی، بيا يې رسول الله ﷺ ته نفر ولېږی چي مکې مکرمې ته داخل سه، رسول الله ﷺ هم د زيد بن حارثه رضی الله عنه سره مکې مکرمې ته داخل سو ترڅو چي مسجد الحرام ته ورسېدی، مطعم بن عدي پرخپل بوده

(c) ketabton.com: The Digital Library


سپور ؤ او په لوړ آوازيې رغ کړه: يا معشرَ القريش! ما محمّد ته جوار ورکړی دی، نه غواړم چي څوک تېرئ او تجاوز پر وکړي.

رسول الله ﷺ حجرِاسود ته ورغلی هغه يې مسحه کړی طواف يې وکړی او دوه رکعاته لمونځ يې آداء کړی بيا خپل کورته رهي سو، مطعم بن عدي او د ده زامن په اسلحه مسلح په پسې دي ترڅو چي رسول الله ﷺ کور ته ننوتی، په دغه وخت کي ابوجهل د مطعم بن عدي څخه پوښتنه وکړه ويل: ته د محمّد ﷺ تابع يې که مجير؟ غواړي چي ځان ته معلومات وکړي چي تابع يې يعني: مسلمان سوی يې او که دي جِوار ورکړی دی؟ مطعم بن عدي و ويل: جوار مي ورکړی دی، ابوجهل ملعون و ويل: که دي ويلي وای چي تابع يې يم په والله دغه اوس په جنګ در سره درېدلو، مګر دا چه جِوار دي ورکړی دی دا ستا کار دی.

تر دې وروسته رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کي د مطعم بن عدي په جِوار کي ژوند کاوه او د رسول الله ﷺ د مطعم دغه نيکي همېشه په ياد وه، د بدر په ورځ دکفارو د بنديانو په باره کي رسول الله ﷺ و فرمايل: که مطعم بن عدي ژوندئ وای اود دغو بنديانو د ايله کولو غوښتنه يې راڅخه کړې وای ما به ده ته ورپرې ايښي وای.

مګر د اسلام او دعوت کار ډېر ضعيفه دی په مکه مکرمه کي هيڅوک دعوت نه قبلوي، رسول الله ﷺ فکر کوي چي تر مکې مکرمې دباندي يو څوک پيدا کړي چي د اسلام د قوت دپاره د ده مرسته او ملګرتيا وکړي او دغه مرسته کوونکی که هر قوم، هره قبيله او هر چيري وي مهمه نه ده، رسول الله ﷺ حاضر دی چي مکه مکرمه پرېږدي او هغو ته ورسي.

## پر قبائلو او افرادو د اسلام عرضول

د هجرت د لسم کال د ذوالقعدې په مياشت کي چي د (۶۱۹) ميلادي کال د جون آخري او د جولای اولي ورځې وې، رسول الله ﷺ له طائفه مکې مکرمې ته راغلی غواړي چي بيا په نوي شوق او ټينګ عزم قبائل او أفراد و اسلام ته دعوت کړي، په دغه وخت کي د حج موسم هم ډېر نژدې ؤ چي خلک له هره ځايه د حج

(c) ketabton.com: The Digital Library


د آداء کولو دپاره مکې مکرمې ته په ډلو ډلو راتله، رسول الله ﷺ دغه موقع او فرصت د ځان دپاره غنیمت وباله او هري قبیلې ته جلا جلا ورتلی او اسلام یې د هغې قبیلې پر افرادو عرضاوه او خلک یې اسلام او وحدانیت ته رابلل، دا اول کال نه دی چي رسول الله ﷺ پر قبائلو اسلام عرضوي بلکه دغه د حج په موسم کي و اسلام ته د قبائلو دعوت د بعثت او نبوت د څلورم کال څخه شروع ؤ.

## هغه قبائل چي رسول الله ﷺ اسلام پر عرض کړی دی

زُهري رحمه الله وایي: هغه قبیلې چي رسول الله ﷺ اسلام پر عرض کړی دی او موږ ته یې نومونه رایاد سوي دي داسي دي: بنو عامر بن صعصعه، محارب بن خصفه، فزاره، غسان، مُرّه، حنیفه، سُلَیم، عَبس، بنو نصر، بنو البکاء، کِنده، کلب، حارث بن کعب، عَذَره، حضارمه، خو په دوی ټولو کي یوې قبیلې هم اسلام نه دی قبول کړی.

او دغه قبیلې چي زُهري رحمه الله یې نومونه یاد کړي دي پر دوی د اسلام عرضول نه په یوه کال کي وه او نه د حج په یوه موسم کي وه بلکه دغه د اسلام عرضول د بعثت د څلورم کال څخه بیا د هغه حج تر آخري موسمه پوري وه چي تر هجرت د مخه ؤ او دا هم نه سو تعینولای چي په کوم موسم کي یې پر کومو قبیلو اسلام عرض کړی دی، کله چي به د حج موسم شروع سو او د شا و خوا څخه به د عربو قبیلې د حج د آداء کولو دپاره مکې مکرمې ته ورتلې رسول الله ﷺ به پر دغو قبیلو ګرځېدی د یوې قبیلې څخه به بلي ته ورتلی او اسلام ته به یې دعوتول، یو صحابي چي د انصارو څخه دی هغه روایت کوي، که څه هم په هغه وخت کي پر هغه خپل کفر او شرک ؤ هغه وایي: د حج په موسم کي مي رسول الله ﷺ ولیدی چي د یوې قبیلې څخه به بلي قبیلې ته ورتلی او اسلام به یې پر عرضاوه خو تر شا یو نفر په پسې ؤ (د هغه نفر علامې بیانوې او وایي) هغه نفر سپین پوستی سړئ ؤ، دوې کوڅې یې درلودې، په سترګو چپک ؤ، کله چي به رسول الله ﷺ د دعوت د خبرو څخه فارغه سو نو به

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه سړئ ولاړ سو او و به یې ویل: پام کوی چي د ده خبري و نه منی دئ درواغجن او له دینه اوښتی دی مور د ده قوم یو او تر هر چا د ده په حال خبر یو، نور به یې هم له دغه قسمه خبري وکړې، رسول الله ﷺ به هیڅ نه ورته ویل، نه به یې منعه کاوه نه به یې شړی، نه به یې نور بحث ور سره کاوه چي ته ولي را پسې یې؟

د قصې راوي وایي: ما پوښتنه وکړه چي دغه نفرخوک دی چي په رسول الله ﷺ پسې دی؟ ویل: دا یې اکا ابولهب دی، هغه چي د اسلامه څخه یې د خلکو په منعه کولو کي تخصص درلودی، د موسم په وخت کي یې ځان نه په تجارت او نه د دنیا په نورو کارو مشغوله کاوه بلکه خپل ځان او خپل وخت یې د دغه دپاره وقف کړي وه چي خلک له اسلامه منعه کړي او پر دې سربېره به رسول الله ﷺ نه څه ورته ویل او نه یې منعه کاوه.

اوس به په مختصر ډول سره د رسول الله ﷺ له طرفه پر ځینو قبیلو د اسلام عرضول او د قبیلو له طرفه د هغو رَد یا جواب درته بیان سي:

۱ – رسول الله ﷺ د بني کلب د قبیلې و یوه ښاخ ته ورغلی چي بنو عبدِالله ورته ویل کېده او ورته وې فرمایل: یا بني عبدِ الله! الله جل جلاله ستاسي د نیکه نوم ښه نوم ایښی دی اسلام او د الله وحدانیت قبول کړی، خو هغو بد بختانو دغه دعوت او بلنه نه کړه قبول.

۲– رسول الله ﷺ د بنو حنیفه د قبیلې و خېمو ته ورغلی او اسلام یې پر عرض کړی، خود عربو په ټولو قبیلو کي د یوې جواب دومره بد او ناوړه جواب نه وُلکه د دوی.

۳– رسول الله ﷺ د بني عامر بن صعصعه قبیلې ته چي یوه ډله یې د حج دپاره راغلې وه ورغلی، پوښتنه یې وکړه چي د دې قبیلې مشر او سردار څوک دی؟ خلکو وویل: ضَیحه ذو فِراس بن صعصع یې مشر دی، رسول الله ﷺ و ویل: زه غواړم چي ور سره و وینم.

رسول الله ﷺ د هغه سره کښېنستی اسلام او د هغه احکام یې ورته بیان کړه، کلام الله یې ورته تلاوت کړی، سړي چي د کلام الله معجز بیان واورېدی ډیر تر تاثیر لاندي سو نو ویل: ته لږ انتظار وکړه، ضیحه ولاړ سو خپل قوم یې سره راټول کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ویل: یا قوم! ما ته یو سړی راغلی او داسي کلام یې راته و وایه چي ما په ټول عمر نه دی اوریدلی (دا د کلام الله اعجاز دی، الهي کلام معجز او بې مثله دی) ضیحه و ویل: قسم په الله دغه سړئ به د دغه کلام په واسطه پر ټولو عربو غالبه او حاکم سي، قوم ویل: نو څه إراده لرې؟ ضیحه ویل: زما په فکر باید متابعت یې وکړو، قوم ویل: ته زموږ مشر او سرداریې څنګه چي ستا خوښه وي هغسي وکړه.

ضیحه و رسول الله ﷺ ته و ویل: ایمان درباندي را وړو، عزت دي کوو، زموږ توري ستا تر امر لاندي دي خو په یوه شرط، رسول الله ﷺ و ویل: شرط دي څه شي دی؟ ضیحه و ویل: شرط دا دی چي تر تا وروسته به امر زما وي، یعني: تر تا وروسته به زه خلیفه یم، رسول الله ﷺ و فرمایل: امر د الله دی هر چا ته چي د الله جل جلاله خوښه وي و هغو بندګانو ته یې ورکوي او عاقبت د پرهیزګارانو دی، ضیحه و ویل: یا محمّد! ﷺ موږ د عربو و تورو ته غاړي ایږدو، جنګ یې قبلوو او بیا به آمریت د بل چا وي؟ خلافت زما کړه متابعت او دفاع به دي وکړو، بیا هم رسول الله ﷺ و فرمایل:

« إِنَّ الأَمْرَ لِلّه يَضَعَهُ حَيثُ يَشَاءُ مِن عِبَادِه وَالعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِين » .

ژباړه: امر د الله جل جلاله دی هر چا ته چي د ده عزوجل خوښه وي هغه ته یې ورکوي او آخرت هم د متقیانو دی.

څرنګه چي د ضیحه طمعه د دنیا او آمریت وه او په دې پوهېدی چي اسلام غالبه کیږي، اسلام به پر عربو حاکم وي نو یې د آمریت طمعه او امید په سرکي پیدا سوه، نو څکه رسول الله ﷺ ته یې و ویل: اسلام قبلوم په دې شرط چي تر تا وروسته به زه خلیفه یم، رسول الله ﷺ د خلافت وعده نه ور سره وکړه او ده هم اسلام نه کړی قبول، څکه اصلاً دئ په ایمان او اسلام را وړلو کي صادق نه ؤ بلکه طمعه یې د آمریت او دنیا وه.

کله چي دغه د بني صعصع ډله خپلي قبیلې ته ولاړل هلته د دوی په قبیله کي یو ډیر سپین ږیری سړئ ؤ چي د خپل ضعف په سبب حج ته نه سوای تلای مګر هوښیار او پوه سړئ ؤ او هر وخت چي به د ده د قبیلې خلک د حج له سفره راغله ده به د حالاتو پوښتنه څني کول، په دې وار کي یې هم پوښتنه څني وکړه چي په حج کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو خه حال ؤ؟ قوم یې د خپل سفر حال ورته و وایه، خو دغه د رسول الله ﷺ د دعوت قصه یې نه کړه ورته بیان.

سپین ږیري و ویل: ښه دغه نوره نوې خبره نه وه پېښه سوې؟ دوی ویل: هو داسي د قریشو یو ځوان چي د بني عبدالمطلب څخه ؤ موږ ته راغلی او دا یې ویل: چي زه نبي یم، موږ یې و دې ته بللو چي د ده سره و درېږو، د خلکو له آزارو څخه یې و ساتو او زموږ سره یې زموږ وطن ته راولو، موږ د ده غوښتنه نه کړه قبوله، سپین ږیري دواړه لاسونه پر سر کېښښوول او ویل: تاسي لره دي افسوس وي آیا د دغه شي عوض پیدا کولای سی؟ څنګه مو پرېښاوه؟ دا تر لمر روښانه ده چي دغه سړئ نبي دی آیا تاسي نه یاست خبر چي دا وخت د آخري نبي د راتللو دی؟ او دغه آخري نبي به هم د اسماعیل علیه السلام د اولادې څخه وي او د اسماعیل علیه السلام اولادې تر اوسه د نبوت دعوه نه ده کړې، دا د اسماعیل علیه السلام د اولادې څخه اول نفر دی چي د نبوت اظهار او اعلان کوي په والله خامخا دئ نبي دی، عقلونه مو چیري وه؟ څنګه مو پرېښاوه، خو د سپین ږیري خبره چا نه کړه قبوله او د دوی له لاسه هغه ابدي عزت و وتی، ځکه که دوی ایمان را وړی وای دوی به انصار وای مګر بد قسمته وه دغه شرف یې نه ؤ په نصیب سوی.

## هغه کسان چي د اهلِ مکې څخه نه وه او مسلمانان سوي دي

لکه څرنګه چي د مخه مو درته و ویل: چي رسول الله ﷺ پر قبیلو او پر ډلو اسلام عرضاوه، دغه رنګه یې افراد او اشخاص هم اسلام ته دعوتول او د ځینو اشخاصو څخه یې ښه او معقول رَد یا مثبت جواب حاصل کړی دی چي ایمان یې راوړی او اسلام یې قبول کړی دی.

اوس به د هغو نفرو د جملې څخه چي په انفرادي ډول سره یې ایمان را وړی دی د څو نفرو قصې او د اسلام را وړلو حالات درته بیان سي.

۱ – سُوَید بن صامت چي شاعر، پوه او هوښیار سړئ ؤ د عربو د مشرانو، د یثرِب اوسېدونکی او د أوس د قبیلې څخه ؤ، د ده قوم ده ته د کامل په نامه سره ویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه دئ عاقل، په بدن قوي، شاعر، د شرف او نسب خاوند ؤ، دغه سوید مکې مکرمې ته د حج یا عمرې دپاره راغلی ؤ، رسول الله ﷺ ورسره کښېنستی او ویل: یا سُوَید! زما سره ځو ښې او ښایسته خبري سته وایې وره، سوید وویل: نه غواړم چې وایې ورم ځکه زما سره تر هغو خبرو چې ستا سره دي ښې خبري سته، قانون خو دا ؤ چې رسول الله ﷺ ورته ویلي وای: چې یو وارېې واوره بیا حکم وکړه، مګر یا! رسول الله ﷺ د ښو اخلاقو خاوند ؤ ویل: ښه هغه ستا خبري را باندي واوروه، ځرنګه چې ستا سره زما ترخبرو ښې خبري سته را باندي وایې وره، سوید هم شروع سو د لقمانِ حکیم حکمتونه او نصیحتونه ورته وایي.

اوس نو لقمانِ حکیم څوک وایې: نبي دی څوک وایي: نه دی، خو په دې کي شک نسته چې لقمان حکیم د مسلمانانو د ادیبانو، حکیمانو او علماوو څخه دی او الله جل جلاله په قرآن مجید کي ذکر کړی دی حتّی یو پوره سورة یې د لقمان په نامه سره مسمّی کړی او بللی دی، کوم نصیحتونه چې لقمان حکیم خپل زوی ته کړي دي، الله جل جلاله هغه د ده نصیحتونه داسي طریقه ګرځولې ده چې خلک باید د هغو متابعت وکړي.

دغه سُوید بن صامت د لقمان حکیم یو کتاب پیدا کړی ؤ، چې په هغه کي د لقمان له طرفه خپل زوی ته نصیحتونه وه او هغه کتاب یې په یاد کړی ؤ.

*د لقمان حکیم نصیحتونه و خپل زوی ته پر دوه قسمه دي چې یو قسم یې یوازي په توحید او د الله جل جلاله په وحدانیت کي دي چې مثال یې دغه آیات شریف دی کوم چې الله عزوجل فرمایي:*

﴿ وَإِذْ قَالَ لُقْمَٰنُ لِٱبْنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿١٣﴾ ﴾.[لقمان: ۱۳]

یعني: یا محمّد! ﷺ هغه وخت یاد کړه چې لقمان خپل زوی ته په داسي حال کي و ویل چې نصیحت یې ورته کاوه: اې زما زویه! الله لره هیڅوک مه شریکوه، بېشکه چې شرک ډېر لوی ظلم دی. او داسي نور هم د توحید په باره کي ډېر نصیحتونه لري چې موږ یې دغه یو نصیحت د مثال پر قسم ذکر کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بل قسم نصیحتونه يې په ادب او اخلاقو کې دي چې مثال يې دغه آيات شريف دی کوم چې الله جل جلاله فرمايي چې لقمان خپل زوی ته وويل:

﴿وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ﴾. [لقمان: ۱۸]

دا هم د لقمان حکيم نصيحت دی چې خپل زوی ته وايي:

او خلکو ته په کبر او غرور سره مه ګوره او په مځکه کې په ناز او نخرو سره تګ مه کوه، بېشکه چې الله جل جلاله هر کبرجن او فخر کوونکی نه خوښوي.

داسې نور هم ډېر مثالونه سته، مقصد دا چې د لقمان نصيحتونه هم په توحيد کې وه او هم په اخلاقو کې، مګر خلکو هغه نصيحتونه په يادول او استعمالول کوم چې په ادب او اخلاقو کې وه، د توحيد او عقيدې نصيحتونه يې پرې ايښي وه.

د سُويد سره هم د لقمان حکيم هغه نصيحتونه موجود وه چې يوازې د اخلاقو او ادب په باره کې وه، اوس نو بيا دغه نصيحتونه بشري او انساني خبرې وې د انسانانو په لهجه او اصطلاح سره وې د الٰهي کلام اعجاز نه وُ پکښې موجود، مګر الله جل جلاله که په قرآن مجيد کې د يوه انسان خبرې را نقلوي او بيانوي بيا يې هم لفظ او لهجه د الٰهي کلام وي اعجاز پکښې موجود وي، مثلاً الله عزوجل په قرآن مجيد کې هغه خبرې را ته بيانوي چې ميږې کړې دي، خو لفظ او لهجه يې هغه د ميږې د خبرو نه ده بلکه الٰهي لهجه ده، معجز کلام او اعجاز پکښې موجود دی.

د سويد سره هم د لقمان حکيم کلام او نصيحتونه موجود وه مګر د بشر په لهجه او اصطلاح سره وه، هغه اعجاز چې په کلام الله کې موجود دی د هغه څخه خالي وه.

کله چې سُويد د خپلو خبرو څخه فارغه سو رسول الله ﷺ ورته وويل: دا ښې خبرې وې مګر زما سره تر دغه ښې او بهتره خبرې سته، عيناً هغه خبره يې ورته وکړه چې په اول کې سويد و ده ﷺ ته کړې وه، سُويد په تعجب کې سو د اول وار دپاره يو څوک ورته وايي چې زما سره تر دغه ښې او بهترې خبرې سته، په پخوا کې عادت داسې وُ چې چا به د لقمان خبرې واورېدې دا يې نه سواى ويلاى چې زما سره تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه ښې خبري سته، بیا نو رسول الله ﷺ کلام الله ورته و وایه، د قرآن مجید آیاتونه یې ورته تلاوت کړه، کله چې رسول الله ﷺ د آیاتو د ویلو څخه فارغه سو سُوید و ویل: هو دا ښې خبري وې او دا جمله یې نه کړه پر زیاته چې زما سره تر دغه ښې خبري سته، مګر پر دغه سر بېره یې هم په دغه وخت کې ایمان را نه وړی، خو بیا په وروسته کې چې اسلام مدینې منورې ته داخل سو سوید هم مسلمان سو او د رسول الله ﷺ تر هجرت د مخه وفات سو، څوک وایي چې د بُعاث په جنګ کې د خزرج د قبیلې له طرفه ووژل سو او قوم به یې ویل: سُوید مسلمان و وژل سو.

۲- إیاس بن معاذ چې نوی ځوان او د یثرِب د اوسېدونکو او د أوس د قبیلې څخه ؤ، د ده د ایمان را وړلو قصه داسې وه: په یثرِب یا مدینه منوره کې پر یهودو سربېره د عربو دوې قبیلې هم اوسېدلې چې یوه د أوس قبیله وه او بله د خزرج قبیله وه او د دې دوو قبیلو په منځ کې به همېشه جنګونه کېدل، د أوس قبیله نسبت د خزرج قبیلې ته د نفرو په شمېر څه کمه او لږ وه، په دغه وخت کې چې د بعثت یا نبوت د یوولسم کال شروع وه هلته په یثرِب کې د دغو دوو قبیلو په منځ کې د دښمنۍ اورونه بل وه چې دا د هغه مشهوره جنګ، یعنې: د جنګ (بُعاث) د شروع مقدمه وه.

په دغه وخت کې د أوس قبیلې چې د شمېر په حساب د خزرج تر قبیلې لږ وه یوه ډله د مکې مکرمې قریشو ته ولېږل چې د خزرج په مقابل کې زموږ سره اتحاد او اتفاق وکړی، زموږ معاهدین او کومکیان سی.

کله چې رسول الله ﷺ په دغه ډله خبر سو چې مکې مکرمې ته راغلې ده نو ورغلی او ورته وې ویل: آیا تر دغه شي چې تاسې د هغه دپاره راغلي یاست ښه او بهتر شئ نه دروښیم؟ هغو ویل: هغه څه شي دی؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: زه رسول الله یم، الله جل جلاله زه و خپلو بندګانو ته را لېږلی یم چې یوازې د الله عزوجل عبادت ته یې را و بولم او د هغه الله سره بل هیڅ شئ شریک و نه بولي، الله جل جلاله پر ما کتاب نازل کړی دی، بیا یې د اسلام احکام ورته بیان کړه او قرآن مجید یې ورته تلاوت کړی، إیاس بن معاذ و ویل: یا قوم! دغه شئ والله تر هغه بهتر دی کوم چې د هغه دپاره موږ راغلي یو، د دغه ډلې څخه یو نفر چې ابو الحَیسَر ورته ویل کېده او نوم یې أنس بن رافع ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خاورو څخه مُټ ډک کړی او إياس يې پر مخ په و ویشتی او ویل: دا ستا خبري پرېږده موږ د بل شي دپاره راغلي يو، إياس چپ سو او رسول الله ﷺ له دويه څخه ولاړ سو، دا ډله بېله دې څخه چي د قريشو اتحاد او ملګرتيا لاس ته راوړي بېرته په خالي لاس مدينې منورې ته ولاړل، د دوی تر تګ لږ موده وروسته إياس وفات سو او د مرګ په وخت کي يې حَمد، تکبيرونه او تسبيحات ويل، بيا نو خلکو په دې کي شک نه درلودی چي إياس مسلمان مړ سو.

۳– ابو ذر الغِفاري، ابو ذر رضی الله عنه اول نفر دی چي د مکې مکرمې د دباندي څخه مسلمانيږي، حتّٰی داسي هم ويل کيږي چي پنځم نفر ؤ چي مسلمان سو خو په دې کي شک نسته چي ابو ذر رضی الله عنه د هغه اولو مسلمانانو څخه دی چي د اسلام په شروع کي په اسلام مشرفه سوي دي، ابو ذر غِفاري د غِفار د قبيلې څخه ؤ او دغه قبيله مدينې منورې ته نژدې پرته وه، دغه قبيله په غلا او لار نيُولو مشهوره وه، دې قبيلې حرامي مياشتي حلالولې يعني: په حرامو مياشتو کي يې هم جنګ او تجاوزونه کول، خو په خپله ابو ذر رضی الله عنه د هغو خلکو څخه ؤ چي د شرک د اعمالو څخه بېزاره او موحّد ؤ، پردې سربېره په حق دين پسي ګرځېدی، د مخه تر اسلام راوړلو يې الله جل جلاله ته لمونځ کاوه، خو د ابو ذر رضی الله عنه د اسلام را وړلو د قصې روايتونه يو د بل سره لږ څه فرق لري خو زه دلته هغه روايت را نقلوم چي امام احمد رحمه الله يې په خپل مسند کي د ابوذر رضی الله عنه څخه په سند سره را نقلوي.

امام احمد پسله ذکرِ کولو د راويانو وايي: چي ابو ذر رضی الله عنه و ويل: زه، زما ورور أنَيس او زموږ مور د خپلي قبيلې څخه چي د غِفار قبيله وه را و وتلو او زموږ د قبيلې دا عادت ؤ چي حرامي مياشتي يې حلالولې، ترڅو چي زموږ يوه ماما ته ورغلو چي هغه د مال او عزت خاوند ؤ، زموږ ماما زموږ عزت وکړی او ښه معامله يې را سره وکړه خو د هغه د قوم زموږ سره حسد پيدا سو چي دا بيا څوک دي چي دلته راغله او ما ته يې و ويل: کله چي ته له خپله اهله او کورنيه را وتلې، أنيس به دي خپلي کورنۍ ته پرې ايښی وای، په دغه وخت کي زموږ ماما راغلی موږ هغه د ده د قوم حال ورته و وايه، داسي معلومېدل چي د ده هم دغه فکر ؤ، نو موږ ورته و ويل: هغه نېکي چي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مخه را سره کړي وې هغه دي عبث او ضائع کړې او بیا به هیڅکله ستا مخ و نه وینو. موږ هغه خپلو اوښانو ته ورولاړ سوو او خپل سامان یا شیان مو پر بار کړل، ماما مو سر په پټو کي پټ کړی او ژړل یې، موږ رهي سوو څو مکې مکرمې ته نژدې سوو.

ابو ذر رضي الله عنه دغه سړي ته چي قصه ورته کوي ورته وايي:

اې وراره! د مخه تر دې چي زه د رسول الله ﷺ سره و وینم ما درې کاله لمونځ کاوه، هغه ورته و ویل: چا ته دي کاوه؟ ویل الله ته، سړي و ویل: د لمانځه په وخت کي دي مخ کومي خوا ته کاوه؟ ابو ذر رضي الله عنه و ویل: هري خوا ته چي به مي الله جل جلاله مخ برابر کړی او د ماخستن لمونځ مي د شپې ترآخره کاوه.

ابو ذر رضي الله عنه وايي: کله چي موږ مکې مکرمې ته نژدې سوو زما ورور اُنیس و ویل: زه په مکه مکرمه کي کار لرم ته تر هغو زما انتظار کوه چي زه بیرته راځم او دئ ولاړی، خو ډیر وځنډېدی، کله چي را غلی ما ویل: ولي وځنډېدې؟ ده ویل: یو سړئ مي ولیدی داسي دعوه یې کول چي الله جل جلاله دغه ستا په دین را لېږلی دی، وايي: ما ورته و ویل: چي خلکو د ده په باره کي څه ویل؟ ورور مي و ویل: خلکو ویل: چي شاعر، ساحر او کاهن دی، ابو ذر رضي الله عنه وايي زما ورور اُنیس شاعر ؤ او نور یې هم را ته و ویل: ما د کاهنانو خبري اورېدلي دي، د هغو پر قسم خبري یې نه کولې او د ده قول مي د شعر په ترازو کي واچاوه په والله هیڅوک به دا و نه وايي چي دا شعر دی په والله دئ صادق دی او خلک دروغ وايي، ابو ذر وايي: ما خپل ورور ته و ویل: آیا ته تر هغو زما انتظار کوې چي زه ورسم او په خپله یې و وینم؟ ورور مي ویل: هو! مګر د اهلِ مکې سره ډیر احتیاط کوه چي دوی د ده سره دښمني کوي او څوک نه ورپرېږدي چي خبري یې واوري، ابو ذر رضي الله عنه وايي: زه رهي سوم تر څو مکې مکرمې ته ورسېدم، هلته مي کتل یو ضعیفه سړئ (یعني: خوار او اسکېرلی سړئ) مي پیدا کړی او د هغه څخه مي پوښتنه وکړه، ما ویل: هغه څوک چي تاسي وایاست له دینه اوښتی دی چیري دی؟ سړي ما ته اشاره کړه او ناري یې کړل: دغه دی له دینه اوښتی، د مکې ټول خلک را باندي را ټول سوه په ډبرو په هډوکو هر څه چي په لاس ورتلي په هغه مي وهي تر څو چي بېهوښه ولوېدم، نه پوهېږم چي څه وخت را پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوم خو داسي وم لکه سور مُنار، یعني: تږوله په وینو لړلی وم، د زَمزَم څاه ته ورغلم او به مي وڅښلې او هغه ویني مي له ځانه څخه پرېولې او بیا د کعبې شریفي تر پوښو لاندي سوم. ابو ذر ﷛ قصه اوربدونکي ته وایي:

اې وراره! تقریباً یوه میاشت مي په مکه مکرمه کي تېره کړه او د خوړلو دپاره مي هیڅ شئ نه درلودی فقط د زَمزَم اوبه چښم، تر داسي اندازې چاغ سوم چي نس مي ګونجي وکړې (یعني: خېټه مي پیدا کړه) او په خپله سینه کي مي هیڅ لوږه نه حسول، ترڅو چي د سپوږمۍ په رڼا یوه روښانه شپه پر اهل مکه راغله او په دغه شپه الله ﷻ پر اهل مکه خوب غالبه کړی، پر کعبه شریفه هیڅا طواف نه کاوه بېله دوو ښځو، دغه دوې ښځي چي پر ما راغلې په دغه وخت کي یې په خپلو دعاوو کي إساف او نائله یادول او بلل، ما ورته و ویل: دغه دوه څه صفت لري دا خو هغه دوه زنا کاره دي.

(*د إساف او نائلې قصه د مخه بیان سوې ده*) ابو ذر ﷛ وایي دغو دوو ښځو په نارو او غالمغال شروع وکړه او ویل کشکي زموږ له نفرو څخه یو څوک دلته موجود وای.

ښځي په دغه نارو کي د حرم شریف څخه وتلې چي د ها خوا رسول الله ﷺ او ابوبکرالصدّیق ﷛ د غره له طرفه را کښته کېدل، دغه ښځي په مخه ورغلې د ښځو څخه یې پوښتنه وکړه: څه درته پېښه ده؟ ښځو ویل: د کعبې شریفي تر پوښو لاندي یو د دینه اوښتی سړئ دی، دوی ویل چي هغه سړي څه و ویل؟ ښځي وایي: داسي خبره یې وکړه چي خوله په ډکیږي، یعني: ډېره لویه خبره یې وکړه، ابوذر ﷛ وایي: بیا رسول الله ﷺ او د ده ملګری راغله حجراسود یې مسحه کړی پر کعبه شریفه یې طواف وکړی او لمونځ یې وکړی (معلومه خبره ده چي ابوذر ﷛ د دغه لمانځه په لیدلو سره پوه سو چي دا هغه د ده د مطلب سړئ دی) ابو ذر ﷛ وایي: زه ورغلم او اول هغه څوک وم چي د اسلام په تحیه سره مي تحیه ورته و ویل، یعني: ورته و مي ویل: السّلامُ علیکم، رسول الله ﷺ را ته و ویل: علیک و رحمة الله او ویل: د کوم ځای یې؟ ما ورته و ویل: د غِفار د قبیلې، رسول الله ﷺ لاس پر تندي کېښباوه، ابوذر ﷛ وایي ما د ځانه سره و ویل: لکه دا چي یې نه سوه خوښه چي ما د ځان نسبت د غِفار قبیلې ته وکړی دا إراده مي وکړه چي لاس یې ونیسم، خو د ده ملګری

(c) ketabton.com: The Digital Library


(چې د رسول الله ﷺ په عادت ترما ډیر خبر ؤ او پوهېدی) زه منعه کړم، بیا رسول الله ﷺ را ته و ویل: د څومره مو دې راهیسي دلته اوسېږې؟ ما ویل: تقریباً د دیرشو شپو او ورځو په منځ کې، نو ویل: خواړه چا درکول؟ ما ویل: خواړه مي نه درلودل فقط د زَمزَم اوبه مي چښلې او زه په چاغ سوم حتّی خېټه مي وکړه او په سینه کې مي هم هیڅ لوږه نه ده حس کړې، رسول الله ﷺ و فرمایل: هو دا مبارکي اوبه دي او دغه اوبه د وږي انسان غذاء ده، ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! اجازه راکړه چې نن شپه زه ده ته خواړه ورکړم.

رسول الله ﷺ و فرمایل: هو ور یې کړه، بیا نو رسول الله ﷺ او ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه رهي سوه او زه هم ور سره ملګری سوم ترڅو چې ابوبکر رضي الله عنه یوه دروازه خلاصه کړه او موږ ته یې د طائف د اُوڅکو څخه په متانو را کړې، ابو ذر رضي الله عنه وایي: دا نو هغه اول خواړه وه چې ما په مکه کي وخوړل او څومره چې الله جل جلاله را ته مقرره کړي وه هغومره په مکه کي پاته سوم او بیا رسول الله ﷺ را ته و ویل: زه یوې داسي مځکې ته بېول کېږم چې ډیري خرماوي لري او زه ګمان نه کوم چې بل ځای دي وي بېله یثرِبه، آیا ته ستا قوم ته زما له طرفه تبلیغ او دعوت کوې؟ ښایي چې الله جل جلاله په تا سره دوی ته نفعه و رسوي او تا ته د دوی په سبب اجر او ثواب درکړي، ابوذر رضي الله عنه وایي بیا نو د مکې مکرمې څخه رهي سوم تر څو زما ورور اُنیس ته ورغلم، هغه را ته و ویل: څه دي وکړه؟ ما ویل: زه مسلمان سوم او د هغه سړي تصدیق مي وکړی، اُنیس ویل: زه هم نه غواړم چې بېله ستا له دینه بل دین اختیار کړم، زه هم مسلمان یم او د رسول الله ﷺ تصدیق کوم، بیا موږ دواړه زموږ مور ته ورغلو هغې ته مو خپل دین او حال و وایه، هغې ویل: زه هم ستاسي له دینه مخالفت نه کوم زه هم مسلمانه یم او هغه څه منم چې رسول الله ﷺ یې وایي، نو موږ له دغه ځایه څخه رهي سوو، څو خپل قوم او د غِفار قبیلې ته ورسېدلو او هلته مو په دعوت شروع وکړه.

د مخه تر دې چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته راسي زموږ د قوم ځیني خلک مسلمانان سوه او ځینو ویل: کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته راسي موږ اسلام راوړو، کله چې بیا رسول الله ﷺ مدینې منورې ته راغلی هغه نورو پاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو هم ایمان را وړی.

بیا د أسلم قبیله چي د غفار قبیلې ته نژدې وه مدینې منورې ته راغله او ویل: یا رسول الله! موږ هم پر هغه څه ایمان را وړی دی کوم چي زموږ ورونو د غفار قبیلې پر را وړی دی، د أسلم قبیله هم مسلمانان سوه او رسول الله ﷺ و فرمایل:

«غِفار غَفَرَ اللهُ لَهَا، وَأسلَم سَالَمَهَا اللهُ».

۴- طُفیل بن عَمرو الدوسي چي پوه، هوښیار، شریف، شاعر او معتبره سړئ ؤ، د دوس د قبیلې مشر او رئیس ؤ د ده قبیله ډېره لویه قبیله وه او د یمن پر ځینو منطقو آمره وه، دغه طُفیل بن عَمرو د بعثت په یوولسم کال کي د حج یا عمرې دپاره مکې مکرمې ته راغلی، د مکې مکرمې قریش د ده تر را رسېدلو د مخه د ده استقبال او ښه راغلې ته ور ووتل، د ده یې ډېر احترام او اکرام وکړی ځکه د لویې قبیلې مشر او سردار دی او په اول ملاقات کي یې ورته و ویل: یا طفیل! ته زموږ وطن ته راغلې خو پام کوه په موږ کي یو لوی ساحر پیدا سوی دی چي موږ یې سره پاشلي او جلا کړي یو د ده په خبرو کي سحر پروت دی، زوی او پلار سره جلا کوي، ورور او ورور سره جلا کوي، ښځه او خاوند سره جلا کوي، موږ پر تا او ستا پر قوم د هغه څه څخه بېرېږو چي موږ ته یې را پېښ کړي دي، نو مه د دغه ساحر سره خبري کوه او مه ته د هغه خبري اوره، هر چا چي د ده خبري اورېدلي دي د جادو تر تاثیر یې لاندي سوی دی.

*دا د قریشو عادت ؤ هر څوک چي به مکې مکرمې ته راغلی دوی به بېراوه خاصتًا که به هغه څوک د عربو د قبیلو مشر او سردار ؤ، ځکه قریشو نه غوښتل چي څوک د رسول الله ﷺ څخه د اسلام خبري واوري.*

نو طفیل ته یې هم و ویل: چي ډېر احتیاط به کوې چي د محمّد ﷺ خبري وانه ورې، طفیل هم ډېر و بېرېدی، طفیل وایي: دومره یې دا خبري را ته وکړې چي د ځان سره مي دا فیصله وکړه چي د ده څخه به هیڅ شئ نه اورم او نه به خبري ور سره کوم، په سهار کي چي مسجد الحرام ته تلم په غوږو کي مي پنبه کېښوول دا د دې دپاره چي د محمّد ﷺ خبري په خطاء کي را څخه وانه ورېدل سي، کله چي مسجد الحرام ته را ووتم ومي لیدل چي رسول الله ﷺ د کعبې شریفي سره ولاړ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او لمونځ کوي او په لمانځه کي په لوړ آواز قرائت وايي، زه طواف کوم او ده ته ګورم خو شئ نه اورم ځکه غوږونه مي په پنبه پټ دي، خو د الله جل جلاله خوښه وه چي د محمّدﷺ ځخه ځيني شئ واورم او هغه مي ښې خبري واورېدې، نو مي له ځانه سره و ویل: یا طفیل! ته هوښیار سړئ يې، پوه، فصیح او شاعر يې، د ښه او بد فرق درباندي کيږي، صحي او غلط سره پيژني، تر دغه زيات د انسان دپاره څه شي په کار دي او اوس بېرېږې چي خبري وانه ورم؟ او بيا د قوم مشر هم يې ستا سره بېره نه ده په کار، غوږ ورته ونیسه که يې خبري ښې وې قبولي يې کړه او که يې خبري عبث او چټي وې پرې يې ږده، نو مي تر هغه وخته انتظار وکړی چي رسول اللهﷺ کور ته رهي سو، زه هم په پسې سوم ترڅو چي کور ته ننوتی زه هم پسي ورغلم او هلته مي د خپل راتګ سبب ورته بیان کړی دا مي هم ورته و ویل: چي خلکو ستا د خبرو د اورېدلو ځخه دومره بېرولی وم چي غوږونه مي په پنبه بندکړي وه او بيا مي ستا څه خبري واورېدې خو اوس دغه ستا خبري او کارو ما ته په تفصیل سره بیان کړه، دغه ستا د دين خبري را ته وکړه قرآن راته ووايه.

طُفيل وايي: په والله هيڅکله مي تر دغه ښې خبري نه وې اورېدلي او نه مي تر دغه د عدل کار ليدلی ؤ، اسلام مي په زړه کي ځای ونیوی او زه مسلمان سوم، د شهادت کلمې مي و ويلې.

سبحان الله! د دَوس د قبيلې رئيس ايمان را وړی دا څومره لويه کاميابي ده، رسول اللهﷺ هم ډير زيات په خوشاله سو، دا خبر په مکه مکرمه کي نشر سو چي طفيل مسلمان سو، قريش وارخطا سوه چي د دوس د قبيلې رئيس هغه چي په عربو کي ډيره لويه قبيله ده ايمان راوړی او ژر و طفيل ته ورغله ويل: يا طفيل أصبأت، يعني: له دينه واوښتې؟ طفيل ويل: يا بلکه مسلمان سوم او ويل: أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أنّ محمّداً رسولُ الله، قريشو غوښته چي وې بېروي ويل مور دي وژنو، طفيل ويل: والله که تاسي ما ته آزار راکړی د دوس قبيله به هيڅکله تاسي پرې نږدي، څوک ما وهلای يا وژلای سي؟ د دوس قبيله ټوله پر ما ولاړه ده.

بيا نو طفيل و رسول اللهﷺ ته ورغلی ويل: يا رسولَ الله! هر قسم چي ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوښه وي امر مي کړه که غواړې چي ستا سره پاته سم حاضر یم، که غواړې چي خپل قوم ته ولاړ سم او هغه و اسلام ته دعوت کړم هم ستا خوښه ده، سبحان الله! *د اولي لحظې شخصه چي یې ایمان زړه ته ننوتی مطلق اطاعت یې قبول کړی تر هر څه تېر دی*، رسول اللهﷺ و فرمایل: یا! خپل قوم ته ولاړ سه او قوم دي اسلام ته دعوت کړه، طفیل و ویل: هو زما قوم زما اطاعت کوي زه به ولاړ سم او هغه به اسلام ته دعوت کړم، خو ته اللهﷻ ته دعاء وکړه چي ما ته یوه علامه راکړي چي قوم مي تصدیق وکړي، رسول اللهﷺ دعاء ورته وکړه او دئ رهي سو.

د شپې پر لار رهي دی چي یو نور او روښنایي یې د دوو سترګو له منځه را وزي او لار ورته روښانه کوي، دا هغه علامه وه چي د رسول اللهﷺ د دعاء په سبب اللهﷻ ورکړه، ده و ویل: الٰهي نه غواړم چي په مخ کي مي داسي شئ جوړ سي چي د خلکو د خبرو دپاره لار جوړه کړي بیا به خلک وایي چي ده د بتانو عبادت پرېښاوه هغو دغه په وکړه، ځکه دا هم عجبه ده چي یو څوک رهي وي او له مخه یې روښنایي را وزي د خلکو د خبرو دپاره لار پیدا کیږي، د اللهﷻ په إراده دغه روښنایي د ده د مخ څخه د ده و قمچِني یا چلاخي ته نقل سوه، هغه قمچِنه چي ده به د اوښ د تګ دپاره ښورول، د هغې څخه نور او روښنایي را وتل او ده لار په لیدل، کله چي طفیل خپل قوم او قبیلې ته ورسېدی او خپل کور ته ننوتی، هلته خپل اهل او کورنۍ پر را ټول سوه، ښځه، مور، پلار، خوندي او وروڼه ټول ورته راغله، مګر طفیل ورته و ویل: زما مخ او زما خبري پر تاسي حرام دي ترڅو تاسي د محمّدﷺ دین ته داخل سوي نه یاست، هغو و ویل: د محمّدﷺ دین څنګه او څه شي دی؟ طفیل! اسلام او د توحید عقیده ورته بیان کړه، د طفیل هغه نژدې دوستان او اقرباء ټول اسلام ته داخل سوه مګر قوم یې په ایمان را وړلو کي ځنډ وکړی.

طفیل په خپل قوم او قبیله کي خلک اسلام ته دعوتوي او دې دعوت کلونه په بر کي ونیول څو په آخر کي یې ټول قوم مسلمان سو او طُفیلﷺ د رسول اللهﷺ تر هجرت وروسته ټول قوم د بیعت دپاره مدینې منورې ته را وستی، د طفیل د اسلام را وړلو په سبب د دوس ټوله قبیله مسلمانان سوه چي په هغو کي ابو هریرهﷺ هم ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا کار په اسلام کي لوړه درجه، عالي مقام او ډېر ثوابونه لري چي د يوه سړي د کوښښ او دعوت په نتيجه کي پوره قبيله مسلمانېږي، مګر د ده د دعوت پوره کاميابي د رسول الله ﷺ تر هجرت وروسته وه، د حديبيې تر صلحي وروسته يې په داسي حال کي مديني منورې ته هجرت وکړی چي د ده د قوم او قبيلې څخه اويا يا اتيا کوره مسلمانان ور سره ملګري ود او طفيل رضي الله عنه په اسلام کي ډېر ښه امتحان ورکړی هغه دا چي طفيل رضي الله عنه د يمامې په ورځ د مسيلمه په جنګ کي شهيد و وژل سو.

۵- ضماد الأزدي، دئ د يمن د أزد د قبيلې څخه ؤ او ده پر ځينو عصبي مريضانو او لېونيانو دَم او چو کاوه، يو وخت مکې مکرمې ته د حج يا عمرې د ادا کولو دپاره ولاړی هلته يې د مکې مکرمې د بيباکانو او نا اهلانو څخه واورېدل چي ويل يې محمّد ﷺ لېونئ دی، ده د ځان سره وويل: که زه دغه سړي ته ورسم او دَم پر وکړم ښايي الله جل جلاله يې زما د دم په واسطه جوړ کړي، نو رسول الله ﷺ ته ورغلی او ويل: يا محمّد! ﷺ زه پر دغسي مرضو دم کوم آيا غواړې چي دَم درباندي وکړم؟ رسول الله ﷺ و فرمايل:

« إنَّ الحمدَ لله نَحمدُهُ وَ نَستعينُهُ، مَن يهده اللهُ فلا مُضِلَّ لَهُ، و من يُضلِلهُ فلا هاديَ له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريکَ له، وأشهد أن محمّداً عبدُه ورسولُه ». أمّابعد:

ضماد الأزدي و ويل: دغه جملې يو وار بيا را ته و وايه، رسول الله ﷺ دغه جملې درې واره نور ورته تکرار کړې، ضماد و ويل: د کاهنانو خبري مي اورېدلي دي، د ساحرانو خبري مي اورېدلي دي، د شاعرانو خبري مي اورېدلي دي، خو دغه ستا پر قسم خبري مي نه دي اورېدلي، د بحر تر قاموس لوړي دي، لاس دي راکړه چي پر اسلام بيعت درسره وکړم، بيا يې بيعت وکړی او مسلمان سو.

دغه قسم رسول الله ﷺ په دغه موده کي پر ډېرو افرادو او اشخاصو په انفرادي ډول اسلام عرض کړی دی، لکه څرنګه چي د قبيلو جواب منفي ؤ دغه رنګه د افرادو جوابونه هم منفي وه، خو د ځينو جواب به ډېر شديد او زړه دردوونکی ؤ چي د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library


و بیانولو او ذکر کولو ته ضرورت نه وینم، فقط دغه یوه قصه د مثال او نمونې پر قسم درته بیانوم:

یو نفر چي د عربو د پهلوانانو څخه ؤ او نوم يې رُکانه ؤ لوی او مشهوره غېږ باز ؤ، چا نه ؤ غځار کړی، دغه رُکانه رسول الله ﷺ ته راغلی، ویل: یا محمّد! ﷺ ته وایې چي زه نبي یم، که دي زه غځار کړم ته صادقه يې.

سبحان الله! د نبوت او غېږبازۍ يې سره څه؟

خو دا د دغو خلکو جهالت ؤ، رُکانه لوی پهلوان دی چا نه دی غځار کړی، وایي: که دې زه غځار کړم ته صادقه يې، رسول الله ﷺ ویل: ښه دی او ور ولاړ سو په لږ وخت کي يې رُکانه غځار کړی، رکانه په تعجب کي سو، د اول وار دپاره غځارېږي، تر اوسه چا نه دی غځار کړی، ویل: یوار بیا راسه، بیا ورغلی بیا يې غځار کړی، ویل: یو وار لا بیا راسه، بیا ورغلی، دریم وار يې بیا غځار کړی، ویل: والله دا عجبه خبره ده مګر تر هغو ایمان نه دربانديي را وړم چي دغه ونه خبري و نه کړي، رسول الله ﷺ د وُني یا درختي څخه پوښتنه وکړه چي زه څوک یم؟

وُني و ویل: أشهد أن لا إله إلاّ الله، و أشهدُ أنّکَ رسولُ الله،

د رُکانه په حضور هغه وُني هم خبري وکړې، رکانه و ویل: والله ته ساحر او جادوګر يې، دا د دغه یوه نفرحال ؤ، کفارو ته یوازي دانه چي قرآن مجید معجزه وه، بلکه معجزات، داسي معجزې چي په سترګو لیدل کېدلې، خو بیا يې هم ایمان نه را وړی.

*(خو رکانه ﷺ په وروسته کي مسلمان سوی دی)*

## د شقّ القمر معجزه

د کفارو سره د مسلمانانو ژوند تریخ ؤ او کفارو به د رسول الله ﷺ څخه معجزې غوښتې، همېشه به يې ورته ویل: تا خو موږ ته هیڅ شئ نه دی را ښکاره کړی، لږ تر لږه ته موږ ته یوه معجزه را ښکاره کړه چي د هغې په واسطه موږ ستا پر رسالت اقرار وکړو، رسول الله ﷺ و فرمایل: که ستاسي په حضور د الله ﷻ په إراده او زما په اشاره سپوږمۍ دوه ځایه سوه تاسي د الله ﷻ پر وحدانیت او زما پر رسالت ایمان راوړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


کفارو ویل: هو، نو یې د میاشتي په ینځلسمه شپه چي سپوږمی پوره او کامله وي د دغي معجزې وعده سره وکړه، د ینځلسم په شپه رسول الله ﷺ په منٰی کي تشریف درلود او قریش هم د معجزې د لیدلو دپاره سره راټول سوي دي، رسول الله ﷺ سپوږمی ته اشاره وکړه چي دوه ځایه سي او سپوږمی هم د رسول الله ﷺ په اشاره سره دوه ځایه سوه چي په عربي کي (شقّ القمر) ورته وایي، سپوږمی دوې ټوټې سوه یوه حصه یې د غره یوه طرف ته ولاړه او بله حصه یې د غره بل طرف ته، د سپوږمی د دوو حصو په منځ کي غر راغلی.

کفار ورته ګوري دا معجزه یې ولیدل بیا یې هم ایمان را نه وړی او ویل ته ساحر یې، منکره کفار تر دغه زیات څه شي غواړي؟ خو بیا هم حق ته سحر وایي، الله جل جلاله د سورةُ القمر په اولنیو آیاتو کي فرمایي:

﴿ اَقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿١﴾ ﴾

قیامت را نژدې سو او سپوږمی دوه ځایه سوه،

﴿ وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿٢﴾ ﴾

که دغه کفار د الٰهي قدرت یو دلیل او علامه و ویني مخ ځني واړوي او وایي: دا پخوانئ قوي سحر دی،

﴿ وَكَذَّبُوا وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ ۚ وَكُلُّ أَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾ ﴾

او دوی حق درواغ بولي او د خپلو خواهشاتو متابعت کوي او هر کار پرخپل وخت کېدونکی دی، یعني: د دوی عذاب هم پرخپل وخت ورته را تلونکی دی.

د دوی هلاک چي الله جل جلاله په خپل علم کي ورته ټاکلی دی مخ او شا ته نه کېږي پرخپل وخت به ورته راسي.

دغه (شق القمر) لویه حادثه او نادره معجزه ده، رسول الله ﷺ خپل رسالت ورته ثابت کړی مګر کفارو بیا هم ایمان را نه وړی، د تاریخ ډېر علماء لکه ابن کثیر او داسي نور وایي: چي عربو به په دغه واقعه سره تاریخ بنووی، موږ د مخه هم درته ویلي وه چي عربو جنتري نه درلودل او کله چي به یوه لویه واقعه پیښه سوه په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره به یې تاریخ ښووی، چې تر فلانۍ واقعې دومره کاله د مخه یا دومره کاله وروسته فلانۍ کار وسو او د دغو لویو واقعو څخه کومې چې عربو تاریخ په ښووی د فجار جنګونه وه، د فیل کال ؤ او دغه شق القمر ؤ.

حتّیٰ په هندوستان کې هم دغه شق القمر ولیدل سو، ډېرو خلکو په ډېرو ځایو کې دغه شق القمر ولیدی، که دا سحر وای یوازې به هغو خلکو لیدلای چې دالته د رسول الله ﷺ سره موجود وه، مګر دا لیدل عام او لویه معجزه وه، ډېرو خلکو ولیدل.

(دلته یوې مختصرې تبصرې ته ضرورت سته)

هغه دا چې غربیان دغه خبره نه مني او وايي: زموږ په تاریخ کې د دغه شق القمر ذکر نسته نو نه دی پېښ سوی، د دغه انکار دپاره د دوی یوازېنۍ دلیل دغه دی چې وايي موږ شق القمر نه دی لیدلی، مګر د شق القمر د نه پېښېدلو دپاره یوازې دغه دلیل نه دی کافي چې وايي: موږ نه دی لیدلی، بلکه د شق القمر د اثبات دپاره ډېر دلیلونه سته.

**لومړۍ**: شق القمر د شپې ؤ او په ډېرو غربي ملکو کې د مطالعو د اختلاف په سبب ورځ وه او په ځینو ملکو کې نیمه شپه او خلک بیده وه او په ځینو ملکو کې اوریځ وه، که چیرې بیا په ځینو ملکو او ځایو کې آسمان شین هم وي او خلک هم دباندې ناست وي دا ضروري نه ده چې هغو ټولو د آسمان طرف ته کتل او سترګې یې د سپوږمۍ څخه بل طرف ته نه اړولې.

**دوهم**: که آسمان شین هم وي او پر مځکه د سپوږمۍ رڼا هم وي، د سپوږمۍ په دوه ځایه کېدلو د هغې په رڼا کې کوم خاص فرق نه پېښېږي چې خلک دې ورته متوجه سي او دغه دوه ځایه کېدل فقط د څو ثانیو دپاره وه، ساعت او ډېر وخت یې په بر کې نه دی نیولی، موږ وینو چې ډېر ځله د سپوږمۍ تندره یا خسوف پېښېږي او تر ډېره وخته پورې دوام هم وکړي، خو بیا هم په ملیونو انسانان نه په خبرېږي، په تېره بیا په هغه زمانه کې چې د نن غوندې رصد خانې او نور آلات هم نه وه موجود، د خبر د نشرولو دپاره اخبار او راډیوګانې هم نه وې، چې دا خبر نشر او شائع کړي، په هر حال په غربي تاریخ کې د دغه معجزې نه وجود د هغې د تکذیب او نه منلو دلیل نه سي کېدلای، خو په شرقي تواریخو کې د دغې معجزې ذکر سته، په هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


کي د (مالیبار) د مهاراجي د اسلام را وړلو سبب هم دغه د شق القمر واقعه سوه، لکه څرنګه چي مخ کي مو وویل دا معجزه په قرآن کریم کي هم ذکر سوې ده.

## د اهلِ یثرِب څخه شپږ پاک روحه

د بعثت د یوولسم کال د حج په موسم کي چي د (٦٢٠) میلادي کال د جولای میاشت وه اسلامي دعوت ډیر ښه تخم لاس ته را وړی چي دغه تخم ډیر ژر په لویو لویو وُنو یا درختو بدل سو، چي دغو وُنو بیا مسلمانان په خپله سایه کي د هغه ډیرو او اوږدو کلو د ظلم او طغیان دګرمو لمبو څخه وساتل، کله چي اهل مکې د رسول اللهﷺ تکذیب کاوه او دیﷺ یې د الله ﷻ د لاري د دعوت څخه منعه کاوه، رسول اللهﷺ داسي حکمت عملي کاوه چي د شپې په تاریکیو کي به د حاجیانو پر ډلو او خېمو ګرځېدی، دا د دې دپاره چي د دهﷺ او د دغو ډلو په منځ کي د مکې مکرمې د مشرکانو څخه څوک نه وي موجود.

نو رسول اللهﷺ یوه شپه د ابوبکرالصدّیقؓ په ملګرتیا را و وتی، د ذُهل او شَیبان بن ثعلبه د قبیلې خېمو ته ورغلی، د اِسلام او توحید په باره کي یې خبري ورته وکړې، خو دغو خلکو د اسلام راوړلو څخه انکار وکړی.

او بیا رسول اللهﷺ په منٰی کي د عَقَبې سره تېرېدی، هلته یې د څو نفرو آواز واورېدی چي په خپل منځ کي یې خبري سره کولې، رسول اللهﷺ هغو نفرو ته ورغلی، دغه خلک شپږ نفره وه او د یثرِب د ځوانانو څخه وه، ټول د خزرج د قبیلې څخه وه (څوک وایي چي دغه خلک دوولس نفره وه) خو شپږ یې یقیني دي.

*دغه شپږ نفره ډیر مهم دي، دغه نفر د اسلام هغه صالح تخم دی او د دغو نفرو نومونه داسي دي:*

| | |
|---|---|
| ١ – اسعد بن زُراره. | چي د بني نجار څخه ؤ. |
| ٢ – عون بن الحارث بن رفاعه، ابن عفراء. | چي د بني نجار څخه ؤ. |
| ٣ – رافع بن مالک بن العجلان. | چي د بني زُرَیق څخه ؤ. |
| ٤ – قُطبه بن عامر بن حُدیده. | چي د بني سلمه څخه ؤ. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵ – عُقبه بن عامر بن نابي. چي د بني حرام بن کعب څخه ؤ.

٦ – جابر بن عبدالله بن رئاب. چي د بني عبيد بن غنم څخه ؤ.

*د اهل يثرِب يا د مديني منورې د خلکو لويه خوشبختي دا وه چي دوی به د مديني منورې د يهودو څخه اورېدل چي په دغه اوس وختو کي يو نبي مبعوث کيږي، هغه به را ووزي او موږ به يې متابعت وکړو او بيا به د هغه نبي په ملګرتيا موږ تاسي داسي ووژنو لکه د عاديانو او ثموديانو وژنه.*

رسول الله ﷺ دغو نفرو ته ورغلی او ويل: تاسي څوک ياست؟ هغو ويل: د خزرج د قبيلې څخه يو، رسول الله ﷺ و فرمايل: نه کښېنی چي څه خبري درته وکړم؟ هغو ويل: هو کښېنو، رسول الله ﷺ ور سره کښېنستی خپل دين او د اسلام حقيقت يې ورته بيان کړی، وحدانيت ته يې را وبلل، قرآن مجيد يې ورته تلاوت کړی، دغو نفرو په خپل منځ کي سره و ويل: والله دا هغه نبي دی چي يهود تاسي په هغه سره بېروي، کوښښ وکړی چي يهود په اسلام کي تر تاسي د مخه نه سي او بيا هغه را سره وکړي چي دوی وايي، نو د ده ﷺ دعوت قبول کړي او مسلمانان سي، تاسي تر يهودو د مخه ايمان را وړی د رسول الله ﷺ متابعت وکړی او اسلام قبول کړی.

*(دا څنګه قصه وه چي يهودو به اهل يثرِب بېرول؟) ډېره مهمه خبره ده.*

هغه داسي: د مديني منورې ټول اوسېدونکي پر درو حصو وېشل سوي وه، يوه حصه د أوس قبيله وه، بله حصه د خزرج قبيله وه چي دغه دوې قبيلې مشرکان او بت پرستان وه درييمه حصه يهود وه، يهود بيا په خپله پر درو قبيلو وېشل سوي وه: بني قُريظه، بني قينقاع او بني نُضَير، که څه هم هلته نور انفرادي يهود موجود وه چي د دغو قبيلو څخه نه وه خو هغه لږ وه، عمده او اساسي يهود دغه درې قبيلې وه او ټول يهود د وګړو په شمېر د مديني منورې د وګړو يا انسانانو درييمه حصه کېدل، د أوس قبيله هم د مديني منورې د وګړو او نفوسو دريمه حصه کېدل، همدارنګه د خزرج قبيله د مديني منورې د وګړو دريمه حصه وه، نو مدينه منوره په برابر او مساوي شکل درو حصو ته وېشل سوې وه، چي يهود، د أوس قبيله او د خزرج قبيله وه.

د دغو درو قومو څخه يو هم پر مدينه منوره نه سوای آمر کېدلای ځکه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library


اقلیات او سره برابر وه، نو مدینې منورې عمومي مشر او د ټولو دپاره یو آمر هم نه درلودی او دغو درو قبیلو به همېشه د حاکمیت دپاره جنګونه سره کول، خو په دغه وختو کې به یهودو دغه نورو قومو ته چې أوس او خزرج وه ویل: د آخري نبي د بعثت وخت را نژدې دی که هغه مبعوث کړل سو موږ به د هغه متابعت وکړو او تاسي به داسي حلال کړو لکه د عادیانو او ثمودیانو حلالېدل چې ټول هلاک سوه، نو یهودو به دغه نوري قبیلې د آخري نبي په را تګ سره بېرولې او ورته ویل به یې: کله چې هغه نبي راسي موږ به د هغه د متابعت په سبب پر یثرِب حاکمان سو او تاسي ته به بیا هغه وخت په وژلو او حلالولو سره جزا درکړو.

بنه متوجه سی: د یهودو په تورات او په نورو آسماني کتابو کې د رسول الله ﷺ راتګ او د هغه ﷺ ټولي علامې لیکلي وې، د مدینې منورې یهود هم تر داسي اندازې د دغه نبي د راتلو په انتظار وه چې د مدینې منورې مشرکان به یې د هغه په را تګ سره بېرول، نو دغه د دوی د معلوماتو او پېشګویي په سبب د مدینې منورې مشرکانو د مکې مکرمې تر مشرکانو د مخه او په ډېره آساني سره ایمان راوړی.

کله چې د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت اظهار وسو ټولو یهودو او نصاراوو ته دا معلومه سوه: چې هو دئ ﷺ هغه وعده سوی نبي دی مګر خرنګه چې یهودو او نصاراوو ولیدل چې دغه نبي د بني اسرائلو څخه نه دی او پخواني ټول انبیاء د بني اسرائلو څخه وه، نو یې د قومي تعصب په لحاظ د رسول الله ﷺ د منلو څخه انکار وکړی او له دغه وخته څخه یې ټول هغه معلومات چې د راتلونکي نبي په باره کې د دوی په کتابو کې موجود وه واړول او تغیر یې پکښي راوستی.

خو بیا هم دوی غبي او ناپوه وه ځکه اوس هم د دوی په کتابو کې د رسول الله ﷺ د نبوت ډېر معلومات او علامې پاته دي، څرنګه چې اوس د نوي آلاتو او وسائلو د پیدا کېدلو په سبب هغه بیانات او معلومات عام نشر سوي دي نو دوی یې نه اړولای سي او نه یې پټولای سي، نو یې د هغو بیاناتو په ترجمه کې تغیر راوستی، د حق او حقیقت څخه مخالف او د خپل مزاج او غوښتني سره موافق یې ترجمه کوي.

*(بېرته قصې ته راسو)*

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې د خزرج د قبيلې حاجيانو د رسول الله ﷺ خبري واورېدې، ويل: والله هغه نبي چې يهود موږ په بېروي هغه دغه نبي او دغه دين دی، پام کوی چې يهود تر تاسي د مخه دغه دين ته داخل نه سي، دغه خلک عاقلان او هوښياران وه، کورني اختلافاتو او جنګو د پښواچولي او ضعيفه کړي وه خاصتًا هغه د (بُعاث) جنګ چې په دغه نزدو وختو کي تېر سوی ؤ او تر اوسه د هغه تيرو سوو جنګو لمبې پورته کېدې، نو دا يې اميد ؤ چې د رسول الله ﷺ د دين او دعوت خبري به د دوی دپاره د صلحي او آرام ژوند سبب وګرځي، نو دغه د خزرج د قبيلې خلکو رسول الله ﷺ ته وويل: موږ ترشا داسي قوم پرې اېښی دی چې د هيڅ قوم په منځ کي به دومره شر او عداوت نه وي موجود لکه زموږ د قوم په منځ کي چې دی او دا مو اميد دی چې الله ﷻ به يې په تا سره را ټول او يوځای کړي، موږ چې ولاړسو خپل قوم به هم ستا دين ته را وبولو او ستا د دين دغه احکام چې موږ قبول کړه پر دوی به يې هم عرض کړو، که الله ﷻ دوی پر تا را ټول کړه نو به په موږ کي هيڅوک تر تا عزتمن نه وي، بيا نو رسول الله ﷺ د اسلام احکام او قرآن مجيد وروښوول.

کله چې دغه خلک مدينې منورې ته تله د ځانه سره يې د اسلام رسالت ور سره يو وړی او هلته يې د اسلام په نشرولو شروع وکړه، په مدينه منوره کي د انصارو د کورو څخه داسي کور نه سو پاته چې هلته دي د رسول الله ﷺ خبري نه کيږي، اوس نو مدينه منوره پر دغه خپل حال پرېږده چې د اسلام معطر شمال او خوشبويه نسيم پکښي چليږي، ته بيرته دلته مکې مکرمې ته راسه.

## د إسراء او معراج واقعه

د مخه تردې چې د واقعې په تفصيل شروع وسي اول به د إسراء او معراج ترجمه درته بيان سي:

د علماوو په اصطلاح له مکې مکرمې څخه تر بيت المقدسه پوري دغه سفر او تللو ته إسراء ويل کيږي او بيا له هغه ځايه تر سِدرةُ المُنتهٰی پوري تګ او سياحت ته معراج ويل کيږي او ځيني وختونه که يو هم ياد سي، مثلاً يوازي إسراء يا يوازي معراج

(c) ketabton.com: The Digital Library


وویل سي دغه دواړه سفرونه ځني مراد او مقصد دي. *اوس قصې ته متوجه سی:*

رسول الله ﷺ په داسي مرحله کي ژوند تیروي چي دعوت یې د کامیابۍ او تکالیفو په منځ کي رهي دی او په ډیرو لیرو آفاقو کي د امید ضعیفه ستوري ورته ځلېدل چي د إسراء او معراج واقعه پیښه سوه، الله جل جلاله په دغه واقعه سره خپل رسول معزز او مکرم کړی او زړه یې نور هم ورآرام کړی.

د معراج د وخت او تاریخ په تعینولو او معلومولو کي څو مختلف قولونه سته:

۱ – څوک وايي: چي إسراء او معراج د نبوت په اول کال کي وه چي دغه قول امام طبري اختیار کړی دی.

۲ – څوک وايي: چي دغه واقعه تر بعثت پنځه کاله وروسته وه چي امام نووي او امام قُرطبي دغه قول ته ترجیح ورکوي.

۳ – څوک وايي: چي إسراء او معراج د بعثت د لسم کال د رجب د میاشتي د اوه ویشتم په شپه وه چي دا قول علامه منصورپوري اختیار کړی دی.

۴ – څوک وايي: چي د معراج واقعه شپاړس میاشتي تر هجرت د مخه وه، یعني: د بعثت د دوولسم کال د روژې په میاشت کي وه.

۵ – څوک وايي: چي یو کال او دوې میاشتي تر هجرت د مخه وه، یعني د بعثت د دیارلسم کال د محرم په میاشت کي وه.

٦ – څوک وايي: چي تر هجرت یو کال د مخه وه، یعني: د بعثت د دیارلسم کال د ربیع الأول په میاشت کي وه.

اول درې قوله خو په دې سبب نه دي صحي چي خدیجه رضي الله عنها د بعثت د لسم کال د روژې په میاشت کي وفات سوه او د دې رضي الله عنها وفات د مخه تر هغه وُ چي پنځه لمنځونه فرض سي او په دې کي د علماوو هیڅ اختلاف نسته چي پنځه لمنځونه د معراج په شپه فرض سوه، نو معلومه خبره ده چي معراج د دې تر وفات او د بعثت تر لسم کال وروسته دی، پاته سوه درې آخرني قولونه د هغو په باره کي داسي دلیل نسته چي یو قول دي تر هغه نورو راجح او افضله کړي، خو فقط د آیات شریف سیاق پر دې دلالت کوي چي إسراء او معراج ډیر وروسته پیښ سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


معراج د رسول الله ﷺ په ژوند کي ډېره لويه او مهمه واقعه ده.

معراج زموږ په دين او اسلام کي لويه او عجيبه واقعه ده او دغه معراج د دې سبب دی چي موږ بيت المقدس مُقدس بولو او د بيت المقدس په باره کي د الله ﷻ دا قول نازل سوی دی چي د سورة بني اسرائيل يا الإسراء په شروع کي فرمايي:

﴿ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ۝١ ﴾.

يعني: پاکي ده هغه ذات لره چي خپل بنده محمّد ﷺ يې د شپې په يوه حصه کي له مسجد الحرامه تر مسجد الاقصا پوري بېولی ؤ، هغه مسجد الاقصا چي موږ د هغه شا وخوا برکتناکه کړې ده (د څه شي دپاره يې بېولی ؤ؟) چي موږ دغه محمّد ﷺ ته د خپل قدرت ځيني دلائل او علامې وښيو، يا ور ښکاره کړو، بېشکه چي دغه الله ښه اورېدونکی او ښه ليدونکی دی، هر څه اوري او پټ اسرار هم ورته ښکاره دي.

ورونو! بيت المقدس مبارکه ځکه ده، ځکه څنګه مبارکه او مشرفه کيږي؟ شرف او برکت د الله ﷻ له طرفه وي، الله ﷻ يې مبارک کوي او په دغه آيات شريف کي الله ﷻ بيت المقدس مبارک بللی دی ځکه فرمايي:

﴿ ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ ﴾ يعني: هغه چي موږ د هغه شا وخوا مبارکه کړې ده.

همدا رنګه الله ﷻ مکه مکرمه او مدينه منوره مبارک کړي دي.

نو دغه د معراج په شپه جبريل عليه السلام و رسول الله ﷺ ته راغلی، رسول الله ﷺ د کعبې شريفي د حطيم سره بيده ؤ، که څه هم ځيني علماء وايي: إسراء او معراج د أم هاني رضي الله عنها له کور څخه وه مګر دا حديث په بخاري شريف کي صحي حديث دی چي رسول الله ﷺ د کعبې شريفي د حطيم سره بيده ؤ او جبريل عليه السلام ورته راغلی را ويښ يې کړی چي هغه لوی سفر، د إسراء او معراج سفر شروع کړي او د جبريل عليه السلام سره يو حيوان ور سره ؤ، رسول الله ﷺ فرمايي: دغه حيوان تر خره لوی او تر غاطري يا قچري کوچنئ ؤ، دا خو د دغه حيوان د جسم يا بدن اندازه وه، مګر تعجب يې په تېزوالي کي ؤ، يو غور ځېدل يې د سترګو د ليدني پر اندازه وه، سرعت او چابکي يې تر تصور زيات وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې رسول الله ﷺ له خوبه را ویښ سو جبریل علیه السلام ورته و ویل: پر دغه بُراق سپور سه، رسول الله ﷺ سپور سو او بُراق د بیت المقدس پر طرف ته حرکت وکړی، په لږ وخت کې بیت المقدس ته ورسېدی، رسول الله ﷺ مسجد اقصا ته ور داخل سو هلته یې یوه عجیبه اجتماع ولیدل، الله جل جلاله د رسول الله ﷺ دپاره ټول انبیاء او رسُولان علیهم السلام را جمعه کړي او یو ځای کړي وه.

علماء کرام د انبیاء او رسُولانو په عدد او شمېر کې مختلف قولونه لري ځوک د ټولو انبیاء او رسُولانو علیهم السلام شمېر یو لک څلیر ویشت زره زیات او کم پکښې بولي، ځوک وایي: د رسُولانو عدد درې سوه دی او د انبیاوو عدد څلیرویشت زره دی، نور قولونه هم سته، مقصد دا چه په دغه مبارکه شپه الله جل جلاله ټول انبیاء او رسولان علیهم السلام په دغه لویه او مبارکه ټولنه او اجتماع کې را جمعه کړي وه، ابراهیم، نوح، موسیٰ، عیسیٰ علیهم السلام، ټول انبیاء اورسولان په مسجد الاقصا کې سره یو ځای سوي وه.

د مخکې پر مخ کوم ځای دی چې د ټولو انبیاء علیهم السلام په اجتماع سره دي مشرفه سوی وي؟ بېله بیت المَقدِس او بېله مکې مکرمې څخه بل ځای نسته، کعبې شریفې ته ټول انبیاء علیهم السلام د حج دپاره راغلي دي، لکه د امام بیهقي په روایت کې چې عروه بن زبیر رضی الله عنه وایي: ټولو انبیاء علیهم السلام د بیتُ الله الحرام حج کړی دی، او بیت المَقدِس هم هغه ځای دی چې ټول انبیاء علیهم السلام په دغه شپه دلته سره جمعه سوي دي چې دغه اجتماع بیا هیڅ وخت او په ټول تاریخ کې نه ده تکرار سوې او د بل وار دپاره په هیڅ ځای کې ټول انبیاء علیهم السلام نه دي سره جمعه سوي، بېله مسجد اقصا څخه او دغه ټول انبیاء او رسُولان علیهم السلام د سید البشر، سرور کائنات، فخر موجودات، جنابِ رسولُ الله، محمّد مصطفیٰ ﷺ استقبال او بنه راغلي ته راغلي وه.

انسان د دغه مبارک منظر او مشهد خیال او تصور هم نه سي کولای، ټول انبیاء علیهم السلام او رسُولان سرور کائنات، سردارِ کونین ﷺ ته راغلي دي، صف صف، قطار قطار، ولاړ دي او بنه راغلئ ورته وایي، دا څومره مبارکه او له نوره ډکه اجتماع ده.

بَلَغَ العُلٰی بِکَمَالِهِ    کَشَفَ الدُّجٰی بِجَمَالِهِ
حَسُنَتْ جَمِیعُ خِصَالِهِ    صَلُّوا عَلَیهِ وَآلِهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې غم دیوار امت را که دارد چون تو پشتیبان
چه باک از موج بحر آن را که باشد نوح کشتیبان

بیا نو رسول الله ﷺ د دغه ټولو انبیاوو امامت کوي، دغو ټولو انبیاء علیهم السلام ته سیّد د اولین او آخرین، سید البشر محمّد مصطفی ﷺ لمونځ ورکوي، دا هغه لوی، عظیم او لوړ شرف دی، تر دې به بل شرف چیرې وي چې د اُمتو د امامانو امام دې سي.

امام رُسل پیشوائی سبیل    أمین خدا مهبط جبریل

همدارنګه د قیامت په ورځ چې د هر امت څخه شاهد را وستل سي یعني: د هر امت نبي به پرخپل امت شاهد وي او محمّد ﷺ به بیا پر هغه انبیاء علیهم السلام شاهد وي، دا هم د خیرالبشر محمّد مصطفی ﷺ عزت او کرامت دی، دا اجتماع او ټولنه هغه لویه او معظمه اجتماع او ټولنه وه.

په دې اجتماع کې و انبیاء علیهم السلام ته د رسول الله ﷺ لمونځ او امامت ؤ چې دا کار بیا د اسلام په تاریخ کې نه دی مکرر سوی، کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو جبریل علیه السلام دوه لوښي یا دوه ګیلاسه ورته را وړل چې په یوه لوښي کې شیدې او په بل کې شراب وه، رسول الله ﷺ هغه د شیدو لوښی واخیستی، جبریل علیه السلام ورته وویل: سمې لارې ته لارښوونه او هدایت درته سوی دی.

یعني: دا چه شراب دې نه واخیستل، الله جل جلاله سمه لار درښوولې ده او امت دې هم سمې لارې ته را بللی دی، په دغه خبره کې د جبریل علیه السلام له طرفه دې ته اوله اشاره ده چې شراب بد او خبیث شئ دي، که څه هم تر دغه وخته په اسلام کې شراب نه وه منعه سوي خو رسول الله ﷺ هیڅکله نه تر دغه دمخه شراب څښلي وه او نه یې تر دغه وروسته څښلي دي، نه د مخه تر بعثت او نه وروسته تر بعثت.

تر لمانځه او د انبیاء علیهم السلام تر ملاقات وروسته معراج را وړل سو، د معراج وصف او تعریف موږ ته نه دی بیان سوی، هلته په کتابو کې هم صحي تعریف او صحي دلیل نسته چې معراج څه شي دی؟ بېله دې څخه چې عرب د معراج لفظ د ځینې دپاره استعمالوي یعني: عرب و ځینې ته معراج وایي، نو معراج یو قسم ځینه ده، خو که دلته معراج د ځینې په معنی سره سي نو داسې ځینه ده چې بشر یې نه پیژني، یوه خاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځنه ده چي د هغه په حقيقت بشر نه پوهيږي او نه پوهېدلای سي، نو دغه معراج چي د هغه حقيقت موږ ته نه را معلوميږي و رسول الله ﷺ ته کښېښوول سو.

رسول الله ﷺ په دغه عجيبه او غريبه ځنه کي وَختَی چي په څو لحظو کي رسول الله ﷺ اول آسمان ته ورسېدی، دغه مسافې چي تر قياس لوړي او تر حساب تيري دي په څو لحظو کي طئ سوې يا پای ته ورسېدې.

ورونو! موږ د دغه کون نه په لوی والي خبر يو او نه د دغو ليرو مسافو اندازه را ته معلوميږي، موږ ته د کون او د هغه د پراخوالي په باره کي هيڅ معلومات نسته، موږ انسانان که غربيان دي که شرقيان چي هرڅه پرله اوري او را اوري دا ټول د کون يو کوچنئ جز دی، د نن ورځي د کون علماء موږ ته د کون مسافه په ضوئي کال سره را ښيي.

موږ د مځکي مسافه په ميل يا کيلو مترو سره بيانوو، خو بالمقابل کون دومره پراخه دی چي په کيلو متر يا نورو اندازو سره نه سي ښوول کېدلای نو د کون علماوو د کون د مسافې د اندازه کولو دپاره ضوئي کال ايښی دی، ضوئي کال څه شي دی؟

(ضوء) يعني: رڼا او روښنايي لکه: د لمر رڼا يا شعاع، نو ضوئي کال و هغې مسافې ته ويل کيږي: چي ضوء يا روښنايي په يوه کال کي هغه مسافه طئ کولای سي.

که زه وغواړم چي د ضوء يا روښنايي سرعت يا چابکي در وښيم نو به داسي درته و وايم: چي د لمر روښنايي د لمر څخه بيا تر مځکي پوري په اتو دقيقو کي را رسيږي موږ داسي نه سو ويلای چي لمر د مځکي څخه دومره کيلو متره ليري دی، بلکه موږ وايو چي لمر د ضوئي کال په حساب د مځکي څخه اته دقيقې ليري دی، نو د هغې مسافې د ليري والي دپاره څه فکر کولای سې چي هغه په يوه ضوئي کال کي طئ کيږي؟

د نن ورځي د علم فلک معلومات دې اندازې ته رسېدلي دي او وايي چي په کون کي داسي نجوم او ستوري سته چي زموږ څخه په زرو زرو مليونه ضوئي کلو ليري دي او دا ټوله بيا هم د کون يو جُزء دی، ټول کون نه دی، بلکه کون نور هم تر دې ډير لوی او پراخه دی، دغه سفينه يا أپولو چي فضاء ته لېږل کيږي د دې تګ او سرعت په يوه ساعت کي تر درې زره کيلو متره زيات دی، که دغه أپولو يا فضائي سفينه په دغه خپل سرعت رهي وي درې کاله وروسته و هغه نژدې ترين کوکب ته هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې موږ ته تر ټولو کواکبو او نجوموړا نژدې دی ور رسیږي، هغه تر ټولو تېزه او تر ټولو چابکه سفینه یا اپولو چې بشر جوړه کړې ده هغه پسله دروکلو څخه و هغه نژدې ترین ستوري ته رسیږي.

اوس نو ته هغه بېحسابه مسافې ته فکر وکړه چې رسول الله ﷺ تر آسمانه یا لوړ تر هغه په دغه څو لحظو کې قطعه کړه، دا کومه معجزه ده؟ دا د الله جل جلاله کوم قدرت دی چې موږ ته یې په دغه معراج کې را ښکاره کړی؟ دا لوی اعجاز او لویه معجزه ده چې دغه لیري مسافه په دغه لږ وخت کې قطعه کیږي او رسول الله ﷺ د دنیا و آسمان ته ورسېدی، چې موږ اول آسمان ورته وایو، د آسمان دروازه بنده او تړلې وه، جبریل علیه السلام دروازه وټکول، د دروازې محافظ یا ساتونکي و ویل: څوک یې؟ ویل: جبریل، محافظ ویل: بل څوک در سره سته؟ ویل: هو محمّد را سره دی، د دروازې محافظ و ویل: امر نه دی را ته سوی چې بېله ده ﷺ څخه بل چا ته دروازه ورخلاصه کړم، د آسمان دروازه بنده وه بل چا ته نه خلاصېدل بېله هغه چا څخه چې الله جل جلاله یې اجازه فرمایلې وه او اجازه هم بېله محمّد ﷺ څخه د بل چا دپاره نه وه سوې، دروازه خلاصه سوه، زموږ امام او پیشوا جناب رسول الله ﷺ اول آسمان یعني: د دنیا آسمان ته داخل سو هلته یې عجیب او نادره شیان ولیدل، ملائکې یې ولیدلې، انبیاء علیهم السلام او نور شیان یې ولیدل.

تاسي پوهیږی چې آسمان په خپله د دود پر قسم دی او دا چه پر دغه آسمان څنګه ملائکې ګرځي او هلته دروازې سته موږ نه په پوهیږو دا د خالقِ قدیر کارونه دي.

﴿إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾

او رسول الله ﷺ هلته یو سړئ ولیدی ډیر جګ سړئ چې شپېته ذراعه یې جګوالی ؤ (ذراع) د پخوانیو وختو د اندازه کولو آله وه لکه د نن ورځې متر او ذراع تر متر کمه یا لږ ده چې د نیم متر په شا وخوا کې ده، نو د متر په حساب د دغه سړي جګوالی دېرش متره ؤ او د دغه جګ سړي پر شا وخوا نور ډیر زیات خلک وه، دغه جګ سړئ چې د راسته طرف خلکو ته وګوري وخاندي او کله چې بیا د چپه طرف خلکو ته وګوري و ژاړي، رسول الله ﷺ په تعجب کې سو ویل: یا جبریل! دا څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی؟ جبریل علیه السلام وویل: دا ستا پلار آدم علیه السلام دی.

د آدم علیه السلام قد او جګوالی ډیرش متره دی او د هغه وخت ټول انسانان په دغه اندازه جګ وه، رسول الله ﷺ فرمايي: چي د هغه وخت څخه تر اوسه پوري انسانان د قد او قامت په کمېدلو کي دي او نور به هم پسي کمیږي، مګر هغه وخت يې جګوالی په دغه اندازه سره ؤ او بيا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي دغه د ده پر شا وخوا دغه نور کسان څوک دي؟ او د ده د ژړا او خندا سبب څه دی؟ جبریل علیه السلام وويل: دا يې اولاده ده، د راسته طرف خلک يې اهل جنت يا (جنتیان) دي او د چپه طرف خلک يې دوږخیان دي، آدم علیه السلام چي هغي اولادې ته وګوري چي جنت ته ځي خوشاله سي او وخاندي او بيا چي هغي اولادې ته وګوري چي دوږخ ته ځي خواشيني او غمجن سي وژاړي.

رسول الله ﷺ د آدم علیه السلام قيافه بيانوي او فرمايي: آدم علیه السلام ډير جګ سړئ ؤ، توربخن او غنم رنګه سړئ ؤ، سپين پوستی نه ؤ، ډنګر ؤ او جګه پزه يې وه، نو د آدم علیه السلام د شکل او قيافې تعريف داسي سو: جګ، ډنګر، سيهن يا غنم رنګه سړئ دی.

دلته په دغه اول آسمان کي رسول الله ﷺ نور هم ډير عجيب شيان وليدل چي د هغې جملې څخه يې داسي خلک وليدل چي په يوه لويه واله کي اوبازي کوي، ځيني علماء وايي: دغه واله د وينو وه، د اوبو پر ځای ويني پکښي بهېدلې، دغو نفرو به په دغه وينو کي اوبازي کول څو په ډيره ستړيا سره به د ولې غاړي ته ورسېدل او د ستړيا په سبب به يې خولې وازي نيولي وې، خو دلته د ولې پر غاړه به ملائکو پرمخ په ډبرو ويشتل، حتّی مخان به يې زخمي سوه او ويني به ځني بهېدې او بيرته به په اوبازي هغه بل طرف ته رهي سوه خو هلته بيا دغه د ډبرو وارونه پر کېدل، رسول الله ﷺ په تعجب کي سو ويل: يا جبريل! دا څوک دي؟ جبريل علیه السلام وويل: دا هغه خلک دي چي د يتيمانو مال يې خوړلی دی.

نو هر هغه څوک چي د يتيمانو مال خوري پسله مرګه به په عالم برزخ کي د قيامت تر ورځي دغه عذاب ورکول کيږي او بيا يې په قيامت کي جزاء د دوږخ اور دی، دغه يې هغه اولنئ او کوچنئ عذاب دی چي د مخه تر قيامت ورکول کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


او په قیامت کې بیا اشد عذابونه ورته کوري.

رسول الله ﷺ هلته نور خلک هم ولیدل چې ډېر لوی نسونه او خیټې یې وې، ستوني ستخ پر مځکه پراته وه او د فرعون قوم به د هغو پر خیټو او نسو تېرېدی، تاسي ته معلومه ده چې الله عزوجل د مخه تر قیامت په عالم برزخ کې د فرعون قوم ته جزاء ورکوي او جزاء یې په دې ډول سره ده: چې په یوه شپه او ورځ کې دوه واره و اور ته بېول کیږي، یعني: اوس یې عذاب پرله پسې نه دی فقط یو وار په ورځ او یو وار په شپه کې پر اور عرضیږي او بیا بیرته را وستل کیږي، دغه جزاء یې تر قیامت د مخه ده، او بیا په قیامت کې اشد عذاب ورکول کیږي.

نو دغه د فرعون د قوم خلک چې به اور ته بېول کېده او بیرته به را وستل کېده، د دغو لوی نسو خلکو پر خیټو به تېرېدل، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ویل: یاجبریل! دغه څوک دي؟ جبریل علیه السلام و ویل: یا رسولَ الله! دغه لوی نسي خلک سود خوړونکي دي هغه چې په دنیا کې یې سود کاوه او رِبا یې خوړل او هغه کسان چې د دوی پر نسو تیریږي هغه د فرعون قوم دی چې دوه واره و عذاب ته بېول کیږي، خود تګ او را تګ لار یې دغه د سود خوړونکو نسونه دي، هغه چې په دنیا کې به یې معاملې په سود او ربا سره کولې.

ورونړو! هغه کسان چې سود او رِبا کوي هغه بد او حرام کار کوي او الله جل جلاله دغو خلکو ته د جزاء او تهدید په ډول سره په سورةُ البقره کې فرمایي:

﴿فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ﴾. [البقره: ۲۷۹]

یعني: تاسي د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ د جنګ دپاره ځانونه تیار کړی.

هغه څوک چې سود او رِبا کوي هغه ته به د قیامت په ورځ و ویل سي: اسلحه دي در واخله، سود خوړونکی به وایي: د څه شي دپاره؟ وایې: د الله عزوجل سره د جنګ کولو دپاره، او هر هغه څوک چې د رِبا مال خوري هغه به د قیامت په ورځ د پېریاني او مېرګیاني سړي په شکل را پورته کیږي او دا هم تاسي ته معلومه ده چې پېریاني او مېرګیاني پر لاري نه سي تلای، چپه کیږي او را پورته کیږي.

مسلمان وروره! سود خوړونکی انسان دغه ټول تکالیف او د قیامت عذابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې دپاره قبلوي چي په دغه نابوده او بې بقاء دنیا کي یو پنځه پیسې وکټي، د جُزئي او فاني ګټي دپاره لویه او ابدي ګټه د لاسه ورکوي.

او بیا رسول الله ﷺ داسي خلک ولیدل چي د هغو سره وراسته او بد بویه خواړه ور سره وه، ډیر بد بوی یې تلی، خو په عین وخت کي یو نور پاک، تازه او خوندور خواړه هم ور سره وه مګر دغو خلکو به هغه پاک او تازه خواړه پرېښوول او هغه بد بویه وراسته خواړه به یې خوړل، رسول الله ﷺ په ډیر تعجب کي سو، څوک دي چي ښه او تازه خواړه پرېږدي؟ او بد بویه وراسته نجس خواړه خوري؟

نو ویل: یا جبریل! دا څوک دي؟ جبریل علیه السلام وویل: دا زنا کاره دي، هغه زنا کاره چي حلاله او پاکه زوجه به یې پرېښوول خو خبیث او نجس ناروا ته به یې رجوع کول.

رسول الله ﷺ دلته په اول آسمان کي ډیر شیان ولیدل او بیا یې د اول آسمان څخه دوهم آسمان ته د جبریل علیه السلام په ملګرتیا تشریف یو وړی، هلته یې هم نور ډیر عجیب شیان ولیدل چي پر هغو سربېره یې دوه مشرف او معزز انبیاء علیهم السلام هم ولیدل چي یو عیسٰی علیه السلام او بل یحیٰی علیه السلام ؤ، دواړه ځوانان او الله عزوجل ته مقربه انبیاء وه، رسول الله ﷺ د عیسٰی علیه السلام د شکل او قیافې وصف داسي بیانوي: عیسٰی علیه السلام په رنګ سور ؤ، یعني: د مخ رنګ یې د سپین والي څخه و سور والي ته مائل ؤ نه جګ او نه ګردئ ؤ، یعني: میانه قده ؤ، پرمخ یې ډیر خالونه درلودل، کله چي به یې سر ښوراوه ستا به داسي خیال سو چي اوبه څني څڅېږي، یعني: وریښتان یې لکه لانده داسي معلومېدل که څه هم هغه به لانده نه وه، دا د عیسٰی علیه السلام وصف او ښایست دی چي رسول الله ﷺ یې موږ ته بیانوي.

او بیا رسول الله ﷺ دریم آسمان ته تشریف یووړی هلته یې یوسُف علیه السلام ولیدی، رسول الله ﷺ فرمایي:

« وَاللهِ ما رَأیتُ أجمَلَ مِنهُ »

یعني: قسم په الله تر هغه ښایسته مي نه دی لیدلی.

او فرمایي: هغه ته نیم ښایست ورکول سوی ؤ.

*څنګه نیم ښایست؟ خلک د دغي جملې و مقصد ته نه متوجه کیږي، مقصد دا:*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*الله ﷻ چې څومره ښایست خلق کړی یا پیدا کړی دی هغه پر دوو حصو وېشل سوی دی، یوه حصه یې یوازې یوسف علیه السلام ته ورکول سوې ده او هغه بله حصه یې ټول بشر ته ورکول سوې ده، نو ته دغه جمال او ښایست ته فکر وکړه!*

د مصر ښځو پر زُلیخا ملامتي ویل چي زلیخا د خپل مریي څخه نفساني غوښتنه کړې ده، نو زلیخا و هغو ښځو ته میلمستیا جوړه کړه، ښځو ته یې مېوې او چړې کېښوولې او بیا یې یوسُف علیه السلام ته و ویل: ورسه، کله چي دئ علیه السلام ورغلی هغه ښځې دغه د ده و بې مثاله ښایست ته په حیرت کي ډوبي سوې په خپلو ځانو نه پوهېدې، مبهوته او بېحاله سوې تر داسي اندازې چي د مېوې په عوض او بدل کي یې خپل لاسونه په چړو پرې کول او په ځانو نه پوهېدې، الله ﷻ دغه د دوی حال په قرآن مجید کي بیانوي او فرمایي:

﴿فَلَمَّا رَأَيْنَهُۥٓ أَكْبَرْنَهُۥ﴾

کله چي دغو ښځو یوسُف علیه السلام ولیدی ډېر زیات ښایسته یې وبلی.

﴿وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ﴾

او پرله پسې یې خپل لاسونه پرېکول، الله ﷻ داسي و نه فرمایل: (وَ قَطَعْنَ اَيدِيَهُنّ) یعني: د (طاء) په زور سره یې و نه ویل، ځکه په دغه صورت کي یې مقصد یو وار پرې کېدل دي، بلکه الله ﷻ د (طاء) په شد سره و فرمایل چي ترجمه یې څو واره پرې کېدل دي، نو هغو ښځو یو وار نه بلکه په تکرار سره خپل لاسونه په چړو پرې کول او په ځان نه پوهېدې.

﴿وَقُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا﴾

او دغو ښځو وویل: الله د عجز او نقصانه څخه پاک دی، دغه ځوان انسان نه دی.

﴿إِنْ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ۝٣١﴾

نه دی دغه ځوان مګر مکرمه ملائکه دی، دا شکل د بشر شکل نه دی، بلکه لکه ښایسته مَلَکه، د یوسُف علیه السلام ښایست په دغه اندازه سره ؤ، مګر د ده علیه السلام درجه د ده د ښایست په سبب نه ده بلکه درجه یې په نبوت، په هغه علم او حکمت کي ده چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله ﷻ ده ته ورکړي وه.

او بیا رسول الله ﷺ څلورم آسمان ته تشریف یو وړی، هلته یې ادریس علیه السلام ولیدی، هغه یې ښه راغلی و وایه او بیا له هغه ځایه پنځم آسمان ته ولاړی، رسول الله ﷺ فرمایي: چې هلته مي هارون علیه السلام ولیدی یو عزتمن شیخ او معتبره سړئ ؤ.

او بیا رسول الله ﷺ شپږم آسمان ته تشریف یو وړی او هلته یې مکرم رسول کلیم الرّحمٰن موسیٰ کلیم الله علیه السلام ولیدی.

بیا نو رسول الله ﷺ اوم آسمان ته تشریف یو وړی او هلته یې بیت المعمور ولیدی (بیتُ المعمور) د اهل سماء دپاره کعبه ده، لکه څرنګه چې دلته په مځکه کي د انسانانو او پیرانانو دپاره کعبه سته لمونځ ورته کوي، طواف پر کوي، همدارنګه د اهل سماء دپاره کعبه سته چې بیت المعمور ورته ویل کیږي او الله ﷻ دغه بیت المعمور د سورةُ الطور په څلورم آیات کي ذکر کړی دی، رسول الله ﷺ د دغه بیت المعمور په باره کي فرمایي: د ورځي اویا زره ملکي طواف پر کوي او هغو ملائکو ته بیا د قیامت تر ورځي بل نوبت نه وررسیږي، هره ورځ نوري نوي اویا زره ملکي د طواف دپاره ورته راځي.

﴿وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ﴾ [المدثر:۳۱]

د الله ﷻ مخلوق او لښکري په خپله الله ﷻ ته معلوم دي.

دغه اوم آسمان په ملائکو ډک ؤ او ټوله ملائکي د الله ﷻ په عبادت مشغوله وې، څوک پر سجده، څوک پر رکوع او چا تسبیحات ویل، رسول الله ﷺ فرمایي: چې په دغه اوم آسمان کي یوه لوېشت ځای نه ؤ مګر هلته ملکه وه او الله ﷻ ته یې سجده یا عبادت کاوه او رسول الله ﷺ فرمایي: دلته مي یو سړئ ولیدی چې بیت المعمور ته یې تکیه کړې وه او هغه سړئ تر هر چا دغه ستاسي د ملګري سره مشابه ؤ.

(ستاسي ملګري) له لفظه د رسول الله ﷺ خپل ځان مقصد دی، یعني: هغه سړئ په رنګ او شکل، قیافه او کړه وړه کي زما مشابه ؤ، رسول الله ﷺ فرمایي: پوښتنه مي وکړه چې یا جبریل! دا څوک دی؟ هغه را ته وویل: دا ستا پلار ابراهیم علیه السلام دی.

کله چې رسول الله ﷺ له یوه آسمانه بل آسمان ته تشریف وړی، او دغه انبیاء او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسُولان یې هلته لیدل دا یوازې لیدل نه وه، بلکه هغه انبیاء علیهم السلام ورته را تله سلام یې ورسره کاوه، د ده ﷺ استقبال او ښه راغلې یې کاوه، خبري یې ورسره کولې او د ده ﷺ د نبوت او رسالت تصدیق یې کاوه.

رسول الله ﷺ په دغه اوم آسمان کي د آسمان و هغه آخري حدودو ته تشریف یووړی او دلته یې جبریل علیه السلام د دوهم وار دپاره په هغه خپل واقعي شکل او صورت ولیدی، چي بیا یې تردغه وروسته په هغه خپله چهره او شکل نه دی لیدلی، ځکه جبریل علیه السلام د دغه ټولو کلو په جریان کي چي به یې وحيِ را وړلې په هغه خپل حقیقي او د مَلَکي په شکل نه را تلی، د رسالت په ټوله موده کي یې فقط دوه واره په خپل شکل او صورت و رسول الله ﷺ ته ځان ښکاره کړی دی، اول وار د بعثت په شروع کي چي د هغه بیان مومخ کي درته کړی دی او دوهم وار دغه د معراج په شپه، دلته د اوم آسمان په اطرافو کي د سدرة المُنتهٰی و وُني ته نژدې، په دغه باره کي الله جل جلاله د سورةُ النجم په (۱۳، ۱۴) نمبر آیاتو کي فرمایي:

﴿وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿١٣﴾ عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴿١٤﴾﴾

او خامخا محمد ﷺ جبریل علیه السلام په هغه خپل شکل دوهم وار په اوم آسمان کي د سدرة المُنتهٰی د درختي یا وُني سره ولیدی.

د سدرة المُنتهٰی درخته یا ونه د لوړو او کښتو مخلوقاتو په منځ کي وېش او سرحد دی، پورتني مخلوقات لاندي او کښتني مخلوقات لوړ نه سي تلای، د کښته طرفه اعمال او احوال تر سدرة المُنتهٰی پوري ورځي او له لوړه طرفه الٰهي اوامر او احکام تر سدرة المُنتهٰی پوري را کښته کېږي او جنت هم هلته د سدرة المُنتهٰی د وُني سره دی، ځکه الله جل جلاله فرمایي:

﴿عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴿١٥﴾﴾

نو رسول الله ﷺ د جبریل علیه السلام په ملګرتیا هغه ځای ته ولاړی چي هلته هیڅ بشر نه دی تللی، هیڅ انسان دغه مقام ته نه دی رسېدلی، بلکه داسي ځای ته ولاړی چي هلته نه بشر او نه ملکه تللي دي، بېله جبریل علیه السلام شخه، فقط جبریل علیه السلام دغه ځای او مقام ته ورغلی دی، رسول الله ﷺ فرمایي: دلته مي جبریل علیه السلام ته وکتل

(c) kitabton.com: The Digital Library


هغه په داسې شکل سو لکه هغه ځيري، زړه، شوړېدلې بوريا، دا ټول د الله ﷻ د بيرې ځخه، دا د جبريل علیه السلام حال ؤ، هغه جبريل چې ذِي قُوَّةٍ، ذي جَبَرُوت او شَدِيدُ القُوٰى دى الله ﷻ هم شديدُ القوٰى بللى دى، خو دغه شديدُ القوٰى جبريل چې دغه مقام او قُرب ته ورسېدى د الله ﷻ له بيرې يې دغه حال ؤ، دلته نو جبريل علیه السلام و درېدى ويل: يا محمّد! مخ ته ولاړ سه! ور دمخه سه! مګر زه: قسم په الله که يو قدم نور ور د مخه سم د الله ﷻ په الهي نور به وسوځل سم. سعدي رحمه الله په دغه باره کې وايي:

| | |
|---|---|
| شبی برنشست از فلک درگذشت | بتمکين وجاه ازمَلَک درگذشت |
| چـنان گـرم درتِيـه قُربـت بـراند | که در سِدرَه جبريل ازو بازمانـد |
| بـدوگـفت سـالار بـيت الحرام | کـه ای حاملِ وحی برترخِـرام |
| چـو در دوسـتي مخلـصم يافـتي | عِنانـم زصحـبت چـرا تافـتی؟ |
| بگفتـا فراتــر مجالــم نمانــد | بِمانـدم کـه نيروي بالـم نمـاند |
| اگـر يـک سرِمــوی برتــر پـرم | فـروغ تجـلّی بــسوزد پـرم |

جبريل علیه السلام و ويل: قسم په الله که يو قدم ور د مخه سم د الله ﷻ په نور به وسوځل سم، نو رسول الله، حبيب الله، محمّد مصطفٰى ﷺ يوازي مخ ته ولاړى، داسي ځای ته ولاړى چې هلته نه بشر تللى دى نه ملکه، دا د الله ﷻ له طرفه د دې امت و رسول: محمّد ﷺ ته عزت او إکرام دی، رسول الله ﷺ فرمايي: ور د مخه سوم او مخ ته ولاړم څو د سدرةُ المُنتهٰى درختي يا وُني ته ورسېدم، رسول الله ﷺ د سدرة المُنتهٰى د وُني تعريف او بيان را ته کوي او فرمايي: دغه ونه يوه عادي ونه وه، د دغي وُني پاني لکه د فيل غوږونه لوى لوى پاني وې، په ښکاره او ظاهره د ښايست کوم خاص شئ نه پر معلومېدى، رسول الله ﷺ فرمايي: زه پر دغه حال وم چې د الله ﷻ د نور تجلي دغه د سدرة المُنتهٰى پر ونه ښکاره سوې او ونه په دغه الهي نور کي پټه سوه، الله ﷻ فرمايي:

﴿إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾﴾

يعني: کله چې دغه د سدره ونه هغه شي پټه کړه چې پټه کړې يې وه.

يعني: د رب ﷻ تجلّى او انوار پر دغه ونه پلوشې او وړانګې واچولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾﴾

د محمّد ﷺ سترګي نه وې ګرځېدلې بلې خوا ته، يعني: د ډېر ادب په سبب يې بل طرف ته هيڅ نه کتل.

﴿لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴿١٨﴾﴾

د الله عزّوجلّ د الوهيت او قدرت لويي علامې يې وليدلې.

رسول الله ﷺ د سدرة المنتهٰی ونه يا درخته وليدل، هغه هم په داسي حال کي چي بېله کوم حائله او پردې او د الله جلّ جلاله په انوارو پټه وي، دا کومه لويي او کوم مقام دی، رسول الله ﷺ فرمايي: کله چي دغه ونه په الٰهي نور کي پټه سوه، د هغه خپل عادي حاله واوښتل شکل او رنګ يې تغير وکړی، په دغه وخت کي د دې وني د بهار او سينګار داسي حالت ؤ چي د هغې د حسن او جمال حال هيڅ بشر نه سي بيانولای، ښاخونه يې ياقوت او زبرجُد وه، د وُني پر شا وخوا داسي ښايسته شيان ګرځېدل لکه د سرو زرو پتنګان، يا طلايي پتنګان ، رسول الله ﷺ فرمايي د سدرة المُنتهٰی د وُني شکل دومره فرق وکړی او د ښايست هغي درجې ته ورسېدل چي د هيڅ انسان په وس او طاقت نه ده پوره چي د هغې د حسن او جمال تعريف او توصيف وکړي، ژبه او الفاظ له دې څخه عاجزه دي چي د سدرة المُنتهٰی د وُني د وصف او ښايست بيان دي وکړي، دا په هغه حالت کي چي د الله جلّ جلاله په نور او تجلو پټېږي.

د چا ژبه له دغه توصيفه او تعريفه عاجزه سوه؟ د هغه چا ژبه چي تر ټولو انسانانو فصيح او بليغ دی د رسول الله محمّد مصطفٰی ﷺ ژبه د سدرة المُنتهٰی د وُني د ښايست د تعريف او توصيف څخه عاجزه سوه، د هغه په قدرت نه وه پوره چي دغه حالت بيان کړي، حال دا چي رسول الله ﷺ تر ټولو انسانانو ډېر فصيح دی.

دغه د سدرة المُنتهٰی ونه د الله جلّ جلاله له مخلوقاتو څخه يو مخلوق دی، خو کله چي د الله جلّ جلاله په نور پټه سوه سيدُ البشر، اَکملُ البشر ﷺ يې د توصيف او بيانه څخه عاجزه سو، نو په خپله د حق تعالیٰ د ذات په باره کي څه خيال او فکر کوې؟ دا خبري تر خيال او فکر لوړي دي، کمالُ الجمال، الله جلّ جلاله لره دی او جمالُ الکمال، رب العالمين تعالیٰ لره دی، په دغه مبارک او عجيب ځای کي رسول الله ﷺ د خپل رب عزّوجلّ سره بېله

(c) ketabton.com: The Digital Library


حائله او بېله واسطې خبري وکړې، د دوی په منځ کې هيڅوک نه وه وحي نه وې او هلته کوم ترجمان نه ؤ، حق تعالیٰ بېله واسطې خبري ور سره وکړې، موسیٰ علیه السلام کليم الله دی، ابراهيم علیه السلام خليل الله دی او زموږ معزز پيغمبر محمّد مصطفیٰ ﷺ رسول الله، کليم الله، خليل الله او حبيب الله دی، ټول شرف او عزت د الله عزوجل له طرفه په ده ﷺ کې جمعه سوی دی، په دغه نادره او نه پېښېدونکې ملاقات کې الله جل جلاله خپل رسول ﷺ امر کړی چې پر خپل امت لمونځ فرض وګرځوي.

الله جل جلاله چې کوم عبادتونه پر موږ فرض کړي دي هغه ټول د جبريل علیه السلام په واسطه سره را ته راغلي دي، ټول حلال او حرام، ټول فرائض لکه روژه، زکوة، حج او نور ټول احکام موږ ته د وحيو په واسطه را رسول سوي او راباندې فرض سوي دي، بېله لمانځه، لمونځ د الله جل جلاله په مستقيم امر سره او د الله عزوجل په مستقيمو خبرو سره بېله واسطې را باندې فرض سوی دی، د الله جل جلاله په قدرت کې وه او کولای يې سوای چې لمونځ هم د وحيو په واسطه را باندې فرض کړي، مګر يا! د دې دپاره چې په اسلام کې د لمانځه درجه او مقام معلوم سي نو په لمانځه سره يې بېله واسطې امر کړو.

دا هم د الله جل جلاله په قدرت کې وه چې رسول الله ﷺ پر مځکه وي او بېله واسطې يې په لمانځه سره امر کړي چې پر مځکه يې بېله واسطې خبري ور سره کړي وای، مګر يا! رسول الله ﷺ يې لوړ بوتلی او هلته يې په دغه مشرف مقام کې لمونځ پر فرض کړی، دا دپاره د دې چې موږ مسلمانان د لمانځه سره بې پروايي و نه کړو، د لمانځه درجه او مقام وپېژنو.

الله جل جلاله په دغه مشرف او معزز ځای کې په لمانځه مکلف کړو، نو خود رسول الله ﷺ فرمايي: زموږ او د کفارو په منځ کې فرق لمونځ دی، که چا پرېښاوه هغه کافر سو او لمونځ د اسلام عمود دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

«الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ» [رواه الترمذي]

چې دا د لمانځه په باره کې لوی امر دی، د لمانځه دپاره دغومره شرف او عظمت کافي دی چې د الله جل جلاله په مستقيم امر سره فرض سو او په داسې مبارک ځای کې فرض سو چې هلته نه بشر رسېدلی دی نه ملکه، بېله سردار کونين محمّد

(c) ketabton.com: The Digital Library


مصطفى ﷺ څخه.

دلته باید د لمانځه لوړه درجه او لوی مقام د یوه مثال په راوړلو سره هم باید و پیژنو، او مثال د ممنوعاتو څخه نه دی، هغه دا چې په دنیا کې دا معمول او قانون دی چې یو څوک د یوه پاچا حضور ته د میلمه پر قسم ورسي د هغه پاچا له طرفه یوه هدیه او سوغات ورکول کیږي، نو رب العالمین چې د پاچهانو پاچا دی خپل رسول ﷺ او د هغه و امت ته یې په دغه شانداره ملاقات کې څه شي په هدیه کې ورکړی؟ لمـــــونـــــــــځ.

تاسي د لمانځه دغه لوړ مقام او لوی قدر ته وګوری! د اختر په ورځ لمونځ، د جمعې په ورځ لمونځ، د لمر یا سپوږمۍ د تندري نیولو په وخت کې لمونځ، د بیري په وخت کې لمونځ، د خوشالۍ په وخت کې لمونځ، د باران د غوښتني په وخت کې لمونځ، لمونځ هغه شئ دی چې مخلوق و خالق ﷻ ته نژدې کوي، لمونځ د رب ﷻ او د هغه د بندګانو په منځ کې رابطه ده.

پسله دغه عظیم او مشرف ملاقاته رسول الله ﷺ بیرته رجعت وکړی او را وګرځېدی، په لار کې یې د موسٰی علیه السلام سره ولیدل، موسٰی علیه السلام پوښتنه څني وکړه چې الله جل جلاله په څه شي امر کړې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: زما رب امرکړم چې په یوه شپه او ورځ کې پنځوس لمنځونه زما پر امت فرض کړم، موسٰی علیه السلام و ویل: ما د بني اسرائیلو څخه تر دغه کم یا لږ غوښتل خو د هغو په وسه نه سوه پوره او نه یې کول، بیرته دې خپل رب ته رجوع وکړه او ستا د اُمت دپاره تخفیف څني و غواړه، رسول الله ﷺ و جبریل علیه السلام ته وکتل لکه په دغه باره کې چې مشوره څني غواړي، جبریل علیه السلام اشاره ورته وکړه که دې خوښه وي هـو، رسول الله ﷺ هم خپل رب العالمین جل جلاله ته رجوع وکړه.

اوس نو د دغه رجوع څخه مقصد دا دی چې بیرته یې و سدرة المُنتهٰی ته رجوع وکړه او که څنګه؟ (والله اعلم) مګر په ظاهره داسي ښکاري چې دغه رجوع په دعاء سره وه، یعني: دعاء یې وکړه.

په هرصورت رب ﷻ ته یې رجوع وکړه او وې غوښتل چې دغه لمنځونه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرامت څه لږ سي، الله جل جلاله لس لمنځونه پر کم کړه، بیا هم موسیٰ علیه السلام ورته وایي: چي ډیر دي او رسول الله ﷺ هم رجوع کوي، څو دېرش سوه او بیا شل سوه او بیا لس سوه او بیا پنځه سوه، بیا هم موسیٰ علیه السلام و ویل: ما د بني اسرائیلو څخه تر دغه لږ غوښته او نه یې سوای آداء کولای، نور هم د الله عزوجل څخه تخفیف وغواړه مګر رسول الله ﷺ و فرمایل: د دغه ډیري مراجعې په سبب حیاء را ته ودرېدل نوره رجوع نه سم کولای زه په دغه راضي یم او قبلوم یې او بیا د الله جل جلاله له طرفه و فرمایل سوه: دغه لمنځونه په آداء کولو کي پنځه دي مګر ثواب یې د هغه پنځوسو سره برابر دی.

ورونو او خوندو! موږ او تاسي په یوه شپه او ورځ کي د الله جل جلاله دپاره پنځه لمنځونه آداء کوو خو هغه هم ځیني ناوخته ځیني قضاء سوي خو الله جل جلاله دغه پنځه لمنځونه موږ ته په پنځوسو لمنځو را حسابوي، دا هم د رحیم او کریم رب عزوجل فضل او کرم دی، که چیري موږ په هغه پنځوسو لمنځو مکلف وای څه حال به مو وای؟

نو دا د الله جل جلاله کرم او احسان دی چي لمنځونه یې پنځه را باندي فرض کړه او ثواب د هغه پنځوسو لمنځو را کوي، بیا نو رسول الله ﷺ د هغه معراج په واسطه بیرته بیت المقدس ته را وګرځېدی او د بیت المَقدس څخه یې بیرته مکې مکرمې ته تشریف را وړی.

دا نو د إسراء څخه عَوده او بېرته را ګرځېدل دي، رسول الله ﷺ پر لاري څه شیان ولیدل، یا څه شیان ورته پېښ سوه، هغه دا چي رسول الله ﷺ پر براق سپور ؤ او د یوې قافلې پر محاذاة یا برابري تېرېدی چي دغه قافله هم د قریشو وه چي له شامه مکې مکرمې ته رهي وه، د دغي قافلې څخه یوه اوښ دغه د براق تګ او تېزوالی ولیدی او و تورېدی، د قافلې څخه یې وځغستل دومره لیري ولاړی چي د قافلې د خلکو څخه ورک سو، دوی پسي ګرځي او نه یېویني ځکه شپه او تاریکه ده، رسول الله ﷺ ورږغ کړه چي اوښ مو په فلاني ځای کي دی، خلک په تعجب کي سوه لوړ د هوا څخه ږغ اوري او څوک نه ویني، خو هغه ځای ته ورغله او اوښ یې پیدا کړی، خیر رسول الله ﷺ په دغه شپه بیرته مکې مکرمې ته راغلی، دغه ټول سفر او دغه ټولي واقعې په دغه یوه شپه کي بلکه تر یوې شپې لا هم په لږ وخت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښي سوې، ځکه په دغه شپه کي ولاړی او په هغه شپه کي بیرته تر سهار د مخه راغلی.

کله چي سهار سو رسول الله ﷺ د کعبې شریفي سره ناست دی او په فکر کي ډوب دی، د دې عجیب سفر تر تاثیر لاندي دی، د الله جل جلاله سره ملاقات، د انبیاء علیهم السلام سره ملاقات او بل په دې فکر کي دی چي قریش به د دغه خبر په اورېدلو سره څه عکس العمل ښکاره کړي؟ په خپل فکر کي غرق دی او دغه حالات چي ور ته پېښ سوي دي هغه په خیال او فکر کي ور ګرځوي، ابوجهل ولیدی چي محمد ﷺ په فکر کي ډوب دی او چرت وهي، ابوجهل ملعون راغلی ور ته کښېنستی او د پسخند پر قسم یې ور ته و ویل: یا محمّد! آیا یو شئ پېښ سوی دی؟ رسول الله ﷺ ویل: هو! براېي شپه بیت المقدس ته ولاړم او بیرته راغلم، ابوجهل خبیث ته خندا ورغله خو ځان یې ټینګ کړی او ویل: هلته دي څه وکړه؟ رسول الله ﷺ ویل ولاړم هلته مي لمونځ وکړی او بیرته راغلم، ابوجهل خندل او ناري یې کړه: یا معشر بني کعب بن لؤی! راسی محمّد څه وایي، قریش سره را ټول سوه ویل: څه قصه ده؟ ابوجهل لعنة الله علیه و ویل: اوس د محمّد درواغ ښکاره سوه غوږ ونیسی غوږ ونیسی څه وایي؟

ابوجهل ویل: موږ پر اوښانو او په ډیرو مشکلاتو یوه میاشت وروسته بیت المقدس ته رسیږو او په ډېره ستړیا یوه میاشت پر لاري بیا بیرته دلته را رسیږو خو دئ تېر ماښام ولاړی او بیرته راغلی او دلې بیده هم سو، خلکو د ابوجهل خبره نه منل چي رسول الله ﷺ دي داسي ویلي وي نو یې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ویل: یا محمّد! آیا رشتیا ولاړې او راغلې؟ ویل: هو، خلک متحیّر او په حیرت کي سوه چي دا څه وایي؟ حتّی مسلمانان په فکر کي سوه ځکه دا خبره ترخیال لوړه او د منلو نه ده، د مسلمانانو څخه یو نفر ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه ته په ځغستا ورغلی، دا سړئ د بیري ورغلی چي خبره اوس چپه اوړي د مسلمانانو کار بل ډول کیږي، ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه ویل: خیر څه پېښه ده؟ سړي ویل: رسول الله ﷺ وایي: براېي د شپې بیت المقدس ته ولاړم او تر سهار د مخه راغلم، ټول خلک پر را ګرځېدلي دي او ور ته وایي خلاف وایې، په دې خبره سره د اسلام او مسلمانانو کار پای ته رسیږي، ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه و ویل: که ده ﷺ داسي ویلي وي رشتیا وایي (إن قَالَ ذَالِکَ فَقَد صَدَقَ) دا بل خو

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمان دی مګر بیا هم متردد او په شک کې دی، ځکه دا کار او دغه سفر عجیب او غیر طبیعي دی، نو دوی دواړه و رسول الله ﷺ ته ورغله، دلته پر رسول الله ﷺ خلک را ګرځېدلي دي، هغه قریش چې همېشه به یې خلک د رسول الله ﷺ د خبرو له اورېدلو منعه کول اوس ناري وهي، هرڅوک چې و وینې ورته وایي: راسه واوره محمّد ﷺ څه وایي، ابوبکر الصدّیق ﷺ راغلی و رسول الله ﷺ ته کښېنستی او پوښتنه یې ځني وکړه، ویل: یا رسولَ الله! آیا ته برایي شپه بیت المَقدِس ته ولاړې او بیرته راغلې؟ رسول الله ﷺ ویل: هو، ابوبکر ﷺ و ویل: صَدَقتَ، یعني: ته په دغه خپله خبره کې صادقه یې او زه یې منم، رسول الله ﷺ و فرمایل: أَنتَ الصِّدِّیق، دلته د اول وار دپاره رسول الله ﷺ دغه د صدیق لقب و ده ﷺ ته ورکړی او د صدیق د لقب سبب هم دغه د إسراء او معراج واقعه وه، دغه لقب د ابوبکر الصِدِّیق ﷺ دپاره په ایمان کې لوړه درجه او لوی مقام دی.

کله چې رسول الله ﷺ و ویل هو، ده هیڅ شک او تردد و نه کړی، فوراً یې و ویل: صادقه یې، بېله نقاشه بېله پوښتنې چې و وایي څنګه ولاړې او پرڅه شي ولاړې؟ بېله هرڅه! صادقه مسلمان ؤ، د خبرې د اورېدلو سره یې سمدستي و ویل: صَدَقتَ او رسول الله ﷺ ورته و ویل: اَنتَ یَا اَبَا بَکر! الصِّدِّیق.

قریشو و ابوبکر الصِدِّیق ﷺ ته و ویل: ته څنګه دا خبره منې او څنګه ورته وایې صَدَقتَ؟ موږ یوه میاشت پرلار تېروو، تکلیفونه او خوارۍ را باندې تېرېږي بیا نو هلته رسېږو او دئ په یوه شپه ولاړی او بیرته راغلی؟ ابوبکر الصِدِّیق ﷺ و ویل: زه د ده ﷺ خبرې چې تر دغه لا هم عجب کار وي منم، زه د ده هغه خبرې منم چې له آسمانه په یوه لحظه کې ورته راځي، زه یې په هغه وحیو کې صادق بولم چې د آسمان د خالق له طرفه ورته راځي او اوس یې بیت المَقدِس ته تګ عجب وبولم او نه یې ومنم؟ بیا نو ابوبکر الصدِّیق ﷺ إراده وکړه چې خَلکو ته د رسول الله ﷺ صداقت او رشتیا ویل وربښکاره کړي او دا ثابته کړي چې رسول الله ﷺ صادقه دی، نو و ویل: یا رسولَ الله! موږ خبر یو چې تا په پخوا کې بیت المقدس نه دی لیدلی او ته هلته نه یې تللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


*ورونو! تاسي ته هم معلومه ده چي رسول الله ﷺ په هغه خپلو سفرو کي شام ته تللی ؤ، خو بیت المقدس ته نه تللی ؤ او نه یې لیدلی ؤ.*

نو ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه و ویل: تا بیت المقدس په خپل ژوند نه دی لیدلی خو موږ تللي یو او لیدلی مو دی او په حاضرو خلکو کي هم داسي ډېر خلک سته چي بیت المقدس یې لیدلی دی، دا چي ته تېره شپه ولاړې او و دي لیدی نو موږ ته د هغه بیان وکړه، رسول الله ﷺ هم د بیت المقدس د علامو په بیانولو شروع وکړه، ویل داسي مسجد دی او داسي جوړ سوی دی، داسي یې عمودونه دي، د مسجد لویي لویي علامې بیانوي، دلته ځیني قریش حاضر وه چي بیت المقدس ته به ډېر تله او راتله، هغو پوښتني شروع کړې د هر شي پوښتنه کوي او د هغه مفصل جواب او بیان غواړي.

ورونو! تاسي ته معلومه ده که یو څوک مسجد ته د لمانځه د آداء کولو دپاره ولاړ سي هغه نفر لمونځ کوي او بیرته را وزي، د مسجد پر دروازو او کِلکِنانو فکر نه کوي چي څو دروازې څو کِلکِنان څو ستني یا عمودونه لري او داسي نور ډېر شیان د دغه لمونځ کوونکي په فکر کي نه وي، رسول الله ﷺ هم هلته د لمانځه او د انبیاء علیهم السلام د ملاقات دپاره تللی ؤ، د مسجد و تعمیر یا نقشې او داسي نورو شیانو ته یې نه فکر ؤ او نه یې په یاد وه او نه ورته معلوم وه، خو قریش قصداً دغسي پوښتني کوي چي دئ ﷺ غلط سي یا معلومات ورته نه وي او د دوی خبره پر جوړه سي، مګر د قادر مطلق الله جل جلاله په إراده بیت المقدس د ده ﷺ مخ ته راوړل سو او دئ ﷺ ورته ګوري، هر یو چي د هر شي پوښتنه وکړي رسول الله ﷺ د هغه جواب ورته وایي، رسول الله ﷺ یېویني او دوی یې نه ویني، رسول الله ﷺ د بیت المقدس ټولي علامې په مکمل ډول ورته بیان کړې، چي څوک پوښتنه وکړي رسول الله ﷺ هغه ته ګوري او جواب ورته وایي، ټول قریش په تعجب کي دي خو بیا هم د قریشو کفار دا خبر نه مني.

رسول الله ﷺ و فرمایل: زما سره نوري علامې هم سته، قریشو ویل: هغه څه شي دي؟ ویل قافله: ستاسي قافله پر لاري ده، د قافلې په مخ کي یو سور اوښ دی او دوې غرارې پر بار دي حتّی هغه شیان یې ورته و ویل چي په دغه اوښ د ښایست او زینت دپاره ځړول سوي وه او د دغي قافلې څخه په فلانی منطقه کي یو اوښ ورک

(c) ketabton.com: The Digital Library


سو، ما ورېغ کړه او اوښ مي ورونباوه.

همدارنګه د دغي قافلې سره په يوه لوښي کي اوبه وې چي سر يې بند او ترلی ؤ ما هغه اوبه وڅښلې، څرنګه چي د قافلې خلک د اوښ د را وستلو دپاره تللي وه زه يې نه وليدم، قريشو ويل: ښه دغه قافله چي تا پرلاري وليدل له دغه ځايه څومره او په کومه اندازه ليري ده؟ او ستا په حساب څو ورځي وروسته به دلته را ورسيږي؟ رسول الله ﷺ وويل: پسله درو ورځو دلته را رسيږي.

اوس نو په دغه خبرو کي هيڅ درواغ نه ځايېږي ځکه چي رسول الله ﷺ پرون هم د دوی سره په مکه مکرمه کي ؤ او نن هم د دوی سره دی او قافله پرلاري ده او دلته درې ورځي وروسته رارسيږي او رسول الله ﷺ هغه قافله ليدلې ده او خبري يې ور سره کړي دي، اوبه يې څني څښلي دي، دلته د درواغ ويلو هيڅ امکان نسته، خلکو وعده سره وکړه چي د دغي قافلې د را رسېدلو انتظار به کوي، څو هغه ورځ را ورسېدل چي په دغه ورځ بايد قافله را ورسيږي، سهار وختي د مکې مکرمې ډېر خلک دباندي ور و وتل او د قافلې انتظار کوي، واقعاً هم په دغه ورځ قافله را ورسېدل او د قافلې په مخ کي هغه سور اوښ دی او هغه علامې هم ټوله پر سته کومي چي رسول الله ﷺ بيان کړي وې، کله چي قافله را ورسېدل قريشو پوښتنه څني وکړه چي ستاسي اوښ ورک سوی ؤ؟ ويل: هو اوښ مو ورک ؤ او د يو چا رغ مو واورېدی چي اوښ يې را وښوی او اوښ هم هلته ؤ، اوس د قافلې خلک پوښتنه کوي چي تاسي چا خبر کړاست چي موږ ته دغه واقعې پيښي سوي دي؟ قريشو ويل: دا محمّد ﷺ ؤ او هغه دغه خبر راوړی، خو سره د دغو لويو معجزاتو بيا هم قريشو نه ايمان را وړی او نه مسلمانان سوه.

دغه د إسراء او معراج واقعه د هغو معجزو څخه نه ده چي الله جل جلاله خپل حجت او دليل پر کفارو قائم او ثابت کړي بلکه دغه حادثه او واقعه د دې دپاره وه چي الله جل جلاله پر خپل محبوب ﷺ هغه غم او تشويش کم کړي، کوم چي دئ ﷺ يې زهيراوه او د رسول الله ﷺ زړه ثابت او قائم کړي، د دغي واقعې څخه په خپله رسول الله ﷺ مقصد ؤ نه د خلکو دپاره د معجزو اثبات، د دغه مقصد د اثبات دپاره د الله عزوجل هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


قول دليل دی چي فرمايي:

﴿لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾

يعني: دغه إسراء او معراج ته د رسول الله ﷺ بېول د دې دپاره وه چي موږ و ده ﷺ ته د خپل قدرت ځيني دلائل او علامې وربښکاره کړو.

ورونو! دلته د يو څو تنبيهاتو يا يوې تبصرې ضرورت وينم. هغه دا چي: کفار خو کفار دي نه قرآن مني نه د رسول الله ﷺ نبوت، نو هغه به په دغسي معجزو کله اقرار او اعتراف وکړي، خو د ډېر افسوس ځای دا دی چي په مسلمانانو کي هم داسي څوک پيدا سي چي د دغسي خارق العاده پېښو څخه په عقلي دلائلو سره انکار کوي، د دغسي خلکو د جواب او قناعت دپاره که څه هم ډېر عقلي دلائل سته خو بيانول يې ډېر وخت غواړي او د هغو په بيانولو سره موږ د خپلې موضوع څخه دباندي وزو، نو د هغو د جواب او قناعت دپاره په دغه راتلونکو مختصرو جملو او څو جوابو سره کفايت کوم.

**لومړئ**: هر هغه څوک چي پر خالقُ المعجزات الله جل جلاله ايمان ولري هغه ته ډېر آسانه دي چي پر هر څه ايمان را وړي، ځکه که په زړه کي پر الله عزوجل او د هغه پر کامل قدرت ايمان ثابت او قائم سي بيا نو په دنيا کي داسي شئ نه پاته کيږي چي هغه ته دي موږ غير ممکن ووايو.

**دوهم**: زموږ مسلمانانو عقيده دا ده چي د رسول الله ﷺ په ژوند کي د ده ﷺ عمده او ښکاره صفت دا دی چي دئ ﷺ رسولُ الله او نبيُ الله دی، نو په دې کي هيڅ شک نسته چي نبوت او رسالت د هغه غيبي معانيو څخه دی چي زموږ د عقل او احساس تر معانيو او مقياسو نه لاندي کيږي، نو داسي معجزې او د بشري عادته څخه مخالف کارونه د ده ﷺ د رسالت په کيان او ذات کي موجود دي، دغه معجزې او خارق العاده کارونه د ده ﷺ د ذات څخه تر هغو نه سو ليري کولای او نه سو جلا کولای تر څو د ده ﷺ د ژوند څخه د نبوت صفت ايسته نه کړو، يعني: نبي يې و نه بولو او دا کار هغه وخت کولای سو چي په ښکاره سره د دين څخه انکار وکړو (العياذ بالله) او تاسي پوهيږئ کله چي دين د شک او انکار ځای وګرځي بيا نو د معجزو د انکار يا اثبات دپاره بحث کول بېځايه او بېمعنٰی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**درېيم**: موږ ولې فکر نه کوو چې زموږ او ستاسې پر شا وخوا ټول شيان د خالقِ قدير ﷻ معجزې دي، کواکب او نجوم معجزه ده، د آسمانو حرکت معجزه ده، د جاذبې قانون معجزه ده، په انسان کې عصبي مجموعه معجزه ده، ستا په بدن کې د وينې جوړېدل او بهېدل معجزه ده، ستا په بدن کې ستا روح معجزه ده، دغه انسان په خپله معجزه دی. تاسې نه ګورئ چې يوه فرانسوي عالم (شاتو بريان) پر انسان کوم او څه نوم ايښی دی؟ دئ وايي: انسان يو غيبي او مجهول حيوان دی (لميتا فيزيقي حيوان) يې بولي.

خو انسان د اوږده اُلفت او همېشني عادت په واسطه په دغو ټولو شيانو کې د هغو معجزه توب هېر کړی دی او د خپل جهل او غرور په سبب وايي: دغه شئ چې دا ته يې را ته وايې دا زما عقل نه قبلوي او نه يې مني.

او هغه شيان چې د انسان ناقص عقل په قانع کېږي د خپل کفر او ايمان دپاره مقياس او ترازو ګرځوي، چې دا د انسان هغه عجيب جهل او ناپوهي ده، سبحان الله! انسان چې هر څومره په علم او مدنيت کې لوړ سي، په ساينس او تکنالوجي پوه سي بيا هم د هغه خپل جهله څخه کار اخلي، خو که انسان لږ څه فکر وکړي ده ته به په ښکاره ډول سره واضحه او روښانه سي چې هغه الله چې دا ټول کون يې په مُعجِز ډول سره پيدا کړی دی، و هغه ته دا هيڅ نه ده ګرانه چې يوه بله معجزه هم پر زياته کړي يا په ځينو هغو قوانينو کې چې عالَم يې پر هغه قوانينو جوړ کړی دی تغير او تبديل را ولي، حتّی يوه برېطانوي عالِم (ويليم جونز) هم دغه فکر کړی دی کله چې يې و ويل: هغه قدرت چې دغه عالَم يې خَلق کړی او پيدا کړی دی! هغه د دې څخه نه دی عاجزه چې يو شئ پر دغه عالَم زيات کړي يا يې ځني کم کړي.

فرضًا که دغه کون يا عالَم موجود نه وای او دغسې چا ته چې د دغسې معجزو او خوارق العاده کارو څخه منکره وي ويل سوي وای: چې دغسې کون او عالَم به جوړ سي، هغه به سمدستي ويلي وای چې دا غير ممکنه ده، د دغه کون پيدا کېدل به د ده په فکر تر دغه معجزې ډېر ناممکنه وای.

نو د دغو څولږو دلائلو په وړاندې کولو سره پر هر مسلمان دا لازمه ده چې بايد خامخا پوه سي چې رسول الله ﷺ رسول الله دی او الله ﷻ په دغو معجزو سره مکرم کړی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له څرنګه چې د کون او د ژوند نوري ټولي معجزې له سره کيږي او زموږ عقلونه يې په آساني سره قبلوي، دغه رنګه بايد دغه معجزه هم په سهولت او آساني سره قبوله کړو.

## د عقبې سره اول بيعت

موږ مخ کي درته وويل چي د بعثت د يوولسم کال د حج په موسم کي د اهل يثرب څخه شپږ نفره اسلام ته داخل سوه او د رسول اللهﷺ سره يې وعده وکړه چي موږ به ستا رسالت او اسلام خپل قوم ته رسوو، نو د دوی د کار نتيجه دا سوه چي په را تلونکي موسم کي يعني: د بعثت د دوولسم کال د حج په موسم کي چي د ميلادي سنې د (٦٢١) کال د جولای مياشت وه د يثرب څخه دوولس نفره مسلمانان د حج دپاره راغله چي په دوی کي پنځه نفره هغه کسان وه چي په تېر کال کي يې د رسول اللهﷺ سره ليدلي وه او هغه شپږم نفر چي د دوی سره په سږ کال کي نه ؤ راغلی هغه جابر بن عبدالله بن رئاب ؤ او د دغو نوو راغلو اوو نفرو نومونه په داسي ډول سره وه:

١ – ذکوان بن عبد القيس (الخزرجي) چي د بني زُريق څخه ؤ.
٢ – معاذ بن الحارث (الخزرجي) چي د بني نجار څخه ؤ.
٣ – عُباده بن الصامت (الخزرجي) چي د بني غنم څخه ؤ.
۴ – يزيد بن ثعلبه (الخزرجي) چي د بني غنم د حُلفاوو څخه ؤ.
۵ – العبّاس بن عُباده (الخزرجي) چي د بني سالم څخه ؤ.
٦ – ابوالهيثم بن التيهان (الأوسي) چي د بني عبدالأشهل څخه ؤ.
٧ – عُويم بن ساعده (الأوسي) چي د بني عَمرو بن عوف څخه ؤ.

دغه دوه آخرني نفر د أوس د قبيلې څخه وه او نور ټول د خزرج د قبيلې څخه وه، دغو دوولسو نفرو د رسول اللهﷺ سره په منٰی کي د عقبې سره وليدل او دالته يې بيعت هم ور سره وکړی، دا هغه بيعت دی چي بيعت النساء ورته ويل کيږي، يعني: د ښځو بيعت، که څه هم په دغه بيعت کي ښځي نه وې موجودي خو نوم د بيعت النساء په دې سبب پر کښېښوول سو چي په دې بيعت کي پر ايمان، اطاعت او ښو اخلاقو وعده وه، په دې بيعت کي جهاد نه ؤ او د ښځو بيعت هم داسي ؤ چي د الله جل جلاله پر وحدانيت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ پر رسالت به ایمان لري.

الله جل جلاله لره به شریک نه نیسي.

لمونځ او د الله جل جلاله اطاعت به کوي.

غلا او زنا به نه کوي.

څرنګه چې په دغه اوسني بیعت کې که څه هم د نارینه وو سره ؤ خو د جنګ او جهاد ذکر پکښې نه ؤ نو له همدې جهته بیعت النساء ورته وویل سوه.

امام بخاري د عُباده بن الصامت رضي الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ را ته وویل: راسی پر دې بیعت را سره وکړی چې الله ته به هیڅ شریک نه نیسی، غلا به نه کوی، زنا به نه کوی، خپل اولادونه به نه وژنی، یو له بله به تهمت او بُهتان نه سره وایاست، په ښو کارو کې به زما نا فرماني نه کوی.

که چا پر دغو کارو وفاء وکړه د هغه اجر پر الله دی او که د چا څخه د دغو کارو مخالف کار پېښ سو او په دنیا کې جزاء ورکول سوه هغه یې کَفاره ده او که د چا څخه مخالف کار پېښ سو او الله جل جلاله یې حال پټ کړی، یعني: څوک نه سوه په خبر د هغه حساب پر الله دی که یې خوښه وه جزاء به ورکړي او که یې خوښه وه وبه یې بخښي.

عباده رضي الله عنه وایي موږ پر دغو کارو بیعت ور سره وکړی، دغو نفرو د خپل اسلام اظهار وکړی او په اسلام سره یې اقرار وکړی او د ډېرو نفرو د ایمان را وړلو خبر یې هم و رسول الله ﷺ ته و وایه چې هلته په مدینه منوره کې نورو ډېرو نفرو هم ایمان را وړی دی، کله چې د حج موسم پای ته ورسېدی نو دغو نفرو د رسول الله ﷺ څخه وغوښتل چې د دوی سره یو نفر مدینې منورې ته ولیږي چې هلته مسلمانانو ته د اسلام احکام او قرآن وروښیي او هغه کسان چې تر اوسه پر شرک پاته دي په هغو کې اسلام نشر کړي، څکه هلته په مدینه منوره کې اسلام نشرېږي، رسول الله ﷺ هم د دغه سفارت دپاره د هغو ځوانانو څخه یو ځوان انتخاب کړی چې د سابقینُ الأولین یعني: اولو مسلمانانو څخه ؤ چې هغه مُصعَب بن عُمَیر رضي الله عنه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# په مدينه منوره کي د اسلام اول سفير

مُصعَب بن عُمَير ﷛ د مديني منورې د مسلمانانو په ملګرتيا مديني منورې ته ولاړی او هلته د اسعد بن زُراره ﷛ په کور کي اوسېدی او دوی دواړو په شوق او حماس، په جِد او جهد سره په اهل يثرِب کي اسلام نشراوه او مُصعب ﷛ په مدينه منوره کي د مُقرِئ په نامه سره مشهوره سو (مُقرِئ) يعني: د قرآن مجيد ويونکی. د مُصعب بن عمير ﷛ د دعوت د کاميابۍ د مشهورو قصو څخه يوه قصه دا ده:

چي اسعد بن زُراره ﷛ يوه ورځ مُصعب بن عُمير ﷛ له کوره را وايستی او غوښتل يې چي د بني عبدالأشهل او د بني ظفر کورو ته د دعوت دپاره ولاړ سي، هلته ورغله د هغې قبيلې په باغو کي يوه باغ ته ورننوتل او د يوه څاه پرغاړه کښېنستل چي هغه څاه ته (بئرمَرق) ويل کېده، د مسلمانانو څو نفره ورته را ټول سوه د اسلام خبري سره کوي، سعد بن معاذ او اُسيد بن حُضَير چي د بني عبدالأشهل د قبيلې مشران او سرداران وه او په دغه وخت کي پر هغه خپل شرک وه هغو ته چي د مُصعب بن عمير او اسعد بن زُراره ﷠ د را تګ خبر ور ورسېدی نو سعد بن معاذ و اُسيد بن حُضير ته و ويل: ورسه دغو دوو راغلو کسانو ته جزاء ورکړه، دوی راغلي دي او غواړي چي زموږ ناپوه خلک له دينه واړوي؟ او د دې څخه يې منعه کړه چي زموږ کورو ته راسي، دا چي اسعد بن زُراره زما د خاله زوی دی نو ته ورسه، که هغه زما د خاله زوی نه وای ما به په خپله دغه کار کړی وای.

اُسيد هم خپله نېزه ور سره واخيستل او د دوی پر طرف ور رهي سو، اسعد ﷛ چي د ليري اُسيد وليدی و مصعب ﷛ ته يې و ويل: دغه چه را رهي دی د قوم مشر دی، د الله او دين خبري ورته وکړه، مصعب ﷛ و ويل: که کښېنستی خبري به ور سره وکړم، اُسيد چي را ورسېدی په قهر ورته و درېدی او و ويل: د څه شي دپاره دلته راغلي ياست؟ غواړی چي زموږ ناپوهان له دينه واړوی؟ که تاسي و ژوند ته ضرورت لری له دې ځايه څخه ولاړ سی (يعني: که غواړی چي ژوندي پاته سی دلته مه راځی)

مُصعب ﷛ ورته و ويل: ته کښېنه او زما خبري واوره که دي خوښي سوې قبولي

(c) Ketabton.com: The Digital Library


يې کړه او که دي ناخوښه وې هغه شئ مه قبلوه چې ته په ناراضه کېږې او موږ به هم درڅخه ولاړ سو، اُسيد و ويل: د عدل او انصاف خبره دي وکړه، نو يې خپله نېزه پر مځکه جګه کړه او کښېنستی، مُصعب ﷺ د اسلام خبري ورته وکړې قرآن مجيد يې ورته تلاوت کړی، راوي د قصې وايي: په والله د مخه تر دې چې اُسيد خبري وکړي موږ د ده په مخ کي د اسلام نور وليدی، بيا نو اُسيد و ويل: مَا أَحسَنَ هٰذا وَ أَجمَلَهُ، دا څومره ښه او ښايسته خبري دي، نو ويل: که څوک و غواړي چې دغه ستاسي دين ته داخل سي څنګه او څه کار کوي؟ دوی ورته و ويل: اول غسل وکړه، کالي دي پاک کړه، د حق شاهدي آداء کړه او بيا دوه رکعاته لمونځ و الله ﷻ ته وکړه.

اُسيد ولاړ سو غسل يې وکړی کالي يې پاک کړه، شهادتين يې و ويل او دوه رکعاته لمونځ يې وکړی او بيا يې و ويل: زما تر شا يو سړئ دی که هغه ستاسي متابعت وکړي د ده له قومه هيڅوک د ده مخالفت نه کوي چې هغه سعد بن معاذ دی او زه به يې اوس تاسي ته را ولېږم، بيا يې خپله نېزه ور سره واخيستل او د سعد پرطرف ور رهي سو، سعد بن معاذ چې د خپله قومه سره د مجلس په ځای کي ناست ؤ او د ليري يې اُسيد وليدی قوم ته يې و ويل: په الله سره مي دي قسم وي چې په هغه مخ نه دی راغلی کوم چې ستاسي او له دې ځايه څخه تلی.

کله چې اُسيد خپل قوم ته ودرېدی سعد ورته و ويل: څه دي وکړه؟ اُسيد و ويل: د خلکو سره مي خبري وکړې خو ما داسي شئ نه پکښي وليدی چې هغه دي د تشويش وړ وي او بيا ما منعه کړل چې دلته به نه راځی، دوی ويل: ښه دی څرنګه چې ستا خوښه وي هغسي کوو، خو يوه بله بده پېښه ده (*اُسيد ﷺ غواړي چې سعد بن معاذ په يوه بله طريقه دوی ته وروليږي*) نو ويل: يوه بله بده پېښه ده، هغه دا چې بنو حارثه را وتلي دي غواړي چې اسعد بن زُراره و وژني، سره له دې چې دوی خبر دي چې هغه ستا د خاله زوی دی، سعد د دې خبري په اورېدلو په قهر سره ولاړ سو خپله نېزه يې ور سره واخيستل د مُصعب او اسعد ﷺ پر طرف ور رهي سو، کله چې يې وليدل چې هغه آرام ناست دي او هيڅ نه ده پېښه نو پوه سو چې د اُسيد مقصد دا ؤ چې زه دوی ته راسم او د دوی خبري واورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دغه وخت کي اسعد بن زُراره ﷺ و مُصعب ﷺ ته و ویل: یو سردار او رئیس درته را رهي دی او د ده تر شا لوی قوم ولاړ دی، که دئ ستا د دین متابعت وکړي د ده له قومه هیڅوک ستا مخالفت نه کوي او ټول اسلام ته داخلیږي.

سعد بن معاذ را ورسېدی او په قهر ورته و درېدی، و اسعد ﷺ ته یې و ویل: یا ابا اُمامه! که زما او ستا په منځ کي قُرابت نه وای دغه سړئ به زما څخه ژوندئ نه وای تللی، دننه زموږ کورو ته هغه شیان را وړي چي زموږ نه دي خوښ؟ مُصعب ﷺ و سعد بن معاذ ته و ویل: آیا نه کښېنې چي زما خبري واورې؟ که دي خوښي سوې قبولي یې کړه او که دي ناخوښه وې موږ به درڅخه ولاړ سو، سعد بن معاذ و ویل: دا حق او د انصاف خبره ده، نېزه یې پر مځکه جګه کړه او دئ کښېنستی، مُصعب ﷺ د اسلام خبري ورته وکړې، قرآن مجید یې تلاوت کړی، بیا هم راوي د قصې وایي: په والله د مخه تردې چي سعد خبري وکړي موږ د ده په مخ کي د اسلام په نور پوه سوو، بیانو سعد بن معاذ و ویل: څوک چي مسلمانیږي او غواړي چي ستاسي دین ته داخل سي هغه څنګه کوي؟ مصعب ﷺ و ویل غُسل وکړه، کالي دي پاک کړه، د شهادت کلمې و وایه او دوه رکعاته لمونځ آداء کړه، سعد هم دا کارونه وکړه، بیا یې خپله نېزه ور سره واخیستل او د قوم پر طرف رهي سو، قوم چي د لیري ولیدی نو یې و ویل: په الله مو دي قسم وي په کوم مخ چي تللی وُ په هغه مخ نه راغلی، اوس چي سعد بن معاذ خپل قوم ته ودرېدی ویل: یا بني عبد الأشهل زه په تاسي کي څه مقام لرم؟

هغو ویل: ته زموږ سرداریې، په موږ کي پوه او هوښیار یې.

ده و ویل: ستاسي د نارینه او ښځو سره تر هغو پر ما خبري کول حرام دي چي پر الله او د هغه پر رسول مو ایمان نه وي را وړی، د ده د قوم پر نارینه او ښځو د دغې ورځي د ماځیګر لمر و نه لوېدی چي ټول قوم یې اسلام ته داخل سو، ښه یوه سړي څخه چي د هغه اسلام د اُحُد د جنګ تر ورځي پوري وځنډېدی او د اُحُد په ورځ مسلمان سو، په هغه ورځ یې جنګ هم وکړی او په هغه جنګ کي په داسي حال کي شهید سو چي الله جَلَّ جَلالُهُ ته یې یوه سجده هم نه وه کړې، رسول الله ﷺ د ده په باره کي وفرمایل: (عَمَلَ قَلِیلاً و أجَرَ کَثِیراً) یعني: عمل یې لږ وکړی او اجر یې ډېر واخیستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مُصعب بن عُمیرؓ د رسول الله ﷺ سفیر حتّی په اسلام کي اول سفیر په مدینه منوره کي د اسعد بن زُراره ؓ په کور کي اوسېدی او خلک یې اسلام ته دعوتول د ورځي او د شپې دعوت کوي، د دعوت په لار کي یې ډېر زحمت ایستی ترڅو چي د انصارو په کورو کي داسي کور نه ؤ چي هلته دي نارینه او ښځي مسلمانان نه وي موجود، په مدینه منوره کي اسلام نشر سو او ډېر زیات خلک اسلام ته داخل سوه،
دغه واقعې د غم تر کال وروسته او تر هجرت د مخه پیښېږي، د بعثت لسم کال د غم کال ؤ او هجرت د بعثت تر دیارلسم کال وروسته وسو، په درو کلو کي دغه تحولات پېښ سوه.
د مدینې منورې د خلکو څخه چي یو نفر مسلمان سي، هغه نفر بیا ډېر کوښښ کوي چي نوره کورنۍ یې هم اسلام ته داخله سي د مثال پر قسم به دغه یوه قصه درته بیان سي:
د عَمرو بن جموح زامنو ایمان را وړی مسلمانان سوه مګر په خپله عَمرو اسلام ته نه سو داخل، زامنو یې دئ اسلام ته دعوتاوه خو ده نه قبلاوه، عَمرو یو بت درلودی د هغه عبادت یې کاوه، زامنو یې غوښته چي ده ته دغه د ده د دین او بت پرستۍ غلطیا او د ده د معبود عُجز او ضُعف ور ښکاره کړي، نو یوه شپه چي عَمرو بیده ؤ زامنو یې ګنګي او مرداري را وړل دغه د ده بت یې تول په ولړی، پلار چه یې سهار را ویښ سو او غوارړي چي د بت عبادت وکړي وې لیدل چي بت یې په مرداري لړلی دی، ویل: دا کار چا در سره کړی دی؟ د لرګي بت ته خبري کوي وایي: چا بې عزته کړی یې؟ ولي داسي سوی یې؟ په اخته دی پاکوي یې او خبري ور سره کوي، ښه یې پاک کړی خوشبویي یې پوري ومښل او بیا یې د هغه عبادت شروع کړی، دا د بت پرستانو او مشرکانو بیعقلي او ناپوهي ده.

دوهمه شپه یې بیا پلار بیده دی زامن یې راغله خوني ته ورننوتل بیا یې بت په مرداري ولړی او ځني را و وتل، دوهمه ورځ یې بیا پلار ګوري چي معبود او إله یې په مرداري لړلی دی او ورته وایي: چي ته څنګه رب او معبود یې چي د ځان دفاع نه سې کولای؟ بیا یې پاک او خوشبویه کړی، دا واري یې په غاړه توره هم ور وځړول او ورته وایي: که بیا څوک درته راغلی او ستا بې احترامي یې کول یا یې په مرداري

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړلې په دغه توره یې وهه او وې وژنه، و لړکي ته خبري کوي.

خیر درېیمه شپه سوه دئ چي بیده سو بیا یې زامن راغله یو سپئ یې وژلی ؤ او د بت په غاړه یې ور وځړاوه، بت یې ټول د سپي په وینو ولړی وروسته یې سپئ او بت دواړه دباندي پر کچره یا انبار وغورځول، سهار چي یې پلار را ویښ سو په بت پسي ګرځي هغه نسته، د همسایګانو په یوه او بل کور کي پوښتني پسي کوي څو آخر یې بت پر انبار او کچره پیدا کړی او مړ سپئ یې هم په غاړه ځړېږي، بت چي یې پر دغه حال ولیدی نو ویل: والله ته د دې لائق نه یې چي څوک دي عبادت وکړي، عَمرو بن جموح ﷛ ولاړی ایمان یې را وړی مسلمان سو او د اُحد په ورځ شهید و وژل سو.

د مدینې منورې خلکو د خپل قوم سره دغسي معامله کول چي اسلام ته یې داخل کړي نو ځکه اسلام په مدینه منوره کي نشر او ډېر سو.

د بعثت د دیارلسم کال د حج تر موسم د مخه مُصعب بن عُمیر﷛ مکې مکرمې ته راغلی او رسول اللهﷺ ته یې له ځانه سره د کامیابۍ زیري را وړي وه، د یثرِب د قبیلو هغه قصې یې ورته بیانولې چي په هغو کي د دوی د خیر، د اسلحو او قوت حالات په واضحه ډول سره ښکاره وه.

## د عقبې سره د اهل یثرِب دوهم بیعت

د بعثت د دیارلسم کال د حج په موسم کي چي د (٦٢٢) میلادي کال د جون میاشت وه د مدینې منورې د مسلمانانو څخه (٧٣) نفره نارینه مسلمانان او دوې مسلماني ښځي د خپل قوم د مشرک حاجیانو سره یو ځای د حج د آداء کولو دپاره را و وتل (تاسي ته معلومه ده چي مشرکانو هم حج کاوه) او دغه مسلمانانو هلته په مدینه منوره کي یا پر لاري سره و ویل: څو ترڅو به رسول اللهﷺ د مکې مکرمې په غرو کي تریخ ژوند او په تکلیفي حالت کي شپې او ورځي تېروي؟

کله چي دغه مسلمانان مکې مکرمې ته راغله د رسول اللهﷺ سره یې د پټ او سِري ملاقات غوښتنه وکړه، هغه داسي:

دغه مسلمانانو دوه نفره و رسول اللهﷺ ته ور ولېږل چي یو یې براء بن معروف ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بل يې سعد بن مالک ؤ چې دغه سعد بن مالک د عربو د مشهوره شاعرانو څخه ؤ او براء بن معروف د انصارو د مشرانو څخه ؤ، دوی رسول الله ﷺ په رنګ نه پېژندی خو بیا هم قوم ور ولېږل ویل ورسی په پوښتنه به يې پیدا کړی ( ځکه رسول الله ﷺ مشهوره ؤ هر چا پیژندی) او د ملاقات وعده ځني واخلی چې کله او چیرې به دغه د حج په موسم کې سره ووينو؟ چې بیعت در سره وکړو.

دغه دوه نفره رهي سوه او پرلارې يې پوښتنه وکړه چې محمّد ﷺ چیرې دی؟ خلکو ورته وويل: هلته د کعبې شريفي سره ناست دی او که د ده اکا عبّاس پیژنی هغه ور سره ناست دی، براء بن معروف د رسول الله ﷺ اکا حضرت عبّاس رضي الله عنه پیژندی، کعبې شریفي ته چې ورغله وې لیدل چې رسول الله ﷺ د خپل اکا عبّاس رضي الله عنه سره ناست دی، دوی هلته ورغله سلام يې ورته ووایه او ورته کښېنستل، رسول الله ﷺ هم وعلیک ورته ووایه او پوښتنه يې ځني وکړه چې څوک یاست؟ براء وویل: زه براء بن معروف یم او سعد وویل: زه سعد بن مالک یم.

سعد وايي: کله چې ما و رسول الله ﷺ ته خپل نوم وریاد کړی رسول الله ﷺ یوه جمله وویل چې هیڅکله مې نه هیرېږي او نه به يې هېره کړم، هغه دا چې کله ما د ځان د معرفي کولو دپاره خپل نوم وریاد کړی او ومې ویل: سعد بن مالک، رسول الله ﷺ په ډیر تعجب او اوږده آواز سره وویل: هغه شــــآعر! دغسې په اوږده آواز، ما ویل: هو شاعر، ځرنګه چې سعد بن مالک رضي الله عنه د مدینې منورې د لوړو او مشهورو شاعرانو څخه ؤ نو رسول الله ﷺ په دې ډیر زیات خوشاله سو چې یو شاعر مسلمانیږي دا ولې؟ ځکه په هغه وختو کې د یوه خبر د نشرولو دپاره دغسې وسائل نه وه موجود لکه د نن ورځې رادیو، تلویزیون، اخبار، مجله او نور، د دغو شیانو څخه هیڅ شئ نه ؤ، په هغه وختو کې د خبر د نشرولو دپاره فقط دوه شیه موجود وه، یو خطیب او بل شاعر.

نو کله چې یو شاعر مسلمان سي دا داسې مثال لري لکه مسلمانانو چې د رادیو یا تلویزیون یو استیشن پیدا کړی، یا يې د اخبار او مجلې د چاپولو مطبعه پیدا کړه، په هغه زمانه کې د هرې موضوع او هرې واقعې د نشرولو دپاره د شعر اعتبار ډیر زیات ؤ، رسول الله ﷺ به په خلکو پسې ګرځېدی په اسلام به يې خبرول او اسلام ته به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دعوتول مګر په شعر پسې په خپله عرب ګرځېدل. شعر په خپله عربو یو له بله سره نقلاوه، حتّی که شعر ښکنځل هم وای خلکو په یاداوه او نقلاوه یې، ځکه د عربو په طبیعت کې شعر خوښ ؤ او د عربو په هر فرد کې که نارینه ؤ که ښځه د شعر ویلو او شاعرۍ طبیعت پروت ؤ، حتّی د هغه ډیرې علاقې په سبب چې عربو د شعر سره درلودل خبرې چې به دې هرڅه ورته وکړې هېرېدې یې، مګر شعر چې به دې یو یا دوه واره ورته وو وایه په یاد به یې سو.

***دغه یوه قصه د مثال پر ډول درته بیانوم:***

یو وخت! دا بیا وروسته په مدینه منوره کې یو صحرایي عرب و رسول الله ﷺ ته راغلی او مسلمان سو، مسلمانانو لمونځ ور وښاوه، لمونځ یې هم زده سو مګر دا یې هیڅ نه زده کېدل چې د هر وخت لمونځ څو رکعاته دی، خلک ورته وایي: سهار دوه رکعاته، ماپښین څلور رکعاته، خو چه هرڅه یې ور وښیي نه یې په یادېږي بیا غلط سي، نو رسول الله ﷺ ته کښېنستی ویل: یا رسولَ الله! هیڅ مې نه زده کیږي چې د هر وخت لمونځ څو رکعاته دی، اوس یې رسول الله ﷺ ور ښیي: سهار دوه رکعاته، ماپښین څلور رکعاته، ماځیګر، ماښام، ماخستن، خو صحرایي چې یې وایي غلطیږي، بیا یې ور وښوول بیا غلطیږي، هرڅه چې په وکړي بیا هم غلطیږي نه یې سي زده کولای، خو دلته یَو صحابي موجود ؤ چې شاعر ؤ، هغه وویل: یا رسولَ الله! که ستا اجازه وي زه به یې ور وښیم، ویل: وروې ښیه، شاعر وویل: إسمَع یاَ رَجُل! سرېه! واوره:

اِنّ الصّلوةَ أربَعٌ فَأربَعٌ ★ ثُمَ ثَلاثٌ بَعدَهُنّ أربَعٌ ★ ثُمَ صَلوةَ الفَجرِ لاَ تُضَیّع

دغه رکعتونه یې په شعر ور وښوول، بس په یاد اوزده یې سوه، مقصد دا چه په عربو کې شعر خاص مقام درلودی، شعر یې په دماغ کې کښېنستی، شعر یې پر ژبو آسانه ؤ، شعر یې په یاداوه او یو له بله یې سره نقلاوه.

نو کله چې سعد بن مالک شاعر مسلمان سو، دا د اسلام دپاره ډیره لویه کامیابي وه، ځکه د ده د شعر په واسطه و اسلام ته دعوت نشرېدی، بل چا داسې نه سوای نشرولای لکه یوه شاعر چې د شعر په واسطه سره نشراوه، نو خود رسول الله ﷺ د سعد بن مالک په اسلام ډیر خوشاله سو او بیا رسول الله ﷺ د دغو دوو نفرو سره وعده وکړه چې په

(c) Ketabton.com: The Digital Library


فلاني شپه به د (عقبې) سره په پټه سره یو ځای کیږو او هلته به ملاقات سره کوو.

*(عقبه په منٰی کې د جمرة الأولی سره د یوه غرګي نوم دی)*

اوس به قصه د انصارو یوه مشر ته پرېږدو چي د دغه تاریخي تولني او اجتماع هغه چي د شرک او اسلام د مقابلې ورځو ته یې تغیر ورکړی حالات را ته بیان کړي:

کعب بن مالک الأنصاري رضي الله عنه وایي: موږ د مدینې منورې څخه د حج دپاره مکې مکرمې ته راغلو او د رسول الله ﷺ سره مو د ایام تشریق د منځ په شپوکي د عَقَبې سره د ملاقات وعده وکړه، څو هغه شپه را ورسېدل چي موږ د رسول الله ﷺ سره په هغه شپه د ملاقات وعده درلودل، په دې سفرکي پر نورو مشرکانو علاوه زموږ د قوم د مشرانو څخه یو مشر او زموږ د اشرافو څخه یو شریف: عبدالله بن عَمرو بن حَرام چي دئ هم مشرک ؤ را سره ؤ، که څه هم موږ خپل حال زموږ د قوم له مشرکانو څخه پټ ساتی خو د عبدالله بن عَمرو سره مو په دې باره کي خبري وکړې او موږ ورته وویل: یا ابا جابر ته زموږ د اشرافو او مشرانو څخه یو شریف او یو مشر یې او موږ دغه ستا په حال نه یو خوښ، نه غواړو چي سبا د دوږخ اور په تا بلیږي، بیا مو اسلام ته دعوت کړی او د رسول الله ﷺ د ملاقات په وعده مو هم خبر کړی، عبدالله بن عَمرو اسلام قبول کړی او عَقَبې ته هم را سره حاضر سو او د دوولسو نقیبانو د جملې څخه هغه چي په وروسته کي وټاکل سوه دئ هم یو نقیب ؤ.

کعب بن مالک رضي الله عنه وایي: موږ هغه د وعدې په شپه د خپله قومه سره چي مشرکان وه په خپل ځای کي بیده سوو، کله چي د شپې دریيمه حصه تېره سوه موږ مسلمانان د رسول الله ﷺ سره د وعدې و ځای ته یو یو او په پټه ور رهي سوو، څو چه د عقبې سره په هغه شېله کي ټول سره یو ځای سوو، موږ ټوله (۷۳) نفره نارینه وو او دوې ښځي را سره وې، چي یوه یې نُسَیبَه بنت کعب وه، چي په اُمّ عمّاره شره مشهوره ده او بله یې اسماء بنت عَمرو وه چي اُمِ منیع ورته ویل کېده.

موږ په دغه شېله کي سره یو ځای سوو او د رسول الله ﷺ د راتګ انتظار مو کاوه، څو چي رسول الله ﷺ راغلی او د ده سره د ده اکا عبّاس بن عبدالمطلب هم ور سره ملګری ؤ او عبّاس په دغه وخت کي د خپل قوم پر دین ؤ خو بیا یې هم دا خوښه وبلل

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي د خپل وراره په معامله کي حاضر وي او ځان ته پوره اطمینان حاصل کړي.

ورونو! موږ مخ کي و ویل: کله چي براء بن معروف او سعد بن مالک د رسول الله ﷺ سره د ملاقات وخت او ځای ټاکی عبّاس رضی الله عنه هم هلته حاضر ؤ، دغو دوو نفرو نه غوښتل چي د عبّاس رضی الله عنه په حضور کي دغه د ملاقات خبري وسي ځکه عبّاس رضی الله عنه هغه وخت اسلام ته نه ؤ داخل سوی، خو رسول الله ﷺ ورته و ویل: خبري په ښکاره سره کوی دا زما اکا دی مطمئنه اوسی، نو د ملاقات وعده د عبّاس رضی الله عنه په حضور کي وسوه، کله چي بیا د وعدې شپه را ورسېدل عبّاس رضی الله عنه و رسول الله ﷺ ته ټینګ سو چي زه هم در سره ځم او رسول الله ﷺ هم د ځان ملګری کړی.

کعب بن مالک رضی الله عنه وایي: اول هغه څوک چي په دغه اجتماع کي یې خبري وکړې هغه عبّاس بن عبدالمطلب د رسول الله ﷺ اکا ؤ او په پوره صراحت سره یې د دغه مسئولیت چي موږ انصارو پرغاړه اخیستی ؤ خطرونه راته بیان کړه او ویې ویل:

یا معشرَ الخزرج! محمّد ﷺ په موږ کي هغه مقام لري چي تاسي ته در معلوم دی، موږ د هغو کسانو څخه ساتلی دی چي د ده ﷺ مخالف دي، دئ ﷺ په خپل قوم کي په عزت دی او د دښمنانو څخه ساتلی دی خو دئ ﷺ ستاسي په غوښتنه اوس غواړي چي تا سي ته درسي، که تاسي په هغه څه سره وفاء کولای سی چي د ده سره مو وعده کړې ده او د ده د مخالفینو څخه یې ساتلای سی نو تاسي پوه سی او دغه مسئولیت او که تاسي د ده ﷺ تر در تګ یا تر هجرت کولو وروسته دئ ﷺ یوازي پرېږدی او د ده و دښمنانو ته یې ورتسلیموی نو د اوسه څخه یې لا پرېږدی ځکه دئ ﷺ اوس په خپل قوم او په خپل ښار کي په عزت او ساتنه کي دی.

کعب رضی الله عنه وایي موږ و عبّاس رضی الله عنه ته و ویل: موږ ستا خبري واورېدې او اوس ته خبري وکه یا رسولَ الله! ستا د خپل ځان او ستا د رب دپاره هغه شیان پر موږ کښېږده چي ستا خوښ وي.

تاسي پوهېږی چي د انصارو په دغه جواب کي ډېره لویه معنٰی پرته ده، یعني: موږ په ټینګ عزم او ثابته تصمیم، په پوره شجاعت او کامل ایمان، په صدق او اخلاص سره دغه لوی مسئولیتونه قبلوو او هغه خطرناکه عواقب یې تحملوو خو یا رسولَ الله!

(c) Ketabton.com: The Digital Library


ته دي خپل شرطونه ووايه.

بيا نو رسول الله ﷺ خپلي خبري وکړې او بيعت پای ته ورسېدی، اوس نو په بيعت کي څه شي وه؟ او تر بيعت د مخه کومي خبري وسوې، د دواړو طرفو له خوا څه وويل سوه؟ ښه متوجه سی! د مسلمانانو دپاره واقعي اسلام دغسي وي.

امام احمد رحمه الله په خپل مسند کي د دغه بيعت مادې، يا بندونه په تفصيل سره بيانوي او وايي: چي جابر رضي الله عنه وايي: موږ و رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسولَ الله! پر څه شي بيعت در سره وکړو؟ رسول الله ﷺ و فرمايل:

۱ – د ضعف او قوت په وخت کي به زما اوامر اوری او قبلوی.

۲– د پراخۍ او مفلسۍ په وخت کي به ما او زما ملګرو ته نفقه را کوی.

۳ – امر بالمعروف او نهي عن المنکر به کوی، يعني: خلک به په ښو کارو امر کوی او له بدو کارو څخه به يې منعه کوی.

*سبحان الله! نن ورځ خلک د دغه امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه څومره ليري دي او که بيا يو څوک دغه کار کوي او رېدوتکي په قسم قسم خبرو او لغازو د هغه د خبرو مخ نيوی کوي، د خپل غرور او کبريا په سبب نه غواړي چي داسي څوک پيدا سي چي دوی ته دي د دوی عيب ووايي او سمي لاري ته دي يې را وبولي.*

۴ – د الله جل جلاله په لار کي به ثابت درېږی، په الٰهي اوامرو کي به د ملامتۍ ويونکو خبري تاثير نه دربانديي کوي.

*يعني د خلکو د ناخوښۍ يا نه رضائيت په سبب به الٰهي اوامر نه پرېږدی.*

۵ – که زه تا سي ته درغلم زما نصرت به کوی او ما به د هغو شيانو څخه ساتی چي د هغو څخه خپل ځانونه خپلي ښځي او خپل اولادونه ساتی او د دغه کارو او شرطو د عملي کولو په بدله او مقابل کي تاسي لره جنت دی.

کعب بن مالک رضي الله عنه وايي: براء بن معرور رضي الله عنه رسول الله ﷺ تر لاس ونيوی او ويل: هو په هغه ذات سره دي زموږ قسم وي چي ته يې په حقه سره رسول را لېږلی يې موږ به ستا داسي ساتنه کوو لکه د خپلو اولادو او کورنيو ساتنه چي کوو، بيعت را سره وکړه يا رسولَ الله! په والله موږ په جنګ پوه، په جنګ کي پاخه او د همت

(c) ketabton.com: The Digital Library


خاوندان یو، موږ ته همت او مړانه له نیکه ګانو په میراث را پاته دي.

کعب رضي الله عنه وایي: براء خبري کولې چې ابو الهیثم بن التیهان یې په خبرو کې ور ولوېدی او ویل: یا رسولَ الله! زموږ او د خلکو په منځ کې علائق سته او موږ هغه علاقات پرېکوو (د خلکو څخه یې د مدینې منورې یهود مقصد وه) نو ویل: داسې خو به بیا نه پیښېږي چې موږ هغه علاقات پرې کړو او الله جل جلاله تا او ستا دین لوړ او ښکاره کړي او بیا ته موږ پرېږدې او خپل قوم ته راسې؟ رسول الله ﷺ تبسم وکړی او وې فرمایل: «بَلِ الدّم الدّم، والهدم الهدم» زه ستاسې څخه یم او تاسې زما څخه یاست د هغه چا سره جنګېږم چې تاسې ور سره جنګېږی او د هغه چا سره صلحه کوم چې تاسې صلحه ور سره کوی.

پسله هغه څخه چې د بیعت پر شرطو خبري وسوې او اوس مسلمانان غواړي چې په بیعت کولو شروع وکړي بیا هم دوه نفره د هغه اولو مسلمانانو څخه چې د بعثت په یوولسم او دوولسم کال کې مسلمانان سوي وه یو په بل پسې د خبرو کولو دپاره ولاړ سوه غواړي چې خپل قوم ته د دغه بیعت پوره مسئولیت او خطرونه ور ښکاره کړي، دا دپاره د دې چې دغه بیعت په پوره وضاحت او ښکاره ډول سره وي او دوی پوه سي چې د دوی قوم د تضحیې او قربانۍ دپاره څومره آماده ګي لري.

ابن اسحاق وایي: کله چې قوم د بیعت دپاره آماده سو عبّاس بن عُباده رضي الله عنه وویل: تاسې پوهېږی چې تاسې د دغه سړي سره پر څه شي بیعت کوی؟

قوم وویل: هو.

ده وویل: تاسې د خلکو د تور او سره سره پرجنګ کولو بیعت کوی، که تاسې په دې فکر یاست، که مو مالونه په یوه مصیبت سره تباه سوه، یا ستاسې اشراف او مشران ووژل سوه بیا نو تاسې دئ و دښمنانو ته ور تسلیموی نو له اوسه څخه یې لا پرېږدی، ځکه که بیا داسې وکړی دا کار په والله د دنیا او آخرت شرمېدل دي او که تاسې په ځانو کې دا قدرت وینی چې د مال پر تاوان او د مشرانو پر وژل کېدلو سر بېره پر دغه شرطو وفاء کوی نو یې در سره بوزی او په والله دا ستاسې د دنیا او آخرت خیر دی.

قوم وویل: موږ یې د مال په تاوان، د اشرافو او مشرانو په وژنه، قبلوو او را سره بیایو.

بیا قوم و ویل: یا رسولَ الله! که موږ دغه کار وکړی د هغه په بدله کي موږ ته څه شي سته؟ یعني: که موږ دغه شرطونه پر ځای کړه ته موږ ته څه شي را کوې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: ستاسي دپاره جنت دی.

*د دنیا د شیانو څخه یې هیڅ شئ نه ورته و وایه چي یا به خلافت ستاسي وي یا نور دنیوي شیان، فقط ویل: تاسي لره جنت درکول کیږي.*

قوم وویل: لاَنُقِیل وَلاَ نَستَقِیل، یعني: بس پر دغه موفیصله ده، نه به موږ عذر کوو او نه ته.

قوم ویل: لاس دي د بیعت دپاره راکړه، جابر رضي الله عنه وایي: موږ د بیعت دپاره ور ولاړ سوو، په دغه وخت کي اسعد بن زُراره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ لاس ونیوی او دئ په دغه درو اویا نفرو کي په عمر تر ټولو کشر ؤ او ویل: یا اهلَ یثرِب! په کراره سره، موږ ده ته اوښان نه حلالوو چي فقط یوه مهماني ده، بلکه موږ پوهیږو چي دا رسولُ الله دی د ده بېول د ټولو عربو سره د روابطو او علاقاتو شکول دي (*ځکه په هغه وخت کي ټول عرب مشرکان وه*) او ستاسي د اشرافو وژل دي او تاسي به د عربو توري ژوبي، یا به تاسي پر دغو ټولو خطرو او مشکلاتو صبر کوی نو یې بوزی او ستاسي اجر پر الله دی، یا به تاسي پر خپلو ځانو بیرېږی نو یې پرېږدی او د الله په حضور مو دغه عذر دی.

پسله دغه ټولو تاکیداتو، صریحه او ښکاره خبرو د عَقَبې دوهم بیعت د لاس په ورکولو سره شروع سو.

راوي د قصې جابر رضي الله عنه پسله هغه څخه چي د اسعد بن زُراره رضي الله عنه دغه قول یې بیان کړی وایي: قوم ورته و ویل: یا اسعد! لاس دي ایسته کړه په والله موږ دغه بیعت نه پرېږدو او نه پر پښېمانه کیږو، دلته نو اسعد رضي الله عنه ته په دغه لار کي د قوم د قرباني او استقامت اندازه ورمعلومه سوه او پر هغه یې یقین سو.

اسعد رضي الله عنه چي د مصعب بن عمیر رضي الله عنه په ملګرتیا په مدینه منوره کي اسلام ته هغه لوی داعي او بلونکی ؤ او اوس هم د دغه بیعت کوونکو دیني رئیس دی نو خود دئ هغه اول نفر ؤ چي د رسول الله ﷺ سره یې بیعت وکړی او بیا نو عام بیعت شروع سو.

جابر رضي الله عنه وایي: موږ یو یو ور ولاړېدلو او د رسول الله ﷺ سره مو بیعت کاوه او موږ ته یې د دغه بیعت په مقابل کي په جنت سره وعده را کول، مګر د هغو دوو ښځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيعت چي زموږ سره دغه اجتماع ته حاضري سوي وې د خولې په خبرو سره ؤ.

*رسول الله ﷺ هيڅكله نامحرمې ښځې ته نه د بيعت دپاره نه د سترې مسې دپاره لاس ورکړی دی ، زه نه پوهيږم چي نن ورځ زموږ په اسلامي ټولنه کي دغه رواج له کومه او ولي پيدا سوی دی چي نا محرمه ښځي د نامحرمه نارينه سره فقط د يوې خپلوۍ په نامه په لاس روغبړ يا سترې مسې کوي دغه کار حرام او نا روا دی.*

دغه بيعت په اسلام کي پر جنګ او جهاد اول بيعت ؤ او دغه بيعت ته په سيرت او اسلامي تاريخ کي (بَيعَةُ العَقَبَةِ الثّانِيه) ويل کيږي.

## دوولس نفره نقيبان

پسله هغه څخه چي بيعت پای ته ورسېدی رسول الله ﷺ د دوی څخه وغوښتل چي د خپل منځ څخه دوولس نفره مشران وټاکي چي هغه به پر خپل قوم نقيبان وي، يعني: د خپل قوم له طرفه د دغه بيعت د بندو، يا مادو د عملي کولو مسئوله او ضامنان دوی دي، ډير ژر او په دغه وخت کي دغه دوولس نفره وټاکل سوه چي (۹) نفره يې د خزرج د قبيلې څخه وه او (۳) نفره يې د أوس د قبيلې څخه وه او د دغو نقيبانو نومونه په دې ډول سره دي: هغه کسان چي د خزرج د قبيلې څخه وه:

۱ – اسعد بن زُراره بن عدس.
۲ – سعد بن ربيع بن عَمرو.
۳– عبدالله بن رواحه بن ثعلبه.
۴– رافع بن مالك بن العجلان.
۵– البراء بن معرور بن صخر.
٦ – عبدالله بن عَمرو بن حرام.
۷ – عُباده بن الصامت بن قيس.
۸ – سعد بن عباده بن دُلَيم.
۹ –المُنذر بن عَمرو بن خُنيس.

او هغه کسان چي د أوس د قبيلې څخه وه:

۱ – أسيد بن حُضير بن سماك.
۲ – سعد بن خَيثَمه بن الحارث.
۳– رفاعه بن عبدالمنذر بن زبير.

کله چي دغه مشران يا نقيبان و ټاکل سوه رسول الله ﷺ د هغو څخه د مشرانو او رئيسانو په صفت بل عهد واخيستی او ورته وې فرمايل: تاسي د خپل قوم داسي کفيلان او ضامنان ياست لکه حواريّين چي د عيسیٰ بن مريم دپاره وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغوویل: هو.

او بیا رسول اللهﷺ وفرمایل: زه د خپل قوم کفیل او ضامن یم.

## شیطان په دغه بیعت او معاهده خبرېږي

اوس چي عهد او بیعت پای ته ورسېدل او قوم غواړي چي سره جلا سي په دغه آخرنیو وختو کي د شیطانانو څخه یوه نفر دغه مجلس او د هغه نتیجه کشف کړل او شیطان د وخت د لږ والي په سبب نه سوای کولای چي د قریشو مشرانو ته دغه خبر ورسوي او هغه ناڅاپه دلته دغي شېلې ته د دوی د اجتماع په حالت کي ورته راولي، نو دغه شیطان پر یوه لوړه ودرېدی او په لوړ آواز سره یې ناري کړه:

(یَا أهلَ الجَبَاجِب! یَا أهلَ الجَبَاجِب!

هَل لَکُم فِی مُذَمَّمٍ وَالصُّبَاتِ مَعَهُ؟ قَد إجتَمَعُوا عَلَی حَربِکُم)

یعني: اې د خېمو خلکو! اې بېدو خلکو! آیا تاسي خبر یاست چي مُذمّم او هغو خلکو چي له دینه اوښتي دي ستاسي سره پر جنګ کولو اتفاق وکړی؟

شیطان علیه لعنه دلته د محمّد پر ځای مُذَمّم و وایه، ځکه کفارو د خپل عناد او عداوت په سبب د محمّدﷺ نوم و مذمّم ته اړولی ؤ، محمّد چي د حمد څخه دی او ترجمه یې یعني: ښه پر ویل سوي، دوی و مُذمّم ته چي د ذم او بد ویلو څخه دی (یعني: بد پر ویل سوي) اړولی ؤ.

خو رسول اللهﷺ فرمایي: الله جل جلاله زه د کفارو د بد ویلو څخه خلاص کړی وم، ځکه دوی به مذمّم ته بد ویل او زه محمّد وم.

شیطان په لوړ آواز دغه ناره وکړه، رسول اللهﷺ و فرمایل: دا د عقبې شیطان دی او ویل: والله یا عَدوَالله! تا ته به در فارغه سو، رسول اللهﷺ مسلمانان امر کړل چي خپلو ځایو ته ولاړ سی، دغه د شیطان ناره د مِنٰی ټولو خلکو که مسلمانان وه که کفار واورېدل، سعد بن عباده رضی الله عنه چي دغه ناره واورېدل ولاړ سو او توره یې پورته کړه ویل: یا رسولَ الله! قسم په هغه ذات چي ته یې په حق سره رالېږلی یې که ستا خوښه او اجازه وي د ټولي مِنٰی پر خلکو به سبا په تورو حمله وکړو، سبحان الله! د لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library


لحظې څخه د رشتیا میدان راغلی او دغه درو اویا نفره آماده دي چي یوازي دوی د ټولو حاجیانو سره نه بلکه د ټولو مشرکانو سره وجنګیږي، د دوی اخلاص او صداقت، همت او مړانه د اولي لحظې څخه ثابت سوه.

خو رسول اللهﷺ وفرمایل: په دغه نه یو امر کړل سوي، مګر خپلو ځایو ته ولاړ سی، خلک ولاړل او تر سهاره بیده سوه.

قریشو چي دا خبر واورېدی په دوی کي بیره او تشویش پیدا سو ځکه دوی د دغسي بیعت په خطرناکو عواقبو پوره پوهېدل چي د دوی مالو او ځانو ته څومره ضرر پېښیږي، نو یې تحقیقات شروع کړه چي زموږ پر جنګ چا؟ او څنګه اتفاق؟ وکړی.

د تحقیقاتو نتیجه په یقیني ډول سره نه بلکه په خیالي او اشتباهي ډول سره دا را وتل چي ښایي اهلِ یثرِب د رسول اللهﷺ سره اتفاق کړی وي، په سهار کي د قریشو مشران سره را ټول سوه د اهلِ یثرِب خېمو ته ورغله چي پر دغه معاهده خپل شدید احتجاج وړاندي کړي، نو یې ورته و ویل: یا معشرالخزرج! موږ ته خبر راغلی دی چي تاسي دغه زموږ نفر ته راغلي یاست زموږ څخه یې بیایاست او د ده سره مو زموږ پر جنګ بیعت کړی دی او په والله په ټولو عربو کي داسي قوم او کلی نسته چي موږ ته دي د هغو سره جنګ ناخوښه وي ببله تاسي، یعني: د هر چا سره مو په جنګ او دښمني کولو پروا نه کیږي ببله تاسي څخه او هغه هم ستاسي د عزت په سبب، نو تاسي هم باید داسي کار و نه کړی چي هغه زموږ او ستاسي د جنګ سبب وګرځي.

د خزرج د قبیلې مشرک او کافر حاجیان چي په دغه واقعه او بیعت هیڅ نه وه خبر، ځکه دا کار په ډېر سرِي ډول سره د شپې په تاریکیو کي پای ته رسیدلی ؤ، هغو په قسمو شروع وکړه او وایي: په والله هیڅ نه ده پېښه سوې او موږ په هیڅ نه یو خبر، څو قریش و عبدالله بن سلول ته ورغله، هغه ویل: دا ناحقه خبره ده داسي هیڅ نه ده پېښه سوې او زما قوم زما څخه داسي کار نه پټوي، که دوی داسي مهم کار کولای خامخا یې زه د دغه کار آمر ګرځولم، مګر هغه مسلمان حاجیان چي دغه اجتماع ته حاضر سوي وه او دغه اتفاق یې کړی ؤ یو بل ته سره ګوري او پټه خوله دي هیڅ نه وایي، نه د هو خبره کوي نه د یا.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قریشو د یثرِب دکفارو خبره و منل او نا امیده و مکې مکرمې ته ولاړل او دوی دا ومنل چې دغه را رسېدلې خبر درواغ دی، خو بیا هم په دغه باره کې معلومات کوي، بحث او څېړني کوي ترڅو دې نتیجې ته ورسېدل چې هو دا خبر صحي دی او بیعت هم سوی دی، خو دا معلومات هغه وخت ورته یقیني سوه چې حاجیان د خپلو وطنو طرف ته رهي سوي وه، نو قریشو ډېر ژر خپل فارِس پهلوانان ولېږل چې د یثرِب حاجیان را وګرځوی مګر دا کار پسله وخته شخه ؤ حاجیان ټول ځني تللي وه، فقط دوه نفره یې وروسته پاته وه چې یو یې سعد بن عباده ﷺ ؤ او بل یې منذر بن عَمروﷺ ؤ، قریشو د هغو د نیولو کوښښ وکړی مګر منذر بیا هم ځني ولاړی او سعدﷺ یې ونیوی لاسونه یې په غاړه کې ور وتړل په وهلو او کشولو یې مکې مکرمې ته راوستی، دلته یې وهي او دغه پوښتني ځني کوي چې تاسي د محمّد سره اتفاق وکړی؟ سعدﷺ انکار کوي، سعدﷺ وایي: د دغه وهلو په وخت کې یو جګ سپین پوستی سړئ راغلی چې ښه روښانه مخ یې ؤ، دا سړئ د قریشو یو مشر معلومېدی.

سعدﷺ وایي: زما امید ورته پیدا سو ما ویل: بنایي دغه سړئ مي له وهلو شخه خلاص کړي نو مي ورته وویل: چې د دغو خلکو شخه مي خلاص کړه. خو هغه سړي په خپله یو ټینګ سوک را سره کړی او بیا وروسته پوه سوم چې دغه سړئ ابوجهل ؤ، سعد وایي: سبحان الله! شکل یې یو شئ ؤ او عمل یې بل شئ ؤ.

*نن ورځ هم داسي پېښه ده چې یو انسان به په شکل او قیافه، لباس او خبرو ډېر ښه سړئ معلومیږي خو دننه به شرمښ وي، نو ترکومه وخته چې د یو چا اخلاق او ژوند پوره نه وي درمعلوم په دباندني شکل او خبرو یې مه خطاوزی، ځکه ډېر شرمښان د میږي په پوست کې ژوند کوي او خلک په خندا او پستو خبرو خطا باسي.*

*یا دا چې ماردی ترظاهري نقش او نګار لاندي یې وژونکي زهر پراته دي.*

د قریشو دغه وهل دوام لري، قریش غواړي چې سعد بن عُبادهﷺ اقرار وکړي او وهي یې، خو دئ بالکل منکر دی، په حاضرو خلکو کې یو نفر ناست دی او دغه وهل ویني زړه یې پر و سوځل سو، ویل یا سعد! د قریشو د مشرانو شخه یو څوک نه پیژنې چې خلاص دي کړي؟ سعد ویل: هو پیژنم یې، ویل څوک پیژنې؟ ویل مطعم بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدی او حارث بن حرب پیژنم، اصلاً د دغو دوو نفرو تجارتي قافلې د سعد بن عباده رضی الله عنه په جِوار د مدینې منورې په منطقه کي تېرېدلې. دغه سړئ دباندي و وتی ناري یې کړه ویل: یا مطعم بن عدی! یا حارث بن حرب! یو سړئ چي د دباندي څخه د مکې دی وهل کیږي او تر وهلو لاندي ستاسي په نامه سره نارې وهي.

دغه دوه نفره راغله وې لیدل چي دغه نفر د مدینې منورې د مشرانو څخه یو مشر، سعد بن عباده دی او وهل کیږي، نو یې جِوار ورکړی، سعد رضی الله عنه د وهلو څخه خلاص سو او بیرته مدینې منورې ته رهي سو، هلته په لارکي انصار متوجه سوه چي سعد نسته، نو یې دا إراده وکړه چي بیرته مکې مکرمې ته را وګرځي، په دغه وخت کي سعد رضی الله عنه پسي ورورسېدی، نو ټول قوم صحي او سالم مدینې منورې ته ورسېدی.

دا د عقبې سره دوهم بیعت ؤ چي په (بیعةُ العَقَبةِ الکُبرٰی) سره هم یادیږي او په داسي فضاء کي پای ته ورسېدی چي هلته د پاشلو مسلمانانو په منځ کي حُب او عواطف، دوستي او نصرت موجود وه، هلته د اسلام په لارکي اعتماد او شُجاعت موجود ؤ، مړانه او همت موجود ؤ، د اهلِ یثرِب مسلمان په مکه مکرمه کي پر خپل ضعیفه او مظلوم مسلمان ورور رحم او شفقت لري او د هغه دپاره جنګیږي، او پر هغه ظالم په قهر کیږي چي د ده پر مسلمان ورور ظلم کوي او د ده په زړه کي د هغه مسلمان ورور دپاره چي تر اوسه یې لیدلی هم نه دی د دوستۍ او محبت احساسات پرجوش راڅي، دا ټوله حُب في الله دی او د دغي دوستۍ احساس او عواطف داسي هم نه وه چي د څو ورځو په تېرېدلو سره بیرته د ده له زړه څخه وتل، بلکه د دې دوستۍ منبع او مصدر ایمان پر الله، ایمان پر رسول الله، او ایمان پر کتاب الله ؤ، دا داسي ایماني تعلقات او جذبات وه چي د هیڅ ظالمانه او خصمانه قوت په مقابل کي نه زائلېدل، ایماني شمال او نسیم چي والوزي په عقیده او عمل کي عجائبات را وړي، په دغه ایماني جذباتو سره مسلمانانو وکولای سوای چي د زمانې پر پاڼو خپل طلایي عملونه ولیکي او د تاریخ پر پاڼو داسي آثار پرېږدي چي مثل یې نه په تیرو سوو وختو کي ؤ او نه په اوس کي سته او نه به په مستقبل کي پیښ سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دهجرت شروع

پسله هغه چي د عقبې سره دوهم بيعت پای ته ورسېدی او اسلام په دې سره کاميابه سو چي د ځان دپاره د يوې داسي منطقې او صحرا په منځ کي وطن جوړ کړي چي په هغه ټوله منطقه کي د کفر او جهالت موجو ځپې وهلې او دا هغه تر ټولو لويه ګټه ده چي اسلام د دعوت له شروع څخه بيا تر اوسه لاس ته راوړل، نو رسول الله ﷺ ټول مسلمانان دغه وطن ته په هجرت کولو سره امر کړل، دا د هجرت اجازه نه وه بلکه په هجرت کولو سره امر ؤ، پر هر مسلمان دا واجب او لازمه وه چي مدينې منورې ته هجرت وکړي.

تاسي پوهېږئ چي دا څنګه هجرت ؤ؟ تاسي به فکر کوئ چي مسلمانان د زحمتو څخه نعمتو ته تله، يا! والله، دا هجرت د دنيوي کاروبار نړول او عبثول وه، د مسلمانانو د مالو قرباني کول وه، يوازي او په خالي لاس يې خپل ځانونه مدينې منورې ته رسول،او په دغه سفر کي په دغه هم پوهېدل چي د کفارو له طرفه د دوی سر او مال مباح ګرځول سوي دي، ممکن د لاري په اول کي هلاک سي يا په آخر کي او دوی د يوه نا معلوم او مبهم مستقبل و طرف ته حرکت کاوه، نه پوهېدل چي نور به څه غمونه او تکليفونه ورته پېښ سي، مسلمانان خپل کورونه او مالونه پرېږدي په پټه او خالي لاس زموږ په اصطلاح (په يوه پټوکي) د خپل ښار او وطن څخه ځي، مسلمانان سره له دې چي په دغو ټولو مشکلاتو پوهېدل خو په هجرت يې شروع وکړه، مسلمانانو د دغه هجرت په لار کي رنګارنګ تکاليف زغملي او تحمل کړي دي.

خو د مکې مکرمې مشرکانو بيا دوی له دغه هجرته منعه کول ځکه مشرکانو له دغه هجرته څخه د خپلو ځانو دپاره خطرونه حسول، اوس راسئ چي د دغه هجرت په لار کي د ځينو مسلمانانو ځيني تکليفونه او زحمتونه د نمونې پر قسم تر نظر وباسو:

د هجرت کوونکو اول سړئ ابو سلمه رضي الله عنه ؤ، ابو سلمه رضي الله عنه چي نوم يې عبدالله بن عبدالأسد بن هلال دی، قريش او د بني مخزوم څخه دی، ابو سلمه رضي الله عنه هغه څوک دی چي حبشې ته يې هم هجرت کړی ؤ، کله چي د حبشې څخه مکې مکرمې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلی قریشو ډېر آزار ورکاوه، اوس چي مدینې منورې ته په هجرت سره امر وسو نو یې خپله ښځه اُم سلمه رضي الله عنها او خپل کوچنئ زوی پر یوه بوده سپاره کړل د هجرت په نیت مخ پر مدینه منوره رهي سو، مګر د بني مخزوم د قبیلې نور خلک چي د ده د ښځي ورونه او اقرباء وه پسي را و وتل، ویل: ته خویې ته، ستا اختیار که نه لرو مګر دغه ښځه او کوچنئ موږ نه پرېږدو چي ته یې پر وطنو ګرځوې، نو یې د هغه بوده کیزه یا مهار چي د ده ښځه او کوچنئ زوی پرسپاره وه د ده څخه واخیستل او هغه بوده یې را وګرځاوه، دئ یې یوازي پرېښاوه او دئ په زخمي زړه د مدینې منورې پرطرف یوازي رهي سو.

تاسي فکر وکړی چي د یو څا ښځه او کوچنئ زوی وګرځول سي او دئ بیا هم د دین او عقیدې د ساتلو دپاره تر هرڅه تېر وي او په خپله خوښه هغه هجرت ته چي د رسول الله ﷺ له طرفه په امر کړه سوی دی دوام ورکوي.

اوس نو دغه د بني مخزوم خلک پر دوه قسمه یا دوې ډلي وه، یا د ابو سلمه ورونه یا ډېر نژدې اقرباء دي یا د اُم سلمه ورونه او ډېر نژدې اقرباء دي، د دوی بیا پر هلک چي (سَلَمَه) نومېدی دعوه سوه، د هلک اکاګان وایي چي موږ خپل وراره د ماماګانو سره نه پرېږدو تاسي چي د هغه ښځه را وګرځول موږ بیا هلک د دې سره نه پرېږدو.

هلک د دوو ډلو په منځ کي سو چي یو یې یوه طرف ته کشوي او بل یې بل طرف ته کشوي په دغه کشمکش کي یې د هلک لاس د اوږې څخه ور وکښی، په نتیجه کي هلک اکاګانو بوتلی او ښځه خپلو اقرباوو بوتله او ابو سلمه رضي الله عنه یوازي مدینې منورې ته ولاړی.

اوس به ام سلمه رضي الله عنها ته غوږ ونیسو چي دا د خپل هجرت قصه راته بیان کړي، ام سلمه رضي الله عنها وایي: اول خویې زه او زما خاوند سره جلا کړو هغه یوازي مدینې منورې ته ولاړی او بیا یې زه او زما کوچنئ زوی سره جلا کړو ځکه هلک د ابو سلمه اقرباوو بوتلی او زه خپلو اقرباوو بوتلم، نو هره ورځ به سهار و أبطَح ته را وتلم او تر ماښامه به مي ژړل (أبطح! په مکه مکرمه کي د یو ځای نوم دی) او تقریبًا یو کال مي دغه حال ؤ، څو یوه ورځ زما د اکا د زامنو څخه یو نفر دلته تېرېدی او زه یې پر دغه غمجن حال ولیدم زړه یې را باندي وسو، نو یې هغه نور قوم ته و ویل: دغه مسکینه پرېږدی چي ولاړه سي دا او خاوند مو سره جلا کړل، دا او د دې زوی مو سره جلا کړل څه په

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوی؟ اجازه ورکړی چي ولاړه سي، نو قوم را ته و ویل: که غواړې چي خپل خاوند ته ولاړه سې ولاړه سه، د تګ اجازه یې را کړه.

پسله دغي اجازې د ابو سلمه قوم هم هغه زما کوچنئ زوی را کړی، ما هم د سفر دپاره بوده تیار کړی زوی مي را سره واخیستی او رهي سوم غواړم چي مدینې منورې ته ولاړه سم، *تاسي فکر وکړی یوازي یوه ښځه چي یو کوچنئ ور سره دی په وچ دښت او صحراء کي یې د پنځه سوه کېلو متره لار اراده ده*، نو دا وایې د لاري هیڅ ملګری هم نه لرم، خو دا مي د ځان سره و ویل: که مي پر لاریو څوک ولیدی هغه ته به و وایم چي ما تر خپله خاونده ورسوه، څو تنعیم ته (چي *اوس مسجد عمره یا مسجد عائشه هم ورته وایي*) ورسېدم او هلته مي عثمان بن طلحه چي د بني عبدالدار څخه دی ولیدی، دا هغه عثمان دی چي د کعبې شریفي کلی ور څخه وې او په دغه وخت کي پر شرک ؤ (د مسلمانېدلو قصه به یې وروسته راسي) عثمان را ته و ویل: د خیره یا بنت أبي امیه؟ ما ویل: نیت مي دی چي مدینې او خپل خاوند ته ولاړه سم، ویل: بل څوک در سره سته؟ ما ویل: یا والله بېله الله او دغه کوچني زویه بل ملګری نه لرم، ویل: والله دغسي یوازي دي باید پرې نږدم، نو یې د اوښ مهار یا تناو ونیوی او د مدینې منورې پر لار رهي سو.

ام سلمه رضي الله عنها وایي، په والله د عربو د هیڅ داسي سړي سره نه یم ملګرې سوې چي ما دي هغه سړئ تر عثمان کریم او شریف لیدلی وي یعني: د هر څو مره خلکو سره چي ما په سفرو کي ملګرتیا کړې ده تر هغو ټولو دئ کریم او شریف ؤ او اوس هغه د ده د شرافت بیان کوي او وایي: هر وخت چي به منزل یا د اړولو ځای ته ورسېدلو اوښ به یې چوک کړی او دئ به ګوښه ولاړی، زه چي به له اوښه کښته سوم اوښ به یې را څخه لیري کړی سامان به یې ځني کښته کړی اوښ به یې په یوه ونه پوري وتړی او دئ به ولاړی تر بلي ونې لاندي به یې څنګ واچاوه او بیا چي به د بارېدلو وخت راغلی اوښ ته به ور ولاړ سو سامان به یې پر بار کړی او بیا به دئ ګوښه سو ما ته به یې و ویل: سپره سه، کله چي به زه سپره سوم او ځان به مي سم کړی نو به دئ راغلی د اوښ مهار یا تناو به یې ونیوی او رهي به سو تر څو چي بیا به مو اړول، تر هغه وخته

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي مدينې منورې ته رسېدلو د ده دغه کار ؤ، کله چي د بني عَمرو بن عوف کلی يې ولیدی هغه چي په قُباء کي ؤ نو ويل: ستا خاوند په دغه کلي کي دی ور داخله سه علٰی برکۃ الله، او عثمان بن طلحه بيرته مکې مکرمې ته رهي سو، عثمان بن طلحه رضی الله عنه دغه وخت پر شرک ؤ او د حديبيې تر صلحي وروسته مسلمان سو.

ام سلمه رضی الله عنها وايي: والله په مسلمانانو کي داسي کورنۍ نه ده را معلومه چي دومره تکليف دي ور رسېدلی وي لکه د ابو سلمه رضی الله عنه کورنۍ ته او هيڅکله مي تر عثمان بن طلحه کريم او شريف ملګری نه دی ليدلی.

بيا عامر بن ربيعه د خپلي ښځي سره يو ځای هجرت وکړی، بيا عبدالله بن جحش هجرت وکړی خو د ټولو مسلمانانو هجرت په پټه ؤ، د مکې مکرمې څخه په پټه وتل، د مهاجرينو په جمله کي يو هم صُهيب 'لرومي رضی الله عنه ؤ، کله چي ده د هجرت إراده وکړه د قريشو کفارو ورته و ويل: ته دلته فقير او دربدره راغلې بيا دي دلته پيسي وګټلې او د غنٰی و دغي درجې ته ورسېدې چي دا رسېدلی يې اوس غواړې چي ته ولاړ سې او مال هم در سره يوسې؟ هجرت ته يې نه پرېښاوه، صُهيب رضی الله عنه ورته و ويل: که مال تاسي ته درکړم ما پرېږدی؟ قريشو ويل هو، صهيب رضی الله عنه و ويل: زما کور او مال يې ټوله ستاسي او مال مي په فلاني ځای کي پروت دی او بيا يې هجرت وکړی، کله چي رسول الله ﷺ وليدی اوله خبره يې دغه ورته وکړه: رَبِحَ صُهَيب، رَبِحَ صُهَيب، صهيب ګټه وکړه، صهيب ګټه وکړه، يعني: دا چه مال يې د دې دپاره ورکړی چي دئ هجرت ته پرېږدي په دغه سودا او معامله کي يې ګټه وکړه، د صهيب رضی الله عنه د دغه معاملې او سودا په باره کي قرآن مجيد هم نازل سو چي د قيامت تر ورځي به ويل کيږي، الله جل جلاله فرمايي:

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾ [البقره: ۲۰۷]

يعني: د خلکو څخه ځيني هغه څوک دي چي خپل نفس د الله جل جلاله د رضاء غوښتلو دپاره خرڅوي، يعني: د الله دپاره ترځان او مال تيرېږي او الله جل جلاله پر خپلو بندګانو ډېر مهربان دی.

بيا نو عمر فاروق بن الخطاب رضی الله عنه هجرت وکړی او د ده هجرت په ښکاره سره ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ښکاره سره بل هیچا هجرت نه دی کړی پرته له عمر بن الخطابؓ څخه، هر چا چي به هجرت کاوه قریشو به منعه کاوه او را ګرځاوه مګر حضرت عمر فاروقؓ چي د هجرت إراده وکړه خپل ځان یې د هجرت او سفر دپاره تیار کړی، هغه بوده چي د ده د هجرت دپاره ؤ پر هغه یې اوبه او خواړه بار کړل خپله اسلحه یې ور سره واخیستل نو کعبې شریفي ته ورغلی غواړي چي طواف وکړي، قریش هم شا وخوا د خپلو مجلسو په ځایو کي ناست دي حضرت عمرؓ چي د طواف په وخت کي د قریشو پر مجلس ورسي نو ورته وایي: مخان مو پرته سه زه په هجرت رهي یم، هر څوک چي غواړي چي ښځه یې کُنډه او اولاد یې یتیم سي د دغي شېلې شا ته دي پسي راسي، هغه چي په تاسي کي قوت او طاقت لري هغه دي پسي را سي، هیڅوک نه سو پسي رهي، دا هغه عمر ؤ چي الله جل جلاله د رسول اللهﷺ د دعاء په سبب په ده سره اسلام قوي او معزه کړی، حضرت عمرؓ هغه یواځنۍ شخص دی چي په ښکاره سره یې هجرت کړی دی.

وروسته اصحاب کرامو یو په بل پسي هجرت کاوه، رسول اللهﷺ هم د هجرت دپاره ځان آماده کړی ؤ خو د الهي امر انتظار یې کاوه چي کله به په هجرت سره امر ورته وسي، ابوبکر الصدّیقؓ و رسول اللهﷺ ته ورغلی او د هجرت اجازه یې غوښتل خو رسول اللهﷺ ورته و ویل: انتظار وکړه ښایي الله جل جلاله تا لره ملګری پیدا کړي، ابوبکرؓ هم انتظار کوي مګر نه پوهیږي چي ملګری به یې څوک وي خو د زړه غوښتنه یې دا ده چي رسول اللهﷺ یې ملګری وي مګر متأکّد او یقیني نه دی، د رسول اللهﷺ تر دغه خبري د مخه ابوبکرؓ یوازي د خپل ځان دپاره بوده، خواړه او د سفر لوازم برابر کړي وه مګر اوس ولاړی یو بل بوده او د دوهم نفر د سفر سامان یې هم برابر او تیار کړل، د خپل ځان او د ملګري د سفر آمادګي یې ونیول او د زړه غوښتنه یې دا ده چي په دغه سفر کي یې رسول اللهﷺ ملګری وي، پسله څه مو دې چي رسول اللهﷺ پر اصحاب کرامو تلوار کاوه چي ژر هجرت وکړی ابوبکر الصدّیقؓ بیا و رسول اللهﷺ ته ورغلی او د هجرت اجازه یې وغوښتل، بیا هم رسول اللهﷺ ورته وویل: انتظار وکړه ښایي الله عزّوجلّ تا لره ملګری پیدا کړي، پسله څه وخته د دریېم وار

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپاره بيا و رسول الله ﷺ ته ورغلی او د هجرت اجازه غواړي مګر رسول الله ﷺ بيا هم ورته و ويل: انتظار وکړه ښايي الله جل جلاله تا لره ملګری پيدا کړي.

اوس نو د هر چا چي په وسه پوره وه چي هجرت وکړي هغو ټولو هجرت وکړی بېله هغو کسانو چي د خپل قوم او اقرباوو له طرفه منعه کړه سوي وه، تر بَيعَةُ العَقَبَةِ الكُبرىٰ دوې مياشتي او څو ورځي وروسته په مکه مکرمه کي د مسلمانانو څخه هيڅوک نه سوه پاته چي هجرت دي يې نه وي کړی بېله رسول الله ﷺ او ابوبکر الصدِّيق رضي الله عنه څخه چي دئ هم د رسول الله ﷺ په امر سره پاته وه او ځيني نور هم هغه کسان پاته وه چي مشرکانو په زور را ګرځولي وه، همدارنګه د رسول الله ﷺ کورنۍ او د ابوبکر الصديق رضي الله عنه کورنۍ پاته وه او حضرت علي رضي الله عنه چي د رسول الله ﷺ له کورنيه او اهل بيت څخه ؤ هغه هم پاته ؤ.

## په دارالندوه کي د قريشو پارلماني شورىٰ

کله چي د مکې مکرمې مشرکانو وليدل چي د رسول الله ﷺ ټول اصحاب د مکې مکرمې څخه و وتل خپلي ښځي او ماشومان يې د أوس او خزرج قبيلو ته ورسول، په دوی کي غم او تشويش زيات سو داسي تشويشونه ورته پيدا سوه چي په پخوا کي يې هيڅ په زړوکي نه ورګرځېدل، دوی په خپل مخ کي لوی او حقيقي خطر حس کړی، داسي خطر چي د دوی د بت پرستۍ او تجارت تعمير يې نړاوه، دوی په دې پوهېدل چي د رسول الله ﷺ په شخصيت کي د تاثير کولو عظيم قوت پروت دی، د ده په شخصيت کي پوره قيادت او ارشاد پروت دی، دا هم ور معلومه وه چي د ده ﷺ په اصحابو کي څومره ثبات او استقامت موجود دی او د ده ﷺ دپاره څنګه خپل ځانونه قربانوي او بيا يې د أوس او خزرج قبيلې تر نظر وايستلې، چي هغه هم د قوت او اسلحې خاوندان دي او د هغو مشران ډير پوه او هوښياران دي، په هغو کي د صلحي عواطف پراته دي او هغه غواړي چي د خپلو منځو څخه هغه حقد او عداوت وغورځوي کوم چي دغه ډير اوږده پسې کلونه يې دوی په جنګو مشغوله کړي وه، پردې سربېره قريشو ته د مدينې منورې استراتيجي موقعيت هم ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوم ؤ چي شام ته د قریشو د قافلو د تېرېدلو لار مدینه منوره ده او اهل مکې د شام سره په یوه کال کي د دوه نیم لکو د سرو زرو دینارو تجارت درلودی، دا یوازي د مکې مکرمې تجارت ؤ بېله هغه تجارته چي د طائف او نورو منطقو خلکو پر دغه لار کاوه او دا معلومه خبره ده چي د قریشو تجارت د دغي لاري پر أمن او امان موقوف ؤ.

اوس نو که مسلمانان او اسلامي دعوت یثرِب د ځان مرکز وګرځوي او د هغه ځای خلک د قریشو پرضد و درېږي قریش د دغه ټولو خطرو سره مخامخ دي، قریش په بېره او خطر کي سوه نو په یوه داسي کامیابه لارپسي ګرځي چي دغه لوی خطر له ځانه څخه دفعه کړي، هغه خطر چي منبع او مصدر یې د دعوت بیرغ پورته کوونکی محمّد ﷺ دی، دلته نو د کفر مشر او د دې امت فرعون ابوجهل حرکت وکړی چي د ده د هلو ځلو په نتیجه کي د بعثت د (۱۴) کال د صفري پر (۲٦) تاریخ د پنجشنبې په ورځ چي د (٦۲۲) میلادي کال د سپتمبر د میاشتي (۱۲) تاریخ ؤ او د عقبهٔ الکبرٰی د بیعت څخه تقریبًا دوه نیمي میاشتي تیري سوي وې، د دغي ورځي په سهار کي او په دار الندوه کي د قریشو هغه تاریخي او خطرناکه ټولنه یا اجتماع جوړه سوه، دې ټولني ته د قریشو د قبائلو ټول رئیسان حاضرسوه! چي یوه داسي نقشه جوړه کړي چي ډیر ژر د دعوت بیرغ اخیستونکی محمّد ﷺ له منځه یوسي او د دغه ربّاني نور مرکز د همېش دپاره له دنیا څخه فلج او نیستي کړي، د دغه خطرناکه پارلماني مجلس او ټولني هغه بارِز او برجُسته شخصیات د قریشو دغه مشران وه:

۱ـ ابوجهل بن هشام، چي د بني مخزوم د قبیلې رئیس ؤ.

۲ـ جُبَیر بن مطعم، طُعَیمه بن عدي، حارث بن عامر،
چي د بني نوفل د قبیلې رئیسان وه.

۳ـ شیبه او عُتبه د ربیعه زامن، ابوسفیان بن حرب،
چي د بني عبد الشمس د قبیلې رئیسان وه.

۴ـ نضر بن الحارث، چي د بني عبدالدار د قبیلې رئیس ؤ.

۵ـ ابوالبختري بن هشام، زُمعه بن الاسود، حکیم بن حزام،
چي د بني أسد د قبلې رئیسان وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


٦ـ نبیه او منبه د حجاج زامن، چي د بني سهم د قبیلې رئیسان وه.
٧ـ اُمیه بن خلف، چي د بني جُمح د قبیلې رئیس ؤ.
قریشو سره و ویل چي په دې اجتماع او مشوره کي به د بني هاشم، بني مطلب او بني عبد مناف څخه هیڅوک نه وي موجود، حتّٰی هغه کسان چي د دوی سره دوستي او قرابت لري هغه به هم نه وي موجود او هغه کسان چي د اهل یثرب سره قرابت او دوستي لري هغه به هم دغي ټولني ته نه راځي، داسي تدبیر او نقشه یې جوړه کړه چي هغه کسان یې هم دغه مجلس ته د را تګ څخه منعه کړل کوم چي د مسلمانانو سره یې لږ اړیکي او قرابتونه درلودل یا یې پر هغو زړه سوی درلودی، ابوجهل غوښته چي دا سِر او راز تر هغو پټ وساتي تر څو چي د اسلام او مسلمانانو په باره کي هغه آخرنی فیصله راوزي او عملي کېږي، دا اجتماع په دارالندوه کي جوړه سوه، هغه داُرالندوه چي قُصی بن کلاب د قریشو لوی نیکه جوړه کړې وه او د قریشو پارلمان بلل کېدی چي موږ یې د مخه بیان درته کړی دی.
نو د مشرک قریشو ټول هغه مشران چي د اسلام او رسول اللهﷺ سرسخته دښمنان وه په دغه اجتماع کي سره یو ځای سوه.
په دغه وخت کي چي دوی سره یو ځای دي یوه نفر دروازه وټکول، قریشو چي وکتل ښه معتبره شیخ دی چي د اهل نجد یا نجدیانو لباس یې اغوستی دی، رسول اللهﷺ د هغه په باره کي فرمایي: هغه شیطان ؤ او د کفارو دغه مجلس او مشورې ته د بشر په شکل او لباس حاضر سو غواړي چي د دوی سره په دغه خطرناکه موضوع کي مرسته وکړي، قریشو ورته ویل: څوک یې؟ ده ویل: د اهلِ نجد څخه یو شیخ یم ستاسي د دغي مشورې په مقصد خبر سوم راغلم چي ستاسي خبري واورم او ممکن په دغه باره کي نظر درکړم او نصیحت درته وکړم، دوی ویل: ډیر ښه راسه، شیطان هم ورغلی د قریشو په مجلس کي ور سره کښېنستی، اوس نو مشورې شروع سوې چي څه باید وکړو؟ هر یو ژور او عمیق فکر وهي چي داسي نقشه جوړه کړي چي په هغه کي باید د اسلام او مسلمانانو کار پای ته ورسیږي، ډیري خبري وسوې او هر یو خپله رأیه وراندي کوي چي په دې جمله کي ابو الأسود و ویل: محمّدﷺ به له وطنه فراره

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړو، داسي نه چي په جزيرةُ العرب کي په يوه ځای کي و اوسيږي يا! بلکل د جزيرةَ العرب څخه به يې وباسو ډير ليري ځای ته به يې فراره کړو بيا نو هرځای ته چي ولاړی او هرڅه چي ورته پيښه سوه، موږ به دلته خپل کارونه د پخوا پر قسم جوړ او برابر کړو، په خپل منځ کي به د پخوا پر شکل بيرته سره يو مُتي سو، نجدي شيخ و ويل يا والله! دا صحي فکر نه دی آيا تاسي د هغه ښې او خوږې خبري نه اوری کومي چي د خلکو پر عقلو غالبه کيږي؟ هر ځای د ځان دپاره ملګري او تابع خلک پيدا کولای سي، بيا به هغه خپل ملګري سره را ټول کړي او پر تاسي به راسي هرڅه چي يې زړه غوښته هغه به درسره وکړي دا فکر نه دی صحي بله معقوله رأيه و واياست.

ابوالبختري بن هشام و ويل: زما په فکر محمّدﷺ د اوسپني په قفس کي بندي کړی د قفس دروازه پسي بنده کړی او بيا نو د هغه څه انتظار باسی چي د ده و امثالو ته په پخوا کي ورپيښ سوي دي، يعني: آخر په دغه قفس کي مري، نجدي شيخ او ابوجهل و ويل: دا فکر نه دی صحي که يې بندي هم کړی د ده خبري به له هغي بندي دروازې څخه د ده ملګرو ته و رسيږي او ملګري به يې په يوه وار درباندي راتوی سي دئ به هم درڅخه خلاص کړي او تاسي به هم مغلوبه کړي، دا صحي نظر نه دی په بله رأيه پسي وګوری، پسله هغه څخه چي پارلمان دغه دوې مشورې رَد کړې يوه بله توره او منحوسه رأيه ور وړاندي سوه چي پر هغه رأيه د پارلمان ټولو اعضاوو موافِقه رأيه ورکړه، چي دغه رأيه د مکې مکرمې د لوی مجرم او د اسلام دښمن ابوجهل بن هشام له طرفه وړاندي سوه، ابوجهل ملعون و ويل:

ښه طريقه او نقشه زما سره ده، داسي نقشه چي تاسي يو هم هغه ته نه سی رسېدلای، خلکو ويل: هغه څه شي او څنګه نقشه ده؟ يا ابا الحکم! ابوجهل و ويل: د قريشو د هر ښاخ څخه به يو يو قوي او غښتلی ځوان را وباسو او بل هر قوم چي په مکه کي اوسيږي د هغو څخه به هم يو يو قوي ځوان را وباسو، دغو ځوانانو ته به تېرې توري په لاس ورکړو ټوله دي په يوه وار د تورو واري پر وکړي او و دی يې وژني، دئ به و وژل سي او موږ به ځني فارغه سو او دا به هم نه سي معلومه چي د چا په واري و وژل سو، بيا نو که بني هاشم يا بني عبد مناف د ده بدله اخيستل د ټولو قريشو او ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


قومو سره نه سي جنګېدلای ځکه د ده وینه پر ټولو قومو و وېشل سوه نو دوی به په دیت راضي سي او موږ به دیت ورکړو. نجدي شیخ و ویل: دا صحي فکر دی. ابوجهل ملعون داسي طریقه او نقشه جوړه کړه چي د شیطان سره هم دا فکر نه ؤ ورسره، نو ابوجهل د اسلام او مسلمانانو په دښمني کي تر شیطان هم خبیث ؤ. د قریشو ټولو مشرانو پر دغه ظالمانه فکر او نقشه اتفاق وکړی او د دغه اتفاق د عملي کولو دپاره یې فوري تصمیم ونیوی چي دا کار به ډېر ژر سر ته رسوو. بیانو د قریشو مشران خپلو کورو ته ولاړل.

## د رسول الله ﷺ هجرت

کله چي د رسول الله ﷺ د وژلو نقشه د رأیو په اتفاق تصویب سوه د الله جل جلاله له طرفه و رسول الله ﷺ ته جبریل علیه السلام راغلی او رسول الله ﷺ یې د قریشو دغه د غدر په عمل خبر کړی او ورته ویې ویل چي: الله جل جلاله د هجرت اجازه درته وکړه او د هجرت وخت یې هم در معلوم کړی او ویل: الله جل جلاله فرمایي: نن شپه پر هغه خپل بستر مه بیدېږه کوم چي ته پر بیدېدې، اوس نو رسول الله ﷺ د هجرت دپاره تیاري او آمادګي نیسي نو د دغې ورځي په غرمه کي رسول الله ﷺ د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه کور ته د هجرت د نقشي جوړولو دپاره ورغلی، حضرتِ عائشه رضی الله عنها وایي: موږ په غرمه کي د ابوبکر رضی الله عنه په کور کي ناست ؤ چي یو چا و ابوبکر رضی الله عنه ته و ویل: هغه دی رسول الله ﷺ چي مول یې وهلی یا مخ یې پټ کړی دی راغلی، دا داسي وخت ؤ چي رسول الله ﷺ هیڅکله په دغه وخت کي زموږ کور ته نه راتلی (هو رسول الله ﷺ کله ناکله د ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه کور ته ورتلی مګر په داسي وخت کي چي غرمه او شدیده ګرمي دي وي نه ورتلی) حضرتِ عائشه رضی الله عنها وایي: عادتًا رسول الله ﷺ په دغسي وخت کي زموږ کور ته نه راتلی نو ابوبکر رضی الله عنه و ویل: زما مور او پلار دي تر ده قربان وي په دې وخت کي نه دی راغلی مګر د یوه مهم کار دپاره.

حضرتِ عائشه رضی الله عنها وایي: رسول الله ﷺ راغلی او کور ته یې د داخلېدلو اجازه وغوښتل اجازه ورکول سوه او کور ته را داخل سو، د ابوبکر رضی الله عنه سره په کور کي اسماء

(c) ketabton.com: The Digital Library


او عائشه رضي الله عنها چي د ابوبکر رضي الله عنه لوڼي دي ور سره وې، رسول الله ﷺ ورته و ويل: دغه خوک چي ستا سره دي دباندي يې وباسه (د هجرت کار دومره په پټه سره کېدی چي ابوبکر رضي الله عنه ته وايي لوڼي دي دباندي وباسه، سره له دې چي اسماء او عائشه دواړي مسلماناني دي بيا هم رسول الله ﷺ وايي: دباندي دي ووزي) ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه و ويل: يا رسولَ الله! زما مور او پلار دي تر تا قربان وي دا ستا کورنۍ ده څه نه پيښيږي، رسول الله ﷺ و فرمايل: يا ابا بکر! ما ته د هجرت اجازه راکړل سوه، ابوبکر رضي الله عنه و ويل: يا رسولَ الله ملګرتيا؟ يعني: زه دي په دې سفرکي ملګری يم؟ رسول الله ﷺ ويل: هو يا ابا بکر! ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه په ژړا سو او ډير شديد يې وژړل، دا د خوشالۍ ژړا وه، حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: ما تر دغه ورځي د مخه څوک نه ؤ ليدلی چي له خوشاليه دي ژاړي عادتاً انسان له غمه ژاړي، مګر ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه په دغه ورځ له خوشاليه ژړل او د خوشالۍ سبب يې دا ؤ چي په هجرت کي د رسول الله ﷺ ملګری دی، دلته د ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه په کورکي د هجرت دپاره پوره نقشه جوړه او وخت وټاکل سو، رسول الله ﷺ خپل کور ته ولاړی او د شپې د را تګ په انتظار دی، خو هلته يو کار ؤ چي رسول الله ﷺ بايد تر هجرت د مخه عملي کړی وای چي هغه د امانتو کار ؤ، څنګه د امانتو کار؟ هغه داسي:

څرنګه چي په هغه وخت کي بانکونه نه وه نو که به چا قيمتي شيان درلودل او دیٔ به په سفر تلی يا به يې د هغه شي د ساتلو دپاره ځای نه درلودی نو به يې دغه قيمتي شيان د يوه داسي چا سره د امانت پر ډول ايښوول چي په هغه چا به يې اعتبار او باور درلودی او دغه امانتونه تر هر چا د رسول الله ﷺ سره ډير پراته وه ځکه چي دیٔ ﷺ صادق الأمين ؤ.

او دغه امانتونه کفارو ورته ايښوول حال دا چي دغو کفارو آزارونه هم ورکول، د ده ﷺ سره يې عقيدوي مخالفتونه هم درلودل خو د امانتو په باره کي يې تر هر چا پر ده ﷺ ډير باور او اعتماد درلودی، نو ځکه د رسول الله سره ډير قيمتي شيان د امانت پر قسم پراته وه، اوس چي رسول الله ﷺ ته د هجرت اجازه وسوه او دیٔ ﷺ نه غوښتل چي دغه امانتونه ضائع سي هر شیٔ بايد خپل مالک ته ورسيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو يې دغه امانتونه حضرت علي﷛ ته ور وښوول، چې دغه شئ د فلاني او دا شئ د فلاني دی، د ټولو امانتو مالکان يې ور وښوول او ويل: زما تر تګ وروسته به دغه امانتونه خپلو خاوندانو ته ورسوې او بيا يې علي﷛ ته و ويل: چې ته به نن شپه زما په بسترکي بيده سې.

مګر د مجرم قريشو مشرانو ټوله ورځ په دې کي تېره کړه چې هغه خپله مجرمانه او خاينانه فيصله کومه چې د دارُالندوه په پارلماني غونډه کي سهار تصويب سوې وه په عمل کي اجراء کړي، کله چې شپه سوه رسول الله ﷺ په خپل کورکي دی او هغه ځوانان چې قريشو د رسول الله ﷺ د وژلو دپاره را ټول کړي وه هغه هم د شپې راغله او د رسول الله ﷺ پرکور را وګرځېدل کوريې محاصره کړی خاصتاً د کور دروازې ته ډېر متوجه دي، دا يې قصد او اراده ده چې رسول الله ﷺ له کوره را ووزي دوی ټول په يوه وار حمله پر وکړي، د دغو ځوانانو د ډلي د إداره کولو دپاره د قريشو د مشرانو څخه يوولس نفره رئيسان وټاکل سوه، چې د دغه مجرم حرکت څارنه وکړي او د دغو رئيسانو نومونه په داسي ډول سره دي:

۱ – ابوجهل بن هشام. ۲ – حکم بن أبي العاص. ۳ – عُقبه بن أبي معيط،
۴ – نضر بن الحارث. ۵ – أميه بن خلف. ٦ – زَمعه بن الأسود،
۷ – طُعيمه بن عدي. ۸ – ابولهب. ۹ – أبئ بن خلف.
۱۰ – نبيه بن الحجاج. ۱۱ – د ده ورور منبه بن الحجاج.

د مشرک قريشو دا ټينګ يقين ؤ چي دغه مجرمانه عمل مو خامخا کاميابه کيږي تر داسي اندازې چې ابوجهل خبيث په فخر او غرور سره و دربدی او خپلو محاصره کوونکو ملګرو ته يې د پسخند پر قسم و ويل: محمّد داسي فکر او خيال کوي: که تاسي د ده متابعت وکړی د عربو او عجمو پاچهان به سی او پسله مرګه به بيا را ژوندي سی او هلته به تاسي لره داسي باغونه وي لکه د شام او أُردن او که تاسي د ده متابعت ونه کړی په دې دنيا کي به مو حلال کړي او بيا به پسله مرګه را ژوندي سی او هلته به بيا تاسي لره اور وي چې په هغه کي به سوځل کېږی.

ابن اسحاق رحمه الله وايي: د دغه جُرم د عملي کولو وخت يې تر نيمي شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروسته تاكلى ؤ نو ټول ويښ وه او هغه د صفر د لحظې په انتظار وه، مگر الله جل جلاله پرخپله إراده غالب او قادر دى د مځكي او آسمانو امر د ده عزوجل په قدرت كي دى هرڅه چي د رب العزت سبحانه وتعالى إراده وي هغه كيږي، دئ جل جلاله خلك ساتلاى سي خو د ده عزوجل له عذابه هيڅوك نه خپل ځان او نه بل څوك ساتلاى سي، الله جل جلاله په دغه شپه هغه كار وكړى چي بيا په وروسته كي خپل رسول ﷺ ته فرمايي:

﴿وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٣٠﴾﴾. [الأنفال: ۳۰]

يعني: اې محمّده! ﷺ هغه وخت ياد كړه چي ستا سره هغو كسانو چي كافران سوي دي چم او فرېب كاوه، يعني: تا ته يې د دې دپاره چم جوړاوه چي تا بندي كړي، يا دي ووژني، يا تا له مكې څخه فراره كړي او دوى دغه مكر او فريب ستا سره په پټه كاوه، خو دغه د دوى د فرېب جزاء الله جل جلاله وركوي او الله جل جلاله د فرېب ښه جزاء وركوونكى دى.

په دغه آيات شريف كي الله جل جلاله خپل رسول ﷺ ته دغه د دارُ الندوه د مشورې بيان كړى دى او بيا يې د رسول الله ﷺ د خلاصون اطمينان وركړى دى.

خير كفار د نيمي شپې په انتظار دي خو د مخه تر وخت يوه له دغو ځوانانو غوښتل چي تر دېواله ورواوړي او دننه كور ته ورسي، په دغه وخت كي د كور له طرفه يوې ښځي رېغ پر وكړى، نفر بيرته را وګرځېدى او بيا دغو ځوانانو په خپل منځ كي سره و ويل: كه عرب په دې خبر سي چي موږ پرخپلو ښځو دننه په كورو كي حمله كوو دا به زموږ دپاره ابدي شرم او پيغور وي، دا عيب دى چي په يوه كور كي ښځه وي او موږ ورننوزو، نو موږ به دلې انتظار كوو تر څو چي محمّد ﷺ را وزي خو كور ته به نه ورځو، پر دغه خبره يې اتفاق سو نو څكه دننه كور ته نه ورغله.

سبحان الله! دا هغه جاهل عرب وه چي ژوندي انسانان يې ښخول او دغه يې دكورو د حرم مراعت او احترام ؤ، غواړي چي د الله رسول ﷺ و وژني مگر كور ته دننه نه ورځي، خو بالمقابل د نن ورځي د هغو كسانو په عمل بشريت شرميږي! چي دوى خپل ځانونه په نړۍ او جهان كي د علم او پوهي استادان بولي او ځانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بشر د حقوقو بیرغ پورته کوونکي بولي، د ښځو د حقوقو په نارو خو یې د غاړي رګونه وشکېدل او په عین حال کي د دوی په دې هیڅ پروا نه کیږي چي په یوه داسي کور ورننوزي چي هلته ښېله ښځو بل هیڅوک هم نه وي او چي زړه یې غواړي هغسي وکړي، کورونه محاصره کړي د کورو خاوندان وتړي او بیا د خپلو شیطاني خواهشاتو د پوره کولو دپاره ښځي بې عفته کړي، دا د نن ورځي د علم او پوهي د پروفیسرانو عمل دی او هغه د بُت پرستو جاهلانو عمل ؤ اوس یې تاسي سره مقایسه کړی.

خیر دغه ځوانان د کور د دروازې سره د رسول اللهﷺ د راوتلو انتظار کوي، په دغه خطرناکه وخت کي رسول اللهﷺ و علي بن أبي طالبؓ ته و ویل: ته زما په بستر کي پرېوزه او دغه زما زرغون حضرمي پټو در باندي واچوه او بېغمه بیده سه (دا هغه پټو ؤ چي رسول اللهﷺ به همېشه په دغه پټو کي بیدېدی) او ویل: تا ته له دویه داسي شئ نه پیښیږي چي ستا دي نا خوښه وي، بیا نو رسول اللهﷺ دروازه خلاصه کړه او له کوره و وتی، کفار دکور د دروازې سره ولاړ دي رسول اللهﷺ د دوی مخ ته او د دوی په منځ کي تېرسو دوی نه لیدی، دا د اللهﷻ ساتنه او الٰهي معجزه وه چي دوی نه سواي لیدلای او رسول اللهﷺ د راوتلو په وخت کي د سورة یٰسٓ دغه آیاتونه ویل:

﴿يسٓ ۝١ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ۝٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝٣ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ۝٤﴾

ترخو د اللهﷻ دې قول ته ورسېدی چي فرمایي:

﴿وَجَعَلۡنَا مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ سَدّٗا وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ سَدّٗا فَأَغۡشَيۡنَٰهُمۡ فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ۝٩﴾

رسول اللهﷺ د دوی په منځ کي تیرېږي او دوی یې نه ویني، رسول اللهﷺ په دغه هم کفایت و نه کړی بلکه د مځکي خځه به یې خاوري را اخیستې او د هر یوه پر سر یې جلا جلا ور اچولې او یوه هم و نه لیدی.

اللهﷻ خپل رسولﷺ په دغه طریقه سره د کفارو د لیدلو څخه پټ کړی.

رسول اللهﷺ له خپله کوره را و وتی او د ابوبکرالصدّیقؓ کور ته ورغلی او ځوانان هلته د رسول اللهﷺ د کور مخ ته د صِفر د لحظې په انتظار ولاړ دي.

بیا نو رسول اللهﷺ او ابوبکرالصدّیقؓ د کور د شا له دروازې یا دربچې څخه.

(c) Ketabton.com: The Digital Library


و وتل او د يمن پرطرف رهي سوه، كه څه هم مدينه منوره د مكې مكرمې د شمال ر طرف ته واقع ده خو دوى د جنوب پر طرف حركت وكړى، دا په دې سبب چې د هجرت كاروانه په ډير پټ او سرِّي ډول سره وسي او پر قريشو لار وركه سي نو خود د جنوب اويمن پر طرف رهي سوه.

هلته هغه محاصره كوونكي ځوانان د ناكامى د وخت انتظار كوي، شپه ډېره تېره سوه د ځوانانو پر چهرو كرار كرار د نا اميدى او ناكامى علامې ښكاره كيږي، په دغه وخت كي يو سړئ راغلى چي د دوى د ملګرو څخه نه ؤ او وې ليدل چي ځوانان د رسول الله ﷺ دكور د دروازې سره ولاړ دي.

سړي پوښتنه وكړه چي د څه شي انتظاركوى؟

ځوانانو ويل: د محمّد ﷺ د راوتلو.

سړي ويل: خراب او برباد سواست په والله هغه ستاسي مخ ته تېر سو او ستاسي پر سرويې خاوري هم درواچولې اوپه خپل كارپسي ولاړى.

دوى ويل: په والله موږ نه دى ليدلى او د خپلو سرو څخه د خاورو په ايسته كولو مشغوله سوه، خو بيا هم ځوانانو د دروازې تر چاكو ورته وكتل وې ليدل چي هغه دى په بستر كي يو څوك پروت دى ويل: والله دا محمّد دى چي بيده دى او نور هم انتظار ورته كوو، د دې امكان ؤ چي دغه ځوانان د دغه بستر پر نفر حمله وكړي ځكه د دوى دا يقين ؤ چي دا محمّد ﷺ دى.

حال دا چه په دغه بستركي حضرت علي رضي الله عنه پروت ؤ او هغه خپل ځان د رسول الله ﷺ دپاره فدايي كړى ؤ، ځكه په دغه بستركي بيدېدل لوى خطر دى او دا كار لويه قرباني او فدا كاري ده، نو خود و علي رضي الله عنه ته په اسلام كي اول فِدايي ويل كيږي ځكه چي د رسول الله ﷺ په عوض او بدل كي يې خپل ځان مرګ ته سپارلى ؤ، دئ د هغه چا په بستر كي پروت دى چي د هغه د وژلو حكم د قريشو ظالمو مشرانو او مشرِك پارلمان صادركړى دى، په دغسي بستر كي پرېوتل لويه فداكاري او قرباني ده.

څه وخت چي تېر سو ځوانانو نور صبر نه سواى كولاى دروازه يې و ټكول او آخر يې په زور خلاصه كړه، دننه چي ورغله علي رضي الله عنه مخ لڅ كړى ځوانان په حيرت كي پاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه چي دا خو رسول الله ﷺ نه دی نویې د علی رضی الله عنه څخه د رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه، هغه ویل: زه نه یم په خبر دلته نسته، ځوانانو کور ویلتی او رسول الله ﷺ یې نه کړی پیدا، په مکه مکرمه کي ډېر ژر خبر نشر سو چي محمّد ﷺ هجرت کړی دی.

## له کوره تر غارِ ثوره پوري

د بعثت په څوارلسم کال د صفري د میاشتي په (۲۷) تاریخ چي د (٦٢٢) عیسوي کال د سپتمبر د میاشتي د (۱۲ – ۱۳) تاریخ سره برابرېږي رسول الله ﷺ د شپې له خپله کوره و وتی او د خپل وفاء داره ملګري ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه کور ته ورغلی او د مخه تر دې چي سهار سي دوی دواړه د ابوبکر الصدیق رضی الله عنه د کور د شا له دروازې څخه په تلوار و وتل، څرنګه چي رسول الله ﷺ پوهېدی چي قریش به د دوی په طلب او پیدا کولو کي ډېر کوښښونه وکړي او هغه لار چي تر هر څه د مخه به و هغې ته ډېر متوجه وي هغه د مدینې منورې عمومي لار ده چي د مکې مکرمې د شمال و طرف ته وه، نو رسول الله ﷺ هغه لار پرېښوول او د هغې پر عکس د مکې مکرمې د جنوب پر طرف پر هغه لار رهي سو چي د یمن و طرف ته تله، ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه یو مولی درلودی (مولی هغه مریي ته ویل کیږي چي د خپل مالک له طرفه آزاد سوی وي یعني: پخوایې مریئ ؤ او اوس یې آزاد کړی دی) نو ابوبکر رضی الله عنه دغه خپل مولی ته چي عامر بن فُهیره نومېدی، وویل: په موږ پسي پسونه را رهي کړه، رسولُ الله ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه رهي دي او تر شا پسونه په پسې دي، دا ولي؟ دا د دې دپاره چي د دوی د قدمو آثار او علامې ورکي سي، داسي پل او نښانه نه سي پاته چي څوک و وایي: دلته نفر تللي دي، د هجرت کار ډېر پټ او په سرّي ډول سر ته رسیږي، رسولُ الله ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه پردې لار تقریبًا پنځه میله مخ ته ولاړل ترڅو چي یوه غره ته و رسېدل چي دغه غره ته جَبَلِ ثور ویل کیږي دغه غر ډېر لوی او لوړ غر دی ډېري ډبري او لاښونه لري، دغه غره ته ختل ډېر سخت او مشکل دي خو دوی په شپه کي په ډېر تکلیف او زحمت سره دغه غره ته وختل ترڅو هغه غار ته ورسېدل چي تقریبًا د غره په سر کي ؤ او غارِ ثور ورته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د غارِ ثور واقعې

کله چې دوی غار ته ورسېدل ابو بکرالصدّیق رضی الله عنه خپل مولی عامر بن فُهیره ته و ویل: ته ولاړ سه او زما کورنۍ ته خبر ورکړه چې مورږ چیري او په کوم ځای کې یو او بیا یې رسولُ الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! والله ته به غار ته نه ننوزې ترڅو چې زه تر تا د مخه نه یم ننوتلی، ځکه که په دغه غار کې یو ځیرونکی حیوان یا مار او لړم وه تر تا د مخه به ما ته تکلیف راکړي، نو اول ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه غار ته ننوتی، غارِ ثور د غره غار دی په غار کې یې وکتل هلته د غار په یوه طرف کې څو نور کوچني غارونه هم وه ابوبکرالصدیق رضی الله عنه خپل لُنګ څیري کړی څو غاره یې د هغه لُنګ په ټوکرانو پټ کړه، خو دوه سوري یا غاره خلاص پاته سوه د هغو پر خوله یې خپله پښه کښېښوول او بیا یې رسول الله ﷺ ته و ویل: اوس نو غار ته را داخل سه، رسولُ الله ﷺ غار ته ور ننوتی پسله څه وخته یې سر د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه پر ځنګانه کښېښاوه او بیده سو، پسله څه وخته له یوه غاره څخه یوه شي ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه پر پښه و واهه، خو ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه له دې بیري چې رسولُ الله ﷺ به را ویښ سي هیڅ حرکت و نه کړی خو له درده یې تر سترګو اوښکي را توی سوې چې هغه اوښکي یې د رسول الله ﷺ پر مبارک مخ ولوېدې، دا د صدیق اکبر صِدق او اخلاص ؤ او دا یې د رسولُ الله ﷺ پر ساتنه حرص ؤ، رسولُ الله ﷺ په دغه اوښکو را ویښ سو او ویل: څه درته پېښه ده؟ یا ابابکر! ده رضی الله عنه و ویل: زما مور او پلار دي تر تا قربان وي یو شي و وهلم، رسولُ الله ﷺ هغه د درد پر ځای خپلي مبارکي ناړي ومښلې، د ابوبکر رضی الله عنه له بدنه هغه درد ایسته سو او دوی دواړه په دغه غار کې درې شپې پټ پاته سوه، د جمعې شپه، د شنبې شپه او د یکشنبې شپه. (بیرته مکې مکرمې ته راسه)

کله چې د قریشو دا یقین سو چې رسول الله ﷺ د دوی د خبیثي نقشې په شپه د دوی له لاسه و وتی تر ټولو د مخه یې د حضرتِ علي رضی الله عنه په وهلو شروع وکړه او کعبې شریفي ته یې راوستی د څه وخت دپاره یې په دې سبب بندي کړی چې ګوندي د رسولُ الله ﷺ معلومات ځني حاصل کړي خو کله چې کفار د علي رضی الله عنه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نا امیده سوه نو د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه کور ته ورغله دروازه یې ور وټکول د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه لور اسماء رضي الله عنها ورته را و وتل، ابوجهل ورته ویل: پلار دي چیرې دی؟ هغې ویل: نه یم خبره چې چیرې دی، ابوجهل خبیث پوه سو چې هغه هم د محمّد ﷺ سره تللی دی، نو یې یوه سخته چپلاخه ور سره کړه چې اسماء رضي الله عنها د دغې چپلاخې له زوره پر مځکه و لوېدل او د غوږ والۍ یې و لوېدی، اسماء رضي الله عنها ورته و ویل: و شرمېږه د خلکو د وهلو نه یې ښځې وهې، ابوجهل هم په خپل ځان کې وشرمېدی چې ښځه وهي نو خود له دې ځایه بیرته نا امیده ولاړی.

*ابوجهل د ښځې په وهلو شرمیږي خود نن ورځې بشردوستان او د ښځود حقوقو بیرغ پورته کوونکي د ښځووهل او بې عزته کول د ځان همت او مړانه بولي!*

څه وخت وروسته ابو قحافه د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه پلار چې په سترګو هم ړوند ؤ د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه کور ته ورغلی او د اسماء رضي الله عنها څخه یې پوښتنه وکړه چې پلار دي چیرې دی؟ اسماء رضي الله عنها و ویل: نه یم خبره، څرنګه چې ټول قریش پوهېدل چې دوی په هجرت تللي دي نو ابو قحافه و ویل: تاسي ته یې د خرڅ او مصرف دپاره یو شئ در پرې ایښی دی؟ اسماء رضي الله عنها د دې دپاره چې خپل نیکه ته اطمینان ورکړي ولاړه سوه او په هغه کځوړه کي یې ډبرې را وړې کومه چې ابوبکر رضي الله عنه په هغه کي پیسې اېښوولې، هغه کځوړه یې ابو قحافه ته ونیول او ویل: دغه یې را پرې ایښي دي، ابو قحافه چې په سترګو ړوند ؤ او شئ یې نه لیدی پر کځوړه یې لاس تېر کړی د ده په خیال زر ورغله ځکه د هغه وخت پیسې زر وې، ویل: که یې دا در پرې ایښي وي دا خو ډېر شئ دی حال دا چې ابوبکر رضي الله عنه په کور کي څه نه وه پرې ایښي، خپل مال او دارایي چې پنځه شپږ زره درهمه کېدل هغه یې ټول د دې دپاره ور سره اخیستي وه چې د هجرت په لارکي یې د رسولُ الله ﷺ د ضرورت په وخت کي مصرف کړي.

ابوبکر رضي الله عنه ته رسول الله ﷺ تر خپل اولاد د مخه او نژدې ؤ ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه هغه څوک دی چې بیا په وروسته کي په مدینه منوره کي رسولُ الله ﷺ د مجاهدینو د مرستي دپاره د صحابهٔ کرامو څخه د مرستي یا کومک پر قسم مال وغوښتی هر چا یو څه را وړل خو ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه خپله ټوله دارایي خپل ټول مال هر څه چې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


درلودل ټول يې را وړه و رسول الله ﷺ ته يې کښېښوول، څرنګه چې رسول الله ﷺ ته د ده ژوند او دارايي ور معلوم وه پوه سو چې ده خپل ټول مال را وړی دی نو يې پوښتنه څني وکړه چې د خپل اهل او کورنۍ دپاره دي څه پرېښوول؟

ابوبکر الصدّيق ﷺ وويل: هغوته مي الله او رسول الله پرېښوول.

خير د قريشو دا يقين سو چې محمّد ﷺ او ابوبکر ﷺ په هجرت تللي دي جنون او ليونتوب ورته پېښ سو سمدستي يې يوه اضطراري غونډه يا جلسه جوړه کړه او په هغه کي يې دا فيصله وکړه چې ټول هغه کارونه به عملي کوو چې د دغو دوو نفرو د نيولو دپاره زموږ مرسته او کومک کوي، اول خويې ټولي هغه لاري چې د مکې مکرمې څخه دباندي وتلې تر مسلح مراقبت يا څارني لاندي ونيولې، نوري ډلي يې هم جوړي کړې چې تر مکې مکرمې دباندي ووزي او شا و خوا په دوی پسي وګرځي، د قريشو مشرانو دا اعلان هم وکړی: که چا محمّد ﷺ مړ يا ژوندئ راوستی هغه ته (۱۰۰) اوښان په انعام او جائزه کي ورکوو، سل اوښه انعام په هغه وخت کي لويه سرمايه وه نو ټولو خلکو د رسول الله ﷺ په پلټنه او پيدا کولو شروع وکړه، پياده او سپاره خلک پسي ګرځي او هر يو ډېر زيات کوښښ کوي چې محمّد ﷺ پيدا کړي، په غرو او شېلو کي ګرځي خو د رسول الله ﷺ او د هغه د ملګري هيڅ اثر نسته، د مکې مکرمې ځينو خلکو د جبلِ ثور پر طرف پلټنه شروع کړه او هلته پسي ګرځي هر ځای چې يې وکتل دوی يې نه کړه پيدا خو د مشرکانو څخه يوه نفر وويل: دلته په دغه غره کي يو غار هم سته.

کفار د غار و طرف ته رهي سوه مګر د غار پر شا وخوا هيڅ داسي علامه نسته چې دلته دي څوک راغلي وي خو بيا هم کفار تر غاره پوري ورغله او د غار په خوله کي و درېدل، اوس نو دلته روايتونه مختلف دي څوک وايي: الله جل جلاله د غنو په واسطه د غنو ځالګۍ د غار پر خوله واچولې او ځيني روايتونه وايي چې د غار په خوله کي کوتره وه چې هګۍ يې اچولي وې او پرخپلو هګيو پرته وه، چې دغه دواړه پردې دلالت کوي چې نه دلته څوک سته او نه څوک راغلي دي خو دغه روايتونه ضعيفه دي صحي روايت هغه دی چې په صحيح البخاري کي يې امام بخاري رحمه الله روايتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سبحان الله! دغه کفار د غار تر خولې پورې راغله او د غار په خوله کې ولاړ دي غار هم لوی او اوږد غار نه دی که يوه له دغو کفارو دننه غار ته صحي کتلي وای دوی به يې ليدلي وای، که څه هم د غنو ځالي موجودي وای بيا يې هم دوی ليدلای سوای، خو هغه واقعي شئ چې پېښ دی هغه دا چه کفار د غار تر خولې پورې راغلي دي په محمّد ﷺ پسي ګرځي، سل اوښه جائزه او انعام غواړي، اوس د غار په خوله کې ولاړ دي او خبرې کوي مګر يو هم ځان ته دا تکليف نه ورکوي چې يو وار دننه غار ته ورننوزي، په بخاري شريف کې حديث دی چې ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه وايي: زه د رسول الله ﷺ سره په غار کې وم چې سر مې را پورته کړی د کفارو پښې مې وليدې، ما ويل: يا رسولَ الله! که يوه له دغه قومه څخه کښته وکتل مونږ وينې يعني: مونږ ته دومره ډېر نژدې ولاړ وه که يوه و دغه غار ته سر را کښته کړی وای مونږ يې ليدلای سوای مګر رسول الله ﷺ په هغه اعتماد او باور چې پرخپل ربّ عزّوجلّ يې درلودی را ته و ويل: يا ابا بکر! څه ګمان دي دی پر هغو دوو چې دريېم يې الله دی؟ دا پر الله جلّ جلاله د اعتماد او توکل هغه لوړ مقام دی چې رسول الله ﷺ درلودی.

او دا هم د ابوبکر الصِدّيق رضي الله عنه فضيلت دی چې الله جلّ جلاله په قرآن مجيد کې د صاحب په نامه سره ذکر کړی دی، د هيچا په وسه نه ده پوره چې د ابوبکر رضي الله عنه د فضيلت څخه انکار وکړي ځکه په قرآن مجيد کې د ده رضي الله عنه فضيلت ذکر سوی دی الله جلّ جلاله فرمايي:

﴿إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَـٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا﴾ [التوبه: ۴۰]

يعني: کله چې دوی دواړه په غار کې وه کله چې محمّد ﷺ خپل ملګري او صاحب ته وايي: ته مه غمجن کېږه بېشکه چې الله زمونږ سره دی.

او دا هم د امت په اجماع سره ثابته ده چې په دغه سفر کې د رسول الله ﷺ ملګری ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه ؤ، دا د ابوبکر رضي الله عنه د فضيلت ثبوت او اثبات دی چې الله جلّ جلاله دئ د رسول الله ﷺ صاحب او ملګری و بللی او الله جلّ جلاله و فرمايل: زه د دوی دواړو سره يم.

اوس نو کفار د غار تر خولې پورې ورغله او هلته ولاړ دي خبرې کوي خو دوی يې و نه ليدل او بېرته را وګرځېدل دا الٰهي معجزه ده چې په دغه ځای کې ښکاره کېږي ځکه کفار د غار ترخولې ورغله او په هغو خلکو پسي ګرځي چې په دغه غار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


موجود دي خو په غار کي یې و نه کتل، الله جل جلاله له دغه کاره څخه منعه کړل، د دوی زړونه یې له دغه را وګرځول چي په هغه غار کي چي دوی یې په خوله کي ولاړ دي خپل د مقصد په خلکو پسي وګوري، دا د قادر الله جل جلاله قدرت دی.

کفار درې ورځې پرله پسې په رسول الله ﷺ پسې وګرځېدل هر ځای یې طلب او پلټنه وکړه خو هیڅ شئ یې لاس ته نه ورغله،نه معلومات، نه علامه، نه دوی، قریش نو پرېږده چي په خپل طلب او پلټنه کي سرګردانه دي.

په دغو ورځو کي چي رسول الله ﷺ او ملګری یې هلته په غار کي دي د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه زوی عبدالله د ورځې په مکه مکرمه کي ګرځې د قریشو معلومات ټولوي او د شپې پټ غارِ ثور ته ورځي او هغه د قریشو حالات و رسول الله ﷺ ته بیانوي چي نن داسي او داسي پېښه وه، د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه لور اسماء رضي الله عنها به هم په شپه کي د سبا ورځې دپاره خواړه ورته راوړل، سبحان الله! دغه لوړ غر، دغه لیري او ډېرینه لار سره له دې چي نن ورځ تر یوې اندازې اصلاح سوې هم ده خو بیا هم یو قوي ځوان د ورځې په روښنایي کي ببله تکلیفه او ستړیا نه سي ور ختلای خو اسماء رضي الله عنها ښځه ده او په عین وخت کي حامله هم ده (په نس کي کوچنۍ لري) د شپې په تاریکه کي د کفارو په پټه دغه لوړ غره ته خېژي او دوی ته خواړه ور رسوي او بیا بیرته خپل کورته راځي، دا کوم همت، جُرئت او فدا کاري ده.

خوندو! مسلماني ښځې دغسي وي چي د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ په لار کي حتّی د دین او مسلمانی په لار کي هیڅ تکلیف، تکلیف نه بولي، دا اسماء رضي الله عنها وه او دغه یې مرسته ده چي د هجرت په وخت کي یې د رسول الله ﷺ سره کول.

همدارنګه عامر بن فُهَیره رضي الله عنه هغه د ابوبکرالصدّیق رضي الله عنه مولی به بیا پر دغه لار پسونه بېول او را وستل چي د عبدالله او اسماء پلونه او د پښو علامې ورکي سي، څوک په دې نه سي پوه چي پر دغه لار څوک تللي او راغلي دي او د دغو پسو یا مېږو څخه به یې رسول الله ﷺ او ابو بکرالصدّیق رضي الله عنه ته شیدې هم ورکولې، حضرت ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه پوره ترتیبات نیولي وه، د خوړو راوړلو مؤظف، د اخبار رسولو مؤظف، د آثارو او علامو ورکولو او خرابولو مؤظف، ټولي وظیفې وېشل سوي وې، که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دغه هجرت دپاره سامان او وسائل ساده او بسيط وه، خو بيا هم د هغه وخت او زمانې له حاله سره برابر او مطابق وه، ټول کارونه په يوه صحي نقشه سره جوړ سوي وه، اوس نو په غار کي درې ورځي پوره او تيري سوې د قريشو دا اميد قطعه سو چي رسول الله ﷺ دي د مکې مکرمې په داخل يا اطرافو کي پيدا کړي نو يې خپل طلب او پلټنه پرېښوول ځکه درې ورځي پرله پسې بېله نتيجې پوره سرګردانه سول.

## د هجرت د لاري واقعات

هلته په مکه مکرمه کي يو سړئ ؤ چي عبدالله بن اُرَيقَط نومېدی دغه سړئ په لارو کي ډېر ماهر ؤ يعني: ليري او نژدې، پټي او ښکاره لاري ټولي ور معلومي وې که څه هم دغه سړئ د مشرک قريشو پردين ؤ خو امانت کاره هم ؤ، نو رسول الله ﷺ او ابوبکر الصِدّيق رضي الله عنه تر هجرت د مخه دغه عبدالله بن اُريقط د مال او پيسو په مقابل نوکر کړی چي ته به د هجرت په وخت کي زموږ سره ځې او پر داسي لارو به مو مدينې منورې ته بيايې چي چا ته نه وي معلومي، هغه هم دا قبوله کړه.

نو ابوبکر الصِدّيق رضي الله عنه هغه د هجرت دپاره دوه ساتل سوي اوښان دغه عبدالله ته ور تسليم کړي وه او بيا يې خبر ورکړی چي دغه اوښان په فلاني وخت کي غارِ ثور ته راوله، کله چي رسول الله ﷺ په غار کي درې شپې تيري کړې او د دوشنبې شپه سوه چي دا نو د هجرت د اول کال د ربيع الأول د مياشتي اوله شپه ده او د عيسوي يا ميلادي (۶۲۲)کال د سپتمبر د مياشتي (۱۶) تاريخ دی عبدالله بن اُرَيقط د شپې هغه دوه اوښان ور وستل، دلته نو ابوبکر الصِدّيق رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! د دغو دوو اوښانو څخه يو واخله او هغه ښه اوښ يې و ده ﷺ ته ور نژدې کړی، رسول الله ﷺ و فرمايل: يا ابا بکر! اخلم يې مګر په قيمت سره.

په دغه وخت کي د ابوبکر رضي الله عنه لور اسماء رضي الله عنها هم راغله چي د دوی د سفر دپاره يې خواړه ور سره را اخيستي وه او دا يې هېر سوي وه چي د دوی د خوړو د ترلو دپاره يو ټوکر يا يو تناو (رسۍ) ور سره را واخلي اوس چي دا غواړي چي د دغه خوړو د کڅوړي خوله وتړي يا يې د دوی په اوښ پوري وتړي ټوکر يا رسۍ نسته نو يې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library


نطاق دوه ځایه کړی په یوه حصه یې هغه د دوی خواړه وتړل او د نطاق هغه بله حصه یې پر خپله ملا وتړل او له دغې ورځې څخه دې ﷺ ته (ذاتُ النِّطاقَین) ویل کیږي.

اوس نو نِطاق څه شي دی؟ نطاق داسي یو ټوکر دی چي په هغه وختو کي ښځو تر ملا، یا تر سر تړی (لکه یو بَرداره کمر بند) چي دغه نِطاق د هغه وخت د لباس یو جُز وُ، اسماء ﷺ د دغه خوړو د تړلو دپاره و یوه ټوکر ته ضرورت درلودی مګر ټوکر نسته نو یې خپل نِطاق څیري او دوه ځایه کړی یوه حصه یې پرخپله ملا یا سر وتړل او په هغه بله حصه یې دغه خواړه وتړل او د دغې ورځي څخه و دې ﷺ ته (ذاتُ النِطاقَین) ویل کیږي، یعني: (د دوو نطاقو خاونده) او په دغه نامه سره مشهوره سوه.

بیا نو رسول الله ﷺ او ابوبکرالصدّیق ﷺ د مدینې منورې پر طرف رهي سوه، د دوی سره په دغه سفر کي عامر بن فُهَیره هم ملګری وُ او هغه لار ښوونکی عبدالله بن اُرَیقَط هم ور سره دی، اوس نو لار ښوونه د عبدالله بن اُریقط کار دی او په هغه اړه لري، لومړئ چي له غاره رهي سوه د جنوب او یمن پر طرف ولاړل، پسله څه وخته د غرب او د سمندر د غاړي و طرف ته رهي سوه چي ساحِل ورته ویل کیږي ترڅو داسي لاري ته ورسېدل چي پر هغه لار نه څوک تله او نه چا ته ور معلومه وه بیا نو د سمندر یعني: بحر الأحمر د غاړي سره نژدې د شمال پر طرف رهي سوه چي دغه لار مدینې منورې ته تله خو دا داسي لار ده چي نادرًا به څوک پر دغه لار تلی.

دغه د هجرت د لاري تفصیل په کتابو کي راغلی دی خو څرنګه چي له دغو ځایو څخه د ډېرو ځایو نوم ونه اوس اوښتي دي او د عمومي لارو څخه هم ډېر لیري او چپ دي نو د هغو ځایو د نومو تر یادولو تېرېږم او د لاري لوی واقعات به سره بیان کړو.

**لومړئ**: امام بخاري د ابوبکرالصدّیق ﷺ څخه روایت کوي چي وایي: په دغه شپه چي موږ رهي سوو دغه ټوله شپه او سبا تر غرمې پوري مو تګ او مزل وکړی کله چي غرمه سوه او لار فارغه سوه هیڅوک پر دغه لار نه تېرېدل په لار کي مو یوه ډېره لویه او اوږده ډبره ولیدل چي سایه یې درلودل او پر دغه ځای لمر نه راتلی نو مو د دغې ډبري سره واړول، ما په خپلو لاسو د رسول الله ﷺ د بیدېدلو دپاره ځای جوړ کړی او پر هغه مي یو فرش آوار کړی او ورته و مي ویل: یا رسولَ الله! ته بیده سه او زه

(c) ketabton.com: The Digital Library


به شا وخوا څار کوم، رسول الله ﷺ پرېوتی او زه څه ګوښه سوم شا وخوا څار کوم که ګورم یو شپانه دی چي پسونه یې د دغې ډبري طرف ته را رهي کړي دي غواړي چي دئ هم دغه سایې ته استراحت وکړي، زه ورغلم او ورته و مي ویل: ته څوک یې؟ ده د مکې یا مدینې د خلکو څخه یو څوک را یاد کړی ویل: د هغه مریئ یم، ما ویل: آیا په پسو کي دي شیدې سته؟ ده ویل هو، ما ویل: ما ته یې را لوشې؟ ویل هو، نو یې د لوشلو دپاره یوه مېږ ونیول، ما ویل: اول یې غُلانځه د خاورو، وربښتانو او خیرو څخه پاکه کړه بیا یې وَلوَشه، ده هم د غُلانځې تر پاکولو وروسته یو کټورئ شیدې را ولوشلې، نو رسول الله ﷺ ته ورغلم څرنګه چي هغه بیده ؤ دا مي بنه و نه بلل چي له خوبه یې را ویښ کړم تر هغو مي انتظار ورته وکړی چي دئ ﷺ را ویښ سو، زما سره د رسول الله ﷺ د اوداسه او څښلو دپاره د اوبو یوه مشکوله را سره وه نو مي د دغه مشکولې څخه دغه د شیدو پر لوښي اوبه توی کړې چي څه یخي سوې بیا مي رسول الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! وې څښه، ده ﷺ هم تر هغو وڅښلې چي زه راضي او اوبه سوم، بیا رسول الله ﷺ را ته و ویل: آیا د تلو وخت نه دی؟ ما ویل: هو یا رسولَ الله!. بیا نو له هغه ځایه رهي سوو.

**دوهم**: څرنګه چي ابوبکر الصدیق رضي الله عنه تاجر، ګڼته او مشهوره سړئ ؤ هر چا پېژندی او رسول الله ﷺ کورنئ سړئ ؤ هر چا په رنګ نه پېژندی اوس چي دوی سره ملګري دي نو که به په مخه څوک ورغلی د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه څخه به یې پوښتنه وکړه چي دا څوک دی؟ ده رضي الله عنه به ورته ویل: دا سړئ لار را ښیي، د هغه به دا خیال سو چي دغه د تګ لار ورښیي او د ده مقصد به د دین او خیر لار وه چي ما ته زما د دین او عقیدې لار راښیي.

**دریم**: سُراقه بن مالک په عربو کي مشهوره جنګي فارِس یا پهلوان ؤ کله چي رسول الله ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه له غارِ ثوره را و وتل او د مدینې منورې پر طرف رهي سوه هر چا دا کوښښ کاوه چي دوی پیدا کړي او د قریشو هغه سل اوښه جائزه واخلي.

د دغو خلکو د جملې څخه یو هم سراقه بن مالک ؤ، خو دا قصه به په خپله سُراقه ته پرېږدو چي دئ په خپله قصه کوي او په دغه وخت کي مشرک ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سراقه بن مالک وايي: زه د خپل قوم سره په مجلس کې ناست وم چې يو سړی د دباندي څخه د مکې راغلی مور ناست ؤ دی را ته و دريدی او ويل: يا سراقه! دغه اوس مې د درياب د غاړې سره يوه سياهي وليدل چې فلاني طرف ته رهي وه ګمان کوم چې محمّد او د هغه ملګري دي وي، سراقه وايي: زه پوه سوم چې دغه نفر دوی دي خو د دې دپاره چې هغه د قريشو جائزه يوازې زه واخلم نو مې خبره واړول او سړي ته مې و ويل: دا دوی نه دي بلکه تا فلانئ او فلانئ ليدلي دي چې زموږ په مخ کې رهي سوه.

سراقه وايي: زه په دغه مجلس کې کښېنستم داسي کار او حرکت نه کوم چې څوک را پوه سي، د قوم د مجلس تر آخره ور سره ناست وم نه ولاړېږم، ځکه که ولاړ سم هغه نور پوښتنه کوي چې چيري ځې؟ نو خود خبري او مجلس ور سره کوم، کله چې دوی ولاړ سوه زه هم ډېر ژر کور ته ولاړم خپلي مينځي ته مي و ويل: زما آس وباسه د فلاني غونډۍ تر شا و درېږه او زما انتظار کوه، ما خپله نېزه، غشي او لېندۍ را واخيستل دکور د شا تر دروازې و وتم پټ پټ ورغلم څو آس ته ور ورسېدم، پر آس سپور سوم او پر هغه لار رهي سوم چې هغه سړي ويلي وه، دئ نو پر دغه لار ړېږده.

هلته رسول الله ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه د ملګرو سره رهي دي خو ابوبکر رضي الله عنه څه وخت د رسول الله ﷺ تر شا رهي وي څه موده وروسته بيا تر مخ رهي سي څه وخت وروسته يې بيا راسته طرف ته ځي، څه وخت وروسته يې بيا چپه طرف ته ځي يعني: دې طرف او هغه طرف ته کيږي مګر رسول الله ﷺ رهي دی حتّی شا وخوا هم نه ګوري فقط قرآن مجيد وايي او رهي دی، څه وخت وروسته د رسول الله ﷺ ورته پام سو چې ابوبکر رضي الله عنه هره لحظه يا هرګړئ دې خوا ها خوا ته کيږي، نو يې پوښتنه ځني وکړه چې يا ابا بکر! څه درته پېښه ده چې مخ او وروسته کېږې؟ ابوبکر رضي الله عنه وويل: يا رسولَ الله! يو وار مي په فکر کې را وګرځي چې کمين به يې درته نيولی وي يعني: يو څوک به په مخ کې پټ درته ولاړ وي نو د مخه سم، بيا مي په زړه کې را وګرځي چې د شا له طرفه څوک حمله و نه کړي بيا تر شا سم، بيا وايم څوک د بغل له طرفه حمله و نه کړي نو دي يوه او بل اړخ ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


*نبه متوجه سی دا د رسول الله ﷺ پر ساتنه د صدیق اکبر ؓ حرص ؤ. د ده ﷺ د ساتني په سبب يې پر يوه ځای قرار نه درلودی، لکه پتنګ شا وخوا پر را ګرځېدی. په فارسي کي شاعر وايي:*

یک جان چه متاعیست که سازم به فدایت — اما چه توان کرد که موجود همین است

يعني: يو روح دومره متاع دومره قيمتي شئ نه دی چي تر تا يې قربان کړم، مګر څه وکړم؟ زه دغه يو روح لرم نور شئ را سره نسته.

خو رسول الله ﷺ اطمینان او د زړه ډاډ ورکړی ويل: اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ، الله جل جلاله زموږ سره دی مه ببربږه، د ابوبکر الصدّيق ؓ زړه هم پر آرامه سو خو پسله څه وخته ابوبکر الصديق ؓ وليدل چي ډېر ليري يو سړئ پر آس سپور دی په ډېره چټکي او تيزي سره په دوی پسي را رهي دی، ويل: يا رسولَ الله! هغه سپور سړئ په موږ پسي را رهي دی، رسول الله ﷺ نه ور ته کتل پر خپله لار رهي دی او قرآن مجيد وايي مګر د ابوبکر الصدّيق ؓ فکر په دغه سړي ډېر بند دی، هغه سپور ډېر تېز را رهي دی او وار په وار دوی ته ور نژدې کيږي، ابوبکر ؓ په تشويش او پرېشاني کي دی ځکه هغه سپور سړئ ډېر ور نژدې سو، دومره ور نژدې سو چي له هغه ځايه دوی په نېزه ويشتلای سي نو يې رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! سړئ ډېر را نژدې سو د هغه ځای څخه مو ويشتلای سي، دلته نو رسول الله ﷺ دعاء وکړه او ويل:

« أَللَّهُمَّ اكْفِنَاهُ بِمَا شِئْتَ»

الهي په هر شي او هره طريقه سره چي ستا خوښه وي موږ له ده څخه وساتې.

رسول الله ﷺ د دعاء څخه نه ؤ فارغه سوی چي د سُراقه د آس پښې په مځکه ننوتې، مځکه هم سخته او ډبرينه مځکه ده خو د آس پښې په مځکه ننوتلې او سُراقه له آسه ولوېدی، سُراقه وايي: قسم په الله تر دغه ورځي د مخه هيڅ وخت له آسه نه وم لوېدلی دا اول وار ؤ چي له آسه لوېږم او بيا مځکه سخته او ډبرينه هم ده د آس پښې څنګه په مځکه ننوزي؟ کله چي له آسه ولوېدم د هغه غشو جعبه مي را وايستل چي موږ به فال په اچاوه (*دغه فال اچول د مشرکانو دين او عقيده وه*) وايي د هغو غشو څخه مي يو غشی د فال پر قسم را وايستی چي آيا په دوی پسي ورسم که يا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرر ور و رسوم که یا؟ داسي غشی را و وتی چي زما له مقصده مخالفه لیکنه پرسوې وه، یعني: د دوی د تعقیبولو څخه یې منعه کولم، د فال یا غشي په خوله مي و نه کړه بیا پر آس سپور سوم دومره ور نژدې سوم چي د رسول الله ﷺ قرائت مي اورېدی، رسول الله ﷺ هیڅ نه را ته کتل خو ابوبکر ﷛ زما خوا ته ډېر کوري، دا وار مي بیا د آس د مخ پښې تر ځنګنو په ځمکه ننوتې او زه له آسه ولوېدم، بیا مي په زوره آس را پورته کړی او د آس پښې په ډېر تکلیف له ځمکي را و وتې، کله چي د آس پښې له ځمکي راو وتې د آس د پښو له ځایه یو ځلېدونکي ګرز لکه دود را و وتی او د آسمان خوا ته پورته سو، بیا مي هغه خپل د فال غشي را واېستل د غشو څخه بیا داسي غشی را و وتی چي زما نه ؤ خوښ، اوس نو سُراقه پوه سو چي دوی ساتل سوي دي څوک نه سي ور نژدې کېدلای، سُراقه وایي: نو مي ورناري کړه: أَلأَمَان أَلأمان.

اوس سُراقه امان غواړي حال دا چي دئ د هغه سلو اوښانو انعام اخیستلو دپاره د دوی په وژلو پسي را رهي سوی ؤ، بیا نو رسول الله ﷺ او ملګري یې ودرېدل.

سُراقه وایي: دغه حالات چي ما ولیدل ما ته دا را معلومه سوه چي د رسول الله ﷺ دین به ښکاره او غالبه سي، نو پر آس سپور سوم او ورغلم، رسول الله ﷺ ته مي وویل: ستا قوم پر تا سل اوښه جائزه ایښې ده او په هغو حالاتو مي خبر کړی چي خلکو د ده په باره کي څه فکرونه درلودل او بیا مي ورته وویل: که خوړو او کالیو ته ضرورت لری درته را به یې وړم، دوی شئ نه وغوښتی فقط ویل: زموږ حال در سره وساته یعني: چا ته مه وایه چي موږ چیري یو، ما ویل: دا چه زه ستاسي حال و نه وایم د دغه په مقابل کي څه شي را کوې؟

*نبه متوجه سی: رسول الله ﷺ نه ورته وویل چي د مدینې څخه به او ځکي یا خرما درته را ولېږم او نه یې د کومو پیسو وعده ورسره وکړه بلکه رسول الله ﷺ ورته وویل: څنګه به یې یا سُراقه! چي د کسرٰی وښبي ستا په لاس وي؟*

تاسي ته معلومه ده چي د فارس پاچا ته کسرٰی ویل کېده چي په هغه وخت کي د فارس پاچهي د ځمکي پر مخ تر ټولو لویه پاچهي وه او د دغه کسرٰی به د سرو زرو وښبي په لاس وه، اوس رسول الله ﷺ د سُراقه څخه پوښتنه کوي چي د کسرٰی وښبي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ستا په لاس وي ستا د زړه احساس به څه وي؟ څه حال او څه کیفیت به دي وي؟

سُراقه ته دا خبره عجبه او بې مفهومه معلومه سوه چي دا څه وایي او څنګه خبره ده؟ نو ویل: کسرٰی نو شېروان؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو نو شېروان چي د فارس پاچا دی او د هغه وښي ستا په لاس وي ستا به څه احساس وي؟

اوس نو دغه خبري او موضوع ته څه توجه په کار ده: یو نفر چي له خپله قومه په پټه او په هجرت را وزي او د ده پر سر د ده د قوم له طرفه سل اوښه جائزه اېښوول سوې وي او د ده سر یې په کار وي او دغه اوس د ده سره هیڅوک او هیڅ قوت هم نسته، دغه نفر وایي: چي دئ او د ده دین به د مځکي د پاچهانو پر هغه لوی پاچا کامیابه سي او وښي به یې سُراقه ته ورکوي، دا نه سره لګیږي، عقل یې نه قبلوي، دا عجبه ده! دغه اوس په خپله د ده سر د خلکو په کار دی او د ده سره هیڅ قوت او طاقت هم نسته او دئ بیا وعده ورکوي چي مسلمانان به د فارس پاچهي اشغال کړي او د کسرٰی، هغه کسرٰی چي په مځکه کي تر ټولو لوی پاچا دی د هغه وښي به په غنیمت واخلي او دا هم پسله سلو او دوو سوو کلو څخه نه پېښیږي بلکه ستا په وخت کي به پېښ سي یا سُراقه! اوس نو سُراقه ورته وایي:

یا محمّد! ﷺ ما ته د امان یوه ورقه را ولیکه زه به اوس په تا څوک نه خبروم او ته به د امان ورقه را ولیکې که کوم وخت زما و تا ته ضرورت پیدا سو ته به امان را کوې، رسول الله ﷺ و ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه ته و ویل: سُراقه ته د امان عهد ور ولیکه، ابوبکر رضی الله عنه هم داسي لیک ورکړی چي لیکلي یې وه:

دغه سُراقه د مسلمانانو څخه په امان دی، یعني: هیڅ وخت ضرر نه ور رسوي په دې شرط چي دئ به د رسول الله ﷺ د هجرت خبر چا ته نه وایي.

څوک وایي دغه نوشته عامر بن فُهیره رضی الله عنه وکړه څوک وایي ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه ولیکل، سُراقه هم هغه نوشته ورسره واخیستل او رهي سو، واقعاً یې دغه حال هیچا ته و نه وایه، حتّی نور داسي خلک هم په مخه ورغله چي په رسول الله ﷺ پسي ګرځیدل خو سُراقه به ورته ویل: د دې منطقې معلومات ما وکړه دلته څوک نسته، سبحان الله! د ورځي په شروع کي دئ پسي ګرځېدی او د ورځي په آخر کي یې دئ

چوکیدار او ساتونکی سو، نور خلک هم د هغې لاري د تعقیبولو څخه منعه کوي.

تقریباً اته کاله وروسته د حنین په غزاء کي سُراقه بن مالک د مسلمانانو له طرفه بندي ونیول سو، ده دغه لیک او نوشته په هغه ورځ ښکاره کړه، کله چي مسلمانانو په جنګ کي بندي ونیوی ده وویل: زما سره ستاسي د نبي له طرفه د امان لیک را سره دی، هغو ویل: عجبه ده کومه ده هغه نوشته کومه ده؟ ده هم هغه نوشته ورته را وایستل، صحابهٔ کرامو و رسول الله ﷺ ته راوستی، رسول الله ﷺ و فرمایل: «یومُ بِرٍّ وَ وَفَاء» یعني: هو د وفا او نېکۍ ورځ ده ایله یې کړی هغو هم پرېښاوه، رشتیا هم دا پر هغه وعده وفاء وه چي ډېره موده مخ کي یې ور سره کړې وه، ځکه د حنین غزاء تر هجرت اته کاله وروسته او د مکې مکرمې تر فتحه کولو څو ورځي وروسته پېښه سوه او سُراقه په هغه ورځ د دغه لیک په واسطه خلاص سو.

کله چي بیا د حضرتِ عمرِ فاروق رضي الله عنه د خلافت په وختو کي د فارس ښارونه یو په بل پسي نیول کېدل فارسیانو شکست وخوړی او کسرٰی وتښتېدی، مسلمانانو د کسرٰی خزانې، زر او جواهرات په غنیمت واخیستل، ټول جواهرات و امیر المؤمنین عمر فاروق رضي الله عنه ته را وړل سوه، د دغو جواهراتو په جمله کي د کسرٰی وښي هم راوړل سوي وه، دلته نو عمر رضي الله عنه امر وکړی چي خلک دي را ټول سي، خلک را ټول سوه بیا یې سُراقه بن مالک ته چي مسلمان سوی ؤ ور بږغ کړه او دغه د کسرٰی وښي یې د سُراقه په لاسو ور واغوستل او ویل: لاسونه دي لوړ ونیسه چي خلک یې وویني او د خلکو په منځ کي تېر سه، د کسرٰی وښي د سُراقه په لاس دي او لاسونه یې لوړ نیولي دي د خلکو په منځ کي تېرېږي، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ورته و ویل: خلکو ته و وایه چي د هجرت په ورځ رسول الله ﷺ څه درته و ویل؟ اوس نو سُراقه لاسونه لوړ نیولي دي د کسرٰی وښي شرنګوي او وایي: زموږ نبي ﷺ د هجرت په ورځ په داسي حال کي چي د قوم له طرفه په ده پسي خلک ګرځېدل او دئ د بیري او خوف په حالت کي ؤ ما ته دغه زېری راکړی:

(کَیفَ أنتَ یَا سُرَاقَه وَفِی یَدَیْکَ سِوَارَیْ کِسرٰی)

یعني: څه حال به دي وي یا سُراقه! چي د کسرٰی وښي دي په لاس وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو هغه د رسول الله ﷺ وینا او پیش ګویي پسله لږو کلو ښخه ښکاره او پیښه سوه، صَادِقُ الْمَصدُوق ﷺ مُخبرِ صادق دی.

**څلورم:** رسول الله ﷺ او ملګري یې په آرام زړه د مدینې منورې پر طرف رهي دي د قریشو له شره خلاص او فارغه دي مګر پر هغه معروفه او مشهوره لار نه بلکه بله نوې او نا معلومه لار ده او مدینې منورې ته نژدې سوه خو په لار کي پر یوه خېمه ورغله چي دا خېمه د اُمِ مَعَبَد خېمه وه، ام معبد چي یوه سخي، زړه وره او فصیحه ښځه وه د خپلي خېمې سره به ناسته وه هر مسافر چي به پر دغه لار تېرېدی دې به اوبه او خواړه ورکول، اوس رسول الله ﷺ او ابوبکر ؓ پر دغه خېمه ورغله.

کله چي رسول الله ﷺ او ملګري یې دغي خېمې ته ور ورسېدل د ښځي مېړه هم نه ؤ موجود یوازي یوه ښځه په دبنت کي د خیمې سره ناسته ده، ځکه دغه امِ معبد د کوچي عربو ښځه وه، نو ابوبکر ؓ د ښځي ښځه پوښتنه وکړه چي د خوړلو دپاره یو شئ در سره سته؟ ځکه د دوی خواړه هم خلاص سوي وه او دوی پر داسي لار تله چي هلته نه کلي وه او نه کورونه او نه بل څوک پر دغه لار تله.

نو ځکه یې دغي ښځي ته و ویل: ستا سره د خوړلو یو شئ سته چي په قیمت یې درڅخه واخلو؟

ښځي و ویل: که زما سره د خوړلو دپاره شئ وای تاسي به د هغه غوښتني ته نه وای اړ سوي، یعني: بېله غوښتني او طلبه ما درکاوه موږ سخیان یو دې ته ضرورت نسته چي مېلمه یې په خوله وغواړي مګر والله د خورک هیڅ شئ را سره نسته.

خو هلته د خېمې سره یوه وچه او ډنګره، ضعیفه او زړه مېږ ولاړه وه رسول الله ﷺ ورته و ویل: یا ام معبد! دغه مېږ څه شي ده؟

ښځي ویل: دا یوه مېږ ده چي ضعف او ډنګرتیا د رمې څخه پاته کړې ده.

رسول الله ﷺ و فرمایل: شیدې نه لري؟

ښځي ویل: دا تر دې ډېره ضعیفه ده چي شیدې دي وکړي.

رسول الله ﷺ و فرمایل: اجازه را کوې چي دغه مېږ وَلوَشَم؟

ښځه په حیرت کي سوه چي دا څه وایي؟ وچه او ډنګره مېږ ده دئ وایي:

(c) Ketabton.com: The Digital Library


زه يې ولوشم؟ ښځې ويل: که شيدې پکښې سته وې لوشه.
رسول الله ﷺ په خپل مبارک لاس د ميږې غلانځه مسحه کړه او بسم الله يې و ويل د ميږې له غلانځې څخه شيدې را توی سوې، ښځې ته يې و ويل: يو لوښی راکړه، هغې هم دومره لوښی ورته را وړی چې د يوې لويې ډلې بسېدی، رسول الله ﷺ هم دغه مېږ تر هغو پوري لَوَشل چې دغه لوښی په شيدو ډک سو، اول يې اُم معبد ته شيدې ورکړې هغې تر مړېدلو او اوبه کېدلو پوري وچښلې بيا د رسول الله ﷺ ملګرو وچښلې او بيا رسول الله ﷺ وچښلې، دوهم واريې بيا مېږ ولوشل او د اُم معبد ټول هغه لوښي يې د شيدو ورډک کړه چې دې درلودل ، دا ورته ګوري او په تعجب کې ده ځکه هغه مېږ چې د دې سره وه دا په خبره ده چې هغه وچه، ضعيفه او ډنګره ده او اوس يې دومره شيدې وکړې چې دا په خپله په حيرت کې پاته ده.
خير رسول الله ﷺ او ملګری يې ابوبکر الصدّيق ؓ ځني رهي سوه، لږ وخت وروسته ابو معبد يعني: د ښځې ميړه په داسي حال کې چې وچې او ډنګري ميږې يې را رهي کړي وې خېمې ته راغلی، وې ليده چې د کور ټول لوښي په شيدو ډک دي په تعجب کې سو، ويل: دا شيدې چيري وې؟ ميږې وچې دي او په کور کې هم د لَوَشلو حيوان نسته، ښځې و ويل: دلته يو مبارک سړئ تېرېدی دغه ټولي شيدې يې د دغې وچې او ډنګري ميږې څخه ولوشلې دا د هغه مبارک سړي برکت دی، ابومعبد و ويل: دغه سړئ والله هغه د قريشو صاحب او ملګری بولم چې مقصد يې رسول الله ﷺ ؤ او ويل: ته يې د چهرې او قيافې بيان را ته وکړه يا اُمِ معبد!
دغه د اُم معبد قصه ټولو مؤرخينو، د تاريخ علماوو او پوهانو بيان کړې ده او د دې سبب چې ټول مؤرخين دغه قصه بيانوي دا دی: چې ام معبد يوه هوښياره، پوهه، ذکي او ډېره فصيحه ښځه وه، په ژبه کې يې ډېر فصاحت او بلاغت ؤ، د سيرت په ټولو کتابو کې او په ټولو هغو احاديثو کې چې د رسول الله ﷺ د قيافې وصف پکښې بيانيږي هيچا د رسول الله ﷺ د قيافې داسي دقيق او فصيح وصف نه دی بيان کړی لکه څرنګه چې دغه ام معبد بيان کړی دی، سره د دې چې ام معبد بېله دغه يوه واره بيا رسول الله ﷺ نه دی ليدلی، هغه صحابۀ کرام چې د رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library


اللهﷺ سره يې کلونه تېر کړي دي هغو د رسول اللهﷺ د قيافې دغسې صفت نه کړی دی او نه يې کولای سوای لکه ام معبد چې کړی دی، نو له دې جهته علماء کرام د رسول اللهﷺ د قيافې په وصف کې هغه اساسي مرجع د ام معبد حديث بولي، که څوک د رسول اللهﷺ د قيافې وصف او بيان غواړي د ام معبد تر حديث بل دقيق او واضح حديث نه سي پيدا کولای، دايې په داسي فصيحه او بليغه طريقه سره صفت کوي لکه اوريدونکی چې رسول اللهﷺ ته ګوري او هغهﷺ يې مخ ته وي نو له دې جهته ټولو مؤرخينو د رسول اللهﷺ د قيافې په باره کې د ام معبد دغه قول ساتلی دی ځکه چې ډېر فصيح دی او ډېر اهميت لري.

اوس به د اُم معبد هغه بيان چې د رسول اللهﷺ په باره کې يې کړی دی درته را نقل کړم او بيا به يې پښتو ترجمه درته بيان سي، کله چې د ام معبد خاوند د دې ښځه پوښتنه وکړه چې د دغه مبارک سړي شکل او قيافه څنګه وه؟ دې ورته وويل:

« رَأيتُ رَجُلاً ظَاهِرَ الوَضَاءَة، اَبْلَجَ الوَجْه، حَسَنُ الخلقِ لَمْ تَعبْهُ ثُجْلَةٌ، وَلَم تُزْرِ بِه صُعْلَةٌ، وَسِيمٌ قَسِيمٌ، فِي عَينَيه دَعَجٌ، وَفِي اَشفَارِه وَطَفٌ، وَ فِي صَوتِه صَهَلٌ، وَ فِي عُنُقِه سَطَعٌ، وَ فِي لِحيَتِه كَثَاثَةٌ، اَزَجٌّ أقرَنٌ، إنْ صَمَتَ فَعَلَيه الوقَارُ، وَان تَكَلَّمَ سَمَا وَعَلاَهُ البَهَاءُ، اَجمَلُ النَّاسِ وَاَبْهَاهُ مِن بَعِيد، وَاَحلاهُ وَ اَحسَنُهُ مِن قَرِيب، حُلوُ الْمُنطق، فَصْلٌ لاَنزَرٌ وَلاَهَذَرٌ، كَاَنَّ مُنطقَهُ خَرَزَاتُ نَظمٍ يَتَحَدَرنَ، رَبعَةٌ لاَ يَأسَ مِن طُولٍ، وَلاَ تَقتَحِمُهُ عَينٌ مِن قَصرٍ، غُصنٌ بَينَ غُصنَينِ، فَهُوَ أنظَرُ الثَلاَثَة مَنظَراً، وَ أحسَنُهُم قَدراً، لَهُ رُفَقَاءُ يَحفُونَ بِه، ان قَالَ أنصتُوا لِقَولِه، وَ ان اَمَرَ تَبَادَرُوا لِاَمرِه، مَحشُودٌ مَحفُودٌ، لاَ عَابِسٌ وَ لاَ مُفَنَّدٌ».

هغه د عربي خوند او فصاحت زه د پښتو په الفاظو کې نه سم پيدا کولای چې په هغه خوږ والي سره يې درته ترجمه کړم، خو بيا به هم دغه د اُم معبد فصيح او بليغ بيان په خپله ناقصه ژبه د پښتنو ورونو د پوهېدلو دپاره په پښتو سره ترجمه او بيان کړم.

اُم معبد وايي: داسي يو سړئ مي وليدی چې نُور پر ښکاره وُ، روښانه مخ يې وُ، ښه اخلاق، يا ښه خلقت يې وُ، د چاغښت عيب نه پر ويل کېدی (يعني خېټور نه وُ) او سر يې کوچنئ نه وُ، ښايسته او نوراني وُ، سترګي يې توري وې او باڼو ګان يې اوږده وه، په آواز کي يې ښايست وُ او په غاړه کي يې اوږد والی وُ، ږيره يې ګڼه وه، اوږدې،

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړې او سره منتي ورځې يې وې، چې چپ به ؤ هيبت او دبدبه يې درلودل. که به يې خبرې کولې هوښياري او له محبته ډکې وې، د ليرې تر ټولو خلکو ښه ايسېدی او له نژدې تر ټولو ښايسته او عزتمن ؤ. خبرې يې خوږې وې، سره جلا جلا وې، نه ډيرې وې نه لږ (*يعني نه يې ډيرې خبرې کولې چې پرچا وغميږي او نه دومره لږ وې چې څوک په پوه نه سي، هره خبره يې جلا او د فهم وړ وه*) خبرې يې لکه پېول سوي ملغلري يوه په بله پسې را تويېدې. چارشانه ؤ په جګوالي کې يې کمي نه وه او نه په سترګو کې ګردئ معلومېدی (*يعني: نه جګ ؤ نه ګردئ*) د دوو ښاخو يا ګلدستو په منځ کې يو ښاخ يا ګل دسته وه او په درو سروکې ده ته ډېر کتل کېده (*د دې خبرې څخه يې مقصد دئ ﷺ او د ده ملګري ابوبکر او عامر بن فُهيره دي، يعني: دوی درې لکه د وُني درې ښاخه يا د ګلانو درې ګېډۍ داسې وه، خو سترګې له ده څخه نه اړول کېدې*) په قدر او عزت تر نورو بهتر ؤ، ملګري يې درلودل چې پر ده مهربانه وه، چې ده به خبرې کولې د ده خبرو ته به چپ وه (يعني: غوږ به يې ورته نيولی ؤ) او که به يې يو کار ور و فرمايه د هغه په عملي کولو کې يې چابکي کول، ملګرو يې اطاعت او فرمانبرداري کول، ورين تندئ يې ؤ او په خبرو کې يې عبث او بېهوده خبرې نه وې.

دا د رسول الله ﷺ د قيافې هغه بيان ؤ چې ام معبد خپل مېړه يا خاوند ته د رسول الله ﷺ علامې ويلې، نو ابو معبد د ښځې مېړه و ويل: والله دا د قريشو هغه صاحب او ملګری دی چې موږ يې په مکه کې خبرې اورېدلي دي او ما دا قصد کړی دی که مې په وسه پوره سوه چې د ده ملګری سم، يعني: که موقع برابره سوه ملګرتيا به يې وکړم. دا د رسول الله ﷺ د هجرت دلارې هغه واقعه وه چې د ام معبد سره يې وليدل.

په دغه وخت کې چې رسول الله ﷺ د اُم معبد خېمې ته ورغلی ؤ هلته په مکه مکرمه کې په لوړ آواز سره ځيني بيتونه ويل کېده چې خلکو اورېدل او د بيتو ويونکی نه ليدل کېدی چې هغه بيتونه داسې وه:

جزى اللهُ ربُّ النّاسِ خيرَ جزائه　　رفيقينِ حلا خيمتى ام معبد
هما نزلا بالهدٰى واهتدت به　　وأفلح من أمسٰى رفيق محمّد

(c) ketabton.com: The Digital Library



فيـا لِقُصى مـا زوى الله عنكـم — بـه من فعـال لا تجـازي وسـؤدد
ليهن بني كعب مكـان فتاتهـم؟ — ومقعـدها للـمؤمنين بمرصـد
سلوا اختكم عـن شاتـها وإنائـها — فإنكم لو تسألوا الشاة تـشهد
دعاهـا بـشاةٍ حائـلٍ فتحلبـت — عليـه صـريحاً ضـرة الـشاة مزيـد
فغادرهـا رهنـاً لـديها لحالـب — يرددهـا فـي مـصدر ثم مـورد

اسماء رضي الله عنها وايي: کله چي رسول الله ﷺ د غارِ ثور څخه ولاړی موږ ته دا نه وه معلومه چي دئ ﷺ چیري او کومي خوا ته ولاړی تر څو چي د پېرانانو څخه یو نفر د مکي مکرمې د کښتي خوا څخه راغلی او دغه ذکر سوي بیتونه یې ویل خلکو دغه آواز اورېدی او په پسې وه خو څوک یې نه لیدل، ترڅو چي دغه د آواز خاوند د مکې مکرمې تر لوړي خوا ووتی، نو اسماء رضي الله عنها وايي: کله چي موږ دغه بیتونه واورېدل موږ پوه سوو چي رسول الله ﷺ د مدینې منورې پر طرف رهي دی.

**پنځم:** کله چي رسول الله ﷺ د مدینې منورې طرف ته رهي ؤ اُبوبُریده چي د خپل قوم مشر او رئیس ؤ په مخه ورغلی چي هغه هم د دې دپاره را وتلی ؤ چي رسول الله ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه ونیسي او د قریشو هغه اعلان سوې لویه جائزه واخلي، خو کله چي د رسول الله ﷺ سره مخامخ سو او خبري یې ور سره وکړې پر هغه ځای د خپل قوم د اویا نفرو سره مسلمان سو او بیا یې خپله لنګوټه د نېزې پر سر د بیرغ پر قِسم وتړل او دا اعلان یې کاوه چي د أمن او سلامتیا هغه پاچا راغلی چي دنیا به په عدل او انصاف ډکه کړي.

**شپږم:** د مدینې منورې په لار کي رسول الله ﷺ ته زبیر رضي الله عنه په مخه ورغلی چي د مسلمان تجارو په قافله کي له شامه څخه را تلی او زبیر رضي الله عنه و رسول الله ﷺ او ابوبکر الصدِّیق رضي الله عنه ته یوه یوه جوړه سپین کالي ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مدينې منورې ته
# د رسول الله ﷺ رسېدل

کله چې رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کې د خلکو د سترګو څخه پټ او غائب سو مدينې منورې ته خبر ورغلی چې رسول الله ﷺ هجرت را کړی دی مګر څرنګه چې دئ ﷺ درې ورځې په غارِ ثور کې کښېنستی نو و ځنډېدی، بل دا چې رسول الله ﷺ پر هغه معلومه لار نه دی راوتلی بلکه پر بله نوې نا معلومه او اوږده لار رهي سوی دی، دلته نو د مدينې منورې مسلمانانو ته هيڅ حال نه معلومېدی چې دئ ﷺ به کله او څه وخت را ورسېږي، نو د مدينې منورې مسلمانانو څه کول؟

مصعَب بن عمير رضي الله عنه چې په مدينه منوره کې ؤ نو به هره ورځ د ټولو مسلمانانو سره د رسول الله ﷺ مخې ته د استقبال او ښه راغلي دپاره راوتی، دا د دې دپاره چې د رسول الله ﷺ مقام او درجه، عزت او احترام د مدينې منورې نورو خلکو ته هم ور ښکاره کړي چې رسول الله ﷺ د مسلمانانو په زړو کې څومره ځای لري، همدارنګه په دغه را وتلو کې سياسي لويه معنٰی هم پرته وه، هغه دا چې رسول الله ﷺ دلته راځي يوازې دا نه چې نبي او رسول الله دی بلکه علاوه پر دغه د مدينې منورې حاکم او آمر هم دی او دغه ټول مسلمانان د ده ﷺ ملګري، تابع او انصار دي، نو دا چې مسلمانان هره ورځ را وتل، دغو را وتلو د مدينې منورې پر کفارو هم روحي تاثير وکړی، هغه به هم راوتل حتّٰی يهود به ور سره را وتل ځکه د رسول الله ﷺ را تګ د ټولې مدينې منورې دپاره يوه لويه واقعه وه، نو هره ورځ به د سهار تر لمانځه وروسته د مدينې منورې خلک راوتل او په هغه لار کې به د رسول الله ﷺ د را تګ او استقبال په انتظار ناست وه چې له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته ورتله، ټولو خلکو به تر ماپښينه د مکې مکرمې لارې ته کتل، کله چې به ماپښين سو لمر او ګرمي به ډېر شديد سوه خلک به بېرته خپلو کورو ته ولاړل، خو د دوشنبې په ورځ چې د بعثت د (۱۴) کال د ربيعُ الأول د مياشتې اتمه ورځ وه او دغه کال د هجرت اول کال بلل کيږي او د (٦٢٢) عيسوي يا ميلادي کال د سپټمبر د مياشتې (۲۳) تاريخ ؤ، رسول الله ﷺ مدينې منورې ته ورسېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


*دا دې درته معلومه وي چې د رسول الله ﷺ هجرت د محرم د میاشتې په اوله نه ؤ، خو دا چه د محرم اوله ورځ د هجري کال شروع بلل کیږي دا د کال د شروع په سبب او د میاشتو د منزلو په حساب د کال اوله ورځ ده، مګر هجرت او قباء ته رسېدل د ربیع الأول یا لومړی خور پر اتمه وه او بیا له هغه ځایه مدینې منورې ته او د مسجد نبوي منطقې ته رسېدل د ربیع الأول پر (۱۲) تاریخ وه.*

اوس نو رسول الله ﷺ او ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه په داسې وخت کې مدینې منورې ته ورسېدل چې د مدینې منورې خلک د سهار څخه را وتلي وه او د رسول الله ﷺ انتظار یې کړی ؤ څرنګه چې پر دوی ماپښین سو او ګرمي شدیده سوه او رسول الله ﷺ هم نه راغلی نو دوی بیرته د خپلو کورو طرف ته رهي سوه، کله چې دوی کورو ته ورسېدل د انتظار په ځای کې بل څوک نه وه پاته بېله یوه یهودي چې د یوې وُنې په سر کې لوړ ناست ؤ، دا ځکه چې د رسول الله ﷺ د را تګ په انتظار کې ځیني خلک لوړ په وُنو کې کښېنستل ځکه د لوړې څخه به یې ډېره لیرې مسافه لیدلای سوای، نو دغه یهودي چې یوازې پاته ؤ او لوړ ناست ؤ د لیرې یې رسول الله ﷺ او د هغه اصحاب ولیدل چې را رهي دي، د یهودي تر اختیار و وتل او په لوړ آوازیې ناري کړه: یَا بَنی قِیله! یعني: اې د قیله اولادې!

قِیل د أوس او خزرج د قبیلو یو پخوانئ نیکه ؤ او یهودو دغو قبیلو ته أوس او خزرج نه ویل، بلکه بني قیله یې ورته ویل، نو یهودي ناري کړه: یَا بَنی قِیله! هذَا جِدُکم قَد جَاءَ، جِد بخت او نصیب ته ویل کیږي، یعني: اې بني قیله! دغه دی ستاسي بخت او نصیب راغلی.

د رسول الله ﷺ د را رسېدلو خبر ډېر ژر په مدینه منوره کې نشر او وپاشل سو، هغه مسلمانان چې کورو ته رسېدلي وه په تلوارېې اسلحې را واخیستې او په لوړ آواز د الله اکبر نارې شروع سوې، د تکبیر نارې په بني عَمرو بني عوف کې واورېدل سوې هلته هم مسلمانانو د رسول الله ﷺ په را تګ د خوشالی تکبیرونه شروع کړل او په تلوار د رسول الله ﷺ د لیدلو او استقبال دپاره را ووتل، انصار او مسلمانان پر رسول الله ﷺ را ګرځېدلي دي په شوق او محبت سره ورته ګوري، سترې مسې او بنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلئ ورته وايي. په دغه وخت کي رسول الله ﷺ د وحيو په نورکي پټ سو او د الله جل جلاله دا قول نازل سو چي فرمايي:

﴿فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ﴾
[التحريم: ۴]

يعني: بېشکه هم هغه الله د دغه نبي مرسته کوونکی دی او همدارنګه يې جبريل او صالحه مومنان مرسته کوونکي دي او تر دغه وروسته يې ملائکې مرسته کوونکي دي.

عُروه بن زبير رضي الله عنه وايي: کله چي مسلمانان د رسول الله ﷺ سره يو ځای سوه نو رسول الله ﷺ دوی رهي کړه ترڅو چي په بني عَمرو بن عوف کي يې واړول او دا د ربيع الأول په مياشت کي د دوشنبې ورځ وه، د مدينې منورې ډېرو مسلمانانو رسول الله ﷺ تر دغه د مخه نه ؤ ليدلی او په رنګ يې نه پېژندی او اوس دوی دوه نفره دي نه ورمعلومېږي چي کوم يو رسول الله ﷺ دی او کوم يو ابوبکر رضي الله عنه دی او دوی دوه په عمر هم سره نژدې وه ځکه ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه تر رسول الله ﷺ په عمر دوه کاله کشر ؤ نو فرق يې نه کېدی او هريوه به پوښتنه کول چي کوم يو رسول الله دی؟

ترڅو چي د لمر د ګرمۍ شدت زيات سو ابوبکر رضي الله عنه ولاړ سو او پر رسول الله ﷺ يې سايه جوړه کړه، دلته نو ټول خلک پوه سوه چي دا رسول الله ﷺ دی او هغه بل ملګری يې ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه دی.

د مدينې منورې ټول خلک د رسول الله ﷺ د استقبال او ښه راغلي دپاره راغلي دي، دا داسي د خوشالۍ ورځ وه چي د مدينې منورې په ټول تاريخ کي داسي خوشاله ورځ پر مدينه منوره نه وه راغلې.

اوس نو مسلمانان پر رسول الله ﷺ را ټول دي او هريو وايي: زما سره دي ولاړ سي مګر رسول الله ﷺ په قباء کي د کُلثوم بن الهَدم په کورکي استوګنه اختيار کړه او رسول الله ﷺ په قباء کي څلور ورځي تيري کړې، دوشنبې، سه شنبې، چارشنبې او پنجشنبې او په دغو ورځو کي يې د قباء مسجد جوړ کړی، د قباء مسجد هغه لومړنئ مسجد دی چي په اسلام کي جوړ سوی دی.

رسول الله ﷺ چي اول کار په مدينه منوره کي کړی دی هغه د مسجد جوړول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او په دغه کار سره موږ ته په اسلام کي د مسجد اهميت را معلوميږي، مسجد يوازي د لمانځه ځاى نه دى بلکه مسجد په اسلام کي د هر شي او هرکار مرکز دى، مسجد د تعليم او تبليغ ځاى دى، مسجد د جرګو او مشورو مرکز دى، مسجد د جنګ او جهاد دپاره د لښکر د مسلح کولو او جوړولو مرکز دى، مسجد د مهمو او لويو غونډو مرکز دى، مسجد د غريبانو او بې کوره مسلمانانو د استوګني ځاى دى، مسجد د مسلمانانو د ټولونو او جرګو دپاره عام او رئيسي مرکز دى، نو ځکه د هغه د جوړولو څخه چاره نه وه او د دغه مقصد او هدف دپاره رسول الله ﷺ تر هرڅه د مخه مسجد جوړ کړى (مسجد قُباء) او په هغه کي يې لمونځ آداء کړى، الله جل جلاله د دغه مسجد په باره کي فرمايي:

﴿ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا۟ ۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾ ﴾. [التوبه: ۱۰۸]

ژباړه: خامخا هغه د قباء مسجد چي تاداو او اساس يې د اولي ورځي څخه پر تقوى او پرهېزګاري اېښوول سوى دى، د دې ډېر وړ او لائق دى چي په هغه کي د لمانځه دپاره ودرېږې، په دغه مسجد کي داسي خلک دي چي دوى دا خوښ لري چي خپل ځانونه د ګنهو او نجاستو څخه پاک وساتي او الله جل جلاله بنه ځان پاکوونکي خوښ لري.

دغه مسجد ساده او د خټو مسجد ؤ د دغه مسجد د جوړولو په کار کي رسول الله ﷺ او ټولو اصحابِ کرامو ګډون او اشتراک وکړى، دغه مسجد په لږ وخت کي جوړ سو، رسول الله ﷺ په قباء کي څه لږ ورځي پاته سو، دوشنبه، سه شنبه، چارشنبه او پنجشنبه دالته ؤ خلک به ورته راتله او د رسول الله ﷺ سره به يې پېژندل، رسول الله ﷺ د خلکو د ژوند او استوګني کارونه ترتيبول او برابرول، خاصتًا د هغو مهاجرو مسلمانانو ژوند يې سمبالاوه چي نه يې کور درلودى نه ځاى، کله چي په قباء کي د رسول الله ﷺ پنځمه ورځ سوه چي دا د جمعې ورځ وه نو يې د بني نجار قبيلې ته چي د رسول الله ﷺ ماما ګان وه (*ځکه د عبدالمطلب مور د بني نجار د قبيلې څخه وه*) حال ولېږى، هغه هم د اسلحې او تورو سره راغله، رسول الله ﷺ د الله جل جلاله په امر پرخپله اوښه په داسي حال کي سپور سو چي ابوبکر الصديق رضي الله عنه يې تر شا ور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنجوغه ؤ او د مدينې منورې پر طرف رهي سو، په لارکي د جمعې د لمانځه وخت سو.

د مدينې منورې خلکو تر دغه د مخه د جمعې لمونځ آداء کاوه او اول هغه څوک چي د جمعې لمونځ يې کړی دی هغه اسعد بن زُراره الأنصاري ﷺ دی او دغه د جمعې لمونځ اسعد بن زراره ﷺ په خپل کور کي آداء کړی او دغه د جمعې اول لمانځه ته څلويښت نفره حاضر سوي وه، نو له دي جهته ځيني علماء وايي چي د جمعې د لمانځه د شرطو څخه يو دا دی چي نفر به تر څلويښتو کم يا لږ نه وي مګر دا صحي دليل نه دی ځکه که فرضًا په دغه اوله جمعه کي د خلکو تعداد يو څلويښت نفره وای نو بيا به يو څلويښت نفره شرط وای، خو دا داسي دليل نه دی چي خلک دي دغه عدد ته مجبوره کړي او هلته يو بل صحي حديث هم نسته چي هغه دي د دغه عدد تاکيد وکړي، مقصد د جمعې په هغه اول لمانځه کي چي په مدينه منوره کي د رسول الله ﷺ تر هجرت د مخه د اسعد بن زُراره ﷺ په کورکي سوی ؤ څلويښت نفره سړه يو ځای سوي وه او اوس چي رسول الله ﷺ د قباء څخه د مدينې منورې پر طرف رهي دی او د سالم بن عوف د کورو منطقې ته ورسېدی د جمعې د لمانځه وخت سو، رسول الله ﷺ د جمعې د لمانځه د آداء کولو امر وکړی او د جمعې لمونځ يې د سالم بن عوف په کلي يا کورو کي آداء کړی، د جمعې په دغه لمانځه کي سلو نفرو ګډون وکړی او د لمانځه خطبه په خپله رسول الله ﷺ و ويل نو دغه خطبه هغه لومړنۍ خطبه ده چي رسول الله ﷺ يې د اسلام د شروع څخه وايي يعني: په اسلام کي د رسول الله ﷺ اوله خطبه دغه خطبه ده چي د بني سالم بن عوف په کلي کي يې و ويل چي دغه ځای د قباء او مدينې منورې په منځ کي دی او دغه مسجد ته مسجد جمعه ويل کيږي، د جمعې تر لمانځه وروسته رسول الله ﷺ مدينې منورې ته داخل سو او له دغې ورځي څخه د يثرِب د ښار نوم په مدينةُ الرسول ﷺ سره بدل سو خو نن ورځ د اختصار پر ډول مدينه منوره ورته ويل کيږي او دغه ورځ د مدينې منورې په تاريخ کي يوه روښانه او ځلانده ورځ وه، په دغه ورځ چي رسول الله ﷺ مدينې منورې ته داخلېدی د مدينې منورې کورونه او کوڅې د خوشالۍ په خندا او ړوړ ډکي وې، د انصارو نجونو او هلکانو د رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library


اللهﷺ په استقبال کي دغه ترانه په ګډه او لوړ آواز سره ویل:

طَلَعَ البَدرُ عَلَینَا مِن ثَنِیَاتِ الوَدَاع وَجَبَ الشُکرُ عَلَینَا مَا دَعَا لِلّه دَاع

اَیُهَا المَبعُوثُ فِینَا جِئتَ بِالاَمرِ المُطَاع جِئتَ شَرَّفتَ المَدِینَه مَرحبًا یَا خَیرَ دَاع

دا هغه مشهوره بیتونه دي چي د مدینې منورې مسلمانانو د رسول اللهﷺ په استقبال کي ویل او ټول مسلمانان ډیر خوشاله وه، اوس چي رسول اللهﷺ مدینې منورې ته داخل سو پر هر کلي چي راسي د کلي مشرانو به د رسول اللهﷺ اوښه ونیول او غوښتل به یې چي رسول اللهﷺ د دوی سره پاته سي او ویل به یې: یا رسولَ الله! زموږ سره پاته سه زموږ سره عَدد، عُده، او مناعه سته او موږ دي ساتو، عدد سته یعني: نفر لرو، عُده سته یعني: اسلحه لرو او مناعه سته یعني: ستا د ساتني دپاره قوت او طاقت لرو.

انصار که څه هم د ډیر مال او شتمنۍ خاوندان نه وه خو هر یوه دا تمنّا او آرزو درلو دل چي رسول اللهﷺ د هغه په کورکي و اوسیږي، نو رسول اللهﷺ چي به د انصارو پر هر کلي او کور ورغلی هغو به د اوښي قیضه یا مهار ونیوی او ویل به یې: یا رسولَ الله! عدد، عُدې او مناعې ته راځه، مګر رسول اللهﷺ به ورته ویل: اوښه ایله کړی دا په خپله د مقصد ځای ته ځي، دا د اللهﷻ له طرفه امر کړل سوې ده چي هغه ځای ته ولاړه سي کوم چي زما د استوګني دپاره هلته د اللهﷻ إراده سوې ده، خلکو به هم اوښه پرېښوول، بیا چي به پر بل کلي راغلی بیا به خلکو اوښه ونیول او رسول اللهﷺ به ورته ویل: پرې یې ږدی دا امر کړه سوې ده، خلکو به هم پرېښوول، واقعًا یې هم اوښه خپل اختیار ته پرې ایښي وه نه یې تګ ته مجبوره کول او نه یې را ګرځول هري خوا ته چي اوښه تله د دې خوښه وه، پر هر کلي چي به راغله خلکو به غوښته چي اوښه ونیسي مګر رسول اللهﷺ به ورته ویل: پرې یې ږدی.

اوښه رهي وه تر څو چي د دغه اوسني مسجد نبوي ځای ته ورسېدل چي هغه وخت یوه خرابه مځکه وه او دغه مځکه د دوو یتیمانو وه، اوښه دلته پر دغه مځکه په خپله إراده چوکه سوه، رسول اللهﷺ پر سپور دی نه ځني کښته کیږي، اوښه بیا ولاړه سوه څه مخ ته ولاړه بیرته یې شا ته وکتل او را وګرځېدل بیرته راغله پر هغه

اولني ځای بيا چوکه سوه، پر دغه مبارک او مشرف ځای چې الله جل جلاله دغه ځای مبارک کړی او مشرف کړی ؤ اوښه چوکه سوه، دلته نو رسول الله ﷺ د اوښې څخه کښته سو دغه منطقه د رسول الله ﷺ د ماما ګانو د بني نجار د کورو سره وه او دا د الله جل جلاله توفيق ؤ چې اوښې ته يې ورکړی، ځکه د رسول الله ﷺ هم دا خوښه وه چې د خپلو ماما ګانو سره واړوي او د ده ﷺ په نزول او همسايتوب دوی مکرم کړي.

خلک پر رسول الله ﷺ را ټول دي او خبري ور سره کوي هر يو وايي چې زموږ کور ته را سره راځه، خو ابو ايوب انصاري رضي الله عنه په تلوار راغلی او د رسول الله ﷺ سامان يې له اوښې څخه واخيستی او خپل کور ته يې ننه ايستی، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې زما سامان چيري دی؟ ابو ايوب رضي الله عنه وويل: هغه ما خپل کور ته يو وړی، رسول الله ﷺ وفرمايل «المرءُ معَ رَحلِه» يعني: سړئ د خپل سامان سره وي.

نو د رسول الله ﷺ د استوګني شرف د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه په نصيب سو او اسعد بن زُراره رضي الله عنه راغلی د رسول الله ﷺ او ښه يې خپل کور ته بوتله چې بيا نو د اوښې روزنه او پالنه د هغه سره وه.

رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې دغه مځکه کومه چې اوښه پر چوکه سوه د چا ده؟ ورته و ويل سوه: د دوو يتيمانو ده، ويل: د يتيمانو وصی او متصرف څوک دی؟ د يتيمانو وصي راغلی، رسول الله ﷺ و فرمايل: دغه مځکه درڅخه را نيسم، هغه و ويل: يا رسولَ الله! دا مځکه يې بې قيمته ستا، رسول الله ﷺ وفرمايل: يا په قيمت يې غواړم مقصد مځکه يې څني رانيول او د مځکي قيمت حضرت ابوبکر الصدِّيق رضي الله عنه ورکړی، بيا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې پر دغه مځکه مسجد جوړ کړی.

ورونو او خوندو! دغه اوسنئ مسجد چې تاسي يې په مدينه منوره کي وينی او لمنځونه پکښې آداء کوی، د رسول الله ﷺ هغه اولنئ مسجد پر دغه مځکه جوړ سو، دغه مسجد پسله بيتُ اللهِ الحرام څخه د مځکي پر مخ هغه تر ټولو مبارک او هغه تر ټولو مشرف مسجد دی چې پر دغه مځکه جوړ سوی دی او دغه مځکه د دغه مسجد دپاره د الله جل جلاله خوښه او اختيار ؤ، ځکه اوښه يې خپل اختيار ته پرېښوول او اوښه په خپل اختيار او د الله جل جلاله په إراده پر دغه ځای چوکه سوه، يا (پرېوتل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پر دغه ځای د مسجد نبوي د جوړېدلو سر او سبب هم دغه دی چې دغه ځای الله جل جلاله د دغه مسجد دپاره اختیار کړی دی نه بل چا، اوس نو په دغه پاک او مبارک ځای کې د مسجد نبوي د جوړولو کار شروع سو، لکه څرنګه چې مخ کې مو درته وویل: رسول اللهﷺ د ابو ایوبِ انصاري په کور کې سکونت او استوګنه اختیار کړه، د ابو ایوبؓ کور دوه منزله ؤ او رسول اللهﷺ ته یې هغه لوړه کوټه ورکړه، ځکه ابوایوبؓ ویل: یا رسولَ الله! دا نه ده مناسبه چې زه تر تا لوړ و اوسېږم، مګر رسول اللهﷺ ورته و ویل: یا ابا ایوب! ما ته خلک راځي نو ما او خلکو ته په ختلو او کښته کېدلو کې تکلیف دی، زه به کښته واوسېږم او ته لوړ، ابو ایوب هم قبوله کړه.

هلته د مسجد په جوړولو شروع وسوه، ټول اصحابِ کرام کار کوي بېله څنډه او د اولي ورځې څخه د مسجد په کار شروع وسوه، ځکه الله جل جلاله موږ د دې دپاره پیدا کړي او را استولي یو چې ځمکه آباده او ودانه کړو، الله جل جلاله فرمایي:

﴿هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا﴾ [هود:٦١]

یعني: همدغه الله تاسي د ځمکي څخه پیدا کړي یاست او په دغه ځمکه کې د إعمار او آبادېدلو طلب درڅخه کوي.

الله جل جلاله زموږ څخه د خیر او برکت په کارو د ځمکي تعمیر او آبادول غواړي، نو ځکه د مسجد په جوړولو ژر او فوري شروع وسوه او د مسجد د جوړولو په وخت کې به صحابهٔ کرامو د ستړیا د لیرې کولو او فکر مشغولولو دپاره دغه بیتونه ویل:

اَللّٰهم لا عیشَ الا عیشَ الآخره ۞ فاغفر للأنصارِ والمهاجره

رسول اللهﷺ هم د اصحاب کرامو سره کارکاوه، نو دهﷺ به هم دغه بیت د دوی سره وایه مګر خوله به یې خطا وتل، داسي به یې وایه:

اَللّٰهم لا عیشَ الا عیشَ الآخره ۞ فاغفر للمهاجرین والأنصار

دا ولې؟ ځکه رسول اللهﷺ شعر نه وایه او الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَمَا عَلَّمْنَاهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْءَانٌ مُّبِينٌ ۝٦٩﴾. [یس، ٦٩]

یعني: محمّدﷺ ته موږ نه شعر ور ښوولی دی او نه ده لره شعر ویل ښایي.

نو کله چي به رسول اللهﷺ غوښته چي شعر و وايي خطاوتی به، خپل شعر نه بلکه د بل چا په شعرکي به هم خطاوتی، سره د دې چي رسول اللهﷺ تر هر چا فصیح ؤ مګر شعر يې پرخوله نه ورتلی حتّی هغه شعرونه چي د دهﷺ په وخت کي په خلکو کي مشهوره وه او خلکو به ويل دهﷺ نه ويل او که به يې وغوښتل چي شعر و وايي پکښي خطا به سو، د شعر له وزنه به واوښت نثر یا خبره به ځني جوړه سوه، نو دغه د مسجد په کارکي چي به مسلمانانو شعر وايه دهﷺ به هم ور سره وايه، مګر ژبه به يې د شعر له طرفه د دعاء طرف ته ولاړه.

رسول اللهﷺ د مسجد په جوړولو کي په خپله هم کار کاوه، خښتي او ختې يې ور سره پورته کولې، نو خود صحابۀ کرامو په کار کولو کي ډېر کوښښ کاوه، ځکه دا عیب ؤ چي رسول اللهﷺ کار کوي او دوی ناست وي، نو خود په کار کولو کي به يې ډېر شدت هم کاوه، خلکو به يوه يوه خښته وړل او پورته کول مګر عمّار بن یاسرؓ به دوې دوې خښتي وړلې، څومره کار چي خلکو کاوه عمّارؓ هغومره دوه واره کاوه او رسول اللهﷺ په دغه ورځ ده ته د خير دعاء وکړه او په عين حال کي يې يوه عجبه پېش ګويي هم ورته وکړه، رسول اللهﷺ و فرمایل: افسوس پر عمّار چي ياغي ډله به يې وژني، په دغه ورځ چي د هجرت اول کال ؤ رسول اللهﷺ هغه خبر او واقعه بيان کړه چي پسله پنځه دیرش کاله څخه پېښه سوه، د صِفين په جنګ کي عمّارؓ د معاويهؓ د لښکرو له طرفه شهيد و وژل سو.

اوس نو د ورځي کار وسو او د شپې رسول اللهﷺ د استراحت دپاره د ابو ايوب الأنصاري ؓ کور ته ورغلی ځکه د دهﷺ د استوګني ځای هغه ؤ، ابو ايوب او د ده ښځه چي لوړ اوسېدل وايي: زموږ سره دا ډېره را سره وه: که زموږ څخه يو کړپ او درب وسي رسول اللهﷺ په تکلیف کيږي، نو د دغه لوړي خوني په دېواله پوري مښتي په ډېر احتیاط بیدېدلو، ځکه نه غواړو چي موږ دي پر رسول اللهﷺ لوړ یو او نه غواړو چي رسول اللهﷺ ته د دهﷺ د احترام، عزت او محبت په سبب په کړپي او دربي سره تکلیف ورکړو او نه غواړو چي د وحيو او د دهﷺ په منځ کي فاصل یا جلا کوونکي سو. خو په يوه شپه کي موږ ته يو تکلیف پېښ سو هغه دا چي: موږ د اوبو چښلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپاره یو منګۍ درلودی او هغه منګۍ مات سو، د منګي اوبه ټوله پر ځمکه توی سوې.

تاسي ته معلومه ده چي پخواني کورونه داسي نه وه لکه د نن ورځي پاخه کورونه، بلکه د لرګو او خاشو کورونه وه، د دې امکان ؤ چي دغه اوبه کښته وڅڅیږي او رسول اللهﷺ ته تکلیف ورکړي، نو ابوایوبؓ وایي: موږ بېله یوه تلتکه یا بړستنه بل شئ نه درلودی ژر مو دغه اوبه په دغه تلتک وچي کړې او ټوله شپه ویښ پاته سوو، کله چي سهار سو رسول اللهﷺ ته مو و ویل: یا رسولَ الله! دا چه ته کښته یې او موږ لوړ یو دا نه ده صحي او د تیري شپې قصه مو هم ورته بیان کړه او ورته ومو ویل: چي زموږ غوښتنه دا ده چي ته لوړ ولاړ سې او موږ کښته و اوسیږو، رسول اللهﷺ هم دغه د دوی غوښتنه قبوله کړه او هغه لوړ منزل ته وختی.

ابو ایوبؓ وایي: موږ به د شپې خواړه تیار کړه او رسول اللهﷺ ته به مو ور وړل بیا چي به مو هغه پاته خواړه ځني راوړل نو ما او اُمِ ایوب به د برکت دپاره هغه د دهﷺ د لاس وهلو له ځایه څخه خواړه خوړل، یوه شپه موږ و رسول اللهﷺ ته داسي خواړه ور ولېږل چي په هغه کي مو پیاز او اوږه ګډ کړي وه، بیا چي مو د خوړو لوښئ ځني راوړی د دهﷺ د لاس وهلو اثر مو نه پکښي ولیدی نو ورغلم او ورته ومي ویل: یا رسولَ الله! زما مور او پلار دي تر تا قربان وي خواړه دي بیرته را ولېږل او موږ په هغه کي ستا د لاس وهلو یعني: خوړلو اثر و نه لیدی او زموږ دا عادت ؤ چي ستا څخه به پاته خواړه راغله ما او اُم ایوب به د برکت دپاره ستا د لاس وهلو له ځایه خواړه خوړل، رسول اللهﷺ و فرمایل: ما په دغو خوړو کي د اوږي او پیاز بوی حِس کړی او زه داسي یو سړئ یم چي د خپل رب سره مناجات کوم مګر تاسي یې وخوری، ابوایوبؓ وایي: موږ هغه خواړه وخوړل او تر دغه ورځي وروسته مو بیا هیڅکله د رسول اللهﷺ په خوړو کي د پیاز او اوږي څخه کوم شئ نه ګډاوه، یا نه وراچاوه.

دا مي هیر سوه چي درته و وایم: کله چي علي بن أبي طالبؓ د رسول اللهﷺ د امانتو د رسولو دپاره په مکه مکرمه کي پاته سو بیا نو څه وخت مدینې منورې ته راغلی؟ علي بن أبي طالبؓ د رسول اللهﷺ تر هجرت وروسته نوري درې ورځي په مکه مکرمه کي پاته سو تر څو چي هغه د رسول اللهﷺ سره پراته

امانتونه يې تول د هغو و مالکانو ته ورسول، د مکې مکرمې په ښار کې به ګرځېدی او
ويل به يې: د هر چا امانت چې د رسول الله ﷺ سره پروت دی را دې سي وادې
يې خلي، پسله هغه چې د ټولو خلکو امانتونه يې ور تسليم کړه بيا به يې ويل: د چا
امانت خو به نه وي پاته؟ قريشو ورته ويل: يا والله وَفَيتَ وكَفَيتَ.

علي بن أبي طالب ﷺ پسله درو ورځو پر پښو او پياده د مدينې منورې طرف ته
رهي سو او په قُباء کې د رسول الله ﷺ سره يو ځای او ملګری سو.

څه موده وروسته رسول الله ﷺ هغه زيد بن الحارثه ﷺ چې په پخوا کې زيد
بن محمّد ورته ويل کېده او د رسول الله ﷺ د اهل بيت څخه بلل کېدی (ځکه د
ده ﷺ په کور کې لوی سوی ؤ) مکې مکرمې ته ولېږی چې د رسول الله ﷺ اهل او
کورنۍ را ولي، زيد بن الحارثه ﷺ هم مکې مکرمې ته ولاړی او د رسول الله ﷺ
اهل بيت کرام يې را وستل چې په هغو کې د رسول الله ﷺ زوجه سوده ﷺ او
دوې لوڼې: فاطمه او ام کُلثوم ﷺ، اسامه بن زيد او ام ايمن وه، د رسول الله ﷺ
يوه لور زينب ﷺ چې د أبي العاص ښځه وه په مکه مکرمه کې پاته سوه، هغې ته د
راوتلو موقع نه سوه برابره ترڅو چې بيا يې د بدر تر غزاء وروسته هجرت وکړی،
همدارنګه د دوی سره عبدالله بن أبي بکر د حضرت ابوبکر ﷺ کورنۍ هم را رهي
کړل چې په هغو کې اسماء او عائشه ﷺ د ابوبکرالصديق ﷺ لوڼې هم وې او
وروسته به د اسماء ﷺ قصه درته بيان سي چې د هغې د را تګ سره څه پېښه سوه.

په هغه وختو کې مدينې مُنورې يوه تبه درلودل چې هر څوک به د اول وار دپاره
هلته ورغلی هغه تبې به پر را تلې او حتّی ډېر کسان يې وژل، نو حضرت عائشه ﷺ
وايي: کله چې ابو بکر او بلال ﷺ مدينې منورې ته ولاړل دغه تبې ورته پيښې سوې
او زه چې به د دوی پوښتني ته ورغلم دوی به د سختي تبې په وخت کې د پردېسۍ او
نا اميدۍ شعرونه ويل، نو وايي: زه رسول الله ﷺ ته ورغلم او په دغه حال مې خبر
کړی، بيا نو رسول الله ﷺ دعاء وکړه او ويل: الٰهي مدينه موږ ته داسي محبوبه
وګرځوې لکه د مکې سره چې زموږ محبت ؤ، يا يې تر هغه هم زيات د محبت او
صحت ځای وګرځوې، په کاسه او پيمانه کې يې برکت واچوې او دغه تبه ځني نقل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړې په جُحفه کې یې وکړځوې (جحفه) جدې ته نژدې د یوه ځای نوم دی.

تردغه ځایه پورې د رسول الله ﷺ د ژوند د یوې مرحلې بیان پای ته ورسېدی، چې دغه ژوند او دغې مرحلې ته مکې دور ویل کیږي او دغه د مکې مکرمې د دعوت مودې (۱۳) کاله دوام وکړی.

دلته د رسول الله ﷺ د هجرت د واقعاتو د بنه پوهېدلو دپاره څه تبصرې ته ضرورت وینم، خوتر تبصرې د مخه به د هجرت په مقصد او مفهوم ځان پوه او خبر کړو.

د هجرت په باره کې موږ هغه وخت هم څه خبرې وکړې چې مسلمانانو د اول وار دپاره حبشې ته هجرت وکړی او اوس به نور هم د هجرت په باره کې په مختصر ډول سره دومره و وایم: چې الله جل جلاله دین او عقیده تر هر شي مقدس کړي دي، کله چې د دین احکام او عقیده د زوال او خرابۍ سره مخامخ وي، یا دین او عقیده د یوه چا له طرفه تهدیدیږي بیا نو مځکه او وطن، مال او جاه کوم ارزښت او قیمت نه لري، نو ځکه الله جل جلاله پر مسلمانانو دا فرض کړې ده چې د دین او عقیدې د ساتلو په لار کې دغه ټول شیان قرباني کړي، لکه صحابهٔ کرامو چې مال او دارایي، صُنعت او تجارت، کسب او کار، ملک او کورونه پرېښوول په تش او خالي لاس په یوه پټو کې مدینې منورې ته ولاړل.

په کون کې د الله جل جلاله د قانون تقاضاء دا ده چې معنوي قوت، هغه قوت چې په سالمه عقیده او په حق دین کې پروت دی، دغه قوت، د وطن ګټې او نور مادي قوتونه ټول ساتلای سي، په هره اندازه سره چې یو امت په اسلامي اخلاقو پورې لاس ونیسي او د صحي الٰهي دین متابعت وکړي په هغه اندازه سره یې مادي قوت چې عبارت د وطن، مال او عزت څخه دی زیاتیږي، بقاء او دوام پیدا کوي او په کومه اندازه سره چې یو ملت د اخلاقو له طرفه فاسد وي، په عقیده کې مضطرب او بې پروا وي، هغه مادي قوت چې دئ نن ورځ د هغه په غرور وطنونه تسخیروي، دغه قوت یې مخ پر زوال او ړنګېدلو نژدې کیږي چې د دغې خبرې د تصدیق دپاره لوی شاهد د تېر تاریخ واقعات دي.

هو ته به نن ورځ په نړۍ کې داسې یو ملت وینې چې د اخلاقو له اړخه بد اخلاقه وي، د عقیدې له طرفه به هم له حقه څخه لیرې وي، خو بیا به هم دغه بد اخلاقه او

(c) kitabton.com: The Digital Library


بې دینه ملت د قوت او مادیاتو له طرفه پر خپلو پښو ولاړ وي، نور ملتونه او وطنونه به د ځان تابع ګرځوي، خو په حقیقت او واقعیت کې دغه ملت په ډېره تیزي سره د خرابۍ او بربادۍ پرطرف رهي دی خو دا چې زه او ته د هغه ملت خرابي او بربادي نه وینو یا یې نه سو لیدلای د هغه سبب د تاریخ د اوږد والي په مقابل کې د انسان د عمر لږوالی او کوتاهي ده، د دغه ملت د خرابۍ پر طرف تګ او رفتار د تاریخ وینبي سترګې لیدلای سي، نه د غافل او کم عُمره انسان بیدې سترګې، که تاسي غواړی چې د منحرفو او مغروره دولتو نړېدل و وینی! په تاریخ ځان خبر کړی.

نو ځکه الله جل جلاله د دین او عقیدې د ساتلو په لار کې که ضرورت پیښ سي د مال او وطن، آرام ژوند او جایداد قرباني کول، شریعت او قانون ګرځولی دی، دغه قرباني د مسلمانانو دپاره بیرته د مال او وطن، آرام ژوند او عزت د را ګرځولو ضامنه ده، که څه هم په ښکاره او اوله مرحله کې دوی دغه ټول شیان له لاسه ورکړي.

د دغه حقیقت د اثبات دپاره د مکې مکرمې څخه و مدینې منورې ته د رسول الله ﷺ هجرت لوی او کافي دلیل دی چې دغه هجرت په ظاهره او ښکاره سره د وطن پرېښوول او ضایع کول وه، مالونه او کورونه یې پرېښوول، زموږ په اصطلاح په یوه پټه کې له مکې مکرمې څخه و وتل خو په حقیقت کې دغه هجرت د وطن ساتل وه ځکه تر هجرت لږ کلونه وروسته! مسلمانان د هغه دین او عقیدې په برکت چې دوی د هغه د ساتلو دپاره وطن پرې ایښی ؤ، بیرته هغه وطن ته فاتح او کامیابه ورغله.

هغه کسان چې مسلمانانو ته یې آزارونه ورکول او د رسول الله ﷺ د وژلو إراده یې کړې وه اوس په هیڅ بد نیت هم نه سي ورته کتلای او نه سي ور نژدې کېدلای.

## د رسول الله ﷺ
## د هجرت مهمي او ښکاره نقطې

**لومړۍ نقطه:** هغه ښکاره شئ چې موږ ته د رسول الله ﷺ له هجرته را معلومېږي هغه دا چې رسول الله ﷺ د ټولو اصحابِ کرامو د جملې څخه حضرت ابوبکر الصدِّیق رضی الله عنه اختیار کړی چې په دغه سفر کې د رسول الله ﷺ ملګری وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو علماء کرام د دې شخه د حضرت ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه سره د رسول الله ﷺ د محبت اندازه را باسي چې دئ رضي الله عنه تر ټولو اصحابو و رسول الله ﷺ ته ور نژدې ؤ او پسله رسول الله ﷺ شخه هم دئ رضي الله عنه د خلافت وړ او لائق ؤ، چې د دغه مفهوم تائید او تاکید بیا په وروسته کې نور ډیر شیان کوي.

مثلاً رسول الله ﷺ په خپله ناروغي کې د لمنځو د امامت دپاره ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه خلیفه وګرځاوه او پر دې یې ډیر تاکید کاوه چې د خلکو د لمانځه امامت به بېله ده رضي الله عنه شخه بل څوک نه کوي.

همدارنګه په صحي حدیث شریف کې رسول الله ﷺ فرمايي: که ما د ځان دپاره خلیل پیدا کولای نو ابوبکر به مې د ځان خلیل ګرځولی وای [رواه: مسلم]

نو واقعاً هم الله جل جلاله په خپل احسان سره ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د دغهٔ امتیاز وړ او لائق ګرځولی ؤ، ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کې د صدق او اخلاص یوه نمونه او مثال ؤ، بلکه خپل روح او مال یې د رسول الله ﷺ په ملګرتیا او د هغه دپاره قربانول، مورِ ولیدل چې رسول الله ﷺ ته یې و ویل: تر هغو به ته غار ته نه ننوزې ترڅو چې زه ورنه سم، دا د دې دپاره: که په دغه غار کې کوم ځیرونکی حیوان، یا مار او لړم، یا یو بل داسي د خطر شئ چې انسان ته ضرر رسوي موجود وي، دئ رضي الله عنه به خپل ځان د رسول الله ﷺ قرباني کړي او مورِ ولیدل چې څنګه یې خپل مال، خپل زوی، خپله لور، خپل مولٰی او شپانه د رسول الله ﷺ د خدمت دپاره دغه د هجرت په تکلیفي او خطرناکه سفر کې منظم کړي او ګمارلي وه.

قسم په الله دغه محبت او قرباني پر هر هغه مسلمان چې پر الله او رسول الله ایمان لري واجب او لازم دي، رسول الله ﷺ په هغه حدیث شریف کې چې امام بخاري او امام مسلم یې روایتوي فرمايي:

« لايؤمنُ أحدُكم حتّى أكونَ أحَبَّ إليه مِن وَلَدِه وَ والده وَالنَّاسِ أجْمَعِين »

یعني: ستاسي څخه یوه هم تر هغو کامل ایمان نه دی را وړی، یا کامل مومن نه دی ترڅو چې زه و هغه ته ترخپل اولاد، خپل مور او پلار او ټولو خلکو خوښ او محبوب نه سم. مسلمانانو! ښه متوجه سی او خپل ایمانونه مو د عدل په ترازو وتلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


د رسول اللهﷺ سره څومره محبت لري؟

**دوهمه نقطه**: یو مسلمان به د رسول اللهﷺ د هجرت او د حضرت عمرِ فاروقؓ د هجرت په منځ کې مقارنه او موازنه سره کوي او په زړه کې به یې دا پوښتنه ور ګرځي چې حضرت عمرؓ ولې په ښکاره سره بیله بیرې او وارخطایي هجرت وکړی؟ او کفارو ته یې لا دا تحدّي یا ګواښ هم ورکاوه چې زه په هجرت رهي یم د هر چا په زړه کې که یو شئ سته هغه دي را پسې راسي او رسول اللهﷺ په پټه او په ډېر احتیاط سره هجرت وکړی آیا د عمرؓ جُرئت تر رسول اللهﷺ زیات او ډیر ؤ؟

د هغو په جواب کې وایم: حضرت عمرؓ او بل هر مسلمان د رسول اللهﷺ سره فرق لري ځکه د هر چا تصرف د هغه یو شخصي تصرف بلل کیږي، د هغه تصرف د امت مسلمه دپاره نه قانون ګرځول کیږي او نه شریعت، د هغه خوښه ده کومه طریقه او وسائل چې د هغه د قوت، جُرئت، ایمان او حاله سره وړ او مناسب وي کولای سي چې هغه طریقه د خپل ځان دپاره اختیار او عملي کړي.

مګر رسول اللهﷺ مشرِّع یا د اسلامي قانون جوړوونکی دی یعني: د دهﷺ ټول تصرفات زموږ دپاره دین او شریعت بلل کیږي نو ځکه د دهﷺ ټول اقوال، افعال، صفات او تقریر د شریعت دوهم مصدر بلل کیږي، زموږ د دین او شریعت اول مصدر: قرآن دی، دوهم مصدر: د رسول اللهﷺ افعال او اقوال دي، نو که رسول اللهﷺ داسي هجرت کړی وای لکه حضرت عمرؓ چې وکړی خلکو به داسي ګمان کولای چې د هجرت دپاره دغه هغه واجبه طریقه ده احتیاط او حذر نه دي روا، د بیرې په وخت کې باید څوک پټ نه سي، حال دا چه الله جل جلاله په دې دنیا کې خپل شریعت پر اسبابو قائم کړی دی، که څه هم په حقیقت کې هغه چې زموږ عقیده ده او ایمان پر لرو هغه دا ده: چې اسباب هم د الله جل جلاله په اِراده سره برابریږي او کار کوي، مسبب الاسباب رب عزوجل دی، نو ځکه رسول اللهﷺ ټول هغه احتیاطي طریقې او مادي وسائل استعمال کړل چې بشري عقل په دغسې حالاتو کې د هغه تقاضاء کوي، هیڅ یوه داسي وسیله یې نه پرېښوول چې هغه یې نه کړه استعمال.

عليؓ یې امر کړی چې د دهﷺ په بستر کې پرېوزي او هغه د رسول اللهﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


خاص پټو پر ځان واچوي او بیا یې یو مشرک پسله هغه چې امین یې و بلی د دې دپاره نوکر کړی چې پر یوه داسي نا معلومه لاریې بوزي چې د دښمنانو په زړه کي نه ورګرځي او بیا یې درې ورځي په غار ثور کي په پټه سره تیري کړې او داسي نور احتیاطات یې عملي کړل چې عقل د هغو تقاضاء کول، دا ټوله د دې دپاره چې دا واضحه او ښکاره سي چې پر الله جل جلاله ایمان درلودل د اسبابو د استعمالولو سره ضد او منافي نه دی او د رسول الله ﷺ دغه ټول احتیاطات یا د اسبابو استعمالول د بیري په سبب نه وه او نه دا په خیال او تصور کي ورګرځېدل چې د مدینې منورې تر رسېدلو د مخه دي د مشرکانو له طرفه ونیول سي او د دغه إدعاء د اثبات دپاره زموږ دلیل دا دی: پسله هغه څخه چې ټول مادي اسباب پای ته ورسېدل او مشرکان د هغه غار پر شا وخوا را وګرځېدل چې هلته رسول الله ﷺ او د ده ملګری پټ وه، که یوه له مشرکانو سر ورکښته کړی وای دوی به یې لیدلي وای، دلته نو د ابوبکر رضی الله عنه پر زړه بېره غالبه سوه، البته دا بېره هم د رسول الله ﷺ په سبب وه نه د خپل ځان، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ څه ورته وویل؟ وې فرمایل:

«یا ابا بکرا ما ظنک باثنین الله ثالثهما؟»

یا ابا بکر د هغو دوو په باره کي څه فکر کوې چې دریم یې الله وي؟

که د یو چا اعتماد پر هغو اسبابو او احتیاطاتو وي چې ده برابر کړي دي په دغسي حال کي څه نا څه بېره ورته پیښیږي، نو دا معلومه خبره ده چې دغه ټول احتیاط او د اسبابو استعمالول رسول الله ﷺ د دې دپاره وکړه چې د شریعت او قانون جوړولو وظیفه آداء کړي او پسله دغه احتیاطاتو او اسبابو یې زړه په الله جل جلاله پوري تړلی ؤ او د هغه رب پر ساتنه یې پوره توکل او اعتماد ؤ، خو دغه کارونه یې د دې دپاره وکړل چې مسلمانان په دې پوه سي چې په هر کار کي باید اعتماد پر الله جل جلاله وي مګر هو دغه اعتماد د دې سره ضد او منافي نه دی چې د هغو اسبابو څخه هم کار واخیستل سي کوم چې الله عزوجل په دې کون کي اسباب ګرځولي دي.

یو بل ښکاره او روښانه دلیل چې موږ یې پردغه موضوع وایو د رسول الله ﷺ هغه حالت دی: کله چې سُراقه پسي ور ورسېدی او د ده ﷺ د وژلو إراده یې درلودل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

که واقعاً هم د رسول الله ﷺ سره ښېره ور سره وای او دغه احتیاطات یې د بیرې په سبب سره وای نو اوس به په دغه حال کې چې دښمن پسې ور ورسېدی یو څه ښېره ورته پېښه سوې وای، مګر رسول الله ﷺ د بیرې هیڅ احساس نه کاوه بلکه د قرآن مجید په تلاوت او د خپل رب سره په مناجات مشغوله ؤ ځکه د ده ﷺ دا یقین ؤ چې هغه الله چې دئ ﷺ یې په هجرت سره امر کړی دی هغه یې د دښمنانو او د هغوله شره ساتي.

**درېیمه نقطه**: دا چې رسول الله ﷺ حضرتِ علي ﷺ د دې دپاره په مکه مکرمه کې پرېښاوه چې هغه امانتونه و خپلو خاوندانو ته ورسوي کوم چې د رسول الله ﷺ سره پراته وه دا پر هغه عجیب ضِد او تناقضي حالت دلالت کوي چې مشرکانو د رسول الله ﷺ په باره کې درلودی، په داسي حال کې چې دوی د رسول الله ﷺ تصدیق نه کاوه د درواغو، سحر او لېونتوب تهمتونه یې پر ویل، له بله طرفه دوی پر خپل شا وخوا تر ده ﷺ بل صادق او امین نه سوای پیدا کولای چې خپل امانتونه ورسره کښېږدي، نو یې خپل مالونه او قېمتي شیان ښله رسول الله ﷺ د بل چا سره نه ایښوول چې دا کار پر دې دلالت کوي چې د دوی کفر د شک په سبب نه ؤ چې دوی د رسول الله ﷺ په صداقت او امانت کې شک درلودی، بلکه د دوی انکار او کفر د دوی د تکبّر او حق تر پښو لاندې کولو په سبب ؤ، ځرنګه چې دوی پرخپل ریاست ښېرېدل نو یې د رسول الله ﷺ له متابعته څخه سرکښي کول.

**څلورمه نقطه**: عبدالله بن أبي بکر ﷺ چې د مکې مکرمې او غار په منځ کې تګ او را تګ کاوه په مکه مکرمه کې یې اخبار ټولول او بیا یې رسول الله ﷺ او خپل پلار ته وروړل او خوریې اسماء ﷺ چې د دوی د خوړو یا خوراکي موادو اهتمام یې کاوه او د دغه سفر دپاره یې دوی ته د دوی د ضرورت شیان برابرول، مور ته دا لار ښوونه کوي چې پر هر ځوان مسلمان که نارینه وي که ښځه د الله جلّ جلاله په لارکې د اسلام د اوامرو د تحقّق دپاره او د اسلامي ټولني د جوړولو دپاره دا لازمه او واجب ده چې خپل انتهایي کوښښ وکړي، یوازې دا نه ده کافي چې یو انسان پر خپل ځان سره را ګرځي فقط شخصي او ځاني عبادتونه آداء کوي، بلکه پر هر مسلمان دا لازمه ده چې خپل ټول قوت او طاقت او د خپلې پوهې تخصص د اسلام په لارکې قرباني کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دغه قرباني په هر عصر او زمانه کې د اسلام او مسلمانانو د ژوند دپاره د ځوانانو مزیت او سر لوړی وي، نن ورځ هم باید دغه فخر د ځوانانو په نصیب وي، ځوانان کولای سي چې اسلام او اسلامي ټولنه مخ ته بوزي.

که ته هغو کسانو ته وګورې چې د دعوت او جهاد په وخت کې د رسول الله ﷺ پر شا وخوا ولاړ وه وبه وینې چې اکثریت د هغو خلکو داسې ځوانان وه چې د ځوانۍ اولې مرحلې یې نه وې تیرې سوې، خو دوی خپل ټول قوت او طاقت د اسلام د نصرت دپاره او د اسلامي ټولني د جوړولو دپاره هیڅ نه دی دریغولی، نن ورځ هم زموږ امیدونه په ځوانانو پوري تړلي دي.

**پنځمه نقطه**: هغه واقعه چې سُراقه او د ده آس ته هغه وخت پېښه سوه چې دئ په رسول الله ﷺ پسې ور ورسېدی، موږ باید پوه سو چې دغه واقعه د رسول الله ﷺ د خارق العاده هغو معجزو څخه یوه معجزه ده چې د حدیثو امامانو د هغې پر صحت او را نقلولو اتفاق کړی دی، چې د هغو په مقدمه کې امام بخاري او امام مسلم دي، نو دا معجزه هم د رسول الله ﷺ نورو معجزو ته ور زیاته کړه.

**شپږمه نقطه**: د رسول الله ﷺ د هجرت په قصه کې د نورو معجزو تر څنګ ښکاره او بارزه معجزه هغه معجزه ده چې رسول الله ﷺ له کوره څخه هغه وخت را و وتی چې د مشرکانو ځوانان شا وخوا د ده پر کور را ګرځېدلي وه او د ده ﷺ د وژلو په انتظار وه خو الله جل جلاله د دوی ټولو سترګې په خوب داسې ور وتړلې چې یوه هم و نه لیدی، یوازې دا نه چې نه یې ولیدی بلکه د دوی د دغه مؤامرې او توطئې د مسخره کولو دپاره رسول الله ﷺ د دوی ټولو سرونه په خاورو ور ډک کړل، رسول الله ﷺ د دوی تر منځ په داسې حال کې تېر سو چې د الله جل جلاله دا قول یې تلاوتا وه چې فرمایي:

﴿وَجَعَلْنَا مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٩﴾﴾.

دغه معجزه د هغه وخت او هرې زمانې وکفارو ته د یوه اعلان په مثال سره ده، چې هو تاسې رسول الله ﷺ او د هغه و پیروانو یا متابعینو ته د دین او دعوت په لار کې د څه مو دې دپاره تکلیف او آزار ورکولای سی خو دا دا معنٰی نه لري چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله جل جلاله دوی پرېښوول او هیڅکله بیا دوی نصر او کامیابي نه سي لیدلای، مشرکانو او د دین ټولو دښمنانو ته دا نه ښایي چي دغه د څه مو دې دپاره په خپله کامیابي او د مسلمانانو په وژلو او آزارولو خوشاله سي، ځکه د مسلمانانو ملګری رب عزوجل فرمايي:

﴿أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ٢١٤﴾ [بقره: ۲۱۴]

ببشکه چي د الله جل جلاله نصرت و مسلمانانو ته ډېر نژدې دی او ممکن د دغه نصرت وسائل په هره لحظه کي د الله عزوجل په إراده موجود او آماده سي.

**اوومه نقطه:** دغه د هجرت په قصه کي موږ ولیدل چي د مدینې منورې مسلمانانو که نارینه وه که ښځي، که لویان وه که کوچنیان په څومره شدید محبت او د زړه په اخلاص سره د رسول الله ﷺ استقبال او ښه راغلی وکړی، دوی هره ورځ د خپلو کورو څخه تر مدینې منورې دباندي را وتل او د لمر تر سوځوونکو شعاعو لاندي به د رسول الله ﷺ د را تګ په انتظار تر ماپښینه پوري ولاړ وه، کله چي به ګرمي ډېره زیاته سوه او د ورځي ډېره حصه به تېره سوه نو به خپلو کورو ته ولاړل چي د سبا ورځي د انتظار دپاره آمادګي ونیسي، کله چي بیا رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسېدی د مسلمانانو په زړو کي احساسات او عواطف پر جوش راغله او په ژبه سره یې د ده ﷺ د استقبال او ښه راغلي قصیدې او ترانې ویلې او رسول الله ﷺ هم د دوی د محبت په بدله کي محبت ورکاوه، تر داسي اندازې چي د بني نجار هلکان شا وخوا پر را ګرځېدلي وه او د استقبال یا ښه راغلي ترانې یې ویلې رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا تاسي زما سره محبت لری؟ ما خوښ لری؟ په والله زما زړه ستاسي سره محبت لري.

دغه صحنه او کیفیت موږ ته دا راښیي چي د رسول الله ﷺ محبت یوازي د ده ﷺ په متابعت کي نه دی، بلکه محبت د متابعت اساس او باعث دی، که چیري عاطفه او محبت په زړه کي نه وي د متابعت دپاره شوق نه پیدا کیږي، هغه قوم خطا وتلی دی چي وايي: د رسول الله ﷺ محبت بله معنٰی نه لري بېله متابعت او اقتداء څخه او دوی دا هېره کړې ده چي متابعت بېله قلبي محبت څخه په وجود نه سي را تلای او هغه شئ چي تا و متابعت ته ورکشوي هغه قلبي محبت دی چي احساسات او

(c) ketabton.com: The Digital Library


عواطف دي پر ښور را ولي، نو ځکه رسول الله ﷺ د ایمان اندازه د ده ﷺ په محبت سره ښوولې ده هغه چي فرمایي:

« لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ »

[رواه: البخاري]

ژباړه: یوه ستاسي تر هغو کامل ایمان نه دی راوړی، یا کامل مومن نه دی ترڅو چي زه و هغه ته تر خپل مور او پلار، خپل اولاد او ټولو خلکو خوښ او محبوب نه سم.

**اتمه نقطه:** کله چي رسول الله ﷺ د ابو ایوب انصاري ﷺ په کور کي ؤ موږ ته د هغه محبت څخه چي صُحابهٔ کرامو د رسول الله ﷺ سره درلودی یو بل شکل را ښکاره سو او هغه شئ چي د هغه محبت څخه دلته زموږ مقصد دی هغه د ابو ایوب او د هغه د ښځي هغه تبرک دی: کله چي به د رسول الله ﷺ د خوړلو لوښی د رسول الله ﷺ څخه راوړل سو دوی به د هغه ﷺ د ګوتو په ځایو پسي د تبرّک دپاره ګرځېدل، نو د دې څخه دا معلومه سوه چي د رسول الله ﷺ په آثارو تبرّک کول یو مشروع، جائز او مباح کار دی او رسول الله ﷺ هم هغه تبرُک مقرره کړی دی.

یعني: په هغه خبر سو او رَد یې نه کړی. د هجرت پر قصه به په دغه اندازه تبصره کولو سره کفایت وکړو خو دا دي تاسي ته معلومه وي چي د سیرت النّبي ﷺ پر هره موضوع تاسي دغسي تبصرې کولای سی او احکام ځني را ایستلای سی، سیرت النّبي ﷺ فقط قصې او تاریخ نه دی چي فقط ویل یا اورېدل دي بلکه دا زموږ د پیغمبر او لار ښوونکي ﷺ ژوند او زموږ د شریعت د جوړولو مصدر او مرکز دی، هر څومره چي فکر پکښي کوی او هر څومره چي یې څېړی په هغه اندازه سره مو دیني معلومات پراخه کېږي او پر هغه اندازه احکام ځني را ایستلای سی ځکه د رسول الله ﷺ هر قول او هر فعل زموږ دپاره دیني او تشریعي حکم لري زموږ مسلمانانو د دین او شریعت دپاره، د قناعت او تسلیمېدلو دپاره فقط دغه کافي دي چي و ویل سي: رسول الله ﷺ داسي فرمایلي دي یا رسول الله ﷺ داسي کړي دي دغه زموږ دین او شریعت دی، نو سیرت النبي ﷺ چي هر څومره څېړې پر هغه اندازه احکام ځني را ایستلای سې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


الحمد لله د الله ﷻ په توفیق سره د سرور کائنات ﷺ ژوند د کتاب په لیکلو کي تر دغه ځایه د رسول الله ﷺ د رسالت د اولنیو دیارلسو کلو ژوند چي د مکې مکرمې ژوند یا دوره ورته ویل کیږي بیان کړل سو او اوس د مدینې منورې د ژوند یا دورې په حوادثو او واقعاتو شروع کیږي، په راتلونکي بحث کي به إن شاء الله تعالی د رسول الله ﷺ د مدینې منورې د ژوند حالات په تفصیل سره مطالعه کړی.

و ما توفیقي إلاّ بالله علیه توکلت و إلیه أنیب.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمّد وآله وأصحابه و أهل بیته وسلّم تسلیماً کثیراً.

ممکن د مدینې منورې ژوند او زمانه و درو مرحلو ته تقسیم کړو،

اوله مرحله: دا هغه مرحله ده چي په هغه کي فتنې او مشکلات وه، په دغه مرحله کي د مدینې منورې له داخله مشکلات وه، له خارجه څخه د اسلام د دښمنانو حملې وې، چي دغي اولي مرحلې د حُدیبیې تر صُلحي پوري دوام درلودی او دغه صُلحه د هجرت د شپږم کال د ذوالقعدې په میاشت کي وه.

**دوهمه مرحله:** دا هغه مرحله ده چي د مشرکانو د مشرانو سره د حُدیبیې په صلحه کي د نه تعارض یا جنګ نه کولو فیصله وسوه، چي و دغي مرحلې ته (مرحلةُ الهُدنه) ویل کیږي او دغه مرحله د هجرت د اتم کال د روژې په میاشت کي د مکې مکرمې په فتحه سره پای ته ورسېدل او په دغه مرحله کي د شا وخوا پاچهان و اسلام ته دعوت کړل سوه.

**درېیمه مرحله:** هغه مرحله ده چي په ډلو ډلو خلک د الله ﷻ دین او اسلام ته داخلېدل، قبائل او اقوام په دسته جمعي او د ډلو پر شکل مدینې منورې ته د اسلام را وړلو دپاره ورتله او په اسلام مشرفه کېدل، چي دغي مرحلې د رسول الله ﷺ تر رحلته پوري دوام وکړی چي دغه رحلت د هجرت په یوولسم کال او د ربیع الأول په میاشت کي پیښ سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مدينې منورې د ژوند اوله مرحله

دا هغه مرحله ده چې د هجرت په شروع کې د رسول اللهﷺ او مسلمانانو دپاره نوی ژوند شروع کيږي، د هجرت څخه يوازي دا مقصد نه ؤ چې مسلمانان د تکاليفو او آزارو، مشکلاتو او پسخندو څخه ځان خلاص کړي، بلکه هجرت د رسول اللهﷺ او مسلمانانو دپاره دا موقع هم برابره کړه چې د يوه أمن او امان په ښارکې يوه نوې اسلامي ټولنه جوړه کړي، نو ځکه پر هر قدرت لرونکي مسلمان دا فرض وه چې د دغې نوي ټولنې او نوي وطن په آبادولو او جوړولو کې حصه واخلي او خپل ټول وَس او توان د دغه مقصد د حاصلولو دپاره وښندي او په دې کې هيڅ شک نسته چې رسول اللهﷺ د دغې ټولنې د جوړولو دپاره امام او قائد، لارښوونکی او هادي دی او بېله منازعې او اختلافه د دغه کارو مشري د رسول اللهﷺ وه.

هغه قومونه چې په مدينه منوره کې اوسېدل او د رسول اللهﷺ ورسره معامله وه پر درې قسمه وه چې د هر قوم حال نسبت د هغه بل قوم حال ته ډېر واضح فرق او مختلف شکل درلودی او رسول اللهﷺ د هر قوم يا هرې ډلې دپاره خاص مسائل درلودل چې د هغه بل قوم او ډلې د مسائلو څخه مختلف او بل شان وه، چې دغه درې قسمه ډلې يا قومونه په داسې ډول سره وه:

**لومړئ**: د رسول اللهﷺ هغه غوره او مکرم، پاک او صالح اصحاب کرامرضي الله عنهم.

**دوهم**: هغه مشرکان چې تراوسه يې ايمان نه ؤ راوړی او دوی د مدينې منورې د اصلي قبيلو غړي او افراد وه، بلکه ځينې يې مشران هم وه.

**دريېم**: يهود، چې يهود بيا په خپله درې قبيلې وه.

**اولاً**: هغه مسائل چې رسول اللهﷺ د خپلو اصحابو په سبب د هغو سره مواجه او مخامخ ؤ: هغه دا چې د مدينې منورې د ژوند کيفيت په تمامه معنٰی د هغه حال او کيفيت څخه مخالف ؤ چې مهاجرو مسلمانانو په مکه مکرمه کې درلودی، هغه وخت چې دغه اوسني مهاجر مسلمانان په خپل ښار او مکه مکرمه کې وه که څه هم دوی يوې کلمې سره را جمعه کول او د ټولو هدف يو ؤ مګر دوی په مختلفو کورو کې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاشلي وه، مظلومه وه، ذليله وه، شړل سوي وه، دوی د هيڅ شي قدرت نه درلودی، امر او حکم د دوی د دين د دښمنانو په لاس کي ؤ، نو دغو مسلمانانو هلته نه سوای کولای چي يوه نوې اسلامي ټولنه په هغو مادو او شرائطو سره جوړه کړي چي هره انساني ټولنه ضرورت ورته لري، نو ځکه موږ وينو کوم قرآني آياتونه يا سورتونه چي په مکه مکرمه کي نازل سوي دي فقط د اسلام مبادي يا هغه اولني شيان بيانوي او داسي اسلامي اوامر يا قوانين ښکنبې دي چي هر فرد يې په انفرادي ډول سره عملي کولای سي، په هغو قرآني اوامرو کي خلک ښو او د خير وکارو ته هڅول کيږي، مسلمانان په ښو اخلاقو امر کيږي، د رذائلو او کښتو کارو څخه منعه کيږي.

مګر په مدينه منوره کي د اولي ورځي څخه د مسلمانانو حکم د دوی په خپل لاس کي ؤ او هيڅا پردوی حکم او تسلط نه درلودی نو اوس دوی ته دا موقع برابره سوه چي د تمدن او آبادی په کارو مشغوله سي، د معيشت او اقتصاد، د حکومت او سياست په کارو مشغوله سي، جنګ او صلحي ته متوجه سي، د حلال او حرام، عبادت او اخلاق او داسي نور ديني او دنيوي مسائل په پراخه اندازه زده او عملي کړي، دوی ته اوس موقع مساعده سوه چي يوه نوې اسلامي ټولنه جوړه کړي، داسي ټولنه چي د ژوند په ټولو امورو او مرحلو کي د جاهليت د ټولني سره فرق ولري بلکه په ټول عالَمِ انساني کي تر هري ټولني ښه او بهتره وي او دغه د دوی ټولنه، د دوی اخلاق او معاملات د اسلامي دعوت دپاره يو ښه مثال او نمونه وګرځي، هغه ټولنه جوړه کړي چي دوی د هغې ټولني د جوړولو دپاره لس کاله په مکه مکرمه کي رنګارنګ عذابونه او تکليفونه ګاللي او زغملي وه.

مګر دا دي هم درته معلومه وي چي د دغسي سالمي ټولني جوړول نه په يوه ورځ کي امکان لري نه په مياشت او کال کي، بلکه د دغسي ټولني د جوړولو دپاره ډېر اوږد وخت په کار دی چي په هغه اوږده موده کي شريعت او قانون جوړ سي او په تدريج سره د هغه شريعت په عملي کولو خلک تربيه کړل سي، چي د دغه شريعت جوړوونکی الله جل جلاله ؤ، چلوونکی، جاري کوونکی او ښوونکی يې رسول الله ﷺ ؤ.

او صَحابهٔ کرامو رضي الله عنهم اجمعين هم دغه شريعت او قانون په پراخه زړو سره قبلاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه احکام یې پرخپلو ځانو عملي کول، د دغو مومنانو په باره کي الله جل جلاله فرمایي:

﴿إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ۝٢﴾. [الأنفال:٢]

یعني: حقیقي مومنان هغه کسان دي: کله چي پر دوی الٰهي آیاتونه وویل سي نو د دوی ایمان په زیات سي او پر خپل رب توکل کوي.

که څه هم د دغسي مسائلو تفصیل زموږ د بحث موضوع نه ده خو موږ د ضرورت پر اندازه دغه مسایل بیان کړه.

دا هغه لوی کارؤ چي د مسلمانانو په متعلق رسول الله ﷺ د هغه سره مخامخ ؤ چي دا د اسلامي شریعت، اسلامي دعوت او محمّدي رسالت هغه اساسي مقصد او هدف ؤ، د رسول الله ﷺ دپاره دغه کار هغه اساسي کارؤ خو تلواري کار نه ؤ بلکه دغه کار د وخت په تېرېدلو سره کېدی، خو هلته نور داسي مسائل وه چي اهمیت یې تر دغه لوی او مهم کار لږ ؤ مګر تلواریې غوښتی، هغه داسي:

د هجرت په شروع او په مدینه منوره کي مسلمانان پر دوه قسمه وه، یو قسم مسلمانان هغه وه چي په خپله مځکه، خپلو کورو او د خپلو مالو سره وه، بله هیڅ پرېشاني یې نه درلودل بیله هغه څخه چي یو سړئ یې په خپل کورکي د ژوندانه د ضروریاتو د پوره کولو دپاره غواړي، چي دا د انصارو ډله وه، خو په خپله د انصارو په منځ کي بیا قبیلوي شدید نفرت، د زړو عناد او عداوت د ډېري مودې څخه پروت ؤ، په نژدې تیرو سوو وختو کي یې ډېر شدید جنګونه سره کړي وه.

او د مسلمانانو هغه بله ډله هغه مهاجرین وه چي هر شئ په مکه مکرمه کي څني پاته ؤ فقط خپل ځانونه یې مدینې منورې ته رسولي وه، خپل مقدس وطن او اقارب، خپلوان او عزیزان، اهل او عیال، کور او کهول، مال او منال، دولت او ثروت، صنعت او تجارت یې ټول په مکه مکرمه کي پرې ایښي وه، دلته په مدینه منوره کي نه د شپې د تېرولو ځای لري نه د خوړلو شئ، نه کارسته چي ویې کړي، نه مال لري چي شپه په تېره کړي او د دغو مهاجرینو شمیر لږ هم نه ؤ او ورځ په ورځ نور هم پسي زیاتېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه هر هغه چا ته چې پر الله او رسول الله ایمان لري په هجرت سره امر سوی ؤ او دا هم معلومه خبره ده چې مدینه منوره یو غني او ثروتمن ښار هم نه ؤ، نو د مدینې منورې اقتصادي موازنه خرابه او متزلزله سوه، په دغه شکېدلي حالت کي اسلام دښمنو قواوو تقریبًا اقتصادي بندیز هم پر ولګاوه، خوراکي او ارتزاقي مواد یې د مدینې منورې څخه بند غوندي کړه، نو خود اقتصادي حالت نور هم خراب سو.

دا د مسلمانانو د دوو مختلفو ډلو په متعلق ستونځي او مشکلات وه.

**ثانیًا:** هغه دوهم قوم چي هغه مشرکان وه خو د مدینې منورې د قبائلو اصلي او اساسي غړي وه، دوی پرمسلمانانو کوم تسلط نه درلودی خو په زړو کي یې شک ؤ او د خپلو پلرو د دین په پرېښوولو کي مترددِ وه، مګر د دغه حالته سره سره یې د اسلام او مسلمانانو سره په زړو کي چم او عداوت نه درلودی او ډېر وخت نه سو پر تېر چي اسلام ته داخل سوه او صادقه مسلمانان ځني جوړ سوه، مګر په دغو خلکو کي بیا داسي خلک هم وه چي په زړو کي یې د رسول اللهﷺ او مسلمانانو سره شدید عداوت او عناد درلودی، خو دا یې په وسه نه وه پوره چي خپل عداوت او دښمني ښکاره کړي بلکه د وخت او حالاتو د مراعت په سبب مجبوره وه چي د دوستۍ او مودّت اظهار وکړي، چي د دغو خلکو مشر او رئیس عبدالله بن اُبئ بن سلول ؤ.

عبدالله بن اُبئ بن سلول څوک ؤ؟

څه موده مخ کي او د بُعاث تر جنګ وروسته د أوس او خزرج قبیلو پردې اتفاق کړی ؤ چي دغه عبدالله به د دغو قبیلو دپاره د پاچا او رئیس په صفت سره مني او تر دغه د مخه هیڅ وخت داسي نه وه پېښه سوې چي دغه دواړي قبیلې دي د یو چا مشرتوب قبول کړي، نو د ده د تاج دپاره یې ملغلري او جواهرات هم سره یو ځای کړي وه چي ده ته د پاچهۍ تاج ور جوړ کړي او د مدینې منورې پاچا یې وګرځوي، په دغه وختو کي رسول اللهﷺ مدینې منورې ته ورغلی، د دغه عبدالله بن سلول له قومه چي کوم څوک مسلمانان سوي وه هغه خلک د رسول اللهﷺ تا بع سوه.

د دغه عبدالله په ګمان: رسول اللهﷺ د ده پاچهي د ده څخه واخیستل، نو خود په زړه کي یې د رسول اللهﷺ سره ډېر شدید عداوت درلودی او کله چي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا ولیدل چي حالات داسي سوه چي ده ته پر شرک پاته کېدل نفعه نه رسوي او د دنیوي ګټو څخه محرومه پاته کیږي نو د بدر تر غزاء وروسته په ظاهره مسلمان سو مګر په زړه کي هغه کافر ؤ، هر وخت چي به د رسول الله ﷺ او مسلمانانو د آزارولو او تاوان رسولو موقع په لاس ورغله خامخا به یې هغه کار کاوه او د ده هغه نور ملګري چي د ده په پاچهي کي به وزیران او رئیسان وای او اوس د رسول الله ﷺ په را تګ سره هغه هم د دغو منصبو څخه محرومه سوه، هغو هم د دغه عبدالله سره د ده د شیطاني نقشو او دسیسو په عملي کولو کي کومک کاوه او ډیر ځله به یې د مسلمانانو نوي ځوانان او ضعیف العقله کسان د خپلو دسیسو د عملي کولو دپاره د لاس آله ګرځول.

**ثالثاً**: یا دریمه ډله چي هلته موجوده وه هغه یهود وه، دا هغه یهود وه چي په پخوا کي د رومان له ظلمه حجاز ته راغلي وه، که څه هم دوی په اصل کي عِبرانیین وه خو پسله هغه چي حِجاز ته راغله په ژبه، په لباس، په عاداتو او اصطلاحاتو د عربو سوه، حتّی د قبیلو او افرادو نومونه یې هم عربي کړل، د عربو سره یې د ښځو له طرفه دوستی هم وکړې، خو پر دغه ټولو سربېره یې هغه خپل ذاتي جنسیت یا قومیت هم ساتلی ؤ، په عربو هیڅ نه سوه ګډ، بلکه په خپل اسرائیلي او یهودي جنسیت به یې فخر هم کاوه او عرب یې ډېر سپک او خوار بلل، تر داسي اندازې چي عرب یې (اُمیِّین) بلل، یعني: وحشیان او بیعقلان، پست او اراذل.

د عربو مالونه یې په هره طریقه سره چي وي د ځان دپاره حلال او مباح بلل، لکه څرنګه چي الله جل جلاله د دوی دغه قول او عقیده بیانوي او فرمایي:

﴿قَالُواْ لَيۡسَ عَلَيۡنَا فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٞ﴾. [آل عمران:۷۵]

یعني: ښکه دغه یهودي کتابیانو به ویل: نسته پر موږ باندي د دغو اُمّیانو په حق کي هیڅ ګناه، چي موږ یې مالونه وخورو یا چم او خیانت ور سره وکړو.

د یهودو په مسلک اُمیّان و هر هغه چا ته ویل کیږي چي یهود نه وي او دغو یهودو د خپل دین د نشرولو دپاره هیڅ حماس او احساس نه درلودی بلکه د دوی سره چي هغه دیني سرمایه پاته وه هغه فال، سحر، کوډي او جادو وه او په دغو شیانو یې خپل ځانونه اهلُ العلم او روحاني قائدان بلل، په کِسب او پیسه ټولولو کي ماهران او

(c) ketabton.com: The Digital Library

استادان وه، د حبوباتو او خرما، د شرابو او لباسو تجارت د دوی په لاس کې ؤ، واردات یې غله او شراب وه، صادرات یې خرما وه، بېله دې څخه یې نور هم تجارتي او صنعتي کارونه کول، د عربو څخه یې څو چنده ګټې اخیستلې، یوازي تجارت یې نه ګاوه بلکه سود او ربا یې هم خوړل، د عربو شیخانو او رئیسانو ته به یې ډیر ډیر پورونه ورکول، هغو به بیا دغه مالونه په بې پروایي سره د دې دپاره مصرفول چي شاعران یې په خپلو اشعارو کې صفت وکړي او په خلکو کې یې نوم لوړ سي، خو چي بیا به یې د یهودو پورونه له سوای آداء کولای نو به یې خپلي زراعتي مځکي او باغونه پر هغو ګرو کړه، څو کاله به نه وه تېر سوي چي دغه مځکي او باغونه به د یهودو سوه.

یهود د چمو او دسیسو، د فساد او شیطانتو خاوندان وه، د عربي او همسایه قبیلو په منځ کې به یې فساد او شیطانت جوړ کړی، عربي قبیلې به یې په پټو چمو او دسیسو په پرله پسې جنګو داسي سره اخته کولې چي هغه به په ځان نه سوه پوه او دې جنګو به کلو کلو دوام درلودی، هر وخت چي به یهودو ولیدل چي د جنګ اور مړي به یې [illegible] کهله دپاره شیطانتونه او فسادونه جوړ کړه او دوی به یا مړ کیږي بیا به یې د هغه د [illegible]

آرام ورته ناست وه، په دغه اورو کي به یې د عربو سوځل په پټه خوله سره لیدل او بیا به یې د عربي قبیلو مشرانو ته د سود او ربا درانه پورونه د دې دپاره ورکول چي د مسکنت او غریبۍ په سبب د جنګو څخه لاس وانخلي، یهودو په دغه کار سره دوې ګټې کولې، یو خو یې خپل یهودي کیان د عربو څخه په داسي دول ساتلی ؤ چي عرب یې په خپل منځ کې په جنګو اخته کړي وه او بل یې د ربا بازار تود ؤ چي څو چنده ګټې یې اخیستلې او بې اندازې ثروت یې لاس ته راوړی.

په مدینه منوره کې د یهودو درې مشهوره قبیلې اوسېدلې:

۱ ـ بنو قینُقاع، چي د خزرج د قبیلې متعاهدین وه او کورونه یې دننه یا داخل په مدینه منوره کې وه.

۲ ـ بنو النضیر.

۳ ـ بنو قُریظه، چي دغه دوې قبیلې د أوس د قبیلې متعاهدین وه او تر مدینې منورې دباندي اوسېدل او دا هغه قبیلې وې چي همېشه به یې د أوس او خزرج

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قبیلو په منځ کي جنګونه پېښول او په خپله دغه یهودي قبیلو د بُعاث په جنګ کي ګډون او اشتراک هم وکړئ.

دا معلومه خبره ده چي د یهودو څخه دا امید نه کېدی چي اسلام ته دې بېله بُغضه او عناده په بله سترګه وګوري، ځکهٔ رسول الله ﷺ د دوی د قوم او جنسه څخه نه ؤ چي دوی دي د قومي عصبیت په سبب د هغه تر څنګ و دریږي او بل دا چي د اسلام دعوت، صالحه دعوت ؤ چي د پاشلو زړو په منځ کي یې الفت پیدا کاوه، د دښمنیو او عداوتو اور یې واژه او په ټولو کارو کي یې خلک و امانت او دیانت ته را بلل، خلک یې په دې سره امر کول چي پاک او حلال مالونه وخوري چي د دې ټولو معنٰی دا وه چي د یثرِب عربي قبائل باید په خپلو منځو ګي الفت او محبت سره ولري نو په دغه حالت کي خامخا دغه عربي قبیلې د یهودو د هغه شیطاني اِعمالو څخه خلاصېدلې، د یهودو تجارتي رونق پای ته رسېدی او هغه د رِبا مالونه کوم چي د دوی د سرمایه داری اساس او مرکز بلل کېدی حرامېدل، بلکه د دې ډېر احتمال ؤ چي دغه عربي قبائل وېښ او متوجه سي، کوم باغونه او ځمکي چي یهودو د رِبا په معاملو څني اخیستي وه بیرته خپل لاس ته را وړي.

کله چي یهود د اسلامي دعوت په مفهوم پوه سوه او وې لیده چي اسلامي دعوت غواړي چي په یثرِب کي استقرار او آرامي را ولي، د خپلو ځانو دپاره یې دغه ټول تاوانونه تر نظر وایستل نو ځکه یهودو د هغې ورځي څخه چي رسول الله ﷺ مدیني منورې ته راغلی دننه په زړو کي د اسلام او د رسول الله ﷺ سره شدید عداوت درلودی، که څه هم دوی په شروع کي د دغه عداوت د ښکاره کولو جرئت نه درلودی خو پسله څه مودې څخه یې دغه عداوت واضحه او روښانه سو.

د یهودو دغه عداوت په واضحه ډول په هغه واقعه کي ښکاره کیږي چي ابن اسحاق یې دأم المؤمنین صفیه رضي الله عنها څخه روایتوي، صفیه رضي الله عنها چي د رسول الله ﷺ زوجه او د حُیَی بن أخطب یهودي لور ده او دغه حُیَی بن أخطب د مدیني منورې د یهودو د مشرانو څخه ؤ، چي دا قصه به په وروسته کي راسي چي رسول الله ﷺ د صفیې رضي الله عنها سره څنګه واده او نکاح وکړه، دغه صفیه رضي الله عنها وایي:

زه کوچنۍ وم او پرخپل پلار تر ټولو اولادو ګرانه وم، هر وخت چې به پلار ولیدم غېږ به یې را ته خلاصه کړه او په بغل کې به یې ونیولم، دغه رنګه پرخپل اکا چې ابویاسر ورته ویل کېده هم ګرانه وم، کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته راغلی او په قباء کې یې واړول سهار وختي زما پلار حُیَی بن أخطب او زما اکا ابو یاسر بن أخطب د هغه ﷺ د لیدلو دپاره ورغله او ماښام د لمر لوېدلو سره ستړي هلاک، غمجن او پرېشانه بیرته کور ته راغله، صفیه رضي الله عنها وایي: څرنګه چې زه کوچنۍ وم د هغه پخواني عادت سره سم په ډیر شوق او چابکي سره دوی ته ورغلم ( یا دوی ته مي ور وځغستل) مګر په دغه ورځ د هغه غم په سبب چې د دوی سره ؤیوه هم ما ته و نه کتل، یوازي دا نه چې په غېږکي یې و نه نیولم بلکه را ته و یې هم نه کتل، ډیر غمجن او پرېشانه وه، صفیه رضي الله عنها د دغې ورځې خبري بیا په وروسته کي بیانوي او وایي:

وامي ورېدل چې زما اکا ابو یاسر زما پلار ته و ویل: آیا هغه هغه دی؟ یعني: دغه سړئ هغه نبي دی چې موږ ته په تورات کي ذکر سوی دی؟

پلار مي و ویل: هو والله.

اکا مي ویل: آیا تا وپېژندی او یقین دي سو؟

پلار مي ویل: هو.

اکا مي ویل: نو د ده په باره کي څه نیت او اراده لرې؟

پلار مي و ویل: تر څو چې ژوندئ یم په والله دښمني او عداوت به ورسره کوم.

سبحان الله! د یهودو دغه حال دی په حق پوهېږي او حق ور معلوم سو مګر پر دغه واقعیت سر بېره د حق سره عناد او عداوت کوي دا د یهودو خوی او عادت دی، د نن ورځي یهود هم هغه یهود دي او هغه یې عداوت دی، نه پوهېږم چې جاهل او بې خبره مسلمانان څنګه پر یهودو اعتماد کوي؟ او ولي دوستي ور سره کوي؟

د یهودو د عداوت او خیانت بل شاهد د عبدالله بن سلام رضي الله عنه هغه قصه ده چې امام بخاري یې روایتوي، عبدالله بن سلام رضي الله عنه چې د مدینې منورې د یهودو د لویو علماوو او احبارو څخه ؤ دئ وایي: زه د خپلي خاله سره ناست وم خبر راغلی چې محمّد ﷺ مدینې منورې ته را ورسېدی، عبدالله بن سلام په لوړ آواز سره تکبیر و وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(الله اکبر) خاله یې په تعجب کي سوه چي عبدالله څنګه د دغه سړي په را تګ سره چي وايي نبي دی تکبیر وايي؟ نو خاله یې ورته وویل: قسم دی که موسیٰ بن عمران راغلی وای تا به داسي تکبیر نه وای ویلی، عبدالله بن سلام ﷛ ورته وویل: خاله! دغه سړئ او موسیٰ ورونه دي هغه نبي ؤ او دئ هم نبي دی، خاله یې ورته وویل: ستا پر حال دي افسوس وي ته څنګه وایې: چي دا سړئ نبي دی؟ عبدالله ﷛ ورته وویل: هغه علامې چي د نبي آخر زمان په باره کي په تورات کي ذکر سوي دي هغه ټوله په ده کي موجودي دي.

خاله یې ورته وویل: ولاړ سه او ځان ته صحي حال معلوم کړه.

عبدالله بن سلام ﷛ هم په تلوار د بني نجار منطقې ته ورغلی او د رسول الله ﷺ څخه یې داسي خبري واورېدې چي هغه ټولي د راتلونکي نبي علامې وې، عبدالله بن سلام پر هغه ځای او په هغه ساعت ایمان را وړی، عبدالله بن سلام ﷛ د مدینې منورې د یهودو څخه هغه اول یهودي دی چي په اسلام مشرفه کیږي او بیا یې رسول الله ﷺ ته وویل: یا رسولَ الله! یهود تهمتي او بُهتان ویونکيْ قوم دی، د مخه تردې چي ته زما په باره کي پوښتنه څني وکړې که دوی زما په اسلام خبر سي نو بیا ستا په حضور کي پر ما بُهتان او تهمتونه وايي، نو د مخه تردې چي زما د اسلام خبر نشر سي یهود او د هغو مشران را وغواړه او د دوی څخه زما په باره کي پوښتنه وکړه.

رسول الله ﷺ یهود را وغوښتل او عبدالله بن سلام ﷛ دالته په یوه خونه کي پټ سو، یهود راغله او کښېنستل، رسول الله ﷺ دوی و اسلام ته دعوت کړل خو دوی د اسلام د قبلولو څخه انکار کوي او اسلام نه قبلوي، بیا نو رسول الله ﷺ د عبدالله بن سلام په باره کي پوښتنه څني وکړه، چي عبدالله بن سلام په تاسي کي کوم مقام او درجه لري؟ یهودو وویل: هغه په موږ کي لوی عالم او د لوی عالم زوی دی، زموږ سردار او د سردار زوی دی، په موږ کي د ښه او لوړ مقام خاوند دی.

رسول الله ﷺ وفرمایل: که هغه ایمان را وړی بیا تاسي څه وایاست؟

یهودو وویل: الله دي یې له دې کاره وساتي او دغه جمله یې دوه درې واره وویل.

عبدالله بن سلام ﷛ د هغه پټه ځایه را ووتی او وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

أشهد أن لا إله إلاّ الله وأشهد أن محمّداً رسولُ الله،

دا پر يهودو لوی دليل ؤ چي دا دين حق دی مګر يهودو و ويل: دئ په موږ کي بيعقل، درواغجن او جاهل دی او د ده نور بد يې هم بيانول.

دغه د يهودو غدر او خيانت دی، لږ وخت د مخه يې اقرار کاوه چي عبدالله په موږ کي عالم، مشر او شريف دی، مګر کله چي يې وليدل چي خبره د دوی په نفعه او فايده نه ده نور څه وايي.

يهود وفاء او وعده نه لري، په عربي کي متل دی چي وايي:

(اليَهود ليس لَهُمْ العُهود)

يعني: يهود پر خپلو وعدو او عهدو وفاء نه لري.

دا هغه اوله تجربه وه چي رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته د مدينې منورې د داخلېدلو په اوله ورځ د يهودو په باره کي حاصله سوه.

موږ مخ کي د اسلامي نوي ټولني د جوړولو دپاره د مشکلاتو خبري کولې او د دغو ذکر سوو درو ډلو: مسلمانانو، مشرکانو او يهودو مشکلات، هغه مشکلات وه چي مسلمانانو خاصتاً رسول الله ﷺ ته له داخله څخه متوجه وه، يعني د رسول الله ﷺ او مسلمانانو دپاره د دغو درو ډلو داخلي مشکلات دغه بېل بېل مشکلات وه، مګر له خارجه څخه هغه شريره قُوه چي د مسلمانانو ضِد او د اسلام دښمنه قوه وه هغه قريش وه.

د لسو کلو را هيسي هغه وخت چي مسلمانان په مکه مکرمه کي د دوی ترلاس لاندي وه دوی د عذاب ټولي طريقې که وهل او ټکول وه، که عذابونه او آزارونه وه،که لوږي او مقاطعې وې پر استعمال کړې، بيا چي مسلمانانو مدينې منورې ته هجرت وکړی د دوی ټول مالونه که مځکي وې که کورونه، که مالونه وه که حيوانات ټول يې غصب او مصادره کړل، د مسلمانانو او د دوی د ښځو او اولادو په منځ کي يې جلا والی را وستی او پر کومو کسانو چي يې قدرت پيدا کړی هغه يې بنديان کړه او عذابونه يې ورکول، يوازي دانه وه بلکه د رسول الله ﷺ چي د اسلامي دعوت خاوند ؤ د وژلو اِراده يې هم وکړه، چي دئ او د ده دعوت ټول له منځه يوسي او د دغه دسيسې د عملي کولو دپاره يې خپل ټول طاقت استعمال کړی، پسله دغو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عذابو او آزارو څخه کله چي مسلمانانو داسي ځکي ته هجرت وکړی چي د دوی څخه پنځه سوه کیلومتره لیري وه قریشو بیا په سیاسي عمل لاس پوري کړی.

قریشو په عربو کي دیني او دنیوي صدارت او ریاست درلودی ځکه دوی د حرم اوسېدونکي وه او د بیت الله شریفي تصرف د دوی په لاس کي ؤ، نو یې د جزیرهٔ العرب نور مشرکان د اهلِ مدینه پر ضد و پارول تر داسي اندازې چي مدینه منوره د شدیدي مقاطعې په حالت کي سوه، واردات یې لږ سوه او د مهاجرو مسلمانانو شمېر ورځ په ورځ زیاتېدی او دا معلومه خبره وه چي د مکې مکرمې د طاغي مشرکانو او د مسلمانانو په منځ کي په نوي یا د هجرت په وطن کي جنګي حالت هم برقراره ؤ نو دا د مسلمانانو حق ؤ چي د مکې مکرمې د طاغیانو مالونه مصادره کړي او واخلي، لکه څرنګه چي هغو د دوی مالونه مصادره کړي او اخیستي وه او مسلمانان پر مشرکانو هغسي عذابونه تېر کړي لکه پر دوی چي یې تېر کړي وه او د هغو د ژوند په لار کي هغسي مشاکل پیدا کړي لکه دوی ته چي یې پیدا کړي وه، کاسه په کاسه ورکړي، دا هم د دې دپاره چي دغه کفار د مسلمانانو د نېستي کولو قدرت و نه لري او د دوی د اسلامي دعوت د مخنیوي وسائل یې د لاسه ووزي.

دا هغه قضیې او مشکلات وه چي رسول الله ﷺ د یوه رسول او لار ښوونکي، د یوه امام او قائد په صفت ورسره مخامخ ؤ.

او رسول الله ﷺ د رسول او رهبر په صفت په مدینه منوره کي دغه وظائف په پوره ډول سره انجام کړل.

هر قوم ته یې د رحمت او شفقت، یا شدّت او عذاب څخه هغه څه ورکړه چي د هغه شي مستحق او لائق وه او په دې کي هیڅ شک نسته چي د رسول الله ﷺ رحمت پر شدت غالبه ؤ، تر څو چي په لږو کلو کي آمریت او اداره اسلام او مسلمانانو ته را وګرځېدل.

*ویونکي او اورېدونکي به د رسول الله ﷺ دغه عادلانه او کامیابه تصرفات او حالات په راتلونکي بیان کي په ښکاره ډول سره ووېني.*

څرنګه چي موږ اوس د هجرت د شروع واقعات بیانوو نو د هغې جملې څخه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


واقعه دا وه: چي د هجرت په شروع او ابتداء کي د انصارو د مشرانو څخه يو مشر چي اسعد بن زُراره ﷛ ؤ وفات سو، دا هغه څوک دی چي تر هجرت د مخه د جمعې اول لمونځ د ده ﷛ په کور کي آداء سواو د دغه لمانځه خطبه هم ده ﷛ وويل، دئ هغه څوک دی چي د مصعب بن عمير ﷛ په ملګرتيا به د مدينې منورې پر کلو او کورو ګرځېدی او خلک به يې اسلام ته دعوتول، نو د اسعد بن زُراره ﷛ وفات د هغو لويو واقعو څخه دی چي د هجرت په شروع کي پيښي سوي دي.

او يوه بله لويه واقعه دا وه: کله چي رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته نفر ولېږی چي د مکې مکرمې څخه د رسول الله ﷺ او ابوبکر الصدّيق ﷛ کورنۍ راولي تر دغه وخته د هجرت څلور مياشتي تيري سوي وې او په دغو څلورو مياشتو کي په ټولو مسلمانانو کي هيڅ داسي نارينه کوچنئ نه ؤ پيدا سوی چي ژوندئ دي پاته سي، په مسلمانانو کي چي به هر نارينه کوچنئ وزېږېدی هغه به مړ سو.

ټول نوي ماشومان چي پيدا کېدل يا به نجوني وې يا به مړه کېدل، دلته يهودو آوازه واچول چي موږ په مسلمانانو سحر کړی دی چي د دوی به هيڅ نارينه کوچنئ نه پاته کيږي او په دې طريقه سره د مسلمانانو ريښه خېژي، ځکه مشران به يې کرار کرار مري او نوی کوچنئ به نه پکښې پاته کيږي چي دا د مسلمانانو د نيستي کېدلو سبب ګرځي او رشتيا هم په مسلمانانو کي څلور مياشتي پرله پسې داسي نارينه کوچنئ نه سو پيدا چي ژوندئ دي پاته سي، د مدينې منورې پوره او کامل ښار او په سوو کورونه او په څلورو مياشتو کي د نارينه کوچني نه پيدا کېدل ډېره عجبه وه، تر داسي اندازې چي خلکو د يهودو دغه آوازه و منل چي رشتيا هم دوی سحر کړی دی، ځکه په دنيا کي به داسي ښار نه وي چي په څلورو مياشتو کي دي نارينه کوچنئ نه سي پکښې پيدا مګر په مدينه منوره کي دا واقعه پيښه سوه، نو ځکه خلکو دغه د يهودو آوازه رشتيا وبلل.

تر څو چي اسماء د ابوبکر الصدّيق ﷛ لور په داسي حال کي مدينې منورې ته راغله چي د حمل آخري مياشت يې وه، اسماء د زبير بن العوام ﷛ ښځه وه او زبير ﷛ د رسول الله ﷺ د عمه صفيه بنت عبدالمطلب زوی دی، اوس چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماء رضي الله عنها مدينې منورې ته راغله حامله ده او د حمل يې آخري مياشت ده او لږ موده وروسته يې زوی پيدا سو چي عبدالله بن زبير رضي الله عنه دی او مړ هم نه سو، اسماء رضي الله عنها وويل: چي عبدالله و رسول الله ﷺ ته ورولی، په مسلمانانو کي نارينه کوچنئ پيدا کيږي او نه مري! رسول الله ﷺ ډېر په خوشاله سو، رسول الله ﷺ په خپله مبارکه خوله کي خرما وژوول او بيا يې د عبدالله بن زبير رضي الله عنه په خوله کي ور کښېښوول، نو هغه اول شئ چي د عبدالله نس ته ورغلی هغه د رسول الله ﷺ مبارکي نارې وې، د عبدالله په ولادت او ژوندي پاته کېدلو سره مسلمانان ډېر خوشاله سوه، د ډيري خوشالۍ څخه يې عبدالله پر سرو ګرځاوه، مسلمانانو د مدينې منورې په لارو او کوڅو کي د خوشالۍ مظاهره وکړه او په لوړ آواز يې د الله اکبر تکبيرونه ويل.

دا تبوله د نارينه کوچني د پيدا کېدلو په سبب چي مړ هم نه سو او د خوشالۍ ځای دا ؤ چي د يهودو هغه د سحر آوازه هم په ماته سوه، نو د عبدالله بن زبير رضي الله عنه پيدا کېدل د مسلمانانو په تاريخ کي لويه فتحه بلل کيږي، عبدالله بن عمر رضي الله عنه چي د عبدالله بن زبير رضي الله عنه د ولادت ورځ يې ليدلې ده چي په دغه ورځ صحابهٔ کرامو د ده د زېږېدلو په سبب تکبيرونه ويل او بيا يې د ده رضي الله عنه د شهادت ورځ هم وليدل، چي د حجاج بن يوسُف الثقفي لښکرو شهيد کړی او هغو هم تکبيرونه ويل، نو عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: د عبدالله بن زبير د پيدا کېدلو ورځ مي وليدل او بيا مي د ده د شهادت ورځ وليدل، قسم په الله هغه کسان چي د ده د ولادت په ورځ يې تکبيرونه ويل، تر هغو کسانو ښه او بهتر وه چي د ده د شهادت په ورځ يې تکبير وايه.

د ده د ولادت په ورځ صحابهٔ کرامو تکبير وايه او د ده د شهادت په ورځ د حجاج بن يوسُف الثقفي ياغي او باغي لښکرو تکبير وايه.

او د هجرت په اتمه مياشت کي رسول الله ﷺ د ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها د حضرت ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه د لور سره واده وکړی.

*دغه د هجرت د اولو وختو څه واقعات ستاسي د معلوماتو د زياتوالي د پاره درته بيان کړل سوه.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نوي تولني جوړول

مورږ مخ کي و ویل: چې رسول الله ﷺ د هجرت په اول کال د ربیع الأول د میاشتي په دوولسم تاریخ د جمعې په ورځ چې د میلادي (٦٢٢) کال د سپتمبر د میاشتي د (۲۷) تاریخ سره برابرۀ په مدینه منوره کي د بني النجار په منطقه کي د ابو ایوب انصاري رضي الله عنه د کور مخ ته د خپلي اوښي څخه کښته سو او وې فرمایل: إن شاء الله منزل یا د استوګني ځای دلته دی او بیا د ابو ایوب انصاري رضي الله عنه کور ته ولاړی او اول هغه کار چه رسول الله ﷺ د هغه په عملي کولو شروع وکړه هغه پر هغه ځمکه چي اوښه هلته چوکه سوې وه د مسجد جوړول وه او دغه ځمکه یې د هغې د مالکانو څخه چي دوه یتیم هلکان وه را نیول او قیمت د ځمکي ابوبکر الصدیق رضي الله عنه ورکړی.

او د مسجد د جوړولو په کار کي په خپله رسول الله ﷺ حصه اخیستل چي خښتي او ډبري به یې نقلولې او دغه د رسول الله ﷺ کار کول یا په کار کولو کي حصه اخیستل د صحابۀ کرامو نشاط او احساسات نور هم ور زیاتول تر داسي اندازې چي د اصحاب کرامو څخه یوه نفر دغه شعر هم وایه:

لَـئِن قَـعَـدنا والـنَّبِيُّ يَعـمَل لَـذاکَ مِـنّا العَـمَـلُ الُمـضل

یعني: که موږ کښېنو او رسول الله ﷺ کار کوي دغه ناسته زموږ دپاره ګمراه کوونکی عمل او بد کار دی.

دغه د مسجد ځمکه چي خَرابَه ځمکه وه په هغه کي د مشرکانو پخواني قبرونه وه، ژوري ګَندي وې، د خرما وُني وې او د غرقد ونه پکښې وه، د رسول الله ﷺ په امر سره د مشرکانو قبرونه وکندل سوه او خاوري یې وغورځول سوې، هغه ګَندي آواري او برابري سوې، د خرما او غرقد وُني پرې کړل سوې، په دغه وخت کي قبله دِ بیت المقدس طرف ته وه، د مسجد د پایو دېوالونه په ډبرو پورته سوه او نور دېوالونه یې په اومو خښتو او ختو پورته سوه، چت یې د خرما په ښاخلو پټ کړل سو او د منځ عمودونه یې د خرما د وُني د تنو څخه ورکړل سوه، پر ځمکه یې شګي او رېګ آوار سوه، مسجد ته درې دروازې ورکول سوې، د مسجد اوږد والی سل ذراعه ۇ او بَر یا

(c) ketabton.com: The Digital Library


عرض یې هم دغومره یا تر دغه لږ کم ؤ، د مسجد څنګ یا بغل ته په اومو خښتو کوټې یا حُجرې جوړي سوې چې سرونه یې په ښاخلو او د خرما په پاڼو پټ سوه چي دا د رسول الله ﷺ د اِزواجو مطهراتو خوني او حُجرې وې، کله چي د دغو حُجرو بناء پوره او کامله سوه نو رسول الله ﷺ د ابو ایوب انصاري ﷺ له کوره و دغو حُجرو ته ور نقل سو او دا مو هم درته ؤویل: چي مسجد یوازي د لمنځو د آداء کولو ځای نه ؤ بلکه یوه مَدرسه یا پوهنتون هم ؤ چي مسلمانانو هلته اسلامي تعلیمات او توجیهات زده کول او مسجد د هغو مجلسو ځای ؤ چي هلته هغه مختلفې او یو له بله مروري قبیلې یُځلا کېدې کومې چي د جاهلیت د وختو څخه یې نفرت او نزاع، جنګ او جدل په منځ کي پاته وه او مسجد د اسلامي شئونو د اداري ځای ؤ او مسجد لکه د نن ورځي پارلمان هلته مشورتي او تنفیذي مجلسونه کېدل، پردې تولو سربېره مسجد د هغو فقیرو مهاجرینو دپاره کور او د استوګني ځای هم ؤ چي نه یې کور درلودی نه اهل، نه یې اولاد درلودی نه قوم:

همدارنګه د هجرت په اول کال کي د لمانځه د رکعتو د زیاتوالي وحې نازلې سوې.

د لمانځه په متعلق درې مرحلې تېرې سوې دي، په اوله مرحله کي لمونځ اختیاري ؤ فرض نه ؤ هرچا چي به هر وخت هر څومره لمونځ کاوه د ده خوښه وه، هو رسول الله ﷺ خلک لمانځه ته را بلل او تشویقول خو لمونځ فرض نه ؤ بلکه اختیاري ؤ بیله د شپې د لمانځه څخه چي دغه د شپې لمونځ د سورةُ المزمل د دغو آیاتو:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ۝١ قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ۝٢ ﴾

په نزول سره اول یوازي پر رسول الله ﷺ فرض سو او بیا وروسته پر مسلمانانو هم فرض سو، مګر نور لمنځونه تر إسراء او معراجه پوري نه وه فرض سوي خو په معراج کي پنځه لمنځونه فرض سوه، د مخه مسلمانانو لمنځونه کول خو فرض نه وه او بیا په معراج کي پنځه لمنځونه پر تولو مسلمانانو فرض سوه خو تول لمنځونه دوه دوه رکعاته وه، سهار، ماپښین، ماځیګر، ماښام، ماخستن، تول دوه دوه رکعاته وه او مسلمانانو هم تر هجرته پوري دوه دوه رکعاته لمونځ کاوه څو د هجرت په اول کال کي په ماپښین، ماځیګر، ماښام او ماخستن کي زیاتوب وسو او د سهار لمونځ پر هغه

خپل حال دوه رکعاته پاته سو.

تر دغه وخته آذان هم نه ؤ خلک د لمانځه دپاره بېله کومي علامې او بېله بڼغه را ټولېدل، خلکو به په خپل فکر وخت سنجاوه او د لمانځه د آداء کولو دپاره به په مسجد کي سره یو ځای کېدل نو د هجرت په اولو وختو کي رسول الله ﷺ د داسي شي په باره کي فکرکاوه چي په هغه سره خلک خبر سي چي د لمانځه وخت دی او په دغه باره کي یې د صحابهٔ کرامو سره هم مشوره وکړه، ځینو وویل: (بُوق) یعني: ښکر یا ټولیۍ به پیدا کړو، دا یې نه سوه خوښه ځکه ټولیۍ یهودو استعمالول.

چا بیا وویل: (ناقوس) به پیدا کړو، ناقوس دوه لرګي دي چي یو یې اوږد او بل یې کوچنۍ دی چي یو له بله سره ټکول کیږي، یا خو یې یوه اوسپنه وي او بل یې لرګۍ وي چي سره ټکول کیږي، خو ډیر ځله ځنګولې ته هم ناقوس ویل کیږي.

دا یې هم نه سوه خوښه ځکه دغه ناقوس بیا نصاراوو استعمالاوه، خو په دغه ورځ پرکوم خاص شي اتفاق و نه سو او سره ولاړل، په وروسته کي یوه صحابي چي نوم یې عبدالله بن زید ؤ په خوب کي یو سړۍ ولیدی چي زرغونه کالي یې اغوستي دي او ناقوس ور سره دی، عبدالله ورته وویل: سړیه! دغه ناقوس نه خرخوې؟

هغه ویل: څه په کوې؟ عبدالله ویل: موږ د لمانځه دپاره خلک په خبروو، سړي و ویل: تر دغه ښه شئ در وښیم؟ عبدالله ویل: هو، سړي و ویل: هر کله چي د لمانځه وخت سو په لوړ آواز سره وایاست:

« الله اکبر، الله اکبر الله اکبر،

أشهد أن لا إله إلا الله، أشهد أن لا إله إلا الله،

أشهد أن محمّداً رَسولُ الله، أشهد أن محمّداً رَسولُ الله،

حيَّ على الصلوة، حيَّ على الصلوة،

حيَّ على الفلاح، حيَّ على الفلاح،

الله اکبر الله اکبر،

لا إله إلا الله »

ټول آذان یې ور وښووی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبدالله بن زید چې له خوبه را ویښ سو رسول اللهﷺ ته ورغلی او خپل خوب یې ورته و وایه، رسول اللهﷺ و فرمایل: دا ښه خوب دی او دغه جملې بلال رضی الله عنه ته ور وښیه ځکه د هغه آواز لوړ او ښه دی.

*(په دغه کې مور ته د رسول اللهﷺ له طرفه تعلیم دی چې آذان باید هغه څوک وکړي چې آوازئې ښه او لوړ وي، نو مؤذن باید د ښه آوز خاوند وي ځکه خوب عبدالله بن زید رضی الله عنه لیدلی ؤ او رسول اللهﷺ ورته و ویل: آذان دې بلال وکړي).*

اوس چې بلال رضی الله عنه لوړ مسجد ته وختی او آذان کوي په دغه وخت کې حضرت عمر رضی الله عنه بیده ؤ او په دغه آذان له خوبه را ویښ سو خو په دغه وخت کې ده رضی الله عنه هم دغسې خوب لیدی چې آذان پکښې ؤ، نو ژر و رسول اللهﷺ ته ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! والله ما دغه شئ په خوب لیدی، رسول اللهﷺ و فرمایل: هو د لمنځو د خبرتیا دپاره دغه آذان ښه او بهتر شئ دی او بیا پر دغه آذان وحيِ هم نازلې سوې چې آذان یې ثابت او قایم کړی، دا د دغه آذان د مشروعیت او شروع کېدلو قصه وه کوم چې هره ورځ پنځه واره د دنیا په آفاقو کې پورته کېږي او د عالمُ الوجود ټول اطراف په رڼېدول کیږي، د الله جل جلاله پر وحدانیت او د رسول اللهﷺ پر رسالت شاهدي په آداء کیږي، د دغه آذان په واسطه مسلمانان د یوه الله جل جلاله د عبادت دپاره د الله جل جلاله په کورو کې سره را ټولیږي او یو ځای کیږي.

## د مسلمانانو په منځ کې ورور ګلوي

لکه څرنګه چې رسول اللهﷺ د مسلمانانو د یو ځای کېدلو، اُلفت او محبت دپاره مسجد جوړ کړی، دغه رنګه یې یو بل کار هم وکړی چې د تاریخ په اوږدو کې ځلانده او روښانه کار دی چې هغه د مهاجرینو او انصارو په منځ کې ورور ګلوي وه.

*دا خو درته معلومه ده چې مهاجرین هغو مسلمانانو ته ویل کیږي چې د مکې مکرمې څخه یې مدینې منورې ته هجرت کړی دی او انصار د مدینې منورې هغه مسلمانان دي چې د رسول اللهﷺ، او مهاجرینو مرسته او نصرت کوي.*

بیا نو رسول اللهﷺ د انس بن مالک رضی الله عنه په کور کې د مهاجرینو او انصارو په منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي ورور ګلوي، جوړه کړه هغه داسي: چي په دغه وخت او په دغه کورکي ټول (۹۰) نفره مسلمانان موجود وه چي نیم یې مهاجرین وه او نیم یې انصار وه او د رسول الله ﷺ په امر یو د انصارو او یو د مهاجرینو څخه سره ورونه سوه، نبوي امر داسي ؤ: د انصارو څخه دي هر نفر د مهاجرینو څخه یو نفر د ځان دپاره اختیار کړي او د ځان ورور دي یې و بولي او هر ورور پسله مرګه څخه د هغه بل ورور میراث وړي. نه ذوی الأرحام او اقربا، یعني: هغه د مړه سوي انسان میراث د ده اقرباوو ته نه رسیږي بلکه دغه اوسنی ورورګلوي دوی په میراث کي سره شریکوي او دغه د میراث وړلو حکم د بدر تر غزاء پوري دوام درلودی څو چي بیا د الله جل جلاله دا قول نازل سو چي فرمایي:

﴿وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ﴾ [الأنفال:۷۵]

نو د میراث حکم بیرته هغو خپلو اقرباوو ته وګرځېدی، په اول کي دا کارپه دې سبب ؤ چي هغه د جاهلیت قومي عصبیت له منځه ولاړ سي، د مسلمانانو له منځه د رنګ او نسب، وطن او قومیت، فرق او اختلاف ورک سي او یوازي اسلام د خلکو د تعلق او دوستی سبب وګرځي او هیڅوک و هیچا ته بېله خپلي عقیدې، اخلاقو او تقوی نه سي ور نژدې کېدلای (یعني د خلکو د نژدې کېدلو وسیله یوازي عقیده ده)

رسول الله ﷺ دغه اسلامي ورورګلوي یو نافذ او عملي تړون وګرځاوه نه فقط د خولې خبري، داسي نه چي خلک یوازي په خوله سره یو له بله ورور، ورور، وایي او د عمل یې هیڅ اثر نه وي بلکه په دغه اسلامي ورورګلوي کي الفت او محبت ؤ، قرباني او صداقت ؤ، بل دا چي مهاجرینو خپل وطن، خپل کورونه او خپل مالونه پرې ایښي دي حتّی د مدینې منورې د ژوند او خلکو سره هم نوي او نابلده دي نو خامخا د دوی مسئولیت باید یو څوک پرغاړه وا خلي، د رسول الله ﷺ په امر د مهاجرینو او انصارو په منځ کي سمدستي واقعي ورورګلوي شروع سوه، امام بخاري روایت کوي او وایي: کله چي مهاجرین مدینې منورې ته راغله او رسول الله ﷺ د مهاجرینو او انصارو په منځ کي ورورګلوي برقراره کړه، سعد بن رُبَیع رضي الله عنه چي د انصارو څخه دی، عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنه چي د مهاجرینو څخه دی په ورورګلوي اختیار کړی نو سعد رضي الله عنه وعبدالرّحمٰن رضي الله عنه ته وویل: په انصاروکي زه د ډېر مال خاوند یم، نو زما مال پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوو حصو و وېشه یوه حصه یې ستا او بله یې زما او زه دوې ښځې لرم پکښې وګوره هره یوه چې دي خوښه وي زه به یې طلاقه کړم چې عِده یې تېره سوه ته یې په نکاح کړه.

*ورونو! دغو موضوعاتو ته په دقت سره توجه وکړئ چې یو مسلمان باید د بل مسلمان سره څومره صدق او اخلاص ولري او ورور ګلوي یې باید په کومه اندازه سره وي؟ نه لکه د نن ورځې ځینې مسلمانان چې د ځاني ګټې دپاره خپل ورور حلالوي.*

مګر مهاجرینو د دې مسئلې څخه د ځان په ګټه کار نه اخیستی بلکه عبدالرّحمٰن بن عوفؓ ورته و ویل: وروره ستا په اهل او مال کي دي الله جل جلاله برکت در واچوي ما ته صِرف ستاسي بازار راوښیه ستاسي بازار چیري دی؟ عبدالرّحمٰن بن عوفؓ پیسې نه درلو دې مګر په اقتصاد او کاروبار پوه سړئ ؤ الله جل جلاله برکت پراېښی ؤ، رسول الله ﷺ فرمایي: عبدالرّحمٰن بن عوف که خاوري خرڅي کړي هم به ګټه وکړي، کله چي عبدالرّحمٰن بن عوفؓ وفات سو پاته مال یې د سرو زرو اته ملیونه دیناره ؤ، لکه اوس چي یو سړئ د سرو زرو اته ملیونه پهلوی یا جینی، یا طلاوي ولري.

نو عبدالرّحمٰن بن عوفؓ و ویل: بازار را وښیه، سعدؓ د بني قینقاع بازار ور وښووی، کله چي له بازاره راغلی څه اندازه پنیر او غوړي یې ور سره را اخیستي وه، دا یې د اولي ورځې ګټه وه، بیا نو هره ورځ بازار ته تلی څو یوه ورځ د رسول الله ﷺ مجلس ته په داسي حال کي ورغلی چي ښه او نوي کالي یې اغوستي وه، رسول الله ﷺ ورته و ویل: وه وه څه پېښه ده؟ ده و ویل: واده مي کړی دی، ویل څو مَهَر دي ور کړی؟ ویل د خرما د مندکي پر اندازه سره زر.

امام بخاري د ابو هریرهؓ څخه روایت کوي چي انصارو و رسول الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! زموږ او زموږ د مهاجرو ورونو په منځ کي دغه زموږ باغونه یا د خرما درختې را و وېشه.

سبحان الله! انصار دغه دي، د ورور ګلوی د اولي ورځې څخه خپل مالونه ور سره تقسیموي، خو رسول الله ﷺ و ویل: یا! بیا نو انصارو مهاجرینو ته و ویل: چي تاسي زموږ سره د باغو په کار کي مرسته کوی او موږ به مو د باغو په حاصلاتو کي را سره شریکان کړو، مهاجرینو و ویل: خوښه او قبوله مو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه حالات د انصارو پرهغه ډېره مهرباني دلالت کوي چې د خپلو مهاجرو ورونو سره يې درلودل خو بالمقابل مهاجر مسلمانانو د انصارو دغه کرم او محبت ته د پوره تقدير او احترام په سترګو کتل او دغه د دوی اخلاص يې د ځان په ګټه نه استعمالاوه بلکه د انصارو په زراعت او باغو کې يې پوره کار ور سره کاوه مګر د دوی د مالو څخه يې فقط دومره اخيستل چې شپه يې په تېرېدل.

او په حقه د رسول الله ﷺ له طرفه دغه ورور ګلوي يو په زړه پوري حکمت او حکيمانه سياست ؤ او د ډېرو هغو مشکلاتو دپاره چې مهاجر مسلمانان ور سره مخامخ وه ډېر ښه حل او مناسبه لاروه.

لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ د مسلمانانو په منځ کې دغه ورور ګلوي بر قراره کړه دغه رنګه يې د مدينې منورې د اوسېدونکو دپاره يوه عهد نامه هم وليکل چې دغه عهد نامې ته موږ په اوسنۍ اصطلاح د نوي اسلامي دولت دپاره (قانون اساسي) هم ويلای سو، دا داسي عهد نامه يا قانون ؤ چې په هغه سره يې د جاهليت رواجونه او قبيلوي اختلافونه ليري او ورک کړل، دې قانون د نوي دولت دپاره داخلي او خارجي نظام کښېښاوه، په دې قانون کي داسي مادې موجودي وې چې د اسلامي دولت د افرادو په خپل منځي علاقاتو او اړيکو پوري يې تعلق درلودی او همدارنګه يې د نورو خارجي خلکو يا قبيلو سره په علاقاتو پوري تعلق درلودی، يعني: داسي جامع قانون ؤ چې داخلي او خارجي سياست دواړه پکښي ځای سوي وه، چې اوس به د هغه قانون ځني لويې او مهمي مادې درته بيان سي:

## اولنۍ اسلامي قانون

**اوله ماده**: ټول مسلمانان که د قريشو څخه وي که د مدينې منورې د اوسېدونکو څخه وي او بل هر هغه څوک چې د دوی سره يو ځای کيږي او د دوی په ملګرتيا جهاد کوي، دغه ټول د نورو خلکو څخه جلا ځان ته يو امت دی.

**دوهمه ماده**: دغه ټول مسلمانان د قبيلوي يا قومي اختلافه سره سره په خپل منځ کي مرسته سره کوي او د خپل بندي يا بنديانو د خلاصولو دپاره په عدل او احسان

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره فدیه ورکوي.

**دریمه ماده**: مسلمانان په خپل منځ کي یو پوروړی یا غریب عیالداره نه پرېږدي چي د ده سره مرسته و نه کړي، یا یې د بندي فدیه نه کي ور برابره.

**څلورمه ماده**: ټول مسلمانان هغه چا ته یو لاس دي چي پر دوی ظلم او تجاوز کوي یا په دوی کي فساد او ګناه نشروي، که څه هم دغه څوک په دوی کي د یو چا اولاد وي.

**پنځمه ماده**: یو مسلمان به بل مسلمان د کافر په بدله کي نه وژني (یعني که یو مسلمان د بل مسلمان کافر ورور و وژني دغه مسلمان حق نه لري چي د هغه کافر ورور په بدله کي دغه قاتل مسلمان و وژني) او نه به د کافر سره د مسلمان په مقابل کي مرسته کیږي.

**شپږمه ماده**: د کفارو سره به په في سبیلِ الله جنګ او جهاد کي د مسلمانانو صلحه په پوره اتفاق او اتحاد سره وي، داسي نه سي کېدلای چي ځیني مسلمانان په انفرادي ډول د کفارو سره صلحه وکړي.

**اوومه ماده**: هر هغه مومن چي پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري او په دغه عهدنامه اقرارکوي او ویې مني، دا نه ده ورته روا چي د یوه کافر نصرت او کومک وکړي یا ځای ورکړي، که یې د کافر مرسته وکړه یا یې ځای ورکړی د قیامت په ورځ پر هغه د الله جل جلاله غضب او لعنت دی او د ده څخه هیڅ شئ نه قبلول کیږي.

*(یوازي دغه ماده نه بلکه ټول اسلامي قانون یو وار بیا په غور سره ووایه)*

څرنګه چي د مدینې منورې ځیني یهود د مسلمانانو سره په دغه معاهده کي شامل او داخل سوه، نو په دغه قانون کي څه مادې د یهودو په باره کي هم سته په ښه غور او دقت سره ورته متوجه سه.

**اتمه ماده**: د بني عوف یهود په دغه عهد نامه کي د مسلمانانو سره یو ځای دي، د یهودو خپل دین دی او د مسلمانانو خپل دین دی، بېله هغو کسانو چي ظلم یا یوه ګناه وکړي (*یعني هغه ته بیا د اسلامي شریعته سره سمه جزاء ورکول کیږي*) هغه څوک بېله خپله ځانه او خپلي کورنیه بل څوک نه هلا کوي.

**نهمه ماده**: یهود د خپل خرڅ او نفقې مسئوله دي او مسلمانان د خپل خرڅ او نفقې مسئوله دي او دوی یو د بل مرسته د هغه چا په مقابل کي سره کوي چي د دغه

عهد نامې پر افرادو تجاوز او تېری کوي.

**لسمه ماده:** د دغې عهد نامې د منونکو په منځ کې که کوم داسې اختلاف یا قضیه پېښه سوه چې د هغه په نتیجه کې د فساد او فتنې بېره وه، هغه موضوع و الله ﷻ او رسول الله ﷺ ته راجع کېږي، هر څه چې د هغو حکم ؤ په هغه سره فیصله کېږي.

**یوولسمه ماده:** د دغې عهد نامې د افرادو څخه هرڅوک که په مدینه منوره کې وي هم په امان دی او که تر مدینې منورې دباندې ولاړ سي هم په امان دی.

دغه قانون نوري مادې هم درلودلې خو دغه ذکر سوې مادې یې زموږ د بحث دپاره مهمې مادې وې، چې بېله رسول الله ﷺ څخه بل هیڅوک حق نه لري چې تر مدینې منورې دباندې د یو چا سره عهد، اتفاق او قرار داد وکړي، نه یهودو او نه د مدینې منورې نورو مشرانو ته دا اجازه سته چې د خارجي خلکو سره تعهد یا اتفاق وکړي، دا کار فقط په رسول الله ﷺ پورې تعلق لري او یوه ماده هم داسې وه: که د یوه چا د بل چا سره دعوه وه یا یې حق ورسره ؤ، د اسلام او مسلمانانو قانون ته به رجوع کېږي، په مدینه منوره کې بېله اسلامه بل قانون نه عملي کېږي او د قریشو په باره کې معامله ډېره شدیده وه، هغه داسې:

که چیري د قریشو د کفارو څخه کوم څوک دلته راسي نه به ځای ورکول کېږي او نه به ساتل کېږي، په مدینه منوره کې هیڅکله کافر قریش نه پرېښوول کېږي، د دغه امره څخه داسې معلومېدل چې دا د قریشو پر ضد د جنګ اعلان ؤ چې د هغو سره نه صلحه سته نه ګډ ژوند کول، دا هغه قانون ؤ چې رسول الله ﷺ په الهي وحیو سره کښېناوه او اصحاب کرامو ولیکی او بیا د مسلمانانو او همسایه یهودو په منځ کې متفق علیه یا په اتفاق سره د ژوند عملي قانون وګرځېدی.

نن ورځ هم دا ممکنه نه ده چې په یوه وطن یا یوه ځکه کې دې اسلامي حکم او شریعت جاري سي (*یعني په یوه ملک کې تر هغو اسلامي قانون نسته*) ترڅو چې په دغه قانون چې رسول الله ﷺ ایښی دی عمل و نه سي، ځکه په عین وخت کې د اسلامي شریعت احکام هم داسې دي لکه د دغه قانون مادې.

دغه قانون د اسلام پر عدالت دلالت کوي، تاسې ولیدل چې رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یهودو سره د ژوند کولو څومره عادلانه مادې کښېښوولې، که په دغو مادو د یهودو له طرفه عمل سوی وای دا ممکنه وه چې د مسلمانانو او یهودو ژوند ته یې ښې خوږې مېوې راوړې وای، خو بد بختانه پر یهودو هغه خپل د مکَر، چم او خیانت طبیعت غالبه سو او لږ موده وروسته یې هغه مادې چې په دغه عهد نامه کې لیکل سوي وې او دوی پرځان لازمي کړي وې ماتې کړې، د رسول اللهﷺ او مسلمانانو سره یې قِسم قسم خیانتونه وکړه، چې إن شاء الله تعالیٰ په مناسبو وختو کې به په تفصیل سره درته بیان سي.

## په ټولنه کې د دغه اسلامي قانون اثر او تاثیر

رسول اللهﷺ په دغه حکمت او دغه پوهې سره د نوي ټولنې دپاره دغه د مصلحت او حکمته ډک قوانین کښېښوول، خو دغه ظاهري قوانین اصلاً د هغو معانیو اثر ؤ چې مکرم او جلیل القدره اصحابِ کرامو د رسول اللهﷺ په صحبت او ملګرتیا کې حاصلې کړي وې، رسول اللهﷺ خپل اصحاب کرام د مخه تر دغه قانون پر تعلیم او تربیه، د نفسو پر پاکوالي، د ښو اخلاقو په عملي کولو، د ورور ګلوی او محبت، د مجد او شرف، د طاعت او عبادت؛ په ادب مؤدبه کړي وه.

تاسي راسی چې دلته د رسول اللهﷺ ځیني هغه اقوال یا لار ښووني را نقل کړو چې خپلو متابعینو یا پیروانو ته یې د ښه ژوند د حاصلولو دپاره فرمایلي دي، دا ځکه چې اول به موږ د خپل رهبر او پېشوا جنابِ رسول اللهﷺ په دغه ارشاداتو خبر سو او دوهم به یې د خپل ژوند سر مشق او عملي لار وګرځوو، او دریم به مو د هغو جاهلانو او ګمراهانو، بلکه د اسلام د هغو دښمنانو لږ رَد ویلی وي، کوم چې د پخوا څخه تر اوسه پوري پر هغه عظیم الشانه جناب او د الله جل جلاله پر را لېږل سوي رسولﷺ بېځایه او ناوړه نومونه یا القاب ایږدي، خو دا متل موږ ته د پخوا څخه را معلوم دی چې وایي: (د سپي په خوله دریاب نه مرداریږي) یا وایي (د سپو غپا آسمان ته نه رسیږي) یا وایي: ( قافله تېرېږي او سپي غاپي) دغه ټول متلونه د اسلام د هغو دښمنانو د حال سره برابر او موافق دي، چې دوی پر اسلام او د هغه پر پېشوا ناوړه خبري کوي.

تاسي به هغه تهمتي القاب اورېدلي وي چې د ډنمارک ګوروانانو او ګاودارانو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د ثقافت او تمدن هغو پروفیسرانو چي خپلي لوښي، خوندي، او ښځي د سپو او بزوګانو سره ودوي، یا د بشر د حقوقو هغه غداران چي په یوه وار پوره او کامل وطنونه د ښځو او ماشومانو، سپین ږیرو او ځوانانو سره خرابوي او انسانان یې په بې رحمانه قتل سره وژني، یا یې په هغو بندیخانو کي اچوي چي بشریت او انسانیت د هغو په اعمالو سره شرمیږي، تاسي به د دغو نا اهلانو هغه تهمتي القاب اورېدلي وي چي جنابِ رسول الله ﷺ ته یې نسبت کوي، خو اوس د رسول الله ﷺ د دغو لار ښوونو تر اورېدلو وروسته قضاوت تاسي وکړی چي آیا د دغو خلکو خبري او عمل حق دي که نا حق؟

د رسول الله ﷺ څخه یو چا پوښتنه وکړه چي کوم اسلام خیر او بهتر دی؟ ده ﷺ و فرمایل: چي خلکو ته ډوډۍ ورکوې او هر چا ته که یې پیژنې که یې نه پیژنې سلام ور اچوې.

عبدالله بن سلام رضي الله عنه چي په اصل کي یهودي ؤ او بیا مسلمان سو وایي: کله چي رسول الله ﷺ مدینې منورې ته راغلی زه ورغلم، کله چي مي د ده ﷺ مخ ولیدی زه پوه سوم چي دا مخ د درواغجن مخ نه دی او اوله خبره چي رسول الله ﷺ و فرمایل هغه دا وه: اې خلکو! په خپل منځ کي سلام نشر کړی.

یعني: که څوک پېژنی که یې نه پېژنی سلام ور اچوی.

تاسي پوهېږی چي د سلام ویلو څه مقصد او څه معنٰی ده؟

دا چي ته د اول وار دپاره د یو چا سره مخامخ سې او د ده دپاره د الله جل جلاله څخه د سلامتیا غوښتنه کوې او ورته و وایې: پرتا دي سلامتیا او د الله جل جلاله رحمت وي، آیا دا ممکنه ده چي ته دي هغه انسان ته تکلیف یا ضرر ور ورسوې؟ هیڅکله نه.

د اسلامي سلام مفهوم او مقصد دغه دی.

او بیا چي هغه مقابل طرف هم په عین لطف او اطمینان سره تا ته دغسي سلامتیا او الهي رحمت و غواړي، دلته به د ټولني د افرادو په منځ کي څومره حُب او همدردي، څومره سکون او اطمینان پیدا سي او سلام ویل یوازي په خوله سره نه دي، بلکه په عمل کي به دي هم د دغه سلام آثار ښکاره وي.

نو رسول الله ﷺ فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

« أيها الناس! افشوا السلام »

اې خلکو! په خپلو منځو کي سلام نشر کړی.

« واطعموا الطعام »

او خلکو ته ډوډۍ ورکوی.

« وصلوا الأرحام »

او د اقرباوو سره دوستي او همدردي کوی.

« و صلّوا باللّيل والنّاس نيام »

او د شپې چي خلک بيده وي تاسي لمونځ کوی.

« تدخلوا الجنة بسلام »

په سلامتيا سره به جنت ته داخل سی.

تاسي په دغو شلورو جملو کي په غور او دقت سره فکر وکړی!

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايي: هر هغه څوک چي د ده همسايه د ده له آزارو څخه په امان نه وي هغه جنت ته نه داخليږي.

اوس نو ته فکر وکړه: چي زه ستا همسايه يم او ته زما همسايه يې او د همسايه په باره کي د اسلام امر دغه وي، نو که زه او ته په دغه امر سره عمل وکړو هلته به مو څومره آرام او هوسا بلکه له محبته ډک ژوند وي.

رسول الله ﷺ فرمايي: مسلمان هغه څوک دی چي نور مسلمانان د ده د لاس او ژبي له آزاره څخه سالم پاته سي. يعني: د ده له هره شره څخه که د لاس شر وي او که د خولې شر وي خلک په امان وي.

رسول الله ﷺ فرمايي: ټول مومنان لکه يو سړئ، يا ټول مومنان د يوه سړي يا يوه جسد په مثال سره دي، که د يو چا سترګه خوږيدل ټول بدن يې په تکليف وي، که يې سر خوږيدی ټول جسم يې په تکليف وي، يعني: که په مسلمانانو کي يوه سړي ته مشکل پيښ ؤ، ټول مسلمانان بايد ور سره په تکليف سي او ټول د ده د تکليف د ليري کولو دپاره کوښښ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ﷺ فرمايي: مومن د مومن دپاره داسي مثال لري لکه د دېوالهخښتي چي يوه په بله ټينګيږي.

په پښتو کي متل دی وايي: که تا ويل: چي زه يم او ما ويل: چي زه يم، نه به ته يې نِه به زه يم، که تا ويل: چي ته يې او ما ويل: چي ته يې، هم به زه يم هم به ته يې.

رسول الله ﷺ فرمايي: يو د بل سره بُغض مه کوی، حسد مه سره کوی، دسيسې مه سره جوړوی بلکه د الله جل جلاله بندګان او يو د بل سره ورونه اوسی او مسلمان ته دا نه ده روا چي د بل مسلمان ورور سره تر درې ورځي زيات خبري بندي کړي.

رسول الله ﷺ فرمايي: مسلمان د مسلمان ورور دی نه ظلم ور سره کوي او نه يې دښمن ته تسليموي او هر هغه څوک چي د خپل ورور د حاجت په اجراء کولو کي کوښښ کوي الله جل جلاله به د ده حاجت ور پوره کړي، که چا د يوه مسلمانه يو تکليف ليري کړی الله جل جلاله به د قيامت د ورځي د تکاليفو څخه يو تکليف د ده څخه ليري کړي، که چا د يوه مسلمان پَرده وکړه الله جل جلاله به د قيامت په ورځ دده پَرده وکړي.

رسول الله ﷺ فرمايي: پر هغه چا رَحم وکړی چي په مځکه کي دي، هغه څوک به درباندي ورحميږي چي په آسمان کي دی.

رسول الله ﷺ فرمايي: هغه څوک مومن نه دی چي دئ ځان مړوي او ښځنګ ته يې همسايه وږی وي.

رسول الله ﷺ فرمايي: مسلمان ته بد ويل فسق دی او جنګ ور سره کول کفر دی.

رسول الله ﷺ د لاري څخه د آزار د شي ليري کول، لکه سيښه، ډبره، مېخ، د کېلې پوستکی او داسي نور صدقه بللې ده او د ايمان د حصو څخه يې يوه حصه بللې ده.

رسول الله ﷺ خلک د خيرات و ورکولو ته تشويقول او د خيرات داسي فضائل يې ورته بيانول چي د خلکو په زړو کي خيرات خوښ ګرځېدی.

رسول الله ﷺ فرمايي: صدقه او خيرات ګنهونه داسي پټوي لکه اوبه چي اور وژني. (تاسي پوهېږی چي صدقه رَحم پر غريبانو دی)

رسول الله ﷺ فرمايي: هر مسلمان که بل مسلمان ته د لڅوالي په وخت کي کالي ورکړه الله جل جلاله به د جنت کالي په واغوندي. هر مسلمان که بل مسلمان ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوږه کي خواړه ورکړه الله جل جلاله به د جنت د مېوو څخه خواړه ورکړي او هر مسلمان که تږی مسلمان اوبه کړی الله جل جلاله به رحیق مختوم په وڅښي.
(رحیق مختوم) د جنت خوندور شربت دي.
رسول الله ﷺ فرمايي: خپل ځانونه د دوږخ له اوره وساتی که څه هم د نیمي خرما (کجور) په خیراتولو سره وي، که خرما و نه لری نو په ښه خوږه خبره سره.
یعني: یو له بله سره پستې او خوږي خبري کوی.
او پر دغو تېولو ارشاداتو سر بېره رسول الله ﷺ خلک و عفت او نه سوال کولو ته دعوتوي، د صبر او قناعت فضائل ورته بیانوي او فرمايي: که چا فقر او سوال کاوه د قیامت په ورځ به یې پرمخ غوښي نه وي، البته د دې حکمه څخه هغه سوال مُستثنی دی چي د ډېر ضرورت په وخت کي له چا څخه یو شئ وغواړي.
رسول الله ﷺ د دغو لارښوونو تر څنګ خپل اصحاب کرام عباداتو او هغه اجر او ثوابو ته تشویقول چي د الله جل جلاله سره وه، په دغو لارښوونو او ارشاداتو سره رسول الله ﷺ د خپلو اصحاب کرامو معنویات او مواهب دومره ورپورته کړل چي د بشر په تاریخ کي پس له انبیاء علیهم السلام څخه د کمال و هغه لوړي درجې ته ورسېدل.
عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وايي: که څوک غواړي چي د یو چا متابعت وکړي او د هغه پر لار ور سره ولاړ سي نو دي د هغه چا پر طریقه رهي سي چي هغه پر اسلام او پر سمه لار وفات سوی وي ځکه ژوندي خلک د فتنې او اوښتلو څخه نه دي په امان، نو د رسول الله ﷺ اصحاب د دې امت افضله انسانان وه، زړونه یې پاک وه، په علم کي عمیق وه، دنیوي کاروبار یې لږ ؤ، الله جل جلاله د خپل نبي د صحبت او د دین د اقامت دپاره اختیار کړي وه، د هغو فضیلت وپېژنی، د هغو د لاري متابعت وکړی، څومره چي مو په وسه پوره وي د هغو اخلاق او عادات اختیار کړی هغه پر مستقیمه لار وه.
او بیا په خپله رسول الله ﷺ د ټول امت قائد اعظم داسي ظاهري او معنوي کمالات درلودل، داسي مجد او فضیلت یې درلودی، داسي ښه اخلاق او ښه خویونه یې درلودل، چي زړونه ورکښېدل او ځانونه تر قربانېدل، چي یوه خبره به یې نه وه کړي صحابهٔ کرامو به د هغې پر عملي کولو تلوار کاوه، د خیر په کارو کي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رقابت او منافسه سره کول.

نو رسول الله ﷺ په دغه عالي اوصافو سره وکولای سوای چي په مدینه منوره کي یوه نوې د مجد او شرف داسي ټولنه جوړه کړي چي په تاریخ کي یې مثل نه لیدل کیږي او د دغي نوي ټولني د مشکلاتو د لیري کولو دپاره داسي حل پیدا کړي چي یو انسان په راحت سره ژوند پکښي وکړي، دا هم په داسي وخت کي چي د هغه وخت انسانانو د جهالت په تاریکیو کي ژوند کاوه، خو په دغو لار ښوونو او په دغو لوړو معنویاتو دِ دغي نوي ټولني عُنصرونه پوره سوه او د وخت د ټولو مشکلاتو په مخ کي ودرېدل، د ورځو او تاریخ مخ یې سمي لاري ته واړاوه.

## د مدینې منورې د یهودو سره معاهده

پسله هغه څخه چي رسول الله ﷺ په مدینه منوره کي د نوي اسلامي ټولني اساس ټینګ او مظبوط کړی د مسلمانانو په منځ کي یې عقیدوي، سیاسي او نظامي وحدت را وستی، نو یې دا ښه او غوره و بلل چي د غیر مسلمینو سره هم منظم علاقات ولري او له دې کاره یې مقصد دا ؤ چي ټول بشریت په أمن او سلام، خیر او سعادت کي ژوند وکړي او دغه منطقه په یوه اتحاد کي منظمه سي، او هلته په هغه منطقه کي چي په تعصّب او نفاق سره ډکه وه د عفوي او بخښني طریقه کښېښوول سي، لکه د مخه چي مو درته و ویل: هغه غیر مسلمین چي مدینې منورې ته نژدې پراته وه هغه یهود وه، دغو یهودو که څه هم پټ په زړو کي د مسلمانانو سره عداوت درلودی مګر تر اوسه پوري یې هیڅ مقاومت او دښمني نه وه ښکاره کړي، نو رسول الله ﷺ د یهودو سره هم یوه خاصه معاهده ولیکل یا په بل عبارت د یهودو دپاره یې هم د دوی په خوښه او اتفاق یو قانون ولیکی چي په هغه قانون کي یې یهودو ته دیني او مالي مطلقه آزادي ورکړې وه او رسول الله ﷺ د دوی دپاره د فِراره کولو، یا د مالو د مصادره کولو، یا د دښمنۍ هیڅ سیاست نه ؤ اختیار کړی او دغه قانون د هغه قانون تر څنګ ؤ چي په خپله د مسلمانانو تر منځ لیکل سوی ؤ، چي د هغه قانون مهمي مادې مو درته بیان کړې او اوس به د یهودو سره د لیکل سوي قانون یا معاهدې مهم ټکي درته بیان سي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ - د بني عوف يهود د مسلمانانو سره يو امت دی، د يهودو خپل دين دی او د مسلمانانو خپل دين دی، د دوی مريان او د دوی ځانونه د دوی دي او په دوی پوري اړه او تعلق لري.

۲ - يهود خپل خرڅ او مصرف کوي او مسلمانان خپل خرڅ او خپل مصرف کوي.

۳ - يهود او مسلمانان به يو د بل مرسته د هغه چا په مقابل کي کوي چي د دوی سره جنګ کوي يا پر دوی تجاوز او تيری کوي.

۴ - يو سړئ د بل حليف په ګناه نه نيول کيږي او د مظلوم به مرسته کيږي.

۵ - تر کومه وخته چي مسلمانان په جنګ کي وي يهود د مسلمانانو ملګري دي.

٦ - که د دغه عهد نامې د خلکو په منځ کي يوه داسي شخړه يا اختلاف پېښ سو چي د هغه شخړه د شر او فساد د پيښېدلو بېره موجوده وه هغه موضوع به الله ﷻ او رسول الله ﷺ ته محول کيږي. (يعني د هغې موضوع فيصله به په الهي قانون سره کيږي)

۷ - قريشو او هغو کسانو ته چي د قريشو نصرت کوي جِوار نه ورکول کيږي.

۸ - مسلمانان او يهود به يو د بل سره د هغه چا په مقابل کي مرسته کوي چي پر مدينه منوره حمله کوي او پر هر چا د هغي حصې ساتنه لازمه ده چي د دوی و طرف ته وي.

۹- دغه عهد نامه بېله ظالمه او ګناهکاره بل څوک نه ماتوي.

يعني: هر چا که دغه عهد نامه ماته کړه هغه ظالم او آثم دی او جزاء ورکول کيږي.

د دغي عهد نامې په ليکلو سره مدينه منوره او د هغې شا وخوا داسي وګرځېدل لکه يو وفاقي دولت يا فدرالي حکومت چي مرکز او پايتخت يې مدينه منوره سو او د دغه حکومت رئيس: که چيري دغه تعبير صحي وي رسول الله ﷺ دی، حکم او امر په دغه حکومت کي د مسلمانانو دی، نو په دغه عهد نامه سره مدينه منوره د اسلام دپاره يو حقيقي او واقعي مرکز او پايتخت وګرځېده او د دې دپاره چي د أمن او سلام منطقه نوره هم پراخه سي رسول الله ﷺ په را تلونکو وختو کي د نورو قبائلو سره هم د وخت له مراعته سره سم دغسي معاهدې کړي او ليکلي دي، چي په راتلونکو بحثو کي به پر خپل ځای درته بيان سي.

# تر هجرت وروسته د قريشو دسيسې

موږ مخ کې هغه تکاليف او آزارونه درته بيان کړل چې د مکې مکرمې کفارو پر مسلمانانو تېرول او د دوی هغه عملونه هم در معلوم سوه چې د هجرت په وخت کې يې د مسلمانانو سره وکړه چې د هغو اعمالو په سبب د مکې مکرمې کفار د دې وړ وګرځېدل چې جنګ ور سره وسي او مالونه يې مصادره کړل سي خو دوی پرهغه اعمالو سر ښېره بيا هم هغه خپل عداوت نه پرېښاوه او د غفلت له خوبه نه را ويښېدل، بلکه په دې ډېر خواشيني وه چې مسلمانان ولې د دوی له عذابو څخه خلاص سوه او ولې يې په مدينه منوره کې د امان ځای پيدا کړی، نو يې عبدالله بن اُبئ بن سلول ته هغه چې مشرک ؤ او د انصارو رئيس بلل کېدی-

*(که رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت نه وای کړی او انصارو ايمان نه وای راوړی قريبه وه چې اهل مدينه دغه عبدالله پر خپلو ځانو پاچا ګرځولی وای).*

نو قريشو دغه عبدالله بن اُبئ او د ده مشرک ملګرو ته خط وليکی چې ورته ليکلي يې وه: تاسي زموږ سړي ته (يعني رسول الله ﷺ ته) ځای ورکړی، موږ په الله سره قسم يادوو چې يا به جنګ ور سره کوی او له خپله ښاره به يې باسی يا به موږ ټول پر تاسي حمله کوو، تاسي به وژنو او ښځي به مو بنديانې نيسو.

د دغه ليک په رسېدلو سره عبدالله بن اُبئ إراده وکړه چې د مکې مکرمې د مشرکانو امر پرځای کړي، دا ځکه چې يو خو ده په خپله د رسول الله ﷺ سره ذاتي حسد او عداوت درلودی ځکه ده دا فکر کاوه چې رسول الله ﷺ د ده پاچهي د ده څخه اخيستې ده او بل د قريشو له طرفه دغه امر هم ورته راغلی.

عبدالرّحمٰن بن کعب رضي الله عنه وايي: کله چې عبدالله بن اُبئ او د ده بت پرستو ملګرو ته دا امر ورسېدی، خپل نفري يې د رسول الله ﷺ د جنګ دپاره سره را ټول کړه.

رسول الله ﷺ چې په دغه واقعه خبر سو نو ورغلی او ورته يې فرمايل: د قريشو د جنګ وعدې دغه حال ته ورسولاست؟ قريش دومره ضرر نه سي در رسولای لکه دغه اوس چې يې تاسي په خپله خپلو ځانو ته رسوی، تاسي غواړی چې د خپلو ورونو او اولادو سره وجنګېږی؟ هغو چې د رسول الله ﷺ دغه خبري واورېدې بيرته سره وپاشل سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او عبدالله بن اُبيّ په دغه وخت کي د جنګ إراده پرېښوول. خو دا معلومه خبره وه چي عبدالله همېشه د قریشو ملګری او طرفداره ؤ، هر وخت چي به دا موقع په لاس ورغله چي مسلمانان او مشرکان په جنګ سره اخته کړي ده به خپل تول کوښښونه کول او په دغه کار کي یهودو هم د ده مرسته کول، مګر هلته د حکیم نبي ﷺ حِکمتونه وه چي د دوی د شر او شیطانت اورونه یې هر وخت په پوره حکمت سره وروژل.

په دغه وختو کي سعد بن معاذ ﷺ د عمرې د آداء کولو دپاره مکې مکرمې ته ولاړی او هلته د پخواني شناخت او تعلق په سبب د اُمیه بن خلف کور ته ورغلی او بیا یې اُمیه ته و ویل: زما دپاره داسي فارغه وخت وګوره چي زه پر کعبه شریفه طواف وکړم، اُمیه هم د غاښت په وخت کي د طواف دپاره را وایستی خو په لار کي ابوجهل په مخه ورغلی، ابوجهل ویل: یا ابا صفوان! دغه څوک در سره دی؟

هغه ویل: دا د اهل یثرب سعد بن معاذ دی.

ابوجهل و سعد ﷺ ته و ویل: ګمان نه کوم چي په أمن سره دي پر کعبه طواف وکړې ځکه تاسي هغه د دینه وتلو خلکو ته ځای ورکړی دی او تاسي دا عزم کړی دی چي د هغو نصرت او کومک وکړی، په والله که دغه ابو صفوان نه وای در سره خپل کور ته به سالم نه وای تللی.

سعد بن معاذ ﷺ په لوړ آواز ورته و ویل: په والله که ته ما له طوافه منعه کړې زه به تا له داسي شي څخه منعه کړم چي هغه و تا ته تر دغه سخت تمامیږي، ستا تجارتي لار پر اهل مدینه ده.

## کافر قریش، مهاجر مسلمانان تهدیدوي

د مکې مکرمې کافر قریشو یوازي په دې سره کفایت و نه کړی چي د مدینې منورې و مشرکانو او منافقانو ته لیکونه ولیږي بلکه مهاجر مسلمانانو ته یې هم حال ولیږی چي تاسي په دې مه خطاوزی چي یثرِب ته ولاړاست او زموږ څخه خلاص سواست موږ به هلته پسي درسو او د خپلو کورو په منځ کي به مو نېست او نابود کړو؛

دغه خبري یوازي تهدیدونه او وعدې نه وې بلکه رسول الله ﷺ ته د قریشو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خیانت او د شَر د اِرادې حالات ورمعلوم وه نو ځکه رسول الله ﷺ او مسلمانانو به شپې په بیدارۍ، پیرو او ګزمو تېرولې.

امام مسلم د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت کوي چې وایي: د مدینې منورې په اولو شپو کې به رسول الله ﷺ د شپې وېښ ؤ، یوه شپه یې و فرمایل: کشکې زما د اصحابو څخه یو صالح سړئ نن شپه پر ما پیره وکړي، وایي: موږ دالته سره ناست ؤ چې د اسلحې شرنګئ مو واورېدی، رسول الله ﷺ ویل: څوک یې؟ هغه ویل سعد بن أبي وقاص، رسول الله ﷺ ورته و ویل: د څه شي دپاره راغلې؟ ویل زما په زړه کې پر رسول الله ﷺ بېره را ولوېده راغلم چې پیره پر وکړم، رسول الله ﷺ دعاء ورته وکړه او بیا بیده سو.

داسې نه وه چې دغه پیرې ځینې شپې وې او ځینې شپې نه وې بلکه دا د رسول الله ﷺ او مسلمانانو دپاره همېشنئ او پرله پسې کار ؤ، د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې پر رسول الله ﷺ د شپې پیرې کېدلې، تر څو چې د الله جل جلاله دا قول نازل سو چې فرمایي:

﴿وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ﴾ [المائده: ٦٧]

ژباړه: الله جل جلاله دي له خلکو څخه ساتي.

نو رسول الله ﷺ د هغه خېلې کوټې څخه سر را وایستی او وې فرمایل: اې خلکو زما څخه ولاړ سی الله جل جلاله زه وساتلم.

د مکې مکرمې د مشرکانو له طرفه یوازې رسول الله ﷺ ته خطر نه ؤ متوجه بلکه ټول مسلمانان په خطر کې وه، د أبئ بن کعب رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: کله چې رسول الله ﷺ او د ده اصحاب مدینې منورې ته راغله او انصارو ځای ورکړی، ټولو عربو د یوه قوس څخه ویشتل.

یعني: ټول عرب یې یو قسم دښمنان وه او ټولو په یوه سترګه ورته کتل، نو ځکه مسلمانانو شپه بېله اسلحې نه تېرول او د ورځې بېله اسلحې نه ګرځېدل یعني: د شپې او ورځې به اسلحه ور سره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په جنګ او قتال سره الهي اجازه

د دغه خطرناکو حالاتو په جریان کي کوم چي په مدینه منوره کي یې د مسلمانانو وجود په خطر کي اچولی ؤ او د قریشو پردغه حال یې دلالت کاوه چي دوی هیڅکله د غفلت له خوبه نه را ویښیږي او د خپلو سرکښیو څخه لاس نه اخلي. الله جل جلاله مسلمانانو ته په جنګ کولو سره اجازه وکړه، دا فقط اجازه وه د جهاد فرضیت نه ؤ، الله جل جلاله فرمایي:

﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ۝٣٩﴾ [الحج: ۳۹]

ژباړه: هغو کسانو ته د جنګ اجازه ورکول سوې ده چي د دوی سره د کفارو له طرفه جنګ کیږي، دا هم په دې سبب چي پر دوی ظلم کیږي او بېشکه چي الله جل جلاله د دوی پر نصرت او کومک قادر دی.

کله چي دغه د جنګ کولو اجازه نازله سوه په دغو وختو کي هغه یواځنۍ لوی او سرکښه قوت چي مسلمانانو ته متوجه ؤ هغه د قریشو قوت ؤ، نو حکمت دا ؤ چي مسلمانان خپله سیطره او تسلط پر هغو لارو قائم کړي چي هغه د مکې مکرمې څخه و شام ته د قریشو د تجارت لارې وې او رسول الله ﷺ د دغو لارو د سیطرې دپاره دوه عمده کاره یا دوې نقشې عملي کړې.

**اول دا چي**: رسول الله ﷺ د هغو قبیلو سره چي د دغو لارو پر شا وخوا پرتې وې یا د مدینې منورې څخه تر دغو لارو پورې پرتې وې، د حِلف یا یو پر بل د نه تجاوز کولو معاهدې ولیکلې، لکه څرنګه چي د مخه د یهودو سره دغسې معاهده لیکل سوې وه دغه رنګه د مخه تر دې چي عسکري نشاط یا عسکري تحرکات او ګزمې شروع سي د (جُهَینه) د قبیلې سره داسې معاهده ولیکل سوه چي یو پر بل به تېرئ او تجاوز نه کوو، د جُهَینه د قبیلې کورونه د مدینې منورې څخه درې میله لیرې پراته وه.

همدارنګه رسول الله ﷺ د نورو قبیلو سره هم نوري د نه تجاوز کولو معاهدې د خپلو عسکري ګزمو او ګښتو په ترځ کي ولیکلې چي پر خپل وخت به درته بیان سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم دا چي:** رسول الله ﷺ دغه د قریشو تجارتي لارو ته پرله پسې معلوماتي ډلي لېږلې، نو د دغو دوو نقشو د عملي کولو دپاره په مسلمانانو کي عسکري نشاط او تحرکات شروع سوه، لیري لیري پیرې او ګزمې شروع سوې،البته دغه کارونه پسله هغه الٰهي اجازې څخه وه چي د جنګ دپاره ورکول سوه.

## هغه غزاوي او سریې چي تر بدر د مخه پیښي سوي دي

دغه یوه شي ته همېشه متوجه اوسی:

د سیرت یا اسلامي تاریخ په کتابو کي هر هغه جنګ ته چي په خپله رسول الله ﷺ وتلی وي (که جنګ سوی وي که نه وي سوی) هغه ته (غزاء) ویل کیږي.

او هر هغه جنګ ته چي رسول الله ﷺ نه وي وتلی بلکه د خپلو قومندانانو څخه یې یو څوک د یوې ټولۍ سره لېږلی وي هغه ته (سَرِیَه) ویل کیږي.

اوس چي مسلمانانو په عسکري حرکت شروع وکړه دغه حرکتونه یې فقط د هغه استطلاعاتي یا استخباراتي ګښتو یا ګزمو په شکل سره وه یعني: د معلوماتو دپاره دورې او ګزمې وتلې، د دغه تلو او راتلو څخه د مسلمانانو مقصد دا ؤ چي پر مدینه منوره را ګرځېدلي لارې ور معلومې سي او هغه لارې ور معلومې سي چي مکې مکرمې ته ځي او د هغو قبیلو سره د صلحې معاهدې ولیکي چي د دغو لارو پر شا وخوا پرتې دي.

او په عین وخت کي د مدینې منورې مشرکان او یهود او د شا و خوا هغه صحرایي عرب چي مشرکان وه او پر دوی را ګرځېدلي وه په دې پوه کړي چي مسلمانان قوي دي او د هغه پخواني ضعفه څخه خلاص سوه.

او په عین وخت کي قریشو ته هم اخطار ورکړي چي د غفلت له خوبه را ویښ سي او ممکن قریش پر خپل تجارت او اقتصاد دغه خطر حس کړي او د صلحې لار اختیار کړي دغه قصد او إراده پرېږدي چي د مدینې منورې مسلمانان د خپلو کورو په منځ کي و وژني او د هغه ضعیفه مسلمانانو چي په مکه مکرمه کي پاته دي آزارول پرېږدي او مسلمانان د خپل رسالت د رسولو دپاره په جزیرةُ العرب کي حُر او آزاد پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به د دغه لړل سوو سَرِیو حالات په اختصار سره درته بیان سي:

**اوله سریه:** چي سریهٔ سیفُ البحر ورته ویل کیږي (سیفُ البحر) د هغه ځای نوم دی چي دغه ټولۍ هلته ولاړل. (نو ځکه په دغه نامه سره و بلل سوه)

د هجرت په اول کال د روژې په میاشت کي چي د (۶۲۳) میلادي کال د مارچ میاشت وه رسول الله ﷺ یوه ټولۍ یا سریه جوړه کړه چي شمېر یې (۳۰) نفره ؤ او ټول مهاجرین وه او د دغي ټولۍ مشر یا قوماندان سیدنا حمزه بن عبدالمطلب ﷺ د رسول الله ﷺ اکا ؤ، د دغي ټولۍ بیرغ سپین او د بیرغ اخیستونکی (ابا مرثد بن کناز بن حصین الغنوي) ؤ، د دې ټولۍ وظیفه دا وه: چي د قریشو پر هغه قافله حمله وکړي چي له شامه را رهي سوې وه او درې سوه نفره ور سره ملګري دي، د دغي قافلې مشر ابوجهل ؤ دا هغه اوله ټولۍ ده چي په اسلام کي جوړېږي، حمزه ﷺ د دیرشو نفرو مهاجرینو سره د قافلې و طرف ته رهي سو او هلته د سیف البحر په منطقه کي د قافلې سره مخامخ سو دواړه طرفه د جنګ دپاره مخ په مخ سره و درېدل، دا ممکنه وه چي د قافلې د خلکو او مسلمانانو په منځ کي جنګ پېښ سي مګر مَجدي بن عَمرو الجُهَني چي د دواړو طرفو سره یې د صلحي او نه تجاوز تعهد درلودی خپل قوم یې د قافلې او د مسلمانانو د ټولۍ په منځ کي و دراوه ویل: زه نه غواړم چي زموږ په مځکه او منطقه کي جنګ پېښ سي او قافلې ته یې د تېرېدلو اجازه ورکړه.

نو د حمزه ﷺ ټولۍ څه و نه کړه، ځکه حمزه ﷺ یوازي په دې سره امر کړل سوی ؤ چي قافله را وګرځوي، دا اجازه نه وه ورکول سوې چي د بل چا سره جنګ وکړي او بل دغه مجدي د مسلمانانو حلیف هم ؤ، یعني د ده او د مسلمانانو په منځ کي د نه تعارض معاهده موجوده وه نو د دغه مجدي بن عَمرو په واسطه د قریشو قافله صحي سالمه ولاړل.

دغه واقعه د هجرت په اول کال د رمضان المبارک په میاشت کي وه چي په دغه وخت کي لا روژه نه وه فرض سوې، نو د جهاد اجازه د هجرت په اول کال کي سوې ده او اوله واقعه هم د روژې په میاشت کي وه، د دغه ځخه موږ ته دا رامعلومه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د روژې میاشت د راحت او تنبلی، خوب او خورک میاشت نه ده، بلکه د روژې میاشت د زحمت او طاعت، جهاد او عبادت میاشت ده او په را تلونکو بحثو کي به تاسي و وینی چي د اسلام لويي لويي واقعې او فتوحات په روژه کي پيښ سوي دي حتّی د اسلام اوله ټولۍ او اول جهادي بيرغ د روژې په میاشت کي وه.

**دوهمه سريه**: چي سريهٔ رابغ ورته ويل کيږي (رابغ و جدې ته نژدې د يوه ځای نوم دی) د دغي ټولۍ لېږل د هجرت د اول کال د شوال په میاشت کي وه، روژه تېره سوه د شوال په میاشت کي رسول اللهﷺ يوه بله ټولۍ د عبيده بن الحارث بن عبدالمطلبؓ په مشرۍ جوړه کړه، چي دغه عُبيده د رسول اللهﷺ د اکا زوی دی.

رسول اللهﷺ د دغو ټوليو مسئوليت او مشرتوب د دې دپاره د خپلو اقرباوو پر غاړه ور اچاوه چي د رسول اللهﷺ جنګ د قريشو سره ؤ، نو يې غوښتل چي د مسلمانانو د ټوليو افراد خاصتاً قومندانان هم قريش وي، بل چا ته يې دغه مشرتوب په دې سبب نه ورکاوه چي خلک پوه سي چي دغه جنګونه او اختلافونه د يوې او بلي قبيلې په منځ کي نه دي بلکه دواړه طرفه يوه قبيله ده، دلته د دين او عقيدې اختلاف دی په ديني او عقيدوي مسائلو کي دوست، قوم او قبيله اعتبار نه لري.

قصه داسي وه: چي رسول اللهﷺ ته خبر راغلی چي د قريشو يوه بله قافله د ابوسفيان په مشرۍ را رهي سوې ده او د دې قافلې سره دوه سوه نفره ملګري دي، رسول اللهﷺ عُبيده بن الحارث بن عبدالمطلب امر کړی چي ټولۍ جوړه کړه، دا وار شپېته نفريزه ټولۍ جوړه سوه او د ټولۍ ټول افراد مهاجر مسلمانان وه، ټولۍ جوړه سوه او د قافلې پر طرف رهي سوه، د دغي ټولۍ بيرغ سپين او د بيرغ اخيستونکی مُسطح بن اثاثه بن مطلب بن عبد منافؓ ؤ، څرنګه چي ابوسفيان د مخه لا د دغسي حملې دپاره ځان آماده کړی ؤ، نو يې وکولای سوای چي د مسلمانانو څخه قافله خلاصه کړي او هغه يې هم په دې ډول سره خلاصه کړل:

ابوسفيان د قافلې د تېرېدلو د لاري په مخ کي غشي ويشتونکي کېښنولي وه او د غشو ويشتونکو تر شا د قافلې د تېرېدلو لار وه، نو غشو ويشتونکو به د مسلمانانو پر ټولۍ د غشو وارونه کول او مسلمانان د غشو په سبب نه سوای ور د مخه کېدلای او هلته تر شا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قافله تېره سوه، په دغه طریقه سره د مشرکانو قافله د مسلمانانو د حملې ځخه خلاصه سوه چې په نتیجه کې د مسلمانانو او کفارو په منځ کې په غشو ویشتل وسوه مګر نور جنګ نه سو پېښ، خو په دغه سریه کې د مکې مکرمې د کفارو د ډلې ځخه دوه نفره د مسلمانانو سره ملګرې سوه چې د دغو دوو نفرو ځخه یو مِقداد بن عَمرو البهراني ؤ، چې مقداد بن الاسود هم ورته ویل کیږي او بل یې عتبه بن غزوان المازني ؤ چې دوی اصلاً مسلمانان وه او د کفارو په قافله کې د همدغه مقصد دپاره ورسره را وتلي وه چې مسلمانانو ته ځان ورسوي او د هغو سره یو ځای سي.

**دریمه سریه:** چې سریهٔ الخَرار ورته ویل کیږي (خَرار) جُحفې ته نژدې د یوه ځای نوم دی، د هجرت په اول کال د ذوالقعدې په میاشت کې رسول الله ﷺ یوه شل نفریزه ټولۍ جوړه کړه چې دا ټولۍ هم ټول مهاجرین وه، د ټولۍ مشر او قوموندان سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه ؤ، د دغې ټولۍ بیرغ سپین او اخیستونکی یې مِقداد بن عَمرو رضي الله عنه ؤ، دا ټولۍ هم د قریشو یوې قافلې ته ولېږل سوه او ټولۍ ته وویل سوه چې تر خرار به نه تېرېږی، دغه ټولۍ پر پښو او پیاده ور رهي سوه، د ورځې به پټېدل او د شپې به یې تګ کاوه، دغه ټولۍ د پنجشنبې په ورځ خرار ته ورسېدل او هلته خبر سوه چې قافله پرون لا تېره سوې ده نو په دې وارکې هم جنګ نه سو پېښ.

په دغه وختو کې د مکې مکرمې ځخه خبر راغلی چې د قریشو لوی سردار او د مکې مکرمې ډېر لوی مشر او د رسول الله ﷺ لوی دښمن ولید بن المغیره مړ سو، چې دغه ولید د خالد بن ولید پلار ؤ، نو ولید نه د بدر په جنګ کې ګډون کړی دی نه په نورو جنګو کې ځکه دیٔ تر دغو جنګو د مخه مړ سو.

**د اَبواء یا ودان غزا:** د دغو درو ټولیو تر لېږلو وروسته د هجرت په دوهم کال د صفري په میاشت کې رسول الله ﷺ په خپله په یوه غزاء و وتی او دغه غزاء ته غَزوهٔ الأبواء یا غزوهٔ الوَدان ویل کیږي (ودان) د مکې مکرمې او مدینې منورې په منځ کې د یو ځای نوم دی او (أبواء) و ودان ته نژدې د بل ځای نوم دی.

نو دا د رسول الله ﷺ اوله غزاء ده چې د هجرت د دوهم کال د صفري په

(c) ketabton.com: The Digital Library


میاشت کې وه، تاسې ته معلومه ده چې تر دغه غزاء د مخه د سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه ټولۍ وه چې هغه د هجرت د اول کال د شوال په میاشت کې وه، څرنګه چې تر شوال وروسته ذوالقعده داخله سوه او هغه د حرامو میاشتو څخه وه نو جنګ پاته سو، ذوالقعده، ذوالحجه او محرّم درې سره هغه میاشتې وې چې جنګ پکښې منعه او حرام ؤ نو ځکه په دغو درو میاشتو کې کومه غزاء یا سریه یا جنګ نه دي پېښ سوي، کله چې دغه درې حرامي میاشتې تیرې سوې او جنګ جائز سو نو سمدستي په خپله رسول الله ﷺ د مهاجرینو څخه (۷۰) نفریزه لښکر جوړکړی غواړي چې د قریشو پر یوه قافله حمله وکړي تر څو چې ودان ته ورسېدی، څرنګه چې قافله د بني ضُمره د قبیلې په منطقه کې وه، دلته عَمرو بن مخشي الضُمري چې د بني ضُمره د مشرانو څخه ؤ خپل قوم د قافلې او مسلمانانو په منځ کې و دراوه او قافله تېره سوه، دغه عَمرو د رسول الله ﷺ څخه د دوستۍ او نه تجاوز د معاهدې غوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ هم دغه د ده غوښتنه قبوله کړه او داسې معاهده یې ور سره ولیکل:

دا د محمّد رسول الله ﷺ له طرفه د بني ضُمره د قبیلې سره عهد دی چې دوی پر خپلو مالو او ځانو په امان دي او مور د هغه چا په مقابل کې د دوی مرسته کوو چې پر دوی حمله وکړي، بېله هغه وخته چې دوی د الله د دین سره و جنګیږي او که رسول الله ﷺ له دوی څخه مرسته وغوښتل دوی به یې مرسته کوي.

په دغه غزاء کې رسول الله ﷺ پنځلس ورځې تر مدینې منورې دباندي تیرې کړې، د دغې غزاء بیرغ سپین او اخیستونکی یې حمزه رضي الله عنه ؤ.

**د بُواط غزاء:** د هجرت د دوهم کال د ربیع الأول په میاشت کې دوهم وار بیا په خپله رسول الله ﷺ په غزاء و وتی چې دا د رسول الله ﷺ دوهمه غزاء ده او (غزوةُ البُواط) ورته ویل کیږي. بُواط د جُهَینه د غرو څخه یو غر دی چې د شام ولاري ته نژدې دی، دا وار د رسول الله ﷺ سره دوه سوه نفره سپاره ور سره وه چې په دغه وخت کې د مسلمانانو هغه لوی لښکر دغه ؤ او د دې غزاء څخه بیا هم د قریشو یوه قافله مقصد وه چې دوه زره او پنځه سوه اوښان پکښې وه او د دغې لویې قافلې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


فقط سل نفره ساتونکي ملګري وه، د دې قافلې مشر اُمیه بن خلف الجُمحي ؤ، مګر دغه قافله هم د مسلمانانو د حملې څخه خلاصه سوه ځکه قافلې ته مخ کي لا خبر رسېدلی ؤ او لارېې واړول قافله تېره سوه او جنګ نه سو پېښ.

د دغه اسلامي لښکر بیرغ سپین او د بیرغ اخیستونکی سعد بن أبي وقاص ﷺ ؤ.

**د سفوان غزاء:** د هجرت د دوهم کال د ربیع الأول په میاشت کي کِرز بن جابر الفهري د مشرکانو د قواوو په ملګرتیا په پټه د مدینې منورې پر اطرافو کوم چي هلته د اهلِ مدینې باغونه وه او حیوانات یې ګرځېدل حمله وکړه، د باغو څخه یې خرما یا کجور او مېوې ور سره واخیستل او ځیني حیوانات یا مواشي یې ور سره بوتله او د انصارو څخه یې یو نفر چي په خپل کښت کي یې کار کاوه شهید کړی او دغه د کِرز بن جابر ډله بیرته وتښتېدل خو هلته چغې او نارې جوړې سوې، کله چي رسول الله ﷺ دغه نارې واورېدې سمدستي پر خپل آس سپور سو او هغه طرف ته ور رهي سو، اصحابِ کرامو واورېدل چي رسول الله ﷺ هغې خوا ته ولاړ نو هر یوه کوښښ کاوه چي ژر هغه طرف ته رهي سي، هر یو ځان تیاروي او رهي کیږي نو خود پاشلي او یو یو پر هغه طرف ور رهي دي ځکه یو یو په واقعه خبرېږي، په دغه حال کي د مسلمانانو (۷۰) نفریزه لښکر جوړ سو په کِرز او د هغه په قواوو پسي ور و وتی، کِرز چي تر شا په ځان پسي نفر ولیدل هغه خرما چي ده ور سره اخیستې وه هغه یې غورځول او غواړي چي ځان خلاص کړي او هغه اول نفر چي په ده پسې دی او تعقیبوي یې هغه په خپله رسول الله ﷺ دی ترخو چي د بدر سره و یوې شیلې ته ورسېدی چي و دغي شېلې ته (سفوان) ویل کیږي او ځان یې خلاص کړی نو د دغي غزاء نوم هم (غزوة سفوان) سو مګر د مسلمانانو لښکر په کِرز پسي نه ور ورسېدی او بېله جنګه بیرته را وګرځېدل، دغي غزاء ته د بدر اوله غزاء هم ویل کیږي، په دغه غزاء کي د مسلمانانو بیرغ سپین او اخیستونکی یې علي بن أبي طالب ﷺ ؤ.

**د ذو العُشَیره غزاء:** (ذُو العُشَیره) د ینبُع و طرف ته د یوه ځای نوم دی، د هجرت د دوهم کال د جمادي الأول د میاشتي په آخر کي رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د (۱۵۰) نفرو مهاجرينو په ملګرتيا پر (۳۰) اوښانو د غزاء دپاره و وتې، د دې غزاء مقصد د قريشو پر يوه قافله حمله وه ځکه مسلمانانو ته خبر ورسېدی چې د مکې مکرمې څخه د قريشو يوه لويه قافله را و وتل چې د ټولو قريشو مالونه پکښې دي او شام ته ځي نو مسلمانانو غوښتل چې پر دغه قافله حمله وکړي، مسلمانان چې و ذُو العُشَيري ته ورسېدل خبر سوه چې قافله ځو ورځې مخ کې تېره سوې ده.

دا هغه قافله ده چې د شام څخه د بيرته راتګ په وخت کې مسلمانان د حملې دپاره ور و وتل او په نتيجه کې يې د بدر لويه غزاء پېښه سوه.

دغه د ذو العُشيره په غزاء کې رسول الله ﷺ د بني مُدلِج د قبيلې او د هغو د حُلفاوو سره د نه تجاوز يا نه حملې کولو معاهده هم وکړه او رسول الله ﷺ په دغه منطقه کې د ډېري مو دې دپاره چې ځوک وايي: يوه مياشت وه پاته سو، دا د دې دپاره چې د مسلمانانو قوت، قدرت او سُلطه خلکو ته ور معلوم سي، ځکه دا هغه منطقې دي چې مسلمانانو ته نژدې دي او د دغو منطقو خلک د مسلمانانو قوت او طاقت ومني او په عين حال کې دغه منطقې د قريشو د قافلو لار هم ده.

په دغه غزاء کې د مسلمانانو بيرغ سپين او اخيستونکی يې حمزه ﷺ ؤ.

*تر دغه ځايه مو د مسلمانانو په عسکري او اطلاعاتي حرکتو کې په ترتيب سره اول د درو سريو بيان درته وکړی او بيا مو د رسول الله ﷺ د څلورو غزاوو بيان درته وکړی چې نه په سريو کې جنګ پېښ سوی دی نه په غزاوو کې او اوس پر هغه ترتيب څلورمې سريې ته را ورسېدلو.*

**څلورمه سَرِيه**: چې سريۀ النخله ورته ويل کيږي، نخله د طائف او مکې مکرمې په منځ کې د يوه ځای نوم دی، دغه سريه د بدر تر غزاء د مخه وه او د بدر تر غزاء پوري دا آخري ټولی يا سريه ده.

د هجرت په دوهم کال د رجب په مياشت کې رسول الله ﷺ عبدالله بن جَحَش الأسدي ﷺ د (۱۲) نفرو مهاجرينو سره او په بل روايت کې د (۸) نفرو سره نخله ته وليږی، د دغې ټولی افرادو پر دوو دوو نفرو يو اوښ درلودی او په نوبت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځانونه هوسا کول، په دغه ډله کي سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه هم ؤ او رسول الله ﷺ دغه عبدالله بن جحش رضي الله عنه ته یو لیک ورکړی او ویل: دغه لیک به تر هغو نه ګوري چي د دوو ورځو مزل دي نه وي کړی، دغي ټولۍ چي دوې ورځي لارو وهل بیا یې نو لیک خلاص کړی او ویې وایه، په لیک کي د رسول الله ﷺ اوامر داسي لیکل سوي وه:

کله چي دي زما لیک و وایه نو د نخله طرف ته چي د طائف او مکې مکرمې په منځ کي ده رهي سه او هلته واړوه د قریشو د قافلې انتظار کوه، که مو قافله پیدا کړه او په وسه مو پوره سوه چي ټوله یا یو څه په غنیمت واخلی دا کار وکړی، عبدالله بن جحش رضي الله عنه و ویل (سمعاً و طاعتاً) یعني: ستا امر مي واورېدی او اطاعت دي کوم، لکه موږ چي وایو پر دواړو سترګو، عبدالله بن جحش خپل ورسره ملګري په دغه امر خبر کړه او ویل: زه مو دغه کار ته نه مجبوره کوم که د چا شهادت خوښ دی را سره ملګری دي سي او که یې مرګ نه وي خوښ بیرته دي وګرځي خوزه په خپله دغه ځای ته تلونکی یم.

تاسي ته معلومه ده چي په صحابهٔ کرامو کي بلکه په ټولو مسلمانانو کي داسي څوک نه وه چي د رسول الله ﷺ اطاعت دي و نه کړي او شهادت دي یې نه وي خوښ او همدغه اطاعت د دوی د کامیابۍ سبب ؤ نو ټوله ور سره رهي سوه، خو په لار کي د سعد بن أبي وقاص او د عُتبه بن غزوان هغه اوښ ورک سو چي دوی دواړه په شریکان وه، دغه دوه نفره د هغه خپل اوښ په پیدا کولو پسي ولاړل او عبدالله بن جحش په نخله کي واړول، په دغه وخت کي د قریشو قافله راغله چي اوښکي یا ممیزي، څرمني او نور تجارتي مالونه پکښې وه او د قافلې سره ملګري خلک دغه څلور نفره وه: عَمرو بن الحضرمي، حَکَم بن کیسان، عثمان او نوفل، د عبدالله بن مغیره زامن.

مسلمانانو مشوره سره وکړه چي نن د رجب آخري ورځ ده او رجب د هغو میاشتو څخه دی چي جنګ او تجاوز پکښې حرام دی، نو که جنګ ور سره وکړو د حرامي میاشتي حُرمت مو مات کړی او که یې نن شپه پرېږدو قافله د حرم منطقې ته داخلیږي چي هلته هم جنګ حرام دی، نو یې پردې اتفاق سو چي جنګ به ور سره کوو (دا یو روایت ؤ) او په بل روایت کي وایي چي د اصحاب کرامو دا خیال ؤ چي رجب وتلی او شعبان داخل سوی دی، نو خود جنګ جائز او روا دی.

په هر صورت مسلمانانو پر قافله حمله وکړه د قافلې د نفرو څخه یو نفر چې عَمرو بن الحضرمي ؤ په غشي و ویشتل سو او و وژل سو چې دغه نو اول مشرک سړئ دی چې د مسلمانانو له طرفه وژل کیږي، څرنګه چې د قافلې خلکو آمادګي نه درلودل وارخطا سوه او په تېښته یې شروع وکړه، مسلمانانو د کفارو څخه دوه نفره بندیان ونیول چې یو یې حکم بن کیسان ؤ او بل یې عثمان ؤ او نوفل په تېښته ځان خلاص کړی، مسلمانانو د قریشو ټوله قافله او هغه دوه نفره بندیان مدینې منورې ته راوستل.

عَمرو بن الحضرمي اول مشرک دی چې د دغې ټولۍ له طرفه و وژل سو او د اول وار دپاره بندیان ونیول سوه او اول غنیمت واخیستل سو، سبحان الله! مخ کي به دیرش نفره، شپېته نفره، حتّی دوه سوه نفره تللي او لېږل سوي وه، بېله دې څخه چې څه وکړي بیرته به په خالي لاس راغله مګر دا وار شپږو، یا لسو نفرو ټوله قافله او بندیان را وستل، دا د قادر الله جَلَّ جَلَالُهُ قدرت ؤ، مګر مشکله خبره دا ده چې دغه ټول واقعات په حرامه میاشت کي چې رجب دی پېښ سوه او رسول الله ﷺ دغه د دوی په کار نه ؤ راضي او ویل: ما په حرامه میاشت کي تاسي په جنګ نه واست امر کړي.

په دې کار سره مشرکانو ته هم پر مسلمانانو د تهمت ویلو موقع په لاس ورغله، په عربو کي یې آوازې خپرې کړې چې مسلمانانو هغه میاشتي حلالي وګرځولې چې الله جَلَّ جَلَالُهُ حرامي کړي دي چې دا کار په عربو کي ډېر لوی عیب او بد کار بلل کېدی او هر هغه جنګ چې په حرامو میاشتو کي پېښ سوی دی هغه ته یې (حرب الفُجار) وایه او اوس مسلمانان په حرامو میاشتو کي جنګ او تجاوز کوي دا ډېر بدکار دی، په دې باره کي د مشرکانو له طرفه خبري او تبلیغات ډېر زیات سوه.

اوس چې د ټولۍ نفر د قافلې غنیمتونه رسول الله ﷺ ته ورکوي رسول الله ﷺ د غنیمتو د قبلولو څخه انکار وکړی او ویل: تاسي څنګه په حرامه میاشت کي جنګ او حمله کول؟ هغو ویل: یا رسولَ الله! زموږ دا خیال ؤ چې رجب وتلی او شعبان داخل سوی دی، مګر رسول الله ﷺ نه ؤ راضي چې دغه غنیمتونه واخلي.

قریشو و رسول الله ﷺ ته حال ولېږی او پوښتنه یې وکړه چې آیا تاسي حرامي میاشتي حلالي وګرځولې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: یا! حرامي میاشتي مو نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


حلالي ګرځولي بلکه حرامي مياشتي حرامي دي خو دا کار په سهوه او خطاء کي پېښ سو او د دغه خطاء د پېښېدلو په سبب عذر وايو، قريشو ويل: بنه دغه دوه نفره بنديان مو را ايله کړه، رسول الله ﷺ و فرمايل: يا! دا هم تر هغو نه درکوم څو زموږ دوه نفره را نه سي چي هغه دوه نفره سعد بن أبي وقاص او عتبه بن غزوان وه ځکه دغه دوه نفره چي د اوښ په پيدا کېدلو پسي تللي وه تر اوسه نه وه راغلي نو د رسول الله ﷺ سره دا تشويش ؤ چي قريشو نه وي نيولي، نو خود ويل: کله چي زموږ هغه دوه نفره راسي بيا نو ستاسي بنديان درکوم، هغه دوه نفره مسلمانان هم لږ وخت وروسته راغله، رسول الله ﷺ هم حکم بن کيسان او عثمان بن عبدالله ور ايله او خوشي کړه او د هغه مړه سوي کافر يې ديت ورکړی، خو حکم بن کيسان چي د بند په موده کي د مسلمانانو بنه ژوند، اخلاق او ګذاره وليدل اسلام يې خوښ سو او پسله ايله کېدلو مسلمان سو، مکې مکرمې ته نه ولاړی بلکه په مدينه منوره کي پاته سو او عثمان بن عبدالله تر ايله کېدلو وروسته مکې مکرمې ته ولاړی او هلته مړ سو، دا وار د الله ﷻ په ابدي بنديخانه کي بندي سو، دا په اسلام کي د هغه اولو بنديانو حال ؤ.

څرنګه چي کفارو د رجب د مياشتي د دغي حملې څخه د ځان په ګټه لويه مسئله جوړه کړې وه او دا واقعه يې په ډېر زور او شور سره هر چيري بيانول نو الله ﷻ د دغه موضوع په باره کي وحي نازلي کړې او دغه مسئله يې په الهي فيصله سره پای ته ورسول، الله ﷻ فرمايي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ﴾. [البقره: ۲۱۷]

يعني: ای محمّده ﷺ خلک ستا څخه په حرامو مياشتو کي د جنګ کولو پوښتنه کوي، چي دغه پوښتنه کفارو پر يوه قسم کول چي آيا تا دا کار کړی دی چي حرامي مياشتي دي حلالي کړې؟ او مسلمانانو بيا داسي پوښتنه کول چي اوس خو زموږ څخه په سهوه او خطاء کي دا کار وسو خو تردې وروسته په دغه باره کي حکم څه شي دی؟ الله ﷻ د دغه پوښتني په جواب کي فرمايي: ای محمّده ﷺ دغه پوښتني کوونکو ته ووايه: چي قصداً په دغه حرامو مياشتو کي جنګ کول ډېره لويه ګناه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ﴾. [البقره: ۲۱۷]

يعني: هو په حرامو مياشتو کي جنګ کول لويه ګناه ده، مګر د الله عزوجل له دينه د خلکو منعه کول او پر الله جل جلاله کافر کېدل او د مسجدالحرام څخه د خلکو منعه کول او د مسجدالحرام خلک د هغه څخه ايستل، د الله جل جلاله په نېز تر دغه جنګ چي په حرامو مياشتو کي کيږي ډېره لويه او شديده ګناه ده، او فتنه يعني: په دين کي فتنه او فساد جوړول چي خلک د الهي دينه منعه کوي يا يې له دينه اړوي تر دغه جنګ چي د مسلمانانو څخه په حرامه مياشت کي سهواً پېښ سو په څو درجو بد او شديد دي.

نو الهي وحيو د مشرکانو دغه شور ماشور پای ته ورساوه چي پر مسلمانانو او د هغو پر جنګياليو يې شک او شبهه پيدا کول چي دغه د مشرکانو خبري پوچي او بې معنٰی دي، ځکه تاسي ياست چي حرامي مياشتي حلالي ګرځوی، حرام ښار (چي مکه مکرمه ده) حلال ګرځوی، تاسي پر مسلمانانو ظلمونه وکړه، د خپلو کورو څخه مو وايستل، د مسلمانانو د دين او توحيد په سبب مو هغو ته تکليف او آزارونه ورکول، آيا مسلمانان په بلد الحرام کي نه وه مقيم؟ تاسي د هغو د مالو د غصبولو او د هغو د نبي د وژلو فيصلې په دغه بلد الحرام کي نه کړې صادري؟ اوس څه پېښه سوه چي دفعتاً حرامو مياشتو ته حرام والی راغلی؟ او په هغو کي جنګ کول ډېر بد کار بولی؟ نو معلومه خبره ده چي دغه آوازې چي تاسي يې نشروی د شرم او وقاحت څخه خالي نه دي.

ورونو! تاسي وګوری چي نن ورځ د دغسي مسائلو مثال په خپل شا وخوا کي نه وينی؟ دوی چي هرڅه کوي جائز او روا دي، خو که بل چا لږ څه وکړه هغه حرام او ناروا بولي، زه نه غواړم چي نوره تبصره پر وکړم بلکه غواړم چي په تاسي کي هم د دغسي تبصرو او مسائلو حلولو استعداد پيدا سي او د سيرة النبي ﷺ څخه د احکامو او مثالو په را ايستلو کي پوره تجربه حاصله کړی او اعظمي ګټه واخلی.

دا هغه سريې او غزاوي وې چي د بدر تر لويي غزاء د مخه پيښي سوي دي او په يوه کي نه قتل سوی دی او نه مالونه اخيستل سوي دي، بېله دغه آخرنۍ سريې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځخه چي دغه سريه هم پسله هغه ځخه وه چي د کرز بن جابر په مشرۍ مشرکانو پر مدينه منوره حمله وکړه، نفر يې هم و وژی او مالونه يې هم يو وړل، يعني؛ د قتل او وژلو شروع هم د مشرکانو له طرفه وسوه، هغه د مخني کارونه خو يې پرېږده چي دوی کړي وه حتّٰی اوس هم تجاوز د دوی له طرفه ځخه ؤ.

پسله هغه چي د عبدالله بن جحش رضي الله عنه د ټولۍ په واسطه دغه واقعات پېښ سوه په مشرکانو کي ېېره پيدا سوه، اوس يې حقيقي خطر حس کړی او د هغه شي ځخه چي دوی ېېرېدل هغه ورته پېښ سو، پوه سوه چي د مدينې منورې مسلمانان پوره ويښ او په حالاتو خبر دي او د دوی ټول تجارتي حرکتونه يې تر نظر لاندي نيولي دي، مسلمانان کولای سي چي درې سوه ميله ليري يو ځای ته ولاړسي او هلته د کفارو نفر و وژني، بنديان ځني ونيسي، مالونه يې واخلي او دوی بيرته سالم او غانم خپل مرکز ته ولاړ سي.

مشرکان په دې پوه سوه چي د دوی د شام تجارت په همېشني خطر کي ولوېدی، خو د دې پر ځای چي د مکې مکرمې مشرکان د هغه خپل طغيان او سرکښۍ له خوبه را ويښ سي د صلحي او د نه تجاوز معاهدې وليکي، لکه د جُهَينه او بنو ضُمره قبيلو چي وليکلې د قريشو حِقد او حسد نور هم زيات سو، د دوی مشرانو او سردارانو هغه د مسلمانانو د تهديد او ېېرولو لار تينګه ونيول چي ويل تاسي ټوله به د خپلو کورو په منځ کي و وژنو، د کفارو دغه تکبر او سرکښي وه چي د بدر و جنګ ته يې را وستل.

مګر د عبدالله بن جحش رضي الله عنه تر سريې وروسته د شعبان په مياشت کي پر مسلمانانو جهاد فرض سو او د جهاد د فرضيت په باره کي واضحه او روښانه آياتونه نازل سوه.

الله جل جلاله په سورة البقره کي فرمايي:

﴿ وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓاْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ ﴾ [البقره: ١٩٠]

يعني: اې مومنانو د الله جل جلاله په لار کي د هغه چا سره جنګ کوی چي ستاسي سره جنګ کوي او پر چا تېرئ او تجاوز مه کوی (د تيري او تجاوز معنٰی دا ده چي ښځي، سپين ږيري او ماشومان قصداً مه وژنی) بېشکه چي الله جل جلاله تجاوز کوونکي نه خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ وَأَخۡرِجُوهُم مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡۚ وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۚ ﴾

او هر چیري چي مو دغه کفار پیدا کړه یا مو لاس پر بر سو وېې وژنی او د هغه ځایه څخه یې وباسی چي دوی تاسي ایستلي یاست او فتنه یعني: شرک، یا دا چي خلک د الله جل جلاله له دینه څخه منعه کوي او اړوي، تر قتل او وژلو ډېره بده ده.

﴿ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِيهِۖ ﴾

او د کفارو سره په مسجد الحرام کي جنګ مه کوی ترڅو چي دوی ستاسي سره په دغه مسجد کي جنګ نه وي کړی.

دا د مسجد الحرام فضیلت دی چي په مسجد او په ټوله حرم کي یې جنګ کول حرام دي، نو الله جل جلاله مسلمانانو ته فرمایي: د کفارو سره په مسجد الحرام کي جنګ مه کوی ترڅو چي دوی جنګ نه وي درسره کړی.

﴿فَإِن قَٰتَلُوكُمۡ فَٱقۡتُلُوهُمۡۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٩١﴾ [البقره: ١٩١]

او که چیري بیا دوی ستاسي سره په دغه حرم کي جنګ کاوه نو تاسي هم جنګ ورسره وکړی او ویې وژنی، د کافرانو جزاء همداسي ده.

﴿ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٩٢ ﴾ [البقره: ١٩٢]

سبحان الله! د الله جل جلاله مهربانی ته وګوره، رب عزوجل فرمایي:

که بیا هم دغه مشرکان خپل شرک پرېږدي پر دغه خپلو ټولو بدو عملو سربېره ایمان را وړي، الله جل جلاله غفور او رحیم دی د دوی توبه قبلوي او ټول ګنهونه ور معافوي.

دا خو و مسلمانانو ته په جهاد سره امر ؤ، بیا نو څه موده نه سوه تېره چي الله جل جلاله بل قسم آیاتونه نازل کړه چي په هغو کي یې مسلمانانو ته د جنګ کولو طریقه ور ښوول، جنګ ته یې نور هم تشویقول او د جنګ احکام یې ور ښوول.

الله جل جلاله په سورة محمّد کي فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّواْ ٱلْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً ﴾

ژباړه: کله چې په جنګ کې د هغو کسانو سره مخامخ سی چې کافران سوي دي، نو د دوی غاړې وهی، تر هغو پوري يې وژنی چې د دوی څخه مو ښه ډېر کسان و وژل او پر غالبه سواست، بيا نو دوی ښه ټينګ وتړی، يعني: بنديان ځني نيسی او ټينګ يې تړی چې درڅخه خلاص نه سي، بيا نو پسله بندي کولو يا احسان ور سره وکړی چې مفت يې ايله کړی يا فديه ځني واخلی ايله يې کړی يا يې د مسلمانانو په بنديانو مبادله کړی.

﴿حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلْحَرْبُ أَوْزَارَهَا﴾

او دغه د جنګ، وژلو، بندي کولو؛ سلسله به تر هغو جاري وي ترڅو چې کفار خپله اسلحه کښيږدي او جنګ بند سي.

﴿ ذَٰلِكَ وَلَوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنْهُمْ وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَاْ بَعْضَكُم بِبَعْضٍ ﴾

ژباړه: دا د الله جل جلاله حکم دی او که چيري الله جل جلاله د دوی څخه د بدل اخيستلو إراده فرمايلې وای، نو خامخا به يې بېله جنګه له دوی څخه بدله اخيستې وای، مګر د جهاد امر يې په دې سبب درته وکړی: چې الله عزوجل د جنګ په واسطه ځيني ستاسي په ځينو نورو سره امتحان کړي.

يعني: الله جل جلاله دا قدرت لري چې پر دغو کافرانو کوم آسماني عذاب نازل کړي، د عاديانو، ثموديانو او فرعونيانو په مثل دوی هم هلاک کړي مګر يا! اصلاً د جنګ او جهاد څخه د بندګانو امتحان مقصد دی چې څوک د الله جل جلاله پر دين او د الله جل جلاله پر نامه خپل نوم او ننګ، ځان او مال، اولاد او نور شيان قربانوي؟ او څوک د دې دنيا د ژوند وسائل، مکتبونه او شفاخانې، برق او ډامبر سړکان، تلفون او موټران، ډالر او تجارت غواړي؟ او کفار دوست هيوادونه بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او هغه کسان چي د الله جل جلاله په لار کي وژل سوي دي هيڅکله به الله د دوی عملونه ضائع نه کړي (که په ظاهره سره دوی ناکامه معلوميږي خو په حقيقت کي دوی کامیابه دي دغه تکليفونه دوی جنت ته بيايي او د آخرت لوړي درجې او مرتبې يې په نصيب کيږي).

﴿سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴿٥﴾﴾ [محمد: ۵]

ژباړه: ژر به دوی ته سمه لار روښيي او د دوی حال به په دارينو کي ښه کړي.

﴿وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴿٦﴾﴾. [محمد:٦]

او الله جل جلاله به دوی هغه جنت ته داخل کړي چي د هغه جنت صفتونه يې د انبياء عليهم السلام په واسطه ورته بيان کړي دي.

نور هم الله جل جلاله فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴿٧﴾﴾. [محمد: ۷]

ژباړه: اې مومنانو! که تاسي د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ د دين مرسته او نصرت وکړی نو الله عزوجل به ستاسي سره مرسته وکړي او پر دښمن به موکامیابه کړي او په ميدان جنګ کي به ستاسي قدمونه ټينګ او ثابت کړي.

او بيا الله جل جلاله د سورة محمّد په (۲۰) نمبر آيات کي د هغو کسانو بدي بيانوي کوم چي د جنګ او جهاد امر يې د جهاد د آياتو په نازلېدلو سره واورېدی او زړونه يې په درېي او غورځېدلو سوه الله جل جلاله فرمايي:

﴿فَإِذَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ ۙ رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٠﴾﴾. [محمد: ۲۰]

يعني: کله چي يو محکمه سورت نازل کړل سي او په هغه کي جنګ ذکر سوی وي، يعني: په جنګ سره امر يکښې وي نو ته به هغه کسان چي د دوی په زړو کي د نفاق مرض وي و وينې، چي تا ته به په داسي ډول سره ګوري لکه هغه څوک چي د مرګ د بيري بېهوښي پر راغلې وي، پس دوی لره دي هلاک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورونو! دا چه په دغه وخت کي جهاد فرض سو او پر هغه باندي تېنګار کيږي او الٰهي امرونه نازليږي چي ځانونه جهاد ته آماده کړی. دا داسي مسئله ده چي د دغه وخت حالاتو د دغه کار تقاضاء کول، تاسي نه وينی: که نن ورځ يو پوه او هوښيار جنګي قومندان وي په دغسي حالاتو کي لکه د هغه وخت د مسلمانانو حالات چي وه خپل لښکر په پوره استعداد د تيار سئ په حال کي دروي، نو د رب العالمين په باره کي څه فکر کوی؟ د دغه وخت حالاتو د دغه تقاضاء کول چي د حق او باطل په منځ کي دي خونړۍ جګړه وسي.

خير! د عبدالله بن جحش د ټولۍ واقعه پر مشرکانو يوه دردوونکې ضربه وه مشرکان او د دوی ملګري يې خوړ کړه او دومره غمجن وه لکه پر سکروټو چي سره اوري او دغه د جهاد آياتونه پردې دلالت کوي چي يوه خونړۍ جګړه را نژدې ده او په هغه جنګ او جګړه کي نهايي نصرت او کاميابي د مسلمانانو ده، تاسي تلاوت سوي آياتو ته ښه متوجه سی: الله جل جلاله مسلمانان د مشرکانو په ايستلو امر کوي او ورته وايي داسي يې وباسی لکه تاسي چي يې ايستلي ياست او بيا د بنديانو په باره کي د کامیابه لښکر احکام ور ښيي او ورته فرمايي: تر هغو يې وژنی چي دوی جنګ پريږدي، دا ټوله د مسلمانانو وکاميابۍ ته اشارې دي خو الله جل جلاله دغه د کاميابۍ حالات پټ و ساتل، دوی ته يې په واضحه ډول سره نه کړه بيان، دا دپاره د دې چي هر سړئ د الله عزوجل په لار کي خپل همت او مړانه ښکاره کړي، خپل وس او قدرت مصرف کړي.

*په دغه وختو کي د يادوني وړ دوې نوري واقعې هم پيښي سوي دي*
*چي اوس به په تفصيل سره درته بيان سي:*

**لومړئ**: د هجرت په دوهم کال د شعبان په مياشت کي الله جل جلاله له بيت المقدسه و بيت الله الحرام ته د قبلې د اړولو امر نازل کړی او له دې کاره يوه فايده دا سوه چي هغه ضعيفُ الإيمانه مسلمانان او منافقان هغه چي د يهودو څخه وه او د مسلمانانو صفو ته داخل سوي وه، د بې ځايه آوازو په اچولو ښکاره او معلوم سوه او بيرته هغه خپل پخواني شرک ته وګرځېدل، چي په دغه عمل سره د مسلمانانو صفونه د ډيرو خائنانو او غادرانو څخه پاک سوه او دغه د قبلې په اوښتلو کي د نوي دَوَر او نوي کيفيت

(c) ketabton.com: The Digital Library


شروع کېدلو ته يوه لطيفه اشاره هم وه، چي دا دور به تر هغو جاري وي چي مسلمانان دغه خپله قبله د کفارو څخه فتحه کوي.

او دا عجب کار نه دی چي د مسلمانانو قبله دي د دوی د دښمنانو په لاس کي وي؟ خو دلته دا اشاره وه: چي هو! که قبله څو ورځي د کفارو په لاس کي وي خو خامخا به يوه ورځ له دويه خلاصيږي.

نو په دغه الٰهي اوامرو او په دغو اشاراتو سره د مسلمانانو حماس او نشاط زيات سو او په في سبيل الله جهاد کي يې د دښمن سره مخامخ کېدلو ته شوق ډېر سو.

د قبلې د اوښتلو يا تبديلېدلو پوره تفصيل داسي دی:

تر دغه وخته پوري مسلمانانو د بيت المقدس و طرف ته لمونځ کاوه، خو د رسول الله ﷺ دا خوښه وه چي د کعبې شريفي طرف ته لمونځ وکړي، کله چي رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کي ؤ خوښه خو يې دا وه چي لمونځ يې د کعبې شريفي طرف ته وي مګر څرنګه چي د الله جل جلاله له طرفه امر سوی ؤ چي لمونځ د بيت المقدس و طرف ته کوه نو به رسول الله ﷺ داسي ځای پر لمانځه درېدی چي کعبه شريفه به د ده ﷺ او د بيت المقدس په منځ کي وه، چي په دې طريقه سره به د ده ﷺ لمونځ د بيت المقدس او کعبې شريفي د دواړو طرف ته ؤ ځکه دواړه به د ده ﷺ د مخ و طرف ته وه، مګر کله چي مدينې منورې ته ولاړی هلته دواړه نه سره يو ځای کېدل ولي چي بيت المقدس د مدينې منورې شمال ته دی او مکه مکرمه د مدينې منورې و جنوب ته ده، نو رسول الله ﷺ به د الٰهي امر د اطاعت سره سم د مدينې منورې د شمال و طرف ته لمونځ کاوه، يعني: د بيت المقدس و طرف ته او کعبه شريفه به يې تر شا وه، نو رسول الله ﷺ به همېشه په دې انتظار ؤ چي کله به يې قبله تغير وکړي او دئ ﷺ د کعبې شريفي طرف ته لمونځ وکړي.

الله جل جلاله د رسول الله ﷺ دغه د زړه غوښتنه قبوله کړه، دا يوازي خواهش او د زړه غوښتنه وه، رسول الله ﷺ په دې باره کي خواست او دعاء نه دي کړي، دا فقط يوه قلبي آرزو وه خو الله جل جلاله د رسول الله ﷺ دغه آرزو قبوله او منظوره کړه، الله جل جلاله فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ۚ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ﴾. [البقره: ۱۴۴]

يعني: په تحقيق سره د آسمان و طرف ته ستا د مخ اړول موږ وينو نو خامخا به موږ تا و هغې قبلې ته وګرځوو چې ته يې خوښه لرې او په راضي کېږې. نو په لمانځه کې دې خپل مخ د کعبې شريفې يا مسجد الحرام طرف ته وګرځوه.

دغه مسجد ته ولې مسجد الحرام ويل کيږي؟ ځکه هلته جنګ کول، ښکارکول، د ونو او ښو پرېکول او داسې نور کارونه حرام دي، که څه هم هر مسجد بيتُ الله د شرف او حرمت ځای دی خو بل هيڅ مسجد دومره عزت او حرمت نه لري لکه مسجد الحرام.

او د رسول اللهﷺ ولې دغه قبله خوښه وه؟ اول دا چه کعبه شريفه د ابراهيم عليه السلام قبله وه نو تر ټولو قبلو د ابراهيم عليه السلام قبله افضله وه او د رسول اللهﷺ د لوړ او کامل مقام سره هم دغه قبله ور او مناسب وه او له بله طرفه به يهودو داسې ويل: چې دغه نبي زموږ د شريعت څخه مخالف او د ابراهيمي شريعت سره موافق عمل کوي نو دئ ولې زموږ د قبلې و طرف ته لمونځ کوي؟ د دغو خبرو په سبب به د رسول اللهﷺ په زړه کې دا وګرځېدل چې د الله جل جلاله له طرفه امر را ته وکړل سي چې د کعبې شريفې طرف ته لمونځ وکړم او په دغه شوق به يې کله کله د آسمان و طرف ته هم کتل چې ښايي هغه ملائکه و وينم چې د قبلې د اوښتلو زيری را کړي.

نو هغه ؤ چې رسول اللهﷺ د بني سلمه د قبيلې په مسجد کې د خپلو اصحابِ کرامو سره د ماپښين لمونځ په جماعت آداء کاوه او دوه رکعاته لمونځ يې د بيت المقدس طرف ته آداء کړی ؤ، په دغه لمانځه کې يې په الٰهي امر او وحيو سره مخ د بيتُ الله شريفې طرف ته واړاوه او پاته دوه رکعاته لمونځ يې د کعبې شريفې طرف ته آداء کړی او په دغه سبب دغه مسجد ته (مسجد القبلتين) ويل کيږي.

دلته نو د قبلې په اوښتلو سره يهودو ته د خبرو او تهمت ويلو موضوع پيدا سوه، په هر مجلس او هر ځای کې وايي: دا څنګه دين دی؟ بلکه دا دين نه دی يو وخت يې قبله بيت المقدس ؤ او اوس يې بيا قبله کعبه شريفه ده! خپله قبله ولې او څنګه بدلوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


یهودو رنګارنګ خبري کولې، مګر الله جل جلاله د دوی د خبرو رَد او جواب په ډیرو آیاتو کې و فرمایه چې هغه ټول آیاتونه په سورةُ البقره او دوهمه سیپاره کې دي. ځکه یهودو غوښتل چې د قبلې د اوښتلو پر موضوع په مسلمانانو کې فتنه جوړه کړي او تر یوې اندازې جوړه هم سوه، ضعیف الإیمانه مسلمانان او ډیر منافقان له دینه واوښتل. خو الله جل جلاله فرمایي: قبله الٰهي امر دی دا په مشرق او مغرب پوري تعلق نه لري. الله جل جلاله فرمایي:

﴿لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَـٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَـٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾ [البقره: ۱۷۷]

یعني: نیکي یوازي دا نه ده چې په لمانځه کې خپل مخان د مشرق یا مغرب و طرف ته وګرځوی بلکه د دې کار سره د صحې عقیدې او لازمي اعمالو کول هم په کار دي، الله جل جلاله فرمایي: بلکه نیکي او ښه کار دا دی چې چا پر الله جل جلاله ایمان را وړی وي، د آخرت پر ورځ، پر ملائکو، پر آسماني کتابو او انبیاء علیهم السلام یې ایمان را وړی وي او رب عزوجل په بل آیات شریف کې فرمایي: حقیقي نیکي تقوىٰ ده.

او دغه د قبلې موضوع په عین حال کې د الله جل جلاله له طرفه یو امتحان هم ؤ چې څوک پکښې شکمن کیږي؟ خو هغه واقعي مسلمانان پر خپله سالمه عقیده ثابت او قائم پاته سوه په ایمان کې یې ضعف او شک نه سو پیدا.

**دوهم**: په دغه وخت کې دوهمه موضوع د روژې فرض والی ؤ، هغه دا چې د هجرت په دوهم کال د شَعبان په میاشت کې د الله جل جلاله له طرفه پر مسلمانانو د رمضان المبارک د میاشتي روژه نیول فرض سوه، نو اوله فرضي روژه چې نیول سوې ده هغه د هجرت د دوهم کال د رمضان المبارک د میاشتي روژه وه، کله چې د رمضان المبارک میاشت داخله سوه رسول الله ﷺ او ټولو مسلمانانو روژه ونیول او د دغې روژې په مبارکه میاشت کې هغه لویه او عظیمه غزاء چې د بدر غزاء ورته ویل کیږي پېښه سوه چې د هغې غزاء بیان به إن شاء الله تعالىٰ د دغه کتاب په دوهم ټوک کې په تفصیل سره درته وړاندي سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جل جلاله لره دي حمد او ثناء وي چې د سرور کائناتﷺ ژوند د لومړي ټوک د ليکلو او پوره کولو توان او توفيق يې راکړی او هم د ده رب عزوجل له درباره دا خواست او غوښتنه کوم چې د پاته نورو دوو ټوکو د ليکلو او پوره کولو دپاره صحت او توفيق راکړي.

و ماتوفيقي إلاّ با لله عليه توكلتُ و إليه أنيب

﴿سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾﴾

« وصلى الله تعالىٰ على خير خلقه سيدنا و حبيبنا و مولانا محمّد وآله و اصحابه و اهل بيته اجمعين ».

و السلام عليكم ورحمة الله و بركاته.

د دعاء په اميد

عنايت الله ’علمي‘

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مؤلف له طرفه نشر سوي او چاپ سوي کتابونه

| | |
|---|---|
| ۱ – د سرورکائنات ﷺ ژوند | : په دري ټوکه کښې. |
| ۲ – خُلفاءُ الرّاشدين | : په يوه ټوک کښې. |
| ۳ – ديني او اخلاقي لار ښوونې | : په يوه ټوک کښې. |
| ۴ – شيطان د انسان دښمن دی | : وړوکې رساله. |
| ۵ – د ساحر له شره خلاصون | : په يوه ټوک کښې. |
| ۶ – آخري سفر | : په يوه ټوک کښې. |
| ۷ – نصيحتونه | : په يوه ټوک کښې. |

که ژوند او صحت باقي وه تر لاس لاندي کتاب د قصص الأنبياء عليهم السلام په نامه سره ياديږي إن شاء الله تعالى په راتلونکي وخت کي به ترتيب او چاپ سي.

و مَا توفيقي إلاّ بِالله عليه توكّلتُ و إليه أنيب

د کتاب د ټولو لوستونکو څخه دا هيله او غوښتنه لرم چې د رب عزوجل له درباره ما، زما مور او زما هغه پلار ته چې زما مُرَبّي او زما استاد دی د مغفرت او بخښني خاصه دعاء وکړي او رب عزوجل ما ته نور توان او توفيق راکړي چې د عامو مسلمانانو ديني خدمت وکړم، او الله جل جلاله دي هغه چا ته د خير بدله او د خير جزاء ورکړي چې زما سره يې د دغه کتاب په چاپولو او نشرولو کي مرسته او کومک کړی دی.

عنايت الله "علمي"

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د لومړي ټوک فهرست


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | په پښتو کي د (ي) تلفظ........ | ۱ |
| ۲ | د دوهمي طبعي یا دوهم چاپ مقدمه........ | ۳ |
| ۳ | د اولي طبعي یا اول چاپ مقدمه........ | ۱۱ |
| ۴ | د سرور کائنات ﷺ ژوند........ | ۱۵ |
| ۵ | یهودیت او نصرانیت جزیرة العرب ته څنګه داخل سوه... | ۳۱ |
| ٦ | د اول وار دپاره د کعبې شریفي پوښول........ | ۳۴ |
| ۷ | نصرانیت او د حبشي حکم څنګه ویمن ته داخل سوه؟....... | ۴۱ |
| ۸ | د فیل کال او د اصحاب الفیل قصه........ | ۵۰ |
| ۹ | یمن ته د فارس یا فارسیانو داخلېدل........ | ۵٦ |
| ۱۰ | اسلام ته د یمن د خلقو داخلېدل........ | ٦۱ |
| ۱۱ | د مکې مکرمې څخه د خزاعه ایستل او د قریشو تسلط..... | ٦۳ |
| ۱۲ | د عبدالمطلب په واسطه د زمزم د څا کندل........ | ٦۸ |
| ۱۳ | د عبدالله واده او د محمد ﷺ مبارک میلاد........ | ۷۷ |
| ۱۴ | د رسول الله ﷺ نسب او کورنی........ | ۸۱ |
| ۱۵ | د رسول الله ﷺ رضاعت او پرورښت........ | ۸۲ |
| ۱٦ | د رسول الله ﷺ د مور وفات........ | ۸۹ |
| ۱۷ | د رسول الله ﷺ اقتصادي حالت........ | ۹۱ |
| ۱۸ | د ابو طالب سره د رسول الله ﷺ تربیه........ | ۹۳ |
| ۱۹ | د رسول الله ﷺ واده یا زواج........ | ۱۰۹ |
| ۲۰ | د کعبې شریفي بیا جوړېدل........ | ۱۱۴ |
| ۲۱ | د کعبې شریفي په نوې بناء کي د حجر اسود ایښوول..... | ۱۱۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | د رسول الله ﷺ خلوت او تنهايي خوښېدل........... | ۱۲۶ |
| ۲۳ | د وحيو نازلېدل........................ | ۱۲۸ |
| ۲۴ | د رسول الله ﷺ رسالت او په دعوت مکلفېدل.......... | ۱۴۵ |
| ۲۵ | د مکي دورې اوله مرحله، يا د سري دعوت درې کلونه... | ۱۴۹ |
| ۲۶ | د مکي دورې دوهمه مرحله، يا په ښکاره سره دعوت..... | ۱۵۶ |
| ۲۷ | د دعوت د اورېدلو څخه د حاجيانو منعه کول.......... | ۱۶۲ |
| ۲۸ | د دعوت د چپولو دپاره د قريشو قسم قسم طريقې......... | ۱۶۳ |
| ۲۹ | د مشرکانو له طرفه د آزارو شروع کېدل.............. | ۱۶۶ |
| ۳۰ | د رسول الله ﷺ او اصحاب کرامو آزارول............. | ۱۶۷ |
| ۳۱ | د ارقم بن ابي الأرقم کور......................... | ۱۹۳ |
| ۳۲ | حبشې ته د مسلمانانو اول هجرت..................... | ۱۹۴ |
| ۳۳ | د حبشې مهاجرو مسلمانانو ته د قريشو چم او حيله......... | ۲۰۲ |
| ۳۴ | ابو طالب ته د قريشو دوهم وار ورتګ.................. | ۲۱۰ |
| ۳۵ | ابو طالب ته د قريشو دريم وار ورتګ.................. | ۲۱۲ |
| ۳۶ | د رسول الله ﷺ د وژلو دپاره د ياغي قريشو مشوره....... | ۲۱۳ |
| ۳۷ | د حمزه بن عبد المطلب اسلام...................... | ۲۲۰ |
| ۳۸ | د عمر بن الخطاب اسلام.......................... | ۲۲۲ |
| ۳۹ | رسول الله ﷺ ته د دعوت پرېښوولو وړانديزونه......... | ۲۳۶ |
| ۴۰ | دوهم وار بياد رسول الله ﷺ سره د قريشو خبري......... | ۲۴۵ |
| ۴۱ | ابو طالب د بني هاشم ټولنه جوړوي.................. | ۲۵۲ |
| ۴۲ | د ظلم او عداوت عهد نامه ، مقاطعه او بنديز يا اقتصادي .. | ۲۵۴ |
| ۴۳ | درې کاله د ابو طالب په شعب کې.................... | ۲۵۵ |
| ۴۴ | د تعهد نامې يا مقاطعې ماتول....................... | ۲۵۸ |
| ۴۵ | ابو طالب ته د قريشو آخرنی ډله.................... | ۲۶۳ |
| ۴۶ | عامُ الحُزن يا د غم کال.......................... | ۲۶۵ |
| ۴۷ | خاصه خبرتيا. يا تنبيه........................... | ۲۶۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




۴۸ د حضرت خديجه‌رضي الله عنها وفات .......... ۲۶۹
۴۹ د اصحاب کرامو د دونه صبر او ثبات سبب څه وو؟ .......... ۲۷۲
۵۰ د مکې مکرمې دريمه مرحله، يا تر مکې دباندې دعوت .. ۲۸۳
۵۱ وطائف ته سفر .......... ۲۸۴
۵۲ پر قبائلو او افرادو د اسلام عرضول .......... ۲۹۷
۵۳ هغه قبائل چې اسلام پر عرض سوی دی .......... ۲۹۸
۵۴ هغه کسان چې اهل مکه نه وه او مسلمانان سوي دي .......... ۳۰۱
۵۵ د شق القمر معجزه .......... ۳۱۳
۵۶ د اهلِ يثرِب څخه شپږ پاک روحه .......... ۳۱۶
۵۷ د إسراء او معراج قصه .......... ۳۱۹
۵۸ د عقبې سره اول بيعت .......... ۳۴۳
۵۹ په مدينه منوره کې د اسلام اول سفير .......... ۳۴۵
۶۰ د عقبې سره د اهلِ يثرِب دوهم بيعت .......... ۳۴۹
۶۱ دوولس نفره نقيبان .......... ۳۵۷
۶۲ شيطان په دغه بيعت او معاهده خبرېږي .......... ۳۵۸
۶۳ د هجرت شروع .......... ۳۶۲
۶۴ په دار الندوه کې د قريشو پارلماني شورٰی .......... ۳۶۷
۶۵ د رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت .......... ۳۷۱
۶۶ د کور څخه تر غار ثور پورې .......... ۳۷۷
۶۷ د غار ثور واقعې .......... ۳۷۸
۶۸ د هجرت د لارې واقعات .......... ۳۸۳
۶۹ مدينې منورې ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم رسېدل .......... ۳۹۶
۷۰ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت مهمې او ښکاره نقطې .......... ۴۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۷۱ | د مدينې منورې د ژوند اوله مرحله........................ | ۴۱۷ |
| ۷۲ | د نوي ټولني جوړول........................ | ۴۳۰ |
| ۷۳ | د مسلمانانو په مابين کي ورورګلوي........................ | ۴۳۳ |
| ۷۴ | اولنئ اسلامي قانون........................ | ۴۳۶ |
| ۷۵ | په ټولنه کي د اسلامي قانون اثر او تاثير........................ | ۴۳۹ |
| ۷۶ | د مدينې منورې د يهودو سره معاهده........................ | ۴۴۴ |
| ۷۷ | تر هجرت وروسته د قريشو دسيسې........................ | ۴۴۶ |
| ۷۸ | کافر قريش، مهاجر مسلمانان تهديدوي........................ | ۴۴۷ |
| ۷۹ | په جنګ او قتال سره الٰهي اجازه........................ | ۴۴۹ |
| ۸۰ | هغه غزاوي او سريې چي تر بدر د مخه پيښي سوي دي... | ۴۵۰ |


پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**